د قرآن رښا

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا
اولنۍ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمد ظاهر اسدالله مکي
په قلم اوژ به

ځلورم ټوک
(۴)
د الشورى سورې نه تر الناس آخره پورې

د قرآن رښا

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا
اولنۍ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمد ظاهر اسدالله مکي

په قلم اوژ به

د اسلامي نړۍ رابطې (رابطة العالم الإ سلامي)

د امامانو او دعاتو عالي انسټيوت پخوانئ استاذ

مكة المكرمة: العز يز يه الجنوبيه

ذو الحجة ١٤٤٥هـ.ق الموافق مايو

٢٠٢٤م الموافق مرغومئ٢٤٠٣ هـ.ش

(۴)

ځلورم ټوک

[د الشورى سورې نه تر الناس آخره پورې]

۞ دو یم چاپ - د چاپ حق مؤلف په اجازه.

مؤلف سره اړ یکه :

۞ د مؤلف مل تلفون او د واتساپ شمیری

(۰۰۹۶۶۵۰۱۳۷۷۹۰۰)

-۰۰۹۶۶۵۰۶۵۶۵٤٦۰۰ عبد الرحمن ظاهر

ایمیل / dr.mzm۵۵@gmai.com

۞ کمپیوتري لیکنه او تنظیم :

مهندس/عبدالرحمن ظاهر(ابو حمزة) او استاذه/ ام جود جزاهما الله خیرا ووفقهما الله تعالی.

۞ په کمپیوتر او چاپي پانو کې مکرره کره کتنه

خپله مؤلف (عفی الله تعالی عن زلاته بفضله ورحمته)

او په کره کتنه کې د ګڼ شمیر قدرمنو پوهاندانو او مولو یانو وړاندیزو نه په پام کې نیول سوي دي او د دوی تقر یظونه هم د تفسیر په پای کې لیکلي سوي ثبت دي.

الآية:

قال الله تعالى:﴿ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ ﴾[المائدة:١٥]

ای خلکو! یقینا چې تاسې ته د الله لخوا رڼا او روښانه کتاب قرآن راغئ، یعنی دا چې ترڅو مونږ د قرآن په رڼا کې سمه لار بیامومو او حق ته ورسیږو او د ورکتیا او بې لارې توب نه خلاص سو.

الحديث:

قال رسول اللهﷺ : «ستكون بعدي فتنٌ، فسأل عليرضي الله عنه: وما المخرج عنها؟ فقال رسول اللهﷺ: كتاب الله...» الحديث، رواه الترمذي.

ژباړه: [هو! د زما نه وروسته به ډیرې فتنې را پیښې سي! نو بیا علیرضي الله عنه و پوښتل: د خلاصون لار څه شئ ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله کتاب...الخ] رواه الترمذي في جامعه.


بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست

المحتويات

فهرست 7

﴿د الشورى سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ٢٢

{د الشورى سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه} ٢٢
{ الله څارونکئ دئ او پيغمبر يې استازئ دئ نه څارونکئ } ٢٣
{ د الله دين اساسي اصول ټولو پيغمبرانو ته يو شئ ول } ٢٧
{ د قرآن نزول او د قيامت تله حق دي نو تيارئ ورته اړ ين دئ } ٣٠
{د الله لوی قدرت نښې خلکو ته په روزي ورکولو کې ځليږي} ٣٣
{ کافران د الله نه پرته بل څوک مرستندوی نلري } ٣٨
{الله خپل کتاب پيغمبر ته په درې ډوله وحی يې سره رسولئ دئ} ٤١

﴿د الزخرف سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ٤٤

{د الزخرف سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه} ٤٤
{قرآن چې په روښانه عربي ژ به راغلئ دئ شك پکې ځای نلري} ٤٤
{د الله تعالی خدايي د ر بوبيت په توحيد کې مکې خلکو ومنله} ٤٦
{انسان ډير ناشکره دئ ځان ته زامن او الله ته لونې خوښوي} ٤٨
{د پيغمبرﷺ کينه کښو تر برونو هغه پسې سپکې خبرې وکړې} ٥٢
{ کافران د کښو او ړوندو غوندې نه حق اوري او نه يې و يني} ٥٥
{عيسی ستايل سوئ پيغمبر ؤ خو قر يشو ور پسې سپکې وو يلې} ٥٩
{مومنانو باندې خپلو ميرمنو سره الله د جنتونو ز يرئ کړئ} ٦٣
{کافرانو ته چې مجرمان دي د دوزخ اور کې سزا ورکول کيږي} ٦٤
{الله تعالی چې لوی ذات دئ د زوی لرلو نه پاک او منزه دئ} ٦٥

﴿د الدخان سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ٦٩

{د الدخان سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه} ٦٩
{د قرآن رانازليدو په شپه الله خلکو ته د کال برخې ليکي} ٧٠
{کافران الله تعالی په دنيا کې په کلکو سزاګانو ګوابلي دي} ٧٢
{ فرعون ته الله د موسی نه په سرکښی کلکه سزا ورکړه } ٧٣

{د آخرت ورځې نه د مکې کافرانو انکار او د ثبوت دلیلونه یې}.....۷٦
{د قیامت ورځې سختیو انځور خلکو ته ګواښونکئ پیغام دئ}.....۷۷
{د متقیانو ځای په آخرت کې ډاډمن جنتونه دي}.....۷۸

﴿د الجاثیه سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۸۱

{د الجاثیه سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....۸۱
{د الله تعالی توحید نښې په ځمکه او اسمانو کې رښې ځلیږي}.....۸۱
{څوک چې د الله حکمونو نه سرکښي کړي کلکه سزا به ګالي}.....۸۳
{د الله لو یو پیرزو ینو شکر و یستل پر بنده ګانو فرض دي}.....۸٤
{بني اسرائیل الله په خپل وخت کې په نورو خلکو غوره کړل}.....۸۷
{د اسلام شر عي قانون تطبیق پر مومنانو فرض دئ}.....۸۹
{کافران هیڅ کله د مومنانو سره برابر ندي}.....۸۹
{یوازې د دنیا په ژوند باور او د آخرت نه انکار خوسې خیال دئ}.....۹۱
{مومنانو ته د الله جنتونو ز یري او کافرانو ته د دوزخ ګواښ}.....۹۳
{په ځمکه او اسمانوکې ستاینه یوازې د واکمن ذات حق دئ}.....۹۵

﴿د الاحقاف سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۹۷

{د الاحقاف سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....۹۷
{د قرآن په ر یښتینوالي ټینګار او د کافرانو معبودانو بې وسعې}.....۹۷
{ پر قرآن باندې د کافرانو نیوکې الله کلکې ردې کړې دي }.....۹۹
{قرآن کافرانو ته ګواښونکئ او مومنانو ته ز یرئ دئ }.....۱۰۱
{مومنانو ته الله سپارښت کړئ چې د مور او پلار سره ښه وکړي}.....۱۰۲
{د مور او پلار ازار وهونکو زامنو ته الله کلکه سزا ورکوي}.....۱۰٤
{ټولو خلکو ته ښایي د عاد کافر قوم تور برخلیک نه پند واخلي}.....۱۰٦
{ پیریانو ایمان راوړ او خپل قوم یې د الله عذاب نه وګواښه}.....۱۰۹
{د قیامت ورځې ر یښتینوالي باندې کلک دلیلونه او نښې}.....۱۱۱
{پیغمبر ته الله په کلک تصمیم باندې سپارښت کړئ دئ}.....۱۱۲

﴿د محمد سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۱۱٤

{د محمد سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدو نه}.....۱۱٤
{د مومنانو او کافرانو په منځ کې د بیلتون نښې ځلانده دي}.....۱۱۵

{مومنانو ته کافرانو سره په جګړو کې د الله سپارښتنې} ۱۱۶
{مومنانو ته د بر یا ز یرئ او کافرانو ته د تور برخلیک ګواښ}..... ۱۱۷
{د مومنانو پر تله منافقانو سره او کلک ګواښو نه }..... ۱۲۰
{د منافقانو و یره جهاد نه او پټ نیتونه یې الله رسوا کړي دي}..... ۱۲۲
{د منافقانو او مرتدانو بد حالت نښې د مړ ینې په وخت کې} ۱۲۴
{د الله اطاعت فرض دئ او دښمن ته ګونډه وهل حرام دي} ۱۲۷
{د دنیا ژوند د خوند اخستلو متاع او مالي جهاد لو یه تقوا ده} ۱۲۹

﴿د الفتحې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۱۳۲

{د الفتحې سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}..... ۱۳۲
{د حدیبې صلحه رسول اللهﷺاو مومنانو ته د فتحې ز یرئ ؤ} ۱۳۲
د الفتحې مبارکې سورې په پیل کې چې هغه الله تعالی پیغمبر ته پر دښمن باندې
فتحه او بر یا بللې ده؛ الله تعالی فرمایل دي ي: ۱۳۲
{بانډه چیانو په خولو یوځه و یل او په زړونو کې یې بل ځه ول} ۱۳۵
{په الحدیبه کې د ونې لاندې بیعت کونکو صحابو ستاینه} ۱۳۹
{رسول اللهﷺ ته الله د مکې فتحې ز یرئ په خوب کې ورکه} ۱۴۳
{د رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو خو یونو بیلګو بیان}..... ۱۴۴

﴿د الحجرا ت سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾..... ۱۴۶

{د الحجرا ت سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۱۴۶
{د الله او پیغمبر پر حکمونو وړاندې کیدل حرام دي} ۱۴۷
{مومنانو ته ښایي چې د اور یدلو خبرو ر یښتیا نه ډاډمن سي}..... ۱۴۹
{مومنان نار ینه او ښځې ده د یو بل سپکاوئ نکړي}..... ۱۵۲
{ټول خلک الله د آدم او حوا نه پیدا کړل بیایې په ډلو وو یشل}..... ۱۵۳

﴿د قاف سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۱۵۶

{د قاف سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه} ۱۵۶
{د قیامت ورځې په راتګ کې د کافرانو شکونه الله رد کړي دي}..... ۱۵۷
{پخوانیو امتونو د الله استازې دروغژن و بلل}..... ۱۵۹
{د قیامت ورځې عذابونو ژوندئ انځور خلکوته ګواښ دئ}..... ۱۶۰
{متقیانو ته د جنت ز یرو نه د یوه ښکلي ز یري انځور} ۱۶۲

{پیغمبر ته الله سپارښت کړئ چې په صبر او لمانځه کلک سي} ١٦٤

﴿د الذار یات سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ١٦٧

{د الذار یات سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ١٦٧
{د مرګ او مړ ینې نه وروسته بیا بیرته ژوند حق دئ} ١٦٨
{د قیامت په ورځ متقیانو ته الله په جنت کې لوړ مقام ورکوي} ١٦٩
{ابراهیم ته یې میلمنو د زړې میرمنې نه د زوی ز یرئ ورکه} ١٧١
{د بشر یت تار یخي پیښو نه عبرت اخستل پرخلکو فرض دي} ١٧٣
{د الله تعالی قدرتونو نښې په ځمکه او اسمان کې خورې دي} ١٧٦
{الله ټول انسانان او پیریان یوازې عبادت ته پیدا کړي دي} ١٧٧

﴿د الطور سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ١٨٠

{د الطور سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه} ١٨٠
{د قیامت ورځ راتلونکې ده او سزاپې حق او ر یښتیا ده} ١٨٠
{متقیان الله په جنتونو نازوي او د کړونکي عذاب نه یې ساتي} ١٨٢
{د الله ر بو بیت نښې په کائناتو او زمونږ په ځانونو کې ځلیږي} ١٨٦
{کافران قیامت په ورځ ځپل کیږي او دعوت کې صبر فرض دئ} ١٨٨

﴿د النجم سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ١٩١

{د النجم سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ١٩١
{لات عزا او منات خوسې بتان دي او څه ګټه رسولای نسي} ١٩٣
{الله د خلکو په حال پوه دئ نو څوک ده خپل سپیناوئ نکړي} ١٩٦
{قر یشو ته د موسی او ابراهیم صحیفو باندې سپارښت} ١٩٧
{ټول خلک الله ته ورځي او بیا الله څوک خندوي اوڅوک ژړوي} ١٩٨
{محمدﷺ د پخوانیو پیغمبرانو غوندې یو پیغمبر ؤ} ٢٠٠

﴿د القمر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ٢٠٢

{د القمر سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٢٠٢
{د نوح عليه السلام قوم د الله پیغمبر نه سرکښي وکړه نو هلاك سول} ٢٠٥
{د عاد او ثمود قصې د عبرتونو زدکړو نه ډکې دې} ٢٠٦
{د صالح عليه السلام قوم ثمودیان الله په یوه ټکان سره هلاك کړل} ٢٠٧
{د لوط عليه السلام قوم قصه د پندونو نه ډکه پیښه وه} ٢٠٩

{کافرانو ته د دوزخ سزا ګواښونه او متقیانوته د جنتو ز یري}.....۲۱۱

﴿د الرحمن سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾.....۲۱۵

{د الرحمن سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۲۱۵
{د پیغمبر ښونکئ خپله الله ؤ او قرآن یې ښه ورزده که}.....۲۱٦
{د آدم پیدایښت د ختې نه او د پیري پیدایښت د اور نه ؤ} ۲۱۸
{د ځمکې په سر مخلوقات لمنځه ځي او یوازې الله پاتې کیږي}.....۲۲۰
{ کافرانو ته ننګونه او د دوزخ اور نه لوی ګواښ } ۲۲۱
او بیا الله تعالی کافران د دوزخ اور نه ګواښلي دي او فرمایلي دي:.....۲۲۱
{د قیامت ورځې لوی عذاب نه کلک ګواښ}.....۲۲۲
{مومنانو ته په جنت کې حورې ودیږي}.....۲۲۳

﴿د الواقعې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾.....۲۲۸

{د الواقعې سورې لنډه پیژندنه او روښانه پیغام} ۲۲۸
{ځمکه د قیامت ورځې را تک سره په یو ټکان ړنګیږي} ۲۲۹
{خلک درې ډلې دي: ښې پلوي کین پلوي او الله ته ګران کسان}.....۲۲۹
{د ښې لاس ملګرو ته په جنت کې نعمتونه تیار سوي دي} ۲۳۱
{د کین لاس ملګري د دوزخ په سزاګانو کې کړ یږي} ۲۳۲
{د الله تعالی توحید دلیلونه او د قیامت ورځې یقیني راتګ} ۲۳۳

﴿د الحدید سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۲۳۹

{د الحدید سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....۲۳۹
{پر ځمکه او اسمانوکې میشت مخلوقات خپل رب ستایي}.....۲٤۰
{په الله او پیغمبر باندې ایمان راوړل پر خلکو فرض دي}.....۲٤۲
{د قرآن روښانه مبارك آیتونه خلک د تیارو نه رڼا ته راباسي}.....۲٤۳
{د قیامت په ورځ به مومنان رڼا کې او منافقان په تیارو کې وي} ۲٤۵
{مومنانو ته ښایي خپل زړونه حق ته پاسته کړي} ۲٤۷
{د دنیا په ژوند زړه تړل د هوښیارانو کار ندئ} ۲٤۹
{څه چې مونږ ته پیښیږي پر یکړه یې په تقدیر کې سوې ده} ۲۵۰
{د عدالت چلولو رسالت الله پیغمبرانو ته سپارلئ دئ} ۲۵۱
{مومنان الله تقوا ته رابللي او د نعمتونو ز یري ورکړي دي}.....۲۵٤

﴿د المجادلې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾.....۲۵۶

{د المجادلې سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}.....۲۵۶
{په ظهار سره د میرمنې شا لکه د مور شا نه حرامیږي}.....۲۵۷
{څوک چې د الله او پیغمبر سره دښمني کړي الله یې سپکوي}.....۲۵۹
{مومنان په پټو جرګو کې خلک د الله تقوا ته رابولي}.....۲۶۱
{ رسول اللهﷺ سره د ملاقات ځانګړئ نظم او قانون }.....۲۶۳
{کافرانو سره د منافقانو ملګرتیا د شیطان غولول دي}.....۲۶۴
{څوک چې د الله او پیغمبر سره دښمني کړي مختورن به سي}.....۲۶۶

﴿د الحشر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾.....۲۷۱

{د الحشر سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}.....۲۷۱
{یهودو چې د پیغمبر سره خیانت وکه الله د مدینې نه وشړل}.....۲۷۲
{غنیمت و یشل کیږي ترڅو د بډایانو په لاس کې راغونډ نسي}.....۲۷۵
{مهاجر ین په انصارو ګران ول او خپل هرڅه یې په پیرزو کړل}.....۲۷۶
{مومنانو قیامت په ورځ ځانو ته څه توښه وړاندې کړې ده؟}.....۲۸۰
{قرآن که الله په غره راکوز کړئ وای غر به چاودیدلئ ؤ}.....۲۸۱
{مومنان ده الله په ښو نو مونو او لوړو صفتونو وستایي}.....۲۸۱

﴿د الممتحنې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾.....۲۸۴

{د الممتحنې سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}.....۲۸۴
{مومنان ده د جګړه مارو کافرانو سره دوستي نکړي}.....۲۸۵
{مومنان د کافرانو سره په ګډ ژوند کې په انصاف چلیږي}.....۲۸۹
{مومنانو او کافرانو ته د یو بل سره واده روا ندئ}.....۲۹۱
{هغو کسانو سره ملګرتیا روا نده چې الله پر دوی غوصه دئ}.....۲۹۵

﴿د الصف سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾.....۲۹۷

{د الصف مبارکې سورې لنډه پیژنده او لوی پیغام}.....۲۹۷
{الله په ځمکه او اسمانو کې ستایل کیږي او د مومنانوکړنو تضاد و یناوو سره ګناه
ده}.....۲۹۷
{یهودو خپل پیغمبر موسیعليه السلام ډیر کلک وزورا ؤ}.....۲۹۹
{د الله په لار کې جهاد مومنان د عذاب نه خلاصوي}.....۳۰۱

﴿د الجمعې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳۰۵

{د الجمعې سورې لنډ تعر یف او لوړ مقصدونه} ۳۰۵
{د عر بانو نالوستي قوم ته الله پیغمبر را ولیږه چې په قرآن پې وروزي} ۳۰۵
{د یهودو مذهبی مشرانو خرو غوندې دروند پیټۍ پشا دئ} ۳۰۷
{مومنان ده د جمعې ورځې خطبې ته په منډه لاړ سي} ۳۰۹

﴿د المنافقون سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳۱۲

{د المنافقون سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۳۱۲
{الله شاهد دئ چې منافقان یقینا دروغژن دي} ۳۱۲
{د منافقانو زړونه مومنانو سره د کینو نه ډک دي} ۳۱٤
{مومنان که دنیا د الله یاد نه غافل کړل نو ز یانمن به سي} ۳۱۷

﴿د التغابن سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳۱۹

{د التغابن سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۳۱۹
{په ځمکه او اسمانو کې ټول خلک الله ستایي} ۳۱۹
{د قیامت په ورځ بیرته را ژوندي کول الله ته اسانه دي} ۳۲۱
{قرآن رڼا ده او ایمان ور باندې لکه پر الله او پیغمبر فرض دئ} ۳۲۲
{د الله حکم نه پرته هیڅ مصیبت او ستونزه نه پیښیږي} ۳۲۳
{مومنانو ته ښایي د خپلې کورنۍ شر نه ځانونه وساتي} ۳۲٤

﴿د الطلاق سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳۲۷

{د الطلاق سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۳۲۷
{مومنان ده خپلې میرمنې د عدت ورځو په پاکۍ کې طلاق کړي} ۳۲۷
{د وچو ښځو عدت درې میاشتې او د بلار بو ماشوم ز یږ یدل دي} ۳۲۹
{څوک چې د الله او پیغمبر حکمونو نه سرکښي کړي سزاپې ګالي} ۳۳۱

﴿د التحر یم سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳۳٤

{د التحر یم سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۳۳٤
{حلال خواړه د بل چا خوښۍ لپاره نه حرامیږي} ۳۳٤
{د الله جنتو ته د ورننوتلو کیلي په اخلاص تو به و یستل دي} ۳۳۸
{ کافرانو او منافقانو سره جهاد پر پیغمبر فرض ؤ } ۳۳۹

﴿د الملك سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳٤۲

{د الملك سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ۳٤۲
{د الملك سورې لوستلو ثواب او لوی فضیلت} ۳٤۲
{مرګ او ژوند الله د خلکو ازمایښت لپاره پیدا کړي دي}..... ۳٤۳
{د قیامت په ورځ کافران په خپله ګناه اقرار کړي} ۳٤٥
{ځمکه الله پیدا کړه ترڅو چې پکې خلک روزي وګټي}..... ۳٤٦
{د الله قدرتونه په ځمکه او اسمانو کې خلکوته ګواښ دئ} ۳٤۷
{هغه کافران چې د بتانو عبادت غولولي ول الله ګواښلي دي}..... ۳٤۹
{ څوک به هغو کسانو ته نجات ورکړي چې مومنانو ته ښیرې کړي؟ } ۳٥۰

﴿د القلم سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳٥۳

{د القلم سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه} ۳٥۳
{ محمد رسول الله ﷺ د لو یو اخلاقو څښتن ؤ } ۳٥٤
{پیغمبر او مومنان الله د کافرانو غوږه ماري نه ګواښلي دي} ۳٥٥
{د مکې کافران الله د یوه باغ سوز یدلو په قصه وګواښل} ۳٥٦
{ متقیانو ته جنتونه ډالۍ کیږي او کافران و رسره برابر ندي } ۳٥۹
{کافران ده ځانو نه د قیامت ورځې مختورنۍ نه وساتي} ۳٦۰
{ پیغمبر ته الله د خپل قوم پر وړاندې د صبر وصیت کړئ دئ } ۳٦۲

﴿د الحاقه سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳٦٥

{د الحاقه سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}..... ۳٦٥
{د قیامت ورځې راتګ حق دئ او هیڅ شك پکې نسته}..... ۳٦٥
{د نوح نجات بیړۍ او د فرعون هلاکت د زدکړې سبقونه} ۳٦٦
{د قیامت ورځې لړزونکئ انځور او د الله عظمت څرګندې نښې} ۳٦۷
{ قرآن د ښه عزتمن پیغمبر ﷺ و ینا ده نه د شاعر } ۳٦۹

﴿د المعارج سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ۳۷۲

{د المعارج سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}..... ۳۷۲
{د قیامت ورځې لړزوونکئ انځور یا تصو یر} ۳۷۲
{د انسان خوی په و یره کې چیغې او په هوسایي کې بخیلي ده} ۳۷٥
{د کافرانو رسوا کونکئ انځور په دنیا او آخرت کې}..... ۳۷٦

﴿د نوح سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٣٧٩

{د نوح سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه} ٣٧٩
{نوح خپل قوم د الله عبادت ته راو باله له عذاب یې وګواښه} ٣٧٩
{نوح عليه السلام الله ته د خپل قوم سرکښۍ نه شکایت وکه} ٣٨٠
{نوح د خپل قوم مکرونو نه په تنګ سه او الله ته شاکي سه} ٣٨٢
{نوح خپل مشرك قوم ته د الله نه هلاکت وغوښت} ٣٨٣

﴿د الجن سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٣٨٦

{د الجن یا د پیریانو سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ٣٨٦
{قرآن چې سمې لارې ته لارښود دئ پیریانو پرې ایمان راوړ} ٣٨٧
{پیریان د الله پر یکړو نه خبر ندي او نه یې په الله زور رسیږي} ٣٨٩
{هغو پیریانو چې قرآن واور یده ایمان راوړ او نجات بیاموند} ٣٩٠
{مسجدو نه د الله عبادت او بنده ګۍ لپاره ودان سوي دي} ٣٩١

﴿د المزمل سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٣٩٥

{د المزمل سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه} ٣٩٥
{د تهجدو لمونځ د پیغمبر شخصیت پیاوړتیا غوره لار وه} ٣٩٦
{الله پیغمبر صبر ته هڅولئ او کافران یې د سزا نه ګواښلي دي} ٣٩٨
{محمد ﷺ الله خلکو ته لکه موسی عليه السلام استازئ را ولیږه} ٣٩٩
{د قرآن لوستل الله پیغمبر او مومنانو ته اسانه کړل} ٤٠٠

﴿د المدثر سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٤٠٣

{د المدثر سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه} ٤٠٣
{د قیامت ورځې ستوماني پر کافرانو درنده ده} ٤٠٥
{د مکې یو لوی کافر الله تعالی په کلکه سزا ګواښلئ دئ} ٤٠٥
{د جهنم ژوندئ انځور کافرانوته ګواښ او مومنانوته ډاډ دئ} ٤٠٧
{د دوزخ اور خلکو ته د الله لخوا لوی ګواښ دئ} ٤٠٨
{لمونځ نکړل مسکینانو ته خواړه نه ورکول د دوزخیانو کار دئ} ٤٠٩

﴿د القیامه سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٤١١

{د القیامه سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٤١١

{الله تعالى مړي د قيامت په ورځ بيرته را ژوندي کوي}.....٤١١
{ قرآن الله راغونډوي او مومنانو ته الله خپل رخسار ورو يني} ٤١٣
{د ساه ختلو په وخت کې پښيماني هيڅ ګټه نه لري} ٤١٤
{انسان په ژوند کې بيهوده نه پر يښودل کيږي} ٤١٥

﴿د الانسان سورې معنا او لنډ تفسير﴾.....٤١٧

{د الانسان سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ٤١٧
{ کافرانو ته د عذاب ګواښ او مومنانو ته د ثواب ز يري}.....٤١٨
{د الله پر حکمونو صبر کړل پر پيغمبر فرض دي}.....٤٢١
{د قرآن آيتونه خلکو ته په سمه لار د تګ ځلانده پيغام دئ}.....٤٢٢

﴿د المرسلات سورې معنا او لنډ تفسير﴾.....٤٢٣

{د المرسلات سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ٤٢٣
{د الله په لو يو قدرتونو لوړه ده چې قيامت راتلونکئ دئ}.....٤٢٣
{د قيامت ورځې راتګ نښې کافرانو ته د عذاب ګواښونه دي}.....٤٢٤
{ کافران الله تعالى د قيامت ورځې تباهۍ نه ګواښلي دي} ٤٢٥
{کافرانو ته په قيامت کې ډول ډول سزا ګانې ورکول کيږي}.....٤٢٦
{د قيامت په ورځ مومنانو ته ز يري او کافرانوته ګواښونه} ٤٢٨

﴿د النبأ سورې معنا او لنډ تفسير﴾ ٤٣١

{ د النبأ سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}.....٤٣١
{د قيامت ورځې يقيني راتګ الله په دلائلو سره بيان کړئ دئ} ٤٣١
{د الله لو يو قدرتونو نښې په دنيا کې د قيامت راتګ ثبوت دئ}.....٤٣٢
{د کافرانو او مومنانو د بيلتون ورځ قيامت ټاکل سوئ دئ}.....٤٣٣
{د متقيانو ځای په جنت کې د ميوو نه ډک لوی باغونه دي}.....٤٣٥

﴿د النازعات سورې معنا او لنډ تفسير﴾.....٤٣٧

{د النازعات سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}.....٤٣٧
{الله تعالى پر فرښتو لوړه کړې چې قيامت حق دئ} ٤٣٧
{د موسى پيغمبرۍ نه د فرعون بغاوت او هلاکت لوی عبرت} ٤٣٩
{د الله قدرتونو نښې د اسمانو په پيدايښت کې روښانه ځليږي} ٤٤٠
{د قيامت ورځې راتګ سره کافرانوته دوزخ ورليدل کيږي}.....٤٤١

{د قيامت راتګ علم يوازې الله سره دئ نور څوک نه پوهيږي} ٤٤٢

﴿د عبس سورې معنا او لنډ تفسير﴾.....٤٤٤

دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي.

.....٤٤٤

{د عبس سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ٤٤٤

{د خلکو د درندښت لوړ مقام الله د اسلام په تله تللئ دئ} ٤٤٥

{قرآن د الله نه راغلئ د وعظ او نصيحت عزتمن کتاب دئ} ٤٤٦

{د الله نعمتونو شکر و يستل پر مومنانو فرض دي}.....٤٤٨

{انسان ته الله په ځمکه کې د ژوند اړتياوې تيارې کړې دي} ٤٤٩

[د قيامت ورځې ګواښونو ژوندئ تصو ير او ښکاره انځور}.....٤٤٩

﴿د التکو ير سورې معنا او لنډ تفسير﴾ ٤٥٢

{د التکو ير سورې لنډه پيژندنه او پيغام}.....٤٥٢

{د قيامت نښو راڅرګنديدل مومنان توښې تيارولوته هڅوي}.....٤٥٢

{قران د الله تعالی نه پيغمبر ته جبرائيل رسولئ دئ} ٤٥٣

﴿د الانفطار سورې معنا او لنډ تفسير﴾ ٤٥٥

{د الانفطار سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ٤٥٥

{الله انسان په ښکلې څيره کې پيدا که خو هغه بغاوت وکه}.....٤٥٦

﴿د المطففين سورې معنا او لنډ تفسير﴾.....٤٥٩

{د المطففين سورې پيژندنه او لوی پيغام} ٤٥٩

{هغه سوداګر چې په تله کې انصاف نکړي الله ګواښلي دي}.....٤٦٠

{په آخرت کې د کافرانو د تورې راتلونکې انځور } ٤٦١

{د مومنانو ځای په آخرت کې په لوړو جنتو کې دئ} ٤٦٢

{کافران په دنيا کې مومنانو پورې خاندي} ٤٦٣

﴿د الانشقاق سورې معنا او لنډ تفسير﴾.....٤٦٥

{د الانشقاق سورې پيغام او لنډه پيژندنه} ٤٦٥

{د اسمانونو او ځمکې په چاودیدلو سره خلک الله ته ورځي}.....٤٦٥

{الله تعالی ټول خلک ايمان راوړو ته رابللي دي} ٤٦٧

{څوک چې کافر سه او پیغمبر پې ونه مانه کلک عذاب به وګالي}.....٤٦٨

﴿د البروج سورې معنا او لنډ تفسیر﴾.....٤٦٩

{د البروج سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....٤٦٩
{د هغو کندو څښتن ده هلاك سي چې مومنان پې وزورول}.....٤٦٩
{ظالمان الله ګواښلي دي او مومنانو ته پې ز یرئ ورکړئ دئ}.....٤٧٠
{قرآن الله تعالی په لوح محفوظ کې کلک ساتلئ دئ}.....٤٧١

﴿د الطارق سورې معنا او لنډ تفسیر﴾.....٤٧٤

{د الطارق سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....٤٧٤
{په اسمان او ستوري قسم دئ چې هر څوک ساتونکئ لري}.....٤٧٥

﴿د الأعلی سورې معنا او لنډ تفسیر﴾.....٤٧٧

{د الأعلی سورې لنډه پیژندنه او پیغام}.....٤٧٧
{الله چې ستایل سوئ ذات دئ ټول خلک پې پیدا کړي دي}.....٤٧٧
{قرآن د وعظ او د لارښودنې اسانه پیغام دئ}.....٤٧٨
{ هغه څوک بر یا ته ورسیده چې ځان پې پاک که }.....٤٧٩

﴿د الغاشیه سورې معنا او لنډ تفسیر﴾.....٤٨٠

{د الغاشیه سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....٤٨٠
{د قیامت په ورځ کافران په و یره کې وي او مومنان ډاډمن وي}.....٤٨٠
{پیغمبرﷺ خلکو ته د الله ګواښونکئ ز نه زور واکئ واکمن}.....٤٨٢

﴿د الفجر سورې معنا او لنډ تفسیر﴾.....٤٨٣

{د الفجر سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....٤٨٣
{د قیامت ورځې راتګ یقیني دئ او کافرانو ته الله سزا ورکوي}.....٤٨٤
{د یتیم او مسکین پالنه د الله ازمایښت نه د نجات لار ده}.....٤٨٦
{د قیامت په ورځ پښیماني چا ته ګټه نه لري}.....٤٨٧
{مومنانو ته الله د ډاډ او اطمئنان لوی ز یرئ ورکړئ دئ}.....٤٨٧

﴿د البلد سورې معنا او لنډ تفسیر﴾.....٤٨٨

{د البلد سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....٤٨٨

{ انسان الله د ستړیا په لوی ازمایښت کې پیدا کړئ دئ }.....٤٨٩
{د ژوند په چارو کې خوښه او د آخرت په ګټلو کې سپارښتنې}.....٤٩١

﴿د الشمس سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٤٩٣

{د الشمس سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٤٩٣
{د انسان ښادي د نفس په پاکۍ او بد مرغي یې په ګناه کې ده}.....٤٩٣
{ ثمودیانو د الله نه ورته راغلې معجزه اوښه مړه کړه } ٤٩٤

﴿د اللیل سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٤٩٦

{د اللیل سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....٤٩٦
{مومنانو ته الله جنتونه ورکوي او د کافرانو ځای دوزخ دئ} ٤٩٦
{ الله حق ته د خلکو سمیدو لپاره پیغمبران را لیږلي دي }.....٤٩٧

﴿ د الضحی سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٥٠٠

{د الضحی سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٥٠٠
{ رسول الله ﷺ سره د الله مناجات او د ډاډ لوی پیغام } ٥٠٠
{د الشرح سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٥٠٢
{الله خپلې پیرزو ینې پر رسول الله ﷺ باندې یادې کړې دي} ٥٠٢
{هرې سختۍ سره اسانتیا ملګرې ده} ٥٠٣

﴿د التین سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٥٠٥

{د التین سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}.....٥٠٥
{انسان الله په ډیره ښکلې څیره که پیدا کړئ دئ}.....٥٠٥

﴿د العلق سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ٥٠٧

{د العلق یا اقرأ سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٥٠٧
{د قرآن وحیه په (اقرأ) پیل او په القلم زدکړه وستایل سوه}.....٥٠٩
{انسان چې کله مور سي سرکښي کړي}.....٥١٠
{الله هغه چا ته کلکه سزا ورکوي چې مومنان زوروي}.....٥١١

﴿د القدر سورې معنا او لنډ تفسیر﴾.....٥١٣

{د القدر سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ٥١٣

{قرآن الله د قدر په شپه چې د یو زر شپو نه غوره ده را نازل که} ۵۱۳

﴿د البینه سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۱٦

{د البینه سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ۵۱٦
{اهل کتاب او مشرکان خپل دین د دلیل نه پرته نه پر یږدي} ۵۱٦
{د کافرانو ځای دوزخ او د مومنان ځای جنت دئ} ۵۱۷

﴿د الزلزلې سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۱۹

{د الزلزلې سورې لنډه معرفي او لوی پیغام} ۵۱۹
{د قیامت کلک ټکان سره ځمکه خپل پیټي بهر ته را باسي} ۵۱۹
{په آخرت کې هر څوک د خپلو کړنو ثواب او سزا و یني} ۵۲۰

﴿د العادیات سورې معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۲۲

{د العادیات سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام } ۵۲۲

﴿د القارعه سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۲٤

{د القارعه سورې لنده پیژندنه او لوی پیغام} ۵۲٤
{د قیامت ورځې ټکانونکئ ژوندئ انځور} ۵۲٤

﴿د التکاثر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۲٦

{د التکاثر سورې لنډه معرفي او لوی پیغام} ۵۲٦
{ ټول خلک د دنیا مال را ټولو هلاک کړل } ۵۲٦

﴿د العصر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۲۸

{د العصر سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام} ۵۲۸
{ د مومنانو نه پرته نور ټول خلک کلک ز یانمن دي } ۵۲۸

﴿د الهمزه سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۳۰

{د الهمزه سورې لنډه پیژند نه او لوی پیغام} ۵۳۰
{هغه کسان ده هلاك سي چې نورو خلکو ته پیغور ورکوي} ۵۳۰

﴿د الفیل سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ۵۳۳

{د الفیل سورې لنډه پیژنده او لوی پیغام} ۵۳۳

{د ابرهه فيل لښکر د ابابيل مرغانو تيرو باندې هلاك سه} ۵۳۳

﴿د قر يش سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۳۵

{ د قر يش سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ۵۳۵

{ پر قر يشو باندې د الله پيرزو ينو شکر و يستل فرض ول } ۵۳۵

﴿د الماعون سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۳۸

{د الماعون سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ۵۳۸

{د قيامت ورځې منکر کس کلکه غندنه سوې ده} ۵۳۸

{هغو لمونځ کونکو ته ګواښ دئ چې د لمانځه نه غافل وي} ۵۳۹

﴿د الکوثر سورې معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۴۱

{ د الکوثر سورې لنډه معرفي او لوی پيغام } ۵۴۱

{رسول الله ته د قيامت په ورځ الله د کوثر حوض ورکړئ دئ} ۵۴۱

﴿د الکافرون سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۴۳

{ د الکافرون سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام } ۵۴۳

{د هر چا خپل دين ځکه په دين کې زور نسته} ۵۴۳

﴿د النصر سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۴۵

{د النصر سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ۵۴۵

﴿د المسد سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۴۷

{د المسد سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ۵۴۷

{ابو لهب او ميرمن يې د دوزخ اور په لمبو کې کړ يړي} ۵۴۸

﴿د الاخلاص سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۵۰

{ د الاخلاص سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام} ۵۵۰

{الله چې واحد ولا شر يك ذات دئ هيڅ چا ته محتاج ندئ} ۵۵۰

﴿د الفلق سورې معنا او لنډ تفسير﴾ ۵۵۲

{ د الفلق سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام } ۵۵۲

{ د الفلق سوره د شر غوښتونکو شر نه د ساتنې علاج ده } ۵۵۲

﴿د الناس سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ٥٥٤

{د الناس سورې پیژندنه او لنډ پیغام} ٥٥٤
{مومنان ده د چاپیریال شر نه د ځانو ساتنه پر الله وسپاري} ٥٥٤
{د قرآن رڼا مبارك دعوتي تفسیر پای} ٥٥٦
{د بنده پې وسعي او هیله} ٥٥٦

{د قرآن رڼا پښتو لنډ دعوتي تفسیر مدارک} ٥٦٠

{عربي لنډ تفسیرونه} ٥٦٠
{پښتو لنډ تفسیرونه} ٥٦١

{د مؤلف [٥٢] کلونو زدکړې، علمي او دعوتي مبارك مزله پاڼې ته لنډه کتنه} ٥٦٣

{نوم شهرت او د ز یږ یدلو نیټه او پلرني کلئ } ٥٦٣
{د زدکړې او د علمي تحصیل دوره} ٥٦٤
{د دعوت او تدر یس مبارکه دوره او اوږده کلونه} ٥٦٥
{د مؤلف تالیفات او ځینې لیکلې مقالې} ٥٦٨
[فارسي تالیفات] ٥٦٩
{ پښتو تالیفات او لیکنې } ٥٦٩

[د لمړي ټوک په کتلو سره د پوهاندانو او مولو یانو نظرونه] ٥٧١

د الشورى سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الشورى سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه}

درندو دوستانو! د الشورى مبارکه سوره، لکه د هغې نه وړاندې سورې مکي سوره ده او په (حاء، ميم، عين، سين، قاف) باندې پيل سوې ده، او پکې د قرآن بياني اعجاز ته اشاره سوې ده، ځکه د (حاء، ميم، عين، سين، قاف) د عربي ژبې هجاء پر يکړ سوو تورو نه وروسته ؛ الله تعالى فرمايلي دي:"كذلك يوحي إليك...الآية"يعنى دا قرآن چې د(حم، ع س ق) غوندې تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ؛ هغه الله تعالى چې لوى ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ؛ خپل پيغمبر محمد ﷺ ته وحيه کړئ دئ، نو که څوک پکې شک لري د هغه غوندې کتاب ده جوړ کړي او را دې وړي، خو د دغسې کتاب راوړو نه بيا د عر بانو ټول اديبان او شاعران عاجز او بې وسې سول، نو دا د عربي هجاء پر يکړ سوي توري؛ د قران ادبي اعجاز ډيره ځلانده ښه او کلک دليل دئ، او بيا الله تعالى د شورا سورې په وروستيو مبارکو آيتونو کې خپل توحيد يا وحدانيت په ر بو بيت، الوهيت او په اسماوو او صفاتوکې مونږ ته ښه روښانه بيان کړئ دئ، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالى د وحى پې حقيقت او ر يښتين والئ ټولو پيغمبرانو ته او په ځانګړي ډول د اسلام پيغمبر ﷺ ته بيان کړئ دئ، او د هغه امت يې د خپل منځي اختلافاتو نه کلک ګواښلئ دئ، او په خپل منځي چارو چلولو کې يې شورا ته رابلل دئ، ترڅو مومنان خپل ټول اختلافات په جرګو کې په مرکو سره حل او فصل کړي، او په پيل کې الله تعالى فرمايلي دي:

{ الله چې ځواکمن ذات دئ پيغمبر انو ته يې وحيه کړې ده }

﴿حمٓ ۝١ عٓسٓقٓ ۝٢ كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٣ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ۝٤ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٥﴾

[١-٣] (حاء، ميم، عين، سين، قاف) [ای پیغمبره! د حم، عسق غوندې د یو بل نه پر یکړ سوو تورو نه جوړ سوئ کتاب قرآن] همداسې تا ته، لکه د ستا نه وړاندې [پیغمبرانو ته] الله چې لوی ځواکمن او د پاخه حکمت څښتن دئ؛ وحیه کوي، یعنی د قرآن په وحی کې هیڅ شك او شبه نسته او هغه یقینا الله تعالی خپل پیغمبر ته وحیه کړئ دئ.

[٤] او پر ځمکه او اسمانو کې پرتو مخلوقاتو واکمني یوازې الله لره ده، او الله پاس په اسمان کې لوی واکمن ذات دئ، یعنی دا واکمني هغسې واکمني ده چې د الله تعالی لوړ مقام سره ښایي، ځکه الله خالق دئ، نو خلکو ته چې مخلوقات دي؛ ورته ندئ.

[٥] او لنډه ده چې اسمانونه یو د بل پاسه د الله عظمت او زور نه وچوي [یعنی توته توته سي] او ملائکې [چې پاس په اسمانو کې دي] د خپل رب الله ستاینې کړي [یعنی الله د هر عیب او نقصان نه په پاکۍ سره یادوي او په پاکۍ سره یې یادوي] او په ځمکه کې اوسیدونکو خلکو ته چې مومنان دي؛ ښښنه غواړئ، او تاسې ای خلکو! خبر سئ چې الله یقینا لوی ښښونکئ او د رحمتونو ښه اور یدونکئ لوی څښتن دئ!

{ الله څارونکئ دئ او پیغمبر یې استازئ دئ نه څارونکئ }

او په ور پسې میارکو آیتونو کې الله تعالی دا لوی حقیقت رسول اللهﷺ ته یاد کړئ او بیان دئ چې الله پر خلکو باندې څارونکئ دئ، خو ته ای پیغمبره! یوازې استازئ یې نه څارونکئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيۡهِمۡ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ۝٦ وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنذِرَ

يَوْمَ ٱلْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِى ٱلْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِى ٱلسَّعِيرِ ﴿٧﴾ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُدْخِلُ مَن يَشَآءُ فِى رَحْمَتِهِۦ ۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٨﴾ أَمِ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلْوَلِىُّ وَهُوَ يُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٩﴾

[٦] ای پیغمبره! او هغو کسانو چې د الله نه پرته خپلو ځانو ته ملګري خدایان ونیول؛ الله د دوی څارونکئ او ساتونکئ څښتن دئ [یعنی دا چې ترڅو دوی ته د دوی د شرک او کفر سزا ورکړي] او ته ای پیغمبره! پر کافرانو باندې څارونکئ او ساتونکئ نه یي، یعنی ته کافران د بدو کړنو نه؛ نه ساتي، ځکه د ستا دنده او رسالت خلکو ته یوازې د الله پیغام رسول دي، نو ځکه هر څوک د خپلو بدو کړنو او د کفر سزا ګالي، او پیغمبر او د هغه وارثان چې لارښود عالمان او دعوت کونکئ مبلغین دي؛ هیڅکله د خلکو د کفر او د شرك په ګناه نه نیول کیږي.

[٧] ای پیغمبره! تا ته مونږ همداسې، لکه پخواني پیغمبران [لوستل سوئ کتاب] قرآن په عربي ژ به وحیه که، ترڅو ته ام القری (مکه) او د هغې شا وخوا پرا ته ولسونه د الله سزا نه قیامت په ورځ چې پکې هیڅ شك نسته وګوابنې [یعنی ته ای پیغمبره! ټول خلک یوازې د الله عبادت او بنده ګی ته را بولې او کافران د الله سزا نه ګوابنې، او همدارنګه ته خلک د قیامت ورځې حساب اخستلو نه چې په راتګ کې یې هیڅ شک نسته کلک و یروې، ځکه د قیامت په ورځ خلک په دوه ډلو و یشل کیږي] مومنان چې جنت ته ځي او کافران چې د دوزخ په بل سوي اور کې کړول کیږي!

[٨] هو! که الله غوښتي وای، نو ټول خلک بې یو امت ګرځولئ ؤ [یعنی ټول خلک به د حق پلو یان ول، او ټولو به ایمان راوړئ ؤ او موحدین به ول] خو الله چې څوک وغواړي هغه په خپل رحمت کې رانه باسي [یعنی مومنان او ښه خلک په خپل رحمت کې رانه باسي] او ظالمان او کافران د قیامت په ورځ؛ هیڅ څوک ملګري او مرستندوی نلري چې د

الله عذاب د دوی نه لرې کړي او د سزا نه يې خلاص کړي!

[۹] او آيا کافرانو د الله نه پرته نور خدايان او ملګري ځانو ته ونيول؟ حال دا چې د دوی يوازنئ مل او ملګرئ الله دئ، او يوازې الله دئ چې مړي راژوندي کوي، او الله پر هر څه باندې قادر لوی ذات دئ، يعنی د هر کار وسعه لري او هغه کړلای سي، او د الله تعالی پر يکړو جاري کيدو مخه؛ هيڅ څوک نيولای نسي، ځکه الله تعالی ځواکمن ذات دئ.

درندو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې خپله خدايي او لو يه واکمني په کايناتو کې خلکو ته د رسول الله ﷺ په خوله بيان کړي ده، او دوی يې يوازې د الله بنده ګی او عبادت ته رابللي دي، ځکه يوازې الله د بنده ګی او د عبادت مستحق او لائق ځښتن دئ، نو ښايي چې ټول خلک يې حکمونو ته غاړه کيږدي او الله ته تسليم سي، او همدرانګه الله تعالی رسول اللهﷺ ته د قرآن پر حقانيت او ر يښتينوالي باندې کلک ټنيګار کړئ دئ، ځکه قرآن، لکه د هغه نه مخکې اسماني کتابونه د الله تعالی نه پر حق سره رسول الله ﷺ ته وحيه سوئ کتاب دئ، ترڅو دئ د الله تعالی دا تل پاتې لارښود پيغام خلکو ته ورسوي او خلک د الله عبادت او بنده ګی ته په توحيد سره په ر بو بيت او عبادت کې کلک راو بولي او د شرك او کفر نه يې منعې کړي، خوکه بيا هرچا د رسول الله ﷺ پيغام ونه مانه، نو رسول الله ﷺ يې د کفر او د بد عمل نه ساتونکئ ندئ، او د هغه بد عمل الله سره محفوظ دئ، نو الله تعالی ورته کلکه سزا ورکوي، او د پيغمبر دنده او رسالت خلکو ته؛ يوازې د الله پيغام رسول دي، او دئ د خلکو د اعمالو ساتونکئ او څارنوکئ ندئ، او دا پيغام د پيغمبرﷺ د دين وارثانو ته ډير اړ ين او ضروري پيغام دئ، نو ښايي چې دوی، لکه پيغمبرﷺ په مکې دوره کې؛ د الله حکمونه او لارښودنې او حق ته را بلنې خلکو ته په ښه خوږه ژ به او په ښو خبرو سره ورسوي، او بيا د خلکو خپله خوښه چې څه کړي، ځکه هرڅوک د خپلو کړنو ځواب ورکوي، خو کله چې اسلامي ټولنه جوړه سوه او خلکو اسلامي نظام ومانه، نو بيا پر مومن واکمن باندې فرض ده چې اسلامي شر يعت پوره

جاري کړي او ټول حکمونه يې وچلوي او ولس د معنوي او مادي پرمختيا او ترقۍ لوړو پوړونو ته ورسوي او د نړۍ هيوادونو سره يې سيال کړي.

{ خلکو په منځ کې د اختلافاتو پريکړې الله تعالى کړي }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته الله تعالى سپارښت کړئ دئ چې خپل اختلافونه ده د الله حکمونو په رښا کې حل او فصل کړي، او فرمايلي دي:

﴿ وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّي عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ١٠ فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ أَزۡوَٰجٗا يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١ لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ١٢ ﴾

[١٠] ای خلکو! په هغه څه کې چې تاسې د يو بل سره اختلاف وکه [يعنى ځينو ايمان راوړ او ځينې کافران سول، نو د دغسې بيلتون او اختلاف پر يکړه] او حکم الله ته ورکړئ [يعنى دا حکم الله تعالى په خپل کتاب قرآن کې بيان کړئ دئ او د قيامت په ورځ يې جاري کوي] او ای خلکو! همداسې د ستاسې دا لوی رب الله د زما رب دئ او ما پر الله باندې توکل کړئ دئ او ما خپل ځان ور باندې سپارلئ دئ، او زه الله ته ورکړځم.

[١١-١٢] ای خلکو! د اسمانو او ځمکې لمړئ پيداکونکئ څښتن الله دئ، او تاسې ته الله د ستاسې ځانونو نه جوړې پيدا کړې دي [يعنى داچې نار ينه او ښځې يې د يو بل جوړه کړځولي دي، ترڅو يو د بل سره ډاډمن ژوند وکړي، او يو بل سره په وا ده کړو؛ الله تاسې ته کوول درکوي، او همدارنګه تاسې ته ای خلکو! الله د څارو يو نه جوړې پيدا کړي دي چې ورڅخه ګټه اخلى، او د ستاسې نسل د يو بل نه پاتې کيږي، او الله هيڅ څوک سيال او مل نلري، او الله ښه کلک اور يدونکئ او ښه ليدونکئ؛ لوی ذات دئ، او د اسمانونو او ځمکې واک؛ يوازې د الله سره دئ او الله

ټولواک لوی څښتن دئ، نو چا ته چې يې خوښه وي د هغه روزي ډيروي او د چا روزي لږوي او تنګوي، او يقينا چې الله په هرڅه ښه پوه لوی رب دئ، يعنی د خپلې پوهې سره سم د خپلو مخلوقاتو چارې سمبالوي!

ګرانو دوستانو! نو ښايي چې مومنان خپل ټول اختلافات د الله تعالی دين او شر يعت لارښودنو په رڼا کې فيصله کړي او هيڅ کله خپلو خوښو او بشري ناقصو نظر ياتو پسې لاړ نسي او هغه د الله تعالی پر حکمونو ورانديږ نکړي.

{ د الله دين اساسي اصول ټولو پيغمبر انو ته يو شئ ول }

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته الله تعالی د خپل دين او شر يعت بنسټيزو اصولو بيان کړي دئ او دئ يې د هغو تبليغ ته او ور باندې ټينګښت او استقامت ته کلک را بللئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿ * شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِىٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِىٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِىٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ١٣ وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى لَّقُضِىَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَفِى شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ١٤ فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ وَقُلۡ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٥ وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِى ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞ ١٦ ﴾

[١٣] ای مومنانو! تاسې ته الله د دين مسئلې، حکمونه او د هغه کړن لاره؛ هغه شر يعت او قانون کرځولئ دئ چې پر هغه يې نوح ته سپارښت

کړئ ؤ، او بیا هغه مونږ تا ته ای پیغمبره! وحیه که او پر همدې دین او شر یعت باندې مونږ ابراهیم، موسی او عیسی ته سپارښت وکه، او هغه دا چې تاسې ټول ای پیغمبرانو! دا دین قایم او جاري کړی او پکې بیلې بیلې ډلګی مکیږی [یعنی په دین کې اختلاف مکړی او ډلې ډلې مګرځی او یوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړی او خپل ځانونه د الله فرمان وړو ته وسپاری او د الله په توحید کې د یو بل نه مه سره بیلیږی او پکې اختلاف مکړی] خو د مکې پر مشرکانو ستا بلنه ای پیغمبره! درنده تمامه سوه [ځکه چې ته دوی یوازې د الله عبادت ته رابولې] هو! یوازې الله دئ چې څوک وغواړي هغه خپل ځان ته خوښوي او څوک چې الله ته رجوع وکړي، نو بیا هغه خپل رب ته سموي، یعنی په سمه لار د تګ توفیق ورکوي، نو یقینا چې حق ته هدایت د الله تعالی په واک کې دئ.

[١٤] او امتونه یو د بل نه په دین کې سره بیل نسول، مګر وروسته له هغې چې دوی ته پر حق باندې علم او پوهه راغله او حق دوی ته په روښانه دلیلونو سره بیان سه او دوی یوازې د الله بنده ګی ته راو بلل سول، نو بیا دوی په خپل منځ کې د یو بل نه بغاوت وکه او سره ډله ډله سول، نو ای پیغمبره! که د ستا رب پخوانئ حکم او تقدیري پر یکړه د ټاکل سوي وخت پورې نه وای چې پکې کافرانو ته سزا ورکول زنډیدلي دي، نو بیا به پر دوی باندې د عاجل عذاب او سزا پر یکړه سوې وه، او هغو کسانو ته چې د پخوانیو کافرانو نه وروسته اسمانی کتاب (تورات او انجیل) په میراث پاتې سه؛ دوی هم پکې په ډیر شك کې دي، یعنی هغه نه مني او ور باندې عمل نکړي، نو یقینا چې دوی د الله رحمت نه محروم سوي ولسونه ول، او په لو یه ورکتیا کې دي، او همداسې به د قیامت ورځې پورې د الله رحمت نه سې لارې ته د سمیدلو نه محروم وي!

[١٥] نو ته ای پیغمبره! د الله سم دین ته چې هغه یوازې د الله عبادت دئ؛ خلک را و بوله، او لکه څنګه چې درته امر سوئ دئ؛ هغسي ور باندې ټینګ سه او د کافرانو هوسونو او ځاني غوښتنو پسې مځه او پروایې مکړه، او خلکو ته اعلان وکړه او ورته ووایه چې ما پر هغو کتابونو

باندې ايمان راوړئ دئ چې هغه الله رانازل کړي دي، او ما ته الله امر کړئ دئ چې د ستاسې په منځ کې ای خلکو! په عدالت او انصاف سره حکم او پر یکړه وکړم، او یقینا چې د زمونږ او ستاسې ټولو څښتن؛ یوازې الله دئ، نو د زمونږ خپل عمل او کړنې او د ستاسې ای کافرانو خپلې کړنې او عملونه، او د زمونږ او ستاسې په منځ کې نور بحث او استدلال ته اړتیا نسته، ځکه حق پوره روښانه او بیان سه او د قیامت په ورځ بیا الله مونږ او تاسې سره یوځای کوي، ځکه د ټولو ورتګ الله ته دئ، یعنی بیا الله د زمونږ په منځ کې پر یکړه کړي او هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي!

[١٦] او هغه کسان چې د الله په توحیدي عبادت او یوالي کې [او د الله په دین اسلام کې] وروسته له هغې چې هغه ومنل سول او خلکو ایمان راوړ؛ استدلال او بحث کړي؛ د دوی حجت او دلیل د دوی د رب پر وړاندې باطل دئ او هیڅ اعتبار نلري او پر دوی باندې په دنیا کې د الله غضب او غوصه ده، او په آخرت کې ورته کلک عذاب او درنده سزا ده!

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د ټولو اسماني کتابونو رسالت او پیغام د الله په یو والي او توحید سره په ر بو بیت او عبادت کې؛ د نوح، ابراهیم، موسی، عیسی نه نیولې تر اسلام پیغمبر محمد ﷺ پورې چې دوی ټول اولوالعزم پیغمبران ول؛ په ډیره روښتیا سره بیان کړئ دئ او رسول الله ﷺ یې ور باندې ثبات او ټینګار ته کلک رابللئ دئ، او د کافرانو دلیلونه یې د اسلام بر یا نه وروسته؛ ټول باطل او ناچله اعلان کړي دي، نو هغه هیڅ اعتبار او ارزښت نلري، ځکه حق چې د الله عبادت او بنده کې ته په توحید سره دعوت دئ؛ یو منل سوئ حقیقت دئ او د کافرانو اختلافات د دوی خپل منځي ځاني ګټې دي چې دوی پر یو بل باندې بغاوت ته هڅوي، او هغه د الله په تله کې ډیر سپک کار دئ، نو اعتبار نلري، او همدارنګه پر حق باندې استقامت مونږ ته د الله کلک سپارښت دئ، نو عمل ور باندې لازم او فرض دئ.

{ د قرآن نزول او د قيامت تله حق دي نو تيارئ ورته اړ ين دئ }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د قرآن کر يم رانازليدو په حقيقت او ر ښتينوالي باندې ټينګار کړئ دئ او خلک يې د قيامت ورځې تياري ته چې راتګ يې يقيني دئ؛ رابللي دي او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ وَٱلْمِيزَانَ ۗ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿١٧﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا ٱلْحَقُّ ۗ أَلَآ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُمَارُونَ فِى ٱلسَّاعَةِ لَفِى ضَلَٰلٍۭ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾ ٱللَّهُ لَطِيفٌۢ بِعِبَادِهِۦ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْعَزِيزُ ﴿١٩﴾﴾

[۱۷-۱۹] [ای خلکو!] الله هغه لوی ذات دئ چې لوستل سوي کتاب (قرآن) او د خلکو اعمالو عدالت تله يې په حق او ر ښتيا سره رانازله کړه [يعنى ترڅو د خلکو ټول اعمال پکې په پوره انصاف سره وتلي او بيا ور باندې حکم او پر يکړه وکړي] او ته ای پيغمبره! څه پوهيږي؟ کيدای سي چې قيامت ډير را لنډ وي! نو هغو کسانو چې ايمان ندئ راوړئ او د قيامت په راتګ باندې باور نلري، نو دوی د قيامت ژر راتګ غواړي [يعنى دا ځکه چې د دوی په فکر سره قيامت دروغ دئ نه راځي] او هغو کسانو چې ايمان راوړ او د قيامت په راتګ يقيني باور لري، نو دوی يې د راتګ نه په و يره کې دي، ځکه دوی په يقين سره پوهيږي چې د قيامت راتګ حق او ر ښتيا دئ [يعنى بيا په هغه ورځ د هر چا سره کلک حساب کيږي] نو تاسې ای خلکو خبر سی! هغه کسان چې د قيامت ورځې په راتګ کې جدال کړي [يعنى پکې شنډ بحثونه، مناظرې او جنجالونه کړي] دوی په ډيره لرې ورکتيا کې دي [يعنى حق ورڅخه ورک دئ] خو الله پر خپلو بنده ګانو باندې [که کافران دي او که مومنان پر ټولو] ښه مهر بان لوی ذات دئ او هرچا ته چې وغواړي روزي ورکوي او الله کلک ځواکمن لوی څښتن دئ!

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د قرآن او د

رسـول الله ﷺ په پيغمبرۍ او د قيامت ورځې په ر يښـتينوالي او حقانيت باندې ټينګار کړئ دئ او هغه يې کافرانو ته په وعدو او کلکو ګواښـونو سره يادوئ دئ، نو ښايي چې دوی په اوښ راسي او ايمان راوړي.

{ د قيامت په ورځ د هرچا برخليک اعلانيږي او توبه نه قبليږي }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ الله تعالى د خپلې يقيني راتلونکې نه د قيامت په ورځ خبر کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ٢٠ أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢١ تَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعُۢ بِهِمۡۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي رَوۡضَاتِ ٱلۡجَنَّاتِۖ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ٢٢ ذَٰلِكَ ٱلَّذِي يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۗ قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰۗ وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةٗ نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ شَكُورٌ ٢٣ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗاۖ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَۗ وَيَمۡحُ ٱللَّهُ ٱلۡبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٢٤ وَهُوَ ٱلَّذِي يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَعۡفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ٢٥ وَيَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۚ وَٱلۡكَٰفِرُونَ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞ ٢٦ ﴾

[٢٠] هو! څوک چې د آخرت ورځې د کښـت حاصـل غواړي؛ هغه ته د کښت حاصلات ور ډيروو او څوک چې د دنيا کښت غواړي هغه ته د دنيا کښت نه پوره برخه ورکوو، خو هغه په آخرت کې هيڅ برخه نلري.

[٢١-٢٢] او آيا دا مشـرکان داسـې څوک شـر يکان او ملګري لري چې

دوی ته یې په دین کې هغـــې حکمونه روا کړي دي چې الله ورته د هغو اجازه نده کړي؟ [یعنی لکه شرك او د الله سره په عبادت او بنده ګی کې د بتانو ګډول] نو که د الله تقدیري پر یکړه دوی ته د عذاب په زنډولو سره نه وای، نو په دنیا کې به الله کافرانو ته ســزا ورکړي وه، او یقینا چې کافرانو او ظالمانو ته د قیامت په ورځ کړونکئ عذاب دئ، او په هغه ورځ ظالمان د خپلو بدو کړنو سزا نه چې ور باندې راتلونکې ده؛ و یر یږي، خو هغو کســانو چې ایمان روړ او ښــه عبادتونه یې وکړل؛ دوی به د جنتونو په بڼونو یا باغونو کې وي او هرڅه چې غواړي هغه ټول د دوی رب ســره تیار دي او ورکوي یې او دغــې ورکړې د الله لوی فضـل او غټې پیرزو ینې دي.

[۲۳] [او دا ورکړې او لوی نعمتونه] هغه ز یري دي چې الله ور باندې خپلو هغو مومنو بنده ګانو ته چې د الله حکمونه یې پرځای کړي دي او ښـه یې کړي دي؛ ز یرئ ورکوي، نو ته [ای پیغمبره! خلکو ته اعلان وکه او ورته] ووایه چې زه د خپل دعوت په بدل یا عوض کې د ستاسې نه د خپلوی محبت او مینې نه پرته بل څه شئ نه غواړم، او هرڅوک چې ښه کړي مونږ د هغه ښــو کړنو ثواب ور ډیروو، او یقینا چې الله لوی بښــونکئ او کلک منونکئ لوی ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! پدې مبارك آیت الله تعالی خپل پیغمبر محمدﷺ ته حکم کړئ دئ چې دئ خپل قوم ته اعلان وکړي چې زه د خپل رســالت او پیغام په رسولو کې د ستاسې نه هیڅ ډول مادي مرسته او مال نه غواړم؛ نو هیله کړم چې تاسې یوازې د زما سره خپلوی و پالی، ځکه مونږ ټول یو قوم خپلوان یو، نو هیله ده چې تاسې د زما پیغمبرۍ په لار کې خنډ نسی.

[۲٤] او آیا کافران وایي چې محمد پر الله باندې د دروغو افترا کړي ده؟ [یعنی هغه -العیاذ بالله_ دروغژن دئ او د الله پیغمبر ندئ؟ او ای پیغمبره! که تا دا کا ر کړي وي] نو که الله وغواړي د ســتا زړه به مهر او ټاپه کړي او باطل او دروغ به محوه او پاک کړي، او حق الله په خپلو خبرو کې او په حکمونو ســره کلکوي [یعنی د الله حکمونه هیڅ کله نه

بدليږي] ځکه يقيناچې الله په زړونو ښه پوه ذات دئ، يعنى د زړونو مالک لوى رب دئ.

[٢٥] او الله هغه مهر بان ذات دئ چې د خپلو بنده ګانو تو به قبلوي او د ګناه وو نه يې تيريږي او هغه ښې، او اى خلکو! الله د ستاسې پر ټولو کړنو باندې پوهيږي، يعنى د ستاسې کړنې د الله نه پټې ندي او بيا الله هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٢٦] او الله د هغو کسانو دعاء قبلوي چې دوى ايمان راوړ او ښه يې وکړل [يعنى د دوى غوښتنې ځوابوي] او د خپل فضل نه نور څه شئ هم ور ډيروي، او کافرانو ته کلک عذاب دئ، يعنى الله تعالى د عدالت په تله دوى ته سزا ورکوي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې ټول خلک د قيامت په ورځ د خپل يقيني برخليک نه خبر کړي دي او بيا مومنان جنتونو ته او کافران دوزخ ته وروستل کيږي او بيا الله تعالى د هغو کافراونو تورونه چې رسول الله ﷺ پسې يې لږول؛ په کلکه سره رد کړي دي، او ګواښ يې کړئ دئ چې که رسول الله ﷺ په ر ښتيا سره خپل رب پسې[نعوذ بالله] دروغ و يلي وي، نو الله به نور د هغه زړه وټړى او ټاپه يې کړي او باطل او دروغ به ورځخه محوه او پاک کړي، خو حقيقت داسې ندئ او د پيغمبر ټولې خبرې حق او ر ښتيا دي، او هغه مونږ همداسې ساتو او کلکوويې او مونږ د زړونو مالکان او څښتن يو، يعنى هرڅه د الله په واک کې دي.

{د الله لوى قدرت نښې خلکو ته په روزي ورکولو کې ځليږي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې خپله خدايي او ټولواکي خلکو ته د روزي ورکولو په باره کې يادە کړې ده او د خپلو لو يو قدرتونو ډيرې نښې يې بيان کړيدي، او فرمايلي دي:

﴿* وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ٢٧ وَهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا

قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٖۚ وَهُوَ عَلَىٰ جَمۡعِهِمۡ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٞ ﴿٢٩﴾ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٖ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖ ﴿٣٠﴾ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٣١﴾ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلۡجَوَارِ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ﴿٣٢﴾ إِن يَشَأۡ يُسۡكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظۡلَلۡنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾ أَوۡ يُوبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُواْ وَيَعۡفُ عَن كَثِيرٖ ﴿٣٤﴾ وَيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٣٥﴾ فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾

[٢٧] هو؛ ای پیغمبره! که چیرې الله خپلو بنده ګانو ته روزي خوره کړې او ډیره کړې وای، نو بیا به دوی په ځمکه کې بغاوت او سرکښي کړي وه، خو الله روزي په هغه اندازه چې دئ یې غواړي را کوزوي، ځکه یقیناچې الله د خپلو بنده ګانو نه ښه خبر دئ او دوی ښه و یني، یعنی نو هر چا ته د هغه لائق روزي ورکوي!

[٢٨] هو! کله چې خلک د باران نه نا هیلي او نا امیده سي، نو بیا الله پر دوی باندې باران راووروي او خپل رحمت ور باندې خوروي، او یوازي الله د خلکو ښه ستایل سوي رب او لوی څښتن دئ.

[٢٩] او د الله قدرتونو نښانو نه د اسمانونو او د ځمکې پیدا کول او پکې د ټولو ګرزندو مخلوقاتو خورول دي، او الله چې کله وغواړي د دوی په راغونډولو باندې ښه قادر ذات دئ.

[٣٠] او ای خلکو! هر هغه مصیبت چې تاسې ته رسیږي؛ هغه د ستاسې د خپلو لاسونو کړنه ده او الله د ډیرو نه درته تیریږي، یعنی سزا یې نه درکوي او عفوه او بښنه درته کړي.

[٣١] او ای خلکو! تاسې په ځمکه کې د الله په کړنو باندې زورور

کیدای نسی [یعنی د الله واکمنی نه بل ځای ته تښتیدلای نسی] او د الله نه پرته بل هیڅ څوک مرستندوی او ملګرئ نلری [یعنی نو تاسې ته ښایي چې الله ته تسلیم سی او په خپله خوښه د هغه حکمونو ته غاړه کیږدئ.

[٣٢] او د الله لو یو قدرتونو نښانو نه ګرځندوی لوېي بیړی په سمندرونو کې دي چې، لکه څرلي جګې پکې ولاړې دي.

[٣٣] نو که الله وغواړي شمال یا باد به چې بیړی پرې ګرځی راګرځی؛ ودروي او بیا به هغه همداسې د سمندر په سر ولاړې پاتې وي، نو یقیناچې دا نښانې هر صبرناک او منونکي مومن بنده ته د زدکړې او د پند اخستلو لوېي نښې دي.

[٣٤] او کیدای سي چې الله دا لوېي بیړی یا کښتۍ په سمندرونو کې د خلکو بدو کړنو په ګناه ډوبې کړي، خو الله د خلکو ډیرو ګناه وو نه تیریږی، یعنی عفوه ورته کړي او سزا نه ورکوي.

[٣٥] او هغه کسان چې د زمونږ قدرتونو په نښانو کې او د کتاب آیتونو په دلیلونو کې ناحقه جدال او بحث کړي؛ الله ور باندې پوهیږي، نو بیا دوی د الله عذاب نه خلاصیدای نسي، یعنی د تیښتې لار نلري، ترڅو د الله عذاب نه نجات بیاموميِ.

[٣٦] ای خلکو! او د دنیا ژوند هغه مال او دولت چې تاسې ته درکړل سوئ دئ؛ هغه یوازې د دنیا متاع ده او خوند اخستل ورڅخه ژر تیریږي، خو هغه نعمتونه او ورکړې چې د الله سره دي او د آخرت په ورځ مومنانو ته ورکول کیږي؛ هغه ښه او تل پاتې نعمتونه دي او مومنانو چې پر خپل رب الله توکل او پر وسعه کړې ده؛ د دغو نعمتونو نه خوند اخلي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته همداسې د خپلو لو یو قدرتونو نښانې او د خپل کتاب دلیلونه بیان کړي دي او خلک یې ور باندې باور کړو او ایمان راوړو ته رابللي دي، خو که بیا هم څوک سرغړونه وکړي او یا د کینې نه څوک د الله قدرتونو نښانې او د هغه کتاب آیتونه؛ نه منې او پکې ناحقه جدلي بحثونه او شند استدلال کړي، نو الله دوی پیژني او ور باندې پوهیږي او د الله سزا نه هیڅ څوک د

تيښتې او د خلاصون لار نلري، نو اوس د خلکو خوښه چې د خپل لوی رب بلنه مني او ايمان راوړي او خپل ځان د الله نعمتونو نه په دنيا او په اخرت کې برخمن کوي؟ او که همداسې پر خپل کفر باندې کلک ولاړ پاتې کيږي او د جهنم اور سرو لمبو ته په دوزخ کې ځانو نه ورغورځوي؟

{د مومنان چارې په جرګو حليږي او انتقام د مظلوم حق دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مومنانو غوره خو يونه ياد کړي دي او د مظلوم حق اخستل يې اړ ين بللئ دئ، او هغه يې د مومنانو ښه درانده خو يونه بللئ دي، او فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ وَٱلْفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا۟ هُمْ يَغْفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلْبَغْىُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَٰٓؤُا۟ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۖ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ ٱنتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَظْلِمُونَ ٱلنَّاسَ وَيَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿٤٣﴾﴾

[٣٧-٣٩] [او مومنان هغه کسان دي] چې دغټو ګناه وو او بدو کړنو نه ځانو نه ساتي [يعنى لکه: غلا، زنا او نورو کبيره ګناه وو نه ځانو نه کلک ساتي] او مومنان چې کله پر چا باندې په غوصه سي؛ هغه ښې او ورځخه تيريږي، ځکه مومنانو د خپل رب الله حکمونه منلي دي، او لمنځونه کړي او هغه په خپل وخت کې دروي، او مومنان د خپل ژوند چارې په شورا او جرګه سره سمبالوي، او د هغې روزي نه چې مونږ مومنانو ته ورکړې ده؛ د هغې نه د بې وزرو کسانو سره مرسته کړي او خيرات ورکوي، او مومنان هغه کسان دي چې کله پر دوی باندې تيرئ وسي، نو بيا دوی خپل وار اخلي او د خپلو ځانو نه دفاع کړي، يعنى د ځان نه دفاع کړل او د تيري کونکي نه انتقام اخستل؛ د مومنانو حق دئ،

نو ځکه ورسره مرسته کيږي او بر يا يې په برخه کيږي، او الله تعالى د حق او د عدالت پلوئ دئ.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې مومنان د ډيرو غورو خو يونو او صفتونو خاوندان بللي دي، لکه پر الله باندې توکل او ځان ور باندې سپارل او د لو يو ګناه وو نه ځان ساتل او د غوصې او قهر په وخت کې بښنه او تيريدل او د الله تعالى حکمونو منل او جاري کول او لمونځ کړل او زکات او خيرات ورکول او د خپل ژوند ټولې چارې په ګډه شورا او په جرګو سره سمبالول او چلول، او داسې نور ډير غوره او ښه خو يونه او صفتونه چې مومنان الله تعالى ور باندې نازولي دي.

نو ښايي ګرانو دوستانو! چې مونږ خپل ځانونه په ر يښتيا سره مومنان وګرځوو او په دغو ټولو ښکلو خو يونو باندې تل کلک ولاړ پاتې سو او ور باندې متعهد ودر يږو، ترڅو الله تعالى مومنانو ته تل سرلوړي او عزتمن ژوند ورکړي، او يقيناچې د مومنانو دغه پورته ياد سوي ښه غوره خو يونه او صفتونه؛ ټول مونږ ته د الله تعالى اسماني لارښودنې دي او هغه يې مونږ ته په خپل کتاب (قرآن) کې را ليږلى دي او په دغو مبارکو آيتونو کې يې را ته ور باندې کلک ټينګار او سپارښت کړئ دئ.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د بدو کړنو ځواب بد کړل او غچ اخستل ښودلي دي او هغه يې د هر مظلوم حق بللئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

[٤٠-٤٣] هو! څوک چې بد کړي د هغه سزا د بدو کړنو غوندې بده سزا ده، نو که بيا څوک عفوه وکړي او مظلوم د خپل حق نه تير سي، نو د هغه ثواب په الله باندې دئ [يعنى الله تعالى ورته په عوض کې ثواب ورکوي چې هغه په آخرت کې جنت دئ] او يقينا چې الله ظالم کسان چې په خلکو تيرئ او ظلم کړي نه خوښوي، او کله چې مظلوم د ظالم نه غچ واخست [يعنى د ځان نه يې دفاع وکړه] نو بيا پر مظلوم باندې بل څوک حق نلري، او هغه کسان يقينا پوښتل کيږي چې دوى په خلکو باندې ظلم او تيرئ کړئ وي او په ځمکه کې يې ورانئ او فساد کړئ وي، او دغو

مفسدينو ته په آخرت کې کړونکئ عذاب دئ، خو که مظلوم صبر وکړي او ظالم و ښني، نو يقينا چې دا ډير لوی کار دئ او الله ورته ډير لوی اجر او ثواب ورکوي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د مظلوم حقونو په ساتلو باندې کلک ټينکار کړئ دئ، ځکه مظلوم حق لري چې خپل حق د ظالم نه په غچ اخستلو سره وا خلي او دئ د خپل ځان نه په دفاع کړو کې نه ملامتېږي، ځکه د ملامتۍ او د پوښتنې وړ او مستحق هغه څوک دئ چې ظلم يې کړئ دئ او پر مظلوم باندې يې تيرئ کړئ دئ، او ظالم ته په آخرت کې هم کلک او کړونکئ عذاب دئ، خو که بيا هم مظلوم د خپل حق نه تير سي او انتقام وانخلي، نو دا ډير غت کار دئ او الله ورته په آخرت کی ثواب ورکوي چې هغه جنت دئ.

ګرانو دوستانو! دا قرآني لارښودنې په ټولنه کې د عدالت او ورسره د عفوې او ښنې ډير ګټور پيغام دئ، نو ښايي چې د مسلمانانو مشران او واکمنان هغه په ټولنه کې پلې کړي او د ټولنې ټول وګړي د يو بل سره د عدالت په ګډۍ کينوي او وروري د دوی په منځ کې ټينګه کړي او يو د بل په ضد راو نه پاروي او انتقام اخستلو ته يې ونه هڅوي!

{ کافران د الله نه پرته بل څوک مرستندوی نلري }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى کافران د کلکو سزا ګانو نه د آخرت په ورځ خبر کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن وَلِيٍّ مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ ﴿٤٤﴾ وَتَرَىٰهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا خَٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِىٍّ ۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ ٱلْخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِى عَذَابٍ مُّقِيمٍ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنْ أَوْلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾ ﴾

[٤٤] او هغه څوک چې الله د خپلو بدو کړنو په ګناه د سـمې لارې نه ورک کړي، نو بيا هغه د الله نه وروسـته بل هيڅ څوک ملګري نلري، او ظالمان چې کله د آخرت په ورځ د الله عذاب وو يني، نو بيا ته ای پيغمبره! دوی و يني [چې الله تعالى ته سـوال کړي] او وايي: آيا مونږ بيرته دنيا ته د ورګرځيدلو لار لرو؟ يعنی، ترڅو ای لو يـه خـدايـه! د سـتـا بنـده کې او عبادت وکړو او فرمان ده يوسـو؟ ځواب دا چې نور پر دوی باندې بيرته دنيا ته د ورګرځيدلو لارې ټرل سوې دي.

[٤٥-٤٦] او بيا ته ای پيغمبره! کافران د ذلت په کلکه و يره کې و يني چې د دوزخ اور تـه ورغړول کيږي او دوی پټ پټ ورتـه ګوري، او کلـه چې مومنان کافران په دغسی خواری او ذلت کی و يني وايي: ر يښتيني ز يانمن خو هغه کسان دي چې د قيامت په ورځ يې خپل ځانونه او کورنۍ بايلودل [يعنی د لاسـه يې ورکړل او د دوزخ اور ته ورننه وتل] نو ای خلکو! په کلکه سره خبر سی چې ظالمان (کافران) نور يقينا په تل پاتې عذاب کې کړ يږي [يعنی د دوزخ اور په لمبو کې سـوزي] ځکه کافران د الله نه پرته بل هيڅ څوک مل او پلو يان نلري چې ورسـره مرسـته وکړي، او هغه څوک چې الله د حق لارې نـه ورک کړي، نو بيـا دئ بلـه لار نـه مومی، يعنی د هـدايـت او ضلالت حقيقي مالك او توفيق ورکونکي څښتن؛ يوازې الله دئ.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د کافرانو د تورې راتلونکې لنډ تصـو ير دوی ته ښـودلئ او بيان کړئ دئ، ترڅو ورڅخه پند واخلي او د خپل کفر او ظلم نه تو به و باسي، ايمان راوړي او ښه وکړي.

{ښايي ټول خلک د قيامت راتګ نه مخکې د الله دين ومني}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى ټولو خلکو ته بلنه ورکړې ده چې د قيامت ورځې راتګ نه وړاندې ده د الله تعالى حق دين اسلام ومني او مومنان ده سي، او فرمايلي دي:

﴿ٱسۡتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ مَا لَكُم مِّن مَّلۡجَإٖ يَوۡمَئِذٖ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٖ ٤٧ فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ

حَفِيظًا ۖ إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا الْبَلَاغُ ۗ وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ الْإِنسَانَ كَفُورٌ ﴿٤٨﴾ لِّلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

[٤٧] ای خلکو! مخکې لدې نه چې پر تاسې باندې هغه ورځ راسي چې بیا په هغه ورځ نور د الله سزا نه خلاصون نسته او په هغه ورځ [چې د قیامت ورځ ده] بیا تاسې نور د تیښتې ځای نلري او نه د خپلې ګناه نه انکار کړای سي، یعنی نو مخکې د دغسې سختې ورځې راتګ نه؛ د خپل رب الله بلنه ومنی او ایمان راوړي او د کفر او شرک نه لاس واخلی.

[٤٨] او که بیا کافرانو د الله نه مخ واړا ؤ، نو ته ای پیغمبره! مونږ پر دوی باندې ساتونکئ [او څارونکئ] نه یې را لیږلئ او د ستا دنده او رسالت یوازې د الله پیغام رسول دي، او یقینا چې کله مونږ یو چا ته د زمونږ لخوا رحمت وروڅکو؛ دئ ور باندې خوښ سي، او که خلکو ته د دوی د خپلو لاسونو بدو کړنو بد ورسیږي [یعنی سزا ورکړه سي] نو بیا یقینا چې دا سړئ کلک منکر وي، یعنی د الله تعالی د لوی رحمت شکر نه باسي!

درندو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونو کې ټول خلک الله تعالی د پیغمبر ﷺ په خوله ایمان راوړو ته رابللي دي، خو که بیا هم دوی مخ اړوي او ضد کړي او حق نه منی، نو رسول الله د هغوی ضامن ندئ، ځکه د رسول الله ﷺ رسالت خلکو ته د الله پیغام رسول دي، نور نو د خلکو خپله خوښه چې ایمان راوړي او د الله ثوابونه ګټي، او که ځان د الله عذاب ته د دوزخ په سره اور کې ورغورځوي، نو ښایي چې د الله دین ته رابلونکي دعات همدا لار خپله کړي، ترڅو چې اسلامي ټولنه جوړه سي او د اسلام لارښود قانون حاکم سي، نو بیا هغه پرټولو خلکو باندې جاري کیږي، خو د عقیدې په باره کې د هر چا خپل واک وي او هیڅ کله

كافر په زور ايمان ته نه رابلل كيږي، لكه څنګه چې الله تعالى فرمايلي دي:" لا إكراه في الدين " په دين كې زور نســته، يعنى دين پرچا په زور نه منل كيږي،

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى خپل قدرتونه بيان كړي دي او فرمايلي دي:

[٤٩-٥٠] هو! د ځمكې او اسمانونو واكمني الله لره ده او الله چې څه غواړي؛ هغه پيدا كوي، او چا ته الله يوازې لونې ور بښـي او چا ته يوازې هلكان او نار ينه (زامن) وركوي، او چا ته لونې او زامن دواړه جوړه وركوي، او ځيني شندې كړځوي، او يقينا چې الله ښه پوه او په هرڅه كلك ځواكمن لوى ذات دئ، يعنى د زوى او لور ز يږ يدل او شندې توب؛ ټول د الله تعالى په لوى علم او په پاخه حكمت او په پوره قدرت او واكمنۍ ســره تر ســره كيږي، او هر چا ته الله د هغه لائق كهول وركوي، خو دا حقيقت ښــايي زمونږ د پام نه پټ نوي چې الله تعالى خپلې تقديري پر يكړې مادي اسبابو ســره تړې دي، نو څوك چې د واده كړو نه وروسته په ځان كې د شندټوب نښې وو يني ورته ښايي په نوي طب كې ښه پوه او حاذق طبيب ته لاړ سي او د ځان علاج وكړي او هيڅ كله ده په خوسې طمعه نه كيني.

{الله خپل كتاب پيغمبرته په درې ډوله وحى يې سره رسولئ دئ}

او د ور پســې مباركو آيتونو په پيل كې الله تعالى د وحى يې څرنګوالئ، ډولونه او اقســام ياد كړي دي او پر رســول الله ﷺ باندې يې د وحى يې په رانازليدو ټينګار كړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿*وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾ صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥٣﴾*﴾

[٥١] او هیڅ انســان ته [د آدم ﷺ کوول نه] نه ښــایيدل چې الله ورســره خبرې وکړي مګر په وحی یی ســره [یعنی پټې خبرې] او یا د پردې شانه او یا ورته استازئ راولیږي، نو بیا دا استازئ هغه څه چې الله غواړي هغه دې بنده ته وحیه کوي، او یقینا چې الله ښه لوړ او حکیم ذات دئ!

قدرمنو دوســتانو! الله تعالی پدې مبارک آیت کې د وحی یی اقســام او ډولو نه مونږ ته بیان کړي دي او هغه داچې وحیه یې په درې ډوله و یشلې ده او الله حکیم ذات دئ او په پاخه حکمت ســره یې خپل پیغام خپلو پیغمبرانو او استازو ته په ځمکه کې د جبرائیل په وا سطه رسولئ دي.

[٥٢-٥٣] اوهمدارنګه ای پیغمبره! مونږ تا ته د زمونږ لخوا روح (قرآن) وحیه که، حال داچې ته د قرآن وحی یې نه پخوا پدې نه پوهیدلې چې کتاب څه شئ دئ؟ او نه تا ایمان پیژاند؟ خو قرآن مونږ خلکو ته رښا ورکړځا ؤ، او هرڅوک چې زمونږ د بندګانو نه وغواړو؛ هغه په قرآن باندې سمې لارې ته هدایت کوو، او ته ای پیغمبر! په کلکه ســره خلک په ســمه لار روانوي، او دا ســمه لار د هغه لوی خداي الله ســمه لار ده چې په ځمکه او په اسمانونو کې میشــتو ټولو مخلوقاتو پاچایي د هغه په واک کې ده، نو ای خلکو! خبر سی چې د ستاسې ټولو ښــو او بدو کړنو ورتګ الله ته دئ او الله هر چا ته د هغه عمل ثواب او ســزا ورکوي، نو ښایي چې ټول خلک د الله حکمونو ته غاړه کیږدي، ځکه الله د ټولو واکمن لوی خدای دئ.

ګرانو دوستانو!الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنــان ورکړئ دئ چې اللــه خپــل پیغــام د هغــه نــه پخوا ټولو پیغمبرانو ته د وحی یې په واســطه را لیږلئ دئ او بیایي دغه وحیه کله د جبرئیل امین علیه السلام په خوله را لیږلې ده او کله یې د پردی شــانه ورســره پټې خبرې کړي دي او کله یې وحیه همداســې په زړه کی وراچولې ده، لکه الهي الهامات، او بیا الله تعالی په همداســې وحی یې ســره خپل کتاب قرآن چې رښا ده رسـول الله ﷺ ته رسـولئ دئ، او همداسې یې رسـول الله ﷺ ته د ایمان او د اسلام ټول بیان کړئ دئ او په سمه لار د تګ څراغ یې په لاس کې ورکړئ دئ، ترڅو ټول خلک د الله تعالی ســمې لارې ته راو بولي او بیا

الله ورته نيکمرغي ورو ښې او ښادۍ کړي.

عزتمنو دوستانو! د وحي يې دا قسمو نه چې درې ډوله پدې مبارک آيت کې بيان سوي دي؛ هغه لمړۍ دا چې الله تعالى د چا سره پټې ورو خبرې وکړي او همدا د وحي معنا ده چې په زړه کې يې څه شئ ور واچوي او ورته الهام وايي. دو يم: دا چې د پردې شانه ورسره خبرې وکړي. در يم: دا چې ملکه يا فرښته ورته راولېږي او هغه د الله تعالى پيغام خپل پيغمبر ته ورسوي، او هغه ملکه چې پيغمبرانو ته يې وحيه راوړه جبرئيل امين عليه السلام ؤ ، او دئ د الله تعالى او د پيغمبرانو په منځ کې استازئ او رابطه او اړ يکه ؤ.

عزتمنو دوستانو! د وحي يې څرنګوالي په باره کې د رسول الله ﷺ نه په صحي حديث کې روايت سوي دي او امام بخاري هغه د خپل جامع الصحيح پيل کې د وحي يې په کتاب کې د وحي يې راتګ څرنګوالئ په بيان کې روايت کړئ دئ، او فرمايلي دي: عن عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها: أن الحارث بن هشام رضي الله عنه سأل رسول الله ﷺ فقال: يارسول الله! كيف يأتيك الوحي؟ فقال رسول الله ﷺ:" أحيانا يأتيني مثل صلصلة الجرس، وهو أشد عليّ، فيفصم عني وقد وعيت عنه ما قال، وأحيانا يتمثل لي الملك رجلا فيكلمني فأعي ما يقول"(الجامع الصحيح للبخاري بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ) هو! رسول الله ﷺ پدې مبارک حديث کې د وحي يې راتګ څرنګوالئ مونږ ته بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي چې وحيه به کله ما ته لکه د وسپنو ټکان زنګ غوندې راتله او دا به راباندې ډيره درنده وه او بيا به ودر يده او زه به پوه سوئ وم، او کله به فرښته د سړي په څېره کې را تله او خبرې يې را ته کړې او زه به په پوهيدلم.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الزخرف سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه ډير مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الزخرف سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه}

قدرمنو دوستانو! د الزخرف مبارکه سوره مکي سوره ده، او موضوع يې د عقيدې مسئلې دی، لکه د الله تعالی توحيد او په عربي ژ به د قرآن نزول او په تاکيد او ټينګار سره د قرآن ر يښتينوالي بيان، او بيا الله تعالی پدې مبارکه سوره کې د دنيا ښکلا او د خورو ورو نعمتونو نه يې د کافرانو خوند اخستل؛ ياد کړي دي، او خلک د دغسې غولونکو خوندونو نه چې ژر تيريدونکي دي؛ کلک ګواښل سوي دي او پرځای يې د آخرت ورځې تل پاتې نعمتونو نه خوند اخستلو ته هڅول سوي دي، ځکه د الله تعالی د جنتونو ښکلا ر يښتينه او تل پاتې ښکلا ده چې هغه الله تعالی يوازې متقيانو ته ور ښې، نو دا مبارکه سوره له همدې کبله په الزخرف نومول سوې ده، او بيايې په (٣٣-٣٥)آيتونو کې د کافرانو کورونو ښکلا يادە سوې ده، نو ځکه په الزخرف نومول سوې ده، نو د الزخرف معنا د سرو زرو ښکلا ده او د کافرانو کورونه د سرو زرو په او بو ښکلي سوي او ښه کلک ښايسته رنګين سوي ول.

{قرآن چې په روښانه عربي ژبه راغلئ دئ شك پكې ځای نلري}

قدرمنو عز يزانو! د الزخرف مبارکه سوره، لکه د هغې نه مخکې مکي سورې د عربي هجاء مقطعاتو تورو باندې الله تعالي پيل کړې ده، او فرمايلی دي:

﴿حمٓ ١ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢ إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٣ وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ٤ أَفَنَضۡرِبُ

عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا أَن كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ۝٥ وَكَمۡ أَرۡسَلۡنَا مِن نَّبِيّٖ فِي ٱلۡأَوَّلِينَ ۝٦ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٧ فَأَهۡلَكۡنَآ أَشَدَّ مِنۡهُم بَطۡشٗا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝٨

[١-٣] (حاء، ميم *والكتاب المبين) په همدې لوستل سوي روښانه کتاب قرآن باندې چې د (حاء، ميم) غوندې يو بل نه پر يکړ سوو عربي تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ؛ قسم او لوړه ده چې يقينا دا کتاب قرآن مونږ په عربي روښانه ژ به را نازل کړئ دئ، ترڅو تاسې ای خلکو! په هغه باندې ښه پوه سی، يعنی په معنا او مقصد کې يې ژور فکر وکړی او هغه ومنی او ايمان راوړی او د دنيا او آخرت نيکمرغي وګټی!

[٤] او يقينا چې دا کتاب قرآن په لوح محفوظ کې د زمونږ سره لوړ مقام لري او ښه کلک او محکم کتاب دئ، يعنی قران د لو يو حکمتونو خزا نه ده او پکې هيڅ ډول بدلون او تحر يف ځای نه لري، ځکه د ساتنې او حفاظت ضمانت يې الله تعالی کړئ دئ.

[٥] ای خلکو! تاسې چې د حق نه يو اوښتونکئ قوم ياستی [يعنی ايمان نه راوړي او حق نه منی] نو آيا تاسې ته مونږ د قرآن بيانولو نه او د هغه لوستلو نه تير سو؟ يعنی د هغه تبليغ نه لاس واخلو؟ ځواب دا چې: نا! هيڅ کله مونږ هغه نه پر يږدو او خاماخايې خلکو ته رسوو او تل هغه ور په يادوو او دوی په قرآن باندې باور کړو ته په وار وار سره را بولو.

[٦-٨] او په لمړنيو پخوا تير سوو ولسونو او امتونو کې مونږ څومره ډير پيغمبران را وليږل، خو کله چې به دوی ته يو پيغمبر راغئ، نو د هغه سپکاوئ يې کا ؤ او ملنډې ور باندې وهلې، نو بيا ای پيغمبره! د ستا قوم (قر يشو) نه ډير کلک او ځواکمن ولسونه مونږ هلاک کړل [يعنی له منځه مو يوړل] او د دغو مخکنيو ولسونو د هلاکت او له منځه تلو او د تباهی بيلګې او مثالونه پخوا تير سول، يعنی ښايې د رسول الله ﷺ قوم او امت د پخوا تير سوو ولسونو نه پند واخلي او ايمان راوړي، کنه نو دوی ده د هغوی غوندې؛ تورې راتلونکې ته انتظار و باسي!

درندو عز يزانو! په دغو مبارکو آيتونو کې چې په مکه مکرمه کې پر رسـول الله ﷺ باندې را نازل سـوي دي؛ الله تعالى د قرآن پر حقانيت او ښـه پاخه ر يښـتينوالي باندې لوړه کړې ده او د رسـول الله ﷺ قوم عر بانو باندې يې په ټينګار سـره غږ کړئ دئ چې دا قرآن مونږ تاسـې ته د سـتاسـې په روښـانه عربى ژ به را نازل که، ترڅو تاسـې ور باندې ښـه پوه سـى او ايمان راوړى، خو دا چې تاسـې يو سـرکښ قوم ياسـتى، نو دا روښـانه پيغام تاسـې ونه مانه، نو مونږ د هغه تبليغ او خلکو ته يې د بيانولو نه د سـتاسـې کينه کښ ضـد له کبله نه تيريږو، او لکه پخوا تير سـوو ولسـونو پيغمبرانو غوندې به دا کتاب قرآن تاسې ته رسـول الله ﷺ خاماخا اوروي، نو پدې مبارکو آيتونو کې، لکه څنګه چې د قرآن عر بيت بيان سوئ دئ؛ همداسې رسول الله ﷺ ته سپارښت سوئ دئ چې ته اى پيغمبره! په پوره ډاډ او ټينګار سره خپل رسالت او دعوت په مخ يوسه او د کافرانو د سرکښى او ضد کړو پروا مکړه، ترڅو د ستا قوم قر يش ښه فکر وکړي او ايمان راوړي، او يقينا چې دا سـپارښـت همدارنګه د رسـول الله ﷺ د دين ټولو مبلغينو او دعاتو ته يو تل پاتې پيغام دئ او دوى ته ښـايي چې لکه پيغمبر ﷺ په لوى صـبر او زغم سـره خپل دعوت ته دوام ورکړي، او همدارنګه الله تعالى رسـول الله ﷺ ته د ډاډ او د تسـليت په ترڅ کې د تيرو ولسـونو د ضـد کړو او د سـرکښى لنډه يادونه هم کړې ده، او رسـول الله ﷺ او د هغه امت يې د دوى تور برخليک نه خبر کړئ او ګواښلئ دئ، نو ښـايي چې ټول خلک ورڅخه ښـه پند او عبرت واخلي او دا پيغام دوى ته تل پاتې سر ليک وي!

{د الله تعالى خدايي د ربوبيت په توحيد کې مکې خلکو ومنله}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپل پيغمبر محمد ﷺ د هغه قوم کافرانو د زړونو ر يښـتينو باورونو نه د الله په ر بو بيت کې چې هغه يې مانه؛ خبر کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ۝٩ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠﴾ وَٱلَّذِى نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١١﴾ وَٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْفُلْكِ وَٱلْأَنْعَٰمِ مَا تَرْكَبُونَ ﴿١٢﴾ لِتَسْتَوُۥا۟ عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ثُمَّ تَذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا ٱسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا۟ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾

[٩-١٠] هو؛ ای پیغمبره! که چیرې ته د خپل قوم کافرانو نه و پوښتې، چې ځمکه او اسمانونه چا پیدا کړي دي؟ نو دوی به درته په ځواب کې په ټینګار سره ووایي: هغه ټول لوی ځواکمن او ښه پوه رب الله پیدا کړي دي، او دا لوی رب الله هغه څوک دئ چې ځمکه یې تاسې ته ای خلکو! د استوګنې زانګو وګرځوله او تاسې ته یې پکې لارې او سړکونه راوو یستل، ترڅو تاسې په مزلونو کې د خپل مقصد ځایو ته د رسیدلو لار بیاموموی، یعنی ترڅو تاسې لار ورکه نکړی او په اسانۍ خپلې مقصدګاه ته ورسیږی.

[١١] او الله هغه څوک دئ چې او به یې د اسمان نه په اندازه راوورولې او بیا مونږ په او بو باندې مړه ځمکه را ژوندئ او را شنه کړه، او تاسې ای خلکو! همداسې د قیامت په ورځ بیرته د خپلو ګورونو نه را و یستل کیږي، یعنی د قیامت په ورځ د مړو را ژوندي کیدل حق دي او الله ته اسانه دئ، نو تاسې ای خلکو ور باندې باور وکړی او ایمان رواړی.

[١٢-١٤] ای خلکو! او الله هغه څوک دئ چې هرڅه یې جوړه جوړه [نر او ښځه، مثبت او منفي] پیدا کړل او بیړی او ځاروي یې تاسې ته د سپرلۍ وسیلې وګرځول، یعنی هغه یې تاسې ته پیدا کړل، ترڅو تاسې پرې سپاره سی او بیا د خپل لوی څښتن الله پیرزو ینې پر خپلو ځانو باندې راپه یاد کړی [یعنی شکریې و باسی او خپل رب وستایي، او کله چې په بیړیو کې او پر ځار یو سپاره سوی] نو ووایي: هغه ذات الله پاک دئ چې د سپرلۍ دا لوی نعمت یې چې مونږیې وسعه نه درلوده؛ پر مونږ پیرزو که، او بیا مونږ بیرته خپل لوی څښتن الله ته ورګرځیدونکي یو.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې لمړئ د کافرانو

د خولو اقرار په خپلې خدايې باندې؛ یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او بیا یې خپلې لویې پیرزو ینې پر خپلو بنده ګانو باندې یادې کړې دي، او دوی یې د الله تعالی دغو لو یو نعمتونو شکر و یستلو او منې ته را بللي دي، نو ځکه سنت ده چې کله مونږ پر خپلو ځارو یو او د اوسني عصر په نقلیه وسائلو کې سپریږو؛ ښایې د الله شکر و باسو او ستاینه یې وکړو، او الحمدلله او سبحان الله ووایو، ځکه دا لوی نعمتونه الله تعالی د زمونږ په برخه کړي دي، او دغه مبارك آیتونونه ولولو چې پکې الله تعالی را ته د هغو لوستلو او و یلو لارښودنه کړي ده، او فرمایلي دي:"سبحان الذي سخر لنا هذا وما كنا له مقرنين و إنا إلى ر بنا لمنقلبون"او بیا د سفر دعاء وکړو چې په بیان کې یې روایت سوئ دئ:(اللهم إنا نسألك في سفرنا هذا البر والتقوى ومن العمل ما ترضى، اللهم إنا نعوذ بك من وعثاء السفر وكآبة المنظر وسوء المنقلب في المال و الأهل والولد) ای لو یه ر به! مونږ پدې سفر او مزله کې د ستا نه ښه کړل او تقوا غواړو او د بدو کړنو نه د ستا ساتنه غواړو او ته اي لو یه ر به! د هغې کړنو توفیق را کړه چې ته ور باندې خوښیږي او د سفر او مزله سختیو نه مونږ پر تا باندې ای د زمونږ لو یه ر به! ځانونه سپارو، نو ته ای لو یه خدایه! مونږ د بدو پیښونه په مال او په کوول کې وساته، یعنی د خپل رحمت پر مونږ وکړه .

{انسان ډیر ناشکره دئ ځان ته زامن او الله ته لونې خوښوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د کافرانو سپک تورونه خپل رب الله پسې یاد کړي دي او بیایې هغه کلک غندلي دي، ترڅو ټولو خلکوته د عبرت اخستلو زدکړه وکړئ، او فرمایلي دي:

﴿وَجَعَلُوا۟ لَهُۥ مِنْ عِبَادِهِۦ جُزْءًا ۚ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَأَصْفَىٰكُم بِٱلْبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾ أَوَمَن يُنَشَّؤُا۟ فِى ٱلْحِلْيَةِ وَهُوَ فِى ٱلْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمْ عِبَٰدُ ٱلرَّحْمَٰنِ إِنَٰثًا ۚ أَشَهِدُوا۟

خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَٰدَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱلرَّحْمَٰنُ مَا عَبَدْنَٰهُم ۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا مِّن قَبْلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسْتَمْسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوٓا۟ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهْتَدُونَ ﴿٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقْتَدُونَ ﴿٢٣﴾ * قَٰلَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ ءَابَآءَكُمْ ۖ قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾

[١٥] [او په ځمکه کې میشـــتو دغو کافرانو] د الله ځینې بنده ګان د الله خدایې یوه برخه وګرځول [یعنی دا چې وو یل: ملائکې د الله لونې دي] نو یقینا چې انســان د خپل لوی رب د پېرزو ینو نه ډیر ښـکاره ناشـکره او منکر مخلوق دئ! یعنی د خپل لوی څښتن الله د نعمتونو شکر نه باسي.

[١٦] [نو آیا تاسې ای ناپوه خلکو! داسي ګمان کړی] چې الله ځان ته د خپلو مخلوقاتو نه لونې خوښـي کړې او تاســې ته یې زامن خوښ کړل؟ حال دا چې تاسې ای خلکو! ځانو ته زامن غواړی او لونې نه خوښوی!

[١٧] او هر کله چې به د کافرانو نه چا ته د لور ز یرئ ورکړل سه، لکه څنګه چې دوی ملائکې د الله لونې بللې، نو بیا به د هغه مخ د ډیرې غوصې او خفتیان نه تک تور او شین واوښت او کلک به په غوصه سه، یعنی نو څنګه د مکې کافران الله ته لونې غواړي، خو د خپلې لور نه یې کرکه راځي او د لور ز یرِ یدلو په ز یري شرمیږي، لکه دا چې هغه ده پیدا کړي وي!

[١٨] [نو آیا تاسې ای د قر یشـو کافرانو!] هغه څوک چې د ډیره نا زه په ګانو او پسـتو جامو کې را لو یېږي؛ هغه (لور) الله ته منسـو بوی، حال دا چې هغه د خبرو په جرګه کې هیڅ نه ښـکاري، یعنی تاسې ای مشـرکانو خبرو و یلو ته هیڅ دلیل نه لری، ترڅو خپله دعوا ور باندې ثابته کړی!

[١٩] او دغو کافرانو ملائکې چې د الرحمن رب بنده ګان دي ښـــځې وګڼل! نو آیا دوی د ملائکو په پیدایښـــت کې حاضـــر ول؟ [نا دوی هلته

حاضـر نه ول، او پدې نه پوهيږي چې ملائکې نران دي او که ښـځې؟] نو د کافرانو دا شـاهدي به وليکل سـي [يعنی بيا به د قيامت په ورځ د دوی نه کلکې] پوښتنې وسي، يعنی کافران به په هغه ورځ د ښتان سزا ګالي!

[۲۰] [او همدارنګه دغو کافرانو په ډيرې سـپين سـترګی سـره] وو يل: که الرحمن رب غوښـتي وای، نو مونږ به د بتانو عبادت نه ؤ کړئ! خو د کافرانو دا خبرې خوسـې د دوی د خپلو ګيډو نه راوتلې خبرې دي، ځکه دوی د الله په تقديري پر يکړو نه پوهيږي او نه ورځخه خبر دي.

[۲۱-۲۲] او آيا دغو کافرانو ته مونږ د پخوا نه کم کتاب ورکړي ؤ؟ چې اوس هغه دوی کلک نيولئ دئ او ور پوري نښـتي دي؟ [ځواب دا چې د کافرانو دا خبرې ټولې دروغ دي او حقيقت نه لري] بلکې دوی وو يل: مونږ خپلو پلرونو پسـې ځو، ځکه چې يقينا دوی مونږ پر خپل دين باندې يؤ موټئ بياموندل، نو يقينا چې د دوی په پله تګ مونږ مقصد ته رسوي.

[۲۳] او همدارنګه ای پيغمبره! د ستا نه پخوا مونږ هر کلی ته هيڅ يؤ استازئ پيغمبر را و نه ليږه [چې ترڅو خپل قوم يوازې پر الله باندې ايمان راوړو ته را و بولي او د سزا نه يې وګوابنې] مګر دا چې د کلي مشرانو چې د دنيا په خوندونو کې ډوب ول؛ خپل پيغمبر ته يې وو يل: مونږ خپل پلرونه يو موټئ بياموندل، نو اوس مونږ هم همداسې د هغوي په پله باندې ځو، يعنی هغه نه پر يږدو او د سـتا دا نوئ پيغام چې يوازې د الله عبادت ته بلنه ده نه منو!

[۲٤] ای خلکو! [کله چې تاسـې د خپلو پلرونو نه درته پاتې دين باندې و ياړ يږی او فخر پرې کړی] نو که زه تاسـې ته د سـتاسـې پلرونو نه پاتې دين نه لا ښـه دين چې هغه سـمې لارې ته لارښـودنه کړي راوړم؟ [نو د سـتاسـې ځواب څه دئ، نو بيا به کافرانو په کينه کښـو خولو] وو يل: يقينا چې مونږ د هغه څه نه چې تاسې ور باندې را ليږل سوي ياستی؛ منکر يو! يعنی که د ستا دين هر څومره غوره وي؛ مونږ يې نه منو!

[۲۵] نو بيا د دغو کافرانو نه [چې دوی په خپلو پلرونو فخر کا ؤ] مونږ کلک انتقام واخسـت [يعنی دوی ته مونږ لويې سـزاګانې ورکړې، نو

ای پیغمبره! وګوره چې د دغو تکذیبونکو کافرانو ســزا څنګه او څومره درنده وه؟ یعنی ښایي د ستا قوم قر یش د تیر ولسونو بد برخلیک نه پند واخلی او د سختې سزا نه پې ځانو نه کلک وساتي، او د پخوانیو ولسونو نه مقصــد د عاد او ثمود قومو نه دي چې دوی ټول الله تعالی هلاك کړل او ر یښې پې وایستلي او تباه سول.

عزتمنو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د کافرانو پې بنسټه دلیلونه او پلمې او خوسې خبرې ردې کړې او غندلې دي، ترڅو نور خلک ور باندې ونه غولیږي، او یقینا چې دا روښانه بیان رسول اللهﷺ ته او د هغه دین دعاتو ته کلکه او تل پاتې لارښــودنه او ځلانده پیغام دئ، نو ښــایې دوی خپل دعوت خلکو ته په همدغســې کلکو او منل ســوو دلیلونو ســره ورســوي او د کافرانو خام او پې معنا اســتدلال رد کړي او خلکو ته پې رسـوا کړي، ترڅو نور خلک ور پسې لاړ نسي او د دوی ړوند تقلید او پیرې ونکړي.

{ابراهیم خپل دعوت ورپسې کوول ته په میراث پرې ایښئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې د ابراهیمعليه السلام بلنه توحید ته الله تعالی لنډه یاده کړې ده، ځکه هغه ابراهیمعليه السلام خپل کوول ته همداسې په میراث پرې ایښې ده، ترڅو دوی ور پسې لاړ سي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِى عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ وَرَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٠﴾﴾

[٢٦-٢٧] ای پیغمبره! او هغه وخت راپه یاد کړه کله چې ابراهیم خپل پلار او قوم ته اعلان وکه او و یو یل: زه د هغو خدایانو نه خپل براءت او پې زاري اعلانوم چې تاسې د هغوی عبادت او بنده کې کړی او هغه رب الله چې زه پې پیدا کړئ یم؛ هغه به ما ســمې لارې ته هدایت کړي، یعنی الله تعالی به ما ته سمه لار چې د الله تعالی د بنده کې یوازنی لار ده راوښیي.

[٢٨] او بيا ابراهيم د توحيد كلمه (لا إله إلا الله) د خپل ځان نه وروسته په خپل كهول كې تل پاتې پر يښودله، ترڅو د ابراهيم نه وروسته خلک يوازې د الله عبادت ته را وګرځي، يعنى د شــرك نه لاس وا خلي او ورڅخه تو به و باسي.

[٢٩] اى پيغمبره! بلكې بيا د ابراهيم قوم دغو كافرانو تـه او د دوى پلرونو ته ما د دنيا ژوند نعمتونو نه خوند اخسـتل ور په برخه كړل [يعنى دوى ته ما ژر سـزا ورنكړه] ترڅو چې بيا ورته د حق پيغام قرآن د بيانونكي پيغمبر(محمد ﷺ) ســره راغئ، يعنى بيايې دوى ابراهيمي توحيد تـه په پوره اخلاص سره راو بلل.

[٣٠] او بيـا چې كلـه دوى تـه دا د حق پيغـام د اللـه نـه راغئ، نو دغو كافرانو وو يل: دا كتاب كودې دي او مونږ ورڅخه منكر يو او نې منو.

هو؛ ګرانو دوسـتانو! دا مبارك آيتونه د قر يشــو نسـبي لړۍ او ديني رابطه او اړ يكي ابراهيم عليه السلام ته رسوي، نو د اسلام لوى پيغمبر محمد ﷺ د ابراهيم عليه السلام د كوول نـه ؤ، او د هغـه نســب لويې ونې اوږدې ر يښــې اسماعيل بن ابراهيم عليهم السلام ته رسيږي، لكه څنګه چې الله تعالى د الانعـام ســورى پـه(١٦١) آيـت كې فرمـايلي دي: "قـل إنني هـداني ربي إلى صراط مستقيم دينا قيما ملت إبراهيم حنيفا وما كان من المشركين" اى پيغمبره! ته ووايه چې يقينا زه خپل رب سمې لارې ته هدايت كړم او دا دين ســم دين دئ او پكې هيڅ كګښـت نسـته او هغه د ابراهيم ملت دئ چې د باطل نه حق ته اوښتئ دئ.

{د پيغمبر ﷺ كينه كښو تربرونو هغه پسې سپكې خبرې وكړې}

او بيا الله تعالى په ور پســې مباركو آيتونو كې قرآن او پيغمبر پســې د قر يشو سپكې سپورې خبرې يادې كړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ٣١ أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٞ

مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴿٣٢﴾ وَلَوۡلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً لَّجَعَلۡنَا لِمَن يَكۡفُرُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ لِبُيُوتِهِمۡ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِبُيُوتِهِمۡ أَبۡوَٰبًا وَسُرُرًا عَلَيۡهَا يَتَّكِـُٔونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخۡرُفًاۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنٗا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٞ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمۡ لَيَصُدُّونَهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٣٧﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيۡتَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَ بُعۡدَ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ فَبِئۡسَ ٱلۡقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ إِذ ظَّلَمۡتُمۡ أَنَّكُمۡ فِي ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾

[٣١] او د مکې کافرانو وو يل: [که دا کتاب قرآن حق واى] نو ولې د دغو دۀ لو يو کلو [د مکې او د طائف نه] پر يۀ بل مشر لوى سړي باندې نه را نازليده؟ يعنى نو بيا د دوى په ځواب کى الله تعالى وفرمايل:

[٣٢] اى پيغمبره! آيا دغه کافران د ستا رب رحمت تقسيموي؟ [يعنى د الله تعالى رحمت چې هر چا ته يې خوښه وي و يشي؟] نا! داسې نده، بلکې مونږ د خلکو روزي د دنيا په ژوند کې دوى ته و يشلې ده، او د دوى نه ځينې کسان مونږ پر ځينو نورو باندې لوړ کړي دي [يعنى هغوى ته مونږ لوړې رتبې ورکړې دي] ترڅو ځينې خلک ځينې نور کسان خپلو ځانو ته خدمت ګاران ونيسي [يعنى هر څوک خپلې اړتياوي د يو بل نه لاس ته راوړي، لکه څنګه چې مونږ و ينو يو دهقان دئ او بل کوچئ او داسې نور ډير هغه مسلکونه او کسبونه چې اوسئ ښاري پرمخ تللئ ژوند ور باندې ولاړ دئ] او اى پيغمبره! د ستا رب رحمت (يعنى جنت) د هغه څه نه چې خلک هغه د دنيا متاع نه راغونډوي ښه او غوره دئ!

او بيا الله تعالى د دنيا سپکتيا ته اشاره کړې ده، او فرمايلي دي:

[٣٣-٣٥] نو که چيرې ټول خلک په کفر باندې لاسونه سره ورنکړي ترڅو يو بل سره يو موټئ کافران سي [يعنى که دا خطر او ګواښ نه واى] نو بيا به مونږ د هغو کسانو د کورونو تيرخانې چې دوى د الرحمن رب نه منکر يږي؛ د سپينو زرو نه ګرځولې وي، او داسې ز ينې بې درلودلې چې

پورته پورې ته به ور باندې ختل او د کورونو ورونه بې د سپينو زرو نه جوړ ول، او څوکۍ به يې ايښودل سوې وې او دوی به يې په ناسته تکيه وهلې وې، او هغه به په سرو زرو ښکلې سوې وې، او دا ټول د دنيا ژوند نه د خوند اخستلو متاع ده[او د دنيا متاع تيريدونکې ده، نو تل پاتې ارزښت نلري.] خو د آخرت ژوند نعمتونه چې هغه ای پيغمبره! د ستا رب الله سره دي؛ هغه مونږ يوازې متقيانو ته انعام کړي دي، يعنی دا چې الله تعالی په آخرت کې خپل جنتونه يوازې متقيانو ته ورکوي، ځکه دوی په دنيا کې د الله حکمونو ته په اخلاص سره غاړه ايښې وه، او په ښو کړنو سره يې د الله عذاب نه ځانو نه ساتلي ول، او د (الزخرف)نه مقصد همدا سره زر دي، نو څنګه چې سره زر لوړ ارزښت لري، نو دا مبارکه سوره هم په (الزخرف) نومول سوې ده.

[٣٦] او هغه څوک چې د الرحمن رب د ياد نه خپل مخ واړوي، نو بيا شيطان مونږ هغه ته په څنګ کې درووو او هغه يې تل ملګرئ وي، يعنی شيطان يې په څنګ کې څارونکئ ولاړ وي او دا سړئ بدو کړنو ته هڅوي او د ښوکړنو نه يې مخه نيسي،

[٣٧] او يقينا چې دا شيطانان تل مومنان د الله حق لارې نه منعې کوي، نو بيا دا د الله نه مخ اړونکي کسان ګمان کړي چې دوی په سمه لار روان دي، يعنی خو حقيقت دا دئ چې دوی د سمې لارې نه ورک سوي اوښتي دي او په کږه لار خوځيدلي دي.

[٣٨] ترڅو چې بيا کله دا د الله نه اوښتئ کس مونږ ته د قيامت په ورځ راسي، نو خپل ملګري شيطان ته وايي: کاشکې د زما او ستا په منځ کې د بيلتون لر يوالي واټن اندازه د شرق او غرب (لو يديځ او ختيځ) په منځ کې د لر يوالي په اندازه وای، ځکه ته ډير بد ملګرئ وي، يعنی زه ده وغولولم او د سمې لارې نه ده ورک کړم!

[٣٩] [نو کله چې تاسي ای د الله نه مخ اړونکو خلکو! پر خپلو ځانو باندې ظلم وکه او کافران سوی] نو اوس درته نوره پښيماني ګټه نکړي، او يقينا چې تاسې په عذاب ګالللو کې د يو بل سره کډ ملګري ياستی، يعنی

لکه څنګه چې په کفر او د الله اطاعت نه په بغاوت کې سره ملګري وی!

قدرمنو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې لمړې د مکې مشــرکانو ړوند تقلید د خپلو نیکونو او پلرونو نه کلک غندلې دی او هغه یې د پخوانیو امتونو کافرانو دود بللې دی چې بیا الله تعالی دغو سرکښــو ولسونو ته په دنیا کې کلکه سزا ورکړه او ټول یې هلاک او تباه کړل، او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د ډاډ او تسلیت لپاره د ابراهیم علیه السلام د پیغمبرۍ لنډه قصه خپل پلار او د هغه مشرک قوم سره کړې ده، او بیایې د مکې کافرانو ته بنسټه شــبهې او نیوکې د رســول الله ﷺ پیغمبرۍ پســې یادې کړې دي، او بیا الله تعالی د دوی دا ناحقه شــکونه رد کړي او رســوا کړي دي، ځکه چې د خلکو په منځ کې د روزۍ تقســیم او و یش واک یوازې الله ســره دی او الله د چا روزي ډیروي او د چا تنګوي او خپلې پیغمبرۍ ته هغه څوک غوره کوي چې د دې لوړ مقام لیاقت لري، او د الله تعالی نه پرته بل هیڅ څوک د دغــې و یش واکمن نــدی، او بیــا اللــه تعــالی د دنیــا متــاع غنــدلې ده او هغــه یې د جنتونو د خوندونو په پر تله ډیره لږ او تیریدونکې بللې ده، او بیا همداسې الله تعالی هغه کسان رټلي دي چې دوی د الله اطاعت او بنده ګۍ نه مخونه اړولي دي او د الله ســره د محبت پرځای یې شــیطان ځانو ته ملګرۍ کړځولې دی، حال داچې شیطان دوی تل د سمې لارې نه اړوي او په کږه لارې روانوي.

{ کافران د کنو او ړوندو غوندې نه حق اوري او نه یې و ینې }

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رســول الله ﷺ ته د ډاډ مقصد بیان کړی دی، او فرمایلي دي:

﴿أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ أَوۡ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٤٠ فَإِمَّا نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنۡهُم مُّنتَقِمُونَ ٤١ أَوۡ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِي وَعَدۡنَٰهُمۡ فَإِنَّا عَلَيۡهِم مُّقۡتَدِرُونَ ٤٢ فَٱسۡتَمۡسِكۡ بِٱلَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤٣ وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَۖ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ ٤٤ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ

أَجَعَلْنَا مِن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ءَالِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿٤٥﴾

[٤٠] نو آيا ته اى پيغمبره! هغه كون اوروي چى غوږونه يې د حق اور يدلو نه كاڼه دي؟ او آيا ته هغه ړلانده ته په سمه لار د تګ لارښودنه كړي [چې د هغه زړه الله د حق ليدلو نه ړوند كړئ دئ؟] او يا ته اى پيغمبره! هغه څوک چې په ښكاره وركتيا دئ په سمه لار روانوي؟ يعنى دغه كسان ټول د حق اور يدلو او ليدلو نه محروم دي، نو ته اى پيغمبره! خپل ځان په دوى باندې مه ستړئ كوه او د دوى په كفر او د حق لارې نه په وركتيا باندې مه خفه كيږه، ځكه دوى الله محروم كړي دي، او ړندو او كنړته ورته دي، نه حق اوري او نه يې و يني او نه په سمه لار ځي.

[٤١-٤٢] اى پيغمبره! نو مونږ به يا تا د دنيا ژوند بر يا نه وړاندې او مخكې خاماخا بيايو [يعنى ته به مړسې] نو بيا مونږ يقينا د كافرانو نه غچ اخستونكي يو [يعنى په آخرت كې دوى ته كلكه سزا وركوو] او يا به تا ته اى پيغمبره! د دنيا په ژوند كې هرومرو هغه سزا در وو ينو چې د هغې وعده مونږ د كافرانو سره وكړه، نو په كافرانو باندې زمونږ وسعه يقينا رسيږي، يعنى مونږ پر دوى باندې زورور يو!

[٤٣] نو ته اى پيغمبره! په هغه كتاب (قرآن) باندې چې هغه تاته وحيه كيږي؛ خپلې منګلې كلكې كړه، او يقينا چې ته په سمه لار روان يې.

[٤٤] او دا قرآن تا ته او د ستا قوم (قريشو) ته په يقين سره د يادونې پيغام دئ [يعنى تاسې ښه پرې پوهيږى، ځكه هغه په عربي ژ به رانازل سوئ دئ، نو ښايې چې د ستا قوم هغه ومني او عمل پرې وكړي] او بيا د ستاسې نه د دې لوى نعمت د شكر و يستلو پوښتنه كيږي!

[٤٥] او اى پيغمبره! ته د زمونږ هغو پيغمبرانو ملګرو نه چې دوى مونږ د ستا نه مخكې راوليږل و پوښته چې آيا مونږ د الرحمن خداى نه پرته نور څوک خدايان ګرځولى دي؟ چې د دوى بنده ګي او عبادت به كيږي، نو يعنى ځواب دا چې د الله تعالى نه پرته بل هيڅ داسې خداى نسته چې هغه د عبادت مستحق او لائق وي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو كې رسول الله ﷺ

ته پوره ډاډ ورکړئ دئ چې هغه ته دا وحيه سوئ کتاب قرآن حق دئ، نو دئ ده ور باندې ټينګ سي، او دا لارښود پيغام خپله پيغمبرﷺ ته او د هغه قوم قر يشو ته د يادونې او دوی ته د افتخار پيغام دئ، نو قر يشو ته ښايي چې ايمان راوړي او خپل عزت د قرآن په رنا کې وغواړي، او همدرنګه په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالى کافران ږندو او کنړو ته ورته بللي دي، ځکه نه حق اوري او نه يې په سترګو و يني، نو رسول الله ﷺ ده د هغوی په کفر نه خفه کيږي او الله تعالى خامخا کافرانو ته د دوی سره وعده سوې سزا ورکوي او د دوی د سرکښۍ غچ او انتقام اخلي!

{ موسى چې فرعون ته د معجزو سره ورغئ هغه سپک که }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالى د موسىعليه السلام د پيغمبرۍ قصه فرعون ته؛ ياده کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّى رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَضْحَكُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ إِلَّا هِىَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا ۖ وَأَخَذْنَٰهُم بِٱلْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾ وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِى قَوْمِهِۦ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَيْسَ لِى مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ ٱلْأَنْهَٰرُ تَجْرِى مِن تَحْتِىٓ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ أَمْ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَآ أُلْقِىَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾ فَٱسْتَخَفَّ قَوْمَهُۥ فَأَطَاعُوهُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلْنَٰهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْءَاخِرِينَ ﴿٥٦﴾﴾

[٤٦-٤٧] او يقينا چې موسى مونږ د خپلو قدرتونو معجزو سره فرعون ته او د هغه واکمنۍ مشرانو مشاورانو ته ولږوه، نو موسى وو يل: زه يقينا د ټول عالم رب الله استازئ يم، نو بيا چې کله موسى دوی ته د

زمونږ معجزو سره [یعنی د موسی پیغمبرۍ د تصدیق روښانه نښو سره] ورغئ، نو بیا دوی ور پورې خندل، یعنی موسی پې درغزن و باله.

[٤٨] او فرعونیانو ته مونږ هیڅ یوه معجزه نده ورښودلې مګر دا چې هغه د هغې خور پخوانۍ معجزې نه غټه وه، او بیا فرعونیان مونږ پر عذاب ورګولو سره راونیول، ترڅو د خپل کفر نه بیرته راوګرځئ، یعنی دوی ته الله تعالی ډول ډول سزاوې ورکړې، ترڅو تو به و باسي او یوازې د الله بنده ګۍ ته غاړه کیږدي.

[٤٩-٥٠] نو بیا فرعونیانو [موسی علیه السلام په کوډګر تورن که او غږ یې پرې وکه] و یو یل: ای کوډګره! ته چې هغه لوړ مقام خپل رب سره لري؛ د الله نه وغواړه چې د زمونږ نه عذاب لرې کړي، ځکه مونږ نور یقینا سمې لارې ته هدایت سوي یو، یعنی د ستا پر پیغمبرۍ باندې مونږ ایمان راوړئ دئ، نو بیا چې کله مونږ د دوی نه عذاب لرې که؛ ناڅاپه دوی پر شا سول، یعنی خپل کفر ته او د موسی سره دښمنۍ او ضد کړو ته بیرته ورواوښتل!

[٥١-٥٢] او فرعون پر خپل قوم باندې غږ وکه او و یو یل: ای د زما عز یزانو! آیا د مصر پاچا یې زما په واک کې نده او زه یې پاچا نه یم؟ او آیا تاسې نه و یئ چې دا سیندونه د زما مانۍ لاندې بهیږي؟ نو آیا زه ای خلکو! د دې خوار بې وزره موسی نه چې خبرې یې ښکاره او روښانه ندي؛ وچت او غوره نه یم؟ یعنی دا چې زه پر موسی باندې چې خپلې خبرې کړلای نسي لوړ او ځواکمن یم، ځکه زه د مصر واکمن پاچا یم.

[٥٣] [نو که موسی ر یښتیا وایي] ولې هغه ته د سرو زرو برنګي په لاسونوکي ندي اچول سوي؟ او یا ولې ورسره څنګ په څنګ ملائکې رانغلې؟ یعنی دا چې نو موسی پیغمبر ندئ، کنه نو په ډیره دبدبه کې به هغه راغلئ ؤ، او د ملائکو لو یه ورا به ورسره ملګرې وه، نه لکه داسې بې وزره سوالګر!

[٥٤] نو کله چې فرعون د خپل قوم سپکاوئ وکه، نو دوی ورته غاړه کیښوده او خبرې یې ومنلې، ځکه یقینا چې فرعونیان د حق نه یو وتلئ او

سرکښې قوم ؤ!

[٥٥-٥٦] نو بيا چې د فرعون قوم نور مونږ په غوصه کړو [يعنې موسى او ورسره ټولې معجزې يې دروغ و بللې] نو بيا دوى مونږ په سمندر کې ډوب او غرق کړل [يعنې فرعونيانو ته الله تعالى کلکه سزا ورکړه او د دوى د تيرو بدو کړنو غچ او انتقام يې ورڅخه واخست] او دوى مونږ نورو خلکو ته مخکې له مخکې د عبرت اخستلو بيلګې وګرځول، يعنې ترڅو نور راتلونکي خلک د دوى نه پند واخلي، خو د بد مرغه هيڅ څوک د خپلو پخوانيو سرکښو ولسونو نه پند نه اخلي؟ او د خپل رب الله اطاعت څنګه چې ښايي نکړي! او ژوندى بيلګې يې اوسني افغانان دي [١٤٠٢هـ ش ٢٠٢٣ م] چې تر اوسه يې ځينو هيڅ پند ندئ ا خستئ!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته د تسليت او د ډاډ په مقصد چې د خپل قوم قر يشو د لاسه يې ډيرې ستونزې وګاللې د موسى عليه السلام پيغمبرى لنډه قصه د فرعونيانو سره ياده کړي ده، ځکه موسى د رسول الله ﷺ نه پخوا د خپلې پيغمبرى پيغام سره فرعونيانو ته ورغئ، خو دوى د هغه پيغمبري ونه منله، نو بيا الله تعالى پر فرعونيانو باندې ډول ډول عذابونه، لکه ملخ، سپرې، چورمښکى يا څنګاښې، او طوفان رانازل کړل، او دوى يې ښه وځپل، خو دوى بيا ژر موسى ته زاري وکړه، ترڅو خپل رب الله ته دعاء وکړي چې دغه کلک عذابونه د دوى نه لرې کړي، ځکه دوى نور ايمان راوړي او د حق لارې ته سميږي، خو کله چې الله تعالى خپل عذاب د دوى نه لرې کړ، نو فرعونيان بيرته په شا واواښتل او فرعون د خدايې دعوا وکړه، نو بيا دوى ته الله داسې کلکه سزا ورکړه چې هغه راتلونکو خلکو ته د عبرت اخستلو سبق وګرځيده او موسى عليه السلام او د هغه قوم بني اسرائيل الله تعالى د فرعونيانو ظلمونو نه خلاص کړل او نجات يې ورکړ، او فرعون يې د خپلو لښکرو سره يوځاى په لوى سمندر کې ډوب او هلاک کړل.

{عيسى ستايل سوئ پيغمبرؤ خو قر يشوور پسې سپکې وو يلې}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مکې مشرکانو سپکې

سپورې خبرې عیسی علیه السلام پسې یادې کړې او غندلې دي او عیسی علیه السلام یې کلک ستا یلئ دئ، او فرملی دي:

﴿* وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوۡمُكَ مِنۡهُ يَصِدُّونَ ٥٧ وَقَالُوٓاْ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ أَمۡ هُوَۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلَۢاۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ خَصِمُونَ ٥٨ إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ وَجَعَلۡنَٰهُ مَثَلٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٥٩ وَلَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَا مِنكُم مَّلَٰٓئِكَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَخۡلُفُونَ ٦٠ وَإِنَّهُۥ لَعِلۡمٞ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمۡتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦١ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٦٢ وَلَمَّا جَآءَ عِيسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالَ قَدۡ جِئۡتُكُم بِٱلۡحِكۡمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعۡضَ ٱلَّذِي تَخۡتَلِفُونَ فِيهِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ٦٣ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦٤ فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ عَذَابِ يَوۡمٍ أَلِيمٍ ٦٥ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٦٦ ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۭ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ ٦٧ ﴾

[۵۷-۵۸] ای پیغمبره! او کله چې عیسی بن مر یم خلکو ته د بیلکې غوندې یاد سي، نو د ستا قوم (د مکې قر یش) ناڅاپه وتر یېرې [یعنی د ډیرې خوښۍ نه په خندا سي او وایي: د زمونږ خدایان ښه دي که عیسی؟ [یعنی دا ځکه چې ځینې بني اسرائیلو د عیسی عبادت کا وه، خو ای پیغمبره!] د ستا قوم د عیسی خدایي بیلکه تا ته یوازې د شنډ بحث لپاره یاده کړه، ځکه دوی ډیر جنجالي خلک دي، یعنی بې ځایه استدلال کړي.

[۵۹] او عیسی د زمونږ یو بنده دئ او پر هغه باندې مونږ خپل نعمت پیرزو کړئ دئ او عیسی مونږ بني اسرائیلو ته د الله قدرتونو بلیږه وکړځا ؤ، یعنی دا چې الله تعالی عیسی بن مر یم بې پلاره پیدا که او خپل زور او لوی قدرت یې خلکو ته د عیسی علیه السلام په پیدایښت کې وښود.

[٦٠] ای خلکو! او که مونږ وغواړو، نو تاسې به په ځمکه کې ملائکې وګرځوو او بیا به یو بل پسې د ځمکې په ودانۍ کې ځای ناستي سی، یعنی یو بل پسې به پکې خلافت او پاچایي کړی.

[٦١-٦٢] او یقینا چې عیسی د قیامت ورځې په راتګ نښه ده، نو ای خلکو! د قیامت ورځې په راتګ کې شک مکړئ او یوازې ما پسې لاړ سی، ځکه دا لار سمه لار ده، او ای خلکو! تاسې شیطان پر سمه لار باندې د تګ نه منعې نکړي، ځکه شیطان په یقین سره د ستاسې ښکاره دښمن دئ، یعنی هیڅ کله تاسې ته خیر نغواړي!

[٦٣] او عیسی چې کله بني اسرائیلو ته د ښکاره دلیلونو او معجزو سره راغئ [نو خپل قوم ته یې اعلان وکه] او و یو یل: زه تاسې ته په علم سره راغلم، ترڅو تاسې ته ځینې هغه مسئلې بیان کړم چې تاسې د یو بل سره پکې اختلاف کړی، نو ای خلکو! د الله نه وو یر یږی او د زما اطاعت وکړئ، یعنی د زما خبره ومنی او راپسې اقتدا وکړی او لاة سی.

[٦٤] ای خلکو! او یقینا چې الله د زما او ستاسې ټولو رب دی، نو د الله عبادت او بنده ګي وکړئ، ځکه د الله بنده ګي سمه لار ده، یعنی تاسې نیکمرغه کوي او ښادي در ښیي.

[٦٥] نو بیا د بني اسرائیلو ډلو یو بل سره اختلاف وکه [یعنی د عیسی عليه السلام په پیغمبرۍ کې سره ډله ډله سول] نو هلاکت او کلک عذاب ده هغو کسانو ته وي چې دوی ظلم وکه او د الله خدایي نه په توحید سره منکر سول، یعنی بتان یې د الله سره په خدایي کې شر یك کړل.

[٦٦] او آیا دا کافران د قیامت ورځې راتګ ته انتظار باسي؟ نو د قیامت ورځ به پر دوی باندې ناڅاپه راسي او د دوی به هیڅ پام نه وي!

[٦٧] او د قیامت په ورځ به د متقیانو نه پرته نور ټول خلک چې په دنیا کې سره ملګري ول؛ د یو بل دښمنان وي.

ګرانو دوستانو! د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابوو نه په روایت سوو حدیثونو کې راغلي دي چې د عیسی بن مریم عليه السلام په قصه کې د دغو مبارکو آیتونو رانازلیدلو سبب دا ؤ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ د خپل قوم مشرکان د

شرك او د بتانو کډولو نه الله سره په عبادت کې د کلکې سزانه وو یرول او هغه مبارك آیت یې ورته ولوست چې پکې الله تعالی فرمایلی دي:"إنكم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم... الأية" سبأ (٩٨) [معنا دا چې ای خلکو! تاسې او د الله نه پرته د ستاسې معبودان؛ ټول د جهنم اور کې د سوز یدو لرکې یاستی او پکې به کړ یږی] نو بیا ځینې مشرکانو د ډیرې خوښی نه وو یل: هو! نصاراوو د عیسی عبادت کا ؤ او یهودو د عز یر عبادت کا ؤ، نو هغوی چې پیغمبران ول، نو دوی به هم د دوزخ په اور کې سوز یږي؟ نو بیا الله تعالی د انبیاء سورې(١٠١) آیت را نازل که چې پکې الله تعالی فرمایلي دي:"إن الذين سبقت لهم منا الحسنى اولئك عنها مبعدون"[یقینا هغو کسانو ته چې د زمونږ لخوا پخوا ښه نعمتونه ورکړل سوي دي؛ دوی د دوزخ په اور کې د سوز یدو نه لرې کړل سوي دي] نو بیا پدې ډول د مشرکانو دغسې بې ځایه خوښي خوسې هیلې ثابتې سوي، ځکه عیسی علیه السلام هیڅ کله هم خدای نۀاو نه د خدای زوی ؤ، لکه څنګه چې ځینې ناپوه عیسو یان ګمان کړي، بلکې عیسی علیه السلام د الله بنده ؤ، او بني اسراییلو ته الله پیغمبر را لیږلی ؤ، ترڅو دوی د الله عبادت ته په توحید سره راو بولي او د بني اسرائیلو په منځ کې ځینې اختلافي خبرې دوی ته بیان او روښانه کړي، خو عیسو یانو د هغه په پیغمبرۍ کې په ډلو سره وو یشیل سول، ځینو ایمان راوړ او ځینې بیا مشرکان سول، لکه څنګه چې په دغو مبارکو آیتونو کې یې روښانه بیان سوئ دئ، او همدارنګه الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د عیسی علیه السلام راکوز یدل په آخره زما نه کې د قیامت ورځې راتګ یوه لو یه نښه بللې ده، او دا نښه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په معتبرو احادیثو کې په تفصیل سره یاده سوي ده.

هو؛ درنډو دوستانو! او همدا رنګه پدې مبارکو آیتونو کې د عیسی علیه السلام قوم بني اسرائیلو ډله ډله کیدل او په څو حز بونو کې سره و یشل کیدل؛ په کلکه سره غندل سوي دي، نو ښایي چې مونږ مسلمانان د هغوی نه عبرت واخلو او ځانو نه په ډلو کې سره ونه و یشو او د یو بل سره د دښمنۍ نه ځانو نه کلک وساتو!

{مومنانو باندې خپلو میرمنو سره الله د جنتونو ز یرئ کړئ}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې مومنانو ته الله تعالی جنتونو ته د ورننوتلو ز یري ورکړي دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ٦٨ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ مُسۡلِمِينَ ٦٩ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ أَنتُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ تُحۡبَرُونَ ٧٠ يُطَافُ عَلَيۡهِم بِصِحَافٖ مِّن ذَهَبٖ وَأَكۡوَابٖۖ وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُۖ وَأَنتُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٧١ وَتِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِيٓ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٧٢ لَكُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ كَثِيرَةٞ مِّنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٧٣﴾

[٦٨] ای د زما [متقیانو] بنده ګانو! نن پر تاسې باندې د زما عذاب نه هیڅ و یره نسته او نه به تاسې غمجن کیږی.

[٦٩-٧٠] او متقیان هغه کســان دي چې دوی د زمونږ کتاب په آیتونو او دلیلونو باندې ایمان راوړ اوڅانونه یې الله ته تسلیم کړي ول، نو اوس تاســې ای متقیانو! خپلو مومنو میرمنو ســره یوڅای جنت ته په ډیرې خوښۍ سره ورننوځئ.

[٧١] او پر دغو مومنانو باندې په جنت کې د ســرو زرو په لوښــو او ګیلاسونو کې هغه خواړه او څښاکونه او شر بتونه ګرځول کیږي چې هغه د دوی زړونه غواړي او ســترګی یې ورڅخه خوند ا خلي، او تاســی به ای متقیانو په جنت کې تل پاتې اوســیږی! یعنی د جنت نعمتونو نه خوند اخستل تل پاتې نعمت دئ.

[٧٢-٧٣] او دغه جنت تاسې ای مومنانو! په آخرت کې په خپلو ښــو کړنو ســره په دنیا کې په میراث وړئ دئ، او تاســی ته په جنت کې ډیرې میوې دي چې هغه به خوری.

ګرانو دوســتانو! دا هغه ز یري دي چې الله تعالی متقیانو ســره په آخرت کې د هغو وعده کړې ده، او یقینا چې دا هغه لوړ مقام او لو یه پیرزو ینه ده چې په آخرت کې د متقیان په برخه کیږي، نو دعاء کړو چې

الله تعالى مونږ ټولو مومنانو ته د کلک ایمان او د ښه عمل توفیق راکړي، او بیا ده دا لوی نعمتونه د آخرت په ورځ د زمونږ په برخه کړي، آمین یارب العالمین.

{کافر انو ته چې مجرمان دي د دوزخ اور کې سزا ورکول کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالى د کافرانو او مجرمان سزا بیان کړې ده او دوی یې ور باندې کلک کواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا۟ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا۟ يَٰمَٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ﴿٧٧﴾ لَقَدْ جِئْنَٰكُم بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴿٧٨﴾ أَمْ أَبْرَمُوٓا۟ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾﴾

[٧٤-٧٦] هو! یقینا چې مجرمان او کافران به د دوزخ په عذاب کې تل پاتې وي، او دا عذاب د دوی نه نه سپکیږي، او هغه دوی پټوي [یعنی د الله رحمت نه به پکې ناهیلي او مایوس وي] او پر دوی باندې مونږ ظلم او تیرئ ندئ کړئ، بلکې مجرمانو پر خپلو ځانو باندې په کافر یدو سره ظلم کړئ دئ، یعنی کله چې کافرانو ایمان رانوړ او د الله پیغمبرانو پسې لاړ نسول، نو اوس به دوی په دوزخ کې د خپل کفر سزا ګالي.

[٧٧-٧٨] او بیا همدا کافران د دوزخ پر ساتونکې ملائکې باندې غږ کړي چې د ستا څښتن ده نور پر مونږ باندې د هلاکت او مړ ینې پر یکره وکړي [یعنی ترڅو چې نور مونږ آرام سو، نو بیا د دوزخ ساتونکئ مالك ورته په ځواب کې وایې] نا! تاسې به یقینا همدلته تل پاتې یاستی، ځکه مونږ د حق پیغام سره تاسې ته راغلو، خو د ستاسې نه ډیرو کسانو د حق نه کرکه درلوده، یعنی ورڅخه منکر ول، او د پیغمبرانو خبرې یې ونه منلې او ایمان رانوړ، نو اوس به خپله سزا ګالي.

[٧٩] او آیا دغو کافرانو کمه پر یکره وکړه [ترڅو ور باندې د حق مقابله وکړي؟] نو مونږ خو دوی ته د عذاب ورکولو پر یکړه په یقین سره

کړي ده، يعنی د کافرانو ټول چلونه د الله تعالی پر يکړو پر ورلاندې شنډيږي او کار نکړي.

[٨٠] او يا دا چې کافران يقينا خيال کړي چې د دوی پټې خبرې او مجلسونه مونږ نه اورو! [نا! دغسې ګمان سم ندئ، بلکه مونږ هغه اورو، ځکه د زمونږ ساتونکي استازي ملائکې د دوی سره دي او د دوي ټولې خبرې او کړنې ليکي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې کافران د خپلو کلکو سزاګانو نه د قيامت په ورځ ګواښلي دي، او د دغسې سزاګانو اسباب او دليلونه يې چې د دوی خپل کفر او د الله تعالی حکمونو نه بغاوت دئ؛ ورته په نښه کړئ او مخکې له مخکې بيان کړئ دئ، ترڅو سمې لارې ته چې توحيد دئ را وګرځي او د شرك او کفر نه لاس وا خلي او د الله تعالی نه ورته راغلئ پيغمبرﷺ او په هغه باندې رانازل سوئ کتاب قرآن ومني، او په حکمونويې عمل وکړي.

{الله تعالی چې لوی ذات دئ د زوی لرلو نه پاک او منزه دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسوالهﷺ د کافرانو سپک تورونه الله تعالی پسې کلک غندلي دي، او د الله پر عظمت او لوتييايې ټينګار کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْعَٰبِدِينَ ﴿٨١﴾ سُبْحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟ وَيَلْعَبُوا۟ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبَارَكَ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ۚ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾ وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾﴾

[٨١-٨٢] ای پیغمبره! او ته [د خپل قوم هغو کافرانو ته چې وایي: الرحمن رب الله زوی لري او ملائکې د الله لونې بولي] ووایه: که الرحمن رب زوی درلودای[نعوذ بالله] نو بیا به زه د هغه لمړنئ عابد وم، یعنی ما به د هغه بنده کې کړه [خو حقیقت داسې ندئ او الله تعالی چې د اسمانونو، ځمکې او د عرش او څوکۍ ټولو لوی رب او څښتن دئ؛ د کافرانو د دغسې سپکو خبرو نه پاک او لوړ دئ.

[٨٣] نو ته ای پیغمبره! دغه دروغژن مفتریان همداسې پر یږده چې په خپلو باطلو خبرو کې لګیا وي، ترڅو د خپلې هغې ورځې سزا سره یوځای او مخامخ سي چې ورسره وعده سوې ؤ، یعنی څوک چې د الله او د پیغمبر حکمونو نه سرکښي کړي، نو کلکه سزا به ور وڅکل سي.

[٨٤] هو! الله هغه لوی معبود دئ چې په اسمان کې یې عبادت کیږي او په ځمکه کې هم الله خدای دئ [یعنی هلته یې هم عبادت او بنده کې کیږي] او الله ښه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی د الله حکمونه ټول په لوی علم او حکمت ولاړ دي.

[٨٥] او د الله لو یتیا برکت ده ډیر سي [یعنی واکمني او پاچایې دې لو یه سي] ځکه الله هغه څوک دئ چې د ځمکې او د اسمانونو او د دوی دواړو په منځ کې د ټولو مخلوقات ټولواک واکمن څښتن دئ، او د قیامت ورځې راتګ علم یوازې د الله سره دئ [او ای خلکو!] تاسې ټول بیرته الله ته ورګرځول کیږي، یعنی د آخرت ورځ راتلونکې ده او ټول خلک د خپلو ګورونو نه راجګول کیږي او بیا د الله تعالی په حضور کې حساب ورکولو ته درول کیږي!

[٨٦] او هغه ناحقه خدایان چې مشرکان یې د الله نه پرته عبادت کړي او خپل حاجتونه ورڅخه غواړي؛ هغوی د الله پر وړاندې هیڅ چا ته د سپارښت او شفاعت واک نلري، خو هغو کسانو چې په پوهې سره پر حق شاهدي ورکړه او حق یې وما نه، یعنی نو بیا یوازې دوی بل چا ته د الله تعالی په اجازه شفاعت کړلای سي او د سپارښت واک لري، لکه پیغمبران او صالحان چې ګناه ګارو مومنانو ته شفاعت کړي.

[٨٧] ای پیغمبره! او که ته د دغو مشرکانو نه و پوښتې چې دوی چا پیدا کړي دي؟ نو دوی به یقینا ځواب درکړي چې مونږ الله پیدا کړي یو، نو بیا دوی کمې خوا ته او څنګه د الله بنده ګی نه اوړي؟ یعنی دا دۀ مخ چلند یا در یځ د کافرانو پر دروغو باندې کلک دلیل دئ.

{رسول الله ته الله د هغه قوم نه د عفوې سپارښت کړئ دي}

نو بیا رسول الله ﷺ د خپل سرکښ قوم ضد کړو نه الله تعالی ته شکایت وکه او و یو یل:

﴿وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ ٨٨ فَٱصۡفَحۡ عَنۡهُمۡ وَقُلۡ سَلَٰمٞۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٨٩﴾

[٨٨] او ای لو یه ذاته! یقینا چې دا د مکې کافران [ډیر کینه کښ خلک دي او حق نه مني] او ایمان نه راوړي.

نو بیا الله تعالی رسول الله ﷺ ته په ځواب کې سپارښت کړئ دئ فرمایلي دي:

[٨٩] نو ته ای پیغمبره! د دوی نه تیر سه [یعنی همداسې یې په خپل ضد کې پیر یږده او ورته] ووایه: پر تاسې ده سلام وي [یعنی د جاهل او سر زوري سړي ځواب پر هغه سلام اچول دي] نو بیا به دوی ډیر ژر پوه سي، یعنی چې څومره سزا ورکول کیږي؟

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو لنډو مبارکو آیتونو کې لمړئ کافران او ټول مجرمان په کلک عذاب باندې د قیامت په ورځ ګواښلي دي، او خپل زور او لوی قدرتونه یې ورته ښودلي دي، او رسول الله ﷺ ته یې د مشرکانو سره د استدلال کړو لارښودنه کړې ده، او بیایې ورته سپارښت کړئ دئ چې هر کله کافران حق نه مني اوضد کړي، نو ته ای پیغمبره! دوی همداسې په خپل ضد او سرکښۍ کې پر یږده او پروایې مکړه، او بیا الله تعالی مونږ ته د خپلو هغو لو یو قدرتونو بیان کړئ دئ چې کافران هم پر خپلو زړونو کې ور باندې اقرار کړي او هغه مني، او وایې چې مونږ الله پیدا کړي یو او د آخرت په ورځ بیا الله تعالی رسول الله ﷺ ته د ډاډ ورکولو په ترڅ کې هغه ته لارښودنه کړې ده چې د کافرانو زور

وهلو نه تير سه او سلام ور باندې واچوه او دوی په خپل جاهليت او ناپوهۍ کې همداسې خوسې کړي پر يږده، ځکه دوی به بيا ډير ژر پوه سي چې څومره بد يې کړي دي او د خپل رب بنده ګۍ نه يې سرکښي کړي ده!

ګرانو عز يزانو! د الزخرف مبارکه سوره چې مکي سوره ده؛ د الله تعالى په دغسې لارښودنو سره رسول اللهﷺ ته پای ته رسيدلې ده، نو يقينا چې هغه اسلام ته رابلونکو ټولو علماوو او دعاتو ته ډيرې ارزښتناکه خبرې او لارښودنې دي، او په ځانګړي ډول دا چې د اسلام پالو دعاتو سياسي حالت هم سره برابر نوي، خو کله چې بيا اسلام سر لوړئ سه او حالات او شرائط بدل سول، نو رسول اللهﷺ د مکې کافرانو ته د دوی ټولې ګناه وې و بښلې او عمومي عفوه او بښنه يې اعلان کړه، او د مکې نو يو مومنانو لپاره يې د واکمنۍ او د اسلام ښودنې مناسبه اداره جوړه کړه او مفتيان يې ورته وټاکل، ترڅو په خبرو، بحثونو او وعظونو سره دوی ته د اسلام ارکان او حکمونه بيان کړي او ښو کړنو ته يې راو بولي.

درندو دوستانو! نو اسلام ته رابلونکو علماوو ته ښايي چې دغه قرآني لارښودنې رسول اللهﷺ ته؛ په ډير دقت سره ولولي او د ټولنې ذهني او عيني حالت په کورنې، سيمه ايزه، او نړۍ يواله کچه ښه وڅيړي او هغه ښه ؤ ارزوي او بيا ورسره د الله دين ته د رابلنې عملي کولو مناسبه تګ لار پلې کړي او خپل ولس د اسلامي نظام عدالت، ترقۍ او ښادۍ نه په دنيا او په آخرت کې برخمن کړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين.

سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الدخان سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الدخان سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

ګرانو دوستانو! د [حاء میم الدخان] مبارکه سوره مکي سوره ده او په قرآن کریم باندې چې د الله تعالی نه په حق او ریښتیا سره راغلئ ښه روښانه کتاب دئ؛ په لوړه او قسم کړو باندې پیل سوې ده، او پکې الله تعالی کافران د خپل عذاب او سزا نه په دنیا او آخرت کې کلک ګواښلي دي، او پدې مبارکه سوره کې د نورو مکي سورو غوندې د ایمان لوی رکنونه، لکه توحید، نبوت او د آخرت ورځ یاد سوي دي، او ښه کلک تینګار ور باندې سوئ دئ، او په پیل کې یې الله تعالی مونږ ته د قرآن کریم را نازلیدلو مبارکه شپه په نښه کړې او ستایلې ده، ځکه دا شپه هغه مبارکه او د قدر وړ شپه ده چې پکې الله تعالی لمړئ ټول قرآن د لوح محفوظ نه د دنیا اسمان ته را کوز که او بیایې د نزول پیل پر رسول الله ﷺ باندې هم په همدې مبارکه شپه د روژې په میاشت کې ؤ، او هغه شپه الله تعالی د قدر په شپه نومولې ده، او د هغې لوی برکت په باره کې الله تعالی ځانګړې سوره (سورة القدر) را نازله کړې ده، او پکې یې فرمایلي دي: ﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ۝٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ۝٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ۝٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ۝٥﴾

[١-٥] هو! یقینا چې قرآن مونږ د قدر په شپه رانازل کړه، او ای پیغمبره! ته څه شي پوه کړې چې د قدر شپه څنګه یوه شپه ده؟ هو! د قدر شپه د یو زرو شپو نه ښه شپه ده، او پدې شپه کې ملائکې د جبرئیل الأمین په مشرۍ د دوی رب الله په حکم او اجازه د اسمان نه ځمکې ته راکوز یږي، او پدې شپه کې سلامتي او خیرت وي، او دا شپه تر سحر

راختو پورې وي.

هو؛ درندو دوســتانو! قرآن کر يم الله تعالى په يوه مبارکه شــپه کې خلکو ته ګواښــونکئ پيغام را نازل که، ترڅو دوی خپل لوی رب او څښــتن الله تعالى په توحيد ســره و پيژني، او په حکمونويې عمل وکړي، او د ســزا نه يې ځانونه کلک وساتي، او د دنيا او آخرت ښادي وګټي.

ګرانو ورونو او خو يندو! او دغه مبارکه ســوره په (الدخان) ځکه نومول سوې ده چې په (۱۰-۱۱-۱۲) آيتونو کې يې الله تعالى رسول الله ﷺ پر کافرانو باندې د يوه لوی عذاب راتګ نه خبر کړئ دئ، او دا عذاب په اسمان کې د يوه ښکاره دود سره را څرګندېږي او راځي، او په بيان کې الله تعالى فرمايلې دي:

﴿فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ۝١٠ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ۝١١ رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا مُؤۡمِنُونَ ۝١٢﴾

او د دې مبارکو آيتونو پښــتو معنا به لږ وروســته په همدې مبارکه سوره کې ولولو.

{د قرآن رانازليدو په شپه الله خلکو ته د کال برخې ليکي}

عزتمنو دوســتانو! د الدخان ســوره، لکه نورې حواميم ســورې په (حاء، ميم) مقطعاتو تورو باندې پيل ســوې سورې دي، او په پيل کې يې مونږ الله تعالى د قرآن کر يم نزول نه په يوه مبارکه شــپه کې چې د قدر شپه ده خبر کړي يو، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿حمٓ ۝١ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۝٣ فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ۝٤ أَمۡرٗا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ۝٥ رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝٦ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ۝٧ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝٨ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ۝٩﴾

[۱-۳] [هو! پدې روښانه کتاب (قرآن) باندې چې د (حاء، ميم) غوندې

پر يکړ سوو تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ؛ لوړه او قسم دئ] چې دا بيان سوئ روښانه کتاب (قرآن) مونږ په يوه مبارکه شپه کې [يعنی چې هغه د روژې په مبارکه مياشت کې وه] رانازل که، او مونږ خلک د هغه څه نه ګواښوو چې پکې دوی ته بايلل او تاوان دئ، يعنی مونږ الله تعالی د کفر او شرک نه کلک ګواښلي يو، ځکه هغه مونږ ته په دنيا او آخرت کې هرومرو بايلل او تاوان دئ، او مونږ په يقين سره ز يانمن کوي!

[٤-٨] او پدې شپه کې ټول فيصله سوي محکم او کلک حکمونه [يعنی پخې پر يکړې] سره بيلږي [يعنی د الله تعالی ليکونکې ملائکی په دغه مبارکه شپه د ټولو خلکو د يوه کال روزي او د ژوند ټاکل سوې پيښې او برخې ليکي او د هغو اندازه او نيټه معلومه وي] او دا ټول د زمونږ په حکم سره ټاکل کيږي، او ای پيغمبره! يقينا چې مونږ د ستا رب رحمت لپاره خلکو ته د دغو حکمونو را ليږونکي وو [يعنی الله تعالی خلکو ته کتابونه رانازل کړل او پيغمبران يې راولږول، ترڅو دوی سمه لار و پيژني او يوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړي] او الله نه اور يدونکئ او لوی يوه ذات دئ، او ای د مکې خلکو! که تاسې د باور کونکو نه ياستئ [نو يقين وکړئ چې الله تعالی] د اسمانونو او ځمکې او د دوی دواړو په منځ کې د ټولو پرتو مخلوقاتو؛ لوی رب دئ، او د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته، او ټول خلک الله پيدا کوي او بيا د دوی نه ساه بيرته اخلي، او الله د ستاسې او ستاسې د نيکونو لوی څښتن دئ، يعنی مرګ او ژوند د الله په واک کې دي او الله ر يښتينئ معبود دئ، نو تاسې ای خلکو! يوازې د الله عبادت وکړئ، او بل هيڅ څوک د الله سره په خدايي کې مه ګډوئ!

[٩] بلکې کافران پر حق باندې شکمن دي، او د دنيا په مستيو کې (مزو کې) لګيا دي، يعنې کافران د دې ټولو قاطع او پر يکنده دليلونو سره چې د الله تعالی لوی قدرتونه دوی ته پکې په ښه کوي او هغه ورته بيانوي؛ بيا هم د الله تعالی توحيد په الوهيت کې نه مني او پکې شکمن دي، او بتان د الله سره په عبادت کې شر يکوي، او د خپل عقل نه کار نه اخلي، ترڅو چې بيا ښه پوه سي؛ څوک چې خالق او رازق وي او مرګ او

ژوند يې په واک کې وي، نو يوازې هغه په حق او ر ښتيا سره د عبادت مستحق ذات دئ، او د بل هر چا شر يکول الله سره په عبادت کې سرکښي او ګناه ده!

{کافران الله تعالى په دنيا کې په کلکو سزاګانو ګواښلي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى کافران په کلکو سزاګانو ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ۝١٠ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ۝١١ رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا مُؤۡمِنُونَ ۝١٢ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ۝١٣ ثُمَّ تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ۝١٤ إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ۝١٥ يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓۚ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ۝١٦﴾

[۱۰-۱۲] نو ته ای پيغمبره! دغو کافرانو سره د هغې ورځې راتګ ته تم سه او انتظار و باسه چې اسمان د ښکاره لوګي سره راځي او بيا دا لوګئ ټول خلک په لړو کې پټوي او دا د الله دردوونکئ عذاب دئ [يعنى نو بيا کافران الله ته دعاء کړى او وايي] اى لو يه ر به! دا عذاب زمونږ نه لري کړه، ځکه مونږ په يقين سره مومنان يو!

[۱۳-۱٤] خو اوس به څنګه دوى ته يادونه ګټه ورسوي، حال دا چې دوى ته [په دنيا کې] ښکاره استازئ راغئ، خو دوى ورڅخه مخ واړا ؤ او و يو يل: هغه ليونى دئ او کمې خبرې چې ورسره دي؛ هغه د ته کوډګرو ښودلې دي! [العياذ بالله]

[۱۵] اى کافرانو! او که مونږ يقينا دا عذاب ستاسې نه د لږ وخت لپاره لرې کړو، نو بيا تاسي خاماخا بيرته خپل کفر ته ورګرځئ!

[۱٦] اى خلکو! او هغه ورځ راپه ياد کړئ کله چې په هغه لو يه رانيوله کې ټول خلک مونږ رانيسو، او يقينا چې په هغه ورځ د سرکښو کسانو نه مونږ غچ او انتقام اخستونکي يو!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې لمرئ د قرآن

مجيد په عظمت باندې لوړه کړي ده او فرمايلي دي چې دا کتاب قرآن الله تعالى د لوح محفوظ نه د قدر په شپه د دنيا اسمان ته رانازل او راکوز که، او بيا د لوح محفوظ نه په وار وار سره پر رسول الله ﷺ باندې په (۲۳) کلونو کې رانازل سه، او د نزول پيل يې د روژې په مبارکه مياشت کې ؤ، نو قرآن د الله نه رانازل سوئ حق او ر ښتيا کتاب دئ، نو ښاييدل چې د رسول الله ﷺ قوم قر يشو په قرآن باندې باور کړئ واى او ايمان يې راوړئ واى، خو دوى ايمان را نور او د دنيا په مستۍ کې همداسې پاتې سول، نو بيا دوى الله تعالى د قيامت ورځې په دغسې کلکو سزاګانو باندې ګواښلي او و يرولي دي چې ورځخه د خلاصون او تيښتې لار نه مومي.

هو؛ قدرمنو عز يزانو! او دا پيغام او دعوت د الله تعالى لخوا ټولو خلکو ته د قيامت ورځې پورې د حق تل پاتې پيغام دئ، نو ښايي چې هر څوک پکې ښه ژور فکر وکړي اوايمان راوړي، اود قيامت ورځې عذاب نه ځان وساتي.

{ فرعون ته الله د موسى نه په سرکښۍ کلکه سزا ورکړه }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د فرعون سرکښي د موسى عليه السلام پيغمبرۍ پر وړاندې يادې کړې ده، ترڅو هغه د مکې کافرانو ته د عبرت اخستلو کلکه زده کړه ورکړئ، او همدارنګه هغه د بشر يت د ټول اوږده تار يخ په ډول ډول پراوونو کې؛ خلکو ته د خپل وخت زورواکانو فرعونيانو پر وړاندې د زدکړې غوره لارښود وي، او په بيان کې الله فرمايي:

﴿*وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنْ أَدُّوٓا۟ إِلَىَّ عِبَادَ ٱللَّهِ ۖ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ وَأَن لَّا تَعْلُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ ۖ إِنِّىٓ ءَاتِيكُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿١٩﴾ وَإِنِّى عُذْتُ بِرَبِّى وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ﴿٢٠﴾ وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُوا۟ لِى فَٱعْتَزِلُونِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿٢٢﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِى لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُوا۟

مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ﴿٢٦﴾ وَنَعۡمَةٖ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَقَدۡ نَجَّيۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرۡعَوۡنَۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيٗا مِّنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱخۡتَرۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ عِلۡمٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُم مِّنَ ٱلۡأٓيَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٞا مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾

[١٧-١٩] [هوا! د مکې کافرانو نه] پخوا د فرعون قوم مونږ وازمایه، او دوی ته ډیر معزز پیغمبر موسی راغئ [او ورته یې وو یل] ای فرعونیانو! د الله بنده ګان (بني اسرائیل) ما ته وسپارئ او زه تاسې ته ډیر امانت ساتونکئ استازئ یم [یعنی ای د فرعون قومه!] تاسې پر الله باندې کبر مکړئ [یعنی خپل ځانو نه په الله تعالی باندې غټ مه بولئ او پیغمبران یې دروغژن مه ګڼئ] او زه تاسې ته د خپلې پیغمبرئ ثبوت ښکاره دلیل او معجزه راوړم!

[٢٠-٢١] ای د فرعون قومه! او یقینا چې ما خپل ځان د ستاسې د تیږو یا کانو و یشتلو نه چې غواړئ ما ور باندې وولئ؛ په خپل رب او د ستاسې په رب الله باندې وسپاره، او که تاسې پر ما ایمان را نوړئ [یعنی د زما په پیغمبرئ باندې باور ونکړئ] نو بیا زه د ستاسې نه بیلیږم، یعنی نو بیا تاسې نور ما پر یږدئ او ما مه زَوروئ!

[٢٢] نو بیا موسی خپل رب الله ته دعاء وکړه او و یو یل: ای لو یه ر به! یقینا چې دا خلک مجرمان دئ او حق نه مني!

[٢٣] [نو بیا الله تعالی موسی علیه السلام ته حکم وکه او ورته یې وو یل:] ای موسی! ته د زما مومن بنده ګان په شپه کې [د دې ښار نه (مصر نه) پټ و باسه او لاړ سئ] ځکه چې د فرعون لښکرې تاسې پسې دي، یعنی غواړي چې د ستاسې هجرت مخه ونیسي او پر یږدي چې د فرعونیانو ځپلو نه خلاص سئ او نجات بیامومئ!

[٢٤] [او کله چې د سره سمندرکې او به سره بیلې سوې او موسی د خپل قوم سره ورځخه تیر سه، نو بیا موسی د الله نه وغوښتل چې

سمندر بیرته سره یوځای سي، ترڅو د فرعون لښکر دوی پسې ورنسي، نو الله تعالی موسی ته ډاډ ورکه او وې و یل] سمندر همداسې پوست پر یږده، ځکه یقینا چې فرعون او د هغه لښکر به په سمندر کې ډو بیږي.

[۲۵-۲۷] هو! فرعون او د هغه قوم څومره باغونه، کښتونه او د چینو او به همداسې شا ته پر یښودل او څومره لوی نعمتونه چې دوی پکې ښه خوښ او سوکاله اوسیدل ورڅخه پاتې سول؟ یعنی دا چې فرعونیانو نه د دنیا ټول نعمتونه پاتې سول، او دوی په سمندر کې ډوب او هلاك سول، او د قیامت په ورځ به مخترن د الله پر وړاندې درول کیږي، او دوزخ ته به ورننه ایستل کیږي.

[۲۸-۲۹] او همداسې د هغوی نه پاتې سوي [لوی لوی کورونه او باغونه] مونږ نورو خلکو ته په میراث پر یښودل او بیا پر دوی باندې؛ نه اسمان وژړل او نه ځمکې او نه دوی نور په دنیا کې وزنډول سول، یعنی کله چې پر سرکښو خلکو باندې د الله عذاب راسي او دوی هلاك کړي، نو بیا نور هیڅ څوک پر دوی باندې له خفتیان نه نه زاړي، لکه ژوندی بیلګې چې یې په افغانستان کې د (۱۳۵۲هـ ش) کال نه تر (۱۴۰۰هـ ش) کاله پورې په ډول ډول بدلونو کې ولیدل سوې.

[۳۰-۳۱] او یقینا چې بني اسرائیلو ته مونږ د خوارونکي عذاب نه د فرعونیانو پر لاس نجات ورکه [یعنی دوی مونږ د دغسې سپک عذاب نه خلاص کړل] او فرعون ډیر لوی کبرجن او د الله فرمان نه سرکښ ؤ.

[۳۲-۳۳] او بني اسرائیل مونږ په پوهې سره پر ټولو خلکو باندې [په خپل وخت کې] غوره کړل او دوی ته داسې معجزې مونږ راوړې چې پکې ښکاره ازمایښت او لوی امتحان ؤ، یعنی دا چې آیا دوی به شکر و باسي کنه؟ خو بیا دوی شکر و نه و یست!

ګرانو دوستانو! الله تعالی د دغو مبارکو آیتونو په پیل کې د فرعون سرکښی قصه د موسی علیه السلام پیغمبری نه د مکې مشرکانو ته او بیا وروسته د نړۍ نورو ټولو کافرانو ته د دې مقصد لپاره کړې ده چې ترڅو دوی ټول ورڅخه پند وا خلي او ایمان راوړي، خو د مکې کافرانو په دغسې قصو کې

هيڅ کله ژور فکر ونکه او کتې يې ورڅخه وانخستله، ترڅو چې دوی هم څه په دنيا کې هلاک سول، او بيا به ټولو ته په آخرت کې سزا ورکړه سي.

او همدارنګه الله تعالی پر بني اسرائيلو باندې خپلې لويې پېرزو يې يادې کړې دي، خو دوی يې د شکر و يستلو لياقت او وړتيا نه درلوده، او د الله تعالی په وروستني پيغمبر محمد ﷺ باندې چې د دوی په کتاب (تورات) کې ز يرئ ورکړل سوئ ؤ؛ ايمان رانوړ، نو بيا الله تعالی دوی ښه ذليل خوار سوي سپک کړل.

{د آخرت ورځې نه د مکې کافر انو انکار او د ثبوت دليلونه يې}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د مکې کافرانو منکر يدل د قيامت ورځی نه ياد کړي دي او د دوی يې بنسټه بحثونه يې د مومنانو سره چې د خپلو نيکونو د را ژوندي کولو غوښتونکي سول؛ کلک غندلي دي، او د آخرت ورځې ثبوت لپاره يې پاخه دليلونه وړاندې کړي دي او کافران الله تعالی، لکه په يمن کې د تُبع قوم سبأ ځواکمنې پاچايي غوندې په کلکه سزا ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ۝٣٤ إِنۡ هِيَ إِلَّا مَوۡتَتُنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُنشَرِينَ ۝٣٥ فَأۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٣٦ أَهُمۡ خَيۡرٌ أَمۡ قَوۡمُ تُبَّعٖ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ إِنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ۝٣٧ وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ۝٣٨ مَا خَلَقۡنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٣٩﴾

[٣٤-٣٦] [ای پيغمبره! د ستا قوم قر يشو] دغه کافران په ټينګار سره وايي چې د زمونږ دغه مړ ينه په دنيا کې لمړی مړ ينه ده، او کله چې مړه سوو بيا بيرته نه راژوندي کيږو [يعنی دا چې دوی د آخرت ورځې راتګ نه په کلکه سره منکر دي او هغه نه مني او مومنانو ته وايي] نو که تاسي د ر ښتيا و يونکو نه ياستی؛ د زمونږ مړه سوی پلرونه او نيکونه راژوندي کړی؟ يعنی بيرته يې د دنيا ژوند ته را ولی؟

[٣٧] [نو بيا الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايلي دي] آيا دا د مکې مشرکان ښه او غوره دي او که د تُبع قوم؟ او هغه کسان چې د مکې خلکو

نه پخوا کافران تير ســوي دي؟ او دوی مونږ هلاك کړل، ځکه چې دوی يقينا مجرمان ول، يعنی الله تعالی ټولو کافرانو ته سزا ورکوي، ځکه دوی ټولو د خپل لوی رب حکومونو نه سرکښي وکړه.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د ټولو خلکو د پيدايښت په مقصــد باندې ټينګار کړئ دئ، او هغه د الله تعالی عبادت او بنده کې او د الله په حکمونو او ســپارښــتنو باندې عمل کړل دي، او هم هغه د الله تعالی د قرآني لارښــودونو په رڼا کې د ځمکی وداني او پکې خلافت دئ، او دا ټول د آخرت ورځې د راتګ ثبوت کلک دليلونه دي، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

[۳۸-۳۹] [ای خلکو!] دا اســمانونه، ځمکه او پکې ميشــت ټول خلک مونږ د لو بو لپاره ندي پيدا کړي، بلکې هغه ټول مونږ په حق او ر ښــتا ســره [د لوی مقصــد لپاره چې د الله تعالی عبادت او فرمان ورړل او په ځمکه کې خلافت دئ پيدا کړي دي] خو ډير خلک لا نه پوهيږي، يعنی د خپل پيدايښت مقصد نه خبر ندي چې الله د څه لپاره پيدا کړي دي؟

نو ګرانو دوســتانو! دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته په خپل دين کې بصيرت را و ښني او په سمه لار ده د تګ توفيق را کړي، او د هر ډول ورکتيا او حق لارې ککښت نه ده الله مونږ په خپل رحمت سره وساتي.

{د قيامت ورځې سختيو انځور خلکو ته ګوابښونکئ پيغام دئ}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې مونږ تــه الله تعالی د قيامت ورځې ګوابښونکئ انځور وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ مِيقَٰتُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٤٠ يَوۡمَ لَا يُغۡنِي مَوۡلًى عَن مَّوۡلًى شَيۡـٔٗا وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ۝٤١ إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٤٢ إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ۝٤٣ طَعَامُ ٱلۡأَثِيمِ ۝٤٤ كَٱلۡمُهۡلِ يَغۡلِي فِي ٱلۡبُطُونِ ۝٤٥ كَغَلۡيِ ٱلۡحَمِيمِ ۝٤٦ فَٱعۡتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ۝٤٧ ثُمَّ صُبُّواْ فَوۡقَ رَأۡسِهِۦ مِنۡ عَذَابِ ٱلۡحَمِيمِ ۝٤٨ ذُقۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡكَرِيمُ ۝٤٩ إِنَّ

هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمۡتَرُونَ ﴿٥٠﴾

[٤٠-٤٢] هو! يقينا چې د قيامت ورځ د ټولو خلکو په منځ کې د حکم کړو او د پر يکړو ورځ ده او په هغه ورځ؛ هيڅ ملګرئ خپل ملګري ته ګټه رسولای نسي او نه د دوی سره مرسته کيږي، مګر دا چې الله پر چا باندې ورحميږي او يقينا چې الله يواز ينئ لوی ځواکمن او ښه مهر بان ذات دئ.

[٤٣-٤٤] او د زقوم ونه چې د دوزخ زړه نه راوځي د ګناه کړونکو خواړه دي، يعنی د دوزخ سرو لمبو د زړه نه راوتلې بد رنګه وني هغه ترخه ميوه الله پر کافرانو خوري چې خوندیې ډير تر يخ دئ او يوازې نسونه پری ډکيږي.

[٤٥-٤٦] او د زقوم وني ميوه، لکه ولې سوې وسپنه په نسونو يا ګيډو کې خوټيږي، لکه ايشيدلې سرې او به چې خوټيږي.

[٤٧-٤٨] او بيا د دوزخ ساتونکو ملائکو ته حکم کيږي چې دغه کافر او فاسق کسان کلک راونيسی او د دوزخ منځ ته يې ورجګ کړی، او بيايې په سر باندې د ايشيدلو او بو عذاب را واچوی! [نعوذ بالله من ذلك] الله ده مونږ ورڅخه په خپل رحمت سره وساتي.

[٤٩] [او بيا پدې کافر باندې غږ کيږي چې] اوس دغه عذاب وڅکه، ځکه چې ته يقينا په خپل قوم کې يواز ينی ځواکمن ډوډی مار مشر وي!

[٥٠] ای دوزخيانو! او تاسې پدې عذاب کې چې اوس يې څکی شکمن وی، يعنی هغه تاسې نه مانه او باور مو ور باندې نه درلود.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د قيامت په ورځ دوزخيانو ته د کلک عذاب ورکولو انځور مونږ ته وړلاندې کړئ دئ، ترڅو په ايمان راوړو او ښه عمل سره؛ خپل ځانونه ورڅخه وساتو او د الله تعالی توفيق زمونږ په برخه سي او الله تعالی مونږ د قيامت ورځې کلکو سزاګانو نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{د متقيانو ځای په آخرت کې ډاډمن جنتونه دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د متقيانو مقام مونږ ته ياد کړئ او بيان کړئ دئ ترڅو د ځانونو نه متقيان جوړ کړو، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٖ ٥١ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ٥٢ يَلۡبَسُونَ مِن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ٥٣ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجۡنَٰهُم بِحُورٍ عِينٖ ٥٤ يَدۡعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ٥٥ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلۡمَوۡتَ إِلَّا ٱلۡمَوۡتَةَ ٱلۡأُولَىٰۖ وَوَقَىٰهُمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٥٦ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٥٧ فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ٥٨ فَٱرۡتَقِبۡ إِنَّهُم مُّرۡتَقِبُونَ ٥٩﴾

[٥١-٥٣] هو! يقينا چې متقيان د قيامت په ورځ په يوه ډاډمن ځای کې ساتل کيږي، او په هغسې جنتونو کې اوسيږي چې د چينو او به پکې پهيږي، او د سُندو او د ور يښمو جامو په اغوستلو سره پکې مخامخ ناست وي.

[٥٤-٥٥] او همدارنګه متقيانو ته مونږ د غټو سترګو ښکلې او ښايسته حورې ور ودوو او دوی په ډير امنيت او ډاډ کې د جنت ډول ډول ميوې راغواړي او خوري يې!

[٥٦-٥٧] او متقيان په جنت کې د لمړۍ مړ ينې نه پرته [په دنيا کې] بيا نوره مړ ينه نه ځکي، يعنی دوی د قيامت په ورځ د راژوندي کيدو نه وروسته بيا نور نه مړه کيږي، او د جنت ميوو نه تل پاتې خوند ا خلي، ځکه دوی الله د دوزخ عذاب نه وساتل او نجات يې بيامونډ.

[٥٧] ای پيغمبره! او متقيانو ته دا پيرزو ينې د ستا رب الله ورکړې دي، او دا ورکړه؛ هغوی ته لو يه بر يا او سر لوړي ده.

[٥٨] او ای پيغمبره! قرآن د ستا په ژ به [چې عربي ژ به ده] مونږ اسانه که، ترڅو د ستا قوم ورڅخه ګټه او پند وا خلي.

[٥٩] نو ته ای پيغمبره! هغې بر يا ته تم سه چې د هغې وعده ستا سره مونږ کړې ده [يعنی ورته سترګې په لار اوسه] ځکه يقينا چې کافران د ستا ماتې او مړ ينې ته په انتظار کې دي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالی چې ډير مهر بان او عادل ذات دئ؛ په دغو مبارکو آيتونو کې يې متقيانو ته چې دوی ايمان راوړئ دئ، او د الله

تعالی حکمونو ته یې غاړه ایښې ده؛ په جنتونو کې د تل پاتې نعمتو ز یرئ ورکړئ دئ، نو ښایي چې مونږ ټول مومنان پر خپل ایمان باندې ټینګ سو او تقوا ولرو او د الله تعالی پر حکمونو او سپارښتنو باندې عمل وکړو او د بدو کړنو نه ځانونه کلک وساتو، ترڅو د دغسې لوړ مقام ګټلو لیاقت او وړتیا پیدا کړو او بیا د الله تل پاتې نعمتونو نه په جنت کې خوند واخلو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الجاثيه سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الجاثيه سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

قدرمنو دوستانو! د الجاثيه مباركه سوره، لكه د هغې نه پخوا او وروسته (حواميم) سورې مكي سوره ده، او د (حاء، ميم) غوندې پر يكړل سوو عربي هجائي تورو نه جوړه سوې ده، او په پيل كې يې د قرآن مجيد ر يښتينوالئ باندې؛ كلك ټينګار سوئ دئ، او بيا الله تعالى د خپلې خدايي لويې نښې مونږ ته يادې كړې دي، او په كايناتو كې يې فكر كړو ته د زمونږ پام را اړولئ دئ او مونږې په كلكه سره د كبر نه ګواښلي يو، ځكه كبر او ځان غوښتنه د سړي نه خپل لوی پيغام او هدف وركوي او حق نه پيژني، ځكه په اوږدو خيالونو او خو بونو كې يې ډوب وي، نو بيا په هغو كې همداسې وركيږي، او دا مباركه سوره په (الجاثية) ځكه نومول سوې ده، چې په (٢٨) آيت كې يې الله تعالى رسول الله ﷺ ته په و ينا كې فرمايلي دي:"وترى كل أمة جاثية"او ته به اى پيغمبره! د قيامت په ورځ هر امت په ګونډو پروت و يني او انتظار به باسي چې څه ورسره كيږي؟ او يقيناچې دا حالت ډير دروند او هولناک حالت دئ، او د الجاثيه معنا:(ګونډه وهل دي) نو ځكه ور باندې دا سوره نومول سوې ده، ترڅو هر څوک دا انځور په خپل ذهن كې حاضر كړي او د دغسې ورځې د سختۍ نه د خلاصون توښه ځان سره برابره كړي، ترڅو په سپين مخ او هڅكه غاړه د الله په حضور كې سر لوړئ ودر يږي!

{د الله تعالى توحيد نښې په ځمكه او اسمانو كې رښې ځليږي}

هو! ګرانو دوستانو! د الجاثيه مباركه سوره الله تعالى په مقطعاتو تورو باندې پيل كړې ده، او د خپل توحيد نښې يې پكې بيان كړې او اعلان كړې دي، او فرمايلي دي:

﴿حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٣ وَفِي خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ۝٤ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزۡقٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ۝٥ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَ ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ۝٦﴾

[۱-۲] [هو! دا کتاب قرآن چې د (حاء، میم) غوندې عربي مقطعاتو یا پرې کړل سوو تورو نه جوړ سوئ دئ] د لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات الله له خوا رانازل سوئ کتاب دئ، یعنی قرآن ر یښتینئ او حق دئ، او هغه الله تعالی په ر یښتیا سره خپلو بنده ګانو ته لارښود را لیږلئ دئ.

[۳-۵] ای خلکو! او یقینا چې په اسمانونو او ځمکه کې او د ستاسې په پیدایښت کې مومنانو ته د الله لو یو قدرتونو نښې او دلیلونه نغښتي دي، او هغه خوزنده حیوانات او څاروي چې الله پرځمکه خواره کړي دي؛ هغه ټول هغو کسانو ته چې د الله په لو یو قدرتونو باندې یقین او باور لري؛ نښې او دلیلونه دي، او همدارنګه د شپې او ورځې بدلون، او هغه روزي چې الله د اسمان نه راکوزه کړي ده [لکه باران او واورې] او بیایې مړه ځمکه ور باندې را ژوندی کړه، او د شمال یا باد هرې خوا لږ یدلو او اوښتل را اوښتل؛ ټول هغو کسانو ته چې ښه عقل لري او پوهیږي؛ د الله قدرتونو ښکاره دلیلونه او نښې دي، یعنی نو هغه هوښیاران ژور فکر او عمل کړو ته هڅوي، ترڅو د کایناتو لوی واکمن څښتن الله و پیژني.

[٦] ای پیغمبره! او دا ټول د الله لو یو قدرتونو نښې او دلیلونه دي چې هغه مونږ تا ته په حق او ر یښتیا سره لولو، نو کافران د الله خبرو او دلیلونو نه وروسته بیا په کمه خبره ایمان راوړي، او ور باندې باور کړي؟ یعنی د الله تعالی پر دلیلونو او خبرو باندې لوړې او وچې خبرې نورې نسته، ترڅو ومنل سي او باور پرې وسي! او دغسې پوښتنې ته په عربي دودیز لیک لوست کې انکاري پوښتنه وایه، نو د کافرانو دا ټولې پلمې الله تعالی کلکې غندلې او ردې کړې دي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د قرآن پر حقانيت او ر ښتينوالي باندې؛ کلک ټينګار کړئ دئ او بيايې د مومنانو هوښيارانو پام د خپلو لو يو قدرتونو نښانو ته په اسمانونو او ځمکه کې او د دوی د خپل پيدايښت او د نورو ټولو مخلوقات په پيدايښت کې؛ را اړولئ دئ، ترڅو دا مومنان چې الله تعالى ورته پوهه او عقل ورکړئ دئ؛ په دغو خورو ورو کايناتو کې چې د الله تعالى د لو يو قدرتونو نښې دي؛ ښه ژور فکر وکړي او ګټه ورڅخه واخلي، او په ځمکه کې د خپل خلافت دنده په ښه ډول ترسره کړي، او خپل رب الله ښه سم او د هغه لوړ مقام سره لائق و پيژني، او په پوره اخلاص سره يې بنده ګي وکړي.

{څوک چې د الله حکمونو نه سرکښي کړي کلکه سزا به ګالي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د خپلو حکمونو نه سرکښ کافران په کلکو سزاګانو باندې ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ۝٧ يَسْمَعُ آيَاتِ اللَّهِ تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٨ وَإِذَا عَلِمَ مِنْ آيَاتِنَا شَيْئًا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ۝٩ مِّن وَرَائِهِمْ جَهَنَّمُ ۖ وَلَا يُغْنِي عَنْهُم مَّا كَسَبُوا شَيْئًا وَلَا مَا اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝١٠ هَٰذَا هُدًى ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ۝١١﴾

[٧-٨] او هر هغه دروغژن مجرم او لوی ګناه ګار ته ده؛ هلاکت او تباهي وي چې دئ د الله کتاب هغه آيتونه اوري چې ورته لوستل کيږي، خو بيا هم پر خپل کبر ټينګار کړي، لکه داچې هغه دا آيتونه وانور يدل، نو [ته ای پيغمبره!] دا کبرجن کافر په دردونکي عذاب وګواښه، يعنى هغه ته به الله د قيامت په ورځ سوزونکئ عذاب ور وڅکي.

[٩-١٠] او کله چې دا کبرجن کافر د زمونږ کتاب آيتونو نه په څه پوه سي، نو بيايې سپکاوئ کړي او ملنډې ور باندې وهي، نو دغو مجرمانو ته خوارونکئ عذاب دئ، او بيا ور پسې دوی ته د جهنم اور دوزخ دئ، او کافرانو ته د دوی د دنيا کړنې هيڅ ګټه رسولای نسي، او نه دوی ته هغه

خدایان ګڼه رسولای سي چې کافرانو هغه ځانو ته د الله نه پرته ملګري ونیول، او همدارنګه کافرانو ته په آخرت کې لوی عذاب دئ، یعنی دغو سرکښو کبرجنو کافرانو ته په دنیا او آخرت کې؛ کلکه سزا ورکول کیږي.

[١١] او دا قرآن لارښود کتاب دئ، او هغه کسان چې د خپل رب کتاب (قرآن) پر آیتونو باندې کافران سول او هغه پې ونه منل؛ دوی ته د قیامت په ورځ ډیر کړونکئ عذاب دئ!

ګرانو عز یزانو! په دغو مبارکو آیتونو کې الله تعالی هغه کافران په کلکو عذابونو باندې کوښلي دي چې دوی د الله کتاب آیتونو غوره لارښودنې نه مني، حال دا چې هغه دوی هڅوي؛ ترڅو حق ته غاړه کیږدي او ورته تسلیم سي؛ او بیا د قیامت په ورځ د الله سزا او عذاب نه نجات بیامومي او سر لوړي سي.

{د الله لو یو پیرزو ینو شکر و یستل پر بنده ګانو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی خپل لوی نعمتونه په مونږ باندې یاد کړي دي، او د هغو شکر و یستلو غوښتونکئ دئ، او یقیناچې هغه د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښې دي، او ټولو خلکو ته پې په ځمکه او اسمانو کې هرې خوا خورې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿*ٱللَّهُ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَكُمُ ٱلْبَحْرَ لِتَجْرِىَ ٱلْفُلْكُ فِيهِ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾ قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَغْفِرُوا۟ لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ لِيَجْزِىَ قَوْمًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآَ فَعَلَيْهَا ۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾*﴾

[١٢] ای خلکو! الله هغه څوک دئ چې سمندرې پې تاسې ته تابع کړې دي، ترڅو د الله په حکم بیړۍ په سمندرنو کې وګرځي او تاسې پکې د الله ورکړو نه [خپله روزي] وغواړۍ، یعنی کبان یا مایان پکې ښکار کړۍ، او داسې نورې ګټې هم ورڅخه واخلۍ، او بیا د الله تعالی د دغو نعمتونو کلک شکر و باسۍ او په اخلاص سره پې بنده ګي وکړۍ!

[١٣] [او همدارنګه الله تعالى تاسې ته اى خلکو! د خپل فضل او رحمت نه] په ځمکه او اسمانو کې پراته ستا ټول شيان تسخير او تابع کړل، او يقينا چې پدې کې هغه قوم ته چې ښه فکر کړي؛ د الله لو يو قدرتونو ډيرې نښانې او دليلونه نغښتي دي، يعنى هغه پکې خواره دي، ترڅو خلک ورڅخه پند او ګټه وا خلي.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آيتونه چې مکي آيتونه دي او کافرانو ته د الله تعالى په لو يو قدرتونو کې د فکر کړو او ور باندې د ايمان راوړو په مقصد را نازل سوي دي؛ هغه همداسې تل پاتې لارښودنې او تګ لار ده، نو ښايي چې ټول خلک ورڅخه په ټوله نړۍ کې تر قيامت ورځې پورې ګټه واخلي، او خپل رب الله ښه و پيژني او ايمان راوړي، او يوازي د الله تعالى بنده ګان سي، او په ځمکه او اسمان کې د خپل رب الله خورو ورو ورکړو، پيرزو ينو او نعمتونو نه پوره ګټه واخلي، يعنى پکې د علمي څيړنو د لارې نه خپلې اړتياوې لاس ته راوړي او د خپل ژوند چارې ور باندې ښې سمبال کړي، او دا لوى رسالت د زمونږ پخوانيو پوهانو د اسلام ځواکمنې په وخت کې پيل که، خو بيا چې کله مسلمانان په خواږه خوب کې و يده سول؛ نو بيا د لو يد يځ پوهانو او څيړونکو د دوى تمدني پله باندې پل کيښود او د مسلمانانو تجر بو ته پې وده ورکړه، او اوسني پرمخ تللي تمدن ته پې ځانونه ورسول، نو دعاء کړو چې الله تعالى ده مومنانو ته په هغو تجر بوي علومو کې چې پدې مبارکو آيتونو کې ورته اشاره سوې ده؛ لا ډيره پوهه او بصيرت ورکړي، ترڅو د قرآن په رڼا کې خپلو ځانو ته خدمت وکړي، او ښاد او سر لوړي سي، او د آخرت په ورځ هم ډير ثوابونه او لوى جنتونه وګټي او لوړ مقامونه يې په برخه سي.

[١٤] اى پيغمبره! او هغو مومنانو ته چې [دوى به د مکي کافرانو زورول؛ سپارښت وکړه او ورته] ووايه د هغو کسانو نه تيرسې او وې بښې چې دوى د الله ورځو ثواب ته په آخرت کې هيلمن ندي [يعنى د سزا نه يې نه و ير يږي، او د قيامت ورځې په راتګ باور نلري] ترڅو الله همدې ظالم قوم ته د دوى د ټولو بدو کړنو کلکه سزا ورکړي [يعنى هغه سزا ورکړي

چې هغه د دوی د شرك او كفر او پر مومنانو باندې د ظلم لو يه سزا ده] معنا دا چې تاسې ای مومنانو! دا ظالمان په الله وسپاری، ترڅو الله تعالی دوی ته د دوی مستحقه سزا ورکړي، ځکه الله هر چا ته د هغه لائق سزا تیاره کړې ده، او یقیناچې دا سپارښت ټولو مظلومانو ته یو تل پاتې سپارښت دئ، نو ښایي چې بې وزره مومنان خپل ځواکمن ظالم دښمن په الله وسپاري، او الله تعالی عادل ذات دئ، نو خاماخا ظالم ته د هغه لائق سزا ورکوي او د مومنانو غچ او انتقام ورڅخه ا خلي، ځکه الله لوی انتقام اخستونکئ ځښتن دئ.

درندو دوستانو! د پام وړ ده چې دا اوس اوس د (۲۰۲۰م) کال په پیل کې د کرونا ساري ناروغۍ و یروس چې ټول وژونکې دئ؛ په چین کې خور سوې دئ او ټول چین او د نړۍ هیوادونه یې په کلکه و یره کې اچولي دي، او بیا دا خور یدونکې و یروس همداسې په ټوله نړۍ کې خور سه او کلک تاوانونه یې خلکو ته واړول، نو ځینو رسنیو په خپلو ژورو څېړنو او راپورونو کې ولیکل چې د دې لوېې غیبي ساري ناروغۍ (کرونا و یروس) سبب او لوی عامل د ایګور یعنی د شرقي ترکستان مظلوم او ځپل سوي ولس چیغې دي چې پدې وروستیو میاشتو کې تر اسمان رسیدلې دي، او د پیکن په ملحد او لوی ظالم حکومت باندې د الله تعالی عذاب را کوز یدل غواړي، ځکه د چین ظالمو واکمنانو د ایګور یانو هیواد (شرقي ترکستان) چې څه باندې(۱۰) لس میلونه نفوس لري؛ یو لوی جیل او زندان ګرځولئ دئ، او ملیونونه ایګوري مسلمانان په دغو جیلونو کې ډیر کلک ځپل کیږي، نو دا و بایي ناروغي الله تعالی پر دوی باندې رانازله کړه، ترڅو د چین ظالم واکمنان په اوښ راسي او خپل دا لوی ظلم نور په ایګوري مسلمانانو باندې ودروي، او دا چې نن صبا ظلم په ټوله نړۍ کې خور دئ، نو کرونا هم همداسې خوره سوې ده، نو الله تعالی ده مسلمانانو ته د توبې و یستلو توفیق ورکړي، او د کرونا دا خور یدونکې و باء ده الله تعالی د زمونږ سرونو نه لرې کړي...آمین یا رب العالمین.

[۱۵] هر چا چې ښه وکړل، نو هغه خپل ځان سره ښه کړي دي او

چاچې بد وکړل، نو د خپلو بدو کړنو سزا به ګالي، او ای خلکو! تاسې ټول بیا خپل رب الله ته ورګرځول کیږی، یعنی نو بیا به الله تعالی د قیامت په ورځ هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو عز یزانو! د پام وړ ده چې د الله تعالی دا سپارښت رسول الله ﷺ ته په مکه مکرمه کې د هجرت نه مخکې سوئ دئ، او یقینا چې د مکې دورې شرائط او حالات د رسول الله ﷺ په پیغمبرۍ کې ځانګړي شرائط ول، او رسول الله ﷺ او ورسره بې وزره او ضعیف مومنان، لکه بلال حبشي، عمار بن یاسر، صهیب رومي او د دوی کورنۍ او نور دغسې بې وزره مومنان رضي الله عنهم د مشرکانو په لاس ډیر وزورول سول، او ډول ډول سزاګاني دوی ته ورکړل سوې، او دوی د دفاع کړو او د غچ اخستلو زور او وسعه نه درلوده، نو ځکه الله تعالی دوی ته د ډاډ ګیرني لپاره رسول الله ﷺ ته دغسې قاطع او روښانه سپارښټ کړئ دئ، او اطمئنان یې ورکړئ دئ چې لله تعالی به خامخا ظالمانو ته کلکه سزا ورکړي، او دغو صبر کونکو مومنانو ته به الله لوی لوی ثوابونه او جنتونه ورکړي، نو د الله تعالی دا سپارښت همداسې د ښې او د عفوې دود په ټولنه کې خوروي، لکه څنګه چې بیا د مدني دورې په آیتونو کې هم ور باندې، کلک ټینګار سوئ دئ، ځکه یوه ټولنه هغه وخت وروړی او اتحاد خوا ته تلای سي او د خپل منځ دښمنۍ نه خلاصیدای سي چې هلته د ښې او د یو بل نه د تیریدلو دود او تیروتنونه د عفوې او ګزشت اخلاق په خلکو کې خواره سي او خلک ور باندې سم وروزل سي، خو د دې ګټورې اخلاقي تګ لارې سره سره بیا هم د مظلوم حق د ځان نه په دفاع کې همداسې محفوظ دئ، او ښایي په ټولنه کې مسئول چارواکې د مظلوم پوښتنه وکړي، او د هغه حق د ظالم نه واخلي او هغه ته یې بیرته وسپاري.

{بني اسرائیل الله په خپل وخت کې په نورو خلکو غوره کړل}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خپلو لو یو پیرزو ینو یادونه په بني اسرائیلو باندې کړي ده، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦ وَءَاتَيۡنَٰهُم بَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِۖ فَمَا ٱخۡتَلَفُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٧﴾

[١٦] او یقینا چې بني اسرائیلو ته مونږ کتاب (تورات) ورکه او بیا دوی ته مونږ [په دې کتاب باندې] د حکم کړو واک او قدرت سره ده نبوت او پیغمبرۍ ورکـه، او دوی تـه مونږ د پـاکو خوړو نـه روزي ورکړه او بني اسراییل مونږ د نړۍ پر نورو خلکو باندې غوره کړل.

[١٧] نو بني اســرائیلو یو بل ســره اختلاف او پر یو بل باندې تیرئ ونکه، مګر وروسته له هغې چې دوی ته [د حق او باطل او د روا او نارو په منځ کې د بیلولو لارښــودنې] او دلیلونه راغلل، نو بیاچې کله دوی ته پوره علم او پوهه راغله [یعنی حق او باطل یې ښــه ســره بیل ســوي و پیژندل ســول، نو بیا بني اســرائیلو د ډیر] بغاوت او ســرکښۍ نه یو بل ســره اختلاف وکه [یعنی هڅه یې وکړه چې یوه ډله پر بله ډله باندې برلاســي او واکمنه ســي او مشــرتابه او ر یاســت ته ځانونه ورســوي] او ای پیغمبره! د ســتا رب الله یقینا د دوی په اختلافاتو کې د قیامت په ورځ پر یکړه کړي، یعنی هرچا ته د هغه د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي.

درندو دوســتانو! دا مبارك آیت که څه هم د بني اســرائیلو په باره کې دئ، خو هغه مسلمانانو ته ډیر کلک ګواښ دئ، نو ښایي چې مسلمانان ســره ټوته ټوته نســي او د بني اســرائیلو(یهودو) په پله لاړ نســي او خپل اتحاد او یو والئ د ګواښ لاندې رانولي، لکه څنګه چې د بده مرغه پدې وروستیو پنځوسو کلونو کې [یعنی د ١٩ پیړۍ وروستیو لسیزو نه نیولې تر نن ورځې پورې چې د ٢١ پیړۍ در یمې لســیزې پیل دئ] د بني اســرائیلو دا سرطاني ناروغي په اسلامي امت کې؛ دومره خوره سوې ده چې ډیر ولسونه یې په ډلو ټپلو و یشلي دي او کورنۍ جګړې یې پر دوی کې خورې کړې دي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده په خپل رحمت ســره مسلمانان د دې اوږدې

غميزې ناور ين نه خلاص کړي، او الله تعالى ده مسلمانانو ته توفيق ورکړي چې بيرته الله ته وروکړي او دا ناحقه وژنې اوخپل منځي خونړۍ جګړې پای ته ورسوي...آمين يارب العالمين!

{د اسلام شر عي قانون تطبيق پر مومنانو فرض دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول اللهﷺ ته حکم کړئ دئ چې د خپل رب شر يعت او قانون پسې لاړ سي او هغه د خپل ژوند په چارو کې تطبيق او عملي کړي، او فرمايلي دي:

﴿ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ فَٱتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا۟ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۖ وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾﴾

[١٨-١٩] او بيا ته اى پيغمبره! مونږ د دين په سمه لار وخوځولې، نو ته د خپل دين سې لار پسې لاړ سه او عمل ور باندې وکړه، او د هغو کسانو نفسي خواهشاتو پسې مځه چې دوى په څه نه پوهيږي او حق نه پيژني [يعنى د کافرانو خبرې مه منه او ور پسې مځه، ځکه دغه ناپوه کسان چې د خپل رب توحيد نه منکر دي او پيغمبر نه مني] دوى تا د الله سزا نه ساتلاى نسي، او نه تا ته څه کټه رسولاى سي، او يقينا چې ظالمان يا کافران د يو بل ملګري دي، او الله د متقيانو مل او ملګرئ دئ، يعنى مرسته يې کړي او د کافرانو شر نه يې ساتي، ترڅو نيکمرغه سي.

[٢٠] [اى پيغمبره! او دا قرآن چې پر تا باندې رانازل سوئ دئ] هغه ټولو هغو خلکو ته چې يقين او باور پرې لري [يعنى په قران باندې يې ايمان راوړئ دئ] رڼاوو ته لارښود او لوى رحمت دئ، يعنى مومنان د قرآن په رڼا کې سمه لار و يني او حق او باطل سره بيلوي او بيا په سمه لار ځي او د کږې لارې نه چې ناروا لار ده ځانونه کلک ساتي.

{کافران هيڅ کله د مومنانو سره بر ابر ندي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپل لوى عدالت د مومنانو

او کافرانو په منځ کې بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي چې الله تعالی هیڅ کله کافران د مومنانو سره نه برابروي:

﴿أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجْتَرَحُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٢﴾ أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾﴾

[۲۱] ای پیغمبره! آیا هغو کسانو چې ګناهونې وکړې [یعنی کافران سول او د حق نه منکر سول؛ ګمان کړي] چې مونږ به [د دوی ژوندي او مړه] د هغو کسانو سره برابر کړو چې ایمان یې راوړ او ښه یې وکړل [یعنی د الله تعالی ټول حکمونه یې پرځای کړل؟ ځواب دا چې: نا! هیڅ کله دا دواړه ډلې سره برابرې ندي] او کافران ډیر بد حکم او بد ګمان کړي! یعنی الله هیڅ کله مومن او ښه سړي د کافر او فاسق سره نه برابروي، او د قیامت په ورځ الله تعالی د عدالت په تله د ټولوخلکو کړنې او عملونه په دنیا کې تلي، او بیا مومنان جنت ته ورننه باسي او کافران او ګناه ګاران دوزخ ته ورغوځول کیږي.

[۲۲] هو! ځمکه او اسمانونه الله په حق او انصاف سره پیدا کړل، ترڅو هر چا ته د هغه خپلو کړنو ثواب او سزا ورکړل سي، او پر دوي باندې ظلم نکیږي، یعنی الله تعالی د خپلو بنده ګانو نه د هیچا حق نه ضائع کوي او لمنځه یې نوړي.

[۲۳] ای پیغمبره! او آیا هغه څوک تا ولیده چې خپل هوس او ځان غوښتنه یې خپل ځان ته خدای ونیوه؟ او دئ الله د پوهې سره سره د سمې لارې نه ورک که، او د غوږونو پر اور یدا او پر زړه باندې یې الله ټاپه او مهر وواهه، او په سترګویې پرده راخوره کړه [یعنی نو نه حق اوري او نه په حق باندې پوهیږي، او نه هغه په سترګو و یني، نو بیا به د الله نه وروسته څوک هغه ته پر سمه لار د تګ لارښودنه وکړي؟ نو آیا دا کافران

پند نه اخلي او حق نه مني؟ يعنى ښـايي چې كافران حق ته غاړه كيږدي او ايمان راوړي او د الله تعالى د دين په سمه لار تګ وكړي او پرې لاړ سي.

قدرمنو دوستانو! دا مبارك آيتونه په كلكه سره هغو كسانو ته ګواښ دئ چې دوى خپلو ځاني هوسونو غوښتنو پسې ځي، او د الله تعالى د دين لارښـودنې شـا ته غورځوي، لكه دا د اوسنى زمانې ډير هغه كسـان چې د مسلمانى شعار لاندى د خپلې هوا او هوس بنده ګان دي، او په ډول ډول پلمو سره د الله تعالى حكمونه او سپارښتنې پښولاندې كوي.

{يوازې د دنيا په ژوند باور او د آخرت نه انكار خوسې خيال دئ}

او په ور پسـې مباركو آيتونو كې الله تعالى د كافرانو مادي عقيده چې يوازې د دنيا په ژوند باور او د آخرت ورځې نه انكار دئ؛ يادە كړې او غندلې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَٰبِهَا ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَٰذَا كِتَٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾﴾

[٢٤] [او هغو كافرانو چې خپل هوس او مادي غوښتنې خپلو ځانو ته خداى نيولې ؤ] دوى وو يل: د زمونږ ټول ژوند همدا د دنيا ژوند دئ او په هغه كې ژوندي كيږو او بيا پكې مرو، او د زمانې تيريدلو نه پرته بل هيڅ كم شئ مونږ له منځه نه وړي [يعنى كافران يا ماتر يالستان په دغسې خوسې بې بنسټه يا بې اساسه خبرو سره د قيامت ورځې راتګ دروغ بولي او هغه نه مني] او د هغوى دغسـې و يناوې پر پوهه يا پر علم باندي ولاړې ندي، بلكې هغه خوسـې انكيرنې دي، يعنى هيڅ دليل نه لري، نو اعتبار هم نه

لري، او ښايي چې څوک ور باندې ونه غولیږي.

[۲۵] او هر کله چې پر دغو کافرانو باندې د زمونږ کتاب هغه روښانه آیتونه او دلیلونه ولوستل سي چې [هغه د قیامت په ورځ د ټولو خلکو بیرته راژوندي کیدل بیانوي] نو بیا د دوی ځواب یا دلیل یوازې دا وي چې پیغمبر او مومناتو ته وایي: که تاسي د صادقانو او ر ښتیاو یونکي یاستئ، نو د زمونږ مړه سوي پلرونه بیرته را ته راولئ، یعنی د زمونږ نیکونه راژوندي کړئ!

[۲۶] [نو ته ای پیغمبره! دغو کافرانو ته په ځواب کې] ووایه: هو! پدې کې شك نسته چې یوازې الله تاسې بیرته راژوندي کوي او بیا الله تاسې مړه کوی، او بیا د قیامت په ورځ تاسې ټول په پوره یقین سره الله بیرته راژوندي کوي، خو ډیر خلک نه پوهیږي، یعنی دا چې الله تعالی لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات دئ او هر کار په کلکه اراده، په لوی ځواک، او په پاخه حکمت ترسره کوي.

[۲۷] هو! د ځمکې او د اسمانونو واکمن څښتن الله دئ، او کله چې قیامت ودر یږي، نو بیا په هغه ورځ د باطل پلو یان هر څه بایلي او کلک تاوان کړي.

[۲۸] ای پیغمبره! او د قیامت په ورځ به هر امت [او هر ډله او قوم په سترګو] و یني چې په ګونډو پراته دي او د خپلو کړنو لیکل سوي کتاب اخستلو ته را بلل کیږي [او ورته و یل کیږي: ای خلکو!] نن ورځ تاسې ته د ستاسې د کړنو ثواب او او سزا درکول کیږي.

درندو دوستانو! دا په ګونډو پروت انځور یا تصویر؛ ډیر خوارونکئ انځور دئ، نو ځکه دا سوره په الجاثیه [چې معنایې په ګونډو پراته ده] نومول سوئ دئ، او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د قیامت په ورځ خلکو ته وایي:

[۲۹] ای خلکو! او دغه عمل نامه د زمونږ هغه لیک دئ چې هغه تاسې ته حق دراوروي، ځکه یقینا چې د ستاسې ټول کړل مونږ په دنیا کې لیکل، یعنی د خلکو ټولې خبرې، و یناوې، او کړنې د الله تعالی سره پدې

کتاب او عمل نامه کې ساتل سوې او محفوظ دي.

{مومنانو ته د الله جنتونو ز يري او کافرانو ته د دوزخ ګواښ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنانو او کافرانو ته د خپلو ښو او بدو کړنو ثواب او سزا د قيامت په ورځ اعلان کړې ده، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُدۡخِلُهُمۡ رَبُّهُمۡ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡمُبِينُ ٣٠ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَفَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ٣١ وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيهَا قُلۡتُم مَّا نَدۡرِي مَا ٱلسَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنّٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِينَ ٣٢ وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٣ وَقِيلَ ٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰكُمۡ كَمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٣٤ ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذۡتُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوٗا وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُخۡرَجُونَ مِنۡهَا وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ٣٥﴾

[۳۰] نو هغو کسانوچې ايمان راوړ او ښه يې وکړل [يعنی د الله تعالی عبادت او بنده کې يې وکړه] نو دوی د دوی رب الله د خپل رحمت لانديې ورننه باسي، او هغه ښکاره بر يا او سر لوړي ده.

[۳۱] او ای هغو کسانوچې تاسې کافران سوی [يعنی د زمونږ لوی پيغام کتاب نه منکر سوی او هغه تاسې ونه مانه!] نو آيا پر تاسې باندې د زمونږ کتاب آيتونه [او د زمونږ لو يو قدرتونو نښانې او دليلونه] نه لوستل کيدل؟ [ځواب دا چې: هو! هغه ټول لوستل کيدل] نو بيا تاسې ای کافرانو! کبر وکه [يعنی ځانونه مو د الله کتاب د منلو نه غټ وګڼل] او تاسې ای کافرانو! د مجرمانو او ګناه ګارانو نه وی! يعنی تاسې د حق منلو نه کبر پسې واخستی، نو د ايمان راوړو نه محروم سوی.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د قيامت ورځې نه چې کافران ورځخه منکر سول؛ يو ډير ځلانده تصوير يا انځور د

کافرانو مخې ته ایښئ دئ، ترڅو پکې ښه ژور فکر وکړي او ایمان راوړي، خو ډیر خلک همداسې په خپل ضد کې پاتې دوزخ ته ورننوځي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د دغسې بد برخلیک نه چې عامل او سبب یې کبر دئ؛ په خپل فضل او رحمت سره وساتي او په ایمان باندې ده را ته ثبات او استقامت را په برخه کړي، او د قیامت په ورځ ده الله تعالی مونږ سپین مخې خپل حضور ته ومني.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د قیامت ورځې په راتګ باندې کلک ټینګار کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٣٢] ای کافرانو! او کله چې تاسې ته په دنیا کې وو یل سول چې د الله وعده د مړو په بیرته راژوندي کیدو باندې د قیامت په ورځ حق او ر یښتیا ده او د قیامت ورځې په راتګ کې هیڅ شک نسته، نو بیا تاسې په کلکه سره وو یل چې مونږ خو نه پوهیږو چې قیامت څه شئ دئ؟ او هغه مونږ خوسې خیال او ګمان ګڼو او ور باندې باور نه لرو، یعنی کافران د قیامت ورځې راتګ نه منکر سول او د پیغمبرﷺ ګواښونه یې ونه منل او هغه یې خوسې خیال او ګمان و باله.

[٣٣] نو بیا دغو کافرانو ته د قیامت په ورځ د دوی ټول بد کړل په دنیا کې ښکاره سول، او د الله هغه عذاب یا سزا پر دوی باندې راګرده سوه چې دوی یې سپکاوئ کا ؤ، او کلک یې راونیول.

[٣٤] [او بیا دغو کافرانو ته اعلان وسه] او ورته وو یل سول: نن تاسې نور مونږ هیروو، لکه څنګه چې تاسې په دنیا کې د قیامت ورځې ملاقات او د خپل رب الله سره یوځای کیدل هیر کړل، او د ستاسې استوګنځې او مینه د دوزخ اور دئ او هیڅ څوک مرستندوی نه لرئ!

[٣٥] ای کافرانو! او هغه سزا ځکه تاسې ته درکول کیږي چې تاسې د الله کتاب آیتونه او د هغه د لو یو قدرتونو نښو سپکاوئ وکه، او د دنیا ژوند تاسې وغولول، نو نن نور دغه کافران د دوزخ اور نه بیرته نه راو یستل کیږي او نه د دنیا ژوند ته بیرته وګرځول کیږي، ترڅو تو به و باسي، یعنی دا چې بیا نجات بیامومي او د عذاب نه خلاص سی.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې کافران د قيامت ورځې راتګ نه؛ د دوی د انکار کلکې سزا نه خبر کړي او ګواښلي دي، ترڅو دوی د خپلو ځانو سره ښه فکر وکړي او د دنيا ژوند په ښکلا باندي ونه غولیږي او د قيامت راتګ باندي په ايمان راوړو او په باور کړو سره ځانونه د دوزخ اور نه وساتي، خو د بده مرغه کافران او همدارنګه فاسق او ګناهګار مسلمانان ژور فکر نکړي او د قيامت په ورځ د الله عذاب نه د ځانو ساتنې نه غافل او بې پروا دي!

{په ځمکه او اسمانوکې ستاينه يوازې د واکمن ذات حق دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې چې د الجاثيه سورې وروستي مبارک آيتونه دي؛ الله تعالى خپله واکمني په اسمانونو او په ځمکه کې ياده کړې او بيان کړې ده، او خلک يې د خپل پالونکي خداى الله تعالى ستاينې او حمد او ثناء و يلو ته په ټينګار سره رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿فَلِلَّهِ ٱلۡحَمۡدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٦ وَلَهُ ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣٧﴾

[٣٦] نو ټوله ستاينه او حمد او ثناء د هغه رب الله حق دئ چې دئ د اسمانونو او ځمکې او د نړۍ ټولو مخلوقاتو پالونکئ لوی څښتن دئ.

[٣٧] او په ځمکه او اسمانونو کې ټوله لو يتيا او عظمت؛ يوازې الله لره دئ، او الله لوی ځواکمن اوښه حکيم ذات دئ، يعنى دغه لو يتيا او عظمت په مخلوقاتو کې د لوی ځواکمن او ښه حکيم رب الله سره ښايي، نو هوښياران ده ښه ژور فکر وکړي، او خپل لوی رب ده هغسې وپيژني چې الله خپل ځان مونږ ته پدې مبارکو آيتونو کې او د قرآن کريم په نورو ډيرو آيتونو کې راپيژندلئ دئ، ترڅو د الله په حضورکې سپين مخي ودر يرو.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الآمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الاحقاف سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الاحقاف سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

قدرمنو دوستانو! د الاحقاف مبارکه سوره چې د حواميمو سورو نه وروسته سوره ده، او د نورو حواميم غوندې مکي سوره ده؛ پکې الله تعالى د عقيدې او د ايمان مسئلو په بيان باندې کلک ټينګار کړئ دئ، لکه د قرآن کر يم ر يښتينوالئ او حقانيت، او د رسول الله ﷺ نبوت او پيغمبرۍ او د قيامت په ورځ د ټولو مړو بيرته راژوندي کيدل، او د حشر په ورځ د الله تعالى په حضور کې حساب ته راغونډيدل، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالى ټول خلک يوازې د الله تعالى عبادت او فرمان ورو ته په توحيد سره رابللي دي، او د هغو کسانو بيلکې او مثالونه يې ياد کړې او بيان کړې دي، چې دوی د الله تعالى توحيد ته د رابلنې تګ لاره مني او يا يې د هغې نه مخونه اړولي دي.

{د قرآن په ر يښتينوالي ټينګار او د کافرانو معبودانو بې وسۍ}

قدرمنو عز يزانو! د الاحقاف مبارکې سورې په پيل کې الله تعال د قرآن ر يښتنوالي په بيان کې فرمايلي دي:

﴿حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ مَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمًّىۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ ۝٣ قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۖ ٱئۡتُونِي بِكِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ هَٰذَآ أَوۡ أَثَٰرَةٖ مِّنۡ عِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٤ وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّن يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن

لَّا يَسۡتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَهُمۡ عَن دُعَآئِهِمۡ غَٰفِلُونَ ۝٥ وَإِذَا حُشِرَ كَانُواْ لَهُمۡ أَعۡدَآءٗ وَكَانُواْ بِعِبَادَتِهِمۡ كَٰفِرِينَ ۝٦

[١-٢] (حاء، ميم) دا د حاء ميم غوندي پر يکړ ســوو عربي تورو نه جوړ سوئ کتاب (قرآن) د لوی ځواکمن رب الله نه چې د ښه حکمت او د کلک تدبير څښتن دئ؛ رانازل سوئ کتاب دئ، يعنی د قرآن په حقانيت او ر ښتينوالي کې هيڅ شک او شبهه نسته، او هغه په حق او ر ښتيا سره د الله تعالی نه پر محمد رسول اللهﷺ باندې را نازل سوئ پيغام دئ.

[٣] او دا لوی اسمانونه او ځمکه او د دوی دواړو په منځ کې پراته ټول مخلوقات؛ مونږ ندي پيدا کړي، مګر په حق سره [يعنی دا ټول مخلوقات الله تعالی د يوه لوی مقصد لپاره چې هغه د الله بنده ګي ده پيدا کړي دي] او هغه ټول مونږ د ټاکل ســوي وخت او نيټې پورې پيدا کړي دي [يعنی د دنيا ژوند به د قيامت ورځې راتګ پورې وي] خو هغه کســان چې کافران ســول [يعنی د الله عبادت او بنده ګی نه په يو والي او توحيد ســره منکر ســول] دوی د هغو ګواښــونو نه چې دوی ته وســول مخ اړونکي دي، يعنی حق ته تسليم نسول او د الله تعالی حکمونو نه يې سرکښي وکړه.

[٤] نو ته ای پيغمبره! [پر دغو کافرانو باندې غږ وکړه او ورته] ووايه: ای خلکو! آيا هغه څوک چې تاســې د الله نه پرته خدای بولئ؛ آيا هغه د ځمکې نه څه شئ پيدا کړي دي؟ او آيا دغه ناحقه خدايان د الله ســره د اسمانونو په پيدايښت کې شر يکان او ورسره ملګري دي؟ نو که تاسې ای خلکو! د ر ښــتياو يونکو نه ياســتئ؟ نو د قرآن نه مخکې د کم بل کتاب دليل ما ته راوړئ؟ او يا د پخوانيو پوهې او علم نه کمه نښه را ته راوړئ؟ چې هغه د ســتاســې د دغو خدايانو خدايي چې هغه د دروغو خدايي ده؛ تصديق کړي! يعنی دغه بتان چې تاسې هغه د الله تعالی سره په خدايي کې شــر يکوئ؛ هيڅ واک او اختيار نه لری او نه په ر ښــتيا د الله تعالی ســره په خدايي کې شر يکان دي!

[٥] ای خلکو! څوک د هغه چا نه ډير د حق نه ورک او بې لاري دئ، چې هغه د الله نه پرته د هغو بتانو عبادت او بنده ګي کړي چې د قيامت

ورځې پورې د دوی غوښـــتنې نه مني؟ او دا بتان د خپلو عابدانو دعاء نه غافل دي، يعنې هيڅ پام يې ورته ندئ او په هيڅ شي نه پوهيږي! نو ځواب دا چې هيڅ څوک د دې کس نه ډير د حق لارې نه ورک ندئ! او مشـــرکانو چې بتان د الله سره په خدايي کې ګډوي؛ د حق سمه لار ورکه کړې ده.

[٦] او کله چې د قيامت په ورځ ټول خلک سره راغونډ کړل سي، نو بيا هغه د دروغو خدايان د خپلو بنده ګانو دښـــمنان وي، او د عبادت نه يې منکر وي، يعنې خپله بې زاري د دغـــې بنده ګانو نه اعلانوي، ځکه دوی يې ر يښتيني خدايان نه ول.

درندو دوســـتانو! په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مکې کافرانو ښه روښانه ناپوهي چې دوی د دغو بې وسعو بتانو بنده کې کړه او هغه يې د الله ســره په خدايي کې ګډول؛ کلکه رســوا کړې ده او ټينګاريې کړئ دئ چې د دغو مشـــرکانو دا د دروغو خدايان د خپلو بنده ګانو عبادت نه د قيامت په ورځ منکر يږي، او دوی دښمنان بولي او وايي چې دوی د شيطان عبادت او بنده کې کړه، نه د زمونږ بنده کې.

قـدرمنو دوســـتانو! دلتـه د دې حقيقـت يـادونـه هم د پـام وړ ده چې اوســني هغه مشـرکان چې بتان د الله تعالى ســره په خدايي کې ګډوي، لکه بودايان او هندوان؛ کټ مټ د پخوانيو مشـرکانو غوندې په لوی جهالت او ناپوهۍ کې ډوب او پکې غرق دي.

{ پر قرآن باندې د کافرانو نيوکې الله کلکې ردې کړې دي }

او پـه ور پســـې مبـارکو آيتونو کې اللـه تعـالى د مشـــرکانو نيوکې او اعتراضـــونه پر قرآن باندې او د پيغمبرﷺ په نبوت باندې؛ کلک رد کړي او غندلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۝٧ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ إِنِ ٱفْتَرَيْتُهُۥ فَلَا تَمْلِكُونَ لِى مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۖ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٨ قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلَا بِكُمْ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ

إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٩ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرۡتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثۡلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠

[۷] او کله چې پر دغو کافرانو باندې د زمونږ روښانه آیتونه لوستل کیږي، نو کله چې حق دوی ته راغئ؛ بیا هغو کسانو چې کافران سول وو یل: دا خو ښکاره کودې دي!

[۸] او یا دا کافران وایي: محمد خو دا کتاب (قرآن) الله پسې افترا کړي دئ [یعنی هغه خوسې تور دئ، نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې] ووایه: هو! که چیرې ما دا کتاب (قرآن) الله پسې د ځان نه تپلئ وي او تور وي، نو تاسې د زما نه د الله سزا او عذاب لرې کولای نسی، او الله د ستاسې په خبرو باندې چې قرآن پسې یې کړی ښه پوه دئ، نو الله د زما او ستاسې په منځ کې د شاهدی و یلو لپاره بس او کافي دئ، او الله لوی بښونکئ او ښه مهربان لوی ذات دئ.

[۹] [نو ته ای پیغمبره! د خپل قوم کافرانو ته] ووایه چې زه د پیغمبرانو نه لمړئ پیغمبر نه یم، او نه زه پوهیږم چې زما او ستاسې سره څه کیږي؟ او زه د هغې وحی یې نه پرته چې ما ته کیږي؛ د بل هیڅ کتاب پیروي نکړم، او زه تاسې ته ښکاره ګواښونکئ یم، یعنی تاسې د الله تعالی سزا نه و یروم!

[۱۰] ای پیغمبره! [او پر دغو کافرانو باندې غږ وکړه او ورته] ووایه: تاسې ما ته ووایي: که چیرې دا کتاب (قرآن) ما ته د الله لخوا وحیه سوئ کتاب وي، او تاسې ورڅخه منکر سوی، او بیا د بني اسرائیلو نه؛ یوه شاهد د هغه غوندې کتاب په ر یښتینوالي باندې شاهدي وو یله، نو بیا یې ایمان راوړ، خو تاسې کبر وکه او ایمان مو رانوړ![یعنی نو آیا د دې نه بل غټ ظلم سته؟ ځواب دا چې: نا! د دې نه بل غټ ظلم نسته] او یقینا چې ظالمان الله حق ته نه سموي، یعنی الله تعالی دوی ته د حق پر لار د تګ توفیق نه ورکوي.

{قرآن کافر انو ته ګواښونکئ او مومنانو ته ز یرئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ لمړئ د کافرانو سیالیونه د ګټو په لاس ته راوړوکې خبر کړي یو، او بیایې فرمایلي دي کله چې کافران حق ته سم نسي، نو بیا وایي: قرآن خوسې زړې قصې دي، حال داچې قرآن د تورات تصدیقونکئ اسماني کتاب دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡ كَانَ خَيۡرٗا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيۡهِۚ وَإِذۡ لَمۡ يَهۡتَدُواْ بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفۡكٞ قَدِيمٞ ١١ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةٗۚ وَهَٰذَا كِتَٰبٞ مُّصَدِّقٞ لِّسَانًا عَرَبِيّٗا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُحۡسِنِينَ ١٢ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ١٣ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤﴾

[١١] او هغو کسانوچې کافران سول؛ مومنانو ته یې وو یل: که چیرې دا کتاب (قرآن) [چې تاسې ور باندې ایمان راوړئ دئ] ښه کتاب وای او پکې خیر وای؟ نو هیڅ څوک به د زمونږ نه نۀ وړاندې سوي [یعنی کافرانو به د بل هر چا نه مخکې په قرآن باندې ایمان راوړئ ۀ، خو هغه د دوی په ګمان ر ښتیا ندئ] او کله چې کافران په قرآن باندې حق ته هدایت نسي، نو بیا وایي: دا کتاب (قرآن) زاړه دروغ دي [العیاذ بالله] یعنی د پخوانیو خلکو نه راپاتې میراث دئ، او د الله تعالی نه ندئ راغلئ!

[١٢] هو! د قرآن نه پخوا د موسی کتاب (تورات) مونږ را نازل که، او هغه بنی اسرائیلو ته مخکښ لارښود او د رحمت پیغام ۀ، او دا کتاب (قرآن) چې د تورات تصدیق کړي؛ په عربي ژ به را نازل سوئ دئ، ترڅو هغه کسان وګواښي چې ظلم پې وکه او کافران سول، او قرآن محسنانو ته [یعنی مومنانو ته چې دوی ښه کړي] د جنتونو ز یرئ ورکوي.

[١٣-١٤] او یقینا هغو کسانو چې وو یل: د زمونږ لوی څښتن او خدای الله دئ، نو پر دوی باندې هیڅ و یره نسته او نه ده غمجن کیږي،

یعنی پر خپل دین کلک ولاړ مومنان الله تعالی د هر ډول عذاب او سزا نه په خپل فضل او رحمت سره ساتي، او دا کسان جنتیان دي او په جنت کې به تل پاتې وي، او جنت مومنانو ته د دوی د ښـــوکړنو ثواب او انعام دئ، یعنی مومنان به تل پاتې جنتونوکې اوسیږي او ورڅخه به خوند ا خلي.

قدرمنو دوســتانو! په دغو مبارکو آیتونو کې لمړئ الله تعالی رســول الله ﷺ ته لارښــودنه او ســپارښــت کړئ دئ چې کله د ســتا قوم د قرآن منلو نه مخ واړا ؤ، نو ته په ډیر لوی زغم او صــبر هغوی ســره خبرې او مرکه وکړه، او په کلک اســتدلال ســره خپله پیغمبري تصــدیق او تایید کړه، او بیا دا مناظره یا مرکه همداسې د رسول الله ﷺ او د مشرکانو په منځ کې اوږده ســوه، ترڅوچې کافران بې دلیله چوپ ســول او د رســول الله ﷺ ســره یې د خبرو نه مخ واړا ؤ، نو ښــایي چې اســلام ته رابلونکي دعات همدا د پیغمبر ﷺ تک لاره ځانو ته تل قدوه او لارښــود وګرځوي، او په کلکو دلائلو سره مناظره او بحث وکړي، او بیا الله تعالی مومنانو ته په ډاډ ورکولو ســره د تل پاتې جنتونو ز یري ورکړي دي او هغه دا چې دوی به د خپل ایمان او ښــه عمل په برکت په خورو ورو جنتونو کې میشــت سي او هلته به په تل پاتې نعمتونو کې اوسیږي او خوند به ورڅخه اخلي.

{مومنانو ته الله سپارښت کړئ چې د مور او پلار سره ښه وکړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مونږ ته الله تعالی د مور او پلار ســره د ښو کړنو سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًا ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهْرًا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَصْلِحْ لِى فِى ذُرِّيَّتِىٓ ۖ إِنِّى تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِىٓ أَصْحَٰبِ

ٱلْجَنَّةِ وَعْدَ ٱلصِّدْقِ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾

[١٥] او هر انسان ته مونږ د خپلې مور او پلار سره د ښو کړنو سپارښت وکه، ځکه موريې دئ په ډيرو ستونزو سره په نس کې وګرځا ؤ او بيايې په ډيرې سختۍ سره وز يږا ؤ او د هغه را لو ييدلو کلونو مياشتې د مور په نس او غيږ کې ديرس مياشتې وې، ترڅو چې دئ د تې نه بيل سه، او بيا دئ د ځوانۍ ځواکمنۍ او غښتلتيا ته ورسيده او څلو يښت کلن سه، نو بيايې خپل رب الله ته دعاء وکړه او وې غوښتل چې ای لو يه خدايه! ما ته په زړه کې الهام را واچوۀ [يعنی توفيق راکړه] چې زه د ستا لوی نعمت او د هغې پيرزو ينې چې پر ما او د زما په مور او پلار باندې ده کړې ده؛ شکر و باسم [يعنی مننه يې وکړم] او هغسې ښه ورسره وکړم چې ته ای لو يه ر به! ور باندې خوښ او راضي کيږې، او ای لو يه څښتنه! د زما کوول راته صالح وګرځوه [يعنی نيک خدمتګارې کړه] او ای ر به! تا ته ما په يقين سره مخ واړا ؤ او تا ته ما رجوع وکړه [يعنی تو به مه وايستله] او زه يقينا د مسلمانانو نه يم.

[١٦] او دغه مومنان هغه کسان دي چې د دوی ډير ښه کړل مونږ د دوی نه قبلوو، او د جنتيانو منځ نه مونږ د دوی د بدو کړنو نه ورتيريږو [يعنی بښوې] او دا د ر يښيا وعده؛ هغه وعده ده چې د دوی سره په دنيا کې کيدله، يعنی د الله تعالی په دغه وعده کې چې د مومنانو سره يې کړې ده؛ هيڅ شک نسته او هغه خاماخا پلې کيږي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې مونږ ته د مور او پلار سره د ښو کړنو او ورسره د احسان سپارښت کړئ دئ، او په ځانګړي ډول يې د خوږې مور سره چې هغی خپل ماشوم پوره ديرس مياشتې په نس او بيا يې په غيږ کې په ډيره مينه، خو په سختۍ سره وګرځا ؤ او د خپل تې خوږې شودې يې ورکړې او په ډيره مينه يې را لوي که، ترڅو چې دا ماشوم ځوانۍ ته ورسيده او څلو يښت کلن سه، او په څلو يښت کلنۍ کې يې ځاني او عقلي قوت پوخ او غښتلئ سه، نو ښايي چې دا مومن بنده د خپل رب الله د لو يو نعمتونو او پيرزو ينو مننه

ووکړي او شـکرېې و باسـي او د الله تعالی نه د لا ډېر ښـه عمل توفیق وغواړي، او د خپل کوول ښـه روزنه او اصـلاح ده د الله تعالی نه په زاړه سـره وغواړي، نو بیا دې مومن بنده ته الله تعالی د دعاء قبلیدو او د تیروتنو او بدو کړنو نه یې ورته د عفوې ز یړئ ورکړئ دئ، او دئ یې د جنتیانو ملګرئ ګرځول دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته هم توفیق را کړي، ترڅو د الله تعالی پدې ارزښـتناک او اړ ین سـپارښـت باندې؛ کلک عمل وکړو او خپلې مور او پلار سـره ښـه وکړو او هیلې یې پوره کړو، او خدمتګاران یې جوړ سـو، او د الله تعالی د لو یو پیرزو ینو شکر و باسو... آمین یارب العالمین.

{د مور او پلار ازار وهونکو زامنو ته الله کلکه سزا ورکوي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د هغه کافر ناشکره زوی یـادونـه کړې ده چې د خپلې خوږې مور او درانـده پلار خیر غوښـتنې سـپارښـتنې نه مني او پر الله باندې ایمان نه راوړي او سـپکې او سـپورې ورته وایي، نو بیا الله تعالی دغسې سرکښو زامنو ته کلکه سزا ورکوي، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيۡهِ أُفٍّ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِىٓ أَنۡ أُخۡرَجَ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلۡقُرُونُ مِن قَبۡلِى وَهُمَا يَسۡتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيۡلَكَ ءَامِنۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٧ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِىٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ١٨ وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۖ وَلِيُوَفِّيَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١٩ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَذۡهَبۡتُمۡ طَيِّبَٰتِكُمۡ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنۡيَا وَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهَا فَٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ فِى ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَبِمَا كُنتُمۡ تَفۡسُقُونَ ٢٠﴾

[١٧] [او کله چې یوې زړه سـواندې مور او پلار خپل سـرکښ زوی ته وو یل چې پر الله باندې ایمان را وړه او د قیامت ورځې په راتګ باندې باور وکړه، نو بیا هغه په ځواب کې خپل پلار او مور ته] وو یل: تاسـې دواړو ته

ده افســوس وي! آيا تاســې دواړه ما ته وعده راکوئ چې زه به بيا د خپل ګورنه بيرته ژوندئ را ووځم؟ حال دا چې د زما نه پخوا ډير ولســونه تير سول [خو بيا هيڅ څوک بيرته راژوندي نسول، نو بيايې مور او پلار په ډير زړه ســواندي ســره چې دوی خپل زوی ته د الله نه هدايت غوښــته په نصــيحت کړو ســره] وو يل: ای زوی کيه! د الله عذاب نه وو ير يږه او ايمان را وړه، او يقينا چې د الله وعده حق ده او د قيامت په ورځ حســاب اخستل ر يښتيا دي [نو بيايې دا کافر زوی په ځواب کې ورته] وايې: دا څه چې تاســې وايي [يعنی د قيامت ورځې راتګ نه غږ يږئ] هغه د پخوانيو نه راپاتې ليکل ســوې خوســې خبرې دي، يعنی هغه [العياذ بالله] دروغ دي او هيڅ حقيقت نه لري او د مرګ نه وروسته بيا ژوند نسته!

قدرمنو عز يزانو! د دې مبارك آيت حکم عام دئ او په هر ســرکښ کافر زوی باندې د تطبيق وړ دئ، نو ځکه د قرآن کر يم مفســر ينو و يلي دي چې د دې مبارك آيت مقصــد کم ټاکل ســوئ کس ندئ او د کم نومول ســوي زوی په باره کې دا آيت ندئ رانازل ســوئ، نو ځکه هغه روايتونه چې پدې باره کې ياد سوي او راغلي دي؛ هغه معتبرو مفسر ينو رد کړي دي.

[۱۸] نو دغه کافران هغه کسان دي چې ور باندې د پخوانيو سرکښــو امتونو پيريانو او انسانانو سره يوځای د الله عذاب راکوز يدل حتمي دي، او يقينا چې هغوی بايلونکي ول، يعنی دوی د حق پيغام ونه منه او ايمان رانوړ، نو بيا الله دوی ته کلکه سزا ورکړه او ټول هلاك او تباه سول.

[۱۹] هو! [د مومنانو او کافرانو نه] هر چا ته د خپلو ښــو او بدو کړنو رتبه او مقام په آخرت کې ورکول کيږي، او دوی ته به د خپلو کړنو ثواب او ســزا پوره ورکړل ســي، او پر دوی باندې ظلم او تيرئ نه کيږي، يعنی الله تعالی د آخرت په ورځ ټولو خلکو ته که مومنان دي او که کافران خپل خپل ثواب او ســزا پوره ورکوي، او په هيڅ چا باندې ظلم نکيږي، ځکه الله عادل ذات دئ، نو مومنانو ته جنتونه ورکوي او کافران د دوزخ اور ته ورننه باسی او هلته يې پکې کلک کړوي.

[۲۰] [ای پيغمبره! او کافرانو ته هغه ورځ ور په ياد کړه] کله چې دوی

د دوزخ په اور باندې ورتير سي [يعنى كله چې د صراط په پله تير سي، نو ورته و يل كيږى چې] اى خلكو! تاسې د دنيا په ژوند كې خپله خوږه برخه ئيوړه او خوند مو ورڅخه واخست، نو نن د خوارونكي عذاب سزا دركول كيږي، ځكه تاسې په ځمكه كې ناحقه كبر وكه [يعنى تاسې خپل ځانونه د الله پر حكمونو باندې غټ وګڼل] او د الله حكمونو نه ووتلى او سركښي سوى، بعنى نو اوس يې سزا وګالى!

ګرانو عز يزانو! په دغو مباركو آيتونو كې الله تعالى د هغه كافر زوى بد در يځ او بد چلند خپل مهر بان پلار او زړه ســواندې مور پر وړلاندې مونږ ته ياد كړئ او بيان كړئ دئ چې كله دوى خپل دا سركښ زوى ايمان راوړو ته راو باله؛ هغه كبر پسې واخست او مور او پلار سره يې ډير سپك اســتدلال وكه، نو بيا الله تعالى دا كافر او ناشــكره زوى؛ په كلكه ســزا ګوابــلئ دئ، او يقينا چې دا ګوابښ ټولو هغو ســركښــو كافرانو ته چې ايمان نه راوړي؛ ښه كلك او تل پاتې ګوابښ دئ، لكه څنګه چې په اوسنيو ډيرو اسلامي ټولنوكې ځينې مومن پلرونه خپلو بې دينو ملحدو يا سيكولرو زامنو ســره مخامخ دي، او د الله تعالى دا پرتله د مومنو ځوانانو او د كافرانو په منځ كې د بيلګې په ډول؛ ډيره ګټوره پرتله يا مقايســه ده، نو ښايي چې هر ځوان خپل ځان په دغسې تله وتلي، ترڅو د مور او پلار ازار وهونكو كافرانو په ډله كې ونه شميرل سي او ورسره يوځاى حشر نسي، بلكې خپلې مومنې كورنۍ سره حشر سي!

{ټولو خلكو ته ښايي د عاد كافر قوم تور برخليک نه پند واخلي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د تيرو هلاك ســوو ولســونو بد سر نوشت د مكې كافرانو ته ور په ياد كړئ دئ، ترڅو دوى ورڅخه پند واخلي، او فرمايلي دي:

﴿* وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦٓ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ

﴿٢١﴾ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَأۡفِكَنَا عَنۡ ءَالِهَتِنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾ قَالَ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا تَجۡهَلُونَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضٗا مُّسۡتَقۡبِلَ أَوۡدِيَتِهِمۡ قَالُواْ هَٰذَا عَارِضٞ مُّمۡطِرُنَاۚ بَلۡ هُوَ مَا ٱسۡتَعۡجَلۡتُم بِهِۦۖ رِيحٞ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ رَبِّهَا فَأَصۡبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمۡۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰهُمۡ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمۡ فِيهِ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ سَمۡعٗا وَأَبۡصَٰرٗا وَأَفۡـِٔدَةٗ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُمۡ سَمۡعُهُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُهُمۡ وَلَآ أَفۡـِٔدَتُهُم مِّن شَيۡءٍ إِذۡ كَانُواْ يَجۡحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا مَا حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡقُرَىٰ وَصَرَّفۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٢٧﴾ فَلَوۡلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرۡبَانًا ءَالِهَةَۢۖ بَلۡ ضَلُّواْ عَنۡهُمۡۚ وَذَٰلِكَ إِفۡكُهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢٨﴾

[٢١] او ته ای پیغمبره! [د الله تعالی استازي هود عليه السلام قصه] چې هغه د خپل قوم عاد ورور ؤ؛ خپل قوم (قر یشـــو) ته ور په یاد کړه، کله چې هود خپل قوم د الاحقاف په دره کې د الله عذاب نه وګوابـــه،او یقینا چې د هود نه مخکې او وروســـته نور ګوابـــونکي پیغمبران هم تیر ســـوي دي [یعنی خپلو ولســـونو ته یې د الله پیغام رسـولئ دئ، نو هود پر خپل قوم باندې غږ وکه او ورته یې وو یل: ای د زما تر بروا! تاسې] د الله نه پرته د بل چا بنده ګي مکړئ، ځکه زه پر تاســې باندې د لویې ورځې عذاب نه [چې هغه د قیامت ورځ ده نـــه کلک] و یر یږم، یعنی که تاســې د خپل لوی خدای بنده ګی نه په یو والي او توحید ســـره مخ واړا ؤ، نو کلکه ســـزا به درکړه سي او د دوزخ اور ته به وروغورځول سی او پکې به کلک وکړ یږی!

عزتمنو دوســـتانو! د الاحقاف په دره کې د عادیانو کورونه ول، او دا مبارکه ســوره، ځکه په الاحقاف نومول ســوی ده چې د الاحقاف کلمه چې هغه د عادیانو مینه او کلئ ؤ؛ یوځل پدې مبارکه سوره کې راغلې ده، نو د

هودعليه السلام دا قصه خپل سرکښ قوم عاد سره، لکه څنګه چې په مخکې سورو کې يې هم يادونه سوې ده؛ د عر بانو په لو يه جز يره کې؛ يوه مشهوره قصه ؤ، نو ځکه هغه په وار وار سره په قرآن کر يم کې يادە سوې ده، او مقصديې د عاديانو تور برخليک نه د عبرت اخستلو زده کړه او پندونه دي.

[۲۲] [نو بيا عاديانو هود ته] وو يل: آيا ته مونږ ته راغلې، ترڅو مونږ د خپلو خدايانو نه واړوي؟ نو که ته ای هوده! د ر ښتياو يونکونه يې، نو هغه عذاب مونږ ته را وړه چې تا زمونږ سره د هغه وعدې کړې!

[۲۳] [نو بيا هودعليه السلام خپل قوم ته په ځواب کې] وو يل: د عذاب راتګ وخت علم او پوهه يوازې الله سره ده، او زه د الله استازئ يم او تاسې ته د الله هغه پيغام رسوم چې زه ور باندې ګمارل سوئ يم، خو تاسې زه ناپوه خلک و ينم، يعنی دا ځکه چې تاسې د عذاب راتګ ته تلوار لرى، او د عذاب غوښتنه د هغو کم عقلو خلکو کار دئ چې دوی د خپل لوی څښتن الله د قدرتونو نه منکر دي او هغه نه مني.

[۲۴-۲۵] نو بيا چې کله د هود قوم عاد د الله عذاب په نندارې سره وليده چې د دوی کليو او باندو ته يې مخه کړې ده، نو يؤ بل ته يې وو يل: دا دئ باران ورو ورو پر مونږ راوور يږي [يعنی نو بيا دوی ته هودعليه السلام همداسې وو يل: بلکې هغه عارضي اوريها نده او نه د رحمت باران دئ] بلکې دا باران هغه عذاب دئ چې تاسې يې راتګ ته تلوار درلود [يعنی تاسې د هغه زر غوښوتونکي وی] او دا باران يو [طوفاني باد دئ] او پکې دردونکې عذاب دئ، او د خپل خدای په حکم هرڅه له منځه وړي، نو بيا چې کله دوی سحر راجګ سول ګوري چې د خپلو کورونو نه پرته يې بل هيڅ څه شئ نه ليدل کيږي، هو! مونږ په همداسې کلکه سزا باندې د مجرمانو قوم ته سزا ورکوو، يعنی دا ځکه چې عاديانو د خپل لوی څښتن الله حکمونو نه بغاوت او سرکښي وکړه!

[۲۶] او د عاد قوم خلکو ته مونږ په دنيا کې د واکمنۍ داسې امکانات او وسائل په لاس کې ورکړل چې هغه تاسې ته ای قر يشو مونږ ندي درکړي

او عادیانو ته مونږ غوږونه، سترګې او زړونه ورکړل، نو بیا دوی ته دغو غوږونو، سترګو او زړونو هیڅ ګټه ونه رسوله، ځکه عادیان د الله دلیلونو او لو یو قدرتونو نښو نه منکر ول، نو بیا پر دوی باندې هغه عذاب را ګرد سه چې دوی د هغه سپکاوئ کاؤ.

[۲۷] او ای د مکې خلکو! یقینا چې د ستاسې شاوخوا کلي [لکه د عاد او ثمود کلي] مونږ له منځه ئیوړل، او دوی ته مونږ ډول ډول دلیلونه بیان کړل، یعنی دا چې ترڅو دوی الله ته رجوع وکړي او د الله تعالی لور ته ور وګرځي، خو دوی د الله نصیحتونه نور وانوړ یدل، ترڅو هلاك سول!

[۲۸] نو بیا د دغو کلیو کافرانو سره ولې د دوی هغو خدایانو مرسته ونکړه چې دوی یې د الله نه پرته خدایان ونیول، او الله ته یې د قر بت او لنډیدلو لپاره وا سطه او سپارښتونکي وګرځول؟ بلکې بیا دغه ناحقه خدایان د اړتیا او د حاجت په وخت کې خپلو بنده ګانو نه ورک سول، او د کافرانو دا خبرې ټولې دروغ دي او هغه دوی د خپلو ګیډو نه را و یستلي او االله پسې بې په درغو تپلې دي، یعنی حقیقت نه لري او دا بتان هیڅ کله د دوی سپارښت الله تعالی ته کړلای نسي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د عاد او ثمود سرکښو قامونو د سرکښۍ یادونه د خپلو پیغمبرانو سره مونږ ته کړې ده، او بیا چې کله دوی د الله ټولو نعمتونو او پیرزوینو نه منکر سول الله تعالی ورته کلکه سزا ورکړه او هلاك یې کړل، ځکه دوی د الله تعالی نعمتونو شکر ونه ایست، او همداسې یې په خپل کبر باندې تینکار وکه، نو ښایي چې د دوی قصو نه ټول خلک عبرت وا خلي او د الله تعالی حکمونو ته تسلیم سي او عمل پرې وکړي.

{ پیریانو ایمان راوړ او خپل قوم یې د الله عذاب نه وګواښه }

او په ور پسې مبارکو آیتو کې پیغمبرﷺ ته الله تعالی د پیریانو ایمان راوړو قصه یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ

قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩ قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ إِنَّا سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٠ يَٰقَوۡمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُجِرۡكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ٣١ وَمَن لَّا يُجِبۡ دَاعِيَ ٱللَّهِ فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءُۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٣٢

[۲۹] ای پیغمبره! هغه وخت راپه یاد کړه، کله چې تا ته یؤ ډلکی پیریان مونږ را ولیږل، ترڅو د ستا نه قرآن واوري، نو بیا چې کله دا پیریان د رسول الله مجلس ته حاضر سول یو بل ته یې وو یل: غوږ و باسئ! نو بیا چې کله رسول الله د قرآن تلاوت او لوستل بس کړل، نو بیا پیریان بیرته خپل قوم ته وروګرځیدل او هغوی یې د الله سزا نه وګواښل، یعنی خپل قوم یې ایمان راوړو ته را و باله او ورته یې وو یل: که ایمان را نوړی، نو الله به کلکه سزا درکړي.

[۳۰] او دغو پیریانو [پر خپل قوم باندې غږ وکه او ورته یې] وو یل: ای د زمونږ خلکو! مونږ په یقین سره هغه کتاب واور یده چې د موسی نه وروسته را نازل سوئ دئ، او د هغه نه ورلاندې کتابونه تصدیقوي او هغه مني، او دا کتاب حق ته او سمې لارې ته لارښود کتاب (قرآن) دئ.

[۳۱] او ای د زمونږ قومه! تاسې د الله استازئ او پیغمبر ومنئ [یعنی ور باندې ایمان راوړئ] او بیا الله د ستاسې ګناه بښي او د دردونکي عذاب نه تاسې ساتي.

[۳۲] او هغه څوک چې د الله پیغمبر بلنې ته ځواب نه ورکوي او هغه نه مني او ایمان نه راوړي، نو بیا دئ د الله عذاب نه په ځمکه کې خلاصیدای نسي او نه ور باندې زورور کیدای سي، او د الله نه پرته نور څوک ملګري نه لري، او بیا به هغوی په ښکاره ورکتیا کې وي.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آیتونه پدې دلالت کړي چې د زمونږ پیغمبر محمدﷺ لکه څنګه چې انسانانو ته د الله استازئ را لیږل سوئ ؤ؛ همداسې پیریانو ته هم استازئ ؤ، او دوی یې پر الله باندې ایمان راوړو

ته راو بلل، ترڅو ايمان راوړي او د الله تعالى ســزا نه د قيامت په و رځ نجات بياموي، او د پيريانو ملاقات رسـول اللهﷺ سـره په هغه شـپه کي وســه، کله چې رســول اللهﷺ د طائف نه مايوس او خفه بيرته مکې ته د راتک په لار کې ؤ، او د دغې قصـې پوره بيان د الجن په مبارکه ســوره کې راغلئ دئ.

{د قيامت ورځې ر ښتينوالي باندې کلک دليلونه او نبۍ}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د قيامت ورځې پر حقانيت او ر ښتينوالي باندې کې شمير دليلونه او نبۍ يادې کړې او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡۦِيَ ٱلۡمَوۡتَىٰۚ بَلَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٣٣ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٤﴾

[٣٣] او آيا دغو کافرانو [چې دوی د قيامت په ورځ د مړو بيرته راژوندي کيدلو نه منکر دي] آيا دوی ونه ليدل او پدې پوه نســول چې يقينا الله هغه لوی ذات دئ چې ځمکه او اســمانونه يې پيدا کړل او د دغو لو يو مخلوقاتو پيدايښـت نه عاجز او بې وسـعې نسـه، نو آيا دا لوی رب نسـي کولای چې مړي بيرته را ژوندي کړي؟ هو! يقيناچې الله په هر څه باندې قادر دئ، يعنى د مړو بيرته را ژوندي کول الله ته اســانه دي، ځکه الله لوی قادر ذات دئ او هر څه چې وغواړي هغسې کړلای سي.

[٣٤] او په هغه ورځ چې کله کافرانو ته د دوزخ اور په آخرت کې ښودل کيږي [يعنى د دوی نه پوښتل کيږي] چې آيا دا عذاب حق او ر ښتيا ندئ؟ [نو بيا کافران وايې:] هو! زمونږ ده په لوی رب الله باندې لوړه او قسم وي چې هغه ر ښتيا او حق دئ [نو بيا ورته] و يل کيږي: اوس نو د خپل کفر عذاب وڅکئ.

{پیغمبر ته الله په کلک تصمیم باندې سپارښت کړئ دئ}

او په ور پسې مبارك آیت کې چې د الاحقاف مبارکې سورې وروستئ آیت دئ رسول اللهﷺ ته الله تعالی په صبر او کلک عزم باندې سپارښت کړئ دئ، او یقیناچې هغه ټولو دعاتو ته د صبر او کلک تصمیم لوی پیغام دئ ښایي چې تل پې ورته پام وي، او فرمایلي دي:

﴿فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا يُوعَدُونَ لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٣٥﴾

[۳۵] نو ته ای پیغمبره! صبر وکړه [او د کافرانو لاس نه ستونزې وزغمه] لکه څنګه چې د کلک تصمیم خاوندانو پیغمبرانو صبر وکه [یعنی د الله دین په رسولو کې پې خپلو ولسونو ته؛ ټولې ستونزې وزغملې، او ته ای پیغمبره!] خپل قوم ته د سزا په غوښتنه کې عجله او تلوار مکړه [یعنی دا چې هیله ده دوی ایمان راوړي او د الله عذاب نه د قیامت په ورځ نجات بیاموميِ، او ای پیغمبره! خپلو قوم ته ده دا خبر ورسوۀ] په کمه ورځ چې دوی هغه عذاب چې ورسره وعده سوئ دئ؛ په سترګو وو یې، نو بیا داسې ورته ښکاري، لکه دا چې دوی د دنیا په ژوند کې؛ یوازې یوه ګړۍ یا ساعت د ورځې تیره کړې ده! [یعنی د دنیا ژوند خوند اخستل ډیر ژر هیریدونوکئ دئ] او د الله په عذاب باندې یوازې هغه فاسقان هلاکیږي او له منځه ځي چې دوی د الله فرمان وړونه وتلي ول، او سرکښي پې کړې وه، یعنی ایمان پې نه ؤ راوړئ او حق ته نه ؤ تسلیم سوي.

ګرانو عز یزانو! د الاحقاف مبارکه سوره رسول الله ﷺ ته په صبر کړو او په ډاډ ګیرنه باندې پای ته رسیدلې ده، نو یقینا چې صبر پر سختۍ باندې هغه لو یه توښه ده چې سړئ خپل هدف او لوی مقصد ته رسوي، او هغه د لوړ همت او د کلکې ارادې او قوي عزم خاوندانو کار او خوی دئ، لکه د لوی تصمیم څښتن استازي اولوالعزم پیغمبران چې د دوی شمیر په راجح قول پنځه مشران پیغمبران دي (نوح، ابراهیم، موسی،

عیسی او محمد علیهم الصلاة والسلام) ځکه دوی د الله دین ته د دعوت په اوږده مزله کې ډیر کړاوونه ګالي دي، نو ښـــایي چې د پیغمبرانو په لار روان ټول اســـلام ته رابلونکي علماء او دعات په دغـــې پیغمبرانه خوی باندې ځانونه وروزي، او په کلک عزم، ټینګه اراده، او قوي تصمیم او په پاخه صبر د الله دین خلکو ته ورسوي او دوی ور باندې وروزي.

والحمد لله رب العالمين وصـلى الله وسـلم على رسـوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...

د محمد سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د محمد سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدو نه}

الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وأصحابه وعلى من والاه وبعد:

درندو دوستانو! د محمد مبارکه سوره چې د قتال او جګړې سورې په نامه هم نومول سوې ده؛ مدني سوره ده، او مونږ ته پکې الله تعالی د خپل استازي (محمد رسول الله ﷺ) لوړ شخصیت او د هغه ځانګړې غوره خو یونه یاد کړي او بیان کړي دي، لکه د مظلوم نه دفاع او د ظالم نه د هغه حق اخستل، او د سرکښو خلکو پر وړاندې قاطع او پر یکنده موقف یا در یځ غوره کول، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالی مومنان د رسول الله ﷺ اطاعت او فرمان وړو ته کلک رابللي دي، او په ځانګړې ډول د یرغلګر دښمن پر وړاندې مقاومت او فرضي جهاد ته چې هغه یقینا د الله په لار کې سرښندنه غواړي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ او ملګري مومنان پې د مهاجر ینو او انصارو نه؛ څو ځله د مکې کافرانو مسلح فوځي یرغل او ښیکلاک لاندې راغلل، خو رسول الله ﷺ او ملګرویې کلک مقاومت وکه او ښکیلاک کونکي؛ مختورن بیرته خپلو اډو ته په شا سول، او خپلو شومو مقاصدو او موخو ته ونه رسیدل، ترڅو چې په وروستي ځل کې د عر بانو ټول مشرکان په ملتیا د مدینې منورې منافقانو او یهودو په ملګرتیا؛ د احزابو لوی ښکیلاکګر لښکر جوړکه او پر پیغمبر ﷺ او مومنانو باندې یې یرغلګر بر ید وکه، خو الله تعالی د احزابو یا د خندق په جګړه کې مشرکان مختورن بیرته په تیښته خپلو باندو او مکې ته سرکوزي وروګرځول، او همدارنګه الله تعالی پدې

مباركه

سوره کې منافقان او اسلام نه بېرته اوښتي مرتدان؛ کلک رسوا کړي او غندلي دي.

ګرانو عز يزانو! د يادونې وړ ده چې د اسلام لوی پيغمبر او د الله تعالى وروستئ استازئ محمد بن عبدالله الهاشمي القر يشي ﷺ په خپل نامه په ټول قرآن کې څلور ځله ياد سوئ دئ، لمړئ ځل د آل عمران سورې په (١٤٤) مبارك آيت کې، او بيا د الاحزاب سورې په (٤٠) مبارك آيت کې، او بيا دلته د محمد يا د القتال په مبارکې سورې کې، او وروسته د الفتح سورې په (٢٩) مبارك آيت کې، او په نور ټول قرآن کې د نبي، رسول، او بنده په القابو سره ياد سوئ او ستايل سوئ دئ، او د محمد مبارکې سورې په پيل کې د کافرانو کړنې الله تعالى ورکې سوې اعلان کړي دي، او مومنانو ته يې ز يرئ ورکړئ دئ چې د مومنانو ايمان او ښو کړنو د دوی بدې کړنې لمنځه وړې او محوه کړې دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

{د مومنانو او کافرانو په منځ کې د بيلتون نښې ځلانده دي}

﴿ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ أَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ١ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَءَامَنُواْ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٖ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡ كَفَّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَأَصۡلَحَ بَالَهُمۡ ٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡحَقَّ مِن رَّبِّهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمۡثَٰلَهُمۡ ٣﴾

[١] هو! هغه کسان چې کافران سول او خلک يې د الله لارې نه چې اسلام دئ منعې کړل؛ الله د دوی کړنې ورکې کړې، يعنى د حق دښمنان خپلو مقصدونو ته ونه رسيدل او دوی الله تعالى مختورن او رسوا کړل!

[٢] او هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل، او په هغه کتاب (قرآن) يې ايمان راوړ چې هغه پر محمد باندې رانازل سوئ دئ؛ هغه د مومنانو رب الله لخوا د حق پيغام دئ؛ او الله د دوی ګناه وې تويې او پټې کړې او دوی يې نيکړغه، سرلوړي او ښاد کړل.

[٣] او دا څکه هغه کسان چې کافران سول؛ دوی باطل او ناروا پسې لاړل او څوک چې مومنان سول؛ دوی خپل څښتن الله نه ورته راغلي حق پسې لاړل [یعنی حق یې په یقین سره ومانه] او الله همداسې خلکو ته بیلکې بیانوي، یعنی ترڅو ورڅخه پند او عبرت وا خلي.

{مومنانو ته کافرانو سره په جګړو کې د الله سپارښتنې}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنانو ته الله تعالی د کافرانو سره د جګړې او د جهاد په ډګر کې ډیرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرۡبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثۡخَنتُمُوهُمۡ فَشُدُّواْ ٱلۡوَثَاقَ فَإِمَّا مَنَّۢا بَعۡدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلۡحَرۡبُ أَوۡزَارَهَاۚ ذَٰلِكَ وَلَوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَاْ بَعۡضَكُم بِبَعۡضٖۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٤ سَيَهۡدِيهِمۡ وَيُصۡلِحُ بَالَهُمۡ ٥ وَيُدۡخِلُهُمُ ٱلۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمۡ ٦﴾

[٤-٦] نو ای مومنانو! کله چې د کافرانو سره[د جګړې په ډکرکې] یوځای او مخامخ سوی، نو ورمیړونه یې په تورو والوځوی [یعنی ترڅو د دوی ځواک مات کړی] او ښه ډیر کسان ورڅخه مړه کړی، او بیا د کافرانو نه برمته نیول سوي کسان؛ کلک وټړی [یعنی بندیان یې کړی] او بیا وروسته دغه برمته سوي جګړه مار کسان د دوی سره په احسان کړو خوسې کړی او یا ورڅخه فدیه یا جرمانه واخلی[یعنی برمته سوو جګړه مارو کسانو نه مال او دولت؛ واخلی او خوسې یې کړی، او د دښمن سره په جګړه کې په دغسې کړنه او چلند باندې ټینګ سی] ترڅو جنګ او جګړه ودر یږي او دښمن مات سي، او دغسې چلند په جګړه کې د تیري کونکي کافر دښمن سره مومنانو ته لوی ازمایښت ؤ، کنه نو که الله غوښتي وای د کافرانو نه بې د مومنان انتقام او غچ پرته له جګړې اخستئ ؤ، خو الله غواړي چې د ستاسې نه ای مومنانو! ځینې کسان پر ځینو نورو باندې وازمایي، او هغه کسان چې د مومنانو نه په جګړه کې مړه

ســول؛ د دوی نبــي کړي نه ضــائع کيږي، او دوی به الله ســمې لارې ته هدايت کړي او نيکمرغه بې کړي او الله به دوی هغه جنت ته ورننه باسي چې هغه يې دوی ته مخکې ور پيژندلې ؤ، يعنی دا جنت يې مومنانو ته تل پاتې کور او مينه خوښه کړې وه.

قدرمنو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې خپل روښــانه نظام او تګ لاره د کافرانو سره مونږ ته په نښه کړې او بيان کړي ده، او بيايې مومنانو ته د يرغلګر کافر دښــمن ســره د جګړې په ډګرکې؛ ډير قاطع او پر يکنده سپارښت او لارښودنه کړې ده، ترڅو حق د الله تعالی په مرسته بر يا ته ورسيږي او د باطل کبرجن کينه کښ لښکر چې د حق پر پلو يانويې تيرې کړې دې؛ مات او مختورن ســي او مومنان په ډاډ او پوره اطمئنان سره د الله تعالی عبادت او بنده کي وکړي.

{مومنانو ته د بر يا ز يرې او کافرانو ته د تور برخليک ګوابنې}

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته د نصرت او د بر يا ز يرې ورکړې دې، او کافران يې په تور برخليک باندې کلک ګوابنلي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ٧ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٨ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٩ * أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۖ وَلِلۡكَٰفِرِينَ أَمۡثَٰلُهَا ١٠ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَأَنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ لَا مَوۡلَىٰ لَهُمۡ ١١ إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأۡكُلُونَ كَمَا تَأۡكُلُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ وَٱلنَّارُ مَثۡوٗى لَّهُمۡ ١٢ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةٗ مِّن قَرۡيَتِكَ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَتۡكَ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ فَلَا نَاصِرَ لَهُمۡ ١٣ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ

وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡ ﴿١٤﴾ مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ فِيهَآ أَنۡهَٰرٞ مِّن مَّآءٍ غَيۡرِ ءَاسِنٖ وَأَنۡهَٰرٞ مِّن لَّبَنٖ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهُۥ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ خَمۡرٖ لَّذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ عَسَلٖ مُّصَفّٗىۖ وَلَهُمۡ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡۖ كَمَنۡ هُوَ خَٰلِدٞ فِي ٱلنَّارِ وَسُقُواْ مَآءً حَمِيمٗا فَقَطَّعَ أَمۡعَآءَهُمۡ ﴿١٥﴾

[۷] ای مومنانو! که تاسې د الله نصرت او مرسته وغواړی، نو الله به مرسته درکړي او د ستاسې پښې به د جګړې په ډګرکې کلکې کړي.

[۸-۹] او هغه کسان چې کافران سول، نو دوی ته ده هلاکت او تباهي وي، او د دوی د ښو کړنو ثواب نور ورک او ضائع سه، او دا ځکه چې دوی د الله نه را نازل سوي کتاب (قرآن) نه کرکه وښودله [یعنی قرآن یې ونه مانه] نو بیا الله د دوی ټولې کړنې او ثوابونه ضائع کړل او لمنځه لاړل.

نو ګرانو دوستانو! دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته په خپل ایمان باندې ثبات او ټینګار راکړی، او د تور برخلیک نه ده الله مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

[۱۰-۱۱] او دغه کافران [چې دوی پر الله باندې د ایمان راوړو نه سرکښي وکړه] آیا دوی پر ځمکه سیلانیان؛ نه ګرځي؟ ترڅو وو یني چې د دوی نه مخکې امتونو یا ولسونو راتلونکې څنګه وه؟ هوا! پر هغو سرکښو ولسونو باندې الله د دوی کلي او کورونه را ړنګ کړل، او ټولو کافرانو ته د هغوی غوندې سزا ورکول کیږي، او دا ځکه چې الله یقینا د مومنانو ملګرئ او مل دئ، او کافران هیڅ څوک ملګري او مرستندوی نه لري.

[۱۲] هوا! یقینا هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه یې وکړل؛ دوی الله داسې جنتونو او بڼونو ته ورننه باسي چې د او بو و یالې پکې بهیږي، او هغه کسان چې کافران سول؛ دوی د دنیا متاع نه خوند ا خلي او د څارو یو غوندې خواړه خوري [او بیا په آخرت کې] د هغوی ځای د دوزخ اور دئ، یعنی نو ګرانو دوستانو! دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د دغسې تورې راتلونکې نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

[۱۳] ای پیغمبره! څومره پخواني کلي د ستا کلي (مکې) نه چې ته د هغې اوسیدونکو د خپل کلي نه وایستلي او هجرت ته یې اړ کړې؛ ډیر کلک او ځواکمن ول؟ او دوی مونږ هلاك کړل او هیڅ څوک د دوی مرستندوی نه ول، یعنی دا چې ته ای پیغمبره! ډاډه اوسه چې الله تعالی به د ستا قوم ظالم سرکښان هم هلاك کړي او له منځه یې یوسي، ځکه دا د الله تعالی تل پاتې سنت او نظام دئ چې ظالمان زندوي، خو نې پر یږدي، او نه ورځخه غفلت کړي، او د مظلوم غچ ورځخه خاماخا اخلي!

[۱٤] آیا هغه څوک چې د هغه سره د خپل رب روښانه حجت او دلیل وي، آیا هغه، لکه د هغه چا غوندي دئ چې ورته خپل بد عمل ښکلئ او ښایسته سه، او بیا هغه خپلو هوسونو پسې لاړل؟ [ځواب دا چې دا دواړه چې یو مومن او بل کافر دئ؛ هیڅ کله سره برابر ندي، یعنی مومن ته الله ثواب ورکوي او جنت ته یې بیایي او د کافر سزا چې د الله حکم نه سرکښي ؤ؛ د دوزخ کړونکئ سور اور دئ!

او په ور پسې مبارك آیت کې جنتیانو ته الله تعالی د لو یو نعمتونو ز یرئ ورکړئ دئ، او دوزخیانو ته یې د سزا کوابښ کړئ دئ، فرمایلې دي:

[۱۵] او هغه جنت چې متقیانو سره د هغه وعده سوې ده؛ داسې باغ یا بڼ دئ چې پکې د نوو پاکو او بو و یالې بهیږي او پکې د هغو شودو و یالې دي چې خوندیې ندئ بدل سوئ، او هم پکې خوندور شراب د څکونکو لپاره سته او هم پکې د چڼ سوو شاتو و یالي بهیږي، او دغو جنتیانو ته پکې ټولې میوې دي او دوی ته د دوی رب لخوا بښنه ده [یعنی نو آیا هغه څوک چې په دغسې جنت کې دئ] هغه لکه هغه دوزخي دئ چې تل د دوزخ په اورکې کړ یږي، او داسې سړې سوې ایشیدلې او به ورځکل کیږي چې کُلمې یې پر یکوي؟ ځواب دا چې دا دواړه هیڅ کله سره برابر ندي، یعنی مومن او کافر سره برابر ندي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د مومنانو او کافرانو راتلونکې روښانه تصو یر د قیامت په ورځ د زمونږ مخې ته ایښئ

دئ، ترڅو ورڅخه کتې واخلو او په ایمان او ښه عمل سره جنت وګټو او د دوزخ عذاب نه مونږ الله په خپل رحمت سره وساتي.

{د مومنانو پرتله منافقانو سره او کلک ګواښونه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنان الله تعالی د منافقانوسره پر تله کړي دي، او بیایې منافقانو ته په ګواښ سره د دوی د تور برخلیک په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُوا۟ مِنْ عِندِكَ قَالُوا۟ لِلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَهْوَآءَهُمْ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟ زَادَهُمْ هُدًى وَءَاتَىٰهُمْ تَقْوَىٰهُمْ ﴿١٧﴾ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً ۖ فَقَدْ جَآءَ أَشْرَاطُهَا ۚ فَأَنَّىٰ لَهُمْ إِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرَىٰهُمْ ﴿١٨﴾ فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَىٰكُمْ ﴿١٩﴾﴾

[۱۶] او د کافرانو بله ډله هغه منافقان دي چې تا ته ای پیغمبره! غوږ باسي [خو د ستا په خبرو ځان نه پوه کوي] نو بیا چې کله د ستا مجلس نه ووځي د هغو کسانو نه چې پوهه ورکړل سوی ده؛ پوښتي چې دا اوس لږ وړاندې محمد څه وو یل؟ هو! منافقان هغه کسان دي چې زړونه یې الله ټاپه کړي دي [یعنی مهر یا ټاپه یې د دوی په زړونو باندې وهلې ده] او دوی خپل هوس پسې اخستي دي، یعنی دغه منافقان چې په خوله ځانونه مسلمانان بولي، خو په زړونوکې کافران دي؛ دوی الله تعالی د کتاب آیتونو اور یدلو لائق ندي ګرځولي، نو ځکه د رسول الله ﷺ په خبرو چې د الله کتاب قرآن آیتونه یې دوی ته لوستل؛ نه پوهیدل، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د منافقانو غوندي ناپوهۍ نه په خپل فضل سره وساتي.

[۱۷] او هغه کسان چې سمې لارې ته هدایت سول [یعنی ایمان یې راوړ] د دوی سمیدل پر حق باندې الله لا ډیر کلک کړل او دوی ته یې تقوا ورکړه، یعنی دا چې ترڅو خپل ځانونه د عذاب نه کلک وساتي.

[۱۸] نو آیا منافقان د قیامت ورځې راتګ ته په انتظار کې دي، ترڅو ناڅاپه دوی ته راسي؟ او یقینا چې د قیامت راتګ نښې مخکې راغلې، نو کله چې د قیامت ورځې ور یادونکې نښې منافقانو ته راغلې، نو بیا دوی چیرته ول؟ یعنی ولې دوی ورڅخه ګټه وانخسته، نو بیا چې کله قیامت راسي څنګه به دوی ورڅخه ګټه واخلي، ځکه هرکله چې قیامت راسي نور نو فرصتونه د لاسه وتلي وي او پښیماني ګټه نلري!

ګرانو عز یزانوا! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې هغو کافرانو او منافقانو ته ګواښ کړي دئ چې دوی په ډول ډول پلمو سره همداسې په خپل کفر او نفاق کې پاتې دي، او د الله تعالی حکمونو منلو نه سرکښي کړي او د زړه نه ایمان نه راوړي، لکه د نن ورځې ملحدین او سیکولاران چې په خوله ځانونه مسلمانان بولي، خو په زړونوکې[نعوذ بالله] کافران دي او سمه لارې ورکه کړې ده .

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته پر خپل توحید باندې ټینګار کړئ دئ او ورته یې سپارښت کړئ دئ چې مومنانو ته د الله نه ښښنه وغواړي، او فرمایلي دي:

[۱۹] نو ته ای پیغمبره! په یقین سره پوه سه چې د الله نه پرته بل پرحق سره معبود نسته او ته د خپلې ګناه نه ښښنه وغواړه، او هم ټولو نار ینو او ښځو مومنانو ته ښښنه وغواړه [یعنی ورته ووایه چې تاسې پدې پوه سی] چې د ستاسې په حال باندې چې شپه او ورځ پکې اوړی را اوړی او پکې ځای پرځای کیږی [یعنی دمه پکې کړی] الله پوهیږي، یعنی د الله تعالی نه د مخلوقاتو هیڅ څه شئ او هیڅ حالت پټ ندئ!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې رسول اللهﷺ ته سپارښت کړئ دئ چې د خپل رب الله په عبادت او بنده ګی کې همداسې کلک ودر یږي، او د کافرانو دښمنۍ پروا ونکړي، ځکه یقیناچې الله په حق سره یوازنئ مستحق معبود دئ، او د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته، او همدارنګه الله تعالی رسول اللهﷺ ته سپارښت کړئ

دئ چې تل د الله تعالی نه وغواړي چې د ګناه نه يې وساتي، او که کله کمه وړه تيروتنه ورڅخه سوې وي؛ د هغې نه ده هم بښنه وغواړي، او مومنانو ته ده هم استغفار او بښنه وغواړي، او دا سپارښت يقيناچې د رسول الله ﷺ د علم او دعوت وارثانو ته تل پاتې ميراث دئ، نو ښايي چې علماء او دين ته رابلونکي دعات؛ تل د الله تعالی نه په استغفار او د بښنې په غوښتنه کې ورلاندې وي، او خلکو ته لارښود وي، او خپل ځانونه ده د هر ډول ګناه او شرعي مخالفتونو نه کلک وساتي، لکه څنګه چې روايت سوئ دئ رسول الله ﷺ به هره ورځ او يا ځله استغفار کا ؤ.

{د منافقانو و يره جهاد نه او پټ نيتونه يې الله رسوا کړي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د ځينې هغو په نامه مومنانو د جهاد غوښتنې هيلو ته اشاره کړې ده چې کله به دوی د الله تعالی نه غوښتل چې يوه داسې سوره ده پر رسول الله ﷺ باندې رانازله کړي چې دوی جهاد ته راو بولي، خو کله چې بيا دا سوره را نازل سوه، نو دوی د مرګ واهمې او کلکې و يرې په سر واخستل، نو بيا منافقان الله تعالی فرمان وړو ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡلَا نُزِّلَتۡ سُورَةٞۖ فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ مُّحۡكَمَةٞ وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٠ طَاعَةٞ وَقَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞۚ فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ ٢١ فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ٢٢ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فَأَصَمَّهُمۡ وَأَعۡمَىٰٓ أَبۡصَٰرَهُمۡ ٢٣ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ أَمۡ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقۡفَالُهَآ ٢٤﴾

[۲۰-۲۱] او هغو کسانو چې ايمان راوړ وايي: ولې يوه داسې سوره را نازله نسوه [يعنی چې پکې مونږ ته د کافرانو سره جهاد حکم سوئ

وای؟] نو بیا چې کله یوه دغسې محکمه سوره را نازله سؤ چې پکې د دښمن سره جګړه یاده سوې ده [یعنی په جهاد باندې امر سوئ دئ] نو بیا تا ای پیغمبره! هغه کسان چې زړونه یې ناروغ ول؛ ولیدل چې تا ته د هغه چا غوندې ګوري، لکه چې د مرګ کلکې و یرې نه بې اوښه سوي وي، نو د الله اطاعت او فرمان وړل او ښه خبره دغو کسانو ته [چې دوی د زړونو په ناروغۍ اخته دي] ډیره غوره او ښه وه، او بیا چې کله [د دښمن سره د جګړې تصمیم ونیول سه] نو دوی ته دا ښه وه، چې د الله حکم تصدیق یې کړئ وای، یعنی د جهاد فرضیدو ته یې غاړه ایښې وای، خو دوی د وژل کیدو و یرې په سر واخستل او کلک نا قراره او اندیښمن سول، او د مومنانو په منځ کې یې هم د و یرې خورولو هڅه وکړه.

درندو عز یزانز! په دغو مبارکو آیتونوکې د ځینې په نامه مومنانو هیلې د دښمن سره د مسلح جهاد او جګړې په باره کې؛ الله تعالی یادې کړې دي، خو بیا چې کله جهاد فرض سه، نو دا منافقان ډیر ورخطا سول او سترګې یې د ډیرې و یرې نه ړدې راوختلې، حال دا چې؛ دوی ته ښاییدل د الله تعالی اطاعت یې کړئ وای، او د الله فرض سوي حکم سره سم یې خبرې کړې وای، نه دا چې واو یلایې وکړه او سترګې یې د مړو غوندې ړدې راوختلې، هو! دا خوی په هر وخت او عصر او هرځای کې د ټولو منافقانو ګډ خوی دئ، او دوی تل دوه مخه چلند کړي، د خطر او ګوابښ نه ډیر کلک و یر یږي، او د چیغو یا بغارو ډنډورې یې هرې خوا خور یږي، او یقینا چې دا خوی د ر یښتینو مومنانو خوی ندئ، نو پدې خوی سره هر منافق او په نامه مسلمان د مخلص مومن نه ډیر ښکاره بیلیږي!

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی همداسې د منافقانو نور خو یونه غندلي دي، او فرمایلي دي:

[۲۲] نو که تاسې ای منافقانو! د الله حکم نه مخ واړا ؤ بیا به تاسې په ځمکه کې ورانئ کړئ وي، او د خپلوانو سره اړ یکې به تاسې پر یکړې وي، یعنی که چیرې مسلمانان د الله حکم نه د دښمن سره په جهاد کې سرغړونه وکړي، نو بیا به دوی د دښمن په څنګ کې ولاړ وي او د خپلو

مومنو خپلوانو ســره به جنګيږي، او د خپلوی ټولې اړ يکې به پر يکوي، لکه څنګه چې يې ژوندی بيلګې دا اوس (۲۰۲۰ او ۲۰۲۱م کال کې) په ډيرو اسلامي هيوادونو کې و ينو چې د يرغلګر دښمن پر وړاندې ولسونه ټوټه ســوي دي، ځينې د يرغل ملګري دي، او ځينو د مقاومت خوا غوره کړې ده او جهاد کړي، او د بده مرغه ر يښتينۍ عامل يې همدا فکري بيلتونونه دي چې ډير مسلمانان ورسره مخامخ دي، او د سمې لارې نه ورک دي!

[۲۳] او منافقان هغه کســان ول چې الله د خپل رحمت نه وشــړل او کانه يې کړل او ســترکې يې ړندې کړې، يعنی دغه منافقان نه حق اوري او نه هغه و يني.

نو قدرمنو دوســتانو! د دغــې تور مخ نه الله تعالی ته پناه وړو او نعوذ بالله د دغسې بد حالت او د تور برخليک نه!

[۲٤] نو آيا دغه منافقان د قرآن په آيتونو کې [يعنی د قرآن په ډيرو تاثيرناکه خبرو کې ښه فکر نکړي؟] او يا دا چې د هغوی زړونه قلف سوي ترلې دي، نو ځکه د حق پيغام د دوی زړونو ته نه ورننوځي!

{د منافقانو او مرتدانو بد حالت نبۍ د مړ ينې په وخت کې}

او بيا مونږ ته الله تعالی په ور پســې مبارکو آيتونو کې د منافقانو او مرتدانو د کرکجن حالت نبــي د مړ ينې په وخت کې يادې کړې دي، ترڅو ورڅخه پند واخلو او هيڅکله غافل او بې پروا نسو، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَى ٱلشَّيۡطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمۡ وَأَمۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لِلَّذِينَ كَرِهُواْ مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ سَنُطِيعُكُمۡ فِي بَعۡضِ ٱلۡأَمۡرِۖ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِسۡرَارَهُمۡ ٢٦ فَكَيۡفَ إِذَا تَوَفَّتۡهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ ٢٧ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱتَّبَعُواْ مَآ أَسۡخَطَ ٱللَّهَ وَكَرِهُواْ رِضۡوَٰنَهُۥ فَأَحۡبَطَ

أَعۡمَٰلَهُمۡ ٢٨ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخۡرِجَ ٱللَّهُ أَضۡغَٰنَهُمۡ ٢٩ وَلَوۡ نَشَآءُ لَأَرَيۡنَٰكَهُمۡ فَلَعَرَفۡتَهُم بِسِيمَٰهُمۡۚ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِي لَحۡنِ ٱلۡقَوۡلِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٠ وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ حَتَّىٰ نَعۡلَمَ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ مِنكُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَنَبۡلُوَاْ أَخۡبَارَكُمۡ ٣١

[۲۵-۲۶] هو! یقینا هغو کسانو ته [چې د حق لار روښانه سوه] خو بیا دوی ورڅخه بیرته په شا واوښتل او مرتدان سول؛ دوی ته شیطان د دوی بد کړل ښکلي او ښایسته کړل [یعنی لاریې ورته اواره کړه او د بدو کړنو او د کفر نه خوند اخستلو ته یې] طمعه او هیله ورته اوږده کړه، او دا ځکه چې[یعنی دغو منافقانو هغو کافرانو ته چې د الله نه رانازل سوي کتاب قرآن سره یې کرکه درلوده] په کلکه سره وو یل چې مونږ به د ستاسې ځینې خبرې ومنو [یعنی د الله حکمونه به د پښولاندې کړو او تاسې پسې به لاړسو] خو الله د دغو منافقانو په پټو مقصدونو او غرضونو باندې پوهیږي، یعنی نو بیا به کلک حساب ورسره وکړي.

[۲۷-۲۸] او کله چې د ساه اخستلو ملائکې د دغو منافقانو برخه په ژوند کې ور پوره کړي [یعنی غواړي چې ساه ورڅخه وا خلي او روح یې قبض کړي، نو بیا به د دوی حال] څنګه وي؟ دوی به خپل مخونه او کوناټې وهي [یعنی پښیماني به کړي، خو دغه پښیماني نوره ګټه نه لري] ځکه دوی یقینا هغه څه پسې لاړل چې الله یې کلک په غوصه که[یعنی کافران او مرتد سول] او د الله اطاعت او خوښۍ نه یې کړکه وښودله، او ایمان او ښه عمل یې پر ښود [یعنی نو بیا الله تعالی د دغو منافقانو ټول پخواني] عملونه او کړنې ناچله او ضائع کړې.

[۲۹] او آیا هغو کسانو چې په زړونو کې یې د نفاق ناروغي ده؛ ګمان وکه چې الله به د دوی د زړونو کینې [یعنی د اسلام او مسلمانانو سره دښمني] را ونه باسي [یعنی هغه به رسوا نکړي؟ ځواب دا چې: نا! داسې ګمان سم ندئ، او الله خامخا ر ښتونکئ مومن د دروغژن منافق نه

بيلوي او دروغژن رسوا کوي، لکه څنګه چې يې په بيلګو تار يخ ډک دي.

[٣٠] ای پيغمبره! او که مونږ غوښتي وای، نو منافقان به مونږ تا ته درښودلي ول، او بيا به تا دوی په څيرو او د خبرو نه پيژندلي ول، خو اوس به ته منافقان د دوی د خبرونه و پيژنې [ځکه هغه د دوی د پټو غرضونو او شومو مقصدونو څرګندوی دي] او ای خلکو! د ستاسې پر ټولو کړنو باندې الله پوهيږي، يعنی هيڅ څه شئ د الله نه پټ ندي او بيا به الله تعالی هر چا ته د هغه ښه او بد عمل ثواب او سزا په آخرت کې ورکړي.

[٣١] او ای مومنانو! مونږ به تاسې ښه وازمايو، ترڅو د ستاسې نه هغه څوک چې د الله په لارکې صبر کړي ښه و پيژندل سي او د ستاسې ټول حال به ښه وازمايو، يعنی بيا به صادق د کاذب نه ښه بيل سي او معلوم به سي چې څوک په ر ښتيا سره مومن دئ او څوک دروغژن دئ؟ لکه منافقان چې په دروغويې ځانونه د مومنانو سره ګډ کړي ول.

ګرانو دوستانو! په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالی منافقان ډير کلک ګوابلي دي، ځکه دوی د الله تعالی مبارك کتاب قرآن لارښودونو او سپارښتونو ته غوږونه ونه نيول او هغه د دوی زړونو ته ور دننه نسول، او په اخلاص سره يې ايمان رانوړ، ترڅو چې بيا همداسې مختورن سول او مومنان پر دوی باندې زورور سول او د منافقانو ټول چلونه او توطئې الله تعالی شندې کړي،او همدارنګه د منافقانو په اړه دا يادونه هم دلته د پام وړ ده چې الله تعالی د منافق خبرې هم د هغه نفاق نښه ګرځولې ده، نه يوازې د هغه څيره، ځکه څيرې بدليږي را بدليږي، خو خبرې تل پاتي معيار دئ چې منافقان ور باندې د مومنانو نه بيليږي او ښه ور باندې پيژندل کيږي، ترڅو هوښياران وربانديې ونه غوليږي.

{د کافرانو کړنې الله شنډوي او مومنانو ته ز يان رسولای نسي}

او په ور پسې مبارك آيت کې مومنانو ته الله تعالی د کافرانو د شر نه د ساتنې ډاډ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَشَآقُّواْ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَسَيُحۡبِطُ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٣٢﴾

[۳۲] او یقینا هغه کسان چې د حق لارې رونټیا نه وروسته بیا هم کافران سول او نور خلک یې هم د الله په حق لار باندې د تګ نه منع کړل، او د الله پیغمبر سره یې دښمني وکړه؛ دا کسان الله ته هیڅ زیان او تاون رسولای نسي، او الله به د دوی ټولې کړنې له منځه یوسي، یعنی د دوی ټولې ښې کړنې به ضائع سي او هیڅ ګټه به دوی ته ونه رسوي.

قدرمنو دوستانو! ښایي یوځل بیا دا حقیقت روښانه سي چې په پورتنیو ټولو مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ د منافقانو بدو کړنو او د اسلام نه بیرته وتلو د اسبابو او عواملو نه خبر کړي یو او د منافقانو ملګرتیایې د کافرانو سره کلکه غندلې ده، او بیا الله تعالی منافقان د مرګ ورځې پښیمانۍ باندې ننګولي دي، او رسول اللهﷺ ته الله تعالی ډاډ ورکړئ دئ چې منافقان به ته د دوی د خبرو نه و پیژنې، ترڅو ورسره د هغوی لائق چلن وکړې،او همدارنګه الله تعالی مومنان د خپل ازمایښت مقصدونو نه خبر کړي دي، ترڅو دوی په کلک ایمان او په پاخه تصمیم دښمن سره د جګړې په ډګرکې کلک ودر یږي، او خپل استقامت او ثبات د لاسه ورنکړي، او بیا الله تعالی خپله استغناء د کافرانو نه اعلان کړي ده، او هغه دا چې کافران په خپل کفر او د الله تعالی دین نه د خلکو په منع کولو سره الله ته هیڅ ډول تاوان رسولای نسي، او د دوی د بدو کړنو تاوان او ز یان خپله دوی ته رسیږي او د دوی عملونه الله باطلوي او له منځه یې وړي!

{د الله اطاعت فرض دئ او دښمن ته ګونډه وهل حرام دي}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې د محمد سورې وروستیو آیتونونه دي مومنانو ته الله تعالی حکم کړئ دئ چې د الله او د رسول اللهﷺ اطاعت وکړي او ور باندې ټینګ سي او د نفاق نه او دښمن ته د تسلیمدو نه ځانونه کلک وساتي، او فرمایلي دي:

﴿۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡ ٣٤ فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٥﴾

[٣٣] ای مومنانو! د الله او د پیغمبر اطاعت وکړی [یعنی حکمونو ته یې غاړه کیږدی او هغه ومنی] او خپل ښه کړل [په ګناه کړو سره] له منځه مه وړی او هغه مه باطلوی.

[٣٤] او هغه کسان چې کافران سول او خلک یې د الله لارې نه منعې کړل، او بیا په داسې حال کې مړه سول چې دوی همداسې کافران ول، نو دوی الله هیڅ کله نه بښي، یعنی الله تعالی به دغو کافرانو ته د قیامت په ورځ کلکه سزا ورکړي او ښه بې رسوا کړي.

[٣٥] نو ای مومنانو! تاسې [د کافرانو سره په مخامخ جګړه کې] مه سستیږی [یعنی دښمن ته د تسلی سپین بیرغونه مه جګوی] ځکه تاسې په دښمن باندې لوړ او برلاسي یاستی، او الله ستاسې سره دئ او هیڅکله الله ستاسې د ښو کړنو ثواب نه ورکوي او پکې هیڅ کمښت نه راولي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مومنانوته د الله تعالی او د پیغمبرﷺ په اطاعت او فرمان وړو باندې کلک سپارښت کړئ دئ، او کافران یې د بدې راتلونکې نه ښه ګواښلي دي، او مومنان یې د دښمن سره په جګړه کې ثبات او استقامت ته رابللي دي، او د هر ډول ستړیا او د بې وسۍ احساس نه یې کلک و یرولي دي، او ډاډې ورکړئ دئ چې دوی په دښمن باندې برلاسي دي، او الله د دوی مرستندوی او مل دئ، نو دوی هیڅ کله نه خواروي، او یقینا چې کلک ایمان، غښتلې اراده او پر الله توکل او پوخ باور د الله تعالی نصرت او مرستې لپاره دښمن سره په جګړه کې؛ د بر یا او د فتحې لوی او اړین شرط دئ.

نو دعاء کړو چې الله تعالى مونږ ته په خپل ایمان باندې ثبات او استقامت را کړي او د هر ډول ردت نه ده الله تعالى مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي... اللهم آمين يارب العالمين!

{د دنيا ژوند د خوند اخستلو متاع او مالي جهاد لو يه تقوا ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د دنيا ژوند خوسې د خوند اخستلو تيريدونکي متاع بللې ده او مومنانو ته يې په تقوا او د الله تعالى په لار کې په مالي جهاد باندې سپارښت کړئ دئ، او د الله تعالى دين نه بيرته اوښتلو او ردت نه يې کلک کوابلي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ أَمْوَٰلَكُمْ ﴿٣٦﴾ إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكْكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَٰنَكُمْ ﴿٣٧﴾ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ ٱلْغَنِىُّ وَأَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ ۚ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا۟ أَمْثَٰلَكُم ﴿٣٨﴾﴾

[٣٦-٣٧] هو! يقينا چې د دنيا ژوند خوسې لوبې او بنډارونه او ميلې دي، نو که تاسې ای خلکو! ايمان راوړئ او د الله نه وو يرئ [يعنى د الله تعالى په فرمان وړو سره خپل ځانونه] د عذاب نه وساتئ، نو بيا تاسې ته د خپلو ښو کړنو ثواب او مزدوري درکول کيږي، او د ستاسې نه الله د ايمان راوړو په عوض کې څه مال او دولت نه غواړي، ځکه که مال او دولت د ستاسې نه وغواړي، نو بيا به تاسې خوار کړي او بخيلي به وکړئ، او د ستاسې د زړونو کينې به را و باسي [يعنى د خلکو نه د دوی مال او دولت غوښتنه] دوی د فقر او د ولږې و يرې سره مخامخ کوي، او په زړونوکې يې د اسلام سره کينې را پاروي، يعنى د اسلامي ټولنې واکمنانو ته روا نده چې د زکات نه پرته نور مال او دولت د ولس نه واخلي، ځکه يوازې د زکات را ټولول او اخستل ورته بس دي، خو د يادونې وړ ده چې په اوسنې ښاري ژوند کې ځانګړي ماليات په ښار يانو ايښودل سوي دی، او

هغه ځکه اړ ين دي چې ترڅو خلکو ته د ښاري ژوند مناسب خدمتونه او اسانتياوې برابرې سي، خو ښايي چې عدالت تل په پام کې وي، ترڅو د ولس مال په باطل سره ونه خوړل سي، او د دود نه پرته ماليه يا باج خلکو نه په زور ونه غوښتل سي.

او په ور پسې مبارك آيت کې چې هغه د محمد مبارکې سورې وروستۍ آيت دئ؛ مومنان الله تعالى د جهاد په لار کې چې د الله تعالى د دين لوړتيا لار ده د مال او د دولت ورکولو ته را بللي دي، او فرمايلي دي:

[۳۸] ای مومنانو! او دا دئ اوس د ستاسې نه غوښتل کيږي چې د الله په لار کې چې هغه جهاد دئ؛ خپل مال او دولت ورکړئ، نو بيا د ستاسې نه ځينې کسان بخيلي کړي، او د الله په لار کې مال نه ورکوي او هر څوک چې بخيلي وکړي، نو په خپل ځان يې بخيلي کړې ده، ځکه الله غني ذات دئ او هيڅ چا ته محتاج او اړ ندئ، خو تاسې ای خلکو! الله ته محتاج ياستئ، او که تاسې ای مومنانو! په الله باندې د ايمان نه بيرته په شاو واوړئ او د الله په لار کې د جهاد نه په سر او مال سره ډډه وکړئ، نو الله به تاسې په بل قوم او نورو خلکو باندې بدل کړي او دوی به د ستاسې ځای ناستي کړي او هغوی به ای مومنانو د ستاسې غوندې نه وي، يعنی هغوی به د الله په لار کې په سر او مال سرښندنې او قربانئ ته تل تياروي.

ګرانو دوستانو! پدې مبارك آيت کې چې د الله تعالى تل پاتې لارښود پيغام دئ؛ مومنانو ته الله تعالى سپارښت کړي دئ چې خپل مال او دولت د الله په لار کې د يرغلګر دښمن سره په جهاد کې ورکړي، او هيڅ بخيلي ونکړي، او که چا بخيلي وکړه او د الله په لار کې يې مال او دولت ورنکه، نو د خپل ځان تاوان يې کړئ دئ، ځکه چې بيا به الله د دوی پرځای نور داسې خلک را پيدا کړي چې هر ډول مالي او ځاني قربانئ ته به د الله په لار کې تيار وي، نو قدرمنو عزيزانو! د دې سپارښت معنا دا ده چې مومنانو ته ښايي تل د الله په لار کې د خپل مال او دولت ورکولو ته تيار وی، ځکه د دښمن ښکيلاک مخنيوئ مالي اوځاني سرښندنې ته کلکه

اړتیا لري، ترڅو مومنان خپل دین، ناموس، هیواد او مال او دولت د دښمن تیري نه خوندي وساتي.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله وسلم على رسوله الآمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليه...❁❁❁

د الفتحې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ډیر مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الفتحې سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو وروڼو او خو یندو! د الفتحې مبارکه سوره مدني سوره ده، او هغه د حدیبې صلحې اور بند نه وروسته په رسول الله ﷺ باندې را نازل سوې ده، او پکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د مکې فتحې مبارکې ز یرئ او ډاډ ورکړئ دئ، او نورې ښې ډیرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې هم پدې مبارکه سوره کې نغښتې دي، ځکه د حدیبې اور بند رسول الله ﷺ او مومنانو ته د بر یا او د لویې فتحې ز یرئ ؤ، نو ځکه دا سوره په الفتح چې معنایې پر دښمن بر یا ده؛ نومول سوې ده، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالی پیغمبر ﷺ ته نور ډیر ز یري هم ورکړي دي، او یقیناچې د الفتحې په مبارکه سوره کې رسول الله ﷺ او مومنانو ته لو یه ډاډګیرنه او کافرانو او منافقانو ته د الله تعالی سزاګانو نه لوی ګواښونه یاد سوي دي، نو ځکه رسول الله ﷺ د الفتحې مبارکې سورې په را نازلیدو سره ډیر خوښ سه، روایت سوئ دئ چې پیغمبر ﷺ خپلو یارانو او قدرمنو ملګرو صحابو ته د الفتحې سورې د را نازلیدو نه وروسته وو یل: نن شپه پر ما باندې یوه داسې سوره را نازله سوه چې هغه پر ما د ټولې نړۍ نه ګرانه ده، او بیا د الفتحې مبارکه سوره رسول الله ﷺ تلاوت کړه.

{د حدیبې صلحه رسول الله ﷺ او مومنانو ته د فتحې ز یرئ ؤ}

د الفتحې مبارکې سورې په پیل کې چې هغه الله تعالی پیغمبر ته پر دښمن باندې فتحه او بر یا بللې ده؛ الله تعالی فرمایل دي ي:

﴿إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ۝١ لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ۝٢ وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصۡرًا عَزِيزًا

﴿٣﴾هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ ٱلْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓاْ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ ۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٤﴾ لِّيُدْخِلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٥﴾ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْمُشْرِكِينَ وَٱلْمُشْرِكَٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ ۚ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ ۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٦﴾ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٧﴾

[١-٣] ای پیغمبره! مونږ تا ته ډیره ښکاره فتحه او بر یا درکړه، ترڅو تا ته الله د ستا ړمبۍ او وروستۍ ګناه و بښي او خپل نعمتونه او پېرزو یې پر تا باندې پوره کړي، او ســې لارې ته تا هدایت کړي او بیا تا ته الله زوروره بر یا او ځواکمن عزت درکړي.

قدرمنو دوستانو! دا مبارك آیتونه پر رسول الله ﷺ باندې د حدیبې صلحې اور بند نه وروسته را نازل سول او پکې دغه د صلحې اور بند د مکې کافرانو ســره د بدر، احد او د احزابو خونړې یو جګړو نه وروســته؛ الله تعالې ډیره ښــکاره لو یه فتحه او بر یا بللې ده، ځکه د حدیبې صــلحې نه وروســته نور کافران او مومنان د یو بل ســره ګډ ســول او ډیر کســان مسلمانان سول، نو ځکه هغه لو یه ښکاره فتحه او بر یا و بلل سوه.

[٤] هو! الله هغه ځوک دئ چې د مومنانو پر زړونو یې ډاډ را کوز که [یعنی ارامښت یې ور په برخه که] ترڅو د دوی ایمان او باور [پر الله تعالی او پر پیغمبر ﷺ باندې] لا ډیر او کلک ســي، او د اســمانونو او ځمکې لښکرې؛ ټول د الله واک لاندې دي [یعنی الله تعالی پدې لو یو لښکرو د خپلو مومنو بنده ګانو مرســته کړي] او الله ښــه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی د الله تعالی ټولې کړنې په ژوره پوهه او لوی حکمت او په پاخه تدبیر ترسره کیږي، نو ټولې د مومنانو په خیر دي.

[٥] ترڅو الله ټول نار ينه او ښځې مومنان هغو جنتونو او باغونو ته ورننه باسي چې و يالې پکې ښهيږي، او دوی به پکې تل اوسيږي او د مومنانو ګناه وې الله تو يوي، او دا پيرزو يې مومنانو ته د الله پر وړاندې لو يه فتحه او بر يا ده، يعنی الله تعالی خپل مومن بنده ګان ور باندې نازوي او نيکمرغي ور په برخه کوي، ترڅو ښاد او سرلوړي سي.

[٦] او هغو نار ينوو او ښځو منافقانو ته او هم هغو نار ينه او ښځو مشرکانو ته چې په الله باندې بد ګمانه دي؛ دوی ټولو ته الله کلکه سزا ورکوي او پر دوی باندې د عذاب ډيره بده لړۍ را ګرديږي، ځکه الله پر دوی باندې غوصه دئ، او لعنت ور باندې وايي، او جهنم يې دوی ته تيار کړئ دئ، او دا ډيره بده را تلونکې او تور برخليک دئ.

هو! درندو عز يزانو! دغه منافقان او کافران په الله کلک بد ګمانه ول، او پر الله يې تور لږا ؤ او و يل يې چې الله خپلې وعدې د پيغمبر او د مومنانو سره پوره نکړې [العياذ بالله!]

[٧] او پر ځمکه او اسمانونو کې سر تيري لښکرې؛ ټول د الله ملك دئ او هغوی د الله په واک کې دي او الله لوی ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ، يعنی د الله تعالی هره کړنه په پوره ځواکمنۍ او په پاخه حکمت او لوی تدبير سره ترسره کيږي.

{پيغمبر ﷺ الله خلکو ته ز يرئ ورکونکئ ګواښونکئ راليږلئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې پيغمبر ﷺ ته الله تعالی د هغه دنده او رسالت په نښه کړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٨ لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمَۢا ١٠﴾

[٨-٩] ای پيغمبره! ته مونږ پر خپل امت شاهد او ورته ز يرئ ورکونکئ او

ګواښونکئ را ولیږلې، ترڅو تاسې ای خلکو! پر الله او د هغه پر پیغمبر باندې ایمان راوړی، او د الله پیغمبر عزت او مرسته وکړی او صباح او بیګاه د الله تسبیحات ووایي او لمنځونه وکړئ او الله په پاکې سره یاد کړئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې په خپله واکمنۍ او په لو یو قدرتونو باندې ټینګار کړئ دئ، ترڅو خلک خپل رب الله په حق او ر ښتیا سره و پیژني او ایمان راوړي، او پیغمبري یې محمد المصطفیﷺ ومني او صباح او ماښام الله تعالی په پاکۍ سره یاد کړي او د پیغمبرﷺ درناوئ او مرسته وکړي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د حدیبې په بیعت الرضوان کې ګډونکي صحابه ستایلي دئ او ډیرې ضروري او ګټورې سپارښتنې او لارښودنې یې ورته کړې دي، او فرمایلي دي:

[۱۰] هو؛ ای پیغمبره! یقینا هغه کسان چې ستا سره [د الله تعالی په لار کې جهاد او د دښمن سره د جګړې] بیعت او ټرون کړي؛ دوی په حقیقت کې د الله سره بیعت او هوډ کړي، او د الله لاس د دوی پر لاسونو باندې ایښدل سوئ دئ، نو بیا چې هر څوک خپل هوډ او بیعت مات کړي؛ ز یان او تاوان یې خپله هغه ته رسیږي [یعنی لکه دا چې دوی د خپلو ځانو سره هوډ مات کړئ وي!] او هر چاچې په خپل تعهد باندې د الله سره وفاء وکړه، نو الله به هغه ته لوی ثواب ورکړي، یعنی الله تعالی به دئ خپل تل پاتې جنتونو ته ورننه باسي او هغه بې کور سي.

{باندې چیانو په خولو یوځه ویل او په زړونو کې بې بل څه ول}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د هغو باندې چیانو د پلمو یادونه کړې ده چې دوی رسول اللهﷺ سره د حدیبي عمرې په کال مکې ته لاړ نسول، نو بیا الله تعالی رسول اللهﷺ د دوی د دؤ مخې چلند نه خبر کړئ دئ، او فرمایلي یې دي:

﴿سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا فَٱسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِى قُلُوبِهِمْ ۚ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُمْ

مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ نَفۡعَۢاۚ بَلۡ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١١﴾ بَلۡ ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهۡلِيهِمۡ أَبَدٗا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمۡ وَظَنَنتُمۡ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِ وَكُنتُمۡ قَوۡمَۢا بُورٗا ﴿١٢﴾ وَمَن لَّمۡ يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَعِيرٗا ﴿١٣﴾ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٤﴾ سَيَقُولُ ٱلۡمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقۡتُمۡ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأۡخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعۡكُمۡۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُواْ كَلَٰمَ ٱللَّهِۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمۡ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبۡلُۖ فَسَيَقُولُونَ بَلۡ تَحۡسُدُونَنَاۚ بَلۡ كَانُواْ لَا يَفۡقَهُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿١٥﴾ قُل لِّلۡمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ سَتُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ قَوۡمٍ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَۖ فَإِن تُطِيعُواْ يُؤۡتِكُمُ ٱللَّهُ أَجۡرًا حَسَنٗاۖ وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ كَمَا تَوَلَّيۡتُم مِّن قَبۡلُ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٦﴾ لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٧﴾

[١١-١٢] ای پیغمبره! هغه کسان چې د مدینې شاوخوا باندې چیانو نه ستاسې سره مکې ته د تک نه پاتې ســول [نو دوی به درته پلمي کړي] او وایي به چې مونږ د خپلو کورنیو او مالونو سمبالولو چارو پر ښبــودو چې د ســتاســې ملګرتیا وکړو، نو مونږ ته ای پیغمبره! د الله نه ښبــنه وغواړه! هو؛ دوی په خپلو ژ بو هغه څه وایي چې په زړونو کې یې ندي، نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: که چیرې تاسې ته الله د ز یان رســولو او یا د ګټې رســولو قصــد وکړي، نو بیا به څوک تاســې د الله نه وســاتي؟ [خو خبره داســې نده، لکه دوی چې خیال او ګمان کړي] بلکې الله د دوی د کړنو نه خبر ؤ، او د ر ښــتیا خبره دا وه چې تاســې ای باندې چیانو! خیال کا ؤ چې رســول الله او ورســره مومنان به د دې مزله نه بیرته خپلو کورنیو ته هیڅ

کله روغ رمټ ورستانه نسي، او دغسې باور تاسې ته د ستاسې په زړونو کې شیطان ښکلئ او ښایسته که، او تاسې ډیر بد ګمان وکه، نو تاسې یوه هلاك ســوئ قوم او ډلـه وی، یعنی د مدینې شــاوخوا بانډو او کلیو اوسیدونکو ګمان کا ؤ چې الله به د رسول اللهﷺ نصرت ونکړي، او دوئ به د دښــمن نه ونه ســاتي، نو ځکه دوی پدې کاروان کې ورســره ملګرې نسـول، خو اوس چې کله رسـول اللهﷺ او یاران یې د الحدیبې اور بند نه د لویې لاس ته راوړې سـره بیرته روغ رمټ او په خیر سـره خپلو کورنیو ته راستانه سـول، نو دا پاتې سـوي خلک په مدینه کې و یرې په سـر واخسـتل او رسـول اللهﷺ ته یې دغسـې دروغژنې پلمې جوړې کړې، خو الله تعالی چې د دوی په زړونو پوه ؤ؛ د دوی نفاق یې رســول اللهﷺ ته رســوا که، ترڅو نور څوک ور باندې ونه غولیږي، نو بیا الله تعالی دا د بانډو منافقان په کلک عذاب باندې ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

[۱۳] هو! هغه څوک چې پر الله او د هغه پر پیغمبر باندې [په پوره اخلاص ســره ایمـان رانوړي، نو بـاخبر!] چې مونږ یقینـا کـافرانو تـه سوزونکې سزا تیاره کړې ده!

قدرمنو وروڼو او خو یندو! په انســاني ټولنو کې د نفاق ناروغي؛ یوه خوره لو یه فطري ناروغي ده، او منافقان تل د تلې سـر ته ګوري او بیا چې تله هرې خوا ته درنده ســوه؛ دوی د هغوی ملتیا غږ پورته کوي، خو الله تعـالی چې د زړونو مـالـك او ښــــه پرې پوه دئ؛ خپـل پیغمبرې د مـدینې منـافقـانو نـه خبر کـه، ترڅو ور بـانـدې ونـه غولیږي، نو همـدارنګـه د مسـلمانانو مشـرانو او پوهانو ته ښـایې چې تل و یښ وي، او د خپلې ټولنې ټول خلک او ډلې د اســلام په تله وتلي او ښــه یې و پېژني او هیڅ کله د منافقانو ملګرتیا ونکړي او د هغوی غو ړه مار یو په لوموکې وننښلي!

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی همداسې په خپله لو یه واکمنۍ باندې پر ځمکه او په اســمانونو کې کلک ټینګار کړئ دئ، او د رســول اللهﷺ ســره د ملګرتیا نه پاتې ســوو کسـانو اړوندیې؛ ډیرې ضـروري او ګټورې سپارښتنې ورته کړي دي، او فرمایلي دي:

[١٤] د ځمکې او اسمانو پاچايي او واک د الله سره دئ، او الله چې څوک وغواړي بښي يې او څوک چې وغواړي ورته سزا ورکوي، او الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، يعنی دغو خلکو ته چې د رسول الله ملګرتيايې ونکړه د بښنې او د سزا ورکولو واک د الله سره دئ او الله ډير مهر بان او لوی بښونکئ ذات دئ.

او همدارنګه په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د منافقانو اړوند معلومات، لارښودنې او سپارښتنې مونږ ته يادې کړې دي، او فرمايلي دي:

[١٥] ای پيغمبره او مومنانو! کله چې تاسې په غزاګانو کې د غنيمتونو را ټولولو پسې وځی، ترڅو هغه را ونيسی او را ټول يې کړی، نو بيا به دا منافقان [چې د دښمن سره په جګړه کې د ستاسې نه بيرته پاتې سول او په جګړه کې يې برخه وانخسته] وايي: مونږ پر يږدی چې تا پسې ای پيغمبره! لاړ سو، خو دا منافقان غواړي چې پدې کار سره د الله وعده ستاسې سره؛ بدله کړي [يعنی هغه دا چې الله تعالی خپل پيغمبرﷺ سره د حديبې نه وروسته وعده کړي وه چې د خيبر غنيمت به يوازې رسول اللهﷺ ته او د هغه مخلصو ملګرو ته ورکوي، نو بيا ځکه الله تعالی رسول الله ته حکم وکه چې هغو کسانو ته چې په حديبيه کې درسره ملګري نسول] ووايه: تاسې حديبې ته را پسې لاړ نسوی، نو خيبر ته به هم نه راپسې راځی، ځکه دا سپارښت مونږ ته همداسې د پخوا نه الله کړئ دئ، نو بيا دا منافقان وايې: ای پيغمبره! تاسې د زمونږ سره کينه لری [يعنی نه غواړی چې مونږ په غنيمت کې برخه واخلو!] خو حقيقت داسې ندئ، لکه څنګه چې دا کسان ګمان کړي، او دا د حديبې نه پاتې سوي کسان د الله په حکومونو ډير لږ پوهيږي، يعنی خپل مسؤليتو نه او حقوق، لکه څنګه چې دي؛ هغسې نه پيژني! يعنې د هغوی محاسبه يوازې په مادي ګټو باندې ولاړه ده.

[١٦] ای پيغمبره! [دغو باندې چيانو عر بانو ته چې د حديبې عمرې ته د تګ نه ستاسې سره پاتې سول] ووايه: سمه ده تاسې به وروسته يؤ ځواکمن قوم سره جګړې ته راوغوښتل سی، او بيا به د دې ځواکمن قوم

سره جګړه وکړي، او يا به دا ځواکمن کافران د جګړې نه پرته مسلمانيږي، نو که بيا تاسې د الله حکم ومنئ [يعنې د دښمن سره جګړه وکړئ] الله به تاسې ته ښه ثواب درکړي [يعنې چې هغه جنت دئ] او که بيا تاسې بيرته په شا واوښتلئ [يعنې سرکښي مو وکړه] لکه څنګه چې مخکې تاسې په شا وګرځيدلئ [يعنې سرکښي مو وکړه، او د رسول اللهﷺ سره مکې ته لاړ نسوئ] نو بيا به الله تاسې ته دردونکې سزا درکړي.

هو! درندو دوستانو! الله تعالى په دغسې کلک ګواښ سره نور دغه کوچيان يا عرب باندې چيان چوپ کړل.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې د جهاد نه معاف او معذورو کسانو په باره کې الله تعالى فرمايلي دي:

[۱۷] [ای پيغمبره!] په ړاندو او ګودو کسانو باندې څه ګناه نسته چې جهاد ته لاړ نسي، او نه په ناروغ باندې څه ګناه سته چې جهاد ته د تګ نه پاتې سي [يعنې دا ځکه چې معذور کسان ټول بې وسې دي او جهاد کړلای نسي] او هر هغه څوک چې د الله او د هغه پيغمبر اطاعت وکړي او فرمان يې يوسي؛ دئ الله هغو جنتونو ته ورننه باسي چې تر لاندې يې و يالې بهيږي، خو هغه څوک چې د الله حکم نه په شاسي او اطاعت يې ونکړي، نو بيا الله هغه ته دردونکې سزا ورکوي!

ګرانو عز يزانو! د الله تعالى دا حکمونه چې پدې مبارکو آيتونو کې بيان سول؛ پوره عدالت ته بلنه ده، او يقيناچې د الله تعالى ټول حکمونه په کلک انصاف باندې ولاړ دي، او مونږ ته پکې ډير روښانه سپارښت دئ، نو ښايي چې عدالت او انصاف د ټولو مومنانو دود او پوخ خوی وګرځي او دوی ټول خپل ځانونه د ظلم نه کلک وساتي!

{په الحديبه کې د ونې لاندې بيعت کونکو صحابو ستاينه}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى هغه سر تيري اتلان صحابه د رسول اللهﷺ درانده ملګري ستايلي دي چې دوی د رسول اللهﷺ سره د سر تيرئ بيعت او هوډ په الحديبه کې؛ د يوې لويې ونې سورئ لاندې

وکه، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿*لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾ وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِۦ وَكَفَّ أَيْدِيَ ٱلنَّاسِ عَنكُمْ وَلِتَكُونَ ءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾ وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا۟ عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرًا ﴿٢١﴾ وَلَوْ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوَلَّوُا۟ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾ هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَٱلْهَدْىَ مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُۥ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَـُٔوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا۟ لَعَذَّبْنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾ إِذْ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ وَكَانُوٓا۟ أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾﴾

[١٨-١٩] هو! يقيناچې الله د هغو مومنانو نه راضي او خوښ سه چې کله دوی د ستا سره ای پيغمبره! د لويې ونې لاندې په الحديبيه کې د دښمن سره د جهاد او جګړې بيعت وکه، نو الله د دغو مومنانو زړونو نه خبر ؤ، او پرې پوهيده چې د دوی زړونه د اخلاص نه ډک دي، نو ځکه الله پر دوی باندې سکون او ډاډ راکوز کړ [يعنی د کلک ايمان او د سرښندنې په بدل کې يې] ورته د لنډې فتحې ثواب ورکه، او د ډيرو

غنيمتونو ز يري يې ورته ورکړل چې هغه به لاس ته راوړي، او الله لوی ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ، يعنی د الله تعالی ټولې کړنې او ارزونې په پاخه تدبير او لوی قدرت باندې ولاړې دي.

[٢٠-٢١] ای مومنانو! تاسې ته الله د ډيرو غنيمتونو يا ولکو وعده درکړه چې هغه به تاسې [په خپل وخت کې اخلئ او لاس ته يې راوړئ] نو بيا تاسې ته الله دا د خيبر غنيمتونه ژر درکړل او د خلکو لاسونه يې د ستاسې نه منعې او لنډ کړل [يعنی تاسې ته دښمن کم ز يان ونسه رسولای، ترڅو دا غنيمتونه [يعنی د ستاسې بر يا او د دښمن ما ته او دا ولکې يا غنيمتونه مومنانو ته د عبرت اخستلو] نښه وي او هغه تاسې ته په سمه لار باندې لارښودنه وکړي [يعنی او همدارنګه الله د ستاسې سره ای مومنانو!] د نور غنيمت يا ولکې وعده هم وکړه، خو تاسې ور باندې قادر نسوئ او هغه تاسې د خپلې ولکې لاندې رانسوه وړای، او الله ور باندې واکمن دئ، ځکه الله په هرڅه باندې قادر لوی ذات دئ، او هرڅه کړلای سي.

[٢٢] او هغه کسان چې کافران سول، نو که چيرې دوی د ستاسې سره ای مومنانو! جګړه وکړي؛ بيا به هغوی په شا لاړ سي او مات به سي او هيڅ ځوک به مرستندوی بيا نه مومئ.

[٢٣] ای مومنانو! او دا د الله قانون او کړن لار ده چې په مخکنيو امتونو کې تيره سوې ده، او ته ای پيغمبره! د الله په تګ لاره او قانون کې هيڅ بدلون نه مومې، يعنی د مومنانو بر يا او د کافرانو ما ته او شکست د الله تعالی هغه تل پاتې سنت او قانون دئ چې په مخکنيو امتونو کې تير سوئ دئ او هيڅ بدلون پکې نه راځي.

[٢٤] او ای مومنانو! وروسته له هغې چې تاسې الله پر کافرانو باندې بر يالي کړئ، نو بيا يوازې الله ﷻ چې د کافرانو لاسونه يې د ستاسې نه د مکې په منځ کې منعې او لنډ کړل [يعنې الله تعالی د مشرکانو لاسونه د مومنانو نه لنډ کړل، نو دوی پر مومنانو باندې بر يد ونکه او جګړې يې

ورسره ونکړه او مومنان الله تعالی ورڅخه وساتل، او ای مومنانو!] د ستاسې لاسونه هم الله د کافرانو نه منعې کړل، ځکه الله د ستاسې په کړنو باندې ښه بینا او کلک لیدونکئ ؤ، یعنی کله چې د الحدیبې عمرې په کال مومنان او کافران د یو بل سره جګړې ته تیار سول؛ الله تعالی په خپل لوی حکمت او قدرت سره د دې جګړې مخنیوئ وکه، او دواړه خواوې په صلحه سره جوړ سول او د اور بند پر یکړه یې امضاء کړه، او د لسو کلونو پورې یې اور بند او صلحه اعلان کړه، او جګړه یې بنده کړه.

[٢٥] او ای مومنانو! همدا د مکې کافران ول چې د الله توحید نه منکر او کافران سول او تاسې یې د مسجد الحرام نه منعې کړی [یعنی عمرې ته یې پرې نښودلی] او نه یې د عمرې هدی یې څاروي پر یښودل چې خپل ځای ته په حرم کې ورسیږي [یعنی هلته ذبحه او حلال سي او غوښې په مسکینانو باندې وو یشل سي، نو ای مومنانو!] که چیرې هغه مومن سړي او ښځې په مکه کې نه وای [چې دوی خپل ایمان پټ کړئ ؤ] او تاسې پر دوی پوه نه وی او نه تاسې دوی پیژندل، نو بیا به دوی تاسې د پښولاندې کړي ول، او د کمې پوهې نه پرته به دوی تاسې ته لو یه بد نامي اړولې وه! [یعنی خلکو به و یل چې د پیغمبر یارانو او صحابوو د مکې بې وزره مومنان مړه کړل او د پښولاندې یې کړل، او که دا عذر نه وای، نو بیا به تاسې مونږ پر کافرانو باندې مسلط کړي وی، او تاسې ته به ای مومنانو! په مکه کې مونږ واکمني درکړې وه، او دا کارونه ټول د دې لپاره وسول] ترڅو الله د خپل رحمت لاندې هغه څوک رانه باسي چې الله یې غواړي او دغو بې وسې مومنانو د کفر نه وروسته ایمان راوړئ ؤ، نو که چیرې دا ضعیف او بې وزره مومنان د کافرانو د منځ نه په مکه کې وتلي وای، نو بیا به مونږ یقینا د مکې کافرانو ته دردونکي عذاب ورکړئ او کلکه سزا ورکړې وه.

[٢٦] اوکله چې د کافرانو زړونه د جاهلیت کبر ډک کړل [یعنی ضد پسې واخستل، نو د اور بند صلحې په ټرون سره په الحدیبه کې] نور الله تعالی د رسول الله او مومنانو په زړونو کې ډاډ واچا ؤ، او ارامښت یې د

دوی په برخه که او پر دوی يې [د توحيد کلمه وو يله چې هغه لا إله إلا الله] د تقوا کلمه ده لازمه کړه، او هغه د مومنانو حق وه، او يوازی دوی يې لائق ول، او الله په هرڅه ښه پوه لوی ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د الحديبې صلحې اور بند لو يه فتحه بللي ده، ځکه کله چې دواړه خواوې مخامخ جګړی ته سره تيار سئ او چمتو سول، نو بيا الله تعالی د مومنا په بر يا سره د مشرکانو غلچکي بر يدونه شنډ کړل، او د دوی بر يدګړيې ټول ژوندي ونيول او برمته يې کړل، او همداسې الله تعالی مشرکانو د اور بند صلحې ته تيار کړل، او الله تعالی په خپل علم سره مومنان د جګړې نه وساتل او عزتمن يې بيرته روغ رمټ مديني منورې ته راستانه کړل، ترڅو چې بيا په راتلونکي کال کې عمرې ته راسي، او يقينا چې د مومنانو دا بر يا او ورسره الهي نصرت او په بلې خوا کې د کافرنو خواري او ذلت؛ د الله تعالی هغه تل پاتي قانون او د حق تاييد دئ چې هيڅ کله هم نه بدليږي.

{رسول الله ﷺ ته الله د مکې فتحې ز يرئ په خوب کې ورکه}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته لمړئ د مکې فتحې ز يري ورکړئ دئ، او بيايې د اسلام حق دين د بر يا او برلاسی په باره کې په ډير قاطعيت او يقين سره فرمايلي دي:

﴿ لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٢٨﴾ ﴾

[٢٧] هو! يقينا چې الله د خپل پيغمبر هغه خوب چې په حق اور ښتيا سره يې ليدلئ ؤ؛ ر ښتيا که [يعنی خپل پيغمبر ته يې دا ز يرئ ورکه چې ته به ای پيغمبره!] خاماخا ان شاءالله د حرم مسجد ته په داسې امنيت کې ورننوځې چې د عمرې په ادا کولو سره به تاسې خپل سرونه خر يلي وي او

يا به هغه تاسې لنډ کړي وي او د هيڅ چا نه به تاسې نه و يرې، نو مکې ته د ستاسې ورننوتلو [هغو کتو باندې] الله ښه پوهيږي چې تاسې پرې پوه نوی، نو بيا د هغې نه وروسته [د الحديبې صلحې اور بند] الله لنډه فتحه وکړځوله، يعنی الله تعالی پيغمبر او ملګرو ته يې لو يه بر يا په برخه کړه.

[۲۸] او الله هغه څوک دئ چې خپل پيغمبر(محمدﷺ) يې د خپل لارښود پيغام او د حق دين سره را وليږه، ترڅو دا دين پر نورو ټولو اديانو باندې برلاسئ او زورور سي، او ای پيغمبره! الله تا ته د شاهدۍ لپاره بس او کافی دئ، يعنی الله به د ستا مرسته کړي او خپل دين به راښکاره کوي او پر نورو ټولو دينونو باندې به هغه پورته کوي او بر يا ته بې رسوي.

{د رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو خو يونو بيلګو بيان}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو عزتمنو صحابوو ځانګړې صفتونه او خو يونه مومنانو ته په ښه کړي او بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ٢٩﴾

[۲۹] [ای خلکو!] محمد د الله پيغمبر دئ، او هغه کسان چې د رسول الله ملګري دي؛ دوی پر کافرانو باندې کلک نيونکي او زورور دي، او په خپل منځ کې دوی پر يو بل زړه سوانده دي، نو ته به ای پيغمبره! خپل ملګري صحابه په لمنځونوکې په رکوع او سجده باندې پراته و يې، ځکه دوی د الله پيرزو يې او خوښي غواړي او د سجدو ښې يې د مخونو په ځيروکې ښکاره ځليږي، او د دوی دا صفتونه او بيلګې په تورات او په

انجيل کې دي [يعنى د رسول الله صحابه او ملګري په دغسې خو يونو او صفتونو باندې په تورات او انجيل کې هم ستايل سوي دي] او دوى هغه کښت ته ورته دي چې څانګه يې الله د خاورې نه راو باسي او بيايې ملاوې وتړي او بيا هغه و پرسيږي او په خپلو ر يښو او لينګيو ودر يږي، او کاروانګر يا دهقانان يې د ليدلو او ننداړې نه خوند اخلي، ترڅو الله د رسول الله په دغو غښتلو او پياوړو ملګرو باندې کافران په غوصه کړي او ور باندې يې په و يره کې واچوي، او د مومنانو او د ښو کړنو خاوندانو سره الله د بښنې او د لوى ثواب وعده کړى ده، يعنى الله تعالى د دغو مخلصو مومنانو ګناه وې بښي او د ايمان او ښه عمل ثواب کې تل پاتې جنتونه يا ښکلي باغونه ورکوي.

قدرمنو وروڼو او خو يندو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې د رسول الله ﷺ ملګري او ياران چې د الله او د هغه پيغمبر فرمان ته تل تيار ځئ ولاړ ول، او هر ډول قر بانۍ او سرښندني ته تيار ول؛ کلک ستايلي دي او د ښو لو يو ثوابونو ز يري يې ورکړي دي او هغه د الله تعالى تل پاتې جنتونه دي، ځکه د رسول الله ﷺ صحابه او ملګري په ډيره ميړانه او په پوره پياوړتيا سره د رسول الله ﷺ په ملا تړکې ودر يدل او د رسول الله ﷺ او د هغه دين اسلام نه يې؛ کلکه دفاع او ساتنه وکړه، ترڅو چې د الله دين د دوى د جهاد او سرښندني په ملاتړ په ټوله نړۍ کې په آسيا، افريقا او په عر بانو او عجموکې په شرق او غرب کې؛ خور سه او د نړۍ ټول ولسونه د خپلو ظالمو واکمنانو د ظلم او غلامۍ نه خلاص او آزاد سول، او يوازې د الله بنده کې او عزتمن ژوندې د اسلام په رڼا کې په برخه سه او سرلوړي سول، نو درندو عز يزانو! صحابوو ته د الله تعالى رضا او خوښۍ او د لا ډيرو ثوابونو دعاء کړو او ځانونو ته د الله تعالى نه د دوى غوندې اخلاص او د ښه عمل توفيق غواړو.

والحمدلله وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وعلى أصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك... ۞ ۞ ۞

د الحجرات سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الحجرات سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

ګرانو دوستانو! د الحجرات مبارکه سوره مدني سوره ده او پکې الله تعالی ښه ډیر آداب، اخلاق او خپل نور حکمونه او سپارښتنې مومنانوته یادې کړې او بیان کړې دي، نو عمل کړل ور باندې پر مونږ فرض دي او مخالفت یې لو یه ګناه ده، او د دغو آدابو، اخلاقو او حکمونو بیانول او مومنانوته ور باندې سپارښت کړل؛ ډیر ضروري او کلک اړ ین کار دئ، ځکه لمړنۍ اسلامي ټولنه په مدینه منوره کې په داسې حال کې جوړه سوه، چې پخواني جاهلي آداب، اخلاق او دودونه د خلکو په مغزونو کې همداسې غز یدلي ول، او اوږدې ر یښې یې په اجتماعي اړ یکو کې خښې کړې وي، نو ټول خلک او په ځانګړي ډول مومنان د رسول الله ﷺ لارښودنوته چې هغه د الله تعالی لارښودنې او سپارښتنې دي او قرآن کر یم ور باندې را نازل سوئ دئ؛ کلک محتاج او ورته لیوال ول، ترڅو دغه نوې اسلامي ټولنه په الهي آدابو، اخلاقو او حکمونو باندې وروزل سي او د پلرنو او نیکونو نه ورته پاتې جاهلي دودونه نور پر یږدي، او دا نوې لارښودنې او سپارښتنې دلته د الحجرات په سوره کې ډیرې روښانه یاد سوي او بیان سوې دي، او په پیل کې یې د رسول الله ﷺ سره د خبرو کړو او د ملاقات آدب او څرنګوالئ یاد سوئ دئ، او بیا د مسلمانانو په منځ کې خپل منځي آداب بیان سوي دي، او بیا د نړۍ نورو ولسونو سره د دنیايې چارو سمبال د اړ یکو یا تعامل اړوند ضروري آداب او حکمونه یاد سوي او بیان سوي دي، او دغو ټولو آدابو، اخلاقو او حکمونوته انساني ټولنې او په ځانګړي ډول اسلامي ټولنې په خپل ژوند کې

چې ښايي د قرآن په رڼا کې ژوند وکړي؛ ډيره کلکه اړتيا لري، ترڅو هوسا، عزتمن او داسې ډاډمن ژوند ولري چې د ټولو پرګنو او ولسونو حقوق پکې محفوظ او خوندي وي، او هر څوک خپل مسؤليتونه او په ژوند کې رسالت ښه و پيژني او بيا هغه پرځای کړي، نو د الحجرات مبارکه سوره په ر ښتيا سره د ټولنيز ژوند لپاره لوی لارښود قاموس او ښه تګ لار ده، او په عملي کولو سره يې ټولنه او وګړي ټول ښادیږي او نیکمرغي او سعادت يې په دنيا او په آخرت کې په برخه کیږي، او ژوندې ټول بشر يت لپاره بيلګه او لارښود ګرځي.

{د الله او پيغمبر پرحکمونو وړاندې کيدل حرام دي}

هو؛ درندو وروڼو! د الحجرات مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى مومنانوته سپارښت کړئ دئ چې خپله خوښه او مزاج ده د الله تعالى او د پيغمبر ﷺ پرحکمونو باندې نه وړاندې کوي، او فرمايلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٢ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ ٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلۡحُجُرَٰتِ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٤ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ صَبَرُواْ حَتَّىٰ تَخۡرُجَ إِلَيۡهِمۡ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥ ﴾

[١] ای مومنانو! تاسې چې ايمان راوړئ دئ؛ د الله او پيغمبر نه مه وړاندې کیږئ، او د الله نه وو يره کیږئ او د سزا نه يې ځانونه کلک وساتئ [يعنى تقوا خپله کړئ] ځکه يقينا چې الله ښه اور يدونکئ او ښه پوه لوی ذات دئ، يعنى ای مومنانو! د ستاسې و يناوې او کړنې د الله نه پټې ندي، نو ښايي چې د الله تعالى او د پيغمبر ﷺ لارښودنو او سپارښتنوته کلک

غوږ و باسۍ او خپلې خوښې او مزاجونه د الله او پيغمبر پرحکمونو باندې وړلاندې نکړي، او د خپلو ځانو نه فتوا مه ورکوي او وړلاندیځونه مکړي، ځکه الله د ستاسې په حال ښه پوه دئ، نو تاسې ته يې د ستاسې د ژوندانه چارو د ښه سمبال لپاره؛ ډيرې اړ يني او ضروري لارښودنې کړې دي، او ښه ګټوره تک لارې تاسې ته په نښه کړې او بيان کړي ده، نو د بل چا فتوا ته اړتيا نسته، مګر دا چې د شر يعت په چوکاټ کې وي.

[٢] او ای مومنانو! تاسې خپل غږونه د نبي (پيغمبرﷺ) پرغږ باندې مه جګوي او مه ورته په جګ او لوړ غږ نعرې وهي، لکه څنګه چې تاسې يو بل ته په جګ غږ نعرې وهي او ورسره خبرې کړي، ځکه دا و يره سته چې [کله د ستاسې پام نه وي او خپل غږ د رسول اللهﷺ پرغږ جګ او پورته کړي، نو بيا به د ستاسې] د ښو کړنو ثواب تويې او ضائع سي، يعنی ښايي په ډير آدب او په ټيت غږ د رسول اللهﷺ سره وغږ يږي.

درندو عز يزانو! د الله تعالی دا حکم د رسول اللهﷺ مبارك رحلت نه وروسته؛ همداسې پاتې دئ او روا نده چې څوک خپل نظر او خبره د رسول اللهﷺ په خبره او سنتو باندې وړاندې کړي، او همدارنګه ښايي دغسې آدب او اخلاق مونږ د خپلو مشرانو او علماوو سره هم تل په پام کې ولرو، او هيڅ کله د مشرانو په مجلس کې په جګ غږ او د ادب نه لرې خبرې ونکړو، او که په کمه مسئله کې ورسره بحث کړو، نو ښايي د بحث او مناظرې آداب کلک مراعت کړو، او خپلې پوښتنې او نظرونه په ورو غږ او په لوی ادب سره؛ دوی ته وړاندې کړو.

[٣] او يقينا هغه کسان چې د رسول الله په مخکې خپل غږونه ټيټوی؛ دوی هغه کسان دي چې خپل زړونه يې د الله تقوا او د هغه عذاب نه د و يرې لپاره ازمايلي دي [يعنی دوی خپل زړونه د الله عذاب نه د ساتنې لپاره د ټولو دنيايې هوسونو او غوښتنو نه خالې کړي دي] نو بيا دوی ته الله بښنه کړي او لوی ثواب ورکوي، يعنی چې هغه د الله تعالی تل پاتې جنتونه او باغونه دي او متقيانوته يې ډالۍ کوي.

[٤-٥] ای پیغمبره! او هغه کسان چې تا ته د ستا کورونو نه بهر نعرې وهي؛ د دوی نه ډیر کسان په خبره ښه نه پوهیږي [یعنی د ستا قدر او لوړ عزت نه خبر ندي، او هغه ښه نه پیژني] او که دغو کسانو صبر کړئ وای [یعنی د ستا راوتلوته تم سوي وای او په انتظار کې ناست وای] ترڅو چې ته په خپله دوی ته د کور نه راووځی، نو دا به دوی ته ډیر ښه ؤ[خو بیا هم] الله لوی بښونکي او ښه رحیم(مهر بان) ذات دئ، یعنی نو دغه کسان به الله تعالی و بښي، او ته هم ای پیغمبر! دوی و بښه او په داسې ناپوهو کسانو باندې مه په غوصه کیږه.

ګرانو دوستانو! نو ښایي چې د اسلامي نړۍ ټول مشران، لکه علماء او واکمنان د خپل ولس خبرو او غوښتنو نه په تنګ نسي او د دوی پوښتنو او غوښتنو ته په رانه تندي ځواب ورکړي او په غوصه ناکه څیره ورسره ونه چلیږي، او د یادونې وړ ده چې دا مبارکه سوره، ځکه په الحجرات نومول سوې ده چې د الحجرات کلمه په همدې مبارك آیت کې راغلې ده او پښتو معنایې: کوټې یا حجرې ده، او مقصدیې د رسول الله ﷺ کورونه ول، او په هره پیاده کوته کې به پیغمبر ﷺ د خپلې یوې میرمنې سره په وار سره اوسیده او شپه بې ورسره کړه.

{مومنانو ته ښایي چې د اور یدلو خبرورښتیا نه ډاډمن سي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانوته سپارښت کړئ دئ چې کله یې څه واور یدل، نو د ر یښتینوالي او تصدیق نه یې خپل ځانونه ډاډمن کړي، او فرمایلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ ٦ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ فِيكُمۡ رَسُولَ ٱللَّهِۚ لَوۡ يُطِيعُكُمۡ فِي كَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ لَعَنِتُّمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمۡ وَكَرَّهَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكُفۡرَ وَٱلۡفُسُوقَ وَٱلۡعِصۡيَانَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ٧ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعۡمَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٨ ﴾

[٦] ای مومنانو! کله چې یو فاسق [یعنی د شر یعت حکمونو نه وتلئ بې دینه سړئ چې د دروغو و یلو نه ډډه نکړي او ځان ورڅخه نه ساتي]

تاسي ته د کم خبر سره راغئ او هغه يې درته راوړ، نو بيا تاسي د هغه خبرې ښه سپيناوئ وکړئ، او د ر يښتينوالي نه يې ځان ډاډمن کړئ، ځکه نه چې په ناپوهي سره کمې ډلې يا کم چا ته ز يان او تاوان ورسوئ او بيا به په خپلو کړنو باندې پښيمانه سئ! يعنی نو د ستاسي دغه پښيماني بيا څه ګټه نلري، ځکه د خولې وتلې خبره بيرته نه را ګرځول کيږي.

درندو وروڼو اوخو يندو! الله تعالی پدې مبارك آيت کې مونږ د دروغو نشرولو او خورولو نه؛ کلک منع کړي يو او د پرو پاګند او تبليغاتو سپيناوي ته يې را بللي يو، ترڅو خپله ټولنه د کاذبو تبليغاتو په خورولو سره د ستونزو سره مخامخ نکړو، مخصوصا په اوسني عصر او زمانه کې چې د خورولو ټولينيزې رسنۍ هرخبر ډير ژر ټولوخلکو ته په نړۍ کې رسوي او بيا هغه ډيرې فتنې او ستونزې په ټولنه کې را پاروي چې بيايې مخنيوئ اسانه نه وي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د رسول الله ﷺ خبروته په غوږ و يستلو او منلو باندې کلک ټينګار کړئ دئ او فرمايلي دي:

[۷-۸] ای مومنانو! پدې پوه سئ چې رسول الله ستاسې په منځ کې دئ [يعنی نو احترام يې وکړئ] او څه چې رسول الله وايې د هغه و ينا ومنئ، ځکه که دئ د ستاسې ډيرې خبرې او غوښتې ومني، نو تاسې به د ستونزو او کړاوونو سره مخامخ سئ، خو الله ايمان راوړل تاسې ته خوښ کړل، او ايمان يې ستاسې په زړونو کې ښکلئ او ښايسته که، او د کفر او ګناه نه او د الله حکمونو سرکښئ نه يې تاسې کرکجن کړئ، نو دغسې مومنان په ر يښتيا سره ښه هوښياران دي، او دا هوښياري پر دوی باندې د الله پيرزو ينه او لوی نعمت دئ، ځکه الله ښه پوه او لوی حکيم ذات دئ، يعنی د الله ټولې و يناوې او کړنې په لوی علم او پاخه حکمت باندې ولاړې دي، او پکې مونږ ته خير او ګټه ده.

{مومنان ده خپل منځي اختلافات په روغه جوړه حل کړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانوته الله تعالی د خپل منځي

اختلافاتو د حل او جګړو نه د وتلو او صلحې ته د رسیدو؛ یوه ډیره ګټوره تګ لاره په ټینګه کړې او ښودلې ده، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ فَإِنۢ بَغَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا عَلَى ٱلۡأُخۡرَىٰ فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِي تَبۡغِي حَتَّىٰ تَفِيٓءَ إِلَىٰٓ أَمۡرِ ٱللَّهِۚ فَإِن فَآءَتۡ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَا بِٱلۡعَدۡلِ وَأَقۡسِطُوٓاْۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ۝٩ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ۝١٠﴾

[۹-۱۰] ای مومنانو! او که چیرې د مومنانو نه دوه ډلو د یو بل سره جګړه یا شخړه وکړه، نو تاسې د دوی په منځ کې روغه جوړه وکړئ، نوکه بیا یوې ډلې پر بله ډله باندې تیرئ وکه، نو تاسې هغې ډلې سره چې تیرئ کړي؛ جګړه وکړئ او ورسره وجنګیږئ، ترڅو دا سرکښه او بغاوت کونکې ډله بیرته د الله حکم ته را وګرځي [یعنی د بغاوت نه لاس واخلي] نو که بیا هغه را وګرځیده، نو بیا تاسې د دوی دواړو په منځ کې په عدالت سره روغه جوړه وکړئ او انصاف وچلوئ، ځکه یقیناچې انصاف چلونکي کسان پرالله ګران دي او الله یې خوښوي، او یقیناچې مومنان د یو بل وروڼه دي، نو تاسې خپلو وروڼو په منځ کې صلحه وکړئ، او د الله نه تقوا وکړئ، او ورڅخه وو یر یږئ، ترڅو الله پر تاسې باندې ورحمیږي، یعنی تاسې نیکمرغه او ښاد کړي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د مومنانو خپل منځي ستونزو په لرې کولو او حل کې په صلحه او روغه جوړه؛ کلک ټینګار کړئ دئ، خو د بده مرغه د مسلمانانو ټولې پخوانۍ او اوسنۍ ستونزې د همدې قرآني سپارښت د نه عملي کولو ز یږنده ده، او ډیر مسلمانان ر یښتینې صلحه نه پیژني او یوازې زورواکي، چل او د یو بل غول د دوی تل پاتې شعار او کار دئ، نو یقینا چې دا دود او دا خوی د شیطان وسوسه او هڅونه ده، نو پرمومنانو باندې ځان ساتنه د دغسې فتنو نه فرض ده، ترڅو ټول ښاد او سرلوړي سي!

{مومنان نارینه او ښځې ده د یو بل سپکاوئ نکړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مومنان الله تعالی د سپکو اخلاقونه کلک منع کړي دي او ورته یې سپارښت کړئ فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهُنَّۖ وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن لَّمۡ يَتُبۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ١١ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجۡتَنِبُواْ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ إِثۡمٞۖ وَلَا تَجَسَّسُواْ وَلَا يَغۡتَب بَّعۡضُكُم بَعۡضًاۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمۡ أَن يَأۡكُلَ لَحۡمَ أَخِيهِ مَيۡتٗا فَكَرِهۡتُمُوهُۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٞ رَّحِيمٞ ١٢﴾

[۱۱] ای مومنانو! یو قوم ده د بل قوم سپکاوئ نکړي، ځکه کیدای سي چې یو د بل نه ښه او غوره وي، او نه ده ځینې ښځې او میرمنې د نورو میرمنو سپکاوئ کړي، ځکه کیدای سي چې هغوی د دوی نه ښې او غوره وي، او ای مومنانو! د خپلو ځانونو عیبونه یو بل سره مه یادوئ او یو بل په بدو القابو او نومونو مه رټئ، ځکه دا خو یونه د ایمان راوړنه وروسته ډیر بد خو یونه دي، او سړئ ور باندې د ایمان نه وځي، او هر څوک چې د دغسې ګناه نه تو به ونه باسي؛ دوی ظالمان دي او پرخپلو ځانو باندې یې تیری کړئ دئ.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان یو پر بل باندې د بد ګمان، جاسوسئ، او د غیبت کړو نه کلک منع کړي دي او حکم یې کړئ دئ فرمایلي دي:

[۱۲] ای مومنانو! تاسې د ډیرې بد ګمانئ نه پر یو بل باندې ځانو نه وساتئ، ځکه یقینا چې ځینې ګمانونه ګناه ده، او ای مومنانو! د یو بل جاسوسي مکړئ، او د یو بل غیبت مکړئ، ځکه آیا د ستاسې خوښیږي چې د ستاسې نه یؤ څوک د خپل مړه سوي ورور غوښه وخوري؟ نو بیا به

د هغه نه د ستاسې کرکه راسي؟ [يعنى نو ځواب دا چې هيڅ کله داسې کړنه تاسې نه خوښوى!] نو اى مومنانو! د الله سزا نه ځان وساتى او د الله نه کلک وو يره يرى او تقوا وکړى، او يقينا چې الله ښه تو به قبلونکئ ذات دئ، او پر خپلو بنده ګانو باندې مهر بان خداى دئ.

درندو ورونو او خو يندو! په دغو مبارکو آيتونوکې مومنان الله تعالى د هغو بدو خو يونو او د بدو کړنو نه کلک منعې کړي دي چې هغه د خلکو په منځ کې د يو بل سره کرکه او دښمنى را پاروي، نو ښايي چې ټول مومنان په دغو سپارښتنو باندې چې پکې الله تعالى د دوى خير غوښتئ دئ؛ عمل وکړي او ځانونه ور باندې کلک کړي.

{ټول خلک الله د آدم او حوا نه پيدا کړل بيايې په ډلوو يشل}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د نړۍ ټولو خلکو او ولسونو په منځ کې د يو والي، تعارف او يو بل سره د مرستې سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ١٣﴾

[۱۳] اى خلکو! يقيناچې تاسې ټول مونږ د يوه نار ينه او د يوې ښځې نه [يعنى چې هغه آدم عليه السلام اوحوا ول] پيدا کړى او بيا تاسې مونږ ولسونه او قومونه وګرځولى، ترڅو يو بل و پيژنى [يعنى دا چې بيا په دغسى پيژندنه او معرفت سره د يو بل مرسته وکړى او ښې اړ يکې سره و پالى، نه دا چې يو د بل سره په جګړه سى] او يقينا چې د ستاسې نه الله پر وړاندې د ډير عزت او قدر خاوند؛ هغه څوک دئ چې د الله نه ډير و يره يرې او د عذاب نه يې په ايمان راوړو او په ښو کړنو سره ځان ساتي [يعنى نو دوى متقيان دي] ځکه يقينا چې الله ښه پوه او د خپلو بنده ګانو نه ښه خبر لوى ذات دئ، يعنى الله تعالى هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

هو؛ ګرانو عز يزانو! الله تعالى پدې مبارك آيت کې د نړۍ د ټولو

خلکو په منځ کې پر ښـو اړ یکو باندې ټینګار او سـپارښـت کړئ دئ، ځکه روښـانه ده چې د ټولو نړۍ والو کتې سـره غوټه سـوې دي، لکه څنګه چې يې بيلګې په هر هيواد کې په سـترګو و ينو، نو نړۍ اوس يو کلئ ګرځيدلې ده، او يؤ د بل اړتياوې پوره کوي، نو ښايي چې هغه ښې و پالل سي.

{صادق او ر يښتيني مومنان په نښو سره پيژندل کيږي}

او بيا الله تعالى د کليو او باندو اوسيدونکي ر يښتيني ايمان ته رابللي دي اوفرمايلي دي:

﴿ * قَالَتِ ٱلۡأَعۡرَابُ ءَامَنَّاۖ قُل لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ وَلَٰكِن قُولُوٓاْ أَسۡلَمۡنَا وَلَمَّا يَدۡخُلِ ٱلۡإِيمَٰنُ فِي قُلُوبِكُمۡۖ وَإِن تُطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتۡكُم مِّنۡ أَعۡمَٰلِكُمۡ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ١٥ قُلۡ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١٦ يَمُنُّونَ عَلَيۡكَ أَنۡ أَسۡلَمُواْۖ قُل لَّا تَمُنُّواْ عَلَيَّ إِسۡلَٰمَكُمۖ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيۡكُمۡ أَنۡ هَدَىٰكُمۡ لِلۡإِيمَٰنِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٧ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨ ﴾

[١٤] او د کليو او باندو اوسيدونکو عر بانو [رسـول الله ته] وو يل: مونږ ايمـان راوړئ دئ! [يعنى نو تـه اى پيغمبره! دوى تـه پـه ځواب کې] ووايه: نا! تاسې ايمان ندئ راوړئ، خو تاسې ووايي چې مونږ اسلام راوړو، ځکه ايمان لا تر اوسـه د سـتاسـې زړونوته ندئ ورننوتلئ، او که تاسې اى خلکو! د الله او د هغه پيغمبراطاعت وکړئ او حکم يې ومنئ، نو د ستاسې ښـــو کړنو ثواب نه به؛ هيڅ څه شـــئ نه کميږي، او يقينا چې الله لوى بښوونکئ او ښه مهر بان لوى ذات ئ، يعنى د ستاسې ښو کړنو ثواب پوره درکوي او ورڅخه هيڅ څه شئ نه کموي.

[١٥] او يقينا چې ر يښتيني مومنان هغه کسان دي چې دوى پر الله او

د هغه پر پیغمبر ایمان راوړ، او بیا په خپل ایمان کې شکمن نسول، او په سـر او مال یې د الله په لار کې جهاد وکه، نو دوی ر یښـتیا و یونکي دي، یعنی دغه کسان په ر یښتیا او صداقت سره مومنان دي.

[۱٦] ای پیغمبره! او [د مدینې شاوخوا میشتو باندې چیانو عر بانوته] ووایه: آیا تاسې الله په خپل دین باندې پوه کوي؟ حال دا چې الله پر ټولو هغو مخلوقاتو باندې پوه دئ چې دوی په اسـمانو او په ځمکه کې دي، ځکه الله په هر څه ښـه پوه دئ، یعنی دا چې الله تعالي د ستاسې خبروته اړ او محتاج ندئ، ترڅو تاسې خپل ځانونه ورو پیژني.

[۱۷] او ای پیغمبره! دغه اعراب پرتا باندې احسـان باروي چې دوی مسلمانان سول، نو ته ورته ووایه: [که تاسې ر یښتیا و یونکې او صادقان یاسـتی، نو پرما باندې د خپل اسـلام احسـان مه را اچوی، بلکې الله پرتاسې احسان کړئ دئ چې ایمان ته یې سم کړی یاستی، یعنی تاسې ته الله تعالی لارښودنه کړي ده او بیایې توفیق درکړي دئ، ترڅو تاسې ایمان راوړی او مسلمانان سی.

[۱۸] او یقیناچې الله د ځمکې او د اسمانونو پرټولو پټو شیانو باندې پوهیږي، او ای خلکو! الله د سـتاسـې پر ټولو کړنو ښـه بینا دئ او هغه و یې، یعنی نو بیا به هر چا ته الله د هغه لائق ثواب او سزا ورکړي.

قدرمنو عز یزانو! د یادونې وړ ده چې اسـلام ته را بلونکي دعات تل د دغسې ناپوهانو سره مخامخ کیږي، نو ښایي همدغسې ځواب ورکړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصـحبه اجمعين، وسـبحانك اللهم و بحمدك أشـهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د قاف سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د قاف سورې لنډه پيژندنه او لوى مقصدونه}

قدرمنو وروڼو او عز يزانو! د قاف (ق) مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې د قيامت ورځې په يقيني راتګ باندې او په هغه ورځ د ټولو خلکو په بيا را ژوندي کيدو او ورځخه په حساب اخستلو او بيا په ثواب او سزا ورکولو باندې؛ کلک ټينګار ســوئ دئ، ځکه د مکې خلک د قيامت ورځې راتګ نه منکر ول او هغه يې نه منله، نو الله تعالى د قيامت ورځې لوى حقيقت او ر يښتينوالي په مقصد مونږ ته د قيامت ورځې انځور پدې مبارکه سوره کې ښــه روښــانه وړاندې کړئ دئ، او همدارنګه الله تعالى مونږ ته په (قاف) سوره کې؛ ښې ډيرې نورې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې هم کړې دي او د انحرافاتو نه او د د ين حکمونو مخالفت نه يې د خلاصون لارې را ته په ګوته کړې دي، او د زړونو پاکۍ په اړه يې ځانګړئ سپارښت را ته کړئ دئ، او دا مبارکه ســوره په (ق) چې د عربي ژبې يو پر يکړ ســوئ تورئ دئ؛ پيل ســوې ده، او مقصــد او مرادې (والله اعلم) د قران ادبي اعجاز ته ګوته نيول دي، لکه څنګه چې بيا د عر بانو ټول شـاعران او اديبان يې د سـيالۍ نه پاتې راغلل او د قرآن آيتونو غوندې آيتونو راوړو نه بې وسـې او عاجز ســول، او په پيل کې يې الله تعالى د کافرانو شـکونه د قيامت ورځې په باره کې رد کړي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

{د قيامت ورځې په راتګ کې د کافرانو شکونه الله رد کړي دي}

﴿قٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ ١ بَلۡ عَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡ فَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا شَيۡءٌ عَجِيبٌ ٢ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗاۖ ذَٰلِكَ رَجۡعُۢ بَعِيدٞ ٣ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ ٤ بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ فِيٓ أَمۡرٖ مَّرِيجٍ ٥ أَفَلَمۡ يَنظُرُوٓاْ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوۡقَهُمۡ كَيۡفَ بَنَيۡنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٖ ٦ وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٧ تَبۡصِرَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِكُلِّ عَبۡدٖ مُّنِيبٖ ٨ وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ مُّبَٰرَكٗا فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ جَنَّٰتٖ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ ٩ وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ ١٠ رِّزۡقٗا لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ ١١﴾

[١] (قاف) په قرآن باندې چې هغه د ښه ستايل سوي خداى الله نه را نازل سوئ کتاب دئ [او د (ق) غوندې پر يکړل سوي عربي هجاء توري نه جوړ سوئ دئ] لوړه او قسم دئ [چې محمدﷺ په ر ښتيا سره تاسې ته اى خلکو! کوانښونکئ استازئ را ليږل سوئ دئ، او تاسې ټول د قيامت په ورځ بيرته را ژوندي کيږى او د الله پر وړاندې حساب ته درول کيږى، او بيا هرچا ته د هغه ټولو ښو او بدو کړنو ليک په لاس کې ورکول کيږي]

قدرمنو دوستانو! دا مبارکه سوره په (قاف) باندې چې هغه د عربي ژبې د ليک لوست تورو نه يؤ تورئ دئ؛ پيل سوې او نومول سوې ده، او معنايې د مفسر ينو په غوره سوې و ينا کې دا ده چې قرآن د (ق) غوندې يو بل نه پر يکړ سوو تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ، او هغه د الله نه په حق او ر ښتيا سره راغلئ دئ، او هيڅ شک او شبه پکې نسته او ټولې خبرې يې يقيني دي، ځکه هغه د الله کلام او خبرې دي.

او بيا الله تعالى د مکې خلکو د شکونو او شبهو په بيان کې و يلي دي:

[٢-٣] خو د مکې کافرانو تعجب وکه او حيران سول چې څنګه دوى

ته د دوی د خپل قوم او ټبر نه پیغمبر راغئ؟ او هغه دوی د الله عذاب نه ګوابـــي، نو بیا کافرانو وو یل: دا شـئ خو د حیرانتیا او د تعجب وړ دئ! [یعنی دا چې دوی ته پیغمبر وایي: د قیامت په ورځ تاســې بیرته را ژوندي کیږی! نو بیا کافرانو وو یل:] آیا کله چې مونږ مړه ســو او خاورې ســو، نو بیا به څنګه بیرته را وګرځو؟ او بیرته دغســې را ګرځیدل؛ ډیر لرې دي! یعنی ممکن ندي، نو بیا الله تعالی د دې شبهې په رد کې فرمایلي دي:

[٤-٥] هو! یقیناچې مونږ په دا خبره پوه یو چې ځمکه د مړو جسدونه او وني خوري او هغه پکې خاورې کیږي، او زمونږ ســره ســاتونکئ کتاب دئ! [یعنی لوح محفوظ چې په هغه کې هرڅه ساتل سوي دي] خو کله چې کافرانوته قرآن په حق او ر یښــتیا ســره راغئ؛ هغه دوی دروغ وګاڼه، نو کافران په خپله ناقرارې کې دي، یعنی کله یو څه او کله بل څه وایي!

ګرانو دوســتانو! پدې مبارکو آیتونوکې الله تعالې په ډیر پر یکنده او قاطع ځواب ســره د هغو کافرانو او ملحدینو دعوا رده کړې ده چې دوی وایي: دا خاورې سوي جسدونه به څنګه بیرته را ټول او را ژوندي سي؟ او دا کار ډیر لرې دئ! یعنی هغه کیدونکئ او ممکن ندئ.

نو بیا الله تعالی د خپل لوی قدرت ځینې نښې یادې کړې او بیان کړې دي او فرمایلي دي:

[٦] نو آیا کافران د دوی پر ســرونو پاس اســمان ته نه ګوري چې هغه څنګه مونږ ودان که؟ او بیا هغه مونږ په ستورو ښکلئ او ښایسته که او په اسمان کې هیڅ سورئ نسته.

[٧] او ځمکه مونږ خوره کړه او غرونه مو پکې را واچول او هغه مونږ پکې ودرول، او د هرې ښــکلې جوړې نه مونږ په ځمکه کې بوټي او وني راشینې کړې.

[٨] [او دا د ځمکې او اسمانونو پیدایښت] الله ته د هر ورګرځیدونکې بنده لپاره؛ د یادونې او حق پیژندلو او لیدلو نښه او دلیل دئ، یعنی ښایي چې هر هوښیار کس پکې فکر وکړي او هغه ومني.

[۹-۱۰] او مبارکې ګټوري او به مونږ د اسمان نه را ووروړلي، او بيا په او بو سره مونږ بنونه يا باغونه او د دانو کښتونه راشنه کړل، او د کجورو(خرما) وږږو لرونکې داسې وني ور باندې راشني سوي چې د ميوو وږږي يې يو پر بل سپاره وي.

[۱۱] [او دا ټول کښتونه او د ميوو باغونه] د الله بنده ګانوته روزي ده، او په دغو او بو باندې مونږ مړه ځمکه را ژوندئ او شنه کړه، نو ای خلکو! او همداسې تاسې د قيامت په ورځ را و يستل کيږئ، يعنی د خپلو ګورونو نه راجګول کيږئ او د الله پر وړاندې راغونډيږئ، او بيا د هرچا نه حساب اخستل کيږي او کړن ليکونه يې په لاسونوکې ورکول کيږي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو خورو ورو نښوسره په ځمکه او په اسمانو کې د خپلو لو يو قدرتونو دا حقيقت بيان کړئ دئ چې د ټولو مړو بيرته را ژوندي کول د قيامت په ورځ الله تعالی ته اسانه دي، نو کافران ده ورته د شک او د تعجب يا حيرانتيا په سترګه نه ګوري او هغه ده ومني او ايمان ده راوړي، ترڅو الله تعالی دوی و بښي او جنتونه يې ځای کړي.

{پخوانيو امتونو د الله استازې دروغژن و بلل}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی کافرانوته د ګواښ کړو په مقصد په ډيرو لنډو خبرو سره د ځينو پخوانيو امتونو او ولسونو سرکښې؛ يادې کړي ده او د هغوی تور برخليک يې دوی ته ور په ياد کړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَٰنُ لُوطٍ ﴿١٣﴾ وَأَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۚ كُلٌّ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ أَفَعَيِينَا بِٱلْخَلْقِ ٱلْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِى لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ نَفْسُهُۥ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴿١٦﴾ إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۲-۱٤] هو! د مکې کافرانو نه پخوا د نوح قوم او د کو يانو يا ځاکانو

کيندونکو د (الرس) قوم او د ثمود قوم او د عاد او د فرعون قومونو، او د لوط وروڼو قوم او د شـــعيب قوم او د حمير تُبع قوم؛ دوی ټولو د الله پيغمبران دروغژن و بلل او د هغوی پيغمبري يې ونه منله، نو بيا دوی ته د الله ګواښونه په سزا ورکولو سره ر يښتيا سول.

[١٥] نو آيا مونږ به چې ټول خلک مو په لمړی ځل کې پيدا کړل؛ د دوی د بيرته را ژوندي کولو نه عاجز او بې وسـعې ســوو؟ [ځواب: نا! هيڅ کله هم مونږ بې وسعې نه يو او ټول خلک بيا بيرته را پيدا کولای سو، لکه څنګه چې دوی مونږ په لمړي ځل کې د هيڅ نه راپيدا کړل] خو کافران د قيامت په ورځ د دوی په نوي پيدايښـت کې شـکمن دي، يعنی خو دا شـك هيڅ دليل نه لري او هغه خوسـې خيال او ګمان دئ، بلکې ټول خلک الله تعالی د قيامت په ورځ بيرته را ژوندي کوي او حساب ورڅخه اخلي.

[١٦] او يقينا چې انســان مونږ پيدا که او د هغه په زړه کې چې هرڅه شـئ کړئي؛ مونږ ور باندې پوهيږو، ځکه هغه ته مونږ د غاړي شــارګ نه هم ډير ورلنډ يو، يعنی د هغه پرحال مونږ ښــه پوهيږو، او زمونږ نه هيڅ څه شئ پټ ندي، ځکه د زمونږ علم ور باندې راګرد دئ.

[١٧-١٨] هو! کله چې د انسـان په ښي خوا او په کين خوا کې تيارسئ ناست څارونکي ملائکې د هغه ټولې کړنې ليکي او د هغه خولې نه هيڅ کمه خبره نه را وځي مګر دا چې په څنګ کې يې تيارســئ ناســت څارونکئ هغه ليکي، يعنی نو بيا به څنګه دغه غافل انسان د الله نه پټ سي!

درندو دوسـتانو! روايت سـوئ دئ چې دا تيارسئ ناست ملائکې د هرچا ښــې او بدې ټولې خبرې او کړنې ليکي، نو بيا الله تعالی هرچا ته د هغه د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي.

{د قيامت ورځې عذابونو ژوندئ انځور خلکوته ګواښ دئ}

او بيا الله تعالی د قيامت ورځې کلکو ګواښـونو انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ ٱلۡمَوۡتِ بِٱلۡحَقِّۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنۡهُ تَحِيدُ ١٩ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِۚ ذَٰلِكَ

يَوْمُ ٱلْوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ ﴿٢١﴾ لَّقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ ٱلْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَىَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَأَلْقِيَاهُ فِي ٱلْعَذَابِ ٱلشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ * قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا مَآ أَطْغَيْتُهُۥ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَٰلٍ بَعِيدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا۟ لَدَىَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُم بِٱلْوَعِيدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَىَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ ٱمْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾

[١٩-٢٠] [او دا دئ ای انسانه!] د مرګ او مړ ینې سخته غوټه په حق او ر یښتیا سره راغله، او دا هغه غوټه ده چې ته د هغې نه په تیښته کې وې، او بیا د بیرته را ژوندي کیدو ورځې شپلۍ پوه سوه او دا د عذاب هغه ورځ ده چې ستاسې سره د هغې وعده سوې وه.

[٢١] او هرڅوک به په هغه ورځ د الله حضورته په داسې حال کې حاضر سي چې د هغه سره به دؤ را وړونکې او شاهدي ورکونکې ملائکې ملګري وي.

[٢٢] [ای انسانه!] او ته د قیامت ورځې نه غافل وي او د ستا پام هغې ته نؤ، نو بیا د ستا سترګو نه مونږ پوښ لرې او لوڅ که، نو دا دئ اوس د ستا سترګې ډیرې تیرې دي، یعنی هرڅه ښه روښانه و ینې.

[٢٣] او بیا د هرچا ملګرو ملائکو [چې هرڅه یې لیکل] وو یل: [د دي سړي د ټولو کړنو لیکلو دفتر] زما سره تیار دئ.

[٢٤-٢٦] نو بیا الله دغو دؤ ملائکوته حکم کړي چې هر سرزورئ، کینه کښ کافر؛ د جهنم اور ته وروغورځوئ، څکه هغه د ښو کړنو مخنیوئ کا ؤ، او دئ د الله پرحکومونو باندې تیرئ کونکئ او شکمن ؤ، او د الله سره هغه بل خدای شر یك کړئ ؤ، نو اوس تاسې هغه په سخت عذاب کې وروغورځوئ!

[٢٧] [او په دنیا کې د دې کافر بنده ملګرئ شیطان الله ته زاري کړي] او وایي: ای د زمونږ لو یه خدایه! دا کافر ما ندئ بې لارې کړی، خو دئ په ډیره لرې ورکتیا کې ؤ، یعنی سمه لار د هغه نه ورکه وه، او شیطان پسې په کږه لار روان ؤ او پسې ته.

[٢٨] نو بیا الله ورته وایي: د زما په مخکې یو د بل سره دعوا او جنجال مکړی، ځکه تاسې ته ما له پخوا نه ګواښ کړئ ؤ!

[٢٩] او د زما خبره او پر یکړه نه بدلیږي او نه زه پرخپلو بنده ګانو باندې ترئ کونکئ یم.

[٣٠] [ای پیغمبره! او خپل قوم ته ده؛ هغه ورځ ور په یاد کړه] کله چې دوزخ ته مونږ وایو: آیا ډک سوی؟ بیا دوزخ په ځواب کې وایي: آیا نور ډیر دوزخیان هم ستە؟ یعنی په دوزخ کې لا د ډیرو نورو دوزخیانو لپاره ځای سته او هغه لا ډک ندئ!

قدرمنو وروڼو او خو یندو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې کافران او د الله حکمونو نه سرکښ کسان؛ د خپلې تورې راتلونکې او په دوزخ کې د کلکو سزا ورکولو نه خبر کړي دي، او ښه کلک یې ګواښلي دي او د دوزخ عذابونو ژوندئ انځوریې دوي ته وړاندې کړئ دئ.

{متقیانو ته د جنت زیرو نه د یوه ښکلي زیري انځور}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې هغو مومنانوته چې دوی د الله تعالی عذاب نه خپل ځانونه په ایمان راوړو او په ښو کړنو سره وساتل او متقیان سول؛ الله تعالی د لو یو ثوابونو او د ښکلو جنتونو ز یري ورکړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَّنْ خَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾ ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُلُودِ ﴿٣٤﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴿٣٥﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا فَنَقَّبُوا۟ فِى ٱلْبِلَٰدِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن

﴿كَانَ لَهُۥ قَلۡبٌ أَوۡ أَلۡقَى ٱلسَّمۡعَ وَهُوَ شَهِيدٞ ٣٧﴾

[٣١] او جنت متقيانوته را لنډ سه او هغه د دوی نه ډير لرې ندئ.

[٣٢-٣٣] ای متقيانو! او دا هغه جنت دئ چې ستاسې سره په دنيا کې د هغه وعده کيدله، او دا جنت هر هغه چا ته جايزه او ډالۍ دئ چې هغه الله ته رجوع کړي ده [يعنی تو به يې و يستلي ده او د الله تعالی حکمونو په منلو سره] د الله حکمونو ساتونکې ؤ او د الرحمن خدای الله نه په پټه او په غيب سره و يې يده او الله ته په ورګرځيدونکي او د مينې نه ډک زړه باندې راغئ، يعنی په پوره اخلاص سره يې د خپل رب بنده ګي وکړه او د هغه ټول حکمونه يې ومنل او عمل يې ور باندې وکه.

[٣٤] [نو بيا په دغو جنتيانو باندې غږ کيږي] چې اوس په پوره ډاډ او امنيت کې جنت ته ورننوځئ او هغه تل پاتې ورځ ده، يعنی جنتيان هلته د الله نعمتونو نه تل پاتې خوند اخلي.

[٣٥] او دغو مومنانوته په جنت کې ټول هغه نعمتونه تيار دي چې دوی يې غواړي، او زمونږ سره د دغو نعمتونو نه پرته، نور ډير نعمتونه هم سته [چې د هغونه يو ډير لوی نعمت د الله تعالی مخ ليدلو نندارە ده] يعنی دا چې مومنان په جنت کې د الله تعالی مخ ليدلو په نندارې سره نازول کيږي!

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د پخوانيو سرکښو ولسونو د هلاکت يادونه لنډه کړي ده، او فرمايلي دي:

[٣٦] او د مکې کافرانو نه مخکې څومره ډير ولسونه او امتونه مونږ هلاک او تباه کړل، او هغوی د مکې کافرانو نه ډيرکلک او ځواکمن ول او دوی د تيښتې لپاره ډير ځايونه ولټول [يعنی هرځای ته لاړل، ترڅو د الله عذاب نه خلاص سي] خو آيا د الله عذاب نه خلاصون سته؟ [ځواب دا چې: نا! هيڅ کله د تيښتې او نجات ځای نسته]

ګرانو عز يزانو! پدې مبارک آيت کې همدارنګه مونږ الله تعالی د دنيا

عذاب نه د تيښتې ناروا لارو نه کلک ګواښلي يو، ځکه هغه خوسې شيطاني وسوسې دي او هيڅ ګټه نلري، او بيايې په ور پسې مبارك آيت کې فرمايلي دي:

[٣٧] او يقيناچې د دغو پخوا تير سوو امتونو په هلاکت کې هر هوښيار سړي لپاره چې ژوندئ زړه لري او په و يښ ذهن سره د حق پيغام اوري او غوږ ورته باسي؛ د عبرت اخستلو لوی درس او زده کړه ده، يعنی ښايې چې ټول هوښياران په پوره اخلاص سره حق ته غوږ و باسي او ايمان راوړي او ښه عمل وکړي، او بيا جنت وګټي او د الله عذاب نه په دوزخ کې نجات بيامومي، نو دعاء کړو درندو وروښو او خو يندو! چې الله تعالی ده مونږ ته په خپل ايمان باندې ثبات او ټينګښت راکړي، او تل پاتي جنتونه ده الله تعالی زمونږ په برخه کړي.

{پيغمبر ته الله سپارښت کړئ چې په صبر او لمانځه کلک سي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی لمړئ خپل لوی قدرت د اسمانونو او د ځمکې په پيدايښت کې ياد کړي دي او بيايې رسول الله ﷺ د مشرکانو بدو خبرو پر وړاندې صبر، زغم او لمونځ کړو ته رابللئ دئ، او فرمايل دي.

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾ فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ ٱلْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَٰرَ ٱلسُّجُودِ ﴿٤٠﴾ وَٱسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ ٱلْمُنَادِ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يَسْمَعُونَ ٱلصَّيْحَةَ بِٱلْحَقِّ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا نَحْنُ نُحْىِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِٱلْقُرْءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾﴾

[٣٨] او يقيناچې اسمانونه او ځمکه او د دوی دواړو په منځ کې ټول

مخلوقات مونږ په شپږ ورځو کې پیدا کړل او مونږ ته پکې هیڅ ستړیا ونه رسیده، یعنی د دغسې لوی قدرت څښتن ته د مړو بیرته راژوندي کول او بیا د دوی نه حساب اخستل ډیر اسانه دي.

[٣٩-٤٠] نو ته ای پیغمبره! د کافرانو په خبرو چې هرڅه وایي صبر وکړه او هغه وزغمه او خپل خدای الله مخکې د لمر راختلو نه او بیا مخکې د لمر پر یوتلو نه په پاکۍ سره وستایه [یعنی د سهار لمونځ او د مازدیګر لمونځ وکړه] او بیا د شپې [ماښام او د ماخستن] لمونځ وکړه او سجدو کړو پسې وروسته؛ بیا خپل خدای په پاکۍ سره وستایه.

[٤١-٤٢] او ای پیغمبره! هغه ورځ چې نعرې وښونکئ د لنډ ځای نه نعرې وهي؛ هغه ته غوږ و باسه [یعنی کله چې اسرافیل سورنئ پوکوي، نو خلک په هغه ورځ د حق غږ چې د خلکو بیرته راژوندي کیدو نعره ده؛ اوري] نو بیا په هغه نعره چې د حق نعره ده؛ ټول خلک د خپلو ګورونو نه بیرته راوځي او ورڅخه راپاڅیږي.

[٤٣-٤٤] او یقیناچې یوازې مونږ ژوندي مړه کوو، او مړي راژوندي کوو او د ټولو خلکو بیرته راتګ مونږ ته د قیامت په ورځ اسانه دئ، او په هغه ورځ ځمکه په مړو باندې چوي، او دوی په منډه ورڅخه راوځي، او د خلک راغونډول په هغه ورځ مونږ ته ډیر اسانه دي.

[٤٥] ای پیغمبره! او د کافرانو په خبرو چې دوی څه وایي مونږ ښه پوهیږو او ته پردوی باندې جبر کونکئ نه یې [یعنی خلک په زور ایمان ته نه ورننه باسي] نو ته ای پیغمبره! په قرآن باندې هغه څوک ایمان راوړوته راو بوله چې د زما عذاب نه و یر یږي، یعنی د الله سزا نه ځان ساتنې په مقصد ایمان راوړي او د شرک نه لاس اخلي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې رسول اللهﷺ ته او بیا د هغه پلو یانو او د دین وارثانوته د دین رسولو او د تبلیغ په لار کې د صبر او زغم سپارښت کړئ دئ، او صبا او بیګاه یې ورته په لمانځه کړو باندې امر کړئ دئ، او بیایې د قیامت راتګ په ر یښتینوالي ټینګار کړئ

دئ، او په پای کې يې رسـول اللهﷺ ته او د هغه امت ټولو دعاتوته لارښـودنه کړي ده چې قرآن ده خلکوته ولولي او دوی ده ور باندې ايمان راوړ او د هغه منلوته راو بولي او هيڅ څوک ده په زور سـره ايمان راواړته نه اړ باسـي، ځکه ايمان او عقيده د زړه خبره ده، نو په زور پرڅا باندې عقيده نه منل کيږي، نو يقينا چې دا لارښـودنې مونږ ته د دعوت په لار کې تل پاتې ښې ګټورې لارښودنې دي، او عمل کړل ور باندې فرض دي.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصـالحات، وصـلى الله وسـلم على رسـوله الآمين وعلى آله و أصحابه أجمعين، وسـبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الذار يات سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د االله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الذاريات سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الذار يات مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم يې د دې سورې لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ، او پدې سوره کې الله تعالی د نورو مکي سورو غوندې په لنډو لنډو آيتونوکې د توحيد او عقيدې مسئلو باندې، لکه د قيامت ورځې يقيني راتګ باندې ټينګار کړئ دئ، او په پيل کې يې د خپلو ځينې مخلوقاتو په لوی ارزښت او کلک تاثير باندې په کائناتوکې چې هغه د الله تعالی د لو يو قدرتونو ښکاره نښې دي؛ لوړه کړې ده چې د قيامت ورځې راتګ حق او ر يښتيا دئ او په هغه ورځ د هر چا نه حساب اخستل کيږي، او بيا ټولو خلکوته د خپلو ښو او بدو کړنو ليکل سوې پاڼه ورکول کيږي، او بيا مومنان جنت ته ځي او کافران او ګناه ګاران دوزخ ته، نو ځکه د قيامت په ورځ باندې ايمان راوړل او باور کړل پرټولو خلکو باندې فرض دي، ترڅو په هغه ورځ دوی نجات بيامومي، نو د الله تعالی لارښودنې پدې مبارکه سوره کې؛ زمونږ زړونه خپل رب الله سره تړی، او د دې لوی مقصد ثبوت لپاره الله تعالی د مخلوقاتو ډيرې ښکلې منظرې او د پيغمبرانو هڅو تار يخ د خپلو ولسونو سره مونږ ته وړاندې کړئ دئ، ترڅو ټولو خلکوته څرګنده او ثابته سي چې هرڅه د الله په واک کې دي، نو ښايي چې ټول خلک يوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړي او د کفر او شرک نه ځانونه کلک وساتي، ځکه دوی ټول الله يوازې د خپلې پيژندنې او عبادت او بنده ګۍ لپاره پيدا کړي دي او په پيل کې الله تعالی فرمايلي دي:

{د مرګ او مړينې نه وروسته بيا بيرته ژوند حق دئ}

عزتمنو مومنانو! الله تعالى د قيامت ورځې حتمي راتګ په بيان کې په لوړې کړو سره د الذار يات مبارکې سورې په لمړ يو آيتونوکې فرمايلي دي:

﴿وَٱلذَّٰرِيَٰتِ ذَرۡوٗا ۝١ فَٱلۡحَٰمِلَٰتِ وِقۡرٗا ۝٢ فَٱلۡجَٰرِيَٰتِ يُسۡرٗا ۝٣ فَٱلۡمُقَسِّمَٰتِ أَمۡرًا ۝٤ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٞ ۝٥ وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٞ ۝٦ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡحُبُكِ ۝٧ إِنَّكُمۡ لَفِي قَوۡلٖ مُّخۡتَلِفٖ ۝٨ يُؤۡفَكُ عَنۡهُ مَنۡ أُفِكَ ۝٩ قُتِلَ ٱلۡخَرَّٰصُونَ ۝١٠ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي غَمۡرَةٖ سَاهُونَ ۝١١ يَسۡـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلدِّينِ ۝١٢ يَوۡمَ هُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ يُفۡتَنُونَ ۝١٣ ذُوقُواْ فِتۡنَتَكُمۡ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ۝١٤﴾

[١-٦] او د ډولونکو خاورو په شمال (باد) او په بړ بښکيو باندې قسم او لوړه ده چې هغه د او بونه ډک ووره خوځوي را خوځوي او بيړې ور باندې په سمندرونو او سيندونوکې په اسانۍ سره لامبو وهي او فرښتې د الله حکمونو سره سم پرخلکو باندې د دوی روزي و يشي [يعنی ای خلکو! په دغو لو يو مخلوقاتو باندې قسم دئ] هغه وعدې چې ستاسې سره کيږي [يعنی دا چې مړي بيرته را ژوندې کيږي او د هرچا نه حساب اخستل کيږي؛ هغه ټولي] ر يښتيا دي او د قيامت ورځې حساب [او ثواب او سزا ورکول] خامخا راتلونکي دي هيڅ شك پکې نسته.

[٧-٩] او د ښايسته سوي اسمان په ښکلا ده لوړه او قسم وي چې يقينا تاسې [ای کافرانو د قرآن او د پيغمبره په باره کې په خپل منځ کې] د يو بل سره په اختلاف کې ياستۍ [يعنی کله يو څه او کله بل څه وايي] او هغه څوک چې د ايمان نه اوښتئ دئ؛ هغه د قرآن نه بلې خوا ته اوښتئ دئ، يعنی دا ځکه چې دغه کس د قرآن په ښکاره او پر يکنده دليلونو باندې باور نلري او هغه نه منۍ او ايمان نه راوړي.

[١٠-١١] او دروغژن کسان ده مړه سې چې دوی حق نه مني او همداسې د کفر په څپوکې په سرکښۍ او ورکتيا کې ډوب دي، يعنی دوی د سې لارې نه چې هغه د الله تعالى د توحيد او د يو والي لار په بنده ګۍ کې

ده؛ ورک دي او په کړه لار خوځيدلي دي!

[١٢] او دغه کافران [چې د قيامت ورځ نه مني] پوښتنې کړي چې د پر يکړي ورځ [يعنى هغه ورځ چې پکې ثواب او سزا ورکول کيږي] کله ده؟

[١٣-١٤] هو! د قيامت ورځ هغه ورځ ده چې پکې کافران په اور کې سوزولو باندې ازمايل کيږي، او بيا دوى ته و يل کيږي چې دا دئ اوس هغه عذاب وڅکئ چې تاسې يې راتلوته تلوار درلود او ورته په عجله کې وئ!

درندو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې د قيامت ورځې راتک په پوره يقين سره بيان کړئ دئ، ځکه په هغه ورځ د عدالت په تله د ټولو خلکو کړنې تلل کيږي او هرچا ته د هغه ثواب او سزا ورکول کيږي، او هغه ورځ حق او د ر ښتيا ورځ ده، او بيا الله تعالى د کافرانو بد حال انځور يا تصو ير د آخرت په ورځ مونږ ته وړاندې کړئ دئ، ترڅو ټول خلک ورڅخه پند او عبرت وا خلي او د دغسې لويې ورځې حساب ته خپل ځانونه د دنيا په ژوند کې ښه کلک تيار کړي.

{د قيامت په ورځ متقيانو ته الله په جنت کې لوړ مقام ورکوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې متقيانوته الله تعالى په جنت کې د دوى د لوړو مقامونو ز يري ورکړي دي او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ١٥ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُحۡسِنِينَ ١٦ كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ١٧ وَبِٱلۡأَسۡحَارِ هُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ١٨ وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ١٩ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٞ لِّلۡمُوقِنِينَ ٢٠ وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٢١ وَفِي ٱلسَّمَآءِ رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوعَدُونَ ٢٢ فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِنَّهُۥ لَحَقّٞ مِّثۡلَ مَآ أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ٢٣﴾

[١٥-١٦] هو! يقينا هغه متقيان [چې د الله عذابونو نه يې خپل ځانونه په ايمان راوړو او په ښو کړنو سره وساتل؛ دوى به په هغسې ښو لو يو] جنتونکې وي چې د خوږو او بو چينې پکې بهيږي، او هغه نعمتونه چې

د دوی پالونکي څښتن الله ور باندې پېرزو کړل؛ د هغو نه به خوند ا خلي، ځکه یقینا چې دوی د پخوا نه ښه کړل او محسنان ول.

[۱۷-۱۸] او متقیان د شپې لخوا ډیر لږ خوب کړي، او بیا د شپې په آخرکې ډیر استغفار کړي، یعنی د خپل خدای الله نه د ګناهونو بښنه غواړي او د تهجد په لمانځه لګیا وي.

[۱۹] او د متقیانو په مال او دولت کې د سوالګرو او حاجتمنو کسانو حق دئ، یعنی نو متقیان دوی ته دا حق ورکوي.

قدرمنو لوستونکو! دغو متقیانو چې په خپلو دغسې ښو کړنو او په ډیر عبادت سره خپل ځانونه د الله عذاب نه وساتل او بیا دغسې لوی مقام ته ورسیدل، نو ښایي چې هر مومن بنده متقي سي او د متقیانو غوندې ښه وکړي او خپل ځان د الله تعالی لو یو ثوابونو نه برخمن کړي او لوړ مقام وګټي او د هغه وړتیا په ځان کې پیدا کړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خپل توحید یقیني دلیلونو په بیان کې فرمایلي دي:

[۲۰] او هغو کسانوته چې دوی د خپل رب (خدای) په پېژندلو باندې یقین او پوخ باور لري؛ دوی ته په ځمکه کې داسې دلیلونه او نښې خورې دي چې، یعنی هغه ټول د الله تعالی پر لو یو قدرتونو باندې دلالت کړي، او د الله یو والئ په بنده ګۍ او په عبودیت کې په یقین سره ثابتوي.

[۲۱] او همدارنګه د ستاسې ځانونو په دننه کې ای خلکو! د الله قدرتونو نښې پرتې دي، نو آیا تاسې هغه نه و یئ؟ یعنی د الله تعالی په توحید باندې په الوهیت کې باور نکړئ؟ حال داچې ښایي یوازې د الله عبادت وکړئ او الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې د بتانو شر یکولو نه لاس واخلئ او د شرك نه خپله بیزاري اعلان کړئ.

[۲۲] هو! ای خلکو! د ستاسې رزق او روزي [یعنی د خیر او شر هوډونه] او وعدې چې د ستاسې سره کیږي؛ هغه ټول په اسمان کې درته لیکل سوي دي، یعني مومنانوته ښایي د الله تعالی په حکمونو او په

تقديري پر يکړو چې هرچا ته يې په لوح محفوظ کې ليکلي دي؛ باور وکړي او د هغو پيښو نه وروسته چې دوی ته پکې څه ز يان رسيږي؛ خپل ځانونه خفه نکړي او د الله تعالى په پر يکړو راضي او خوښ وي، يعنې لکه څنګه چې روايت سوئ دئ؛ مومن ته ښايي د تقدير فيصله او حکم ومني او داسې ووايي:" قدر الله وما شاء فعل"هو! دا څه چې پيښ سول؛ هغه د الله تعالى تقديري پريکړه وه، او الله چې څه وغواړي هغسې کړي، يعنى دا ځکه چې الله لوى قادر ذات دئ.

[۲۳] نو د ځمکې او اسمان په لوى څښتن باندې لوړه او قسم دئ چې د الله وعدې هغسې حق او ر يښتيا دي لکه څنګه چې تاسې اى خلکو! يقيني خبرې کړى، يعنى د الله په وعدوکې هيڅ شك نسته او هغه خاماخا راتلونکې دي او جاري کيږي.

عزتمنو ورونو اوخو يندو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د تقدير پرمسئله باندې کلک ټينګار کړئ دئ، نو منل يې او ور باندې ايمان را وړل حتمي او فرض دي لکه څنګه چې د ايمان په نورو پنځو رکنونو باندې ايمان را وړل لازم يا واجب دي.

{ابراهيم ته يې ميلمنو د زړې ميرمنې نه د زوى ز يرئ ورکه}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د ابراهيم عليه السلام د ميلمنو قصه لنډه ياده کړى ده، او فرمايلي دي:

﴿هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٤ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٢٥ فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ٢٦ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ٢٧ فَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ٢٨ فَأَقۡبَلَتِ ٱمۡرَأَتُهُۥ فِي صَرَّةٖ فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا وَقَالَتۡ عَجُوزٌ عَقِيمٞ ٢٩ قَالُواْ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ٣٠ * قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٣١ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ٣٢ لِنُرۡسِلَ عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن طِينٖ ٣٣ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ

لِلْمُسْرِفِينَ ﴿٣٤﴾ فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِيهَآ ءَايَةً لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾

[۲۴-۲۹] ای پیغمبره! آیا د ابراهیم معززو میلمنو د قصې و ینا تا ته راغلې ده [یعنی آیا هغه تا ته رسول سوې ده کنه؟ هو! کله چې] دا میلمانه د ابراهیم کورته ورننوتل او په ابراهیم باندې یې سلام واچا ؤ او ابراهیم د دوی سلام ځواب که او و یو یل: تاسې ناپیژندل سوئ قوم (کسان) یاستی؟ او بیا ابراهیم ژر بیرته خپلې میرمنې ته ورغئ او د یوه چاغ سوخندر کباب سوې غوښه یې میلمنوته راوړه او هغه یې دوی ته لنډه مخکې کیښوده [خو ابراهیم علیه السلام بیا ګوري چې میلمانه ډوډۍ نه خوري] نو ابراهیم د میلمنو نه و پوښتل چې آیا تاسی ډوډۍ نه خوری؟ او د میلمنو نه ابراهیم په و یره کې سه [خو میلمانه ژر د هغه په و یره پوه سول او ابراهیم ته یې په ډاډ ورکولو سره] وو یل: ای ابراهیمه! ته مه ډاریږه او مه و یر یږه، او د یؤ زوی ز یږ یدلو ز یرئ یې ورکه [نو بیا چې کله د ابراهیم علیه السلام میرمن خبره سؤ په چیغو او بغارو سره میلمنو خواته راغله او خپل مخ یې په څاپیړو وواهه او و یو یل: څنګه به زه زړه شنډه ښځه زوی وز یږوم؟

[۳۰] او میلمنو [چې دوی ملائکې ول] ابراهیم ته یې وو یل: هو! همداسې د ستا رب الله را ته وو یل [یعنی همداسې الله تعالی را ته حکم وکه] او یقینا چې الله لوی حکیم او ښه پوه ذات دئ، یعنی د الله تعالی ټولې کړنې په لوی علم او په پاخه تدبیر او حکمت سره تر سره کیږي، نو د ابراهیم علیه السلام دغې زړې ښځې نه د زوی په ز یږ یدلوکې د الله لوی حکمت ؤ.

[۳۱-۳۴] [نو بیا ابراهیم د دغو را لیږل سوو میلمنو نه و پوښتل او دوی ته یې] وو یو یل: ای استازو! تاسې څه غواړی؟ [نو استازو په ځواب کې ورته] وو یل: مونږ د یو مجرم قوم پسې را لیږل سوي یو، ترڅو د خټونه جوړې سوې تیږې پردغو مجرمانو باندې راووروو، او ای ابراهیمه! دا

تيږي دغو ظالمانوته په نښه سوې دي.

[٣٥-٣٦] نو بيا د دغو مجرمانو د منځ نه مونږ هغه کسان چې په دوی کې د مومنانو نه ول؛ را وايستل، خو مونږ په دي کلي کې يوازې د يؤ کور نه پرته چې هغه د لوط کور ؤ؛ بل مومن کور بيانموند، يعنی نور ټول سرکښ کافران او مشرکان ول.

[٣٧] او بيا د کافرانو پدې کلي کې مونږ د عذاب يوه نښه هغو کسانوته چې دوی د الله کړونکي عذاب نه و ير يږي پر يښوده، يعنی ترڅو دا نښه هغو کسانوته چې د الله تعالی سزا نه و ير يږي؛ د الله په لو يو قدرتونو باندې همداسی يوه ښکاره نښه پاتې وي.

قدرمنو دوستانو! د ابراهيم عليه السلام ميلمنو دا قصه په وړاندې تير سوو سورتونوکې الله تعالی په وار وار سره يادە کړې ده، او دا چې هغه د اسلام پيغمبر قوم قر يشوته او بيا وروسته ټولو خلکوته د عبرت اخستلو پيغام دئ، نو دلته هم په لنډو الفاظو او په لنډو جملوکې يادە سؤ، ترڅو د رسول الله صلی الله عليه وسلم قوم ورڅخه کلک پند واخلي او ايمان راوړي او د لوط عليه السلام قوم غوندې د تيږو او کانړو په باران باندی تباه او هلاك نسي.

هو! د لوط عليه السلام قوم ته چې دوی په جنسي شذوذ (بچه بازی) باندې رودي ول؛ الله تعالی ښه ډيره درنده سزا ورکړه او د هغې نښې تر اوسه پاتې دي، ترڅو ټول خلک ورڅخه څه زده کړی او عبرت وا خلي.

{د بشر يت تار يخي پيښو نه عبرت اخستل پرخلکو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د قرآني لارښودنو دود سره سم؛ د موسی، هود، صالح او د نوح عليهم السلام قامونو او ولسونو قصې لنډې لنډې يادې کړې دي، ترڅو هغه ټولې د رسول الله صلی الله عليه وسلم قوم قر يشوته د عبرت اخستلو زدکړه وکړئي، او بيا نور ټول راتلونکي خلک د دغو تار يخي قصونه کټه وا خلي، او په بيان کې يې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ٣٨ فَتَوَلَّىٰ بِرُكۡنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ

أَوۡ مَجۡنُونٌ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٞ ﴿٤٠﴾ وَفِي عَادٍ إِذۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلۡعَقِيمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِن شَيۡءٍ أَتَتۡ عَلَيۡهِ إِلَّا جَعَلَتۡهُ كَٱلرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾ وَفِي ثَمُودَ إِذۡ قِيلَ لَهُمۡ تَمَتَّعُواْ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾ فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مِن قِيَامٖ وَمَا كَانُواْ مُنتَصِرِينَ ﴿٤٥﴾ وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿٤٦﴾

[٣٨-٤٠] او[همدارنګه] د موسی په پیغمبرئ کې چې هغه مونږ د ښکاره دلیل او معجزې سره فرعون ته راولیږه [هغو کسانوته چې د الله تعالی عذاب نه و یر یږي لو یه نښه ده، ځکه فرعون پرخپل زور او ځواک باندې وغولیده او د موسی پیغمبري یې ونه منله] او ورځخه په شا سه او و یو یل: موسی کودګر او یا لیونئ دئ، نو بیا مونږ فرعون او د هغه سر تیرو لښکر را ونیول او رټل سوي مو په سمندر کې واچول او پکې لاهو مو کړل، ځکه فرعون کلک ملامت ؤ.

[٤١-٤٢] [او همدارنګه د عاد قوم په هلاکت کې د عبرت اخستلو نښې وی] کله چې پردوی باندې مونږ شړونکئ طوفاني باد یا شمال را والوزا ؤ[یعنی هغه دوی ته مونږ راولیږه] او دا طوفاني باد چې په هرڅه باندې راغئ هغه یي، لکه زوړ سوئ شړ یدلئ توکئ وکړځا ؤ.

[٤٣-٤٥] [او همدارنګه] د ثمود قوم [په هلاکت کې عبرت اخستونکو لپاره د الله تعالی لو یو قدرتونو نښې نغښتي دي] هو! کله چې د دوی پیغمبر ورته وو یل: د ټاکل سوي وخت یا نیټې پورې په خپل کلي کې د ژوند نه خوند واخلی، خو بیا دوی د خپل خدای حکم نه سرکښي وکړه، نو بیا دوی د عذاب تندر په داسې حال کې راونیول چې ورته کتل یې، نو بیا نه د خپلو کلیونه وتښتیدلای سول، او نه یي د ځان نه دفاع وکړلای سؤ، یعنی ثمودیانوته الله په ډیرې خواری سره کلکه سزا ورکړه.

[٤٦] او د نوح قوم مونږ پخوا هلاك کړل، ځکه دوی په یقین سره د الله فرمان او حکمونو نه یو وتلئ قوم ؤ.

عزتمنو دوستانو! الله تعالى د دغو ولسونو د سرکښۍ سزاګانې ټولو راتلونکو ولسونوته او په ځانګړې ډول د مکې کافرانوته د عبرت اخستلو لوپې نښې ګرځولې دي، ترڅو ورڅخه راتلونکي نسلونه او امتونه ګټه واخلي، او د الله تعالى حکمونو نه د سرکښۍ هڅه ونکړي، خو د بده مرغه انسان ډير هيرونکئ مخلوق دئ، او هيڅ کله د خپلو پخوانيو نيکونو د تور تار يخ نه ګټه نه اخلى او هرکله چې د هغه لاس لږ برسي او د بغاوت او سرکښۍ فرصت بيامومي، نو بيا ژر په نورو ډلو او په ځانګړې ډول پرحق پالانو باندې بر يد کړي او هغوى د پښولاندې کوي، لکه څنګه چې يې ژوندي مثالونه او بيلګې په اوسني افغانسان کې و ينو چې دا څه باندې څلو ويښت کاله پکې جګړه روانه ؤ، او دا هيواد د (۱۳۵۷هـ ش کال نه تر ۱۴۰۰هـ ش کال زمري پورې) دوه ځله د لوى بهرنى ښکيلاک لاندې راغئ، او افغان ولس پکې وو يشل سه او جګړې پکې تودې سوې او د ښکيلاک او د دوى پلو يانو سره د جهاد او مقاومت غږ پورته سه، او بيا د ډيرو سرښندنو نه وروسته؛ دا دئ اوس اوس الحمد لله هيواد د دو يم ښکيلاک نه هم د ۲۰۲۱م کال د آګست په ديرسمه شپه پوره ازاد سه او د طالبانو اسلامي امارت خپله واکمني د شل کلن جهاد او مقاومت نه وروسته بيرته لاس ته راوړه، نو دعاء کړو چې الله تعالى ده نور دا وطن تل خپلواک لري او د جنګ او جګړې اور ده الله نور پکې د تل لپاره مړ لري، او د خپل منځې جګړونه دي په خپل فضل سره وساتي.

ګرانو عز يزانو! نو ښايي چې په قرآنى قصو کې ښه ژور فکر وکړو او بيا ورڅخه پند او ګټه واخلو او داسې نه، لکه ځينې اوسني لوستونکي چې هيڅ کله د تير تار يخ نه ګټه نه اخلي او تار يخ يوازې د تسليت لپاره او يا د ثقافتي معلوماتو لپاره لولي، نو ځکه دا دئ په اوسني وخت کې و ينو چې د اسلامي نړۍ په ځينو هيوادونو کې د و ينو سيل آ ب همداسې جاري دئ، او د بده مرغه د ډير لنډ تير سوي تار يخ نه په اسلامي هيوادونو کې؛ څوک عبرت نه اخلي، او د دغو هيوادونو ډير جوړ سوي مشران همداسې په خپلو سرکښيوکې لګيا دي او يو بل وژني، نو په اصرار او زارۍ سره

دعاء کړو چې الله تعالى ده په اسلامي نړۍ باندې د امنیت سورئ راخور کړي او دوی ده؛ الله تعالى د ځان وژلو نه نور په خپل فضل او رحمت سره خلاص کړي او دغو لو یو فتنوته ده الله تعالى په خپل لطف او رحمت سره د پای ټکئ کیږدي، او اسلامي نړۍ ده الله تعالى ښاده او د حق په سمه لار باندې روانه کړي! آمین یارب العالمین!

{د الله تعالى قدرتونو نښې په ځمکه او اسمان کې خورې دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالي مونږ د خپلو لو یو قدرتونو نندارې ته پرځمکه او په اسمانوکې رابللي یو او فرمایلي دي:

﴿وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ٤٧ وَٱلۡأَرۡضَ فَرَشۡنَٰهَا فَنِعۡمَ ٱلۡمَٰهِدُونَ ٤٨ وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٤٩ فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٥٠ وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٥١ كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٌ ٥٢ أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ٥٣ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٖ ٥٤ وَذَكِّرۡ فَإِنَّ ٱلذِّكۡرَىٰ تَنفَعُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٥﴾

[٤٧-٤٨] او اسمان مونږ په [کلکو او لو یو] لاسونو باندې پورته جګ که او هره خوا مونږ یقینا ښه لو یه کړه، او ځمکه مونږ خوره وره کړه، نو مونږ د ځمکې ډیر غوره اوارووونکي یو.

[٤٩] او هرڅه مونږ جوړه جوړه [نر او ښځه، مثبت او منفي...] پیدا کړل، ترڅو تاسې ای خلکو! د الله قدرتونه را په یاد کړئ او څه ورڅخه زده کړئ، یعنی څه ګټه ورڅخه واخلئ او د الله تعالى په مخلوقاتو کې څیړنې وکړئ اوڅه زده کړئ، خو د بده مرغه مومنانو د الله تعالى د دې سپارښت نه تر اوسه ډیره لږ ګټه اخستې ده، او هغه ولسونه چې مسلمانان ندي، لکه غربي هیوادونه، چین او جاپان هغوی ټول اوس د فضا تسخیر په سیالۍ کې یو بل سره لګیا دي.

[۵۰-۵۱] نو ای خلکو! د الله سزا نه هغه ثواب ته په منډه سی، او زه تاسې ته یقینا د الله عذاب نه ښکاره ګواښونکئ یم، او د الله سره بل هیڅ څوک یوځای خدای او معبود مه ګرځوی [یعنی د الله نه پرته بل څوک په خدایي مه نیسی او د هغه بنده ګي مکړی، ځکه] زه تاسې ته په یقین سره د الله لخوا ښکاره ګواښونکئ یم!

ګرانو دوستانو! پدې مبارکو آیتونوکې الله تعالی پیغمبرﷺ ته سپارښت کړئ دئ چې دا پیغام په خپله ژ به امت ته ورسوي، خو د دې ټولو زړه سوانده نصیحتونو، سپارښتنو او ګواښونو سره سره بیا هم د مکې کافرانو حق ونه مانه، او د کفر او د الله تعالی حکمونو نه د بغاوت او سرکښی لاریې خپله کړه، نو بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ ته د تسلیت او د ډاډ پیغام ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۵۲-۵۳] [ای خلکو! لکه څنګه چې د مکې کافرانو رسول اللهﷺ ته کودګر او لیونئ وو یل] همداسې د دوی نه مخکې کسانو او ولسونو ته؛ هیڅ پیغمبر رانغئ مګر دا چې دوی وو یل: هغه کودګر او یا لیونئ دئ، نو آیا دوی یو بل ته په دغسې خبره او په درغړن تور باندې سپارښت کړئ دئ؟ نا! دوی ټول یؤ سرکښ قوم دئ، یعنی زړونه، خبرې او کړنې یې په کفر او په بغاوت کې سره ورته دي!

[۵۴-۵۵] نو ته ای پیغمبر! دغو مشرکانو نه مخ واړه ؤ[یعنی پروایې مه کړه] ځکه ته نور په دوی ملامت نه یي، یعنی تا خپل رسالت او خپله دنده د الله تعالی دین ته د خلکو په رابلنه کې سر ته ورسوله، خو د دې سره بیا هم خپل دعوت په مخ یوسه] او د الله ثواب او سزا خلکو ته د قیامت په ورځ ور په یاد کړه، ځکه یادونه [یعنی وعظ کړل] مومنانو ته ګټه رسوي، یعنی دوی ورڅخه پند ا خلي.

{الله ټول انسانان او پیریان یوازې عبادت ته پیدا کړي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې د الذار یات مبارکی سوری وروستي آیتونه دي؛ الله تعالی د انسانانو او پیریانو د پیدایښت مقصد او د دوی

رسالت په ځمکه کې یاد کړئ او بیان کړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴿٥٨﴾ فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾﴾

[٥٦-٥٨] هو! ټول پیریان او انسانان ما ندي پیدا کړي، مګر داچې ترڅو دوی یوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړي او فرمان یې یوسي، او د دوی نه زه روزي نه غواړم او نه ورڅخه خواړه غواړم، ځکه یقینا چې الله ټولو خلکوته روزي ورکونکئ لوی ذات دئ او د کلک ځواک او قدرت څښتن دئ، یعنی الله تعالی هیڅ کله خپلو بنده ګانوته اړ او محتاج ندئ، ځکه الله غني خدای دئ، بلکې خلک ټول الله ته محتاج او اړ دي او الله دوی ته روزي ورکوي او پالونکئ څښتن یې دئ.

ګرانو لوستونکو! د عبادت نه مقصد یوازې فرضي شعائر، لکه لمونځ، زکات، روزه او حج ندي، بلکې دا شعائر د مومن بنده نور ټول ډول ډول عبادتونه، لکه ښې و یناوې او ښې کړنې پکې شاملې دي، ترڅو مومن بنده هغه د الله تعالی په حکم او سپارښت؛ د الله رضا لپاره د عبادت په مقصد ترسره کړي او ثواب وګټي.

[٥٩] نو هغو کسانو چې په ګناه کړو سره د خپلو پخوانیو ملګرو غوندې ظلم وکه [دوی ته د الله عذاب خاماخا راتلونکئ دئ] او دوی دې راتک ته تلوار نکړي، یعنی دا عذاب هرومرو راځی، لکه څنګه چې په پخوانیو امتونو باندې راغئ.

[٦٠] نو هغو کافرانوته هلاکت دئ چې دوی د قیامت ورځې عذاب نه [و یرول سوي دي] او وعدې یي ورسره سوې دي [خو بیا هم د دوی پام هغه ته ندئ] او په کلک غفلت کې دي، یعنی دا چې د الله تعالی عذاب نه د ځان ساتنې په مقصد هیڅ فکر نکړي، او نه یې څه توښه برابره کړې

ده.

درندو دوســـتانو! الله تعالى چې لوى ځواکمن ذات دئ؛ پدې مبارك آيت کې يې د مکې کافران او نور ټول خلک تر قيامت ورځې پورې د آخرت ورځې سـزا نه کلک ګواښـلي دي او يوازې د الله تعالى بنده ګى ته يې هڅولي دي.

والحمد لله رب العالمين، وصـلى الله وسـلم على رسـوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الطور سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الطور سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الطور مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالی د کافرانو شکونه او شبهې د قرآن کریم حقانیت او ر یښتینولي په باره کې ا و د قیامت ورځې په حقانیت او ر یښتینوالي کې؛ په ډیرو روښانه دلیلونو سره رد کړي او غندلې دي، او دا مبارکه سوره چې د الله نه په حق او ر یښتیا سره را نازل سوئ پیغام دئ؛ د بنده په زړه او نفس کې کلک تاثیر کړي او دې ته یې هڅوي چې د تار یخ په لو یو پیښو او د دنیا په مخلوقاتوکې او د الله تعالی په قدرتونوکې ژور فکر وکړي او د الله تعالی عظمت او لو یتیا ته په ر بو بیت او خدایي کې تسلیم سي او یوازې د الله بنده کې او عبادت وکړي، او د دې مبارکې سورې نوم د هغې لمړي آیت نه چې د طور په غره باندې الله لوړه کړې ده؛ اخستل سوئ دئ، او په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

{د قیامت ورځ راتلونکې ده او سزا یې حق او ر یښتیا ده}

﴿وَٱلطُّورِ ۝١ وَكِتَٰبٖ مَّسۡطُورٖ ۝٢ فِي رَقّٖ مَّنشُورٖ ۝٣ وَٱلۡبَيۡتِ ٱلۡمَعۡمُورِ ۝٤ وَٱلسَّقۡفِ ٱلۡمَرۡفُوعِ ۝٥ وَٱلۡبَحۡرِ ٱلۡمَسۡجُورِ ۝٦ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٞ ۝٧ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٖ ۝٨ يَوۡمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوۡرٗا ۝٩ وَتَسِيرُ ٱلۡجِبَالُ سَيۡرٗا ۝١٠ فَوَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ۝١١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي خَوۡضٖ يَلۡعَبُونَ ۝١٢ يَوۡمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعّٗا ۝١٣ هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ۝١٤ أَفَسِحۡرٌ هَٰذَآ أَمۡ أَنتُمۡ لَا تُبۡصِرُونَ ۝١٥ ٱصۡلَوۡهَا فَٱصۡبِرُوٓاْ أَوۡ لَا تَصۡبِرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡۖ إِنَّمَا

﴿تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٦﴾

[١-١٠] د طور په غونډۍ قسم او لوړه ده[چې هغه د سينا په ډاګ کې پرته ده او هلته الله موسی سره خبرې وکړې] او په ليکل سوي کتاب (قرآن) باندې چې په نري پوستکې کې ليکل سوئ او خور سوئ دئ؛ قسم دئ، او بيت معمور باندې قسم دئ[چې هغه په او وم اسمان کې ده] او په پورته لوړ سوي اسمان باندې چې د ځمکې پوښ دئ؛ قسم دئ، او د سمندر په او بوکې بل سوي اور باندې؛ قسم دئ چې د ستا رب الله عذاب ای پيغمبره! قيامت په ورځ پرکافرانو باندې يقينا راتلونکئ او پردوی باندې را کوز يدونکي دئ، او هيڅ څوک يې مخه نيولای نسي، او دا په هغه ورځ چې کله اسمان په شور يدو سي او غرونه په خوځيدو سره ځي، يعنی د دنيا ژوند نظام يا سستم د قيامت ورځې په راتګ سره رنګ سي او قيامت جوړ سي او ودر يږي.

[١١-١٢] نو بيا په هغه ورځ [نور د الله تعالی کتابونو، پيغمبرانو او د قيامت ورځې] تکذيب کونکوته هلاکت وي [يعنی دوی ته کلکه سزا ورکول کيږي، ځکه دوی هغه] کسان ول چې په ناروا او حرامو لو بوکې لګيا ول، يعنی ورڅخه يې ناروا خوند اخست او الله يې په ياد نوه په غفلت کې ول.

[١٣-١٤] او په هغه ورځ بيا کافران په ډير ذلت او خواری سره د جهنم اور ته ور پورې وهل کيږي [يعنی د دوخ څارونکې او ساتونکې ورته وايي:] دا د دوزخ هغه اور دئ چې تاسې ای کافرانو! هغه دروغ باله، يعنی د الله حکمونه تاسې نه منل او په کلکه سرکښۍ کې ورک وی!

[١٥-١٦] نو آيا دا عذاب چې هغه اوس تاسې ای کافرانو! و يې؛ کوډې دي؟ او يا دا چې هغه تاسې نه و يې؟ نو اوس د دوزخ اور په سرو لمبوکې وکړ يږی، او پر دغه کلکه سزا که تاسې صبر وکړی او که صبر ونکړی؛ دواړه پرتاسې باندې سره برابر دي، ځکه تاسې ته د خپلو بدو کړنو سزا په يقين سره درکول کيږي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې پرخپلو

ارزښتناکو او لو یو مخلوقاتو باندې پرځمکه او په اسمانوکې لوړه کړي ده او قسم یې ور باندې خوړلې دئ چې د قیامت ورځې عذاب پرکافرانو باندې خامخا راتلونکي دئ، او هیڅ څوک د هغه مخه نیولای نسي، او بیا چې کله قیامت د دنیا ژوند نظام ړنګیدو نه وروسته جوړ سي او ښکاره هغه ودر یږي، نو بیا کافران چې د الله نه ورته راغلي پیغمبران او ورسره د الله نه رانازل سوي کتابونه یې ونه منل او هغه یې دروغ و بلل؛ دوی د دوزخ سره اور ته په ډیر سپکاوي سره ورغورځول کیږي، او د دوزخ ساتونکي ور باندې غږ کړي ورته وایي: هو! دا د دوزخ هغه اور دئ چې تاسې ای کافرانو! هغه دروغ باله، نو اوس پکې کلک وکړ یږئ او وسوزئ!

هو؛ ګرانو دوستانو! دا د قیامت ورځې هغه ژوندئ تصویر یا انځور دئ چې هغه مونږ ته الله تعالی ورلاندې کړئ دئ، ترڅو پکې ښه ژور فکر وکړو او ځانونه د کفر او ګناه نه وساتو، ترڅو بیا مونږ ته الله تعالی جنتونه را کړي او د دوزخ اور په سرو لمبوکې د کړ یدلو نه مونږ ته الله په خپل لوی فضل او رحمت سره نجات را کړي او ورڅخه مو وساتي.

{متقیان الله په جنتونو نازوي او د کړونکي عذاب نه یې ساتي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې متقیانوته الله په جنتونوکې د خوارې ژوند ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ أَلَتْنَٰهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَىْءٍ ۚ كُلُّ ٱمْرِئٍۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾ وَأَمْدَدْنَٰهُم بِفَٰكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾ * وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِىٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾

فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلُ نَدۡعُوهُۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾

[۱۷-۱۸] هو! یقیناچې متقیان په جنتونو او په لو یو نعمتونوکې دي، او د ډول ډول خوږو میو نه چې هغه دوی ته لوی رب الله ورکړي دي؛ خوند اخلي، او متقیان د دوی لوی څښتن الله د دوزخ کړونکي عذاب نه وساتل، یعنی دا ځکه چې دوی په اطاعت سره خپل ځانونه عذاب نه خوندي کړل.

[۱۹-۲۰] ای متقیانو! اوس نو د خپلو ښو کړنو میوه په مزو سره وخورئ او شر بتونه یې وځکئ، او متقیان به په جنت کې په لیکه ایښودل سوو کټونو او پستو څوکیو باندې تکیه وهلي وي[یعنی یو بل ته به مخامخ ناست وي] او متقیانوته مونږ د جنت حورې چې ښې غټې ښکلې او ښایسته سترګې لري؛ وا ده کړې.

[۲۱] او هغو کسانو چې ایمان را وړ او کهول یې هم ور پسې لاړل او ایمان یې راوړ، نو بیا دوی هم مونږ خپلو پلرونو پسې په جنتونوکې سره یوځای کړل، او د دغو متقیانو د ښو کړنو ثواب نه مونږ هیڅ څه لږ یا کم نکړل، ځکه هرڅوک د خپلو کړنو د ګروئ نه مسؤل دئ، یعنی هر چا ته د خپل عمل ثواب او سزا ورکول کیږي، ځکه هرڅوک د خپلو کړنو مسئولیت په غاړه وړي، نو متقیانوته هم د دوی د ښو کړنو ثوابونه ورکړل سول او خپله برخه یې لاس ته راوړه؟

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د مومنانو کورنیو ټولو غړو په یوځای کیدو باندې په جنت کې ټینګار کړئ دئ، او هغه یې د متقیانو د ښادئ یوه برخه ګڼلې ده، نو ښایي چې د دنیا په ژوند کې هم دغسې ښادي د کورنئ ټولو غړو په ګډ ژوند کې و پالل سي، لکه څنګه چې یې الحمد لله مومنان پالي او یول بل سره په ښادئ او غم کې شر یك دي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې همداسې الله تعالی خپلې پیرزو یې

پرمتقيانو باندې يادې کړې دي، او فرمايلي دي:

[٢٢-٢٣] او کمې ميوې او غوښې چې د متقيانو خوښيدلې او زړونه يې ورته کيدل؛ هغه ټولې دوی ته مونږ ورکړې [يعنی په جنت کې دوی ته مونږ د هغو شرابو ګيلاسونه] چې د دنيا شرابو غوندې ګناه او مستي پکې نه وي ورځکو، او بيا به متقيان دغه د خوږو شرابو نه ډک ګيلاسونه يو بل ته ورکوي، يعنی د (يتنازعون) نه دلته مقصد په يو بل باندې لور ينه او ورکړه ده، نه نزاع او د يو بل سره جګړه، ځکه په جنت کې نعمتونه ډير دي او ټول جنتيان خپله برخه ا خلي او د سخاوت روحيه پکې پياوړې وي.

[٢٤] او په جنتيانو باندې د مرغلرو غوندې سپين ښايسته او ښکلي زلمکيان د خدمت لپاره کړئی را کړئی.

[٢٥-٢٨] او دا جنتيان چې مخامخ سره ناست وي؛ يو د بل نه پوښتنې کړي او وايي: کله چې مونږ مخکې په دنيا کې په خپلو کورونوکې وو او د الله عذاب نه په و يره کې وو، نو بيا زمونږ سره الله ښه وکړل، او مونږپې د دوزخ کړوونکي عذاب نه وساتلو، او يقيناچې مخکې مونږ په دنيا کې الله ته دعاء او زاري کړه چې د دوزخ اور کړونکي عذاب نه مونږ وساتي [نو بيا په ر يښتيا سره د زمونږ دعاء الله تعالی قبوله کړه] او يقينا چې الله ښه کړونکئ، او کلک مهر بان لوی ذات دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې مونږ ته د متقيانو ثوابونه او لوی نعمتونه چې هغه الله تعالی پردوی باندې په آخرت کې پيرزو کوي؛ ياد کړي دي، ترڅو هر هوښيار مومن بنده دغسې لور مقام ته د رسيدو لپاره توښه برابره کړي، او د الله تعالی پرټولو حکمونو باندې عمل وکړي او هغه پرځای کړي، او خپل ځان د متقيانو په قطار او ليکه کې ودروي، ځکه متقيان هغه مومنان دي چې ايمان يې راوړئ دئ او د اسلام ټول ارکان يې عملي کړي او پرځای کړي دي.

{محمد ﷺ د الله ګواښونکئ استازئ ؤنه کاهن ؤاونه ليونئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ

دئ، او د کافرانو دروغژن تورونه يې کلک رد کړي دي او خپل پيغمبر ﷺ ته يې سپارښت کړئ دئ چې ته ده خپل دعوت همداسې په مخ يوسه او د کافرانو سپکو سپور خبرو او درغژنو تورونو پروا مکړه، او فرمايلي دي:

﴿فَذَكِّرْ فَمَآ أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوا۟ فَإِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥ ۚ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا۟ بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِۦٓ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٣٤﴾﴾

[۲۹] نو ته ای پيغمبره! خلکوته د الله سزا ور په ياد کړه [يعنی دوی ايمان راوړوته راو بوله، ځکه ته چې خپل لوی رب د پيغمبری په لوی نعمت او لوړ مقام باندې نازولي يې] نه کاهن کودګريې او نه ليونئ [نو د مکې کافرانو دغسې سپکې خبرې او دروغژن تورونه چې تا پسې يې تپې او وايي چې محمد کاهن دئ، او خلک د پټو خبرونه خبروي، او يا هغه ليونئ دئ؛ دا ټول تورونه دروغ دي او ته ورځخه پاک يې، نو هيڅ پروايې مکړه!

[۳۰-۳۱] او يا دا چې کافران وايي: محمد شاعر دئ او مونږ د هغه مړ ينې ته د زمانې پيښو سره په طمعه يو، نو ته ای پيغمبره! [دوی ته په ځواب کې] ووايه: ای کافرانو! تاسې د زما مرګ ته انتظار و باسی! نو زه هم يقينا ستاسې سره يوځای په انتظار کونکو کې يم، يعنی د الله عذاب به پرتاسې باندې را کوز يږي، او بيا به تاسې ای کافرانو! وو يی چې راتلونکې فتحه او بر يا د چا ده؟

[۳۲] نو آيا دغو کافرانوته د دوی ناکاره عقلونو دا خبرې کړي؟ [يعنی ترڅو د الله پيغمبر ﷺ پسې دغسې سپکې سپورې ووايي] او يا داچې دوی يؤ سرکښ او د الله اطاعت نه وتلئ قوم دئ؟ [ځواب داچې: هو! کافران يقينا د الله تعالی اطاعت نه يو وتلئ سرکښ قوم دئ!]

[۳۳-۳٤] او يا داچې کافران وايي: محمد قرآن د خپل ځان نه جوړ کړئ دئ؟ بلکې دوی ايمان نه راوړي، او که دا کافران په خپلو دغو

دروغژنو تورونوکې د ر ښـــتيا و يونکونه وي، نو د قرآن غوندې خبرې ده راوړي؟ يعنى داچې د ر ښـــتيا خبره او حقيقت دا دئ چې د مکې کافران هيڅ کله د قرآن غوندې خبرې راوړای نسي، ځکه قرآن د رسول الله ﷺ د نبوت تصـــديق لپاره لو يه معجزه ده، نو ځکه هيڅ څوک د هغه غوندې خبرې را وړای نســـي او دا ننګونه الله تعالى په نورو ډيرو مبارکو آيتونوکې هم د مکې کينه کښو کافرانوته اعلان کړې ده، او دوی ننګولي دي.

{د الله ربو بيت نښې په کائناتو او زمونږ په ځانونو کې ځليږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د خپلو لو يو قدرتونو نښې يادې کړې او بيان کړې دي، ترڅو ټول خلک خپل لوی خداى ښـــه و پيژني او بيا په توحيد او يوالي سـره؛ د الله تعالى عبادت او بنده ګي وکړي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ ٱلْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۖ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَهُ ٱلْبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هُمُ ٱلْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾﴾

[٣٥] او آيا دغه کافران د پيدا کونکي خالق نه پرته په خپل ســر پيدا ســـوي دي؟ او يا دا چې دوی خپله پيدا کونکي دي؟ يعنى خپل ځانونه يې خپله پيدا کړي دي؟ ځواب دا چې: دا دواړه خبرې حقيقت نه لري او هغه ر ښتيا ندي، ځکه د شك نه پرته دا ټول خلک يوازي الله تعالى پيدا کړي دي، او د هغه مخلوقات او بنده ګان دي.

[٣٦] او يا دا چې ځمکه او اســمانونه ټول دغو کافرانو پيدا کړي دي! بلکې دوی په هيڅ څه باندې باور نه لري، يعنى کافران د الله تعالى عذاب

د قيامت په ورځ نه منی!

[۳۷] او يا دا چې ای پيغمبره! کافرانو سره د ستا رب پټې خزانې دي؟ او يا داچې د مکې کافران د هرڅه واکمنان دي؟ [ځواب: دا ټولې خوسې خبرې دي او د مکې مشرکانو خدايان هيڅ څه کړلای نسي، ځکه هغه په اصل کې د بې وسعو مخلوقاتو کالبوتان دي]

[۳۸] او يا دا چې د کافرانو سره پورته اسمان ته د ختلو اوږدې ز ينې دي او بيا دوی ور باندې اسمان ته خيځي او د الله خبرې اوري؟ نو د کافرانو اور يدونکي ده [چې د وحې پې اور يدلو دعوا کړي؛ راسې او په خپلو اور يدو ده] يو داسې ښکاره دليل راوړي چې د دوی تصديق وکړي!

[۳۹] [او يا دا چې کافران ګمان کړي] چې الله لونې لري او تاسې زامن!

[٤٠] او آيا ته ای پيغمبره! د کافرانو نه د خپل دعوت او تبليغ په عوض کې] مزدوري غواړې؟ چې هغه پردوی باندې درنديږي، يعنی مزدوری درکولای نسي!

[٤١] او يا دا چې د کافرانو سره د پټو شيانو پوهه سته، نو دوی هغه خلکوته ليکي؟ [ځواب داچې حقيقت داسې ندئ او د الله نه پرته بل هيڅ څوک په پټو شيانو باندې علم نه لري]

[٤٢] او يا دا چې کافران غواړي رسول الله ته چل جوړ کړي؟ نو د دوی د چل او غولولو ز يان خپله کافرانوته رسيږي، يعنی رسول الله ﷺ ته هيڅ ز يان رسولای نسي.

[٤٣] او يا دا چې کافران د الله نه پرته بل خدای لري؟ خو الله د دوی د دروغو خدايانو نه پاک دئ او هيڅ څوک شر يك نه لري.

ګرانو عزيزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې په ډيرو لوړو عربي ادبياتو سره د مکې کافرانو ټولې خبرې او سپک تورونه رسول الله ﷺ پسی ياد کړي او بيان کړي دي، او بيايې هغه کلک غندلي او رد کړي دي او ټول سوالونه او پوښتنې يې ځواب کړي دي، او د الله تعالی پدې روښانه بيان سره د کافرانو بد چلند د رسول الله ﷺ سره د هغه پيغمبری په

ديارلس کلنه مکي دوره کې؛ د دوی د تورو کينو او د کبرجنو کړنو ډير څرګند انځور مونږ ته الله تعالی وړاندې کړئ دئ، او هغه د رسول الله ﷺ صبر او لو يه حوصله او اوږد زغم څرګندوي، نوښايي چې د الله دين ته رابلونکي دعات د صبر او زغم په خوی باندې خپل ځانونه کلک وروزي، او د اوسنۍ عصر او زمانې هغو په نامه ځينی دعاتو او شيخانو غوندې ده نسي چې ډير ژر د دعوت په لار کې په داسي حال کې تورې ته لاس اوږدوي چې بيا دئ خپله په هغه توره وژل کيږي، او په هغه توره د الله تعالی دين ته هيڅ خدمت کړای نسي، بلکې د الله دښمنانوته پلمې په لاس کې ورکوي، ترڅو اسلام ښه کلک بد نام کړي، نو ښايي چې دعات د مکي او د مدني دورې په فرق باندې خپل ځانونه ښه پوه کړي، او هغه تل په پام کې ونيسي او د دعوت پدې اوږده مزله کې ورڅخه ښه کار واخلي.

{کافران قيامت په ورځ ځپل کيږي او دعوت کې صبر فرض دئ}

او په ور پسې مبار کو آيتونوکې الله تعالی همداسې د مکې کافرانو تيرئ کونکئ در يځ د رسول الله ﷺ پر وړاندې ياد کړئ دئ، او خپل پيغمبر او استازي رسول الله ﷺ ته يې ډيرې کتورې لارښودنې او سپارښتنې کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ سَاقِطًا يَقُولُوا۟ سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾ فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِى عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٧﴾ وَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ۖ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ﴿٤٩﴾﴾

[٤٤] [ای پيغمبره! او د مکې کافران ضد پسې اخستي دي] نو که دوی د عذاب ټوټې وو يني چې د اسمان نه پر دوی باندې را لو يږي، نو وايي به چې هغه يو په بل سپاره ووره دي!

[٤٥] نو ته ای پيغمبره! کافران همداسې پر يږده، ترڅو د خپلې هغې ورځې سره مخامخ سي چې بيا به په هغه ورځ ښه ځپل کيږي او هلاکيږي.

[٤٦] او د قيامت په ورځ د كافرانو چلونه؛ د دوى نه د الله عذاب لرې كولاى نسي او نه ورسره مرسته كيږي!

[٤٧] او هغو كســانو چې ظلم او تيرئ وكه؛ دوى ته يقينا په دنيا كې مخكې د قيامت ورځې راتګ نه عذاب وركول كيږي، خو د كافرانو نه ډير كسان پدې حقيقت باندې نه پوهيږي!

ګرانو دوســتانو! په دي مبارکو آيتونوكې الله تعالى د مكې كافران په هغه سـزا باندې ګواښـلي دي، چې بيا دوى ورسـره په دنيا كې د رسـول الله ﷺ ســره په جګړو او غزاګانوكې مخامخ ســول، خو د مكې كافران چې كبرجن ول، او كينو پسې اخستي ول؛ په دغو ګواښـونو پوه نسـول، ترڅو چې بيا دوى د الله كلكو عذابونو را ونيول او د بدر په غزا كې د دوى ډير مشران، لكه ابو جهل او نور د مومنان په تورو هلاك يا برمته سول.

او په ور پسې مبارکو آيتوكې رسـول اللهﷺ الله تعالى صبر او زغم ته او د الله حمد او ستاينې ته رابللئ دئ، او فرمايلي دي:

[٤٨-٤٩] او ته اى پيغمبره! د خپل خداى په حكم باندې صـبر وكړه، او باور ولره چې ته د زمونږ سـترګو لاندي يې او مونږ ده سـاتو، او كله چې ته د خوب نه راجګيږې، نو د خپل رب الله سـتاينه وكړه او حمد او ثنايي ووايه، او لمونځ وكړه او په شــپه كې د خپل رب تســبيح ووايه او لمونځ وكړه، او د شـپې لخوا چې كله سـتوري مخ په پر يوتو سـول او شـپه پخه سوه؛ لمونځ وكړه او خپل رب الله په پاكۍ سره وستايه.

قدرمنو مومنانو وروڼو! د الله تعالى دا قاطع او پر يكنده سـپارښـت رســول اللهﷺ ته؛ يوازې هغه ته چې دئ د الله تعالى پيغمبر ؤ او وحيه ورته راتله ؛نؤ، دا سـپارښـت د رسـول الله ﷺ د دين ټولو دعاتو او هغو علماوو او ملايانو او واعظانوته دئ چې دوى د الله دين ته د دعوت ملا ترلې ده، او د الله تعالى دين خلكوته رســوي او ورزده كوي يې، او بيا دوى ور باندې شپه روزي، ځكه دا دعوت لوى صبر او كلك عزم او تصميم، او پوره اخلاص ته اړتيا لري، نو شـايي چې اسـلام ته رابلونكي دعات په دغو

خو يونو باندې ځانونه ښـــه وروزي او پيغمبرانه اخلاق او خو يونه په خپلو ځانوکې را پيدا کړي، ترڅو په ټولنه کې قدوه يې حســـنه وکړئ او خلک ور پسې اقتدا وکړي او تک لاريې ومني.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د النجم سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د النجم سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو مومنانو دوستانو! د النجم مبارکه سوره مکي سوره ده، او د ايمان ارکان، لکه د الله تعالى توحيد او د الله استازو پيغمبرې او په حق سره د الله نه را نازل سوي کتاب قرآن ر يښتينوالي ثبوت او د آخرت ورځې حتميت او نورې اړوند مسئلې پکې کلکې يادې سوې او بيان سوې دي، او پر رسول الله ﷺ باندې د وحى يې را نازليدو په ر يښتينوالي باندې؛ الله تعالى ځانګړئ ټينګار کړئ دئ او د توحيدي عقيده پکې کلکه تاييد سوې او ښه روښانه بيان سوې ده، او د کافرانو شرکي عقايد الله تعالى رد کړي او کلک يې غندلي دي، او په پاى کې يې الله تعالي د رسول الله ﷺ پيغمبرې د پخوانيو پيغمبرانو رسالت سره تړلې ده، او د النجم مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى په ستورو باندې چې په اسمان کې د الله تعالى لو يو قدرتونو نښې دي؛ لوړه کړي ده او فرمايلي دي:

{پيغمبر ته د اسمان نه وحيه راځي او ځان نه څه نه و ايي}

﴿وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمۡ وَمَا غَوَىٰ ۝٢ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ ۝٥ ذُو مِرَّةٖ فَٱسۡتَوَىٰ ۝٦ وَهُوَ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝٨ فَكَانَ قَابَ قَوۡسَيۡنِ أَوۡ أَدۡنَىٰ ۝٩ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَىٰ عَبۡدِهِۦ مَآ أَوۡحَىٰ ۝١٠ مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ۝١١ أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ۝١٢ وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ ۝١٣ عِندَ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ ۝١٤ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰٓ ۝١٥ إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ ۝١٦ مَا زَاغَ

ٱلۡبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ١٧ لَقَدۡ رَأَىٰ مِنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ ١٨ ﴾

[١-٤] [ای خلکو!] او په هغه ستوري باندې چې کله پر يوت لوړه او قسم دئ چې د ستاسې ملګري (محمدﷺ) سمه لار نده ورکه کړې، او نه دئ ورڅخه کوږ سوئ دئ [يعنی رسول الله ﷺ پرحق باندې همداسي ټينګ ولاړ دئ] او دئ د خپلې خوښې او هوس نه خبرې نکړي، او هر څه چې وايي؛ هغه د الله نه ورته وحيه سوې ده!

[٥-١١] هو! دا خبرې محمد ته ډير کلک ځواکمن او د ښکلې او ښايسته ځيرې څښتن فرښتې (جبرائيل امينعليه السلام) ورزده کړي او ښودلې دي، هو! کله چې جبرائيل د اسمان په لوړه څنډه ودر يده او بيا را لنډ سه او رسول الله ته لنډ را زوند سه، دومره چې را لنډ يدل يې رسول الله ته د دۀ لينديو د اوږدو په واټن کې ۀ، او د هغې نه لا هم را لنډ ۀ، نو بيا جبرائيل د الله بنده (محمد ﷺ) ته هغه خبرې چې الله ورته وحيه کړې وي [يعنی وروبی په زړه کې ورته واچولې] او هغه څه چې محمد د اسمان په ځپوکې په سترګو وليدل؛ په هغوکې د هغه زړه دروغ ندي و يلي، يعنی دا چې رسول الله ﷺ جبرئيل امين عليه السلام په خپله ملائکي ځيره کې د وحی يې لمړي ځل د زنډيدلو نه وروسته په خپلو سترګو په مکه کې وليده، او جبرئيل د الله پيغام ورته چې د مدثر سورې لمړي آيتونه ول؛ وحيه کړل.

[١٢] نو آيا تاسې ای خلکو! د محمد سره په هغه څه کې بحث او استدلال کړی چې هغه دئ په سترګو و يني؟ يعنی آيا تاسې د جبرئيل ليدل په ملائکي ځيره کې چې کله يې پيغمبرته وحيه کړه دروغ بولی؟ ځواب دا چې د کافرانو دا بحثونه د رسول الله ﷺ سره خوسې خبرې وې، ځکه پيغمبرﷺ په وار وار سره جبرئيل ليدلئ دئ، او پيغمبر ته يې د الله تعالی پيغام رسولئ دئ، لکه څنګه چې په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی فرمايلي دي:

[۱۳-۱٤] او بيا په بل ځل را کوز يدوکې جبرئيل محمد د هغه په ملائکي څيره کې د سدرة المنتهى ونې په څيرمه [د معراج په شپه په اووم اسمان کې وليده]

[۱۵-۱٦] او دا د سدرة المنتهى ونه د ټولو ښو خلکو د ارواحو د راغونډيدلو وروستي مينه او جنت دئ، کله چې څوک غواړي هلته ورننوځي، نو بيا دا ونه دئ پټوي.

هو! درندو دوستانو! جبرئيل امين عليه السلام د معراج په شپه رسول الله ﷺ د الله تعالى په حکم اسمان ته پورته جګ که، ترڅو په اووم اسمان کې د عرش لاندې وروستي تم ځای ته ورسيدل، او بيا د را کوز يدو په وخت کې رسول الله ﷺ جبرئيل الامين عليه السلام د هغه په اصلى ملائکي څيره کې وليده، او پدې لنډه ليدنه کې د رسول الله ﷺ سترګې روغې جوړې وې، لکه څنګه چې يې په بيان کې الله په ور پسې مبارکو آيتونوکې فرمايلي دي:

[۱۷-۱۸] او د رسول الله سترګې د جبرئيل په ليدلو نه کړې سوې او نه بلې خوا ته تير وتلې، يعنى ځای پرځای او په پوره دقت سره يې جبرئيل په ملائکي څيره کې وليده، او همدارنګه رسول الله ﷺ په معراج کې د خپل رب د لو يو قدرتونو نورې ډيرې نښې هم په يقين سره وليدلې.

{لات عزا او منات خوسې بتان دي او څه ګټه رسولای نسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د مشرکانو لو يو بتانو(لات، عزا او منات) بې وسې ياده کړې ده چې دوی مشرکانوته هيڅ څه ګټه تاوان او ز يان رسولای نسي، او فرمايلي دي:

﴿أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلْأُخْرَىٰٓ ﴿٢٠﴾ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰٓ ﴿٢٢﴾ إِنْ هِىَ إِلَّآ أَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهْوَى ٱلْأَنفُسُ ۖ وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٢٣﴾ أَمْ لِلْإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾ فَلِلَّهِ ٱلْءَاخِرَةُ وَٱلْأُولَىٰ

﴿٢٥﴾ * وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ﴿٢٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ لَيُسَمُّونَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ تَسۡمِيَةَ ٱلۡأُنثَىٰ ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّۖ وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـٔٗا ﴿٢٨﴾ فَأَعۡرِضۡ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكۡرِنَا وَلَمۡ يُرِدۡ إِلَّا ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ مَبۡلَغُهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ﴿٣٠﴾ *

[١٩-٢٠] نو آيا تاسې ای کافرانو! دا درې لوی بتان:(لات عزا او منات) ولیدل؟ یعنی دا چې آیا دا بتان تاسې ته څه کټه او یا ز یان او تاوان رسوي؟ نو ځکه یې عبادت او بنده کي کړی؟ ځواب دا چې: نا! دا د دروغو خدایان مشرکانوته هیڅ کټه او تاوان رسولای نسي.

[٢١-٢٢] او ای کافرانو! آیا تاسې خپلو ځانونوته نار ینه کوول زامن غواړی، او الله ته لونه غواړی! نو هغه ډیر ظالمانه و یش دئ، یعنی دا چې عدالت پکې د پښولاندې سوئ دئ.

ګرانو دوستانو! قر یشو ملائکې د الله تعالی لونې بللې، نو ځکه الله تعالی د دوی دا سپک ګمان په دغسې کلک استدلال سره رد کړئ دئ.

[٢٣] [او دا بتان چې تاسې یې ای کافرانو! د الله سره په خدایي کې ګډوی] خوسې نومونه دي چې هغه تاسې او د ستاسې پلرونو[او نیکونو] ور بانیدې ایښي دي، او الله د هغوی په ر یښتینوالي باندې هیڅ کم دلیل ندي رانازل کړئ او کافران خوسې خپل ګمان او د خپلو ځانو خوښو غوښتنو پسې ځی، حال دا چې دوی ته د دوی رب الله لخوا د لارښودنې پیغام (قرآن) راغلئ دئ، یعنی ښایي کافران خپلو خواهشاتو پسې لاړ نسي او یوازې د خپل رب الله په پیغام چې قرآن دئ عمل وکړي او هغه ومني.

[٢٤-٢٥] نو آیا هر انسان ته به د هغه خپل هغه خواهشات ورکړل سي چې دئ یې غواړي؟ [ځواب دا چې نا! دا هیله سمه نده] ځکه هرڅه په

دنیا او په آخرت کې د الله په واک کې دي، یعنی څه چې الله غواړي هغسي کیږي، نو ښایي چې مومن بنده د الله حکم ته غاړه کیږدي او هیڅ سرکښی ورڅخه ونکړي.

[۲۶] او هرڅومره ډیرې ملائکې چې په اسمانونو کې دي؛ د دوی شفاعت او سپارښت هیڅ چا ته څه ګټه نه رسوي، مګر وروسته لدې چې الله دغو ملائکوته د هغه چا لپاره د شفاعت اجازه ورکړي چې الله یې غواړي او الله ورڅخه خوښ او راضي وي، یعنی د الله اجازې نه پرته هیڅ څوک بل چا ته شفاعت کړای نسي.

[۲۷-۲۸] او یقینا هغه کسان چې د آخرت په ورځ ایمان نه لري ملائکې د ښځې په نوم یادوي او دوی په خپله خبره باندې څه پوهه نه لري [یعنی د دوی سره کم علمي دلیل نسته چې د دوی و یناوې ثابتې کړي] نو دوی یوازې ګمان کړي او ور پسې ځي، خو ګمان د حق ځای نیولای نسي، یعنی دا چې دغه کافران د ډیرې ناپوهی داسې انګیري چې ملائکې ښځې دي او د الله لونې دي، خو دا انګیرنه سمه او ر یښتیا نده، بلکې ملائکې د الله فرمان وړونکي بنده ګان دي او د خپل رب عبادت کړي او د الله حکمونه په ځکمه او په اسمانونوکې چلوي او د خلکو ټولې کړنې او و یناوې څاري او هغه لیکې او ساتي یې، ترڅو د قیامت په ورځ ټولو خلکو سره د دوی د کړنو سره سم حساب وسي او هر چا ته د هغه ښه او بد عمل ثواب او سزا ورکړه سي او الهي عدالت قائم سي.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د رسول الله ﷺ په پیغمبري باندې چې هغه الله تعالی ورته وحیه کړه؛ کلک ټینګار کړئ دئ، او د مکې کافرانو ټول تورونه یې د رسول الله ﷺ نبوت او پیغمبرۍ په اړه ښه کلک رد کړي دي او پر رسول الله ﷺ باندې یې د وحی یې رانازلیدل د جبرئیل امین په واسطه په ډیرو ښکاره او قاطع دلیلونو سره تائید کړي دي، او د مکې کافرانو ټول تورونه یې د رسول الله ﷺ پیغمبري نه په منکر یدو سره؛ د کافرانو خوسې خیالي او خو بونه بللي دي، ځکه چې هغه هیڅ علمي بنسټ نه لري، او همدارنګه الله تعالی د مکې کافرانو

سپکې خبرې د ملائکو په باره کې چې هغه یې د الله لونې بللې؛ کلکې ردې کړې او غندلې دي، او همدارنګه الله تعالی د ملائکو ګډول د الله سره په خدایي کې په کلک او قاطع استدلال سره رد کړي دي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی پیغمبرﷺ ته د کافرانو سره په چلند کې؛ یو ډیر ګټور سپارښت کړئ دئ او د دوی د سپک چلند علت او عامل یې د رسول اللهﷺ پر وړاندې روښانه کړئ، او فرمایلي دي:

[۲۹-۳۰] نو ته ای پیغمبره! د هغه چا نه مخ واړه ؤ چې هغه د زمونږ یادونې کتاب (قرآن) ته شاکړه او یوازې د دنیا ژوند غواړي، ځکه همدا د دوی د پوهې او علم کچه ده [یعنی نور دا کافران د پام وړ ندي] او ای پیغمبره! یقیناچې د ستا رب الله په هغه چا باندې چې د الله لارې نه ورک سه او په هغه چاچې د الله په لار سم سه؛ ښه پوه دئ او ښه یې پیژني، یعنی دا چې الله تعالی به بیا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

{الله د خلکو په حال پوه دئ نو ځوک ده خپل سپیناوئ نکړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپل علم د ټولو خلکو په حال باندې یاد کړئ او باوري کړئ دئ، نو هیڅ ځوک ده د خپل ځان سپیناوئ نکړي، ځکه الله هر ځوک ښه پیژني، او فرمایلي دي:

﴿وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ بِٱلۡحُسۡنَى ٣١ ٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَۚ إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ هُوَ أَعۡلَمُ بِكُمۡ إِذۡ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَإِذۡ أَنتُمۡ أَجِنَّةٞ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡۖ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ٣٢﴾

[۳۱-۳۲] او هغه څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي؛ هغه ټول د الله واکمنۍ لاندې دي، ترڅو هغو کسانوته چې بدیې وکړل الله سزا ورکړي، او هغوته چې ښه یې وکړل ثواب ورکړي، او د ښو کړنو څښتن هغه کسان دي چې د غټو ګناه وو، او د فحشاوو نه ځانونه

ساتي، خو لږ وړې تيروتنې او ګناه وې ورځخه پيښيږي [يعنى نو بيا دوى الله تعالى بښي] ځکه چې د ستا رب ای پيغمبره! لوى بښونکئ ذات دئ، او په تاسې باندې ښه پوه دئ، ځکه تاسې په لمړي ځل کې الله د ځمکې نه پيدا کړى، او بيا چې کله تاسې د خپلو ميندو په نسونوکې پوښل سوي پټ وى؛ وزيږدلئ [يعنى الله تعالى خپل بنده ګان ښه پيژني چې څوک څه کړي او څوک څه؟] نو تاسې ای خلکو! د خپلو ځانونو تزکيه او صفايي مکړى [يعنى خپل ځانونه مه ستايى] ځکه الله په هغه چاچې ښه تقوا لري او د الله سزا نه ځان ساتي ښه پوه دئ.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې لمړئ خپل قدرت او ټولواکي مونږ ته په نښه کړې او ښودلې ده او بيايې د ښو کړنو کسانو ښه خو يونه او صفتونه چې د دغسى بښنې دليل او سبب ګرځي را ته ښودلي او بيان کړي دي، او د زمونږ په ټول حال باندې يې د خپل علم کلک ټينګار کړئ دئ، ترڅو مونږ په خپلو کړنو ونه غوليږو او د خپلو ځانو ستاينه او سپيناوئ او تزکيه ونکړو.

{قريشو ته د موسى او ابراهيم صحيفو باندې سپارښت}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رسول الله ﷺ ته د هغه چا در يځ او چلند ښه روښان کړئ دئ چې هغه د الله حکمونوته شا کړه او کينو پسې واخست، او ورته يې د موسى او د ابراهيم عليهما السلام صحيفونه د ګټې اخستلو سپارښت کړئ دئ، ځکه چې هغه د الله نه راغلې لارښودنې او سپارښتنې وي، او فرمايلي دي:

﴿أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰٓ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِى صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَٰهِيمَ ٱلَّذِى وَفَّىٰٓ ﴿٣٧﴾ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهُۥ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَىٰهُ ٱلْجَزَآءَ ٱلْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾﴾

[۳۳-۳۵] ای پيغمبره! آيا هغه څوک تا وليده چې د الله حکمونو منلو

ته يې شـــا واړوله او ډير لږ مال او دولت يې د الله په لارکې خيرات کـه؟ [يعنی نو بيا هغه بيرته په شـا واوښـت] نو آيا د هغه سـره کم پټ علم دئ او هغه دئ و يني؟ يعنی آيا دا کافر به د الله ســزا نه خلاص ســي او بل څوک به د هغه ګناه پشا کړي؟ ځواب دا چې: نا! خبره داسې نده؛ بلکې دې کس د ډيرې بخيلۍ نه خيرات ورکول بس کړل!

[۳۶-۳۷] او آيا دې کافر سـرې ته د ابراهيم او موسـی په صـحيفو او کتابونوکې سـته لارښـودنې نوې رسـيدلې؟ حال دا چې هغه خلکوته دوی ښې پوره ورسـولې، يعنی نو آيا دا سړئ ورځخه خبر سـوئ نه ؤ؟

ګرانو لوســتونکو! روايت ســوئ دئ چې دا مبارك آيتونه د وليـد بن مغيره په باره کې چې دئ د مکې مشـرکانو مشـرانو نه ؤ؛ رانازل سـوي دي، ځکه د هغه زړه د قران تلاوت په اور يدلو سـره رښا ســه، خو بيا د تر برو پيغورونو دئ په شـا واړا ؤ، خو د دې مبارکو آيتونو حکم عام دئ او هغه ټولو کينه کښـو کافرانو لپاره د پند اخستلو ښه غوره زد کړه ده.

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې بيا الله تعالی دا لوی حقيقت ياد کړئ دئ چې هيڅ څوک د يو بل ګناه په غاړه نه اخلي او د هر چا خپل عمل د لارې مل دئ، او فرمايلي دي:

[۳۸-٤۱] [او د ابراهيم په صـحيفو او د موسـی په کتاب کې راغلي ؤ چې ای خلکو!] هيڅ څوک د بل چا ګناه پر غاړه نه اخلي او هر څوک به د خپلې هڅې او مندې ثواب ګټي، او بيا به د هر چا هڅه وليدل سي او هرچا ته د هغه ثواب پوره ورکول کيږي، يعنی د قيامت په ورځ د ټولو خلکو کړنې د الله تعالی لوی عدالت په تله تلل کيږي.

{ټول خلک الله ته ورځي او بيا الله څوک خندوي اوڅوک ژړوي}

او په ور پسـې مباکو آيتونو کې الله تعالی رسـول الله ﷺ ته په ټينګار سـره دا خبره کړې ده چې يقينا ټول خلک د قيامت په ورځ الله ته ورتلونکي دي او په حضورکې در يږي، نو بيا الله تعالی مومنان جنتونوته په ورننوتلو

سره خوښوي، او کافران د دوزخ په اور کې په سزا ورکولو او کړولو سره ژړوي، او فرمايلي دي:

﴿وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيْهِ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْأُخْرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعْرَىٰ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّهُۥٓ أَهْلَكَ عَادًا ٱلْأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَا۟ فَمَآ أَبْقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ هُمْ أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴿٥٢﴾ وَٱلْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾﴾

[٤٢-٤٤] ای پیغمبره! او یقینا چې د ټولو خلکو پای یا خاتمه د ستا رب الله ته ده، او یوازې الله دئ چې یقینا خوک خندوي او خوک ژړوي! او ټول خلک په یقین سره الله را پیدا او را ژوندي کړل، او بیایې مړه کړل، یعنی مرګ او ژوند یوازې د الله تعالی په واک او اختیارکې دئ.

[٤٥-٤٦] او یقینا چې نار ینه او ښځه جوړه الله د هغې نطفې نه پیدا کړل چې کله هغې ټوپ وواهه او بیا د دواړو مني سره کډ او یوځای سول، یعنی کله چې میږه او میرمن د یو بل سره څملي او د دوی د جنسي اړ یکې نه د خوند اخستلو سرښ ناکه او به (مني) ټوپ ووهي او سره کډې سي، نو بیا د هغې نه د میرمنې په رحم کې ماشوم جوړ سي، او کله چې بیا هغه لوی سي او د مور په نس کې نه میاشتې تیرې کړې، نو بیا ز یږ یږي او ژوند ته راوځي او پیدا کیږي.

[٤٧] او یقینا چې د خلکو بیا پیدایښت یا دو یم ژوند په الله باندې حتمي دئ، یعنی په دنیا کې د خلکو مرګ نه وروسته بیا الله تعالی ټول مړي د قیامت په ورځ بیرته راژوندي کوي.

[٤٨-٤٩] او یقینا یوازې الله دئ چې خوک وغواړي غنی کوي یې [یعنی ډیر مال او دولت ورکوي] او خوک چې وغواړي د هغه نه مال اخلي او له

منځه يې وړي، او يقينا چې الله د شعرا په نامه ستوري څښتن دئ، يعنی دا ستورئ خدای ندئ، لکه څنګه چې ځينې خلک ور باندې غوليدلي دي او د هغه عبادت کړي، بلکې هغه د الله مخلوق دئ.

درندو دوستانو! روايت سوئ دئ چې (شعرا) نومئ ستورئ؛ هغه رونې ځليدلئ ستورئ دئ چې عر بانو به د هغه عبادت کا ؤ، او هغه بې خدای ګاڼه، نو ځکه الله تعالی د دوی دا خام ګمان کلک رد کړئ دئ.

[٥٠-٥٤] او يقينا چې الله د عاد لمړنئ قوم هلاك كه او د ثمود قوم هم الله هلاك كه [يعنی د دوی نه يې هيڅ څوک ژوندي پر ينښودل] او د هغوی نه پخوا‌يې د نوح قوم هلاك كه، ځكه هغوی ډير ظالمان او سرکښان ول، او د لوط قوم کلئ الله په بل مخ واړا ؤ او دوی يې د تيرو او کانړو په باران باندې پټ کړل.

[٥٥] نو ته ای انسانه! د خپل خدای په کمو نعمتونوکې شك کړي؟ يعنی هغه دروغ بولې او د الله عبادت نه په اخلاص او توحيد سره مخ اړوې؟ حال دا چې ته ډير بې وسې يې، او الله تعالی په خپل لوی قدرت سره پيدا کړئ او ځواکمنې ته يې رسولئ يې، ځكه الله لوی ځواکمن څښتن دئ، او هرڅه چې وغواړي هغسې کړای سي، نو يقيناچې يوازې الله تعالی د زمونږ تولواک او پيدا کونکئ لوی څښتن دئ، نو ښايي چې يوازې د الله تعال عبادت او بنده کي وکړو.

{محمدﷺ د پخوانيو پيغمبرانو غوندې يو پيغمبر ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د اسلام پيغمبر محمدﷺ په پيغمبرۍ باندې ټينګار کړئ،ځكه هغه د نورو پخوانيو پيغمبرانو غوندې؛ يو پيغمبر ؤ او د الله پيغام يې خپل امت ته ورسا ؤ، او فرمايلي دي:

﴿هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلْأُولَىٰٓ ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ ٱلْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ سَٰمِدُونَ ﴿٦١﴾ فَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ وَٱعْبُدُوا۟ ۩ ﴿٦٢﴾﴾

[٥٦] [ای خلکو!] دا پیغمبر(محمدﷺ) د پخوانیو پیغمبرانو غوندې د الله عذاب نه یو ګواښونکئ پیغمبر دئ، یعنی نو ښایي چې تاسې ایمان راوړی او د هغه پیغمبرې ومنی او په لاښودنوپې عمل وکړی!

[٥٧-٥٨] او دا دئ د قیامت ورځ را لنډه سوه او د الله نه پرته بل هیڅ څوک پې د راتګ ټاکل ســوې نیټې لوڅونکئ ندئ، یعنی د الله نه پرته بل هیڅ څوک د قیامت ورځې راتګ په ټاکل ســوي وخت او نیټه نه پوهیږي او نه ورڅخه خبر دئ!

[٥٩-٦١] نو آیا تاســې د دې خبرې نه [یعنی د قرآن نه] په تعجب کې یاستی؟ [یعنی ر یښتینوالي ته پې حیران یاستی؟ او بیا تاسې د ډیر سپکاوي نه] ور پورې خاندی، او د الله عذاب د و یرې نه تاســې نه زاړی، او د عذاب ورځې راتګ ته تاســې شــا وراړولې ده او ورڅخه غافل او بې پروا یاستی؟

[٦٢] نو ای خلکو! الله ته ســجده وکړی او یوازې د هغه عبادت او بنده ګي وکړی.

قدرمنو دوســتانو! په دغو مبارکو آیتونوکې چې د یو بل نه پر یکړل ســوي لنډ لنډ آیتونه دي؛ الله تعالی د مکې کافرانوته ښــه ډیر ښــکاره حقیقیونه یاد کړي دي او د الله تعالی عظمت او د قرآن ر یښــتینوالي په بیان ســره پې؛ کافران خپل لوی رب ته ســجدې کړو ته رابللي دي، او دا ســجده په قرآن کر یم کې د تلاوت سجدو نه یوه سجده ده، او د تلاوت ســجدې ټولې په قرآن کې څوارلس ســجدې دي چې په تلاوت ســره او د تلاوت په اور یدو سره پې د تلاوت سجده واجبیږي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د القمر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د القمر سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

قدرمنو دوستانو! د القمر مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالی مونږ د خپلو لو یو قدرتونو یوې بې ساري نښی نه چې هغه د سپوږمۍ د چاودیدلو او دوٴ پلې کیدلو لو یه معجزه ده؛ خبر کړي یو، نو ځکه دا مبارکه سوره په [القمر] نومول سوي ده، او همدارنګه الله تعالی د دې مبارکې سورې په پیل کې د خپلو لو یو قدرتونو نښو په کلکو ګواښونو باندې ټینګار کړئ دئ، ترڅو د مکې کافران او نور ټول کافران تر قیامت ورځې پورې په اوښ سي او عقل یې سر ته راسي، او ایمان راوړي او د پخوا تیر سوو سرکښو ولسونو د تور برخلیک نه د زدکړې عبرت واخلي، نو یقینا چې دا مبارکه سوره کافرانوته د ګواښ کلک زنګ دئ، او ښایي دوی ټول پدې پوه سي چې قرآن دوی ته د نجات او د خلاصون بیړی ده، نو ښایي هغه ښه زده کړي او عمل ور باندې وکړي، ځکه قرآن الله تعالی اسانه کړئ دئ، ترڅو مومنان هغه تل ولولي او په معنا کې یې ژور فکر وکړي او کتبه ورڅخه واخلی او په دنیا او آخرت کې ښاد او سرلوړي سي، او په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

{ د مکې کافرانو د سپوږمۍ چاودیدل دروغ وګڼل }

﴿ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ۝١ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ۝٢ وَكَذَّبُواْ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَكُلُّ أَمۡرٖ مُّسۡتَقِرّٞ ۝٣ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّنَ ٱلۡأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزۡدَجَرٌ ۝٤ حِكۡمَةُۢ بَٰلِغَةٞۖ فَمَا تُغۡنِ ٱلنُّذُرُ ۝٥ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡۘ يَوۡمَ يَدۡعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ

شَيۡءٖ نُّكُرٍ ۝٦ خُشَّعًا أَبۡصَٰرُهُمۡ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ كَأَنَّهُمۡ جَرَادٞ مُّنتَشِرٞ ۝٧ مُّهۡطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِۖ يَقُولُ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَسِرٞ ۝٨

[١-٣] د قيامت ورځې راتګ را لنډ سه او سپورمۍ وچاوديدله [يعنې دوه پلې سوه] او کافران چې کله يوه نښه يا معجزه [د محمد ﷺ پيغمبرۍ په حقانيت او ر ښتينوالي باندې وو يې] وڅخه مخ اړوي او وايي: دا خو پرله پسې ګودې دي، او کافرانو د رسول الله ﷺ د نبوت معجزې دروغ و بللې او خپلو هوسونو او ځان غوښتنو پسې لاړل، او هرڅه په خپل ځای کې مستقر دي، يعنې خير او شر، ايمان او کفر؛ ټول په خپل ځای کې استقرار مومي او پکې تمپرې، او د قيامت په ورځ هر چا ته د هغه ثواب او سزا ورکول کيږي.

درندو عزيزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې مونږ ته دۀ ډيرغټ حقيقتونه او لويې پيښې چې هغه د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ د تصديق نښې او معجزې دي؛ يادې کړې او بيان کړې دي، هو! لمړۍ حقيقت چې د قيامت ورځې را لنډيدل دي؛ هغه د رسول الله ﷺ نبوت تصديق لو يه نښه او دليل دۀ، ځکه محمد ﷺ د الله تعالى وروستۍ پيغمبر دۀ او هغه پسې وروسته بيا بل پيغمبر نه راځي، او الله تعالى خپلې ټولې پيرزو يې د محمد ﷺ په پيغمبرۍ باندې پر ټولو خلکو باندې پوره کړې او خپل دين يې کامل که او د اسلام دا کامل دين يې مونږ ته خوښ که، نو ځکه بيا بل پيغمبر ته اړتيا او ضرورت پاى ته ورسيده.

او دو يم لوى حقيقت د سپورمۍ چاوديدل او دوه پلې کيدل ول او هغه د رسول الله ﷺ بله لو يه په سترګو ليدل سوې حسي معجزه وه چې د پيغمبر ﷺ په ژوند کې الله تعالى سپورمۍ دوه پلې کړه او بيايې بيرته سره ونښلوله او يوځای يې کړه، او دا مادي معجزه د مکې کافرانو په سترګو وليدله، خو بيا هم دوى د ډيرې کينې نه هغه خوسې کودې وګڼله او هيڅ اعتبارې ور باندې ونکه، که څه هم د مکې کافران د مادي معجزو غوښتونکي ول!

هو؛ ګرانو دوستانو! د سپوږمۍ چاودیدل د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ تصدیق لپاره یوه لوی یه مادي او حسي معجزه وه، او ثبوت یې د قرآن عظیم الشان د دې سورې مبارکو آیتونو په څنګ کې د رسول الله ﷺ په متواترو احادیثوکې هم راغلئ دئ، او دا دئ اوس اوس چې خلک د ساینس پرمختللې تکنالوژۍ په عصر او زمانه کې ژوند کړي؛ د مصنوعي سپوږمیو څیړونکو پوهانوته په خپلو هغو فلکي تحقیقاتوکې چې د سپوږمي په اړوند یې تر سره کړي دي؛ دا تار یخي ر یښتینئ حقیقت ثابت سوئ دئ او سپوږمي د دوه پلې کیدو او چاو یدلو سره مخامخ سوې ده او بیا هغه الله تعالی بیرته سره نښولې ده.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د ډاډ او تسلیت پیغام ورکړئ دئ، او د کافرانو کینه کښ تور زړونه یې رسوا کړي دي، ځکه دوی حق نه مني او د الله تعالی د کلکې سزا ګواښونه نه اوري، او فرمایلي دي:

[٤-٥] او د مکې کافرانوته ډیرې دغسې پخوانۍ قصې او تیر سوي خبرونه راغلل چې پکې دوی ته د کفر نه پوره ګواښ دئ او پکې ښه ډیر پاخه حکمتونه نغښتي دي [یعنی د قرآن په را نازلیدو سره د رسول الله ﷺ امت الله تعالی پخوانیو سرکښو ولسونوته د کلکو سزاګانو ورکولو نه خبر کړ] او دا کتاب(قرآن)چې دوی ته راغئ هغه د لو یو حکمتونو نه ډک پیغام دئ، خو کافرانو ته نور و یرونکي ګواښونه ګټه نه لري.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ ته الله حکم کړي دئ چې کافران خپلې خوښې ته پر یږده، او فرمایلي دي:

[٦] نو ته ای پیغمبره! دغو کافرانو نه بیرته وګرځه [یعنی ورڅخه مخ واړوه، او د هغی ورځې راتګ ته تم او منتظر سه] چې په هغه ورځ [اسرافیل د قیامت ورځې هغسې رسوایي ته] خلک را بولي چې د هغې ورځې نه دوی کرکه لري، یعنی نه غواړي چې رسوا سي.

[٧-٨] او کافران د قیامت په ورځ په مړو ستړکو د خپلو ګورونو نه، لکه خواره سوي ملخ را وځي [یعنی راغوښتونکي جارچي خوا ته] په ټیټو سرو په منډه ورټولیږي، نو بیا دغه کافران وایي: داخو ډیره سخته ورځ ده!

هو؛ عزتمنو ورونو او خو یندو! د قیامت ورځ ډیره سخته ورځ ده او په هغه ورځ د هرچا نه حساب اخستل کیږي، او بیا مومنان جنت ته ځی او کافران د دوزخ اور ته ورغورځول کیږي.

نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ پر خپل ایمان باندې ټینګ کړي، او د قیامت ورځې سختۍ نه ده الله مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي. آمین یارب العالمین!

{د نوح عليه السلام قوم د الله پیغمبر نه سرکښي وکړه نو هلاک سول}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې د ځینو پخوانیو پیغمبرانو او د دوی ولسونو سرکښي الله تعالی لنډه لنډه یاده کړي ده، او مونږې پند اخستلوته کلک رابللي یو، او فرمایلي دي:

﴿* كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا۟ عَبْدَنَا وَقَالُوا۟ مَجْنُونٌ وَٱزْدُجِرَ ۝٩ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ۝١٠ فَفَتَحْنَآ أَبْوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝١١ وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ۝١٢ وَحَمَلْنَٰهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ وَدُسُرٍ ۝١٣ تَجْرِى بِأَعْيُنِنَا جَزَآءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ ۝١٤ وَلَقَد تَّرَكْنَٰهَآ ءَايَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ۝١٥ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ۝١٦ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ۝١٧﴾

[٩-١٠] ای پیغمبره! د ستا قوم کافرانو نه پخوا د نوح قوم [خپل پیغمبر نوح عليه السلام] د زما بنده دروغژن و باله او و یو یل: هغه لیونئ دئ او پټکي پي ور باندې وکړي [یعنی نوح عليه السلام پي کلک تهدید که او په ډول ډول ځپلوپې وکواښه] نو بیا نوح خپل رب ته دعاء وکړه و یو یل: ا ی لو یه

خدايه! زه ضعيف، بې وزرئ مات سوئ يم، نو ته مرسته را سره وکړه، يعنى كافرانوته كلكه سزا وركړه، ترڅو نور څوک بيا د حق پيغام سره دښمني ونكړي.

[١١-١٢] نو بيا د اسمان ورونه د ډيرو شور يدونكو او بو باران ته مونږ پرانستل، او د ځمكې نه مونږ چينې راوچولې، نو بيا دا ټولې او به د هغه هلاكونكي طوفان سره چې مخكې يې پر يكړه سوي وه؛ يوځای سوې.

[١٣-١٤] او نوح [سره د كورنۍ مومنانو او ملګرويې] مونږ په هغه بيړۍ كې سپورکه چې تختې يې په ميخونو باندې كلكې سوې وې او دا بيړۍ د زمونږ سترګو څار لاندې د او بو په سر كړندۍ تله، او كافرانوته د خپلو بدو كړنو سزا وركړه سوه، يعنى دوى ټول په طوفان كې ډوب او هلاك سول او د الله تعالى كلک عذاب يې وڅاكه.

[١٥-١٦] او يقينا چې د نوح بيړۍ [د طوفان قصه همداسې] مونږ د خپل قدرت نښه پر ښوده [ترڅو نور خلک ورڅخه عبرت او پند وا خلي!] نو آيا څوک پند اخستونكي سته؟ نو بيا د زما عذاب او ګواښونه د نوح سركښ قوم ته څنګه ول؟ يعنى دا چې دوى ته الله تعالى كلک عذاب وركه او ټول يې د سيل آب په طوفان كې ډوب او هلاك كړل.

[١٧] هو! يقينا چې قرآن مونږ د الله عذابونو را يادونې لپاره خلكوته اسانه كه، نو آيا څوک پند اخلي؟ يعنى نو ځواب دا چې: ښايي ټول خلک د قرآن لارښودنو نه پند وا خلي، ترڅو د قيامت ورځې سزا نه نجات بيامومي او ورڅخه خلاص سي او جنتونو ته لاړ سي.

{د عاد او ثمود قصې د عبرتونو زدكړو نه ډكې دي}

او بيا الله تعالى د عاد او د ثمود ولسونو قصې چې د لو يو عبرتونو زدكړې نه ډكې دي؛ يادې كړې او بيان كړې دي، او فرمايلي دي:

﴿كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ ٱلنَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ

عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾

[١٨] د عاد قوم خپل پيغمبر دروغژن و باله، نو بيا د زما عذاب او ګواښونه دوی ته څنګه ول؟ يعنی دا چې الله تعالی دوی ته د دوی د کفر کلکه سزا ورکړه!

[١٩-٢٠] هو! يقيناچې د عاد پر سرکښ قوم باندې مونږ د ډيرو بړ بښکونکو تيږو طوفاني شمال يا باد په يوه کرکجنه منحوسه اوږده ورځ را والوزا ؤ او دې باد ټول خلک داسې د خپلو ځايونو نه را وغورځول، لکه د کجورو(خرماو) ونې چې د بيخه را و يستل سوې وي.

[٢١] نو بيا د زما عذاب او ګواښونه څنګه ول؟ يعنی هغه ډير کلک دردونکي او کړوونکي ول!

[٢٢] او يقينا چې مونږ قرآن خلکوته د پند اخستلو او د عذابونو را يادولو لپاره اسانه کړ، نو آيا څوک ورڅخه ګټه او پند اخلي؟ يعنی دا چې ښايي هوښياران د قرآن نه ګټه وا خلي.

{د صالح عليه السلام قوم ثموديان الله په يوه ټکان سره هلاک کړل}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د ثموديانو قصه او د هغوی چلند د خپل پيغمبر سره ياد کړئ دئ، څکه دوی خپل پيغمبر دروغژن و باله او هغه پسې يې تک ورکتيا وکښله، نو بيا دوی الله تعالی په يو لوی ټکان او ګړزهار سره تباه او هلاک کړل او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِٱلنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرًا مِّنَّا وَٰحِدًا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ أَءُلْقِىَ ٱلذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ ٱلْكَذَّابُ ٱلْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُواْ ٱلنَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَٱرْتَقِبْهُمْ وَٱصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ ٱلْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْاْ صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَٰحِدَةً فَكَانُواْ كَهَشِيمِ ٱلْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾

[۲۳-۲٤] ثمودیانو خپل پیغمبر(صالح علیه السلام) تکذیب که او بیاپې د ډیر کبر نه وو یل: آیا مونږ د خپل قوم یوٴ سړي پسې لاړ سو؟ او که دا کار مونږ وکه، نو بیا به مونږ په ورکتیا او لیونتوب کې وو.

[۲۵] [او ثمودیانو بیا ز یاته کړه او و یو یل:] آیا د زمونږ منځ نه یوازې صالح ؤ چې وحیه ور باندی رانازله سوه؟ نا! داسې نده، بلکې هغه یوٴ ډیر دروغژن او کبرجن سړئ دئ! [العیاذ بالله]

هو! ثمودیانو په خپلو دغو خبروکې حسد او د حق سره کینه ښه څرګنده ښکاره کړه، او د حق پر وړاندې د باطل پرستانو دغسې کینه کښې در یځ متاسفانه؛ د دوی ګډ تار یخي خوی او تل پاتې در یځ دئ.

[۲٦] [او بیا ثمودیانوته الله تعالی په ځواب کې وو یل:] هو! کافران به صبا د قیامت په ورځ پوه سي چې څوک دروغژن او کبرجن دئ؟ یعنی دا چې تاسې ای کافرانو! دروغژن او کبرجن یاستی نه صالح علیه السلام.

او په ور پسې مبارک آیت کې الله تعالی د ثمود قوم په پیغمبر صالح علیه السلام باندې غږ کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۲۷] نو ای صالحه! ثمودیانوته مونږ د ازمایښت لپاره هغه اوښه ورلیږو چې هغه دوی غوښتله، نو بیا ته ای صالحه! دوی وڅاره او صبر ورته وکړه او ګوره چې په دوې باندې څرنګه عذاب را کوز یږي؟

درندو دوستانو! روایت سوئ دئ چې کله صالح علیه السلام خپل قوم ته الله تعالی استازئ او پیغمبر را ولیږه، نو قوم یې د هغه نه مادي معجزه وغوښتله، ترڅو د هغه پیغمبري تصدیق کړي، او یو لوی ګټ یې چې د دوی د کلي په څیرمه پروت ؤ؛ په نښه که او صالح علیه السلام ته یې وو یل که ته په ر یښتیا سره پیغمبرپې، نو د خپل رب نه وغواړه چې دا ګټ اوښه کړي! نو بیا الله تعالی دا ګټ اوښه وکړځا ؤ او د خپل پیغمبر د نبوت تصدیق لپاره یې هغه مادي معجزه وکړځوله.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله صالح ته لارښودنه کړې، فرمایلي دي:

[۲۸] ای صالحه! ته ده خپل قوم خبر کړه چې دغه د څکلو او به د

دوی او د اوښې په منځ کې تقسیم او په و یش دي او هرڅوک به په خپل وار کې راځي او او به به څکي.

[٢٩-٣٠] نو بیا ثمودیانو پرخپل یوه ملګري باندې غږ وکه [یعنی ورته یې وو یل چې دا اوښه د نیښتر په وهلو سره مړه کړه، نو بیا همدې سړي د خپل قوم خبره ومنله او اوښه یې مړه کړه، نو بیا الله دوی ته سزا ورکړه او ورته یې و یو یل: ګوری!] چې د زما سزا او ګواښ د ثمود سرکښ قوم ته څنګه ؤ؟ [ځواب دا چې] د الله سزا ثمودیانوته ډیره کلکه او ټکانوونکې وه، نو ځکه الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې فرمایلي دي:

[٣١] هو! یقینا چې مونږ ثمودیانوته داسې یو ټکانونکئ غږ او کلکه نعره را ولیږله چې دوی نور، لکه غو بل سوي واښه بوس بوس سول.

[٣٢] [او ای خلکو!] قرآن مونږ د الله حکمونو را په یادولو او د هغه نه عبرت اخستلو لپاره اسانه که، نو آیا څوک سته چې ورڅخه ګټه او پند وا خلي؟ یعنی دا قرآني قصې ټولې الله تعالی مونږ ته ډیرې اسانه او روښانه یادې کړې دي، ترڅو ورڅخه ګټه واخلو، نه لکه د زمونږ ساده افغانان چې څه باندې څلو یښت کاله کیږي چې د انسې او جني شیطان په لمسون او مرسته یو بل وژني، او د سترګو لاندې لږ مخکې لنډ تیر سوي خونړي تاریخ نه هیڅ ګټه نه اخلي!

{د لوط عليه السلام قوم قصه د پندونو نه ډکه پیښه وه}

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د اسلام پیغمبر ﷺ امت ته د لوط عليه السلام قوم لنډه قصه د پند اخستلو په مقصد کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍۭ بِٱلنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّآ ءَالَ لُوطٍۖ نَّجَّيْنَٰهُم بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَاۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ أَنذَرَهُم فَتَمَارَوْا۟ بِٱلنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِۦ فَطَمَسْنَآ أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا۟ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُوا۟ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَآءَ ءَالَ فِرْعَوْنَ ٱلنُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذْنَـٰهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾

[٣٣] د لوط قوم د الله نه ورته راغلي و يرونکي ګواښونه دروغ وګڼل!

[٣٤-٣٥] [نو بيا] يقينا د لوط پر قوم باندې مونږ ډير ږر ښونکئ تيز طوفاني شمال يا باد را والوزا ؤ او د لوط کورنۍ نه پرته چې دوی ته د پيشنمي په وخت کې مونږ نجات ورکه؛ نور ټول خلک د تيږو يا ډبرو په باران سره هلاك او ووژل سول، خو يوازې د لوط کورنۍ ته چې پر دوی باندې د زمونږ لو يه لور ينه وه؛ په سحرکې [يعنی د پيشنمي په وخت کې] مونږ نجات ورکه، ځکه مونږ منونکي يا شکر و يستونکي همداسې پالو.

[٣٦] هو! لوط خپل قوم د الله سزا نه وو يرا ، خو دوی د لوط ګواښونو نه سرکښي وکړه، يعنی لوط عليه السلام يې دروغژن و باله او د هغه نصيحت ته يې غوږ ونه و يست!

[٣٧] او د لوط قوم د هغه ميلمنو سره د بدو کړنو طمعه وکړه، نو بيا د دوی د سترګو ليد مونږ محوه که [ترڅويې هيڅ څه شئ ونه ليدل] نو ای د لوط قومه! اوس تاسې د زما عذاب او ګواښونو سزا وڅکئ!

[٣٨-٣٩] او بيا يقينا د سحر په راختوسره د لوط پر قوم باندې ټينګ سوئ کلک عذاب راغئ، نو ای د لوط قومه! اوس تاسې زما د عذاب او ګواښونو سزا وڅکئ!

[٤٠] [هو؛ ای خلکو!] يقيناچې قرآن مونږ د زدکړې او عبرت اخستلو لپاره اسانه که، نو آيا څوک سته چې ورڅخه عبرت وا خلي؟ يعنی دا چې ښايي ټول هوښيارانو د قرآن لارښودنو نه ګټه پورته کړي او ورڅخه پند او عبرت وا خلي، او ورباندې عمل وکړي.

[٤١-٤٢] او يقينا چې د فرعون قوم ته [او د هغه پلو يانوته] د زمونږ ګواښونه په سزا ورکولو سره راغلل، نو بيا دوی د زمونږ قدرتونو ټولې نښې او معجزې دروغ و بللې، نو بيا دوی مونږ په لوی ز برځواک سره

راونيول، يعنى دوى ته الله تعالى ښه كلكه سزا وركړه.

قدرمنو دوســتانو! د يادونې وړ ده چې د لوط عليه السلام قوم په جنســي ناروغۍ باندې رودئ ؤ او خپل شهوتي هوس او مينه يې د ښځو په ځاى د زلمكيو هلكانو سره ماتوله، نو بيا چې كله دوى د الله حكم نه سركښي وكړه؛ الله تعالى دوى ته كلكه ســزا وركړه او د تيرو په راوورولو ســره يې دوى هلاك كړل او له منځه يې يوړل.

ګرانو عزيزانو! الله تعالى په دغو مباركو آيتونوكې د مكې كافران او نور ټول خلک ؛ د تيرو ســركښــو ولســونو تور برخليک او هلاكت نه ګواښلي دي، او په وار وار ســره يې د قرآن لارښــودنو نه په ګټه اخســتلو باندې ټينګار كړئ دئ، ځكه قرآن الله تعالى خلكوته ډير اسانه كړي دئ، ترڅو هغه هرڅوک په اسانۍ سره ولولي او ځان ور باندې ښه پوه كړي او په لارښــودنو او په حكمونويې عمل وكړي او د سركښۍ نه يې خپل ځانو نه كلک وساتي، ترڅو د پخوانيو سركښــو ولســونو غوندې هلاك او تباه نســي، نو دعاء كړو چې الله تعالى ده مونږ ته په خپل ايمان باندې د ټينګيدو، اســتقامت او د ثبات توفيق راكړي، او د عذاب نه ده الله مونږ په خپل فضــل ســره وســاتي او هم دعاء كړو چې دغه قرآني حكمونه او لارښــودنې ده؛ الله تعالى ټولو خلكوته ورسوي، ترڅو دوى د خپل لوى رب الله اطاعت ته هدايت ســي او د هلاكت نه نجات بياموميو او نيكمرغي او سعادت يې په دنيا او آخرت كې په برخه س.

{كافرانو ته د دوزخ سزا ګواښونه او متقيانوته د جنتو زيري}

او د القمر مباركې سورې په پاى كې الله تعالى كافران په كلكو سزاګانو ګواښــلي دي، او متقيانوته چې دوى خپل ځانونه د الله ســزا نه په ايمان راوړو او ښــو كړنو سره ساتلي دي؛ د جنتونو ز يري وركړي او فرمايلي دي:

﴿أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُوْلَٰٓئِكُمْ أَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِى ٱلزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَٱلسَّاعَةُ

أَدۡهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ إِنَّ ٱلۡمُجۡرِمِينَ فِي ضَلَٰلٖ وَسُعُرٖ ﴿٤٧﴾ يَوۡمَ يُسۡحَبُونَ فِي ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ﴿٤٩﴾ وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَآ أَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيۡءٖ فَعَلُوهُ فِي ٱلزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٖ وَكَبِيرٖ مُّسۡتَطَرٞ ﴿٥٣﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَنَهَرٖ ﴿٥٤﴾ فِي مَقۡعَدِ صِدۡقٍ عِندَ مَلِيكٖ مُّقۡتَدِرِۢ ﴿٥٥﴾

[٤٣] ای د مکې خلکو! آیا د ستاسې کافران [چې خپل پیغمبر محمدﷺ نه مني] د دغو پخوانیو امتونو کافرانو نه [چې مخکې یې یادونه وسوه] ښه او غوره دي؟ او یا دا چې تاسې ته د الله عذاب نه په ز بور [او په نورو اسماني کتابونوکې] براءت درکړل سوي دئ، او د خلاصون اعلان درته سوئ دئ؟ [ځواب دا چې: د مکې کافران هیڅ کله د پخوانیو ولسونو کافرانو نه لکه: عاد، ثمود، لوط او د فرعون نه ښه ندی، او نه دوی ته د پخوانیو پیغمبرانو په کتابونوکې د الله عذاب نه د خلاصون او براءت ضمانت ورکړل سوئ دئ]

[٤٤] او یا دا چې د مکې کافران وایي: مونږ یو موټئ کلک قوم او بر یالی یو، یعنی په مونږ باندې د هیڅ چا زور نه رسیږي!

[٤٥] [نا هیڅ کله حقیقت هغسې ندئ، لکه څنګه چې دوی فکر کړي] د مکې یو موټئ او متحد قوم به ماته خوري او شا به را اړوي، یعنی د جګړې ډګرنه به تښتي، لکه څنګه چې بیا وروسته د بدر په غزا کې همداسې سوه او د مکې کافران کلک مات سول.

[٤٦] بلکې د دغو کافرانو سره د وعدې ځای د قیامت ورځې عذاب دئ او هغه د دوی سره وعده سوئ دئ، او د قیامت ورځ د دنیا نه ډیره سخته او ترخه ده! یعنی د هغې ورځې عذاب او سزا ډیره کلکه او درنده ده، نو الله تعالی ده مونږ ورڅخه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

[٤٧-٤٨] او یقینا چې دا مجرمان (کافران) د حق نه ورک او په عذاب کې دي او د قیامت په ورځ به د دوزخ په اور کې پرمخې راکشکول کیږي، او

د دوزخ څارونکي به ورته وايي: اوس د جهنم کلک عذاب وڅکئ.

[٤٩-٥٠] او يقينا چې هرڅه مونږ په خپله اندازه پيدا کړي دي، يعنی هرڅه لکه ثواب او عذاب الله تعالی له مخکې نه په لوح محفوظ کې ټاکلي دي، او د زمونږ حکم او امر د سترګو په څرک سره تر سره کيږي.

[٥١] ای کافرانو! او تاسې ته ورته پخواني کافران مونږ هلاک کړل، نو آيا څوک پند اخستونکئ سته؟ يعنی دا چې ښايي ټول خلک د پخوانيو سرکښو ولسونو نه عبرت وا خلي او د الله تعالی حکومونوته تسليم سي.

[٥٢] او هر څه چې پخوانيو سرکښو ولسونو وکړل؛ هغه ټول د الله په رانازل سوو کتابونوکې [لکه په ز بورکې] ليکل سوي ساتل سوي دي، يعنی د هر چا سره عدالت چليږي.

[٥٣] او د هر چا غټ او واړه کړل ليکل سوي دي، يعنی نو هر چا ته د هغه د ښو او د بدو کړنو ثواب او سزا ورکول کيږي او پر هيڅ چا باندې ظلم نکيږي.

هو! درندو عز يزانو! الله تعالی په دغسی پر يکنده اعلان سره کافران د خپل تور برخليک نه د قيامت په ورځ خبر کړي دي، او بيايې په ور پسې مبارکو آيتونو کې متقيانوته د جنتونو ز يرئ ورکړي دئ، او فرمايلي دي:

[٥٤-٥٥] او يقيناچې متقيان به د قيامت په ورځ په هغو جنتونوکې وي چې پکې د پاکو روانو او بو و يالی بهيږي او د لوی واکمن څښتن الله د ر ښتيا ميلمستون په تالار کې به ناست وي، يعنی د جنت نعمتونو نه به خوند اخلي او هلته به پکې نيکمرغه ژوند کړي او تل به پکې اوسيږي.

قدرمنو دوستانو! دا هغه ز يرئ دئ چې ټولو متقيانوته د قيامت په ورځ ورکړل سوئ دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د دغسې ز يري ور او لائق وګرځوي، او د الله تعالی عذاب نه و يره ده؛ زمونږ په زړونو کې واچوي او د ښه عمل توفيق ده الله را کړي او د ګناه نه ده الله تعالی مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله

الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الرحمن سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الرحمن سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو وروڼو او خو یندو! د الرحمن مبارکه سوره مکي سوره ده او لکه نورې مکي سورې په هغې کې الله تعالی د عقیدې مسئلې یادې کړې او ښې روښانه بیان کړې دي او د ایمان په ارکانو باندې یې د الله تعالی لو یو قدرتونو بیان په ترڅ کې په انکاري پوښتنو یا سوالونو سره کلک ټینګار کړئ دئ او خپل خواره واره نعمتونه او لویې ورکړې او پیرزویني یې پر خپلو بنده کانو باندې یادې کړې دي، او پدې مبارکه سوره کې همداسې الله تعالی په ځانګړې ډول پر پیریانو او پر انسانانو باندې یوځای د ګواښ غږ کړئ دئ چې ولې دوی د خپل لوی رب الله نعمتونو او خورو ورو پیرزوینو نه منکر یږی او هغه دروغ بولی؟ یعنی د پیریانو او انسانانو کفر او منکر یدل د الله تعالی ښکاره نعمتونو نه د دوی د ناشکري لو یه نښه ده او دا ناشکري یقینا چې د حق ناشکري ده، نو هغه یقیناچې لو یه ګناه ده، او بیا دوی الله تعالی د خپلې ناشکرۍ او د کفر په کلکه سزا باندې ګواښلي دي او دا حقیقت یې ورته په ډاګه کړئ دئ چې د الله تعالی د نعمتونو پیژندل د الله پیژندنې لنډه او غوره لار ده او هغه مونږ ته الله تعالی د الرحمن په مبارکه سوره کې په تکرار سره په نښه کړې او یاده کړې ده او کلک ټینګارې ور باندې کړئ دئ، نو ښایي چې هر هوښیار بنده د الرحمن رب الله دغه روښانه بیان او یادونه او ګواښونه په ژور فکر او ښه دقت سره ولولي او خپل در یځ او کړن لاره یې په رښا کې وتلي، او هرکله چې یې په خپل ځان کې ناشکري ولیدله، نو ښایي چې ډیر ژر الله ته رجوع وکړي او تو به و باسي او د الله تعالی نه بښنه وغواړي او د الله تعالی د

دغو خورو ورو نعمتونو نه چې هغه يې پر مونږ پيرزو کړي دي؛ ښــه ډير شکر و باسي، ترڅو الله دئ په خپل رحمت سره و بښي او خپل نعمتونه په ده باندې ډير او تل پاتې کړي او په دنيا او آخرت کې يې نيکمرغه کړي.

{د پيغمبر ښونکئ خپله الله ؤ او قرآن يې ښه ورزده که}

قدرمنو دوسـتانو! او الله تعالى پر مونږ باندې د خپلو لو يو نعمتونو په شميرلو او يادولو سره د الرحمن مبارکې سورې په پيل کې فرمايلي دي:

﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ ١ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ٢ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ ٣ عَلَّمَهُ ٱلۡبَيَانَ ٤ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٖ ٥ وَٱلنَّجۡمُ وَٱلشَّجَرُ يَسۡجُدَانِ ٦ وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ ٧ أَلَّا تَطۡغَوۡاْ فِي ٱلۡمِيزَانِ ٨ وَأَقِيمُواْ ٱلۡوَزۡنَ بِٱلۡقِسۡطِ وَلَا تُخۡسِرُواْ ٱلۡمِيزَانَ ٩ وَٱلۡأَرۡضَ وَضَعَهَا لِلۡأَنَامِ ١٠ فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَٱلنَّخۡلُ ذَاتُ ٱلۡأَكۡمَامِ ١١ وَٱلۡحَبُّ ذُو ٱلۡعَصۡفِ وَٱلرَّيۡحَانُ ١٢ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ١٣﴾

[١-٢] الرحمن خداى الله [چې لوى رحمت يې پرتولو مخلوقاتو باندې خور دئ او ښــه مهر بان لوى ذات دئ] قرآن يې [خپل پيغمبر محمدﷺ ته] ورزده که، يعنى رسول اللهﷺ ته د قرآن معلم خپله الله ؤ.

قدرمنو دوستانو! (الرحمن) د الله تعالى ډير ښکلى نوم او لوړ صفت دئ،او هغه ډير کله په قرآن کې د الله ســره چې د الله تعالى لوى نوم دئ يوځاى ياد ســوي دئ، لکه د الاســراء په ســوره کې چې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ١١٠﴾

معنا داچې: اى پيغمبره! خپل قوم ته ده ووايه: که تاسې الله غواړئ او که الرحمن؛ هر يو چې وغواړى، نو هغه الله لره ډير ښــکلي نومونه دي، يعنى الله او الرحمن دواړه د الله تعالى ښــکلي نومونه دي او په الرحمن بانـدې، لکـه الله؛ يوازي الله نومول کيږى، او هم د يادونې وړده چې د

الرحمن سوری ټوله وعظي یادونه، نصیحت او سپارښتنې ټولو خلکوته (انسانانو او پیریانوته) دي، ځکه د اسلام پیغمبرمحمد ﷺ ټولو انسانانو او پیریانوته پیغمبررا لیږل سوئ دئ، لکه څنګه چې په نورو ډیرو سورو کې یې ښکاره یادونه سوې ده، نو روا نده چې په الرحمن باندې مخلوق ونومول سي او یا ور باندې یاد سي، هو! الله تعالی په الرحمن باندې په نورو سورو کې هم مخکې یاد سوئ دئ او مقصد یا غرض یې همدا د الله ځانګړئ نوم او صفت دئ، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي:"خیر الأسماء عبد الله وعبد الرحمن" خو د بده مرغه ځینې پښتانه عبد الرحمن نومئ سړئ (رحمن) یادوي، لکه د پیښور مشهور حکیم ملا او نامتو صوفي شاعر شیخ عبد الرحمن چې د بابا لقب یې هم په پښتنوکې ګټلئ دئ، نو ښایي چې دغسې عقیدتي غلطۍ ته د زمونږ تل پام وي او مخنیوئ یې وکړو، او که د چا زوی نوم عبد الرحمن وي، نو[رحمن]ده ورته نه وایي، ترڅو ځان ګناهګار نکړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د انسان پیدایښت او هغه ته د خبرو ښودلو یادونه کړې ده او بیایې و یلي دي چې ټول مخلوقات د الله په حکم چلیږي، او فرمایلي دي:

[٣-٤] انسان الله پیدا که او خبرې او و ینایې وروښودله، یعنی دا چې د خبرو کړو او د و ینا لوی نعمت مونږ ته الله تعالی را کړئ دئ، نو ښایي چې په قدریې پوه سوه او هغه د حق په بیان کې وکاروو او د ناروا او حرامو و یناوو او خبرونه، لکه دروغ، بهتان، غیبت، کنځل او نورو سپکو سپورو خبرونه؛ ځان کلک وساتو او خپله ژ به تل د الله تعالی په ذکر باندې لنده مشغوله کړو.

[٥] لمر او سپوږمۍ په حساب سره یو بل پسې را خیځي او پر یوځي، یعنی را ختل او پر یوتل یې د الله تعالی حکمت سره سم دي او وړاندې او وروسته نکیږي.

[٦] ستوري په اسمان کې او بوټي او ونې په ځمکه کې؛ خپل رب الله

ته سجده کړي، یعنی د الله تعالی حکم سره سم د الله بندګانو په خدمت کې دي او دوی ورڅخه ګټه اخلي.

[۷] او اسمان د ځمکې په سر الله جګ که او د عدالت او انصاف تله یې په ځمکه کې کیښودله.

[۸-۹] ترڅو تاسې ای خلکو! په تله کې تیرئ ونکړئ او هرڅه برابر وتلئ او څوک په تله کې تاوانی نکړئ، یعنی د چا حق پټ نکړئ او هغه ونه خورئ او تله او پیمانه لږ نکړئ چې پکې بیا عدالت د پښو لاندې کیږي.

[۱۰-۱۲] او ځمکه خلکوته الله اواره کړه او ډول ډول میوې او د کجورو یا خرما وني چې نودې یې هرې خوا خورې دي؛ پکې راشني کړې او د غلو پوښ داره دانې او د ښو بو یونو بوټې (لکه ر یحان) یې پکې خواره کړل، یعنی ترڅوپې د خوارې بوی نه خلک خوند وا خلي.

[۱۳] نو بیا تاسې ای خلکو! د خپل خدای الله کم نعمتونه او لوی قدرتونه دروغ بولئ؟ یعنی ناشکري یې کړئ او ورڅخه منکر یږي؟ ځواب دا چې ښایي خپل الرحمن خدای ښه و پیژنئ او د لو یو نعمتونو شکریې په اخلاص سره و باسئ او د ناشکرئ نه یې کلکه ډ ډه وکړئ!

درند ودوستانو! دا وضاحت دلته د یادونې وړ دئ چې دغسې استفهام چې هغه پدې مبارکه سوره کې په وار وار سره یاد سوئ دئ؛ هغه ته د عربي ژبې په ادبیاتوکې انکاري استفهام وایي، یعنی دا چې د کافرانو انکار د الله تعالی خورو ورو نعمتونو نه؛ الله تعالی کلک غندلئ او رد کړئ دئ، ځکه بنده ته نه ښایي چې د خپل منعم لوی څښتن ناشکري وکړي.

{د آدم پیدایښت د خټې نه او د پیري پیدایښت د اور نه ؤ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د آدم علیه السلام او د پر یانو د پیدایښت اصلي ماده لنډه یاده کړې ده او ورسره یې د خپلو لو یو قدرتونو څه نورې بیلګې هم یادې کړې دي او فرمایلي دي:

﴿خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ ١٤ وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن

نَّارٍ ﴿١٥﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٦﴾ رَبُّ ٱلْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ ٱلْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٨﴾ مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ﴿٢٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٣﴾ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴿٢٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٥﴾

[١٤-١٥] [هو! الرحمن رب الله لمړئ انســان (آدم عليه السلام)] د وچې خټې نه [چې کړنګه هار کړي] پيدا که، لکه د پخې خټې نه جوړ سوي لوښي، او د پيريانو پلار (ابليس) يې د اور سرو او شنو کډو لمبونه پيدا که.

[١٦] نو بيا تاسې ای خلکو! [يعنی پيرنو او انسانانو] د خپل رب الله کمې ورکړې او پيرزو ينې او لوی ځواک دروغ بولئ؟ يعنی ناشکري يې کړئ؟ هو! استفهام دلته او په ور پسې آيتونوکې؛ ټول انکاري دئ.

[١٧] [او الرحمن ذات الله] د دواړو ختيځو او لو يديځو (شــرق او غرب) رب او لوی څښــتن دئ، يعنی د شــرق نه د لمر او د ســيومړئ د راختلو او بيا په غرب کې د هغو دواړ د پر يوتلو رب؛ يوازې الله دئ، او همدارنګه د ټولو افلاکو حرکت د الله په حکم او لوی قدرت ترســره کيږي.

[١٨] نو تاسې ای خلکو! [يعنی پيرنو او انسانانو] د خپل رب الله کم نعمتونه او لوی قدرتونه دروغ بولئ؟ يعنی هغه نه منئ او ناشکري کړئ!

[١٩-٢٠-٢١] [او الرحمن خدای الله] د دۀ هغو ســمندرونو او ســيندونو خوږې او تروې او به ســره يوځای کړې چې د هغوی دواړو په منځ کې يوه داســې نرۍ کرښــه يا پوله ده چې دا دواړه او به نه پر يږدي، ترڅو پر يو بل باندې تيرئ وکړي او سره کډې سي، نو بيا تاسې ای خلکو! د خپل رب الله کم نعمتونه او ځواک دروغ بولئ؟ يعنی ښايي هغه ومنئ او ايمان راوړئ، ترڅو نيکمرغه او ښاد سئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې وروستي مبارك آيت كې چې د دۀ وو سمندرونو خوړې او تروې او به يو بل سره نه كډيږي؛ د قرآن علمي يا ساينسي اعجاز په ګوته كړئ دئ، او هغه ته د اوسني عصر سمندرونو او سنيدونو پوهانو او علمي څېړونكو پام سوئ دئ، او په خپلو بحري تحقيقاتو او څېړنوكې يې هغه كشف كړئ او را پسېره كړئ دئ، او دا بحري معجزه الله تعالى رسول الله ﷺ ته په هغه وخت كې يادە كړې ده چې هلته اوسنئ ساينس او د هغه تجربوي سامان او وسائل نه ول، ترڅو د چا پام هغې نرۍ پردې يا ليكې ته سوئ واى چې هغه الله تعالى د تروو او خوږو ابو په منځ كې پيدا كړې ده.

[۲۲-۲۳] او د دغو دواړو سمندرونو د زړونو نه الله مرغلرې او مرجان را باسي، نو تاسې اى خلكو! د خپل رب كم نعمتونه اوقدرتونه دروغ بولئ؟ يعنى شايي هغه ومنئ او ايمان راوړئ.

[۲٤-۲۵] او د الله په قدرتونو جوړې سوې ټولې بيړئ چې په سمندرونو كې، لكه غرونه چې ولاړې دي؛ د الرحمن خداى واك لاندې دي، نو بيا تاسې اى خلكو! د خپل رب كم نعمتونه دروغ بولئ؟

{د ځمكې په سر مخلوقات لمنځه ځي اويوازې الله پاتې كيږي}

او بيا الله تعالي د ځمكې په سر د الله نه پرته د نورو ټولو موجوداتو او مخلوقاتو د لمنځه تلو په بيان كې په ټينګار سره فرمايلي دي:

﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٨﴾ يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٠﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ الثَّقَلَانِ ﴿٣١﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٢﴾﴾

[۲٦-۲۷] اى پيغمبره! د ځمكې پر سر ټول خلك له منځه تلونكي دي او فاني كيږي او يوازې د ستا لوى خداى وجه(مخ يا ذات) پاتې كيږي. او د الله تعالى وجه يا ذات نه مقصد هغې وجه دئ چې د الله تعالى

عظمت او لو يتيا سره لائق دئ، يعنى د ځمكې پر سر ټول مخلوقات له منځه ځي او يوازې الله چې د ټولو خالق دئ پاتې كيږي.

[٢٨] نو تاسې اى خلكو! [انسانانو او پيريانو] د خپل رب كم نعمتونه او قدرتونه دروغ بولى؟

هو؛ ګرانو دوستانو! الله تعالى پدې مبارك آيت كې د مخ (وجه) صفت ځان ته هغسې ثابت كړئ دئ، لكه څنګه چې د الله تعالى لوړ مقام سره لائق دئ او ورته ښايي، او مقصديې د الله تعالى؛ هغه لوى ذات دئ چې نه پيدا سوئ دئ او نه فناه كيږي.

[٢٩-٣٠] او ټول هغه خلك چې په اسمانونو او په ځمكه كې دي؛ خپلې ټولې اړتياوې يوازې د الله نه غواړي [يعنى هيڅ څوك د الله نه مستغني او بې پروا كيداى نسي] او الله هره ورځ [د خپلو بنده ګانو د چارو سمبالولو او چلولو] په يوه كارکې دئ؟ [يعنى ځينوته عزت وركوي او ځينې خواروي، چا ته دنيا او دولت وركوي او د چا نه يې اخلي، ځيني نوى راپيدا كوي او د ځينو ساه وې ورځخه اخلي او مړه كوي يې؟] نو تاسې اى خلكو! د خپل رب الله كم نعمتونه او لوى قدرتونه دروغ بولى او نې منى؟ [ځواب دا چې: ښايي د الله تعالى د لو يو نعمتونو شكر و باسى!]

[٣١-٣٢] هو! اى د دواړو درندو څو ډلو خلكو! [پيرانو او انسانانو!] د قيامت په ورځ به بيا مونږ يوازې د ستاسې نه د حساب اخستلو او بيا د ثواب او سزا وركولو لپاره ځان فارغ او اوزګار كړو، نو تاسې دواړه ډلې د خپل رب الله كم نعمتونه او لوى قدرتونه دروغ بولى؟ يعنى ښايي د الله تعالى د لو يو نعمتونو شكرو باسى او قدرتونو ته يې تسليم سى!

{ كافر انو ته ننګونه او د دوزخ اور نه لوى ګواښ }

او بيا الله تعالى كافران د دوزخ اورنه ګواښلي دي او فرمايلي دي:

﴿يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤

يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٦

[۳۳-۳٤] ای د پیریانو او انسانانو ډلو! که د ستاسې وسعه کیږي چې د اسمانونو او ځمکې د کمې خوا کُنج نه په کمه لار د الله حکمونو نه ووځئ [یعنی ځانونه په تیښته خلاص کړئ] نو لاړسئ ووځئ! خو تاسې هیڅ پلو ته وتلای نسئ، مګر په زور او په ځواک سره، یعنی په کلک دلیل، علم او پوهې سره او هغه د ستاسې سره نسته! نو الله تعالی پدې اعلان سره ټول خلک کلک ګواښلي دي او هیڅ څوک د الله تعالی نه خلاصیدای نسي او د تیښتې لار نه مومي، نو بیا تاسې ای پیریانو او انسانانو! د خپل رب کم نعمتونه او لوی قدرتونه دروغ بولئ او د منلونه پې سرغړونه کړئ؟ یعنی ښایي چې د الله حکمونو نه تاسې سرغړونه ونکړئ او هغه ټول ومنئ او د الله تعالی قدرتونو ته تسلیم سئ!

[۳۵-۳٦] ای انسانانو او پیریانو! پرتاسې باندې د اور لمبې را کوز یږي او وڼې سوي مس د ستاسې په سرونو باندې را تو یږي، نو بیا تاسې د ځان نه دفاع کړلای نسې، نو تاسې دواړه! د خپل رب کم نعمتونه او کم قدرتونه دروغ بولئ؟ یعنی ښایي د الله تعالی لو یو نعمتونو او قدرتونو نه منکر نسئ او ناشکري ونکړئ، بلکې هغه ومنئ او تسلیم سئ او ایمان راوړئ او د سرکښئ نه لاس واخلئ.

{د قیامت ورځې لوی عذاب نه کلک ګواښ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې ټول خلک د آخرت ورځې عذاب نه کلک ګواښلي دي او فرمایلي دي:

فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ وَرۡدَةٗ كَٱلدِّهَانِ ٣٧ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٨ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُسۡـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٞ وَلَا جَآنّٞ ٣٩ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٤٠ يُعۡرَفُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ بِسِيمَٰهُمۡ فَيُؤۡخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلۡأَقۡدَامِ ٤١ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٤٢ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٤٣

يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ ءَانٍ ﴿٤٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾

[۳۷-۳۸] نو بيا چې کله د قيامت په ورځ اسمان پلې پلې او توته توته سي، نو د ګلاب ګل غوندې سورسي، لکه و يشول سوئ غوړ [نو بيا د هيڅ چانه پوښتنه نکيږي] نو تاسې ای پيريانو او انسانو د خپل رب کم نعمتونه اولوی قدرتونه دروغ بولی؟ يعنی دا چې ښايي د قيامت ورځې حساب ته ځانونه په ايمان راوړو او تقوا سره تيارکړی.

[۳۹-٤٠] نور نو په هغه ورځ [يعنی د قيامت په سخته ورځ] د انسانانو او پيريانو نه د دوی د تيروښو او بدوکړنو هيڅ پوښتنه نکيږي، نو تاسې ای خلکو! د خپل رب کم نعمتونه او قدرتونه دروغ بولی؟

[٤١] او په هغه ورځ [يعنی د قيامت په ورځ] مجرمان (کافران) د دوی د څيرونه پيژندل کيږي، نو بيا د سرونو او پښونه را نيول کيږي، يعنی د الله فرمان وړونکې ملائکې دوی د دوزخ زورو ته ورغورځوي.

[٤٢] نو تاسې ای خلکو! د خپل رب کم نعمتونه او قدرتونه دروغ بولی؟ يعنی ورځخه ناحقه انکارکړی او هغه نه منی؟

[٤٣-٤٥] او دا دئ دوزخ چې کافر انو هغه په دنيا کې دروغ ګانه [يعنی ورځخه منکرول] خو اوس يې په سرو لمبوکې اړول کيږي را اړول کيږي [يعنی پکې په کلکې سزا سره کړول کيږي؟] نو تاسې ای خلکو! د خپل رب کم نعمتونه او قدرتونه دروغ بولی؟ يعنی درته ښايي چې خپل رب الله په حق سره وپيژنی او د لويو نعمتونو شکريې و باسی!

{مومنانو ته په جنت کې حورې ودیږي}

او بيا الله تعالی جنتيانوته زيری ورکړي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا

تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشِۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍۚ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ
قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ
﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَٰنِ إِلَّا ٱلْإِحْسَٰنُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾ وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتَانِ ﴿٦٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ
نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾ فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾ حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِى ٱلْخِيَامِ ﴿٧٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِىٍّ حِسَانٍ ﴿٧٤﴾
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ تَبَارَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ
﴿٧٦﴾

[٤٦-٤٧] او هغه څوک چې [د پيريانو او انسانانو نه د خپل خداى نه وويريده [يعنى د الله حكمونه پې ومنل او اطاعت وكه او د ګناه نه پې ځانونه وساتل، نو هغوى ته الله تعالى] دۀ جنتونه وركوي، نو تاسې اى پيريانو او انسانانو! د خپل رب كم نعمتونه دروغ بولى؟

[٤٨-٤٩] او د دغو دواړو جنتونو وپې د ميوو نه ډكې نودې او وږې لري، نو تاسې اى خلكو! د خپل رب كم نعمتونه تكذيب وى او هغه دروغ بولى؟ يعنى دا چې ښايي د الله تعالى خورو وړو نعمتونو او لو يو قدرتونو شكرو باسى او ايمان راوړى او د الله تعالي بنده كې وكړى.

[٥٠-٥١] او په دغو دواړو باغونوكې د دۀ چينو او به بهيږي، نو تاسې اى خلكو! د خپل خداى كم نعمتونه دروغ بولى او قدرتونه پې نه منى، يعنى ايمان نه راوړى؟

[٥٢-٥٣] او په دغو دواړو باغونوکې هره میوه جوړه جوړه وي، نو تاسې ای پیریانو او انسانانو د خپل رب کم نعمتونه اوقدرتونه دروغ بولئ؟

[٥٤-٥٥] او جنتیانو په داسي پستو توشکونو باندې تکیه وهلي ناست وي چې استرونه یې د وریښمو نه جوړسوي وي او د جنتونه د میوو راشکول ورته را لنډ وي، نو تاسې ای پیریانو او انسانانو! د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ اوورځخه منکریاستی؟ یعنی دا چې نه ښایي تاسې د خپل رب دغسې خورو ورو نعمتونو اولو یو قدرتو نه منکرسی.

[٥٦-٥٧] اوپه دغو جنتونو کې مومنانوته د حورو نه داسی ناوې ودیږي چې د خپلو میړونه پرته بل هیڅ چا ته نه ګوري او د دوی نه پخوا هیڅ سړئ او پیرئ ورسره ملاست ندئ، یعنی ټولی پیغلې وي، نو تاسې ای پیریانو او انسانانو د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ او هغه نه منئ؟

[٥٨-٥٩] او دا د جنت حورې او ښځې په خپل ښایست کې، لکه د یاقوتو او مرجانو کانو غوندې سرې سرې ځلیږي، نو تاسې ای خلکو؟ د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ؟ یعنی ورځخه منکریاستی؟

[٦٠-٦١] او آیا د ښو کړنو بدله د ثواب نه پرته بل څه وي؟ [استفهام دلته انکاري دئ او ځواب یې دا چې: نا، ځکه د ښو کړنو ثواب په جنت کې ښه ثوابونه دي چې هغه جنتیانو ته ورکول کیږي] نو تاسې ای خلکو! د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ اوورځخه منکریاستی؟ یعنی دا چلند سم ندئ، نو تاسې ته ای خلکو! ښایي تو به و باسئ.

قدرمنو دوستانو! اوبیا په ورپسې مبارکو آیتونو کې د دؤ نورو لنډو جنتونو یادونه الله تعالی کړې ده او فرمایلي دي:

[٦٢-٦٣] او دغو دؤ جنتونو ته لنډ پراته نور دؤ جنتونه ستە، نو تاسې ای پیریانو او انسانانو د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ او هغه نه منئ؟، یعنی د خپل رب لویو قدرتونو نه منکریاستی؟

[٦٤-٦٥] او دا دؤ جنتونه یا بڼونه د ډیر شینوالي نه تور ځلیږي، نو

تاسې ای پیریانو او انسانانو! د خپل خدای کم نعمتونه دروغ بولئ؟

[٦٦-٦٧] او پدې دواړو جنتونوکې د او بو راخوټیدلې چینې بهیږي، نو تاسې ای خلکو؟ د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ او هغه نه منئ؟

[٦٨-٦٩] او په دغو دواړو جنتونو کې ډول ډول د خرما او انارو میوې وي، نو تاسې د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ؟ یعنی ورځخه منکریاستئ او د الله تعالی لوی قدرتونه نه منئ؟

[٧٠-٧١] اوپدې جنتونوکې مومنانو ته ډیرې د ښو اخلاقو ښایسته ښځې او میرمنې وي، نو تاسې ای خلکو! د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ او هغه نه منئ؟

[٧٢-٧٣] او دا د جنت حورې داسې ناوې وي چې په خپلو کیږدیو کې پټې سترګې ناستې وي، نو تاسې ای خلکو! د خپل رب الله کم نعمتونه دروغ بولئ او د لویو قدرتونو نه یې منکریاستئ؟

[٧٤-٧٥] او دغو حورو سره د جنتیانو نه پخوا هیڅ څوک د سړیو او پیریانو نه ملاست نه وي، یعنی ټولې به پیغلې وي، نو تاسې ای خلکو! د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ؟

[٧٦-٧٧] او جنتیانو به په شنو بالښتونو باندې تکیه وهلې وي او دا بالښتونه به ډیر ښکلي او ښایسته او بې ساري به جوړ سوي وي، نو تاسې ای خلکو! د خپل رب کم نعمتونه دروغ بولئ او هغه نه منئ؟

[٧٨] ای پیغمبره! د ستا خدای الله نوم برکتونه ډیر او لوی دي [یعنی الله تعالی د ډیرې لوې یتیا او عظمت نه خپلو بنده ګانوته] د سخاوت او عزت ورکولو څیښتن دئ، یعنی دا چې ښایي د الله تعالی مومن بنده ګان خپل رب په ډیره لوې یتیا سره وستایي او د هغه د ډیرو ورکړو او لوې یو نعمتونو شکرو باسي او مننه یې وکړي، نه دا چې د الله نعمتونو نه منکر سي او هغه دروغ و بولي او د خپل پالونکي رب الله لوې یو قدرتونو او د خورو وړو نعمتونو شکرونه باسي.

عزتمنو مومنانو! الله تعالی د الرحمن په مبارکه سوره کې خپلو

ټولو بنده ګانوته د پيريانو او انسانانو نه د قيامت ورځې ژوندئ تصو ير او ډير ځلانده انځور وړلاندې کړئ دئ، او پکې کافر انوته د دوزخ عذابونه او د اور سرې کړونکې لمبې انځورسوې دي، او خواره واره نعمتونه جنتيانوته په جنتونوکې؛ ياد سوي دي او دوی ټول د الله تعالی لو يو نعمتونو نه د انکار په کلکو سزاګانو باندې ګواښل سوي دي، نو ښايي ګر انو عزيز انو! چې مونږ دا مبارك آيتونه په وارواړسره ولولو او خپل ځانونه ور باندې ښه پوه کړو او د الله تعالی لو يو نعمتونو نه چې هغه يې پر مونږ باندې په دنيا کې پيرزوکړي دي او په آخرت کې يې هم را سره وعده کړې ده؛ کلک شکر و باسو او د الله په بند ګی کې ښه ټينګ سو او د الله تعالی حکمونه خپلو ځانو باندې عملي کړو او واجبات يې پرځای کړو او د مجرمانو او کافر انو ملتيا نه خپل ځانونه په کلکه سره وساتو، ترڅو الله تعالی پر مونږ ورحميږي او خپل نعمتونه را باندې په دنيا او په آخرت کې همداسې پيرزوکړي، ترڅو مونږ ښاد او سرلوړي سو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك و أتوب إليك.

د الو اقعې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالي په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه ډیر مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الو اقعې سورې لنډه پیژندنه او روښانه پیغام}

قدرمنو دوستانو! د الو اقعې مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالي د نورو مکي سورو غوندې د عقیدې مسئلې یادې کړې او بیان کړې دي او د قیامت ورځې په راتګ یې چې هیڅ شک پکې نسته؛ کلک ټینګار کړئ دئ او ټولو خلکوته یې دا پیغام ورکړئ دئ چې د درې ډلو نه ده یوه ډله خوښه کړې چې یقینا لمړۍ ډله یې الله ته وړاندې او ډیر لنډ کسان دي، او دویمه ډله اصحاب الیمین، او دریمه ډله اصحاب الشمال دي، او بیایې د دغو ډلو کسانوته ثواب او عذاب په ګوته کړئ او بیان کړئ دئ، او هغه دا چې مومنانوته د الله تعالی نعمتونه او ثوابونه ورکول کیږي، او کافرانوته عذاب او کلکې سزاګانې ورکول کیږي، او بیا الله تعالی پدې مبارکه سوره کې د الله توحید مونږ ته بیان کړئ دئ او کلک ټینګاریې ور باندې کړئ دئ، ځکه الله تعالی د لویو قدرتونو څښتن دئ، او د الله تعالی لوی قدرتونه ټول خلک په خپلو ځانو او په کایناتوکې خواره واره ښه راښه ویني، نو ښایي چې یوازې د یوه لوی رب بنده ګان سې او حکمونه یې ومني، کنه نو لوی فساد به په ځمکه کې خور سي، او د دې مبارکې سورې نوم (الو اقعه) د هغه لمړي آیت نه اخستل سوې ده او د (الو اقعه) معنا پیښه ده او مقصد یې د قیامت ورځې را تګ او را پیښدل دي چې د دې مبارکې سورې په پیل کې ور باندې کلک ټینګار سوئ دئ، او په پیل کې یې الله تعالی د قیامت ورځې یقیني را تګ په بیان کې فرمایلي دي:

{څمکه د قیامت ورځې را تک سره په یو ټکان ړنګیږي}

﴿إِذَا وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ۝١ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۝٢ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝٣ إِذَا رُجَّتِ ٱلْأَرْضُ رَجًّا ۝٤ وَبُسَّتِ ٱلْجِبَالُ بَسًّا ۝٥ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا ۝٦﴾

[۱-۳] هو! کله چې د قیامت ورځ را پیښه سوه او راغله [نو بیا هیڅ څوک د دغې ورځې را پیښیدل او را تک دروغ نه بولي او پکې شک نکړي] او هغه ورځ کافران ټیټوي او مومنان جګوي، یعنی کافران د قیامت په ورځ د دوزخ اور ته په ورننوتلو سره خوار یږی او سپکیږي او مومنان جنت ته په ورتک سره د عزت لوړ مقام ته رسیږي.

[٤-٦] او کله چې د قیامت ورځې په را تک سره څمکه کلکه ولړزول سي او غرونه ډلې وړې سي، نو بیا هغه په هوا کې شیندل سوي خواره سي، یعنی نو تاسې ای خلکو! د قیامت ورځې را تک را په یاد کړی او د هغې ورځې خوښۍ ګټلو ته چمتو سی!

{خلک درې ډلې دي: ښې پلوي کین پلوي او الله ته ګران کسان}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې خلک الله تعالی په درې ډلو وېشلي دي او د قیامت ورځې په یقیني راتګ باندې یې ښه ډیر دلیلونه یاد کړي او بیان کړي دي او فرمایلي دي:

﴿وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَٰثَةً ۝٧ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ۝٨ وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ۝٩ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ۝١٠ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ ۝١١ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝١٢ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ۝١٣ وَقَلِيلٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ۝١٤ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ۝١٥ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيْهَا مُتَقَٰبِلِينَ ۝١٦ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ ۝١٧ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ۝١٨ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ۝١٩ وَفَٰكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ۝٢٠ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ۝٢١ وَحُورٌ عِينٌ ۝٢٢

كَأَمْثَٰلِ ٱللُّؤْلُوِ ٱلْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴿٢٦﴾

[۷- ۸] او تاسې ای خلکو! د قیامت په ورځ درې ډلې یاستی،نو یؤ د ښې خوا ډله ده او د ښې خوا ډله څوک دي؟ [ځواب: هغوی د ډیر لوړ مقام او د عزت خاوندان دي]

[۹] او بله د کین خوا ډله ده او دا د کین خوا کسان څوک دي؟ [ځواب: هغوی په ډیر سپک او بد حال ککړل کسان دي]

[۱۰-۱۲] او مخکښ کسان چې د ټولو نه مخکې سوي دي؛ دوی الله ته ډیر ورلنډ دي او په آخرت کې یې ځای د نعمتونو نه په ډکو جنتونو کې دئ، یعنی دا ځکه چې دوی په دنیا کې د الله فرمان وړو ته د بل هر چا نه ورلاندې ول.

[۱۳-۱۶] او جنتونوته د لمړیو مومنانو نه [چې په خیر القرون کې تیر سوی دي] ښه ډیر کسان ورننوځي او د ورستیو مومنانو نه لږ کسان ورننوځي، او دوی به پرزر ینو کټو باندې تکیه وهلې وي او یو بل ته به مخامخ ناست وي.

[۱۷-۱۹] او تل پاتی تنکې زلمکیان د جنت شراب نه ډک جکونه او ګیلاسونه پر دوی باندې ګرځوي را ګرځوي او پدې ګښت کې نه د دوی سرونه په درد کیږي او نه بې اوښه کیږي، یعنی نه ګنسیږي.

[۲۰-۲۱] او جنتیانوته د دوی د خوښې میوې او د مرغانو هغه غوښې چې د دوی خوښیږي وړاندې کیږي.

[۲۲-۲۴] او جنتیانوته هغسې ښکلې ښایسته د لو یو سترګو حورې ودیږي، لکه د مرغلرو په سپینو صدفونو کې چې پټې وي، او دا ټول نعمتونه د جنتیانو د هغو ښو کړنو ثواب دئ چې په دنیا کې یې کړي ول.

[۲۵-۲۶] او جنتیان نه سپکې خبرې اوري او نه یې په اور یدو سره ګناه ګار یږي، مګر دا چې دوی ته و یل کیږي: سلامتیا! سلامتیا! یعنې

ژوند، ژوند! او ټولې داسې خبرې اوري چې د هر ډول خفتیان نه پاکې او خالي وي.

ګرانو دوستانو! دغه ټولې پیرزو ینې د هغو مومنانو برخه ده چې دوی په دنیا کې د الله په اطاعت او فرمان وړو کې ورلاندې ول، یعنی د مومن بنده د دنیا ژوند ښه سلوک؛ هغه ته په آخرت کې لوړ مقام ته د رسیدو توښه ده، او دئ ورباندې ښادیږي!

نو دعا کړو چې الله تعالی ده دغسې لوی نعمتونه پرمونږ پیرز کړي.

{د ښې لاس ملګرو ته په جنت کې نعمتونه تیارسوي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د اصحاب الیمین ثوابونو نه بیلکې مونږ ته یادې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ ٢٧ فِي سِدۡرٖ مَّخۡضُودٖ ٢٨ وَطَلۡحٖ مَّنضُودٖ ٢٩ وَظِلّٖ مَّمۡدُودٖ ٣٠ وَمَآءٖ مَّسۡكُوبٖ ٣١ وَفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ ٣٢ لَّا مَقۡطُوعَةٖ وَلَا مَمۡنُوعَةٖ ٣٣ وَفُرُشٖ مَّرۡفُوعَةٍ ٣٤ إِنَّآ أَنشَأۡنَٰهُنَّ إِنشَآءٗ ٣٥ فَجَعَلۡنَٰهُنَّ أَبۡكَارًا ٣٦ عُرُبًا أَتۡرَابٗا ٣٧ لِّأَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ٣٨ ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ٣٩ وَثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ٤٠﴾

[۲۷-۳٤] او د ښې لاس ملګري او د ښي لاس ملګرو [انعامونه] څه شئ دي؟ دوی د بیرې وني بې اغز یو میوه خوري، او یوه پربله سپرې کیلې خوري، او د تل پاتې سوري لاندې ژوند کړي او څښیدلې او به څکي [یعنی لکه د نینون سوو او بو څاڅکي څکي] او هلته ډیرې میوې وي چې هیڅ نه خلاصیږي او نه د جنتیانو نه سپمول کیږي او پرکټو باندې ورته ښکلي پوښونه خواره وي.

[۳۵-۳۸] او یقینا چې د جنت ښځې مونږ ډیرې بې ساري پیدا کړې دي او دوی مونږ پیغلې ګرځولې دي، او خپلو میړو سره برابرې او همزولې دي [او په میړو ګرانې دي] او دا ټول نعمتونه د ښي لاس ملګرو برخه ده، یعنی په جنتونوکې ورته ښښل کیږي.

[۳۹-٤۰] او د ښي لاس ملګري جنتیان ډیر د لمړنیو مومنانو نه دي

او ډير نور يې د وروســتنيو نه دي، يعنى دا مقام ټولوته حاصــل دئ، لمړني اووروستني مومنان ټول ورځخه برخمن دي.

{د کين لاس ملګري د دوزخ په سزاګانو کې کړ يږي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د اصحاب الشمال او د کين لاس خلکو ځاى په آخرت کې په نښه کړئ دئ او هغه دوزخ دئ چې په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَأَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ٤١ فِي سَمُومٖ وَحَمِيمٖ ٤٢ وَظِلّٖ مِّن يَحۡمُومٖ ٤٣ لَّا بَارِدٖ وَلَا كَرِيمٍ ٤٤ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُتۡرَفِينَ ٤٥ وَكَانُواْ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلۡحِنثِ ٱلۡعَظِيمِ ٤٦ وَكَانُواْ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ٤٧ أَوَءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ٤٨ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَوَّلِينَ وَٱلۡأٓخِرِينَ ٤٩ لَمَجۡمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ٥٠ ثُمَّ إِنَّكُمۡ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلۡمُكَذِّبُونَ ٥١ لَأٓكِلُونَ مِن شَجَرٖ مِّن زَقُّومٖ ٥٢ فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ٥٣ فَشَٰرِبُونَ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡحَمِيمِ ٥٤ فَشَٰرِبُونَ شُرۡبَ ٱلۡهِيمِ ٥٥ هَٰذَا نُزُلُهُمۡ يَوۡمَ ٱلدِّينِ ٥٦﴾

[٤١-٤٤] او د کين خوا ملګري! او دا د کين خوا خلک څه حال لري؟ دوى د ډيربد حال سره مخامخ وي، دوى به د دوزخ سره شمال يا باد په ګرمى کې وي او د تورلوګې سورئ به ور باندې راخوروي او د دوى استوګنځئ به نه سوروي او نه به ښکلئ دمه ورکونکئ وي.

[٤٥-٤٦] او يقينا چې د کين خوا کســان د دې نه پخوا په دنيا کې په مزو کې ول [خو د الله نه غافل او بې پروا ؤ] او په لو يه ګناه باندې يې ټينګار درلود، يعنى دوى د توبې و يستلو قصد نه درلود او تيار نه ول چې الله ته وروګرځي او توبه و باسي.

[٤٧-٤٨] او دوى و يل: آيا کله چې مونږ مړه ســو او خاورې او اډوکې ســو، نو بيا مونږ بيرته راجګول کيږو او راژوندي کيږو؟ او يا د زمونږ پخوانيو پلرونــه بيرتــه راژونــدي کيږي؟ يعنى دغــه د کين خوا خلــک د

قیامت په ورځ بیرته را ژوندي کیدلو نه کلک منکر ول.

[۴۹-۵۰] نو ته ای پیغمبره! دغو کافر انوته په ځواب کې وو ایه: هو! یقینا چې ټول پخوانیان او وروستنی خلک د راغونډیدلو ښکاره ځای ته چې هغه د قیامت ورځ ده راغونډیږی، یعنی نوبیا د ټولو نه کلک حساب اخستل کیږي.

[۵۱-۵۵] او بیا تاسي ای د سمې لارې نه ورک سوو خلکو! یقینا چې د الله کتاب قرآن او پیغمبر دروغ و بلل او تاسي به خاماخا د زقوم وني ترخه میوه خوری او د ډیرې ولږي نه به خپل نسونه ور باندې ډکوی او بیا به سرې سوې او به پسیره ورباندې څښکی، او هغه به د تږي اوښ غوندې ډیرې څښکی، خو بیا به هم د ستاسې تنده نه ماتیږي!

[۵۶] او دا خواړه او څښاک د قیامت په ورځ دوی ته میلمستیا ده، یعنی هغه ډیره بده او سپکه میلمستیا ده!

{د الله تعالی توحید دلیلونه او د قیامت ورځې یقیني راتګ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو په یادولو سره په توحید او د قیامت ورځې په یقیني راتګ باندې؛ کلک ټینګار کړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿نَحْنُ خَلَقْنَٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ ﴿٥٧﴾ أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴿٥٨﴾ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٥٩﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ ٱلْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَٰلَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِى مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنَٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنَٰهَا تَذْكِرَةً

وَمَتَٰعًا لِّلۡمُقۡوِينَ ٧٣ فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ٧٤﴾

[٥٧] ای خلکو! تاسې خو مونږ پیدا کړی، نو بیا ولې د قیامت په ورځ بیرته راژوندي کیدو باندې باور نکړی؟ او هغه نه منی؟ یعنی لکه څنګه چې تاسې مونږ په لمړي ځل کې پیدا کړی؛ همداسې به تاسې د قیامت په ورځ بیرته راژوندي کو، او دا کار مونږ ته اسانه دئ!

[٥٨-٥٩] او ای خلکو! نو آیا د ستاسې په نظر هغه منِي چې تاسې د خپلو ښځو یا میرمنو په رحم کې ورغورځوی؛ آیا تاسې د هغې پیدا کونکي یاستی؟ او یا مونږ د هغې پیدا کونکي یو؟ [ځواب دا چې: د میړه او ښځې منیو ګډیدل یو بل سره د ماشوم په پیدایښت کې؛ یوازې ظاهري سبب دئ، خو د دوی ر یښتینئ او حقیقی پیدا کونکئ؛ یوازی الله دئ.

[٦٠-٦١] او ای خلکو! د ستاسې په منځ کې د مرګ او مړ ینې پر یکړه مونږ ټاکلې ده او مونږ بې وسې نه یو چې د ستاسې غوندې خلک بدل کړو[یعنی بیا په بله څیره او په نورو داسې خو یونو سره تاسې بیرته راپیدا کړو] چې تاسې نه پوهیږی، یعنی دا چې دوی به مسخه سي او بیا به په بله څیره کې را پیدا سي.

[٦٢] او ای خلکو! تاسې د لمړي ځل په پیدایښت پوه سوی [یعنی ښه خبر یاستی چې تاسې هیڅ څه شئ نه وی او بیا مونږ راپیدا کړی] نو بیا ولې تاسې د الله قدرتونه نه را په یادوی؟ [ځواب دا چې ښایي هغه را په یاد کړی او ورځخه ګټه واخلی او د کفر نه تو به و باسی او ایمان راوړی!

[٦٣-٦٧] او ای خلکو! آیا هغه کښت چې تاسې یې کری؛ ولیده؟ نو آیا د هغه راشین کونکي تاسې یاستی او یا هغه مونږ را شین که؟ او که مونږ غوښتی وای هغه به مونږ بوس بوس ګرځولې ؤ، نو بیا به تاسې حیران وی چې دا کښت څنګه بوس بوس سوئ دئ؟ او د ډیر خفتیان نه به و ایي: یقینا چې مونږ بایلونکي یو، بلکې مونږ د محرومو کسانو نه یو، یعنی مونږ خپله روزي د لاسه ورکړه او تاوانیان سوو.

[٦٨-٧٠] نو ای خلکو! آیا هغه او به چې تاسې څکئ، آیا هغه تاسې د وورونه را وورولې دي؟ او که هغه مونږ را وورولې دي؟ او که مونږ وغواړو او به به تروې وګرځوو، نو آیا تاسې د دغو لو یو نعمتو شکر نه باسئ؟

[٧١-٧٣] او آیا هغه اور چې تاسې بلوئ آیا د هغه سوز لرکې تاسې پیدا کړل او که مونږ یې پیدا کونکي وو؟ هو! دا اور مونږ تاسې ته د آخرت اور را یادونکئ وګرځا ؤ، او هغه لارو یانوته په مزلونو کې ګټه رسوي، یعنی لارویان پردیسي ورځخه ګټه اخلي.

[٧٤] نو ته ای پیغمبره! خپل رب الله د هغه په لوی نامه سره په پاکئ یاد کړه، یعنی حمد او ثنایې وو ایه او په لوړو صفتونویې وستایه!

عزتمنو ورونو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د کافر انو سره په اوږده مرکه او سوال ځواب کې؛ خپل ټول قدرتونه هغوی ته په ننه کړي او ښودلي دي، او بیا یې رسول الله ﷺ ته لارښودنه او سپارښت کړئ دئ چې خپل لوی رب الله په پاکې سره یاد کړي او ښه یې وستایي او پدې لارښودنه کې یې ټول امت شامل دئ.

{قرآن په لوح محفوظ کې ساتل سوئ لارښود کتاب دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د ستورو پر یوتو تم ځای باندې چې هغه د اسمان په لو یدیځه څنده کې دئ؛ لوړه کړې ده او د عظیم الشان قرآن کلکې ساتنې نه یې په اووم اسمان کې مونږ ډاډمن کړي یو او په بیان کې فرمایلې دي:

﴿۞ فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ۝٧٥ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٞ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ۝٧٦ إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ ۝٧٧ فِي كِتَٰبٖ مَّكۡنُونٖ ۝٧٨ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ۝٧٩ تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٨٠ أَفَبِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَنتُم مُّدۡهِنُونَ ۝٨١ وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ۝٨٢ فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ۝٨٣ وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ

﴿٨٤﴾ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوۡحٞ وَرَيۡحَانٞ وَجَنَّتُ نَعِيمٖ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٩٠﴾ فَسَلَٰمٞ لَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٩١﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٞ مِّنۡ حَمِيمٖ ﴿٩٣﴾ وَتَصۡلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلۡيَقِينِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٩٦﴾

[٧٥-٨٠] نو زه د اسمان په لو يديځو څنډوکې د ستوروپه پر يوتلو لوړه کړم! [او که تاسې ای خلکو!] پوهيږی؛ هغه يقينا يو لوی قسم دئ [نو زه لوړه کړم چې] دا قرآن يقينا يو عزتمن کتاب دئ او په لوح محفوظ کې کلک ساتل سوئ دئ، او په قرآن باندې د پاکو ملائکو نه پرته د بل هيڅ چا لاس نه لږيږي او هغه د ټولو خلکو رب الله نه را نازل سوي کتاب دئ، يعنی هغه حق دئ او په يقين سره د الله نه لاړښود رانازل سوئ اسماني کتاب دئ!

درندو دوستانو! د يادونې وړده چې د (لا) کلمه دلته د ټينګارپه معنا ده نه د نفی په معنا، ځکه قسم د ټينګارلپاره وي.

[٨١] نو آيا تاسې ای مومنانو! د قرآن په سرد کافر انو سره نرمښت ښيی؟ [يعنی دا چې ترڅو هغه دروغ و بولي؟ نا! مومنانوته نه ښايي چې د قرآن حکمونو په بيان کې ګنګ دريځ ولري، ځکه د قرآن روښانه او قاطع پريکنده بيان پر دوی باندې فرض دئ، يعنی ښايي چې قرآن خلکوته په پوره امانت سره ورسوي او بيا يې ښه ورزده کړي او دوی پرې وروزي، ترڅو ورڅخه په ټولنه کټورسړئ جوړسي.

[٨٢] او آيا تاسې ای خلکو! د خپلې روزی [د شکرو يستلو پرځای ناشکري کړی او د الله تعالی پيرزو يې پر خپلو ځانو باندې] يقينا دروغ بولی؟ يعنی د ايمان پرځای [العياذ بالله] کفر ته وځی؟

[۸۳-۸۵] نو ای خلکو! آیا کله چې ستاسې نه د چا ساه راختل د هغه ستوني ته را ورسیدل، نو بیا پدې وخت کې تاسې ورته ګورئ [یعنی غواړي چې ساه یې ونه خیژي او هغه مړ نسي، نو آیا تاسې دا کارکړلای سئ او د مرګ مخه یې نیولای سئ؟] او مونږ هغه ته د ستاسې نه ډیر ورلنډ یو، خو تاسې یې نه و ینئ! یعنی تاسې ای خلکو! هغه ملائکې یا فرښتې نه و ینئ چې د دې سړي روح یا ساه د الله په حکم اخلي او د هغه ځان نه یې را باسي.

[۸۶-۸۷] نو ای خلکو! که تاسې ګمان کړئ چې په آخرت کې د ستاسې کړنو پوښتنه ستاسې نه نکیږي او نه محکومیږئ، نو که تاسې د ر ښتیا و یونکو نه یاستئ؟ آیا کولای سئ چې د هغه ساه بیرته راوګرځوئ؟ حال داچې ساه د هغه ستوني ته راختلې ده؟ [ځواب دا چې: نا تاسې هیڅ کله دا کارکړلای نسئ، ځکه د روح اخستل او زنډول؛ یوازې د الله په حکم، فیصله او پریکړه؛ ترسره کیږي، او د ستاسې نه ای خلکو! د ټولو کړنو پوښتنه کیږي.

[۸۸-۸۹] نو که دا سړئ الله ته د ورلنډو بنده ګانو نه ؤ، نو بیا هغه ته د مړینې په وخت کې؛ د الله رحمت او خوښي ده او د ښو بوټو خوږ بوی دئ او په آخرت کې هغه ته د نعمتونو نه ډک جنتونه دي.

[۹۰-۹۱] او که دا مړئ د ښي خوا ملګرو نه ؤ، نو ای پیغمبره! د ښي خوا ملګرو سلام ده پرتا باندې وي، یعنی دوی پر هغه باندې سلام اچوي، یعنی ورته ښه راغلاست و ایي او ښه تود هرکلئ یې کړي.

[۹۲-۹۴] او که دا مړئ د الله حق لارې نه د ورک سووکسانو نه ؤ او د الله حکمونه یې دروغ بللي ول، نو بیا به د هغه میلمستیا او هرکلئ په ایشول سوو او بوشر بت باندې کیږي او د دوزخ په اور کې به کړ یږي.

[۹۵-۹۶] [او ای پیغمبره! دا څه چې تا ته یاد او بیان سول] یقینا چې هغه ر ښتینئ حق دئ او هیڅ شک پکې نسته، نو ته ده خپل لوی

رب الله په نامه سره یاد کړه او لمونځ وکړه، یعنی په پاکۍ سره الله تعالی وستایه!

ګرانو دوستانو! د الو اقعې په مبارکه سوره کې د قیامت ورځې راتګ په ریښتین والي باندې الله تعالی کلک ټینګارکړئ دئ، او بیایي ټول خلک [لکه څنګه چې د دی سورې په پیل کې یادونه وسوه] په درې برخو و یشلي دي: سابقون، اصحاب الیمین او اصحاب الشمال، او بیایې د دغو ټولو ښه او بده راتلونکې بیان کړې او په نښه کړې ده، ترڅو مونږ ورڅخه پند او ګټه واخلو او د ښو خلکو په لارباندې لاړ سو او د بدو کسانو ملګرتیا نه ځانونه؛ کلک وساتو، او بیا الله تعالی د عظیم قرآن لو یتیا او قدسیت بیان کړئ دئ او هغه دا چې قرآن په لوح محفوظ کې کلک ساتل سوئ لارښود کتاب دئ، او بیا هغه د الله تعالی لخوا پر رسول الله ﷺ باندې په ریښتیا او حق سره را نازل سوئ لارښود پیغام دئ، او بیا الله تعالی د هغو کسانو بې ځایه هیلې ردې کړې دي چې دوی د خپلو خپلوانو د مرګ او مړ ینې مخنوئ په داسې حال کې کړي چې د هغه ساه ستوني ته راختلې وي، لکه دا چې دوی طمعه کړي چې بیا به هغه ایمان راوړي، خو دا طمعه سمه نده، او بیا د دې مبارکې سورې په پای کې مومنانوته الله تعالی د مرګ او د مړ ینې په وخت کې د جنتونو او د ښو بو یونوز یري ورکړی دئ، او کافران یې د دوزخ په کړنګونو کې په کلک عذاب باندې ګواښلي دي، او رسول الله ﷺ یې د الله ستاینې او تسبیحاتوته رابللئ دئ، نو دعاء کړو چې الله ده مونږ د مومنانو په لیکو کې حشر کړي، إنه سمیع مجیب.

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین، وعلی آله وأصحابه أجمعین، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إلیك.



د الحديد سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الحديد سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

قدرمنو دوستانو! د الحديد مبارکه سوره مدني سوره ده، او په پيل کې الله تعالى مونږ ته دا حقيقت په ښه کړئ او بيان کړئ دئ چې پر ځمکه او په اسمانونوکې ميشت ټول مخلوقات؛ خپل لوی رب الله په پاکې سره ستايي، ځکه الله تعالى د ځمکې او د اسمانونو ټول واک خالق او لوی پالونکئ څښتن دئ، او هر څه الله پيدا کړي دي او د هغه په واک او اختيار کې دي، نو ښايي چې ټول خلک خپل لوی پالونکئ خداى په توحيد سره ښه و پيژني او هغې يې وستايي او عبادت او بنده ګی يې وکړي؛ چې هغه د الله لوړ مقام سره لائق ده او هيڅ څوک د الله سره په خدايي کې شر يك نکړي، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې مونږ الله تعالى مادیت او معنو يت په منځ کې توازن او برابرى ته رابللي يو، نه لکه هغه کسان چې دوی ځانونه يوازې د الله عبادت ته اوزګار کړي دي او د دنيا ژوند چارو سمبال ته يې شا اړولې ده، او نه هم لکه ماتر يالستان چې د دنيا ژوند د دوی زړونه لکه تيږه کلک کړی دي او معنو يت ته يې شا اړولې ده، نو بيا الله تعالى د دې دواړو ډلو کړن لاره کلکه غندلې ده او هغه يې د الله هغې تک لارې سره په ټکرکې بللې ده چې هغه الله تعالى مونږ ته خوښه کړې ده او کتابونه او پيغمبران يې راته را ليږلي دي او مونږ دوی د الله لارې ته چې په توازن او اعتدال ولاړه ده؛ رابللي يو، او همدارنګه الله تعالى مونږ خيرات ورکولو او د مجاهدينو سره مرستې ته را بللي يو، ځکه په مدني دوره کې نوره د دولت جوړولو لړى پيل سوه، نو ښاييدل چې دا نبوي دولت په کلکو بنسټونو ودان سي، او الحمد لله همداسې وسول ، او د

شـــرکیاتو نه ډکې توري جاهلي ټولنې له منځ نه راپورته ســـوي حق د رښا وړانګو نړۍ رښا کړه او د ظلم واکمنۍ ټغرېې ټول که او اســـماني عدالت يې پکې خورکه او د شرك ځای توحید ونیوه، او دا مبارکه سوره په (الحدید) ځکه نومول ســـوې ده چې په(٢٥)مبارك آیت کې يې الله تعالی د حدید (وســـپنې) ګټه یاده کړې ده او د حدید پښـــتو معنا وســـپنه ده، او د دې مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی په پاکۍ سره ستایل سوئ دئ او الله تعالی فرمایلي دي:

{پرځمکه او اسمانوکې میشت مخلوقات خپل رب ستایي}

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٢ هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٣ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٤ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٥ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۚ وَهُوَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٦﴾

[١] ټولو هغو مخلوقاتو چې پرځمکه او په اســمانونوکې میشــت دي؛ الله يې په پاکۍ ســره وســتایه او تســبیح يې وو یلې، ځکه یوازې الله لوی ځواکمن او پوځ حکیم ذات دئ، یعنی ټول خلک په پوره ځواکمنۍ او په پاخه تدبیر ســـره پالي او ځاري، نو یوازې همدا لوی خدای د عبادت او د بنده کۍ مستحق او لائق لوی ځښتن دئ.

[٢] د ځمکې او د اســـمانو واکمني الله لره ده او الله خلک راژوندي کوي او پیدا کوي يې، او بیايې ســـاه اخلي او مړه کوي يې [یعنی ژوند او مرګ د الله تعالی په واک کې دئ او ژوندي الله مړه کوي او ســـاه ورځخه اخلي او مړي را ژوندي کوي] او الله د هرڅه په کړو باندې ښـــه قادر لوی

ذات دئ، يعنى هرڅه كړلاى ســي او هيڅ څوک د الله تعالى د كړنو مخه نيولاى نسي، ځكه الله لوى ځواكمن څښتن دئ.

[٣] او الله لمړنئ او وروســتنئ خداى دئ [يعنى د الله تعالى نه مخكې هيڅ څوک نه ؤ او نه وروســته څوک پاتې كيږي، او ټول مخلوقات لمنځه ځي او يوازې الله تعالى تل پاتې ذات دئ] او الله ښكاره او باندې دئ [يعنى په الله باندې پاس يا پورته څوک نســته] او الله دننه دئ [يعنى د هغه لاندې بل خداى نســته] او الله په هرڅه ښــه پوه ذات دئ، يعنى د الله تعالى علم نه هيڅ كم شئ په ځمكه او په اسمانونوكې پټ ندي.

[٤] او الله هغه لوى ذات دئ چې ځمكه او اســمانونو نه يې په شــپږ ورځوكې پيدا كړل او بيا دئ پاس پر عرش (څوكۍ) باندې هغــې مســتوي ســه [چې د الله تعالى لوى مقام ســره لائق ؤ، ځكه خالق مخلوق ته ورته ندئ] او هر هغه څه چې په ځمكه كې رانانوځي او څه چې د ځمكې نه وځي پرهغو ټولو بانــدې الله پوهيږي او الله په هغه څه پوهيږي چې هغه د اســمان نه ځمكې ته را كوز يږي او هغه څه چې اســمان ته ورخيځي، او تاســې چې اى خلكو! هر چيرته ياســتى الله د ســتاســې ســره دئ [يعنى الله تعالى په خپل علم ســتاســې ســره دئ] او الله د ســتاســې ټولو كړنو ښــه ليدونكې څښتن دئ، يعنى دا چې بيا الله تعالى هر چا ته د هغه د ښو كړنو ثواب او د بدو كړنو سزا وركوي!

[٥] او د ځمكې او د اســمانو واكمني يوازې الله لره ده او په آخرت كې هرڅه الله ته ورګرځول كيږي، يعنى ټول خلک د خپلو كړنو ســره يوځاى الله ته ورګرځول كيږي او الله ورسره حساب كړي او ثواب او سزا وركوي.

[٦] او شــپه الله په ورځ كې او ورځ په شــپه كې ورننه باســي او الله د خلكو په زړونو ښه پوه دئ، يعنى هيڅ څه شئ د الله تعالى نه پټ ندي، نو الله هر څوک د هغه نيت او قصد سره سم پوښتي.

قدرمونو عز يزانو! الله تعالى په دغو مباركو آيتونوكې د خپلې لوړې او لويې خدايي مقام، علم، پوهه او ټولواكي مونږ ته يادە كړې ده او هغه يې

ښه څرګنده را ته بیان کړې ده، نو ښایي چې الله تعالی په لو یتیا سره هغسې و پیژنو چې د الله تعالی لوړ مقام سره لائق ده او یوازې د الله تعالی بنده کې وکړو او بل هیڅ څوک او هیڅ څه شئ د الله سره په خدایي او د هغه په عبادت کې شر یك او ګډ نکړو، ترڅو د ر یښتینو مومنانو سره یوځای حشر سوه او سپین مخي د الله په حضورکې ودر یږو.

{په الله او پیغمبر باندې ایمان راوړل پر خلکو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی ټولو خلکوته حکم کړئ دئ چې پرالله تعالی او د هغه پر پیغمبر او استازي محمد ﷺ باندې ایمان راوړي، او د هغه مال نه چې خلک پکې خلیفه ګان او ځای ناستي نماینده ګان دي؛ د الله په لارکې زکات او خیرات ورکړي او فرمایلي دي:

﴿ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُواْ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسۡتَخۡلَفِينَ فِيهِۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَأَنفَقُواْ لَهُمۡ أَجۡرٞ كَبِيرٞ ٧ وَمَا لَكُمۡ لَا تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ لِتُؤۡمِنُواْ بِرَبِّكُمۡ وَقَدۡ أَخَذَ مِيثَٰقَكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٨﴾

[٧] ای خلکو! پرالله او د هغه پر پیغمبر(محمدﷺ) باندې ایمان راوړی، او د خپل هغه مال او دولت نه چې تاسې پکې الله ځای ناستي او واکمنان کړځولی یاستی؛ زکات او خیرات ورکړی، نو هغو کسانو چې د ستاسې نه ایمان راوړ او خیرات یې ورکه؛ دوی ته ډیر ثواب دئ.

[٨] [او ای خلکو! که تاسې په خپل رب باور لری او الله په توحید سره پیژنی] نو بیا ولې پرالله او د هغه پر پیغمبر ایمان نه راوړی؟ [یعنی خبره یې نه منی؟] حال دا چې پیغمبر تاسې په خپل رب باندې ایمان راوړوته رابولي، او که تاسې مومنان وی او باور لری، نو یقینا چې الله د ستاسې نه دا تعهد او هوډ اخستئ دئ چې پرالله باندې ایمان راوړی، یعنی د الله بنده کې په توحید سره وکړی او بتان د الله سره په خدایي کې ګډ نکړی او د شرك نه ځانونه کلک وساتی!

ګرانو دوستانو! د ایمان راوړو د دي تعهد او میثاق نه مراد او مقصد

هغه تعهد دئ چې هغه الله تعالى د ټولو خلکو نه مخکې د دوى د پيدايښت نه په دنيا کې اخستئ دئ او په بيان کې يې الله تعالى د الاعراف سورې په (١٧٢) آيت کې فرمايلي دي:"وإذ أخذ ر بك من بني آدم من ظهورهم ذر يتهم وأشهدهم على أنفسهم أ لست بر بكم؟ قالوا: بلى شهدنا... الأية"نو کله چې الله تعالى د آدم عليه السلام د ټول کهول نه په خپل لوى علم او قدرت سره دا تعهد اخستئ دئ چې الله د دوى ټولو خالق او څښتن دئ، نو په الله باندې ايمان راوړل د ټولو خلکو فطري غر يزه او غوښتنه ده او هر څوک په يوه پټ غيبي څښتن باندې د ايمان راوړ او په هغه باندې د پر وسعي او د ډاډ ګيرنې او باور کړو په هڅه کې دئ، نو الله تعالى د دوى د دغسې پټې غوښتنې په ځواب کې پيغمبران را ليږلي دي او پرهغوى باندې يې کتابونه را نازل کړي دي، او په دغو کتابونوکې، لکه په قرآن کر يم کې الله تعالى د خپلې خدايي خواره واره دليلونه او نښې يادې کړې او بيان کړې دي او ټول خلک يې په الله باندې ايمان راوړوته کلک رابللي دي، او د دغو بلن ليکونو نه يو هم د الحديد سورې دغه مبارك آيت دئ.

{د قرآن روښانه مبارك آيتونه خلک د تيارو نه رڼا ته راباسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې همداسې الله تعالى مونږ ته خپل عظمت او لو يتيا بيان کړې ده او فرمايلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِۦٓ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٩﴾ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ ٱلْفَتْحِ وَقَٰتَلَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُوا۟ مِنۢ بَعْدُ وَقَٰتَلُوا۟ ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١١﴾﴾

[٩] او الله هغه څوک دئ چې په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې يې [د قرآن] روښانه کونکي آيتونه او دليلونه؛ کلک رانازلوي [يعنى هغه ورته

وحيه کوي، ترڅو دا پيغمبر تاسې ای خلکو!] د کفر تيارو نه د ايمان رڼا ته را و باسي، او يقينا چې الله پر تاسې باندې ډير مهر بان رب دئ.

[١٠] او ای مومنانو! ولې تاسې خپل مال او دولت د الله په لار کې [د مجاهدينو او غاز يانو سمبالولوته نه ورکوئ؟ ځکه دا د دنيا ټول مال او دولت چې هغه په ځمکه او اسمان کې دئ؛ هغه ټول يوازې الله ته په ميراث پاتې دئ [يعنی تل پاتې وارث يې الله دئ او خلک ټول ورڅخه تلونکي دي او دنيا ورڅخه پاتې ده، او ای مومنانو!] د ستاسې نه چې هغه چا د مکې فتحې نه مخکې خپل مال او دولت د الله په لارکې ورکه او د کافر دښمن سره يې جګړه وکړه؛ دا مومن بنده د هغو کسانو سره برابر ندئ چې دوی د مکې فتحې نه وروسته خپل مال د الله په لارکې ورکه او د دښمن سره وجنګيدل، ځکه د هغوی رتبه د هغو کسانو نه چې د مکې فتحې نه وروسته يې خپل مال د الله په لارکې خرڅ که او پکې ولږا ؤ او د کافرانو سره وجنګيدل؛ لوړه او پورته ده، خو الله د ټولو سره د جنتونو وعده کړې ده، او ای مومنانو! الله د ستاسې په کړنو باندې ښه پوه او خبر دئ، يعنی د الله نه هيڅ څه شئ پټ ندي او هرڅه الله تعالی ته ښکاره دي.

[١١] او هر هغه څوک چې الله ته حسنه قرض يا پور ورکوي [يعنی خپل مال د الله په لارکې لږوي] نو بيا الله د هغه ثواب څو برابره ډيروي او هغه ته د سخاوت نه ډک ثواب ورکوي، يعنی او دا ثواب د الله جنت دئ او په دنيا کې هم د هغه په مال او دولت کې الله برکت اچوي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې مومنانوته د الله په لارکې د رسول اللهﷺ غاز يانو لښکرو ته د مال او دولت ورکولو ثوابونه او لوی لوی انعامونه چې په آخرت کې تل پاتې جنتونه او په دنيا کې ښادي ده؛ ياد کړي او بيان کړي دي او مومنان يې ورته هڅولي دي، او دا حکم د اړتيا په وخت کې تل پاتې حکم دئ، ځکه غاز يان او د مومنانو ساتونکئ لښکر د زکات ورکولو مستحقو ډلو نه يوه ډله ده.

{د قيامت په ورځ به مومنان رڼا کې او منافقان په تياروکې وي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ ته د مومنانو روڼ او ځلانده حال انځور او د منافقانو تور تياره حال تصو ير ياد کړئ او بيان کړئ دئ، ځکه په هغه ورځ منافقان هيلمن وي که چيرې د مومنانو د شاوخوا رڼا نه څه کټه وا خلي، خو دوی رټل کيږي او هيڅ شئ يې لاس ته نه ورځي، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَوْمَ تَرَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَٰنِهِم بُشْرَىٰكُمُ ٱلْيَوْمَ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱنظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِن نُّورِكُمْ قِيلَ ٱرْجِعُوا۟ وَرَآءَكُمْ فَٱلْتَمِسُوا۟ نُورًا ۖ فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابٌۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحْمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ ﴿١٣﴾ يُنَادُونَهُمْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَٱرْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ ٱلْأَمَانِىُّ حَتَّىٰ جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿١٤﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنكُمْ فِدْيَةٌ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ مَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ ۖ هِىَ مَوْلَىٰكُمْ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٥﴾﴾

[١٢] ای پيغمبره! [هغه ورځ مومنانوته ور په ياد کړه] کله چې ته په هغه ورځ نار ينه او ښځې مومنان و ينې چې د دوی رڼا ورته وړلاندې او ښی خوا رڼا کړې وي، نو بيا په هغه ورځ تاسې ټولوته ای مومنانو! د داسې لو يو جنتونو يا بڼونو ز يري دي چې د جنتونو مانيو لاندې يې د لو يو و يالو او به بهيږي او مومنان به هلته تل اوسيږي، او هغه نعمتونه يوه ډيره لو يه حقيقي ر يښتني بر يا ده چې يعنى هغه الله تعالى خپلو مومنو بنده ګانوته ور په برخه کړې ده، نو دعاء کړو چې هغه رڼا ده الله تعالى د زمونږ ټولو مومنانو په برخه کړي.

[١٣] او د قيامت په هغه ورځ بيا نار ينه او ښځې منافقان مومنانوته وايي: تاسې مونږ ته لږ تم سی او انتظار و باسی، ترڅو مونږ د ستاسې نه

لږ رڼا واخلو! [نو بيا دوی ته په ځواب کې] وو يل سي: تاسې د ستاسې شا ته بيرته وروګرځئ او خپلو ځانو ته رڼا وغواړئ، نو بيا د دوی په منځ کې داسې ديوال جوړ سي چې د ننه يې د مومنانو خواته رحمت وي او بهرته يې د منافقانو پلوته سور اور او عذاب وي!

[١٤] نو بيا مومنانوته منافقان نعرې وهي او وايي: آيا مونږ د ستاسې سره په دنيا کې نه وو؟ نو بيا مومنان په ځواب کې ورته وايي: هو! تاسې د زمونږ سره وی، خو تاسې خپل ځانونه په ازمايښت کې واچول او په انتظارکې پاتې سوی او د آخرت په راتګ کې شکمن سوی، او تاسې خپلو اوږدو هيلو او طمعو په دنيا کې وغولول، ترڅو چې د الله حکم راغئ، يعنی قيامت سه، نو بيا تاسې مړه سوی او د شيطان غولونو ښکار سوی او بيا د دغسې ترخه برخليک سره مخامخ سوی.

[١٥] نو ای کافرانو! که نن ورځ تاسې کمه نذرانه او بيعه هم د ځان خلاصيدو لپاره ورکړی؛ هغه د ستاسې نه نه اخستل کيږي، او نه د کافرانو نه څه شئ قبليږي او منل کيږي، نو اوس د ستاسې ټولو ځای او ملګرئ د دوزخ اور دئ، او هغه ډير بد برخليک او ترخه راتلونکې ده چې تاسې ورسره مخامخ کيږي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د مومنانو او منافقانو راتلونکې د قيامت په ورځ د يو بل سره مقايسه او يرتله کړې ده، او د مومنانو راتلونکې رڼا او ښه ځلانده وي، خو د منافقانو راتلونکې توره تياره وي، نو منافقانو ته الله تعالی د دغسې تور کرغيړن برخليک تصو ير په دنيا کې اعلان کړئ دئ، ځکه منافقانو په دنيا کې دوه مخه چلند کا ؤ او مومنانو ته به يې و يل چې مونږ د ستاسې سره يو، خو په زړونوکې دوی د کافرانو ملګري ول، او ايمان يې زړونو ته نه ؤ ورننوتلئ، نو بيا دوی د قيامت په ورځ ګمان وکه چې اوس به هم، لکه په دنيا کې دروغ ورته څه ګته ورسوي، خو نور چل او دوه مخئ چلند ګټه نه لري، ځکه الله تعالی د دوی د زړونو نه خبر دئ، نو د دوی ځای د کافرانو سره د دوزخ اور دئ، او هغه ډير بد ځای دئ او دوی خاماخا ورتلونکي دي، او الله تعالی کافران

او منافقان ټول د دغسې بدې راتلونکې نه په دنیا کې خبر کړي دي، ترڅو ښه فکر وکړي او تو به و باسي او د دغسې تور برخلیک نه خپل ځانونه کلک وساتي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده د نفاق نه چې هغه د شیطان په وسوسه د نفس او د هوا غوښتنه ده؛ مونږ وساتي او د ایمان په رڼا ده د زمونږ زړونه الله تعالی رڼا کړي، ترڅو د قیامت په ورځ هغه جنتونه د زمونږ ځای او منیه وي چې د هغو وعده د مومنانو سره الله تعالی په دنیا کې کړې ده...اللهم آمین یارب العالمین.

{مومنانو ته ښایي خپل زړونه حق ته پاسته کړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنانو ته سپارښت کړئ دئ چې خپل زړونه د الله په یاد او ذکر باندې پاسته کړي، او فرمایلي دي:

﴿۞أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلۡحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلُ فَطَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَمَدُ فَقَسَتۡ قُلُوبُهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ١٦ ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ١٧ إِنَّ ٱلۡمُصَّدِّقِينَ وَٱلۡمُصَّدِّقَٰتِ وَأَقۡرَضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعَفُ لَهُمۡ وَلَهُمۡ أَجۡرٞ كَرِيمٞ ١٨ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ وَنُورُهُمۡۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١٩﴾

[١٦] آیا هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړئ دئ؛ د دې وخت ندئ را رسیدلی چې زړونه یې د الله یادولو او ذکرته او د هغه څه اور یدلوته پاسته سي چې هغه د حق پیغام نه په قرآن کې را نازل سوئ دئ او حکمونه یې ومني او عمل پرې وکړي؟ او د پخوانیو کتابونو خاوندانو (یهودو او نصاراوو) غوندې نه وي چې کله په دوی باندې ډیر وخت تیر سه، نو بیا د دوی زړونه؛ کلک سول، او د اهل کتابو نه ډیر کسان د الله لارې نه وتلي فاسقان دي.

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د قيامت ورځې په يقيني راتګ باندې د خپلو ځينو قدرتونو نښو په بيان سره ټينګار کړئ دئ، ترڅو خلک ښه پوه سي او ايمان راوړي او ښه وکړي او فرمايلي دي:

[١٧] ای خلکو! پدې پوه سئ چې يقينا الله مړه ځمکه بيرته راژوندی کوي او تاسې ته مونږ د خپل کتاب (قرآن) آيتونه او د خپلو قدرتونو نښې روښانه بيان کړې، ترڅو د ستاسې عقل او اوښ سرته راسي او د قيامت ورځې په ر يښتينوالي باندې ايمان راوړی او ځانونه ورته تيار کړی.

او بيا الله تعالى زکات او خيرات ورکونکو کسانو ته ز يرئ ورکړي چې د دوی ثوابونه به الله ډير کړي او فرمايلي دي:

[١٨] هو! يقينا د هغو نار ينوو او ښځو ثوابونه څو برابره ډير يږي،

چې دوی د الله په لار کې خپل زکات او خيرات ورکوي او د الله سره په ښه نيت او د ثواب په هيله قرض حسنه کړي.

[١٩] او هغو کسانو چې په الله او د هغه په پيغمبر باندې ايمان راوړ؛ دوي د صادقانو او ر يښتينکو نه دي او د قيامت په ورځ دوی د خپل خدای په حضورکې د شاهدانو نه دي، ځکه دوی د خپلو پيغمبرانو په صداقت باندې شاهدي وايي او دوی ته الله ثواب او رڼا ورکوی، خو هغه کسان چې کافران سول او د زمونږ دليلونه او د قدرتونو نښی يي دروغ وګڼلې؛ هغوی د دوزخ ملګري دي او د هر ډول رڼا او ثواب نه محروم دي.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې مومنان د پخوانيو اهل کتابو(يهودو او نصاراوو) د بدو صفتونو او خو يونو نه کلک ګوښلي دي، ځکه د اهل کتابو زړونه د وخت په تيريدو سره کلک سول او د الله تعالى دين نه ووتل، او د الله ذکر او يادولو نه غافل سول، نو بيا دلته الله تعالى مومنان د قرآن آيتونو تلاوت اور يدو ته او ور باندې عمل کړو ته رابللي دي، نو اسلام ته رابلونکو علماوو او ملايانوته ښايي چې مومنان تل د وعظ او نصيحت د لارې د خپل رب الله ياد ته راو بولي او د غفلت خوب نه يې راو ښبې کړي، او يقيناچې د جمعې ورځې خطبه د

همدې لوی مقصـد لپاره روا سـوې ده او هغه د جمعې لمانځه نه مخکې واجب ده او پدې خطبه کې وعظ او نصـیحت او د الله نه و یرې او تقوا ته بلنه اړ ینه ده، او فقهاوو تقوا ته بلنه د خطبې ارکانونه بللې ده چې د هغې نه پرته خطبه نه صحي کیږي.

{د دنیا په ژوند زړه تړل د هوښیارانو کار ندئ}

او بیا الله تعالی مومنانوته په ور پسـې مبارکو آیتونوکې سـپارښـت کړئ دئ چې د دنیا نعمتونو نه په خوند اخسـتو سـره زړونه ونه تړي او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞ وَزِينَةٞ وَتَفَاخُرُۢ بَيۡنَكُمۡ وَتَكَاثُرٞ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِۖ كَمَثَلِ غَيۡثٍ أَعۡجَبَ ٱلۡكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَكُونُ حُطَٰمٗاۖ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٞ شَدِيدٞ وَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٞۚ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ٢٠ سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا كَعَرۡضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أُعِدَّتۡ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢١﴾

[٢٠] ای مومنانو! پدې پوه سئ چې د دنیا ژوند یقینا د ځانو لو به او د زړونو غوښتنو او خوښیو پوره کول دي، او د ژوند په ښکلا او ښایست باندې او په یو بل باندې د مال او کوول په ډیر یدو سـره فخر کړل دي، او دا ژوند هغه باران اور یدلو ته ورته دئ چې کافران یې د بوټو په راشـنه کیدو سره خوښ کړل او دا بوټي بیا وچ سول، نو بیا تاسې هغه ز یړ سوي و ینې، او بیا هغه رژ یږي او بوس بوس کیږي [یعنی خاورې کیږي] او د آخرت په ورځ کافرانو ته کلک عذاب دئ، او مومنانو ته د الله لخوا ښښنه او خوښي ده، او د دنیا ژوند د غولونکي خوند اخستلو نه پرته بل څه شئ ندئ، یعنی نو ښایي چې مومنان خپل زړونه ور باندې ونه تړي!

[٢١] نو ای خلکو! د خپل رب ښـښې ته او د هغو لو یو جنتونو کټلو ته چې بر یې د ځمکې او د اسـمان بر په اندازه دئ؛ د یو بل سـره سـیالي

وکړي او د يو بل نه ورلاندې سې او دا جنتونه هغو کسانو ته تيار سوي دي چې دوی په الله او د هغه په پيغمبرانو باندې ايمان راوړ، او دا د الله ورکړه او پيرزوينه ده چې هغه هر چا ته وغواړي؛ ورکوي يې او الله د ډير لوی فضل او ورکړي لوی څښتن دئ.

نو ښايي قدرمنو دوستانو! چې د دنيا ژوند دغسې و پيژنو او هيڅکله خپل تل پاتې ژوند په آخرت کې چې راتک يې يقيني دئ؛ د هغه نه قر بان نکړو او خپل ځانونه د الله تعالى رحمت نه محروم نکړو!

{څه چې مونږ ته پيښيږي پر يکړه يې په تقدير کې سوې ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مونږ ته الله تعالي هغه لوی حقيقت روښانه کړئ دئ او فرمايلي دي څه چې په ځمکه کې او خلکو ته د دوی په خپلو ځانوکې پيښيږي؛ د هغو ټولو پر يکړه په تقديرکې سوې ده، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٢٢ لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ٢٣ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِۗ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٤﴾

[۲۲-۲٤] ای خلکو! هيڅ پيښه او غميزه په ځمکه کې او د ستاسې ځانونوته نه رسيږي، مګر دا چې مخکې لدې نه چې هغه را پيښه سي؛ مونږ يې پر يکړه د لوح محفوظ په کتاب کې کړې ده او هغه الله ته يقينا اسانه ده، ترڅو تاسې ای خلکو! په هغه څه باندې چې درڅخه تير سول خفه نسې او په هغه څه چې درته راغلل او درکړل سول؛ په هغه په فخر کړو سره خوښ نسې، ځکه کبرجن سړئ چې په نورو خلکو فخر کړي؛ د الله نه خوښيږي، او کبرجن فخر کونکي کسان هغه څوک دي چې بخيلي کړي

او د الله په لار کې خپل مال نه ورکوي او نور خلک هم بخیلۍ ته را بولي، او هغه څوک چې د الله فرمان وړونه په شـا سـي ز یان یې خپل ځان ته رسـیږي [یعنی الله ته دئ هیڅ تاوان رسـولای نسـي] ځکه یقینا چې الله ستایل سوئ غنی ذات دئ، او بل هیڅ چا ته اړ او محتاج ندئ.

ګرانو دوسـتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې په خپلو تقدیري پر یکړو باندې کلک ټینګار کړئ دئ، او هغه دا چې هیڅ مصـبت او غمیزه د زمونږ په ژوند کې نه پیښـیږي، مګر دا چې هغه مخکې په تقدیرکې راته لیکل سـوې وي، نو ښـایي چې د الله تعالی په پر یکړو باندې په تقدیر کې ایمان ولرو، او د ژوند په ښـادۍ او غمیزوکې د ډیرې خوښـۍ یا د ډیر خفتیان نه ځانونه کلک وسـاتو او د الله تعالی به پر یکړو راضـي او ورته تسـلیم سـو، او همدارنګه کبرجن کسـان چې په نورو خلکو باندې فخر کړي؛ دوی الله تعالی غندلي دي، نو ښـایي، چې مومنان ځانونه د کبر نه کلک وساتي او هیڅکله پرچا باندې کبر ونکړي.

{د عدالت چلولو رسالت الله پیغمبر انو ته سپارلئ دئ}

او پـه ور پسـې مبـارکو آیتونوکې اللـه تعـالی مونږ د خپلو پیغمبرانو رسـالـت او واکمنۍ پیغـام نـه خبر کړي یو او هغـه دا چې په ټولنـه کې د عدالت او انصـاف چلولو یواز ینې لار د هغو لارښـودو کتابونو حکمونو نـافـذول دي چې هغـه اللـه تعـالی پیغمبرانو تـه د دوی امتونو ښـادۍ او نیکمرغۍ او نجات په مقصد رانازل کړي دي او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَأَنزَلْنَا ٱلْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَٰهِيمَ وَجَعَلْنَا فِى ذُرِّيَّتِهِمَا ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلْكِتَٰبَ ۖ فَمِنْهُم مُّهْتَدٍ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ ۖ وَجَعَلْنَا فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأْفَةً

وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۖ فَـَٔاتَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٢٧﴾

[۲۵] هو! یقینا چې پیغمبران مونږ د ښکاره دلیلونو او معجزو سره راولیږل او د دوی سره مونږ خپل لارښود کتاب او د عدالت تله رانازله کړه، ترڅو خلک د یو بل سره په ژوند کې په انصاف سره وچلیږي [یعنی د خلکو د ژوند چارې په پوره عدالت سره سمبال سي، او د هیڅ چا حق د پښولاندې نسي] او وسپنه چې پکې ډیر کلک زور دئ او خلکو ته پکې ګټې دي؛ هغه مونږ رانازله او پیدا کړه، ترڅو الله خپل علم او پوهه خلکو ته ښکاره کړي چې څوک د الله دین او د پیغمبرانو مرسته په پټه سره کړي؟ او یقینا چې الله ښه ځواکمن لوی ذات دئ.

ګرانو عزیزانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې د خپلو پیغمبرانو رسالت او دنده چې د خلکو په منځ کې د عدالت پالنه ده؛ بیان کړي ده او د دوی د واکمنۍ قوت وسیله یې چې وسپنه ده په نښه کړي ده، ځکه د حق او عدالت پلي کول چې د الله په لارښودو کتابونوکې ورته بلنه سوې ده؛ کلک زور او لوی ځواک ته اړتیا لري او وسپنه د ځواکمنۍ وسیله ده، چې هغه الله تعالی په ځمکه کې پیدا کړي ده او ډول ډول اسلحې ورڅخه جوړ یږی او خلک ورڅخه د ژوند په چاروکې لویې ګټې اخلي.

قدرمنو دوستانو! او دا یادونه دلته اړ ینه ده چې الله تعالی د خپلو ټولو اسماني کتابونو لوی هدف او مقصد د بشریت په اوږده تار یخ کې یاد کړئ او بیان کړئ دئ او کله چې پخواني کتابونه د بدلون او د تغیر سره مخامخ سول او شرك په ځمکه کې خور سه، نو بیا الله تعالی نوئ پیغمبر محمد ﷺ د خپل نوي کتاب قرآن سره را ولیږه او پر هغه یې نور خپل دین کامل او پوره که او پخواني تحر یف سوي کتابونه یې منسوخ کړل او د اسلام کامل دین یې ټولو خلکو ته د رحمت او د عدالت پیغام او دستور اعلان که او وې فرمایل:"الیوم أکملت لکم دینکم وأتممت علیکم

نعمتي ورضيت لكم الإسلام دينا"المائدة(٣) معنا داچې: ای مومنانو! نن تاسې ته ما د ستاسې دين کامل او پوره که او خپله پيرزو ينه ما پر تاسې باندې تمامه کړه او تاسې ته اسلام ما دين خوښ که.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د تيرو پيغمبرانو د نوح، ابراهيم او د عيسى عليهم السلام د نبوت او د پيغمبرۍ لنډه لنډه يادونه کړي ده، او فرمايلي دي:

[٢٦] او يقيناچې نوح او ابراهيم مونږ پيغمبران را وليږل او د دوی په کوول کې مونږ پيغمبري پر ښودله او خپل لارښود کتابونه مونږ دوی ته پر ښودل، نو بيا د دغو پيغمبرانو د کوول نه؛ څوک حق لارې ته هدايت او سم سول، خو ډير کسان د دغو ولسونو نه فاسقان ول او د حق سې لارې نه وتلي ول، يعنى لکه د نوح عليه السلام زوی او د ابرهيم عليه السلام پلار او نور چې تار يخ ور باندې ډک دئ.

[٢٧] او بيا دغو پيغمبرانو پسې وروسته مونږ خپل نور استازي پيغمبران را وليږل، او بيا په هغو پسې مونږ عيسى بن مر يم را وليږه او هغه ته مونږ انجيل ورکه، او د هغو کسانو په زړونوکې چې عيسى پسې لاړل مونږ نرمښت، رحمت او زړه سواندئ واچا ؤ، خو بيا دوی د خپل ځان نه رهبانيت را وايست چې هغه مونږ پر دوی باندې نوه فرض کړئ [يعنى د الله تعالى په عبادت کې هغوی د تاکلي حد نه تيرئ وکه او پر دوی باندې فرض سوو عبادتونو نه ووتل او خلک يې د دنيا پر ښودلو ته کلک راو بلل] حال دا چې عبادت مونږ پردوی باندې د الله رضا او خوښى لپاره فرض کړئ ؤ، نو بيا د عيسى پلو يانو دا حق سم ونه پاله، او بيا چې هرچا د دوی نه ايمان راوړ؛ دوی ته مونږ ثواب ورکه، خو ډير کسان د دوی نه فاسقان ول، يعنى د الله اطاعت نه وتلي ول.

درندو وروښو او خو يندو! پدې مبارك آيت کې د عيسى عليه السلام پلو يانو رهبانيت چې مقصديې د خپلې خوښې عبادت او د خلکو را بلنه د دنيا چارو پر ښودلو ته ده؛ الله تعالى غندلئ دئ او هغه يې د عيسى عليه السلام د

دين نه وتلئ کار بللئ دئ، خو د بده مرغه د اسلام په وروستيو پيړيو کې ډير مسلمانان د نصرانيت نه په تقليد سره پدې لوی انحراف کې ولو يدل او د تصوف په نامه يې ځينې مسلمانان د کليسا پاپانو په پله لاړل، او د دنيا پر ښودلو ته يې خلک را و بلل، او بيا د کلنو په تيريدو سره دا لړی د مسلمانانو د بيرته پاتې کيدو لوی عامل او سبب سوه او د پرمختيا مخه يې په اسلامي نړۍ کې کلکه ونيوله، او پدې وخت کې په لو يديځه نړۍ کې د عيسو يت په نامه پوهانو (مستشر يقينو) اسلامي کتابتون کې چې کمه لو يه پټه خزانه وه؛ هغه څه په ډير غور سره مطالعه کړل او ژورې څيړنې يې وکړې، او د نوي تمدن تګ لاره يې ورځخه را وايستله او خپل ولسونه يې د نوي پرمختګ څښتن کړل او کلک يې ورته وهڅول، ترڅو چې يبا ټوله نړۍ د استعمار او نوې ودانۍ ترنامه شعار لاندې په نو يو باروتي اسحلو باندې سمبال او عسکري ځواک په مټ يې برمته کړه.

{مومنان الله تقوا ته رابللي او د نعمتونوز يري ورکړي دي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د اهل کتاب مومنان د عيسىعليه السلام نه وروسته؛ د الله تقوا ته او د اسلام په پيغمبر محمد ﷺ باندې ايمان راوړو ته را بللي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ بِرَسُولِهِۦ يُؤۡتِكُمۡ كِفۡلَيۡنِ مِن رَّحۡمَتِهِۦ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ نُورٗا تَمۡشُونَ بِهِۦ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٨ لِّئَلَّا يَعۡلَمَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَلَّا يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩﴾

[٢٨] ای مومنانو او هغو کسانو چې تاسې د پخوا نه ايمان راوړئ دئ! د الله عذاب نه خپل ځانونه وساتئ او د الله سزا نه کلک وو يرې يرې او د الله په پيغمبر(محمدﷺ)باندې ايمان راوړئ [يعنی د هغه پيغمبرې په حق او ر ښتيا سره ومنئ] او تاسې ته به الله د خپل رحمت نه دوه برابره ثواب درکړي، او د رنړا داسې څراغونه به د ستاسې په مخکې بل کړي چې په رنړا کې بې تاسې په سمه لار ځئ او د ستاسې تيرې ګناه وې به هم ټولې

درته و ښي، ځکه الله ښه ښوونکئ او لوی مهر بان ذات دئ.

[٢٩] [او د الله تعالی دا ورکړه اهل کتابو ته د دې لپاره وه چې] ترڅو د کتاب خاوندان (یهود او نصارا) [چې په محمد ﷺ باندې يې ایمان ندئ را وړئ] پدې پوه سي چې دوی یوازې په خپلو کړنو سره د الله پیرز ینې لاس ته را وړلای نسي، او یقینا چې دا ټول فضل او ورکړې؛ یوازې د الله په لاس کې دي او الله چې چا ته هغه وغواړي ورکوي يې او الله د لو یو ورکړو څښتن او خاوند دئ.

قدرمنو دوستانو! دا مبارك آیتونه اهل کتابو(یهودو او نصارو) ته د لویي پیرزو ینې ز یرئ او پیغام دئ، ترڅو دوی د اسلام پیغمبر محمد ﷺ چې خاتم النبیین والمرسلین دئ؛ ښه و پیژني، ځکه هغه الله تعالی ټولو خلکو ته لارښود را لیږل دئ، نو هیڅ څوک حق نه لري چې په دي پلمه ایمان را نوړي چې دئ خو د پخوانیو پیغمبرانو په دین باندې کلک ولاړ دئ، ځکه د اسلام حق دین لوی کتاب قرآن چې پر محمد ﷺ باندې رانازل سوئ دئ؛ یوازئ کتاب دئ چې د هر ډول بدلون نه الله تعالی ساتلئ دئ او نور ټول پخواني کتابونه، لکه تورات او انجیل د بدلون او تحر یف سره مخامخ سوي دي، او په هغوکې د خاتم النبین والمرسلین پیغمبرۍ روښانه ز یرئ ورکړل سوئ دئ، خو یهودو او نصاراوو هغه پټ کړئ دئ.

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی آله وأصحابه أجمعین، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إلیك.



د المجادلې سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د المجادلې سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

درندو دوستانو! د المجادلې مبارکه سوره مدني سوره ده او پکې د نورو مدني سورو غوندې شرعي حکمونه، لکه د ظهار مسئله او د منافقانو ځينې خو يونه، کړنې او حکمونه يې د کافرانو سره، لکه د موالات او ملګرتيا مسئله او څه نورې مسئلې؛ الله تعالي مونږ ته يادې کړې او بيان کړي دي، او همدارنګه پدې مبارکه سورە کې د مدينې منورې بيلو بيلو اوسيدونکو(مومنانو، يهودو او منافقانو) اړوند حکمونه او خو يونه؛ ياد سوي او بيان سوي دي او هرې ډلې ته الله تعالى د دوى لائق لارښودنې کړې دي، ځکه په مدينه منوره کې د مومنانو په څنګ کې يهود، مشرکان او منافقان اوسيدل، او د هرې ډلې خپله عقيده او ځانګړې تګ لاره وه، او په خاص ډول منافقان چې د هغوى ټول مقصد شخصي ګټې وې، دوى به د هر چا سره خپل ځانونه ملګري بلل او د دوى دا دؤ مخې چلند د ډيرو لو يو ستونزو سبب او لوى عامل ؤ، نو ځکه ښه ډير آيتونه د دغسې ستونزو د حل لپاره را نازل سوي دي، او هغه مونږ د قرآن کر يم په ډيرو سوروکې لولو، او د (المنافقين) سوره خو ټوله د دوى په نامه نومول سوې ده او دوى الله تعالى مومنانو ته ښه روښانه ور پيژندلي دي، ترڅو په ډير احتياط ورسره وچليږي ترڅو د هغوى شومو مقصدونو په لوموکې ونښلي او پکې ښکار نسي.

هو! د المجادلې مبارکې سورې نوم د همدې سورې لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ او هغه دا چې د خوله بنت ثعلبه رضى الله عنها مرکه او خبرې رسول الله ﷺ سره د ظهار په مسئله کې د هغې ميړه سره پکې

يادې سوې دي، او يقيناچې د قرآن آيتونو را نازليدل د يوې ميرمنې پوښتنو په ځواب کې او د هغې لانجې يا ستونزې حل د خپل ميړه سره؛ د ښځو په لوړ مقام او د دوی د حقونو نه د کلکې ساتنې معنا لري، او هغه د کورنۍ ژوند مشکلاتو حل لپاره ډيره ضروري او اړ ينه پاملرنه ګڼل کيږي، او د اوسني دود سره سم ښځه حق لري چې د خپلې کورنۍ ستونزې مخامخ واکمن مشر ته ورسوي او د حل غوښتونکې سي.

{په ظهار سره د ميرمنې شا لکه د مور شا نه حرامېږي}

قدرمنو دوستانو! د المجادلې سورې په پيل کې د ميړه او ارتيني په منځ کې بيلتون او خفتيان ته د حل يوه ډيره مناسبه لار چې فقهي نوم يې (ظهار) دئ؛ الله تعالى بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَآ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ۝١ ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمْ إِنْ أُمَّهَٰتُهُمْ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ ٱلْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ۝٢ وَٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا۟ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِۦ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝٣ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٤﴾

[١] ای پيغمبره! يقيناچې د هغې ميرمنې و ينا او خبرې الله واور يدلې چې هغې د خپل ميړه په باره کې ستا سره خبرې، بحث او استدلال وکه، او بيايې الله ته شکايت او زاري وکړه چې ستونزه يې حل کړي او الله د ستاسې خبرې او مرکه اوري، ځکه يقيناچې الله ښه اور يدونکئ او ليدونکئ ذات دئ، يعنى د خپلو بنده ګانو دعاګانې او زارى اوري.

[٢] ای مومنانو! د ستاسې نه هغه کسان چې د خپلو ميرمنو سره

ظهار کړي او د خپلو میرمنو شاوې (ډډې) پرځانو، لکه د میندو شاوې او ډډې حراموي؛ دغه میرمنې د دوی میندې ندي، ځکه د دوی میندې هغه ښځې دي چې دوی یې ز یږولي دي، نو یقیناچې دا کسان سپکې خبرې کړي او دروغ وایي، او الله ښه تیریدونکئ او لوی بښونکئ ذات دئ.

[۳] او هغه کســان چې د خپلو میرمنو ســره ظهار کړي [یعنی خپلې میرمنې پرخپلو ځانو حراموي] او بیا د خپلو خبرو نه بیرته ګرځي [یعنی پښیمانه کیږي] نو پر دوی باندې لازم ده چې د خپلې میرمنې سره ملاستې نه مخکې یو مریئ ازاد کړي، او تاســې ته ای مومنانو! دغســې وعظ او سپارښت کیږي، ترڅو بیا دغسې تیروتنه ونکړئ او الله د ستاسې په کړنو باندې ښه خبر دئ، یعنی نو الله تعالی هر چا ته د هغه د ښــوکړنو ثواب او د بدو کړونو سزا ورکوي.

[٤] او که څوک مریئ (غلام) بیانمومي، ترڅویې ازاد کړي [نو بیا ده د ظهار په کفاره کې] د خپلې میرمنې ســره د یوځای کیدو او ملاســتې نه مخکې؛ دؤ میاشتې پرله پسې روژه ونیسي، او که چا د روژې نیولو وسعه نه درلوده، نو شپیتو مسکینانو او بې وزرو کسانو ته ده [یو وخت] خواړه ورکړي، او ای مومنانو! د ظهار په کفاره کې تاســې ته دا حکمونه؛ د دې لپاره بیان سول، ترڅو د ستاسې ایمان پرخدای او پر پیغمبر باندې کلک ســي [یعنی بیا د جاهلیت زمانې دودونو پسې لاړ نسی] او د ظهار کفارې سزا د الله حدود او پولې دي او اوښتل ورڅخه روا ندي او کافرانو ته چې د الله حکمونه نه مني کړونکئ عذاب دئ.

قدرمنو وروڼو او خو یندو! دا مبارك آیتونه د خوله بنت ثعلبه رضــي الله عنهما په باره کې رانازل ســوي دي، کله چې خوله رســول الله ﷺ ته راغله او د خپل میړه اوس بن ثابت رضي الله عنه د ظهار نه یې پیغمبر خبرکه او بیا دې خپله الله ته د زړه له کومي دعاء او زاري وکړه، ترڅو الله تعالی د هغې ستونزه حل کړي، ځکه ظهار په جاهلیت کې طلاق ؤ او خوله چې د کوول څښتنه میرمن وه؛ په طلاق خوښه نه ؤ او میړه یې هم پښیمانه ؤ، نو الله تعالی د هغې زاري ومنله، او د ظهار درې ډوله کفاره یې چې یوه پرله پســې

ده؛ رانازله کړه، ترڅو د هغې میړه چې د خپلو خبرونه پښـــیمانه ؤ؛ بیرته خپلې میرمنې ته وروګرځي، او یقینا چې دا کفاره د هغه چا لپاره چې دئ حلال په ځان باندې حراموي؛ کلکه ســزا ده، ترڅو ور باندې د جاهلیت زمانې ټول دودونه او رواجونه لغوه اعلان سي او ټولنه یې د شر نه خلاصه سي، ځکه په دغسې دودونو سره د کورنئ جوړښت د کلک ګواښ سره مخامخ کیږي.

{څوک چې د الله او پیغمبر سره دښمني کړي الله یې سپکوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی هغه کسـان کلک غندلي دي چې د الله او د پیغمبرﷺ حکمونو مخالفت کړي، او الله تعالی مونږ د دوی د خواري او سپکاوي نه خبر کړي یو، او فرمایلی دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ كُبِتُواْ كَمَا كُبِتَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٞ مُّهِينٞ ۝٥ يَوۡمَ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ أَحۡصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ۝٦ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجۡوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمۡ وَلَا خَمۡسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمۡ وَلَآ أَدۡنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمۡ أَيۡنَ مَا كَانُواْۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ۝٧ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نُهُواْ عَنِ ٱلنَّجۡوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَيَتَنَٰجَوۡنَ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِۖ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوۡكَ بِمَا لَمۡ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُۚ حَسۡبُهُمۡ جَهَنَّمُ يَصۡلَوۡنَهَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ۝٨﴾

[٥] هو! یقینا هغه کســان چې د الله او د هغه پیغمبر (محمد ﷺ) ســره مخالفت او دښــمني کړي؛ دوي د پخوانیو خلکو غوندې خوار او سپک سول او دوی ته د دین حدودو او حکمونو د ر ښتینوالي په باره کې

مونږ ښه روښانه دلیلونه را نازل کړل [خو کافران ورځخه منکر سول او د الله دلیلونه یې ونه منل] او کافرانو ته د آخرت په ورځ سپکونکئ عذاب او کلکه سزا ورکول کیږي.

[٦] [ای پیغمبره! کافرانو ته د قیامت هغه ورځ ور په یاد کړه] کله چې ټول خلک الله د خپلو ګورونو نه بیرته راجګوي او بیا دوی د خپلو هغو کړنو نه په دنیا کې خبروي چې هغه ټول دوی هیر کړي دي، خو الله هغه شمیرلي او لیکلي دي، ځکه الله په هر څه باندې کلک شاهد دئ، یعنی د الله نه هیڅ کم څه پټ ندي.

[٧] ای پیغمبره! آیا تا ونه لیدل [یعنی آیا ته نه پوهیږې] چې الله په ټولو هغو شیانو باندې پوهیږي چې هغه په ځمکه او په اسمانوکې دي او په هیڅ ناو یا دره کې میشتو کسانو نه د درې کسانو پټه ناسته نه وي، مګر دا چې څلورم یې الله وي، او نه پنځه کسان د یو بل سره پټې خبرې کړي، مګر دا چې الله د دوی شپږم وي، او نه د دوی نه لږ او ډیر کسان چې هر چیرته یوځای سره نه راغونډیږي، مګر دا چې الله ورسره وي، او بیا الله دوی د خپلو کړنو نه د قیامت په ورځ خبروي [یعنی هر چا ته الله تعالی د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي] ځکه الله یقینا په هر څه ښه پوه دئ، یعنی داچې الله تعالی په خپل علم سره د بنده ګانو په مجلسونوحاضر وي او په ټول حال یې پوه او ورځخه خبر دئ.

[٨] او ای پیغمبره! آیا تا هغه کسان [د یهودو نه په مدینه کې] ونه لیدل چې دوی د یو بل سره د پټو خبرو نه منعې سول، او بیا د منعې کیدو نه وروسته بیرته د یو بل سره پټو مرکو او خبرو ته ور وګرځیدل او د ګناه او تیري لپاره او د رسول الله نه د سرکښۍ په مقصد یې یو بل سره پټې مرکې کړې، او کله چې به دا یهود تا ته ای پیغمبره! راغلل، نو بیابې په داسې خبرو د ستا هر کلئ وکه چې هیڅ کله د ستا هر کلئ په دغسې خبرو سره؛ الله نه ؤ کړئ، او یهودو به بیا د خپلو ځانو سره و یل: که په ر یښتیا سره محمد پیغمبر وي، نو بیا الله ولې مونږ ته د زمونږ په دغسې و یناوو او خبرو سزا نه را کوي؟ نو دغو کسانوته د جهنم هغه اور بس دئ

چې دوی به پکې کړ يږي، او د الله دوزخ د دوی بيرته ورګرځيدو او استوګنې لپاره ډير بد ځای او استوګنځ دئ.

ګرانو دو ستانو! کله چې رسول اللهﷺ د خپلو صحابوو او ملګرو سره مدنې منورې ته هجرت وکه او د مکې معظمې نه کډه سه، نو هلته د مومنانو په څنګ کې يهود او مشرکان هم اوسيدل، نو بيا چې به دوی کله د يو بل سره يوځای سول پټې جرګې او پټ مجلسونه بې کړل، او د دوی دغسې پټو خبرو او پس پسونو مومنان کلک اندیښمن کړل، او دا و يره ورسره پيدا سوه چې کيدای سي مشرکان او يهود ګډ د مومنانو پر ضد پټې دسيسې او چلونه په لاره واچوي، نو بيا يهود او مشرکان د پټو خبرو او د يو بل سره د پټو جرګو نه منعې سول، خو بيا هم دوی بيرته دغسې پټو خبرو ته پټ پټ راګرځيدل، نو بيا الله تعالی مومنانوته د ډاډ او اطمئنان لپاره دا مبارك آيتونه را نازل کړل چې پکې د الله تعالی په څار باندې د کافرانو او يهودو سره کلک ټينګار سوئ دئ، او کافران د خپلو بدو کړنو په سزا باندې ګواښل سوي دي، او همدارنګه رسول اللهﷺ د يهودو دغسې سپکو خبرو او چلونو نه الله تعالی خبر کړئ دئ او د دوزخ په کلکه سزا باندې يې يهود او منافقان ګواښلي او و يرولي دي.

{مومنان په پټو جرګو کې خلک د الله تقوا ته رابولي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانوته يو بل سره د مناجات او د پټو خبرو او مرکو آداب الله تعالی ښودلي دي، او د دغو لارښودنو نه پرته نورې پټې خبرې او جرګې يې د شيطان کار بللئ دئ او هغه يې کلکې غندلې دي، او دا لارښودنې مومنانوته د قيامت ورځی پورې؛ د زدکړې غوره درسونه دي، او په بيان کې يې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَنَٰجَيۡتُمۡ فَلَا تَتَنَٰجَوۡاْ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَٰجَوۡاْ بِٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٩ إِنَّمَا ٱلنَّجۡوَىٰ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ لِيَحۡزُنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيۡسَ بِضَآرِّهِمۡ شَيۡـٔٗا إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى

ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١٠ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ فَٱفۡسَحُواْ يَفۡسَحِ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ۝١١

[٩] ای مومنانو! کله چې تاسې د یو بل سره پټې خبرې او جرګې کړې، نو په ګناه او په تیري او د پیغمبر نه په سرکښۍ سره پټ لیدل کتل او خبرې مکړئ، او تاسې ای مومنانو! د ښو کړنو او د الله نه د ویرې او د تقوا په سپارښت پټې جرګې او مرکې وکړئ، او د هغه رب الله د سزا نه خپل ځانونه وساتئ چې د قیامت په ورځ تاسې ټول هغه ته ورغونديږئ!

[١٠] هو! یقینا هغه پټې جرګې چې [د ګناه او په نورو باندې د تیري په مقصد کیږي؛ هغه د شیطان کار دئ] ترڅو مومنان ور باندې خفه او اندیښمن کړي، خو هیڅ څه شئ او هیڅ څوک مومنانو ته د الله اجازې او پر یکړې نه پرته؛ څه ز یان او تاوان رسولای نسي، نو مومنان ده پر الله باندې توکل او پر وسعه وکړي، یعنی د کافرانو مناجاتونو او پټو جرګو پروا ده نکړي، او د خپل ژوند چارې ده په پوره ډاډ سره په مخ یوسي.

او بیا الله تعالی مومنانوته د مجلس آداب ښودلي دي او په بیان کې یې فرمایلي دي:

[١١] ای مومنانو! کله چې تاسې ته د ناستې په مجلس کې وو یل سي چې لږ سره ارت سی، نو تاسې ځای لوی کړئ او سره ارت سئ [یعنی بل چا ته په خپل څنګ کې ځای ورکړئ] او الله به پر تاسې باندې ارتوالئ راولي او د تنګئ نه به خلاص سی، او کله چې تاسې ته وو یل سي چې د خپل ځای نه په مجلس کې د کم کار لپاره جګ سئ، نو ور پسې جګ سئ او خپل ځای په مجلس کې پر یږدئ، او الله د ستاسې نه د هغو کسانو رتبې لوړوي چې ایمان یې راوړئ دئ، او هم د هغو کسانو رتبې لوړوي چې علم او پوهه ورکړل سوې ده، او الله د ستاسې پرټولو کړنو ښه پوهیږي، یعنی

نو بيا الله هر چا ته د هغه نيت سره سم د ښو کړنو ثواب ورکوي او د بدو سزا.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته د مجلس آداب ياد کړي او بيان کړي دي او هغه يې ښه روښانه رابښودلي دي، او د دغو آدابو عملي کول يې د ايمان سره تړي دي، ترڅو مومنان دغه لارښودنې د ثواب په قصد ترسره کړي او پرځای کولو نه يې په تنګ نسي.

{ رسول الله ﷺ سره د ملاقات ځانګړئ نظم او قانون }

درندو دوستانو! الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانوته د رسول الله ﷺ سره د ملاقات او ليدلو لپاره ځانګړئ نظام اعلان کړئ دئ او د هغه نه مقصد دا ؤ چې د پيغمبر ﷺ په مجلس کې د ګډوډۍ او بې نظمۍ مخه ونيول سي، ځکه ځيني کسانو غوښتل چې د رسول الله ﷺ سره د پټو خبرو په پلمه په وار وار سره مجلس ته ورننوځي او رسول الله ﷺ په بې ګټو خبرو سره د خپلو اړ ينو کړنو نه وزنډوي، خو بيا الله تعالى د دې نظم او قانون نه هغه کسان معاف کړل چې بې وسعې ول او څه شئ يې نه درلودل او دوی د ډيرې مينې نه د رسول الله ﷺ سره ځانګرو ملاقاتونوته طعمه کړه، او د رسول الله ﷺ سره د ځانګړې ليدنې په وخت کې د خيرات ورکولو قانون په بيان کې الله فرمايلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَةٗۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٢ ءَأَشۡفَقۡتُمۡ أَن تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَٰتٖۚ فَإِذۡ لَمۡ تَفۡعَلُواْ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٣ ﴾

[١٢] ای مومنانو! کله چې تاسې د رسول الله سره ځانګړې ليدنه کړه، نو د خپل ملاقات نه ورلاندې خيرات ورکړئ او هغه تاسې ته ښه او پاکونکئ دئ [يعنى د ستاسې زړونه د بخيلۍ نه پاکوي] نو که بيا تاسې څه شئ بيانمودل، نو يقينا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان پالونکئ څښتن

دئ، يعنى نو بيا به خيرات وركول او ډالۍ ستاسې نه لرې كړي.

[١٣] او اى مومنانو! آيا تاسې د رسول الله سره په ځانګړي ملاقات كې خيرات وركولو باندې د فقر او ولږې نه وو ير يدلى؟ نو كله چې تاسې خيرات ورنكه، نو الله د ستاسې تو به قبوله كړه او خيرات وركول يې د ستاسې نه لرې كړل، نو تاسې خپلو لمنځو په درولو باندې كلك سئ او د خپل مال زكات وركړئ او د الله او د هغه پيغمبر خبره ومنئ او فرمان يې يوسئ او الله د ستاسې كړنو نه ښه خبر دئ او بيا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا وركوي.

قدرمنو دوستانو! روايت سوئ دئ چې رسول الله ﷺ سره د ځانګړي ملاقات په وخت كې د خيرات وركولو نظام يا قانون د لنډ وخت لپاره كيښودل سه، خو بيا چې كله د رسول الله ﷺ صحابوو خپله بې وسعي وښودله، نو الله تعالى د دوى دعاء قبوله كړه او دا قانون ورځخه لرې سه او دوى ورځخه معاف سول، او بيا الله تعالى يوازې په لمانځه كړو او په زكات وركولو باندې چې فرض دي؛ كلك ټينګار وكه، ځكه الله تعالى د خپلو بنده ګانو په مالي وسعو باندي پوه دئ، نو دغه ځانګړئ خيرات يې د دوى نه لرې او معاف كه، نو دا مبارك آيت په اوسني وخت كې د اسلامي ټولنې چارواكوته يو ډير ځلانده پيغام دئ او هغه دا چې كه دوى په خپل ولس باندې څه ځانګړي ماليات ايښي وي او ولس د دغو مالياتو وسعه نه لري، نو ښايي چې هغه ورځخه لرې او لږ كړي او خلك ونه زوروي، او همدارنګه ځينې مذهبي كړئ، لكه د طر يقو ځينې مشران او د شيعوو آخندان؛ هيڅ حق نلري چې د عامو خلكو نه نذرانې او خمسونه واخلي، او ښايې په اسلامي هيوادونوكې دغسې مالي چارې او حقوق ټول بيت المال تنظيم كړي او د خلكو خيراتونه او زكاتونه را ټول كړي او بيايې په خپل ځاى كې ولږوي او مستحقو بې وزره كسانو ته دې ورسوي.

{كافرانو سره د منافقانو ملګرتيا د شيطان غولول دي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د منافقانو خو يونه كافرانو سره په ملګرتيا كې؛ كلك غندلي دي او فرمايلي دي:

﴿*أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مَّا هُم مِّنكُمۡ وَلَا مِنۡهُمۡ وَيَحۡلِفُونَ عَلَى ٱلۡكَذِبِ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٤ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدًاۖ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٥ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٦ لَّن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١٧ يَوۡمَ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعٗا فَيَحۡلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍۚ أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ١٨ ٱسۡتَحۡوَذَ عَلَيۡهِمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمۡ ذِكۡرَ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱلشَّيۡطَٰنِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٩﴾

[١٤] هو؛ ای پیغمبره! آیا تا هغه کسان ونه لیدل چې دوی د هغه چا سره ملګرتیا وکړه چې الله ور باندې په غوصه سوئ دئ، نو دغه کسان نه د ستاسې نه دي او نه د هغوی نه، دوی په دروغو لوړې کړي او قسمونه خوري چې مسلمانان دي، خو په زړونوکې دوی ښه پوهیږي چې دروغ وایي، یعنی دا خلک منافقان ول او یهودو او مشرکانو سره یې چې الله پرهغوی غوصه دئ او د خپل رحمت نه یې دوی شړلي دي؛ ملګرتیا کړه!

[١٥-١٧] او دغو کسانو ته الله کلک عذاب تیار کړئ دئ، او یقینا چې دوی ډیر بد کړل، ځکه دوي خپلی لوړې او د دروغو قسمونه پلمه وګرځول، ترڅو خپل ځانو نه ور باندې وساتي، او نور خلک یې هم د الله لارې نه منع کړل، نو دوی ته خوارونکئ عذاب دئ، او دغه خلک د الله عذاب نه د دوی مال، دولت او کهول ساتلای نسي، او دوی دوزخیان دي او هلته به پکې تل پاتې کړ یږي.

[١٨-١٩] او د قیامت په ورځ چې کله دوی ټول الله د خپلو ګورونو نه راجګوي، نو بیا به دوی الله ته قسمونه خوري، لکه څنګه چې اوس تاسې ته ای مومنانو! قسمونه خوري او لوړې کړي او داسې انګیري لکه چې

يقينا دوی څه ارزښـــت لري! [يعنی دا لوړې به دوی ته څه ګټه ورســـوي، خو تاســـې ای مومنانو!] په ســـې چې دا منافقان خپله دروغژن دي او شـيطان پر دوی باندې مسـلط سـوئ دئ، نو د الله یاد یې د دوی نه هیر کړئ دئ، او دوی د شـيطان ډله او حزب دئ، نو تاسـې ای مومنانو! په سې چې دا د شيطان حزب په خپله بایلونکئ دئ.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د منافقانو غوړه ماری نه پرده پورته کړې ده او دوی یې ښـــه رســـوا کړي دي، او بیا یې په کلکو ســـزاګانو باندې ګوابنـــلي دي، او د دوی ځای یې د دوزخ تل پاتې اور اعلان کړئ دئ، او همدارنګه الله تعالی د منافقانو تورو کرغیړنو کړنو او یهودو او مشـــرکانو ســـره د ملګرتیا عوامل او انګیرنې چې هغه د شـــیطان پلوتیا ده؛ په نښـــه کړې او یاده کړې ده، او یقینا چې دا عوامل همداســـې تل پاتې اســـباب دي چې منافقان تل هڅوي، ترڅو د حق پالانو په لار کې خنډ سي او د هغوی هلې ځلې د الله دین ته رابلنې په لار کې د ستونزو سره مخامخ کړي، او د منافقانو دغســـې توطئې او چلونه په اوســـني عصـــرکې ډیر ښکاره او ځلانده دي، نو یقینا چې اسلام ته را بلونکو علماوو، ملایانو او دعـاتوتـه ښـــایي چې په پوره اخلاص ســـره د الله تعـالی دین خلکوتـه ورسوي، او د الله عظیم قرآن او د رسول اللهﷺ و یناوو روښانه تګ لاره باندې د حالاتو سره سم؛ خپل رسالت پر مخ یوسي، او ټول سره په یوه خوله او په ګډه تګ لاره باندې؛ د شیطان پلو یانو توطئې شنډې کړي، او د دعوت لار د دوی نـه پـاکـه کړي، او ټول امـت د قرآن او د رســـول اللهﷺســـنتو په رڼا کې د الله تعالی دین په حکمونو باندې عمل کړو ته دعوت کړي، ځکه یقیناچې هغه د نجات یوازنۍ لار ده!

{څوک چې د الله او پیغمبر سره دښمني کړي مختورن به سي}

او بیا په ور پســـې مبارکو آیتونوکې همداســـې د الله او پیغمبرﷺ دښـــمانوته الله تعالی خپلې کلکې ســـزاګانې اعلان کړې دي، او رســـول اللهﷺ ته یې د بر یا ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾ لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾﴾

[٢٠] هو! يقينا هغه کسان چې د الله او د هغه پيغمبر سره دښمني کړي [يعنی حکمونه يې نه مني] هغوی د خوار سوو سپکو خلکو نه دي، يعنی په دنيا او په آخرت کې مختورن دي.

[٢١] او الله په لوح محفوظ کې وليکل چې زه او د زما پيغمبران به هرومرو زورور کيږو [يعنی د حق پلو يان به چې د الله او د پيغمبر په لار کې کلک او په ر ينښتيا سره ولاړ دي؛ خامخا بر يا ته رسيږي او د باطل پر پلو يانو باندې به زورور کيږي] ځکه يقينا چې الله لوی ځواکمن او کلک زورور لوی ذات دئ.

[٢٢] ای پيغمبره! ته به هيڅ داسې يو قوم او ډله بيا نه مومې چې دوی په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري او بيا د هغه چا سره دوستۍ او ملګرتيا کړي چې هغه د الله او د الله پيغمبر(محمدﷺ) سره دښمني کړي، که څه هم دا د الله او پيغمبر دښمنان؛ د دوی پلرونه وي او يا يې زامن وي او يا يې وروڼه وي او يا يې تر بورو نه وي، ځکه د دغو مومنانو په زړونو کې الله ايمان ليکلئ دئ او په خپله ملتيايې دوی تاييد کړي دي، او بيا د آخرت په ورځ دوی الله داسې جنتونو ته ورننه باسي چې ترلاندې يې د او بو و يالې بهيږي، او دوی به په دغو جنتونوکې تل پاتې وي، ځکه الله د دوی نه خوښ سوئ او راضي دئ، او دوی د الله نه راضي او خوښ

دي، او د الله حزب پلو يان دي، او ای مومنانو! په يقين سره خبر سی چې د الله ډله او حز بيان وړونکې او کلک بر يالان دي، يعنی دا چې وروسته فتحه، بر يا او سر لوړي د هغو مومنانو په برخه ده چې دوی مخلصان دي.

ګرانو عز يزانو! په دغو مبارکو آيتونوکې د مومنانو لار الله تعالی د کافرانو او منافقانو لارې نه په ډير راڼه او شفاف ډول بيله کړې او اعلان کړې ده، ترڅو مومنان هيڅ کله د الله او د پيغمبر دښمنانو سره ملتيا او مينه ونکړي، که څه هم دغه د الله او پيغمبر دښمنان د مخلصو مومنانو پلرونه، زامن، وروڼه او تر بورونه وي، نو بيا الله تعالی مومنانوته د دوی د کلک ايمان په جائزه او انعام کې د لو يو جنتونو ز يرئ ورکړئ دئ او مومنان يې د الله حزب او پلو يان بللي دي، او دوی ته به بر يا او سر لوړي هرومرو په دنيا او په آخرت کې ورکول کيږي.

عزتمنو دوستانو! دا مبارك آيتونه چې د المجادلې مبارکې سوررې وروستي آيتونه دي او په مدينه منوره کې په داسې وخت کې را نازل سوي دي چې لمړنی اسلامي ټولنه او دولت پکې جوړ سوئ ؤ او په ټولنه کې د ګډ هوسا ژوند اړوند ټول نظام او هوکړې منل سوې وي، خو د دې سره سره يهود او منافقان نظام ته متعهد او ژمن نه ول، او د رسول الله ﷺ او مومنانو پرضد يې د پټو توطئيو او چلونو جوړولو هڅې کړي، نو ځکه الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د دوی دغسې دسيسې په کلکه سره غندلې دي، او د الله تعالی کلکو عذابونو نه يې و يرولي او ګواښلي دي، او بيا الله تعالی مومنانوته د دغو کافرانو او منافقانوسره چې د الله او د پيغمبر سره يې دښمني کړه، ډيري اړ ينې او ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او په دغو سپارښتوکې د دوستی او د دښمنی يوازنئ معيار او تله ايمان او عقيده منل سوې ده، يعنی دا چې يوازې مومنان د الله او د پيغمبر او د مومنانو سره دوستي او ملګرتيا کړي، او کافران او منافقان چې د الله او د پيغمبر دښمنان دي او د حکمونو نه يې سرکښي کړي؛ د مومنانو دښمنان دي، که څه هم دا کافران او منافقان د مومنانو پلرونه،

زامن، ورونه او تر برونه وي، ځکه د مومنانو د دوستۍ او دښمنۍ لار نوره د خپلوی پولونه وتلې او بیله سوې ده، او یوازې پر عقیدتي او فکري بنسټونو باندې ولاړه ده.

ګرانو دوستانو! خو ښایي پام مو وي چې دا عقیده او تګ لاره په هغه وخت کې عملي اعتبار لري چې په یوه خپلواکه او آزاده اسلامي ټولنه کې؛ د ټولنې مشر او استازي سره شرعي بیعت سوئ وي، نه دا چې هرڅوک په یوه جوړه سوې قانوني ټولنه کې؛ ځان ته خپله ډله جوړه کړي او بیا د نورو پر ضد د ولاء او براء شعار لاندې وسله پورته کړي او د حاکم نظام پرخلاف اعلان د جنګ او جګړې وکړي او د جهاد نوم ور باندې کیږدي، خو که په ټولنه کې بې انصافي وي او د منل سوي قانون خلاف هر څوک هر څه کړي او هلته فساد خور وي، نو بیا هر څوک حق لري چې د امر بالمعروف او د نهي عن المنکر قانون په چوکاټ کې د اصلاحاتو غوښتونکئ سي، او خلک ښو کړنوته را و بولي او د منکراتونه یې منع کړي او د فساد ورکولو لپاره قانوني لارې ولټوي، او ټولنه یې د شر نه خلاصه کړي او عدالت قایم کړي، ترڅو صفایي او انصاف په ټولنه کې وچلیږي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله و أصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الحشر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الحشر سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

درندو دوستانو! د الحشر مبارکه سوره مدني سوره ده او د یهودو په باره کې را نازله سوې ده، ځکه کله چې رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو صحابوو سره د مکې نه مدینې منورې ته مهاجر سه، نو هلته یې د یهودو سره او د مدینې پخوانیو اوسیدونکو سره ځانګړې ټرونونه امضا کړل، او یهود که څه هم په پخواني یثرب او اوسنۍ مدینه منوره کې د ډیرو کلونو نه را په دی خوا ناقلین اوسیدل او ځانونه یې اهل کتاب بلل، خو بیا هم دوی د تورات لارښودنې خلکوته نه وې ښودلې او نه یې څوک د الله تعالی توحید ته په خدایي کې رابللي ول، ځکه دوی خپل ځانونه پر نورو خلکو باندې اوچت او لوړ بلل او و یل یې چې مونږ په اسماني کتاب تورات باندې مومنان یو، او بیا چې کله رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره مدینې منورې ته مهاجر سه، نو یهود کینو او د ځانو و یرې پسې واخستل او د ځان ساتنې لپاره یې برجونه ودان او مورچلې جوړې کړې، او پدې کاریې هم بسنه ونکړه او په لوی خیانت سره یې د رسول الله ﷺ د وژلو پټه فیصله او پر یکړه وکړه، نو بیا چې کله رسول الله ﷺ د دوی پټې توطئې نه الله تعالی خبر که، نو بیا رسول الله ﷺ ډیر ژر د یهودو هغه کلي نه چې یوې روغې جوړې لپاره هلته ورغلئ ؤ؛ بیرته د مدینې ښارته راستون سه او بیایې د دې کلي یهودونه چې بني نضیر نومیدل وغوښتل چې مدینه منوره ده نوره ډیر ژر پر یردي او خپلو پخوانیو مینوته ده بیرته کډه سي، ځکه دوی د خپل کتاب تورات ټول حکمونه او د هغه لارښودنې پښو لاندې کړې، نو بیا الله تعالی د یهودو هوډونو په باره کې دغه د الحشر

مبارکه سوره را نازل کړه او پکې يې د مدينې منورې نه د يهودو د شړلو او رټلو څرنګوالئ بيان کړئ دئ، ځکه د مدينې نه د يهودو وتل او کډه کيدل مومنانوته؛ لوی ډاډ او بر يا وه، نو له همدې کبله الله تعالی دا سوره په خپل حمد او ستاينه باندې پيل کړې ده، ترڅو مومنان د الله تعالی حمد او ثناء ووايي او خپل پالونکئ څښتن الله په پاکۍ سره ياد کړي او و يستايي ، او همدارنګه الله تعالی پدې مبارکه سوره کې منافقان چې د يهودو پټ مرستندوی ول؛ کلک رسوا کړي دي، او د مومنانو براءت او بيزاري يې د الله تعالی او د پيغمبرﷺ دښمنانو نه په ډير قاطعيت سره اعلان کړي ده، او د الحشر مبارکې سورې نوم هم د همدې سورې دو يم آيت نه اخستل سوئ دئ چې د بني نضير را غونډيدل او چمتو کيدل د مدينه منورې نه وتلو ته پکې ياد سوي دي او د پيل په بيان کې الله فرمايلي دي:

{يهودو چې د پيغمبر سره خيانت وکه الله د مدينې نه وشړل}

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمۡ لِأَوَّلِ ٱلۡحَشۡرِۚ مَا ظَنَنتُمۡ أَن يَخۡرُجُواْۖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمۡ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُواْۖ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ يُخۡرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ٢ وَلَوۡلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ٣ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٤ مَا قَطَعۡتُم مِّن لِّينَةٍ أَوۡ تَرَكۡتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيُخۡزِيَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٥ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡهُمۡ فَمَآ أَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٖ وَلَا رِكَابٖ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ

قَدِيرٌ ﴿٦﴾

[١] هو! ټولو هغو مخلوقاتو چې په ځمکه او په اسمانو کې دي؛ الله يې په پاکۍ سره وستايه، ځکه الله لوی ځواکمن او ښه حکيم او پالونکئ ذات دئ، يعنی د دغسې لويې ستاينې لائق يوازې د زمونږ لوی رب الله دئ چې په ځمکه او اسمانوکې ستايل سوئ واکمن ذات دئ.

[٢] او الله هغه څوک دئ چې د اهل کتاب هغه کسان يې چې کافران سول؛ د خپلو باندو نه را وايستل او د راغونډيدلو لمړي تم ځای ته يې راټول کړل، او تاسې ای مومنانو! دغسې نه انګيرله چې [د بني نضير يهود به] د خپلو باندو نه [په اسانۍ سره] وشړل سي او دغو يهودو خپله داسې انګيرله چې د دوی کلاوې (قلعه وې) به دوی د الله ځواک نيولو نه وساتي، نو بيا الله دغو يهودو ته د داسې يوې خوا نه راغئ چې دوی پکې هيڅ فکر نه ؤ کړئ او د دوی په زړونوکې الله کلکه و يره يا ډار واچا ؤ، نو بيا يهودو خپل کورونه په خپلو لاسونو او د مومنانو په لاسونو ړنګ او وران کړل، نو تاسې ای د بصيرت خاوندانو [يعنی د ژور فکر او د هوښيارۍ څښتنو!] د دغو يهودو سپکاوي او خواری نه پند واخلئ!

ګرانو عز يزانو! د بني نضير يهودو ته دغسې رسوايۍ ور پيښيدل يقينا د الله تعالی په لوی غيبي قدرت باندې ځلانده نښه وه، او الله تعالی دوی په اسانۍ سره د خپلو کلکو کلاوو نه(قلعه وونه) را وايستل او د مدينې منورې نه يې مختورن وشړل، خو د يهودو پاتې ډلې (بني قر يظه) په مدينه کې د بني نضير نه د عبرت اخستلو سبق وانخست او د هجرت په پنځم کال يې د مشرکانو احزابو په لوی لښکرکې د هغوی ملتيا وکړه او د رسول اللهﷺ او مومنانو پر ضد جګړه کې يې برخه واخسته، نو بيا دوی الله تعالی د بني نضير نه ډير په سخته سزا باندې شرميدلي وشړل او کلک مختورن او سرکوزي د خپلو باندو نه کډه سول، يعنې جنګيالی يې ووژل سول او زاړه، ښځې او ماشومان يې خيبر خوا ته وشړل سول.

[٣-٤] او که الله پردغو کافرانو(يهودو) باندې د خپلو کورونو نه

شـړل په تقديرکې نه واى ليکلي، نو بيا به الله دوى ته په دنيا کې سـزا ورکړى وه [يعنى مومنانو به د بني نضـير يهودو سـره چې دوى د رسـول اللهﷺ د وژلو او ترور ته چل جوړ کړئ ؤ؛ وژلي او يا ټرلي برمته کړي ول] او دغو يهودو ته په آخرت کې د دوزخ اور کلکه سـزا تياره سـوې ده، او دا ځکه چې دوى د الله او د هغه پيغمبر سـره دښـمني وکړه [يعنى د الله حکمونه يې ونه منل او ايمان يې رانوړ] او هرڅوک چې د الله سره دښمني کړي، نو هغه ده په يقين سـره پوه سـي چې الله کلک سـزا ورکونکئ لوى ذات دئ!

[٥] او اى مومنانو! تاسې د يهودو خرماوو باغونو نه هيڅ يوه ونه پرې نکړه او نه تاسې کمه ونه په خپل ځاى ولاړه پر يښـودله، مګر دا چې هغه ټول د الله په اجازه او حکم سـره ؤ، ترڅو فاسـقان [چې د الله او پيغمبر حکم نه وتلي کافران دي] دوى الله خوار او مختورن کړي، يعنى الله تعالى په خپلې عادلانه پر يکړې سـره مومنان د بني نضـير په يهودو مسـلط کړل او دوى ته يې کلکه سزا ورکړه.

[٦] [او اى مومنانو! د بني نضـير يهودو څومره مال او دولت چې ؤ هغه] الله د خپل پيغمبر په برخه که او تاسې هغه د اسـانو او اوښـانو په ورزغلولو سـره ونه ګاټه، خو الله چې په چا باندې وغواړي خپل پيغمبران پرې واکمنان کوي، ځکه الله په هرڅه باندي قادر لوى ذات دئ، يعنى الله چې څه غواړي هغسـې کړاى سـي او هيڅ څوک د الله پر وړاندې خنډ ګرځيداى نسي او نه د څه کړو وسعه لري.

درندو دوسـتانو! الله تعالى په غو مبارکو آيتونو کې د يهودو نوم ندئ اخستئ او يوازې د دوي سرغړونه يې د الله تعالى او د پيغمبرﷺ حکمونو نه ياده کړى ده او د مومنانو په لاس يې دوى د خپلو کليو نه شـړلو ته اړ کړل، او هر کله چې څوک د الله او د هغه پيغمبر حکمونه ونه مني او ورته تسليم نسي، نو بيا دوى ته الله د مومنانو په لاس کلکې سزاوې ورکوي.

{غنيمت و يشل كيږي ترڅو د بډايانو په لاس كې راغونډ نسي}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى رسول اللهﷺ ته د ولجې يا ولكې غنيمت رسيدلې مال په و يش كې چې هغه بني نضير نه ورته پاتې سوئ مال ؤ؛ نور شر يك كسان معلوم كړي، او بيان كې يې فرمايلي دي:

﴿مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ كَىْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ ۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٧﴾ لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴿٨﴾﴾

[٧] هغه مال او دولت چې الله خپل پيغمبر ته د بني نضير يهودو نه پرته له جګړې ور په برخه كه؛ د هغه و يش او تقسيمول داسې دي چې دا غنيمت لمړئ د الله او د هغه پيغمبر حق دئ او بيا د پيغمبر خپلوانو او د يتيمانو او د مسكينانو او د مسافرو لار يو حق دئ، ترڅو دا لاس ته راغلي مال او دولت د ستاسې نه ای مومنانو! يوازې د مړو او بډايانو په لاس كې ونه لو يږي [يعنى هغه د ټولو مستحقو كسانو په منځ كې سره تقسيم سي] او ای مومنانو! هغه څه چې تاسې ته پيغمبر دركړل؛ هغه واخلئ او د هر هغه څه نه چې تاسې رسول الله منع كړئ؛ د هغه نه ځان وساتئ او د الله نه وو يرئ او د سزا نه يې په اطاعت كړو سره ځانو نه وساتئ، ځكه يقيناچې الله كلك سزا وركونكئ لوی ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارك آيت كې د ټولنې ضعيفو او بې وزره كسانو ته پاملرنه كړې ده او د غنيمتونو په تقسيم كې يې د دوی حق د الله او د پيغمبر حق نامه لاندې؛ دوی ته ساتل دئ، او بيا دوی الله تعالى په صفتونو باندې چې يتيمان، مسكينان او كم خرڅه مسافر لارو

يان دي؛ په نښه کړي دي، ترڅو په ټولنه کې اقتصادي عدالت او برابري وساتل سي، او ټول غنيمت سوئ مال او دولت يوازې د شتمنو مړو خلکو لاس ته ورنسي او بې وزره محتاج کسان چې زور او ځواک نه لري محروم او بې برخې نسي.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې همداسې د بني نضير يهودو نه پاتې سوي مال و يش کې نور مستحق کسان هم الله تعالى په ګوته کړي دي او په بيان کې فرمايلي دي:

[٨] [او همدارنګه د بني نضير يهودو نه په پاتې سوې مال، دولت او کاروندو او باغونوکې] يوه برخه د هغو مهاجر ينو حق دئ چې دوی د خپلو کورونو او جايدادونو نه په مکه کې په زور را وايستل سول، او دوی د الله فضل او خوښۍ غوښتونکي ول او د الله او د پيغمبر د دين مرسته يې کړه او دوی يقينا ر يښتونکي صادق مومنان ول، يعنی دغو کډوالو مهاجر ينو خپل مال او دولت، کورونه او جايدادونه؛ د الله دين نه د دفاع او د الله رضا او خوښۍ لپار پر يښودل، نو بيا الله تعالى دوی ته د بني نضير يهودو کورونه او باغونه پرته د جنګ او جګړې نه ور په برخه کړل، او يقينا چې دا د الله تعالى لو يه پيرزو ينه پر مهاجر ينو وه.

عزتمنو دوستانو! دا يادونه دلته د پام وړ ده چې دا دئ الحمد لله د ميلادي تار يخ په ٢١ پيړۍ کې چې د هجري قمري ١٥ پيړۍ سره موافقه ده؛ د آزادۍ سر تيري مجاهدين وروسته د شل کاله اوږده او د قر بانيو نه ډک مقاومت او جهاد نه د لوديځ لوی ښکيلاک پر وړاندې په پلاز مينه کابل باندې پرته له جګړې او مقاومت نه؛ بيرته مسلط سول او لوی غنيمتونه يې لاس ته راوړل او ښه سر لوړي واکمن سول.

{مهاجر ين په انصارو ګران ول او خپل هرڅه يې په پيرزو کړل}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د مدينې اوسيدونکو انصارو پيرزو يني پر مهاجر ينو الله تعالى ستايل سوې يادې کړې دي فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا

يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝٩ وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝١٠

[٩] او هغه کسان چې په مدینه کې د پخوا نه اوسیدل او د مهاجر ینو ورتګ او هجرت نه مخکې مومنان ســول؛ په دوی باندې هغه څوک ګران دي چې دوی ته يې هجرت وکه، او دغه ا نصـار خپل هغه مال او دولت ته چې دوی ته ورکړل سـوئ دئ؛ په زړو کې ډیره طعمه نه لري [یعنی د مال او دولت په را غونډولوکې حر یص ندي] او ځانونه ورته اړ نه بولي که څه هم دوی ورتـه اړ وي، نو ځکـه دوی مهـاجر ین پرخپلو ځـانو بانـدې ورلانـدې کوي، او هغه څوک چې د بخیلۍ نه خپل ځان وســاتي، نو دوی د وړونکو او کټونکو نه دي او بر یالي او سر لوړي دي.

[١٠] او هغه مومنان چې د انصـارو او مهاجرینو نه وروســته راغلل؛ دوی دعـاء کړي او وايي: ای د زمونږ لو یه ر به! مونږ و ښــه او د زمونږ هغه وروڼه و ښـه چې دوی په ایمان راوړوکې د زمونږ نه ورلاندې سـول، او ای لو یه ر به! مومنانو ســره د زمونږ په زړونوکې کینه مه اچوه، او ای د زمونږ لو یه څښـتنه! ته په ر یښـتیا سـره رؤوف اور حیم رب يې، یعنی په خپلو بنده ګانو باندې ښه زړه سواندئ او مهر بان څښتن يې.

هو! په دغو مبارکو آیتونوکې الله تعالي ا نصـار کلک سـتایلي دي او د دوی سـخاوت، ورکړې او پیرزو ینې يې په مهاجر ینو باندې ښې یادې کړې دي، او بیا په ور پســې مبارکو آیتونوکې منافقان رســول الله ﷺ ته او مومنانو ته الله تعالی ښه ور پیژندلي دي او فرمایلي دي:

{منافقان هیڅ کله په خپلو هوکړو نه در یږي}

﴿۞أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ

أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ أَحَدًا أَبَدٗا وَإِن
قُوتِلۡتُمۡ لَنَنصُرَنَّكُمۡ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١١ لَئِنۡ أُخۡرِجُواْ لَا
يَخۡرُجُونَ مَعَهُمۡ وَلَئِن قُوتِلُواْ لَا يَنصُرُونَهُمۡ وَلَئِن نَّصَرُوهُمۡ لَيُوَلُّنَّ ٱلۡأَدۡبَٰرَ
ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ١٢ لَأَنتُمۡ أَشَدُّ رَهۡبَةٗ فِي صُدُورِهِم مِّنَ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ
بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ١٣ لَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرٗى مُّحَصَّنَةٍ أَوۡ
مِن وَرَآءِ جُدُرِۭۚ بَأۡسُهُم بَيۡنَهُمۡ شَدِيدٞۚ تَحۡسَبُهُمۡ جَمِيعٗا وَقُلُوبُهُمۡ شَتَّىٰۚ
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡقِلُونَ ١٤ كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَرِيبٗاۖ ذَاقُواْ
وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٥ كَمَثَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ إِذۡ قَالَ لِلۡإِنسَٰنِ
ٱكۡفُرۡ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦
فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِي ٱلنَّارِ خَٰلِدَيۡنِ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٧

[۱۱] ای پیغمبره! آیا ته منافقان نه و یې او ورته نه ګوري چې دوی یهودو ته چې هغوی د ستا پیغمبرۍ نه منکر سول؛ څه وایي؟ منافقان خپلو دغه ورونو او ملګرو ته وایي که چیرې تاسې د مدینې نه وایستل سوی، نو مونږ به هم خامخا درسره یوځای د مدینې نه وځو او ورځخه به کډه کیږو او د ستاسې په باره کې به د هیڅ چا و ینا او خبرې نه منو، او که چا د ستاسې سره جګړه وکړه، نو مونږ به په کلکه سره د ستاسې مرسته کړو، خو الله شاهد دئ چې منافقان یقینا دروغژن دي، یعنی دوی هیڅ کله د زړونو نه یهودو سره ملتیا ته تیار ندي، او بیا همداسې سوه کله چې یهود د مدینې نه وایستل سول منافقان ورسره ونه وتل.

[۱۲] او که چیرې اهل کتاب (یهود) د مدینې نه وایستل سي؛ نو منافقان د دوی سره نه وځي، او که جنګ ورسره وسي [نو منافقان د دوی مرسته نکړی] او که څه مرسته هم ورسره وکړي، نو بیا ژر بیرته په شا اوړي [یعنی د جګړې ډګر نه تښتي] او نور ورسره مرسته نکړي.

[۱۳] ای مومنانو! د ستاسې هیبت، وام او و یره د دغو منافقانو په

زړونوکې د الله و يرې نه کلکه ده، ځکه منافقان يقينا داسې يوه ډله ده چې دوی د الله په لو يتيا او عظمت باندې ښه نه پوهيږي، يعنی د الله تعالی پيژندنه او پوهه د دوی زړونو ته نده ورننوتلې او ايمان او باورې د الله په زور او په لوی ځواک باندې ډير ضعيفه او کمزورئ دئ، نو تاسې ای مومنانو! د دوی په زړونوکې کلکه و يره اچولې ده او د ځان غوندې خلکو ايماني جزبې نه ډير کلک و ير يږي او اندیښمن دي.

[١٤] ای مومنانو! او يهود د ستاسې سره يوځای او يو موټئ په جګړه کې نه مخامخ کيږي، مګر دا چې دوی د خپلو کلابندو کليو په کلکو برجونو او مرچلوکې وي او يا د مورچلو شانه پر تاسې تيرئ او بر يد وکړي، ځکه دوی په خپل منځ کې د يو بل نه ډير کلک و ير يږي، هو! ای مومنانو! تاسې يهود يو لاس او متحد ګڼئ، خو د دوی زړونه سره بيل دي او دا ځکه چې يقينا يهود يو ناپوه قوم دئ او داسې عقل نه لري چې خپل خير او شر ښه و پيژني.

[١٥] او د دغو يهودو سارئ او مثال هغو کسانوته ورته دئ چې د دوی نه لږ مخکې تير سول او هغوی د خپلو بدو کړنو سزا وڅکله او په آخرت کې دوی ته ډير دردونکئ عذاب او کلکه سزا ورکول کيږي، يعنی لکه د مکې مشرکانو مشران چې ځينې کسان يې په بدرکې ووژل سول او څه نورې برمته سوي ژوندي ونيول سول.

[١٦-١٧] او د دغو يهودو کافرانو سارئ د شيطان مثال ته ورته دئ، کله چې شيطان انسان ته وو يل کافر سه [يعنی د خپل رب حکمونو نه سرکښي وکړه] شيطان ورته وو يل: يقيناچې زه د ستانه ای انسانه! بې زاره يم، ځکه زه په پوره يقين سره د الله نه چې رب العالمين دئ؛ کلک په ډار کې يم او و ير يږم! [يعنی دا چې که زه کافر سم، نو بيا به الله ما ته کلکه سزا راکړي] نو بيا د دوی دواړو راتلونکې د دوزخ تل پاتې اور کې سوز يدل او کلک کړ يدل دي، او هغه د ظالمانو سزا ده.

هو؛ درندو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې مومنانوته د

منافقانو حقيقي خيره لوڅه کړې ده او دوی يې ښه رسوا کړې دي، ترڅو منافقان ښه و پېژني او په غوړه ماری يې ونه غولېږي، او يقينا چې دا لړۍ همداسې د خلکو په ژوند کې تر قيامت ورځې راتګ پورې پاتې ده، نو ښايي چې مومنان او په ځاکړي ډول دعات تل و يښ وي او ونه غولېږي.

ګرانو دوســتانو! او همدارنګه په دغو مبارکو آيتونو کې د يهودو او د دوی دروغژنو ملګرو منافقانو تورې رټل سوې خيرې او تور برخليک مونږ ته الله تعالی رســوا کړئ دئ، ترڅو دوی مونږ ښــه و پېژنو او هيڅ کله په هغوی باندې ونه غولېږو او نه د دوی شــرارتونو نه وو ير يږو، ځکه دوی لوی ظالمان دي او الله تعالی به ظالمانوته کلکه سزا ورکړي او د دوزخ په سره اور کې بې کلک وکړوي.

{مومنانو قيامت په ورځ ځانو ته څه توښه وړاندې کړې ده؟}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مومنانوته ډيرې اړ ينې او ګټورې سپارښتنې کړي دي او د دوی لوړ مقام يې په جنت کې ياد کړئ دئ او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ١٩ لَا يَسۡتَوِيٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۚ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٢٠﴾

[۱۸] ای مومنانو! د الله عذاب نه وو ير يږی [يعنی د الله تعالی نه په اطاعت سره خپل ځانونه د سزا نه وساتی] او هرڅوک ده ځان ته وګوري چې د صــبا لپاره يې څه توښــه وړاندې کړې ده؟ او ای مومنانو! د الله سزاء نه ځانونه وساتی، ځکه الله يقينا د ستاسې ټولو کړنو نه ښه خبر دئ، يعنی بيا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[۱۹] او تاسې ای مومنانو! د هغو کســانو غوندې مکيږی چې الله يې هيرکه، نو بيا د دوی نه الله خپل ځانونه هم هير کړل، ځکه دوی په

ر ښـتيا سـره فاسـقان ول، يعنى د الله اطاعت نه وتلي ول، نو بيا الله تعالى دوى ته مناسبه او ورسره لائق سزا وركړه.

او بيا الله تعالى د قرآن لوړ مقام او پوخ تاثير په ور پسې آيت كې ياد كړئ او بيان كړئ دئ او فرمايلي دي:

[٢٠] دوزخيان او جنتيان سره برابر ندي، جنتيان په ر ښـتيا سره وړونكي او بر يالي دي.

{قرآن كه الله په غره راكوز كړئ واى غر به چاوديدلئ ؤ}

او په ور پسې مبارك آيت كې الله تعالى د قرآن عظمت او دروندوالي په بيان كې فرمايلي دي:

﴿لَوۡ أَنزَلۡنَا هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ عَلَىٰ جَبَلٖ لَّرَأَيۡتَهُۥ خَٰشِعٗا مُّتَصَدِّعٗا مِّنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٢١﴾

[٢١] هو؛ اى پيغمبره! كه دا قرآن مونږ په يوه غره باندي را كوز كړئ واى، نو تا به دا غر ليدلئ ؤ [چې د ټول كلك والي سره سره] د الله و يرې نه به چاوديدلئ ؤ [يعنى دا غر سر ټيټئ تسليم سوئ دئ، خو د كافرانو زړونه د غر نه هم كلك دي او د قرآن په وعظونو باندې نه پسـتيږي، نو ښايي چې مومنان په خپل ايمان شكر و باسي او په پټه غاړه الله ته تسليم سـي او حكمونه يې ومني او د كافرانو غوندې سـركښـي ونكړي] او هغه مثالونه او بيلكې، ځكه خلكوته بيانوو، ترڅو دوى ښه ژور فكر وكړي!

قدرمنو عزيزانو! الله تعالى پدې مبارك آيت كې د قرآن كر يم كلك معنوي تاثير په مادي كلك غره باندې ياد كړئ دئ، ترڅو د مكې كافرانو زړونه پاسته سي او ايمان راوړي.

{مومنان ده الله په ښو نو مونو او لوړو صفتونو وستايي}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى د خپل عظمت ځينې ښه نومونه او لوړ صـفتونه مونږ ته ياد كړي دي، ترڅو خپل خداى الله د هغه لوړ مقام سـره لائق و پيژنو او حكمونوته يې غاړه كيږدو او هغه په

خپل ژوند کې عملي کړو، او فرمايلي دي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾﴾

[۲۲] هو! الله هغه څوک دئ چې د هغه نه پرته بل په حق سره معبود نسته او الله په پټو او ښکاره ټولو شيانو باندې علم لري، او الله د لو يو رحمتونو څښتن دئ او ښه مهر بان ذات دئ، يعنى الله تعالى په الرحمن او الرحيم باندې يادېږي، ځکه رحمانيت يې ټولو خلکوته په دنيا کې رسېږي او رحيم والئ او مهر باني يې په آخرت کې يوازې پر مومنانو باندې خور ېږى او دوى يې د سوري لاندې راځي.

[۲۳] او الله هغه څوک دئ چې د هغه نه پرته بل په حق او ر ښتيا سره معبود نسته، او الله ټولواک لوى څښتن دئ، او د هر نقصان نه پاک او د هر عيب نه روغ دئ، او ټول خلک د الله ظلم او تېري نه په امن کې دي، او الله خپلو ټولو بنده ګانوته امنيت او ډاډ ښلئ دئ، او پرټولو خلکو باندې الله څارونکې او شاهد دئ، او الله زورور او لوى ځواکمن ذات دئ، او د هر هغه څه نه لوړ دئ چې د الله سره لائق نه وي [يعنى الله تعالى د لوى شان او شوکت او د وقار خاوند دئ] او الله د مشرکانو بتانو نه چې د الله سره يې په خدايي کې ګډوي پاک او منزه دئ.

[۲٤] او الله پيدا کونکئ او جوړونکئ لوى ذات دئ، او د ټولو مخلوقاتو انځورونو جوړونکئ؛ يوازې الله دئ، او ټول ښکلي او ستايلي نومونه د الله دي او الله ور باندې يادېږي او ستايل کېږي، او په ځمکه او اسمانوکې ميشت يا پرا ته ټول مخلوقات د الله حمد او ثناء وايي او ستاينه يې کړي، او الله لوى ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ، يعنى د

خپلو مخلوقاتو چارې په لوی ځواک او په پاخه تدبیر سره سمبالوي او پالي.

نو کرانو دوستانو! ښایي چې خپل رب الله تعالی په دغو لوړو صفتونو او ښکلو او ښایسته نومونو باندې ښه و پیژینو او ور باندې یې وستایو او بیا خپل حاجتونه او اړتیاوې یوازې د الله نه وغواړو، ځکه الله تعالی یوازې په دغو ښکلو نومونو باندې خپل ځان ستایلئ دئ، او د الله تعالی دغه نومونه چې دلته د الحشر په مبارکه سوره کې الله ور باندې ستایل سوئ دئ؛ هغه د الله تعالی د (۹۹) نومونو نه یوولس نومونه دي او دا نومونه او صفتونه الله تعالی خپل ځان ته ثابت کړي دي، نو ایمان راوړ ور باندي فرض دي او انکارې کفر دئ، او دغه نومونه او صفتونه د هر ډول تغییر او تاو یل نه محفوظ او ساتل سوي دي.

درندو عز یزانو! روایت سوئ دئ چې د الحشر مبارکې سورې د دغو وروستیو مبارکو آیتونو لوستل چې پیل یې [ولو أنزلنا هذه القرآن على جبل لرأيته خاشعا متصدعا] نه تر دې سورې آخره پورې دئ؛ شرعي رقیه ده او په دمولو سره یې ناروغ ته او په ځانګړې ډول د میږې ناروغ ته الله تعالی شفاء ورکوي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحان الله وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الممتحنې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الممتحنې سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

ګرانو دوستانو! د الممتحنې مبارکه سوره مدني سوره ده او د الحدیبې اور بند نه وروسته را نازله سوې ده، او د مومنانو او کافرانو په منځ کې د اړ یکو او خپلوی پاللو په باره کې ښې ډیرې روښانه او پر یکنده لارښودنې او سپارښتنې پکې یادې سوي دي چې عملي کول یې پرمومنانو باندې تر قیامت ورځې پورې فرض دي، او سرغړونه ورڅخه لو یه ګناه ده، ځکه هغه د الله تعالی قاطع او روښانه حکمونه دي او مومنانوته یې پکې د عملي کولو حکم کړئ دئ، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې د کافرانو سره د موالات او دوستۍ او د معادات او دښمنۍ؛ معیارونه او سرې کرښې ټاکل سوې او بیان سوې دي، او د مومنانو متوازنه او ښه برابره روزنه چې د الله او د پیغمبر دین سره محبت او مینه او د الله او پیغمبر جګړه مارو دښمنانو نه برءات او ورسره کرکه ده؛ پکې ډیره قاطع او ښه روښانه یاده سوې او بیان سوې ده، او هم د هغو کسانو په باره کې چې دوی د مومنانو سره په ګډه ټولنه کې ژوند کړي په عفوه او په عدالت چلولو باندې کلک ټینګار سوئ دئ، ترڅو د اسلامي ټولنې ټول وګړي په امنیت او ډاډ کې ژوند وکړي او د هرچا سر، مال، دین او عزت خوندي وي.

درندو عز یزانو! روایت سوي دئ چې د الممتحنې سورې د رانازلیدلو سبب او عامل؛ هغه لیک وه چې حاطب بن بلتعه (بدري غازي) د مکې مشرکانوته لیږلئ ؤ او غوښتل یې چې دوی د رسول الله ﷺ ورتګ نه د یوه لوی لښکر سره د مکې فتحې په مقصد خبر کړي، خو بیا الله تعالی رسول

الله ﷺ په وحي يې سره د دغ ليک نه ډير ژر خبر که، نو بيا رسول الله ﷺ هم ډير ژر خپل څارونکي ملکري صحابه د حاطب استازو پسې وليږل او هغه ليک يې د هغې ښځې نه چې په خپلو کوڅو يو کې يې پټ کړي ؤ؛ را وايست او رسول الله ﷺ ته يې راوړ او دغه خطرناکه هڅه شنډه سوه، خو رسول الله ﷺ حاطب رضي الله عنه ته د هر ډول کلکې سزا ورکولو نه تير سه، ځکه روښانه سوه چې هغه دا کار د دښمنۍ نه نه ؤ کړئ، بلکې يوازې د خپل مال او کوول د خوندي کولو لپاره يې په مکه کې دا ساده هڅه کړې وه، نو دا پيښه د مومنانو او کافرانو په منځ کې د دوستۍ او د دښمنۍ (ولاء او براء) مسئلې د اصولو بيان لپاره لوی عامل او سبب وګرځيده، او د دغسې ضروري او اړ ينې عقيدتي مسئلې؛ ټول حدود او ضوابط پدې مبارکه سوره کې بيان سول، او دا سوره په الممتحنه (ازمايښتونکې) ځکه نومول سوې ده چې په لسم آيت کې يې مومنانوته الله تعالى حکم کړئ دئ چې کله تاسې ته د مکې نه مومنې کډه سوې مهاجرې ميرمنې راغلې، نو امتحان او ازمايښت يې کړئ، ترڅو تاسې د دوی د ايمان نه ډاډه سئ.

{مومنان ده د جګړه مارو کافر انو سره دوستي نکړي}

ګرانو دوستانو! د الممتحنې مبارکې سورې په پيل کې مومنان الله تعالى د کافرانو سره د دوستۍ، موالات او د ملګرتيا نه په کلکه سره منع کړي دي او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمۡ أَن تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ إِن كُنتُمۡ خَرَجۡتُمۡ جِهَٰدٗا فِي سَبِيلِي وَٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِيۚ تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ أَعۡلَنتُمۡۚ وَمَن يَفۡعَلۡهُ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١ إِن يَثۡقَفُوكُمۡ يَكُونُواْ لَكُمۡ أَعۡدَآءٗ وَيَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُم بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ ٢ لَن تَنفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٣﴾

[١] ای مومنانو! د زما دښمن او ستاسې دښمن په دوستۍ سره مه نیسئ او ملګرتیاپې مکړئ او دوی ته د خپلوۍ مینې نه [د پیغمبر خبرونه مه ور اوړئ، یعنی دوی د پیغمبر پټو پر یکړو نه مه خبروئ] ځکه د مکې خلک یقینا د الله کتاب نه [او د پیغمبر نه] چې هغه په حق او ر ښتیا سره تاسې ته راغئ؛ منکر او کافران سول، او بیا دغو کافرانو پیغمبر او تاسې د خپلو کورونو نه را وایستلئ [یعنی ورځخه یې وشړلئ او جبرې هجرت ته یې اړ کړئ] او تاسې نه پر یردي چې پر خپل خدای باندې ایمان راوړئ، نو که تاسې ای مومنانو! د زما په لار کې جهاد ته او د زما رضا او خوښۍ لپاره د خپلو مینو نه وتلي یاستئ [نو د مکې کافرانو سره دوستي او ملګرتیا مکړئ] او پټه مینه او دوستي ورسره مه پالئ [یعنی کافران د خپلو اسرارو نه مه خبروئ او پدې پوه سئ] چې زه د ستاسې په پټو او ښکاره ټولو کړنو باندې ښه پوهیږم، او هرڅوک چې د ستاسې نه ای مومنانو! د کافرانو سره دوستي او پټه ملګرتیا وکړي، نو یقیناچې هغه د سمې لارې نه ورک سوئ دئ.

[٢] ای مومنانو! او که تاسې د مکې کافرانو لاس ته ورسئ، نو دوی به درسره دښمني کړي او خپل لاسونه او ژبې به په بدئ سره در اوږدوي، او د دوی خوښیږي چې تاسې کافران سئ، یعنی د ایمان نه بیرته کفر ته واوړئ او مرتدان سئ او خپل حق دین چې د الله تعالی نه تاسې ته راغلئ دین دئ؛ هغه [العیاذ بالله!] پر یردئ او مرتدان سئ!

[٣] او ای مومنانو! د ستاسې خپلوان، کهول او بچیان درته ګټه نه رسوي او د قیامت په ورځ تاسې ټول الله یو د بل نه بیلوي [یعنی مومنان جنت ته ځي او کافران دوزخ ته] او الله د ستاسې پرټولو کړنو باندې ښه بینا دئ، یعنی هرڅه الله تعالی ښه و یني او بیا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو ورونو او خو یندو! د الله تعالی دغه ګټورې لارښودنې مومنانوته د یوې قاطع پر یکړې اعلان معنا لري، نو څوک چې هوښیار وي؛ ورځخه ګټه اخلي او تل ور باندې عمل کړي او هیڅ کله د کافرانو

سره چې د الله او مومنانو سره دښمنی کړي؛ دوستي او ملګرتيا نکړي او د مومنانو پټ خبرونه او پټې پر يکړې کافرانو ته نه رسوي او جاسوسي نکړي، او دا خبره هم دلته د يادونې وړده چې حاطب بن بلتعه رضي الله عنه په خپله غلطۍ چې د دغو مبارکو آيتونو د نزول سبب سوه؛ اقرار وکه او رسول الله ﷺ ته يې داډ ورکه چې دئ همداسې په خپل ايمان کلک ولاړ دئ، نو بيا دئ پيغمبر ﷺ و باښه، ځکه دئ بدري غازي ؤ، او د بدر غزا مجاهدينو د لوړ مقام له امله رسول الله ﷺ د هغه اقرار قبول که، نو دا پيښه د دغسې ډيرو اړ ينو و يناوو او د تل پاتې سپارښتنو سبب او عامل مومنانو ته وګرځيده، نو هيله ده چې مومنان ورڅخه ګټه واخلي.

{ابراهيم عليه السلام تولو توحيد پالو مومنانو ته مخکښ لارښود ؤ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنان الله تعالى ابراهيم عليه السلام پسې اقتدا کړو ته رابللې دي او فرمايلي دي:

﴿قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُوا۟ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۖ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَٱغْفِرْ لَنَا رَبَّنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٥﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ ۚ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦﴾ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَٱللَّهُ قَدِيرٌ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾﴾

[٤-٥] ای مومنانو! يقيناچې ابراهيم او ورسره ملګرې يې تاسې ته ښه بيلګه او ور پسې د اقتدا کړو؛ غوره لارښود ؤ، او هغه دا چې کله ابراهيم پرخپل مشرک قوم باندې [غږ وکه او ورته يې] وو يل: يقينا چې مونږ د ستاسې نه او د هغو بتانو نه چې د الله نه پرته تاسې د هغوی عبادت او

بنده کې کړی؛ بې زاره یو او د ستاسې نه مونږ منکر یو[یعنی د بتانو خدایي نه منو] او د زمونږ او ستاسې په منځ کې نوره تل پاتې دښمنی او کرکه پیل سوه، ترڅو تاسې یوازې پرالله ایمان راوړی، خو د ابراهیم خبره [او وعده] د خپل پلار سره د دغې اقتدا برخه نه وه او هغه دا چې کله ابراهیم پوه سه چې پلارپې د الله دښمن دئ، نو بیایې ورته وو یل: زه تا ته د الله لخوا د څه کړو وسعه نه لرم [یعنی زه هیڅ څه شئ کړلای نسم] او دعاء یې وکړه وو یل: ای د زمونږ لو یه ر به! پرتا باندې مونږ توکل او پر وسعه وکړه، او تا ته مونږ مخ در واړا ؤ او د قیامت په ورځ زمونږ درتګ تا ته دئ، یعنی نو ته ای لو یه ر به! مونږ کافرانو ته ازمایښت مګرځوه، او ای خدایه! مونږ و بښه او یقیناچې ته لوی ځواکمن او حکیم ذات یې!

[٦] ای مومنانو! او ابراهیم او د هغه ملګري تاسې ته هغوی پسې د اقتدا کړو؛ ډیره ښه بیلګه وه او همداسی دوی هغه چا ته ښه بیلګه وه، چې د الله رضا او د آخرت ورځې ثوابونو ته هیلمن وي [یعنی نو تاسې د ابراهیم غوندې د خپل کافر قوم نه بیلتون او براءت اعلان کړی] او هرڅوک چې د الله دغې بلنې نه بیرته په شا واوړي او هغه ونه مني، نو هغه ده په یقین سره پوه سي چې الله ستایل سوئ غني ذات دئ، یعنی دا چې الله تعالی د هیڅ بنده ایمان راوړو ته اړ او محتاج ندئ، بلکې هغه ته یوازې خیر غواړي او ایمان راوړو ته یې را بولي.

[۷] ای مومنانو! کیدای سي چې الله د ستاسې په منځ کې او د هغو کسانو په منځ کې چې تاسې د هغوی سره دښمني وکړه؛ مینه او محبت واچوي، ځکه الله لوی قادر رب دئ [یعنی هرڅه کړلای سي] او الله ښه بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې ابراهیمعليه السلام ځکه مومنانو ته امام او مخکښ مقتدا ګرځولئ دئ،ځکه هغه د خپل کافر پلار(آزر) او د خپل مشرك قوم سره د بیلتون اعلان وکه، او بیا الله تعالی مومنان د ابراهیمعليه السلام په لاره تګ ته رابللي دي، ځکه د اسلام پیغمبر محمدﷺ نبوت او پیغمبري د ابراهیم عليه السلام هغه قبوله

سوې دعاء ده چې الله به د هغه په کوول کې څوک پيغمبر وګرځوي، نو هغه وه چې د اسحاق بن ابراهيم عليه السلام کوول نه په بني اسراييلوکې ډير پيغمبران راغلل او بيا د اسماعيل عليه السلام نه چې د اسلام پيغمبر محمد ﷺ نسب اوږده لرلې ورته رسيږي؛ الله تعالى محمد ﷺ په عر بوکې پيغمبر که او د ابراهيم عليه السلام دغه قبوله سوې دعاء د البقرې سورت په (١٢٩) آيت کې لولو چې پکې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٢٩﴾ معنا دا چې: اى د زمونږ پالونکيه څښتنه! خپله د دوى د منځ نه دوى ته پيغمبر راولېږه ترڅو دوى ته د ستا کتاب آيتونه ولولي او د ستا کتاب قرآن او د ستا سنت او کټورې لارښودنې ورزده کړي، او دوى ښه په وروزي، او يقيناچې ته اى ر به! لوى ځواکمن او ښه حکيم ذات يې! نو ځکه الله تعالى د رسول الله ملګري مومنان ابراهيم عليه السلام پسې اقتدا کړو ته رابللي دي، او هم يې ز يرئ ورکړئ دئ چې الله به د دوى په منځ کې دښمني په دوستۍ او په مينه او محبت بدله کړى، نو بيا هغه وه چې د مکې فتحې نه وروسته د مومنانو او کافرانو په منځ کې اوږده دښمني په دوستۍ او وروړۍ بدله سوه او د مکې ټول کافران مومنان سول او خپله زړه دښمني يې د مومنانو سره په وروړۍ او په دوستۍ بدله کړه.

{مومنان د کافر انو سره په ګډ ژوند کې په انصاف چلېږي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانوته سپارښت کړئ دئ چې کافران ده ټول په يوه ليکه يا قطارکې نه شميري او د بيلتون او دښمنى اعلان ده ورسره نکړي، بلکې هغو کافرانو سره ده چې جګړه مار ندي او ګډ ژوند سره کړي؛ د را کړې ورکړې اړ يکې و پالي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ٨ إِنَّمَا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَأَخۡرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخۡرَاجِكُمۡ أَن تَوَلَّوۡهُمۡۚ

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٩﴾

[۸] ای مومنانو! الله تاسې د هغو کسانو سره چې په دین کې یې ستاسې سره جګړه ونکړه او تاسې یې د خپلو کورونو نه ونه و یستلی؛ د ښو کړو او ورسره په انصاف سره چلیدلونه نه منع کوي، ځکه یقینا چې په الله باندې انصاف پالونکي ګران دي، یعنی دا چې مومنانوته ښایي د هغو کافرانو سره چې د دوی سره دیني دښمني نکړي؛ ښه وکړي او د دنیا په چاروکې ورسره په عدالت او انصاف وچلیږي، ځکه انصاف کونکي کسان د الله تعالی خوښیږي.

[۹] او ای مومنانو! یقیناچې تاسې الله د هغو کافرانو سره د دوستۍ نه منع کوي چې هغوی ستاسې سره په دین کې وجنګیدل او تاسې یې د خپلو کورونو نه وشړلې او د کورونو نه یې ستاسې په و یستلوکې یو بل سره مرسته وکړه، نو هغه څوک چې د دغسې کافرانو سره دوستي کړي؛ هغوی ظالمان او تیرې کونکي دي، یعنی د ظالمانو سره ملګرتیا ظلم دئ.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مومنانوته د کافرانو سره په اړ یکو او په چلند کې؛ ډیره روښانه ټګ لاره ښودلې ده، نو ښایي مومنان ځانونه ور باندې ښه پوه کړي او بیاپې په ژبا کې خپل روابط او اړ یکې د هغو کافرانو سره چې جنګیالان ندي په انصاف او عدالت سره سمبال او تنظیم کړي، خو دلته یو بل وضاحت هم ضروري او د پام ور دئ او هغه دا چې د مومنانو نه مراد او مقصد یوازې اشخاص او افراد ندي، بلکې د هغوی نه مقصد د مومنانو اسلامي ټولنه ده چې دوی په خپل وخت کې د رسول الله ﷺ سره د شرعي بیعت په سوري کې خپله مستقله ټولنه او دولت او استوګنځئ او هیواد درلود، نو د کافرانو دولتونو او هیوادونو سره به د مسلمانانو دولت اړ یکې جوړولې، او په دننه اسلامي ټولنه کې به مومنانو او کافرانو په پوره انصاف او عدالت سره خپلې را کړې ورکړې سمبالولې، او د هر ډول دښمنۍ او کرکې نه به یې ډډه کړه، ترڅو د ټولو خلکو ژوند په ټولنه کې ډیر طبیعي او په خوښۍ

سـره په مخ لاړ سـي او د يو بل سـره د تعارف او تعاون قرآني لارښـودنه بانـدې عمل وکړي، نو مومنـانوتـه د خطـاب نـه هيڅ کلـه اشـخـاص او ځانکړې ډلې او حز بونه مقصـد ندي، او هيڅ ډله حق نه لري چې د ملې اجماع نه پرته د چا سـره دوسـتۍ يا دښـمنۍ ته ملا وتړي او د ټول ولس او هيواد کتې د کوانس لاندې راولي.

{مومنانو او کافر انو ته د يو بل سره واده روا ندئ}

کرانو وروڼو او خو يندو! او په ور پسـې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د مکې نه مدينې ته کډه سـوو مهاجرو ميرمنو سـره د چلند او د وا ده کړو حکمونه او آداب بيان کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ۖ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ۚ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ وَإِن فَاتَكُمْ شَىْءٌ مِّنْ أَزْوَٰجِكُمْ إِلَى ٱلْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَٰجُهُم مِّثْلَ مَآ أَنفَقُواْ ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِٱللَّهِ شَيْـًٔا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِى مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُنَّ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾﴾

[١٠] ای مومنانو! کله چې کډه سـوې مهاجرې ميرمنې تاسـې ته د مکې نه مدينې ته راغلې او د کافرانو نه راوتښـتيدلې، نو دوی وازمايي او په صـداقت او په ر ښـتنوالي باندې يې ځانونه ښـه پوه او ډاډمن کړی، او الله د دوی په ايمان ښـه پوه دئ، نو که بيا پوه سـوی چې دوی په ر ښـتيا

سره مومنانې دي، نو بيايې بيرته کافرانوته مه ورکړئ، ځکه نه دا مهاجرې مومنې ميرمنې کافرانوته حلالې او روا دي، او نه د دوی کافران ميړونه دغو مومنو ميرمنوته روا او حلال دي، او د دوی ميړونوته هغه مال او دولت ورکړی چې هغه دوی په خپلو ميرمنو مصرف کړئ دئ [يعنی هغه مهر چې کافرانو خپلو ميرمنوته ورکړئ دئ هغه بيرته ورکړی] او ای مومنانو! که تاسې د دغو مهاجر ميرمنو سره نکاح وتړی او مهرونه يې ورکړی، نو پرتاسې باندې څه ګناه نسته، خو ای مومنانو! تاسې ته روا نده چې خپلې کافرې ميرمنې د ځانو سره همداسې وساتی، بلکې خپل مالي خرڅ او لګښت، لکه مهر ورځخه وغواړی، او دوی ده هم خپل مالي لګښت د ستاسې نه غواړي، او دا حکم د الله حکم دئ چې د ستاسې په منځ کې يې ور باندې پر يکړه کړې ده، ځکه الله ښه پوه او لوی حکيم ذات دئ، يعنی دغه پر يکړه االله تعالی په لوی علم، حکمت او تدبير سره کړي ده، نو ور باندې کلک در يدل پر تاسې فرض دي.

[۱۱] او ای مومنانو! که چيرې د ستاسې ميرمنو نه څوک د کافرانو سره پاتې سوې او د ستاسې مهرونه يې بيرته درنکړل، او بيا تاسې دغو کافرانوته سزا ورکړه او د دوی مال او دولت تاسې غنيمت که، نو بيا هغو مومنانوته چې ميرمنې يې د کافرانو سره پاتې سوې او مهرونه يې خپلو ميړو ته بيرته ورنکړل؛ د غنيمت مال نه د دوی مهرونه ورکړی، او ای مومنانو! د هغه لوی خدای الله عذاب نه ځانونه وساتی چې تاسې پر هغه ايمان روړئ دئ او حکمونه منی.

قدرمنو وروڼو او خو يندو! د مهاجرو ميرمنو نه امتحان اخستل او ازمايښت يې د دي لپاره اړ ين او ضروري ؤ، ترڅو د هغوی صداقت او ر ښتينوالئ ثابت سي، نو ځکه دا مبارکه سوره په الممتحنه باندې نومول سوې ده، او بيا په دغو مبارکو آيتونوکې په پوره انصاف او عدالت سره د کافرانو او مومنانو نار ينوو او ښځو په منځ کې د کورني ژوند ګډو روابطو او اړ يکو او په يو بل باندې حقوق، لکه د مالي حقونو حکمونه د ديني او عقيدتي بيلتون په صورت کې؛ الله تعالي ډير روښانه بيان کړی

دي، لکه څنګه چې مومنان او کافران ورسره د اسلام په پیل کې مخامخ سول، او مومنان کافرانو د لاسه د خپلو کورونو نه په مکه کې هجرت او کډه کیدلو ته اړ سول، نو د ځینو مومنانو میرمنې په کفرکې همداسي په مکه کې پاتې سوې، او د ځینو کافرانو میرمنو ایمان راوړو او د خپلو کورنیو سره مدینې منورې ته لاړې، نو بیا الله تعالی دغه لو یه اجتماعي ستونزه د دغو مبارکو آیتونو په را نازلیدلو سره حل کړه، او ډیر عادلانه حکمونه یې ورته بیان کړل چې عملي کول یې پرمومنانو باندې فرض دي، ځکه د مومنانو او مشرکانو په منځ کې نکاح روا نده، او د دوی په منځ کې پخوانۍ واده هم لغوه کیږي، نو که د دوی دواړو په منځ کې کم حقوق وي، لکه مهر او نور حقوق، نو هغه ده بیرته ورکړي، خو نه مومن میړه د خپلې پخوانۍ کافرې میرمنې سره پاتې کیدای سي، او نه کافر میړه د خپلې پخوانۍ میرمنې سره چې هغه اوس مومنه ده، ځکه د دوی په منځ کې د عقیدې بیلتون راغلئ دئ، نو د واده او نکاح بیلتون یې حتمي کړئ دئ، خو دا بیلتون ښایي په پوره عدالت سره او د الله تعالی عذاب نه په و یرې سره تر سره سي، او پکې هیڅ ډول تیرئ او ظلم او بې ځایه خفتیان نه وي، او د دې مبارکې سورې نوم توقیفي دئ او هغه د همدې آیت نه اخستل سوئ دئ، او دغه مومنه مهاجره نیک بخته میرمن څوک وه چې دا الهي حکمونه د هغې په باره کې رانازل سول؟ ځواب دا چې د دغې مبارکې میرمنې په پیژندلوکې روایت سوئ دئ چې هغه ام کلثوم بنت عقبه بن ابي معیط رضي الله عنها وه، او پلارې عقبه هغه څوک وه چې په اشقی القوم مشهور ؤ، ځکه هغه (سلا جزور) یعنی د مړو اوښانو او د نورو څارو یو لري را وړل او د رسول اللهﷺ په شایې په داسې حال کې اچول چې رسول اللهﷺ به د الله په مبارك حرم کی یا د الله تعالی کور په څنګ کې په لمانځه کې په سجده پروت ؤ، او همدارنګه دا عقبه هغه څوک ؤ چې یوه ورځ یې د رسول الله مبارك په غاړه کې خپل څادر را واچا ؤ او د رسول الله ﷺ نفس یا ساه ختل یې بند کړل، نو بیا پیغمبر ﷺ بې اوښه سه، او همدې کم بخت کافر مخامخ رسول اللهﷺ ته (العیاذ بالله)لاړې ورتو

کړي، خو د دې سره سره د عقبه د شا نه الله تعالی د هغه لور ام کلثوم پیدا کړه او ام کلثوم چې د علم سره یې مینه درلوده، نو په لوستلو او په ژور فکر کړو سره الله تعالی د ایمان رنا د هغې زړه ته ورننه و یستله، نو بیایې خپل ایمان د پلار عقبه او د خپلو وروڼو نه چې یو یې عماره او بل یې ولید بن عقبه نومیده؛ پټ که، ترڅو چې بیا رسول اللهﷺ مدینې ته مهاجر سه او ام کلثوم په مستضعفینوکې په مکه کې پاتې سوه، او بیا عقبه د ام کلثوم پلار په بدرکې کافر ووژل سه، نو بیا ام کلثوم ته د مکې زلمیانو نه ډیر ر یباران راغلل چې واده ورسره وکړي، خو هغې دا ر یباران ټول ورټل، ځکه د هغې ارمان رسول اللهﷺ په دین باندې د خپل ایمان راوړو اعلان ؤ، نو بیا چې وروسته د حدیبې صلحې اور بند وسه او پدې صلحه یا اور بند کې د مکې نه هیڅ چا ته د هجرت اجازه نه وه، نو کله چې بیا ام کلثوم نوره ډیره په تنګ سوه، نو د خپلو وروڼو نه پټه د یو کاروان سره یې هجرت وکه او مدینې منورې ته په خیر سره ورسیدله، نو رسول اللهﷺ د هغې هجرت په لو یه حیرانتیا کې واچا ؤ چې څه ورسره وکړي؟ ځکه د مهاجر مومنانو مشرانو رسول اللهﷺ ته وو یل:ام کلثوم څنګه بیرته مکې ته وروګرځوو؟ نو رسول اللهﷺ وحی ته په طمعه ؤ، نو بیا هغه وه چې د الممتحنې سورې دا مبارك آیت را نازل سه او الله تعالی د ام کلثوم رضي الله عنها هجرت منظور که، نو بیا ام کلثوم د مکې اشرافو نه د یوه لوی مالدار سوداګر مهاجر عبد الرحمن بن عوفرضی اللہ عنہ سره واده وکه او الله تعالی د هغې ټول ارمانونه پوره کړل.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د پیغمبرﷺ بیعت او د تعهد څرنګوالۍ هغو میرمنو سره مونږ ته یاد کړئ او بیان کړئ دئ چې دوی ایمان راوړ او مدینې ته یې هجرت وکه او د رسول اللهﷺ سره بیعت او لوړې کړو ته حاضرې سوې، او په بیان کې الله تعالی فرمایلی دي:

[١٢] ای پیغمبره! کله چې مومنې ښځې تا ته راغلې او د ستا سره یې بیعت کا وه او و یو یل چې دوی به هیڅ څوک او هیڅ څه شئ د الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې نه شر یکوي، او غلا او زنا به نکړي او خپل

کوول به نه وژني او د خپل ځان نه به چا پسې افترا یا تور نه پورې کوي [یعنی خپلو میړو ته به د بل چا اولاد په دروغو نه منسو بوي او هغه پسې بې نه ټړي] او په دودیزو کړنوکې به د ستا امر او حکم نه ای پیغمبره! سرکښي او سر غړونه نکړي، نو بیا ته ای پیغمبره! د دغو میرمنو نه تعهد واخله او بیعت ورسره وکړه او د الله نه ورته د تیرو ګناه وو بښنه وغواړه، ځکه یقیناچې الله لوی بښونکې او ښه مهر بان لوی ذات دئ.

عزتمنو ورونواو خو یندو! د یادونې وړ ده چې د رسول الله ﷺ دا بیعت ټول په خوله ؤ او ښځو رسول الله ﷺ ته لاسونه ندي ورکړي، او د دغو میرمنو نه دغسې هوکړه او تعهد اخستل، ځکه اړ ین ؤ چې دغسې شرعي مخالفتونه او بدې کړنې په شرکي ټولنه کې خورې وې، نو ځکه د براءت اعلان ورڅخه ضروري او اړ ین ؤ.

{هغو کسانو سره ملګرتیا روا نده چې الله پر دوی غوصه دئ}

او د الممتحنې مبارکې سورې په پای کې یو ځل بیا الله تعالی مومنان د هغو خلکو سره د دوستۍ او ملګرتیا نه په کلکه سره منع کړي دي چې الله دوی باندې په غوصه دئ، لکه یهود، ځکه هغوی په خپل کفر باندې همداسې تینګار وکه او کلک پرې ودر یدل، او په بیان کې الله فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ قَدۡ يَئِسُواْ مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلۡكُفَّارُ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡقُبُورِ ١٣﴾

[۱۳] ای مومنانو! هغو خلکو او ډلو سره دوستي او ملګرتیا مکړئ چې الله پردوی باندې په غوصه سه، او یقینا چې دا کسان، لکه په ګورونو کې پراته کافران د آخرت ورځې ثواب نه ناهیلي، او مایوس سوي دي، یعنی دوی د ډیرې کینې او ناپوهۍ نه په کلکه سره د آخرت ورځې نه منکر دي او باور ور باندې نه لري، نو ځکه دوی د دوستۍ او د ملګرتیا لائق نه دي او نه ښایي چې مومنان د خپلو دغسې خپلوانو سره نوره دوستي او ملګرتیا و پالي، ځکه دوی د کفر په ګناه کې ترستونې پر یوتي دي، نو د هیڅ ډول ورورۍ، مینې او محبت وړتیا نه لري.

قدرمنو دوســتانو! دا مبارك آيت، لكه د دې ســورى لمړني او د پيل آيتونه د ولاء او براء په باره كې دئ، نو مومنانو ته ښــايې چې خپلې اړ يكې او روابط د خپلو خپلوانو او دوســتانو ســره د همدې الهي لارښــودنې او ســپارښــت ســره برابر كړي، او د الله تعالى حكم ومني، ځكه پدې كې ورته خير، ښادي او نيكمرغي ده.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الصف سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان ذات دئ پيل کيږي]

{د الصف مبارکې سورې لنډه پيژنده او لوی پيغام}

قدرمنو عز يزانو! د الصف مبارکه سوره مدني سوره ده او په پيل کې يې الله تعالى خپل عظمت او لوی تيا مونږ ته يادوه کړې او بيان کړې ده، او بيا الله تعالى خپل ډير حکمونه او ګټورې سپارښتنې او پيغامونه د دې سورې په مبارکو آيتونو کې مونږ ته بيان کړي دي او هغه ټول د خلکو په خير او ګټه دي او الله تعالى ورته هيڅ اړتيا نه لري، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې د مجاهدينو په صفونو کې د دښمن سره په جهاد او جګړه کې الله تعالى پراتحاد او يو والي باندې؛ کلک ټينګار کړئ دئ او دروغ او وعده خلافي يې پکې کلکه غندلې ده، او د يهودو او نصاراوو کفريې رسوا کړئ او په ډاګه کړئ دئ، ځکه دوی پر رسول الله ﷺ باندې کافران سول او د هغه نبوت او پيغمبرۍ تصديق؛ ټول آيتونه يې په خپلو کتابونو کې پټ کړل، حال دا چې ټولو اسماني کتابونو د يو بل تاييد او تصديق کړئ دئ، ځکه د ټولو منبع او مصدر، هدف او پيغام؛ يؤ دئ او هغه د الله تعالى توحيد ته دعوت او بلنه ده او د باطل پرخلاف ګډ در يځ او ګډه مبارزه ده، او د الصف مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى د خپل عظمت او ځواکمنۍ په بيان سره په ځمکه او اسمانونوکې مومنان د خپلو و يناوو او کړنو يو والي ته او د دښمن سره د جهاد او جګړې په سنګر کې اتحاد ته کلک رابللي دي او فرمايلي دي:

{الله په ځمکه او اسمانو کې ستايل کيږي او د مومنانوکړنو تضاد و يناوو سره ګناه ده}

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٢ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٣ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفّٗا كَأَنَّهُم بُنۡيَٰنٞ مَّرۡصُوصٞ ٤

[۱] پرځمکه او اسمانوکې میشت مخلوقات ټول؛ الله په پاکې سره ستایي، ځکه الله لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات دئ، یعنی د خپلو مخلوقاتو چارې په پوره ځواکمنۍ او په پاخه تدبیر سره چلوي.

[۲-۳] ای مومنانو! تاسې ولې په خولو هغه څه وایي چې بیا په عمل کې هغسې نکړئ، او دا د الله پر وړاندې لو یه ګناه ده چې په خوله هغه څه ووایي چې عمل ور باندې نکړئ!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې لمړئ مونږ د خپل عظمت او لوی تیا او د سپیڅلې ستاینې نه په ځمکه او په اسمانوکې خبر کړي یو او بیایې هغه مومنان کلک غندلي دي چې د خولې او کړنو لارې یوه نده، څه چې په خوله وایي په عمل کې هغسې نه کړي، نو د دوی دا دوه مخئ در یځ او چلند لو یه ګناه ده، او هغه د منافقانو کار دئ، نو ښایي چې مومنان کلک پام وکړي او هیڅ کله د دوی د خولو او لاسونو لارې سره بیلې نه وي، یعنی څه چې په خوله وایي هغسې عمل وکړي.

او بیا الله تعالی د خپلې لارې هغه جنګیالي چې د یو بل سره نښتي په متحدو لیکو او صفونوکې د دښمن سره جګړه کړي؛ کلک ستایلي دي، ځکه دوی په الله ګران دي او فرمایلي دي:

[٤] او یقینا هغه کسان په الله ګران دي چې په یوه صف او لیکه کې د یو بل سره لکه نښتې؛ د الله په لار کې [د خپل خدای او د دین دښمن سره] جګړه او جهاد کړي.

هو؛ ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې هغه کسان غندلي دي چې د خولو او زړو لارې یوه نده او دوی لکه منافقان په خوله یو څه وایي، خو بیا په عمل کې بل څه کړي، او دا دوه مخئ چلند او کړنه

کلکه غندل ســوی ده، ځکه چې په الله باندې یوازې هغه مومنان ګران دي چې دوی په یوه متحد صـف کې د هر ډول اختلاف نه پرته د الله تعالی په لارکې د اسـلام او مسـلمانانو نه په دفاع کې د دښـمن سـره جګړه کړي، ترڅو پرکافر دښـمن باندې زورور او برلاسـي سـي او باطل مات کړي او له منځه یې یوسي او حق د الله په مرسته بر یا ته ورسوي.

درندو عز یزانو! یقینا چې د دښـمن سـره په جګړه کې وحدت د قیادت او سـنګر او د مومنانو یو والۍ او اتحاد د مشـرتابه او د سـرتیرو په منځ کې؛ د بر یا شرط دئ، او که چیرې دوی یو موټئ نه وي، نو هیڅکله سنګر ګټلای نسـي، او همداسـې پدې مبارکو آیتونوکې د منافقانو دؤ مخئ چلند الله تعالی کلک غندل دئ، ځکه د دوی د خولو او زړونو لار یوه نده، په خوله یو څه وایي او په زړونوکې یې بل څه غوټه کړي دي، او د بده مرغه په افغانسـان کې د ږنګې سـوې شـوروي اتحاد ښـکیلاک پر ضـد جهاد کې؛ دغسې کسان زښت ډیر ول!

{یهودو خپل پیغمبر موسی علیه السلام ډیر کلک وزورا ؤ}

او په ور پســې مبارك آیت کې د بني اســراییلو دؤ مخئ چلند د خپل پیغمبر موسی علیه السلام سره الله تعالی غندل سوئ یاد کړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ لِمَ تُؤۡذُونَنِي وَقَد تَّعۡلَمُونَ أَنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡۖ فَلَمَّا زَاغُوٓاْ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٥﴾

[٥] [او ای پیغمبره! هغه وخت خپل قوم ته را په یاد کړه] کله چې موسی خپل قوم (یهودو) ته وو یل: ای د زما عز یزانو! ولې تاسې ما زوروی؟ حال دا چې تاسې ښه پوهیږی چې زه تاسې ته په یقین سره د الله استازئ او پیغمبر را لیږل سوئ یم، نو بیا چې کله د موسی قوم د پوهې سره سره د حق لارې نه کوږ سه، نو الله د دوی زړونه هم کاږه کړل [یعنی په سمه لار باندې یې د تګ توفیق ورنکه] ځکه الله د خپل فرمان وړو نه وتلي قوم ته

په سمه لار د تک هدایت نکړي، یعنی دوی ته توفیق نه ورکوي چې په سمه لار چې حق دئ لاړ سي، ځکه دوی د الله پیروز یې لائق ندي.

{عیسی علیه السلام د اسلام پیغمبری زیرئ بني اسرائیلوته ورکړئ ؤ}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د عیسی علیه السلام په خوله د اسلام پیغمبر محمد ﷺ د پیغمبری ز یرئ یاد کړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰٓ إِلَى ٱلْإِسْلَٰمِ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧﴾ يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾﴾

[٦] [ای پیغمبره! خپل قوم قر یشوته او نورو ټولو خلکوته د عیسی هغه و ینا ور په یاد کړه] کله چې عیسی بن مریم بنی اسرائیلوته وو یل: ای بني اسرائیلو! یقینا چې زه تاسې ته د الله استازي او پیغمبر رالیږل سوئ یم او د زما نه مخکې کتاب توارت تصدیق کونکئ یم او هغه تاییدوم، او هم د هغه پیغمبر د راتلو ز یرئ ورکونکئ یم چې هغه د زما نه وروسته راځی او نوم یې احمد دئ، نو بیا چی کله (محمد ﷺ) دوی ته د ښکاره ښوو او معجزو سره راغئ دوی وو یل: دا خو ښکاره کوډکړ دئ، یعنی بني اسرائیل د اسلام پیغمبر نه منکر سول، او لکه د فرعون قوم چې موسی علیه السلام ته یې کوډکر وو یل؛ د موسی علیه السلام قوم هم د اسلام پیغمبر محمد ﷺ ته کوډکر وو یل، یعنی د هغه پیغمبري قبوله نکړه!

[٧] نو څوک د هغه چانه ډیر ظالم دئ چې دئ اسلام ته رابلل کیږي او بیا دئ الله پسې د درغو افترا کړي؟ [ځواب دا چې: هیڅ څوک د هغه نه ډیر ظالم ندئ] او ظالم قوم ته الله په سمه لار د تک توفیق نه ورکوي.

[٨] او کافران غواړي چې د خپلو خولو په پوکي سره د الله رنا مړه کړي [يعنی د الله توحيد ته رابلونکي پيغمبر محمدﷺ نه منکر سي] خو د کافرانو کرکې سره سره؛ الله خپله رنا خوروي او هغه پوره کوي، يعنی د الله تعالی دين د کافرانو کرکې او نفرت سره سره خور يږي او خلک جو په جو په ايمان راوړي، لکه څنګه چې بيا همداسې سوه او مکه فتحه سوه او ټولو مشرکانو ايمان راوړ، او بيا وروسته د راشدينو خلفاوو په وخت کې د نړۍ لويې برخې په اسيا او افريقا کې، او بيا وروسته په شرقي ارو پا کې؛ فتحه سوې او اسلام پکې خور سه، او دا لړۍ به همداسې تر قيامت ورځې پورې روانه وي، لکه څنګه چې دا سلسله اوس ولسي دعاتو په خوله جاري ده او په شرق او غرب کې الحمد لله اسلام ته دعوت جاري دئ.

[٩] او الله هغه څوک دئ چې خپل استازئ او پيغمبر (محمد ﷺ) يې د لارښود کتاب (قرآن) او د حق دين (اسلام) سره را ولېږه، ترڅو هغه پر نورو ټولو دينونو باندې زورور، لوړ او برلاسئ کړي، که څه هم مشرکان د هغه نه کرکه وکړي، يعنی د اسلام سره دښمني وکړي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته د عيسیعليه السلام په خوله د اسلام پيغمبرﷺ د راتګ ز يرئ را کړئ دئ، او بيا يې همدارنګه د اسلام بر يا او برلاسی او زورورتيا نه د کافرانو دښمنۍ او کرکې سره سره ډاډمن کړي يو، خو دا ز يرئ هغه وخت پوره کيږي چې مومنان د الله په لار کې په سر او مال جهاد وکړي او پوره ستړيا وګالي.

{د الله په لارکې جهاد مومنان د عذاب نه خلاصوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان الله تعالی هغسې جهادي او دعوتي هلوځلو ته رابللي دي چې د کړونکي عذاب نه دوی ته د قيامت په ورځ نجات ورکوي او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ١٠ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ

تَعۡلَمُونَ ١١ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٢ وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٣﴾

[١٠-١١] ای مومنانو! آیا زه تاسې ته دا ښکاره کړم چې هغه تجارت او سوداګري دروښیم چې هغه تاسې د دېر کړونکي عذاب نه خلاصوي؟ او هغه دا چې په الله او د هغه په پیغمبر ایمان راوړئ، او په سر او مال د الله په لار کې جهاد وکړئ، او که تاسې پوهیږئ دغسې تجارت درته ډېر ښه او غوره دئ.

[١٢-١٣] او ای مومنانو! [په جهاد کړو سره او د الله دین ته د دعوت او رابلنې په لار کې] الله د ستاسې ګناه وې بښي او د قیامت په ورځ تاسې هغو جنتونو ته ورننه باسي چې و یالي پکې بهیږي او په تل پاتې جنت کې ښه کورونه دي، او هغه ډیره لو یه بر یا ده، او بله خوښي چې هغه تاسې خوښوئ؛ د الله نصرت او مرسته او ډیره لنډه راتلونکې فتحه ده، او ای پیغمبره! مومنانو ته د دغې فتحې ز یرئ ورکړه!

عزتمنو دوستانو! دا دي د الله تعالی پرله پسې ز یري چې مومنانوته یې ورکړي دي، نو ښایي چې مومنان د الله پردین باندې خپلې منکلې کلکې کړي او په سر او مال د الله حق دین خلکوته ورسوي، ترڅو ټول خلک ایمان راوړي او بیا دوی ته اسلام ورزده کړي او په اخلاص سره یې عمل کړو ته راو بولي او ښه یې ور باندې وروزي ترڅو ښاد او سر لوړي سي.

{ ای مومنانو د عیسی انصارو غوندې د الله مرستندوی سی }

او په ور پسې مبارك آیت کې چې د صف سورت وروستئ لارښود آیت دئ؛ الله تعالی مومنان د عیسی علیه السلام انصارو غوندې د الله پلوتیا او د هغه دین مرستې ته رابللي دي او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ بَنِيٓ

إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ١٤

[١٤] ای مومنانو! د الله انصار او مرستندوی سی، لکه څنګه چې عیسی بن مریم ته د هغه ښه ډیر لند ملګري د هغه مرستندوي ول، او دا په هغه وخت چې کله عیسی پر خپلو پلو یانو غږ وکه او و یو یل: څوک د زما سره الله ته د ورلنډیدو په لار کې ملګري او پلو یان کیږي؟ نو بیا د عیسی پلو یانو په ځواب کې وو یل: مونږ د الله انصار او پلو یان یو [یعنی د الله تعالی د دین نصرت او مرسته کړو] نو بیا د بني اسرائیلو یوي ډلې ایمان راوړ او یوه بله ډله یې کافره سوه، نو بیا مونږ د هغو کسانو مرسته د دوی دښمن پر ضد وکړه چې دوی ایمان راوړ، نو بیا دوی پرخپل دښمن زورور سول.

ګرانو دوستانو! روایت سوئ دئ چې دا مبارك آیت د دو یمې عقبې بیعت نه وروسته په هغه وخت کې را نازل سوئ دئ، کله چې د انصارو استازو رسول اللهﷺ سره د مرستې تعهد او هوکړه وکړه، نو الله تعالی د دوی دا بیعت د عیسیعليه السلام سره د هغه کلکو ملګرو هوکړې او بیعت ته ورته بیعت وګاڼه، نو بیا الله تعالی د عیسی پلو یان د بني اسرائیلو پر کافرانو باندې زورور کړل، نو همداسي به الله تعالی د رسول اللهﷺ دغه ملګري او پلو یان؛ د دوی پر دښمنانو باندې برلاسي او زورور کړي، او بیا الله تعالی خپله دغه وعده ر ښتیا کړه او خپل پیغمبر محمد ﷺ او د هغه ملګري یې پرکافرانو باندې د بدر په غزا کې زورور کړل، او بیا وروسته الله تعالی د مکې مکرمې لو یه فتحه او بر یا د دوی په برخه کړه.

قدرمنو مومنانو! اوس نو دلته دا خبره د پام وړ ده چې څنګه کیدای سي مسلمانان خپل و یاړمند تار یخ را ژوندئ کړي؟

نو مسلمانانو ته ښایي چې په پوره اخلاص سره د یو بل مل سي او د اسلام خورولو لپاره چې یوازې د الله بنده ګی او د هغه حکمونو ته د غاړې ایښودو معنا لري؛ هلې ځلې وکړي او د حق پلو یان سي او دا پیغام ټولو خلکو ته ورسوي، او کله چې مومن ولسونه په خپل منځې جګړو کې

ښکيل کيږي؛ نو ښايي چې د دوی په منځ کې د قراني لارښودنو سره سم صلحه او په خلاينه وسي او داخلي جګړې بندې کړي، لکه څنګه چې الله تعالى د الحجرات مبارکې سورې په (٩) آيت کې فرمايلي دي:" وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا بينهما فإن بغت إحداهما على الأخرى فقاتلوا التي تبغي حتى تفئ إلى أمرالله فإن فاءت فأصلحوا بينهما بالعدل وأقسطوا إن الله يحب المقسطين"

هو! الله تعالى پدې مبارك آيت کې خپلو مومنو بنده ګانو ته حکم کړئ دئ فرمايلي يې دي چې که چيرې دوه ډلو مومنانو د يو بل سره جګړه وکړه، نو تاسې د دوی په منځ کې صلحه وکړئ، نو که بيا يوې ډلې پر بله ډله باندې تيرئ او بغاوت وکه، يعنى صلحه يې ماته کړه، نو بيا تاسې ای مومنانو! د دغې باغي ډلې سره جګړه وکړئ، ترڅو چې هغه د الله حکم ته را وګرځي او د جنګ نه لاس واخلي، نو که بيا دغه ډلې صلحې ته را وګرځيدلې، نو بيا يې په منځ کې په عدالت سره صلحه وکړئ، او پوره عدالت وچلوئ، ځکه يقينا چې عدالت چلونکي پر الله ګران دي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الجمعې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الجمعې سورې لنډ تعریف او لوړ مقصدونه}

قدرمنو وروڼو او خویندو! د الجمعې مبارکه سوره مدني سوره ده، او پکې د مکې او د هغې په څیرمه ټولو عربو ولسونوته چې په لیک او لوست نه پوهیدل او هم د نړۍ ټولو خلکوته الله تعالی د محمد رسوالله ﷺ پیغمبرۍ ز یرئ ورکړئ دئ او د یهودو دروغژنه دعوایې د الله سره په ملګرتیا کې کلکه غندلې او رده کړې ده، او همدارنګه الله تعالی پدې مبارکه سوره کې د مومنانو ایماني روزنې ته کلکه پاملرنه کړې ده او دوی یې د جمعې لمانځه درولوته رابللي دي، ځکه د جمعې لمونځ د الله تعالی د عبادت او بنده ګۍ د هغو ضروري، اړ ینو او لو یو شعائرونه دئ چې هره اونۍ یوه ورځ د ماسپښین لمانځه پرځای په لوی جامع مسجد یا جومات کې د جمعې خطبې په و یلو سره په ځانګړي ډول په جماعت سره؛ دوه رکعته لمونځ درول کیږي، او د جمعې لمانځه نه پاتې کیدل عذر نه پرته لو یه ګناه ده او د جمعې لمانځه خطبې ته ورتګ چې د الله یاد او ذکر بلل سوئ دئ؛ پرټولو هغو نار ینه مومنانو باندې چې شرعي عذر نه لري فرض دئ، نو ځکه د جمعې لمانځه لپاره ټول کارونه درول کیږي او خرڅول او اخستل (پلورل او پریول) د لمانځه په وخت کې کلک منعې دي، او یقینا چې دا ټول د جمعې لمانځه په لوی ارزښت باندې ښه ځلاند او قاطع دلیل او نښه ده.

{د عربانو نالوستي قوم ته الله پیغمبر را ولیږه چې په قرآن پې وروزي}

ګرانو وروڼو! د الجمعې مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د الصف

سورې غوندې د خپل لوړ مقام ستاینه د ټولو مخلوقاتو په ژ به یاده کړې ده او بیایې د اسلام عزتمن پیغمبر محمدﷺ د رسالت او دندې لوی هدف او مقصد بیان کړئ دئ، او ور پسې یې د عر بانو نالوستي قوم ته خپله د دوی د منځ نه د پیغمبر را لیږلو ز یرئ ورکړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡمَلِكِ ٱلۡقُدُّوسِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ١ هُوَ ٱلَّذِي بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٢ وَءَاخَرِينَ مِنۡهُمۡ لَمَّا يَلۡحَقُواْ بِهِمۡۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٤﴾

[١] ټول هغه مخلوقات چې په اسمانونو او په ځمکه کې دي؛ الله په پاکې سره ستایي، ځکه الله د ټولو کایناتو ټولواک او د هر نقصان او عیب نه پاک؛ لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات دئ، یعنی دا چې الله تعالی د دغو ټولو لو یو صفتونو لرونکئ ځښتن دئ، نو الله تعالی د پوره ستاینې لائق او مستحق ځښتن دئ.

[٢-٣] او الله هغه ځوک دئ چې د عر بانو په امي او نالوستي قوم کې یې د دوی د منځ نه پیغمبر او خپل استازئ را پورته که او دا پیغمبر د الله کتاب (قرآن) آیتونه خپل قوم ته لولي او دوی د شرکي عقیدې او د بدو خو یونو او اخلاقو نه ور باندې پاکوي، او قرآن او د هغه شرحه سنت ورزده کوي که څه هم قر یش لدې نه مخکې په ښکاره ورکتیا او د سمې لارې نه په بې لار یتوب کې ول، او همدارنګه دا پیغمبر الله نورو ولسونوته چې دوی پسې وروسته راتلونکي دي؛ استازئ را لیږلئ دئ او الله لوی ځواکمن او حکیم ذات دئ، یعنی د الله تعالی ټولې کړنې په لو یه ځواکمنۍ او په پاخه تدبیر او حکمت ترسره کیږي.

[٤] او دغه [د پيغمبرۍ لوړ مقام] د الله پيرزو ينه ده او الله چې چا ته وغواړي بيا ورته دغسې لوړ مقام ورکوي او الله د ډيرو ورکړو او پيرزو ينو څښتن او پالونکئ خداى دئ.

قدرمنو مومنانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې لمړئ مونږ د خپل لوړ او پاک مقام ستاينې نه د ټولو مخلوقاتو لخوا خبر کړي يو او بيايې د اسلام لوى پيغمبر محمدﷺ د نبوت او پيغمبرۍ په لوړ لارښود مقام باندې؛ ټولو خلکوته د قيامت ورځې پورې؛ کلک ټينګار کړئ دئ، ځکه رسول اللهﷺ خپل امت ته قرآن او سنت ولوستل او ورزده يې کړل او دوى يې سره ور باندې وروزل، ترڅو د کفر تورو تيارونه د اسلام رڼا ته راووځي، نو ټولو علماوو او اسلام پالو دعاتو ته پکار ده چې د رسول اللهﷺ په پله لارې سي او د الله کتاب قرآن او د پيغمبرﷺ سنت او سيرت خپل قوم ته تبليغ کړي او دوى ته يې ورسوي او ټول مسلمانان سره پرې وروزي او د رسول اللهﷺ کړن لاره تل تازه او ژوندۍ وساتي، ځکه دا لوړ مقام د پيغمبر نه وروسته علماووته الله تعالى ورکړئ دئ، نو دوى ته سايي چې حق يې پرځاى کړي او د پيغمبر غوندې خپلو ولسونوته چراغونه وکړي او خلک د هر ډول انحراف، ګمراهۍ او د بد مرغۍ نه د الله تعالى په مرسته خلاص کړي او په سمه لارې چې د جنت لار ده وخوځوي، ترڅو د قيامت په ورځ سپين مخي د خپل لوى څښتن پر وړاندې ودرېږي.

{د يهودو مذهبي مشرانو خرو غوندې دروند پيټئ پشا دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د يهودو احبارو او مذهبي مشرانو يو سپک تصوير او رسوا کونکئ انځور زمونږ مخې ته ايښئ دئ او دوى يې کلک غندلي دي، ځکه دوى د الله نه ورته راغلي کتاب (تورات) حق خلکوته په سم رسولو سره پرځاى نکه او فرمايلي دي:

﴿مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلۡحِمَارِ يَحۡمِلُ أَسۡفَارَۢاۚ بِئۡسَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ

ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥﴾ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٦﴾ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧﴾ قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

[٥] هغو کسانوته چې تورات ور پشا سوئ دئ، خو دوی ور باندې عمل ندئ کړئ، نو د دوی مثال او بیلګه؛ هغه خره ته ورته ده چې ډیر کتابونه ور باندې بار وي [خو خر نه پوهیږي چې څه شئ یې پشا کړي دي] او دا بیلګه هغو کسانوته چې د الله کتاب آیتونه یې دروغ و بلل او عمل یې ور باندې ونکه؛ ډیره بده بیلګه او مثال دئ [یعنی دا ظالمان چې د الله اطاعت او بنده ګی پولو نه اوښتی دي؛ ډیر بد خلک دي] او ظاالمانو او کافرانوته الله په سمه لار د تګ توفیق نه ورکوي، یعنی داچې دوی د الله تعالی پیرزو ینو لائق ندي، ځکه د الله په حکمونو باندې یې تیرئ کړئ دئ او هغه یې د پښو لاندې کړي دي.

[٦] نو ته ای پیغمبره! [پر یهودو باندې غږ وکړه او ورته] ووایه: ای یهودو! که تاسې ګمان کړی چې یوازې تاسې پرته د نوروخلکونه په ر یښتیا سره د الله ملګري او دوستان یاستی! نو که تاسې ر یښتیاو یونکو نه یاستی؛ مرګ وغواړي، یعنی ترڅو د الله تعالی ثوابونه ژر وګټی!

[٧] خو یهود[د خپلو بدو کړنو د و یرې نه چې مخکې یې کړي دي] هیڅ کله هم د مرګ او مړ ینې هیله او دعاء نکړي، ځکه الله پرظالمانو ښه پوه دئ، یعنی نو د یهودو پوهانو غوندې بې عمله پوهانو سره کلک حساب کړي، او چاچې خپله دنده سمه سر ته نه وي رسولې سزا ورکوي.

[٨] او ته ای پیغمبره! یهودو ته ووایه: هغه مرګ چې تاسې ورڅخه تښتی؛ هغه یقینا د ستاسې سره یوځای کیدونکئ دئ او بیا تاسې هغه خدای الله ته ورګرځول کیږی چې په پټو او ښکاره ټولو شیانو باندې ښه

پوه ذات دئ، نو بيا تاسې الله د خپلو هغو کړنو نه خبروي چې په دنيا کې مو کړلې، يعنی د ستاسې ټولو کړنو کتاب درته مخکې ايښودل کيږي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د يهودو هغه مذهبي مشران غندلي دي چې دوی د تورات آيتونه او حکمونه خلکوته ندي رسولي، او بيا دوی الله تعالی په خپلو هغو و يناوو او خبرو ننګولي دي چې و يل يې: مونږ د نورو خلکو نه پرته يوازې د الله ملګري او دوستان يو، نو بيا دوی ته د پيغمبر ﷺ په خوله الله تعالی؛ پيغام ورکړئ دئ چې که تاسې ر يښتيا وايي، نو ژر مرګ وغواړی، ترڅو د الله ثوابونوته چټک ورسيږی، خو يهودو چې پخوا ډير بد کارونه کړي دي؛ هيڅ کله ژر مرګ نه غواړي، ځکه دوی پوهيږي چې الله تعالی د دوی سره کلک حساب کړي، نو درندو دوستانو! دعاء کړو چې مونږ مومنان ده الله تعالی د دغسې بد او تور سر نوشت او بد برخليک نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي او په خپل دين کې ده اخلاص او صداقت زمونږ په برخه کړي! اللهم آمين.

{مومنان ده د جمعې ورځې خطبې ته په منډه لاړ سي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د جمعې لمانځه اړوند حکمونه او لارښودنې مومنانوته ياد کړي او بيان کړي دي او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٩ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٠ وَإِذَا رَأَوۡاْ تِجَٰرَةً أَوۡ لَهۡوًا ٱنفَضُّوٓاْ إِلَيۡهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمٗاۚ قُلۡ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ مِّنَ ٱللَّهۡوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِۚ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١﴾

[۹] ای مومنانو! کله چې د جمعې ورځې لمانځه اذان غږ پورته سه، نو د الله ذکر او رايادولو او لمانځه کړلوته په منډه لاړ سی، او خرڅول او اخستل (پلورل او راپر ييل) پر يږدئ، ځکه که تاسې پوهيږئ پدې کې د

ستاسې خير او کټه ده.

[۱۰] نو بيا چې کله د جمعې لمونځ وسه، نو تاسې په ځمکه کې خواره سئ او د الله فضل نه خپله روزي وغواړئ او الله ډير ياد کړئ، ترڅو وړونکي او بر يالي سئ، يعنی د دنيا آخرت نيکمرغي مو په برخه سي.

[۱۱] ای پيغمبره! او کله چې ځينو مومنانو د سوداګرئ کاروان په غلو بار وليده چې ښار ته راننوت، نو بيا دوی ته ای پيغمبره! همداسې په خطبه کې ولاړ پر يښودلې [يعنی دوی د سوداګرو کاروان پسې خواره سول او پيغمبريې همداسې د جمعې لمانځه په خطبه کې وړال پر يښود] نو ته ای پيغمبره! دغو خلکو ته ووايه: هغه ثواب چې د الله سره دئ؛ هغه د سوداګرئ مال او غلو نه او د دنيا هوسونو نه ډير ښه او غوره مال دئ، او الله ښه لوی روزي ورکونکئ ذات دئ، يعنی ای مومنانو! تاسې ته نه ښاييدل چې د جمعې لمانځه خطبه پر يردئ او د غلو کاروان پسې ووځئ.

عزتمنو مومنانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې لمړئ مومنان د جمعې لمانځه خطبې اور يدلوته کلک رابللي دي، ځکه په خطبه کې د الله حکمونه او لارښودنې بيانيږي او بيايې هغه کسان غندلي دي چې دوی يوه ورځ رسول الله ﷺ د جمعې لمانځه په خطبه کې ولاړ پر يښود، او دوی د هغه سوداګر يځ کاروان پسې را ووتل چې هغه د مدينې ښار ته په غلو بار راننوت، ځکه دوی د ولږې ډيرو ستونزو سره مخامخ ول، نو کله چې يې د تجارت کاروانيانو غږ واور يده بې صبره سول او کاروانيانو پسې خواره سول او ډير لږ مشران صحابه د رسول الله ﷺ سره پاتې سول او بيا د خطبې اور يدلونه وروسته يې د جمعې لمونځ وکه، نو بيا د دغو خلکو ګوښلو لپاره دا مبارک آيت را نازل سه، ترڅو دغسې پيښه بيا تکرار نسي او مومنان د روزئ لپاره په خپل رب باندې چې هغه د دوی حقيقي رازق او ښه پالونکئ لوی ځښتن دئ؛ کلک توکل او باور ولري.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت

استغفرك وأتوب إليك.



د المنافقون سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د المنافقون سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

ګرانو مومنانو! د المنافقون مبارکه سوره مدني سوره ده او پکې الله تعالی د منافقانو زړونو نه خپل پیغمبر او مومنان خبر کړي دي او د دوی دوه مخي چلند نه یې پرده پورته کړې ده او کلک یې رسوا کړي دي او د منافقانو کرکجن خو یونه یې مومنانوته ور پیژندلي دي، ترڅو مومنان په منافقانو ونه غولیږي او په کلکه و ښتیا او په پوره احتیاط هغوی سره وچلیږي، او دغسې لارښودنې او سپارښتنې د پام وړ دي، ځکه چې بشري ټولنه تل د منافقانو نه په ډول ډول نومونو او شعارونو ډکه وي، نو مومنانوته ښایي چې هغوی ښه و پیژني او د شر نه یې ځانونه په پوره هوښیارۍ، و ښتیا او ز یرکۍ سره وساتي، لکه څنګه چې پدې وروستیو څه باندې څلو یښتو کلونوکې د (۱۳۵۷هش کال نه تر ۱۴۰۰هش کال وړې برجه پورې) منافقانو په خپل نفاق سره افغان مومن ولس په یوه لوی او دراندې و یرکې غورځولې او برمته کړې ؤ، او د خارجي یرغل په مټ د خونړ یو جګړو لو یه لړۍ پکې روانه وه، ترڅو چې الله تعالی په خپل لوی قدرت او رحمت سره؛ یرغلګر ټول مات کړل او لاس پوڅي یې هم ورسره یوځای داسې کړه سول چې یو لوی تار یخي پیغوریې شا ته پر یښود.

درنډو وروڼو! الله تعالی د المنافقین سورې په پیل کې د اسلام لوی پیغمبر محمدﷺ ته په و ینا کې فرمایلي دي چې منافقان په یقین سره دروغژن دي، نو د هغوی نه د صدقت طمعه نکیږي او فرمایلي دي:

{الله شاهد دئ چې منافقان یقینا دروغژن دي}

﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۘ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ

وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ١ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٣ * وَإِذَا رَأَيۡتَهُمۡ تُعۡجِبُكَ أَجۡسَامُهُمۡۖ وَإِن يَقُولُواْ تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡۖ كَأَنَّهُمۡ خُشُبٞ مُّسَنَّدَةٞۖ يَحۡسَبُونَ كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٤

[١] ای پیغمبره! کله چې منافقان تا ته راغلل، نو دوی وو یل: مونږ شاهدي وایو چې ته یقینا د الله استازئ او پیغمبرېې، هو! الله پوهیږي چې ته ای پیغمبره په یقین سره د الله پیغمبر او استازئ یې او الله شاهدي وایي چې منافقان یقینا کلک دروغژن دي، یعنی څه چې دوی په خوله وایي په زړونوکې ور باندې باور نلري او پرې کافران دي، خو د و یرې او طمعې نه د زړو خبره پټوي، خو الله د دوی په زړونو ښه پوهیږي چې منافقان کلک دروغژن دي!

[٢-٣] او دغو منافقانو خپلې لورې او قسمونو ډال یا زغر کړځولي دي، ترڅو ځانونه پرې وساتي، نو خلک منافقانو د الله لارې نه منعې کړل، یعنی منافقانو د مومنانو په غیبت کړو سره د خلکو په زړونو کې شکونه را واچول، ترڅو ایمان را نوړي، او یقینا هغه څه چې منافقانو کړل ډیر بد کړل ول، ځکه چې دوی [په ښکاره] ایمان راوړ، خو بیا په زړو کې همداسې کافران پاتې سول، نو بیا د دوی په زړو باندې ټاپه ولږ یدله او مهر سول، نو دوی په خبره ښه نه پوهیږي، یعنی ایمان د منافقانو زړو ته ندئ ورننوتلئ، نو دوی په خوله مومنان دي، خو په زړوکې کافران دي.

[٤] او کله چې ته ای پیغمبره! دغه منافقان وو یې [یعنی ښه ز یر ورته وکوري او ښه یې حالت وخیږي] نو د دوی جکې وني او لوړې تنې او ښکلې څیرې د ستا خوښیږي، خو کله چې وغږ یږي او څه ووایي، نو و یناوو ته یې ته غوږ باسې او هغه اوري [خو داچې د دغو منافقانو زړونه د ایمان نه خالي دي] نو دوی، لکه هغسې لرګي دي چې دیوالونو ته تکیه سوي

پراته وي، او هره نعره چې پورته کيږي منافقان د هغه خپلو ځانونو پرضد انګيري، او ای پيغمبره! منافقان د ستا ر يښتني دښمنان دي، نو پام کړه او ځان وساته، او منافقان چې کمې خواته اوړي را اوړي الله ده دوی هلاك او تباه او بد مرغه کړي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د منافقانو حقيقي ځيره؛ کلکه رسوا کړې ده او د هغوی بد خو يونه او کينه کښې نيتونه يې مومنانو ته لوڅ کړي دي او دوی الله تعالی رسول اللهﷺ او د هغه ملګرو صحابوو ته ښه ور پيژندلي دي، ترڅو مومنان پردوی ونه غوليږي او تل د هغوی پروړاندې و يښ وي او خپل ځانونه؛ د منافقانو شر نه کلک وساتي، او يقينا چې د منافقانو دا ستونزه په مدينه منوره کې او د رسول الله ﷺ په ژوند کې پيل سوي ده او تر اوسه اسلامي ټولنې ورڅخه کلکې کړ يږي، او اسلام پاله دعات او علماء هيڅ کله د دوی د شر نه په امن کې ندي، نو ښايي چې په پوره حکمت سره امت د منافقانو شرارت نه چې دوی تل خپلې ځيرې بدلوي؛ وساتل سي او د منافقانو بد خو يونه او کړغيړنې تورې ځيرې مومنانو ته ښې ورو پيژندل سي، لکه څنګه چې الله تعالی په قرآن کر يم کې منافقان مونږ ته په وار وار سره ښه راپيژندلي دي، او د دوی پټې ځيرې يې راته ښې رسوا کړې او لوڅې کړې دي، او د دوی هلاکت او تباهي يې غوښتې ده، او يقينا چې دا د الله تعالی تل پاتې سنت او نظام دئ، او الله تعالی منافقان تل په دنيا کې مخکې د آخرت ورځې راتګ نه رسوا کړي او ذليل کړي دي، او د دوی لنډ مهاله بر يا او برلاسئ پرمومنانو باندې ژر تيريدونکئ دئ او پرته د کمې لاس ته راوړنې له منځه ځي او دوی به د الله تعالی په حضورکې مختورن در يږي!

{د منافقانو زړونه مومنانو سره د کينو نه ډک دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی همداسې د منافقانو کرکجن خو يونه مونږ ته ياد کړي او راپيژندلي دي او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ يَسۡتَغۡفِرۡ لَكُمۡ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوۡاْ رُءُوسَهُمۡ وَرَأَيۡتَهُمۡ

يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ۝٥ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ۝٦ هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا۟ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا۟ ۗ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ ۝٧ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ ۚ وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۝٨

[٥-٦] او کله چې دغو منافقانو ته وو يل سي چې راسئ رسول الله تاسې ته د ستاسې د بدو کړنو او کرکجنو و يناوو ښښنه د الله نه وغواړي، نو بيا دوی خپل سرونه د کبر نه واړول او دوی ای پيغمبره! تا وليدل چې په ډير کبر سره د ستا بلنه نه مني او غاړه جګه وړي، نو ای پيغمبره! که ته دغو منافقانو ته ښښنه وغواړي او که وې نه غواړي؛ دواړه سره برابر دي [يعنی الله دوی نه ښښي] او يقينا چې فاسقانو ته په سمه لار د تګ توفيق الله نه ورکوي، يعنی دا ځکه چې دوی د هدايت او د ښښنې لائق ندي.

[٧] او همدا منافقان هغه کسان دي [چې د مدينې خلک لمسوي او ورته] وايي چې د رسول الله ملګرو ته خرڅ او خواړه مه ورکوی، ترڅو دوی تيت سي [يعنی هرې خوا لاړ سي او د مدينې نه ووځي] خو منافقان نه پوهيږي چې د ځمکې او اسمانو خزانې د الله په واک دي، يعنی الله تعالی هر چا ته د هغه ټاکل سوې روزي ورکوي.

[٨] او منافقان وايي چې که چيرې مونږ مدينې ته بيرته وروګرځيدلو، نو بيا به خامخا ډير عزتمن سړي ډير خوار سړي؛ د مدينې نه و باسي، خو منافقان نه پوهيږي چې عزتمن الله او د هغه پيغمبر او مومنان دي نه منافقان، يعنی لکه څنګه چې دوی انګيري.

درندو مومنانو! د ز يد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت سوئ دئ چې دوی په يوه غزا کې چې هغه د بني مصطلق غزا وه؛ د مدينې نه ووتل او هلته د خورو

کمښت سره مخامخ سول او بیا د ځینې مهاجرینو او انصارو په منځ کې یو بل سره په خولو اچولو سره خفتیان او جنجال راپیښ سه، نو بیا چې کله د منافقانو مشر عبدالله بن ابئ بن سلول خبر سه؛ نو د مهاجر ینو سره د هغه ډیرې کینې نه د خپل قوم خلکو ته وو یل: د رسول الله ملګروته څه شئ خرڅ او خواړه مه ورکوی، نو بیا ز ید بن الارقم رسول اللهﷺ ته ورغئ او د منافقینو مشر د کرکجنو خبرو نه یې رسول الله ﷺ خبر که، خو کله چې دئ رسول اللهﷺ را وغوښت، نو هغه ز ید بن الارقم دروغژن و ګانه، نو بیا د ز یدرضی الله عنه تصدیق لپاره الله دا مبارك آیتونه را نازل کړل.

هو؛ ګرانو مومنانو! عبدالله بن ابئ د منافقانو مشر د رسول اللهﷺ هجرت نه مخکې امیدوار او هیلمن ؤ چې د مدینې خلک به دئ خپل مشر وټاکي، خو بیا چې کله رسول اللهﷺ د خپلو صحابوو سره مدینې ته هجرت وکه؛ د هغه خو بونه دروغ وختل او د قوم مشري یې په برخه نه سوه، نو د ډیرې کینې نه یې د نفاق لار خوښه کړه، خو رسول الله ﷺ به تل د هغه پر وړاندې د پاخه زغم نه کار اخست او هیڅ کله یې هغه ته کمه سزا ورنکړه، ترڅو چې مړ سه او د مومنانو سزا ورکولو نه خلاص سه، خو د هغه زوی چې هغه هم عبدالله نومیده؛ کلک مومن ؤ، نو کله چې د هغه پلار په دغه پیښه کې د ګواښ لاندې راغئ، نو عبدالله رسول الله ﷺ ته راغئ او د رسول اللهﷺ نه یې وغوښتل او و یو یل: که چیرې ته ای پیغمبره! د زما پلار ته هره سزا ورکوي؛ زه تیار یم چې د ستا حکم پرځای کړم، ترڅو د تر برو ننګونو نه خلاص سم او خپل ابا د هغوی په لاس خوار سوئ ونه و ینم، نو بیا رسول اللهﷺ هغه ته ډاډ ورکه او د هغه پلار ته یې هیڅ سزا ورنکړه، نو ټولو اسلام پالو دعاتو ته ښایي چې په خپله ټولنه کې د منافقانو سره همداسې په حکمت سره وچلیږي او د هغوی پر وړاندې بې صبره نسي او داسې څه ونکړي چې فتنې را و پاروي او ټولنه د ګواښ سره مخامخ سي او بیا کورنۍ ستونزې راپیښې سي.

{مومنان که دنیا د الله یاد نه غافل کړل نو ز یانمن به سي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنان د مال، دولت او د کوول فتنو نه کلک کواښلي دي او ورته يې سپارښت کړئ دئ چې د خپل مال نه ده څه برخه د الله په لارکې ورکړي او بې وزره کسانو سره ده، لکه د مکې مهاجر ین مدینی ته؛ مالي مرسته وکړي او خیراتونه ده ورکړي او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩ وَأَنفِقُواْ مِن مَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٠ وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَاۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١١﴾

[۹] ای مومنانو! د ستاسې مال، دولت او کوول تاسې د الله ذکر او عبادت نه بلې خوا ته وا نه ړوي او ستاسې نه الله هیر نکړي او که څوک دغسې وکړي [یعنی د الله عبادت پدې پلمه هیر کړي چې دئ د خپل مال، دولت او کور کوول چارو په سمبال کې لګیا ؤ] نو دوی د بایلونکونه دي، او ډیر تاوان يې کړئ دئ.

[۱۰-۱۱] او ای مومنانو! مخکې له هغې چې ستاسې نه یو چا ته مرګ راسي؛ دئ ده د هغه مال نه چې ما تاسې ته روزي کړئ دئ محتاجو کسانو ته خرڅ او خیرات ورکړي، ځکه چې بیا به دا مړ سوئ سړئ وایي چې ای خدایه! ولی ده زه د لنډ وخت پورې ونه زنډولم، نو بیا به ما خیرات کړئ ؤ او زه به د ښو خلکو نه وم، او کله چې د چا اجل راسي، نو الله هیڅ څوک نه زنډوي [یعنی وخت نه ورکوي چې ښه وکړي] ځکه چې ای خلکو! ستاسې پرکړنو باندې الله ښه پوهیږي، یعنی الله تعالی خبر دئ چې څوک څه کړي؟ نو بیا هر چا ته الله د ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي، ترڅو عدالت قائم سي.

درندو دوستانو! نو هر هوښيار بنده ته ښايي چې د مال او کوول په فتنو او د لوی ازمايښت په ليموکې ونښلي او د دنيا او آخرت د ثواب بايلونکونه نسي او هم ښايي د زمونږ پام دې حقيقت ته وي چې د الله تعالی دغسې حکمونه، سپارښتنې او ګواښونه ټولو خلکو ته دي، که څه هم هغه د دغو مبارکو آيتونو د رانازليدلو په وخت کې ځانګړي سببونه او عوامل ولری، ځکه د قرآن په لارښودنوکې د الفاظو عموم معتبر دئ نه د سبب خصوص، لکه دا پورته تلاوت سوي مبارك آيتونه چې د عبدالله بن ابئ ابن سلول منافق په باره کې را نازل سوي دي، خو حکم يې عام دئ، نو د الله تعالی ټول حکمونه همداسې تل عام دي او ټول خلک يې د قيامت ورځې پورې د پوښښ لاندې راځي، لکه څنګه چې د الله تعالی کلام عام لفظونه د دې ښکارندوی دي، مګر داچې تخصيص ور پسې جخت راغلئ وي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مومنانو ته د ښو کړنو توفيق ورکړي او د بدو کړنو نه ده دوی الله په خپل فضل او رحمت سره وساتي!

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك واتوب إليك.



د التغابن سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د التغابن سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

ګرانو دوستانو! د التغابن مبارکه سوره د ډيرو مفسر ينو په و ينا مدني سوره ده او الله تعالى د دې مبارکې سورې په لمړ يو آيتونو کې؛ خلک په دو برخو و يشلي دي:[کافران او مومنان] او منافقان په دغو دوه ډلو کې شامل دي، ځکه دوی په زړوکې کافران او په خولو مومنان دي، نو ځکه دوی الله تعالى دلته بيل کړي نه دي، لکه څنګه چې د البقرې سورې په پيل کې يې سره بيل کړي دي او د هغوی ټول بد صفتونه او خو يونه مونږ ته الله تعالى بيان کړي او په نښه کړي دي، او همدارنګه د التغابن په مبارکه سوره کې الله تعالى د قيامت ورځې په راتګ باندې ټينګار کړئ دئ او ټول خلک يې ګواښلي دي چې ښايي د دنيا مال او کهول دوی د آخرت ورځې نه غافل نکړي، او دا مبارکه سوره په التغابن، ځکه نومول سوې ده چې د (يوم التغابن) نه مقصد او مراد د قيامت په ورځ د خيانتونو را لوڅيدل او رسوا کيدل دي، او الله تعالى د دغې لويې ورځې حساب نه ټول خلک او په ځانګړي ډول کافران کلک ګواښلي دي، او د قيامت ورځې په يقيني راتګ باندې يې کلک ټينګار کړئ دئ او يقينا چې د قيامت په راتګ باور کړل؛ د ايمان لوی رکن دئ، او د التغابن سورې په پيل کې الله تعالى مونږ د خپل عظمت نه په اسمانونو او ځمکه کې خبر کړی يو او بيايې د الله تعالى ستاينې ته يې رابللي يو او فرمايلي دي:

{په ځمکه او اسمانو کې ټول خلک الله ستايي}

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ وَمِنكُم مُّؤۡمِنٞۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ

بَصِيرٌ ﴿٢﴾ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٣﴾ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٤﴾

[۱] هو! ټول هغه مخلوقات چې په اسمانونو او په ځمکه کې میشت دي؛ الله په پاکۍ سره ستایي، ځکه چې ټوله واکمني او ستاینه؛ یوازې الله لره ده او الله په هرڅه قادر لوی ذات دئ، یعنی الله تعالی چې هرڅه وغواړي هغسې کړلا سي، نو یوازې دغه لوی رب الله د ستاینې لائق او مستحق؛ لوی ذات دئ چې ښایی یوازې د هغه عبادت او بنده کې وسي.

[۲] او الله هغه څوک دئ چې تاسې یې ای خلکو! پیدا کړی، نو بیا د ستاسې نه څوک کافران سول او څوک مومنان او د ستاسې پر ټولو کړنو الله ښه بینا او لیدونکئ دئ، یعنی هرڅه د الله تعالی کلک څار لاندې دي.

[۳] ای خلکو! او ځمکه او اسمانو نه الله په حق سره پیدا کړل [یعنی په کلک تدبیر سره یې پیدا کړل] او د ستاسې انځورونه یې په ښایسته او ښکلو څیرو کې تصویر او پیدا کړل او بیا د قیامت په ورځ بیرته ورکړځیدل الله ته دي، یعنی د قیامت په ورځ به بیا هر چا ته الله تعالی د هغه لائق ثواب او سزا ورکړي.

[٤] هو! الله په هر هغه څه چې په اسمانونو او په ځمکه کې دي پوهیږي، او ای خلکو! هغه څه چې تاسې پټوی او څه چې ښکاره کوی؛ الله په هغو ټولو باندې پوهیږي او د خلکو په زړونوکې چې څه شئ دي؛ الله ښه په پوه دئ.

قدرمنو مومنانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپل عظمت او لو یتیا مونږ ته بیان کړې ده، ترڅو خپل رب د هغه لوړ مقام سره لائق ښه و پیژنو او په توحید سره یې عبادت وکړو، خو د بده مرغه بیا هم ډیر خلک کافران دي او د الله تعالی عظمت، لو یتیا او توحید په عبادت کې نه مني او ورڅخه کلک منکر دي، خو ځینو نورو ډیرو خلکوا الحمد لله ایمان را وړئ دئ او الله په توحید سره په ر بو بیت او الوهیت کې پیژني

او يوازې د الله بنده کې او عبادت کړي، او د بتانو عبادت نه ځانونه ساتي.

{د قيامت په ورځ بيرته را ژوندي کول الله ته اسانه دي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د اسلام پيغمبرﷺ امت د هغو کافرانو ترخې راتلونکې نه ګواښلئ دئ چې دوی کافران سول او د الله تعالى استازي يې ونه منل، نو بيا الله کلکه سزا ورکړه او فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبْلُ فَذَاقُواْ وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُواْ وَتَوَلَّواْ وَّٱسْتَغْنَى ٱللَّهُ ۚ وَٱللَّهُ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ۝٦ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبْعَثُواْ ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ۝٧﴾

[٥-٦] ای خلکو! آيا تاسی ته د پخوانيو کافرانو خبرونه او قصې رانغلې؟ نو بيا دوی د خپل کفر سزا په دنيا کې وځکله او دوی ته دردونکئ عذاب دئ، او هغه ځکه چې دوی ته يې خپل پيغمبران د ښو او دليلونو سره راتلل [خو دوي نه منل] نو بيا دوی وو يل: آيا د زمونږ غوندي سړي راته لارښودنه کړي؟ نو کافران سول او د پيغمبرانو نه بيرته وګرځيدل [يعنى حق يې ونه مانه] او الله د کافرانو ايمان نه مستغنى دئ [يعنى د دوی ايمان ته الله تعالى هيڅ اړتيا نلري] او الله ښه غني او ستايل سوئ لوی ذات دئ.

[٧] او کافرانو خيال يا ګمان وکه چې دوی هيڅ کله بيرته نه را ژوندي کيږي، نو ته ای پيغمبره! دوی ته ووايه: هو! زما ده په خپل رب الله باندې قسم وي چې تاسې ای خلکو! هرومرو د خپلو ګورونو نه بيرته راجګول کيږي او بيا يقيناچې د خپلو ټولو کړنو نه په دنيا کې خبريږئ او دا کار الله ته ډير اسانه دي، يعنى لکه څنګه چې الله تعالى ټول خلک لمړئ په دنيا کې پيدا کړل؛ همداسې يې د مرګ نه وروسته د قيامت په ورځ بيرته په اسانۍ سره را ژوندي کوي.

{قرآن رښا ده او ايمان ور باندې لکه پر الله او پيغمبر فرض دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې خلک الله تعالى پرالله، پيغمبر او قرآن باندې ايمان راوړو ته رابللې دي او فرمايلي دي:

﴿فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٨ يَوۡمَ يَجۡمَعُكُمۡ لِيَوۡمِ ٱلۡجَمۡعِۖ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٠﴾

[٨] اى خلکو! نو پرالله او د هغه پر پيغمبر او پر هغه رښا (قرآن) باندې ايمان راوړى چې هغه مونږ را نازل کړه او تاسې چې اى خلکو! څه کړى الله ښه پرې خبر او ور باندې پوه دئ.

[٩] اى خلکو! هغه ورځ را په ياد کړى کله چې په هغه ورځ تاسې ټول الله را غونډوي او هغه د تغابن ورځ ده [يعنى د ګټې او تاوان لوڅونکې ورځ ده او په هغه ورځ چې د قيامت ورځ ده؛ د هر چا نه حساب اخستل کيږي او درغلنه او خيانت يې ښکاره کيږي] او هر څوک چې ايمان راوړي او ښه وکړي؛ الله د هغه ګناه وې تو يوي او داسې جنتونو ته يې ورننه باسي چې و يالې تري لاندې بهيږي او دوى به هلته پکې د تل لپاره اوسيږي او هغه ډيره لو يه بر يا او سر لوړي ده.

[١٠] او هغه کسان چې کافران سول او د زمونږ کتاب آيتونه او د قدرتونو نښې او دليلونه يې دروغ و بلل؛ دوى ټول دوزخيان دي او تل به پکې پاتې وي او هغه بده راتکونکې ده.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې کافران د پخوانيو کافرانو په سزا ګانو باندې کلک ګواښلي دي او بيايي د دوى منکر

يدل د قيامت ورځې نه رد کړي دي او دوی يې ايمان راوړو ته پرالله او پيغمبر او پرقرآن باندې چې دوی ته د حق سمه لار ربنا کوي؛ رابللي دي او د قيامت ورځې رسوايې نه يې کلک ګواښلي دي او مومنانو ته الله تعالى د جنتونو ز يري ورکړي دي او کافران يې د دوزخ عذاب نه کلک ګواښلي دي.

{د الله حکم نه پرته هيڅ مصيبت او ستونزه نه پيښيږي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د کافرانو هغه خبرې ردي کړي دي چې دوي و يل: که مومنان پرحق وي، نو بيا ولې زورول کيږي او لوی لوی مصيبتونه ورته رسيږي او د ستونزو سره مخامخ کيږي، نو په ځواب کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١١ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٢ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٣﴾

[١١] هو! هيڅ کم مصيبت او غم او ستونزه چا ته نه رسيږي، مګر د الله په پر يکړه او حکم سره، او هر څوک چې پر الله ايمان راوړي، نو د هغه زړه [بيا ښو کړنو او ښو و يناوو ته] سميږي [يعنى د الله په قدرتي پيښو باندې اعتراض نکړي، بلکې ور باندې خوښ او راضي وي] ځکه الله په هرڅه ښه پوه دئ، يعنى د الله تعالى ټول کړل په پوره علم او حکمت ترسره کيږي.

[١٢] اى خلکو! د الله او د هغه پيغمبر حکمونه ومنئ او اطاعت يې وکړئ، نو که بيا تاسې ايمان را نوړ او د الله او د هغه پيغمبر نه مو مخ واړا ؤ، نو د زمونږ په پيغمبر باندې تاسې ته يوازې د ښکاره پيغام رسول دي، يعنى دا چې نور نو د ستاسې خپله خوښه ده، ځکه پيغمبر خپل رسالت پرځاى که او د الله تعالى دين ته يې تاسې راو بللى او هغه يې تاسې

ته ښه پوره ورسا ؤ او ور باندې يې پوه کړې او بيايې ښه ور باندې وروزلې!

[١٣] د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته، نو مومنان ده يوازې پرالله باندې توکل او اعتماد وکړي.

ګرانو مومنانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې مونږ ته د رسول اللهﷺ د رسالت څرنګوالئ ډير روښانه بيان کړئ دئ او مقصد يې خلکو ته؛ يوازې د دين تبليغ دئ نه دا چې هغه به پرخلکو باندې په زور مني، لکه ځينې هغه ډلې چې دا اوس اوس غواړي اسلام پرخلکو باندې په زور ومني، ځکه اسلام عقيده او د زړه مننه ده او په زړونو باندې د الله نه پرته بل هيڅ څوک واکمن ندئ، نو ښايي چې اسلام ته رابلونکې دعات د الله تعالى دغسې لارښودنې؛ هيڅ کله د پام نه ونه غورځوي او مخالفت يې ونکړي او د زور ځواکې نه د الله دين ته د دعوت په لار کې کار وانخلى، او بيا چې کله پيغمبرﷺ د مدينې منورې په اسلامي مستقله ټولنه کې واکمن سه، نو بيا د هغه وظيفه د تبليغ، تعليم او د روزنې په څنګ کې؛ د شرعي حکمونو نافذولو او تطبيق ته وغز يدله او رسول اللهﷺ او بيا د هغه راشدينو خليفه ګانو د شر يعت ټولو حکمونو نه کلکه څارنه کړه، او دا حکم د قيامت ورځې پورې همداسې جارې او تل پاتې دئ او تبليغ او بيان يوازې د تعليم او زده کړې په مقصد ترسره کيږي، او هغه کسان چې په اسلامي ټولنه کې ژوند کړي؛ د دوى سره د دوى اړوند شرعى قانون چلږي او د اسلام واکمنۍ نه بهر په نورو ټولنوکې بيا د هر هيواد قانون سره سم اسلامي دعوت او شعائر پرځاى کيږي، لکه څنګه چې يې بيلګې په ارو پا، امريکا، استراليا او د نړۍ په اوسني ټول نظام کې و ينو.

{مومنانو ته ښايي د خپلې کورنۍ شر نه ځانونه وساتي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنانو ته ډيرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، لکه د کورنئ غړو شر نه ځان ساتنه او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا

لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡۚ وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤ إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ١٥ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ وَأَنفِقُواْ خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡۗ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٦ إِن تُقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعِفۡهُ لَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ١٧ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٨

[١٤] ای مومنانو! د ستاسې نه ځيني ميړونه او ميرمني او ځيني کوول د ستاسې دښمنان دي، نو پام کړئ چې تاسې ونه غولي [يعنی د الله اطاعت او بنده ګی نه تاسې منعې نکړي] او که تاسې يو بل ته عفوه وکړئ او سره تير سی او يو بل و بښئ، نو يقينا چې الله لوی بښونکئ او ښه لوی مهر بان ذات دئ، يعني الله تعالی د ستاسې په عفوې او د يو بل نه په تيريدلو باندې خوښيږي.

[١٥] هو! ای مومنانو! يقينا چې د ستاسې مال او کوول تاسې ته لوی ازمايښت دئ او تاسې ته د الله سره ډير لوی ثواب دئ، يعنی څوک چې خپل کوول ته د الله تعالی د دين حکمونو سره سم ښه پاملرنه او ځارنه وکړي؛ هغه ته الله تعالی ډير ثوابونه ورکوي.

[١٦] نو ای مومنانو! څومره چې د ستاسې وسعه کيږي د الله عذاب نه ځانونه وساتئ، حکمونه يې واورئ، فرمان يې يوسئ او خيراتونه ورکړئ، ځکه په خيرات ورکولوکې تاسې ته خير دئ، او هر هغه څوک چې د خپل نفس بخيلئ نه ځان وساتي، نو دئ وړونکي او بر يالئ دئ، يعنی ښه ګټه کړي او د دنيا او آخرت ښادي او نيکمرغي ګټي.

عزتمنو مومنانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې مومنان خيرات ورکولو ته هڅولي دي او هغه يې د الله سره د قرض حسن په نامه ياد کړئ دئ، خو دا شرعي تکليف، لکه نور شرعي واجبات د استطاعت او د هر چا وسعې سره تړي دي، ځکه الله تعالی هيڅ کله مومنان پرداسې يو

څه ندي کمارلي چې طاقت او وسعه يې نلري.

[١٧] ای مومنانو! او که تاسی د الله سره حسنه قرض وکړی، نو الله تاسې ته هغه مال دوه برابره ډيروي او د ستاسې ګناه درته ببښي، ځکه الله ډير شکر و يستونکئ او ښه حکيم زغمونکئ حليم ذات دئ، يعنی بنده ته د هغه د شکر و يستلو ثواب پوره ورکوي.

[١٨] او الله په پټو او ښکاره ټولو شيانو باندې پوهيږي او لوی ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ، يعنی الله تعالی هرڅه په لو يه ځواکمنۍ او په پاخه حکمت ترسره کوي.

قدرمنو عز يزانو! نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته توفيق راکړي، ترڅو د الله کلام (قرآن) په دغسې ارزښتناکو لارښودنو چې هغه مونږ ته ډيره ګټه لري؛ عمل وکړو، ځکه دا مبارك آيتونه ټولو خلکو ته او په ځانګړي ډول مومنانو ته؛ د الله تعالی ډيرې ارزښتناکه سپارښتنې او کلکې لارښودنې دي او عملي کول يې په هر وخت او په هرځای کې هر مومن بنده ته د نجات او خلاصون بيړی ده، او بيا يې په ژبا کې د قيامت په ورځ د الله تعالی لو يو جنتونو ته ورننوتل او د الله خورو ورو نعمتونو او پيرزو ينو نه برخمن کيدل دي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الطلاق سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان ذات دئ پيل کيږي]

{د الطلاق سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو وروڼو او خو يندو! د الطلاق مبارکه سوره مدني سوره ده او پکې الله تعالى رسول اللهﷺ ته په و ينا کې د طلاق حکمونه او شرعي آداب بيان کړي دي، او د الله تعالى عذاب و يرې نه يې ورته په تقوا او د ځان ساتنې کلک سپارښت کړئ دئ، ځکه که د ميړه او ميرمنې په منځ کې د طلاق او بيلتون په باره کې د الله تعالى نه و يره او تقوا په پام کې ونه نيول سي، نو دا بيلتون به هغه کورنۍ چې په کلک شرعي مزي سره تړل سوې ده؛ ټوټه کړي او ډيرې ترخې پايلې به شا ته پر يږدي چې بيا هغه ټوله ټولنه د کلکو ګواښونو سره مخامخ کولای سي، نو ځکه الله تعالى د کورنۍ ژوند ډيرې مسئلې مونږ ته د قرآن کر يم په بيلو بيلو سورو کې يادې کړې دي، او ښې روښانه يې راته بيان کړې دي، ترڅو د کورنۍ ژوند ټولې چارې د الهي سپارښتنو په رڼا کې تنظيم او سمبال سي او مومنان خپل ځانونه ورباندې هوډمن او متعهد و بولي، او د دغو ټولو مسئلو بيان په پيل کې الله تعالى پدې مبارکه سوره کې رسول الله ﷺ ته فرمايلي دي:

{مومنان ده خپلې ميرمنې د عدت ورځو په پاکۍ کې طلاق کړي}

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحۡصُواْ ٱلۡعِدَّةَۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡۖ لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١ فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمۡسِكُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ فَارِقُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖ وَأَشۡهِدُواْ ذَوَيۡ عَدۡلٖ مِّنكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ

يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ۝٣

[١] ای پیغمبره! کله چې تاسې خپلې ښځې طلاق کړې [یعنی کله چې تا ای پیغمبره! او مومنانو د خپلو میرمنو سره د بیلتون او طلاق پر یکړه وکړه] نو د عدت تیرولو لپاره یې په هغه میاشت کې طلاق کړئ [چې میرمنې مو د حیض نه نوې پاکې سوې وي او کور داري او ملاسته مو ورسره نه وي سوې] او بیایې د عدت تیریدو شپې او ورځې ښې وشمیرئ او د خپل رب الله نه و و یر یږئ [یعنی حکمونه یې پرځای کړئ] او طلاق سوې ښځې د عدت په میاشتوکې د کورونو نه مه باسئ او طلاق سوې ښځې ده هم د خپلو کورونو نه د عدت تیرولو په شپو او ورځو کې چیرې نه وځي، مګر دا چې کم ښکاره بد کار وکړي [یعنی دا چې په کور کې د کورنۍ نورو غړو سره بد چلند وکړي] او دغه ټول د الله حکمونو پولې دي، او هر چا چې د الله حکمونو پر پولو او حدودو باندې تیرئ وکه، نو هغه پرخپل ځان باندې ظلم او تیرئ کړئ دئ او هغه لا خبر ندئ چې صبا څه پیښیږي؟ ځکه کیدای سي چې د طلاق نه وروسته الله بل څه راپیښ کړي، یعنی کیدای سي طلاق کونکئ میړه پښیمانه سي او خپلې میرمنې ته بیرته وروګرځي او رجوع وکړي.

[٢-٣] او بیا چې کله د طلاق سوو ښځو عدت پوره سه، نو بیا تاسې ای میړو! خپلې ښځې د دود سره سم وساتئ [یعنی بیرته وروګرځئ] او یا د دود سره سم ورڅخه بیل سئ [او دغو طلاق سوو میرمنوته په بیرته ورګرځیدلو باندې او یا ورڅخه په بیلتون باندې] دوه عادل شاهدان خپله د ستاسې منځ نه تیر کړئ، او ای شاهدانو! تاسې د الله رضا لپاره شاهدي ووایي او هغه تاسې ته د الله هغه وعظ او نصیحت دئ چې ور باندې هغو کسانو ته وعظ کیږي چې دوی پرالله او د آخرت په ورځ ایمان راوړئ دئ، او هر څوک چې د الله عذاب نه ځان وساتي؛ الله ورته د

سختی نه د وتلو لار پیدا کوي، او روزي ورته د هغـې خوا نه ورکوي چې هیڅ ګمان او فکر نکړي، او هرڅوک چې پرالله توکل وکړي، نو الله ورته بس دئ، او یقینا چې الله خپل حکم سر ته رسوي، او الله هرڅه ته خپل وخت په یقین سره ټاکلئ دئ، یعنی دا چې دا وخت بیا وړاندې او وروسته نکیږي، نو هیڅ شوک ده د الله په حکمونو او پر یکړو باندې نه خفه کیږي او هغه خبره ده وکړي چې هغه مونږ ته رسول الله ﷺ لابنسودنه کړي ده او هغه دا چې ووایو: هرڅه الله راپیښ کړل او مونږ د الله په حکم راضي او خوښ یو.

{د وچو ښځو عدت درې میاشتې او د بلار بو ماشوم ز یږ یدل دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د جګ عمر میرمنو چې نورې وچې سوې دې او حیض یې در یدلئ دئ؛ عدت بیان کړئ دئ، او همداسې یې د هغو ښځو عدت بیان کړئ چې بلاربې یا حامله دي او فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّـٰٓـِٔی یَىِٕسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِیضِ مِن نِّسَاۤىِٕكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَـٰثَةُ أَشۡهُرٖ وَٱلَّـٰٓـِٔی لَمۡ یَحِضۡنَۚ وَأُوْلَـٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن یَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ وَمَن یَتَّقِ ٱللَّهَ یَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ یُسۡرٗا ٤ ذَٰلِكَ أَمۡرُ ٱللَّهِ أَنزَلَهُۥۤ إِلَیۡكُمۡۚ وَمَن یَتَّقِ ٱللَّهَ یُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَیِّـَٔاتِهِۦ وَیُعۡظِمۡ لَهُۥۤ أَجۡرًا ٥ أَسۡكِنُوهُنَّ مِنۡ حَیۡثُ سَكَنتُم مِّن وُجۡدِكُمۡ وَلَا تُضَاۤرُّوهُنَّ لِتُضَیِّقُواْ عَلَیۡهِنَّۚ وَإِن كُنَّ أُوْلَـٰتِ حَمۡلٖ فَأَنفِقُواْ عَلَیۡهِنَّ حَتَّىٰ یَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ فَإِنۡ أَرۡضَعۡنَ لَكُمۡ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّۖ وَأۡتَمِرُواْ بَیۡنَكُم بِمَعۡرُوفٖۖ وَإِن تَعَاسَرۡتُمۡ فَسَتُرۡضِعُ لَهُۥۤ أُخۡرَىٰ ٦ لِیُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ مِّن سَعَتِهِۦۖ وَمَن قُدِرَ عَلَیۡهِ رِزۡقُهُۥ فَلۡیُنفِقۡ مِمَّاۤ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُۚ لَا یُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا مَاۤ ءَاتَىٰهَاۚ سَیَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ یُسۡرٗا ٧﴾

[٤] ای مومنانو! او هغه میرمنې چې د ستاسې ښځو نه وچې سوې دي او میاشتنئ حیض یې نه راځي او تاسې یې په عدت کې شکمن سوی، نو د

دوی عدت درې میاشتې دئ، او هم هغه [وړې میږونۍ جنکې چې لا ندي پیغلې سوې] او حیض یې ندئ راغلئ؛ د دوی عدت هم درې میاشتې دئ، او د بلار بوو میرمنو عدت د ماشوم په ز یږ یدلو سره دئ [یعنی کله چې میږه خپله بلار به یا حامله ښځه طلاق کړي، نو د هغې عدت د ماشوم په ز یږ یدلو سره پوره کیږي، که څه هم دا ماشوم د درې میاشتونه ډیر د خپلې مور په نس کې پاتې سي] او هر هغه څوک چې د الله نه وو یر یږي او حکمونه یې ومني؛ الله د هغه ژوند چارو سمبال ورته اسانه کوي.

[٥] ای مومنانو! او دا د طلاق او د عدت اړوند مسئلې؛ د الله حکم دئ چې هغه یې تاسې ته رانازل کړئ دئ او څوک چې د الله نه وو یر یږي او تقوا ولري [یعنی د الله عذاب نه په فرمان وړو سره ځان وساتي] الله د هغه ګناه وې تو یوي او ثوب یې ډیروي، یعنی په آخرت کې یې جنتونه په برخه کیږي او د دنیا په ژوند کې ښادیږي!

[٦] ای مومنانو! او خپلې طلاق سوې میرمنې؛ د خپلې وسعې سره سم په هغو کورنوکې درسره کینوی چې تاسې پکې ناست یاستی او د دوی تنګولو په مقصد ورته څه ز یان او ضرر ونه رسوی [یعنی وې نه زوروی] او که دغه طلاق سوې ښځې بلاربې یا حاملې وې، نو تر هغه وخته پورې چې خپل ماشوم وز یږوي؛ خرڅ او خواړه ورکړی او که بیا دوی د ستاسې ماشوم ته ټئ ورکه، نو مزدوري او د شودو بیعه ورکړی او د یو بل سره د دود موافق چلند او مرکه وکړی، او که ماشوم ته د تې ورکولو بیعه تاسې نه درلوده [او یا یې د قیمت په سر جوړ نسوی] نو بله ښځه به ماشوم ته ټئ ورکړي، یعنی داچې ترڅو د ماشوم حق پرځای سي.

[٧] او هر میږه ده خپلې طلاق سوې ښځې ته د خپلې وسعې سره سم خرڅ، خواړه او پوښاک ورکړي او د هغه میږه وسعه او لاس رسئ که په خرڅ ورکولوکې تنګ وي، نو څومره وسعه چې هغه ته الله ورکړي ده؛ د هغې نه ده ورته نفقه ورکړي، او الله هیڅ څوک د خپلې وسعې نه په ډیر څه ندي مکلف کړي او سختی پسې وروسته الله اساني راولي، یعنی دا چې مومنانو ته ښایي هیڅ کله د الله تعالی پیرزو ینو نه ناهیلې او مایوس نسي.

درندو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د کورني ژوند په يوه ډيره اړ ينه برخه کې چې هغه طلاق او عدت دئ ډير غوره نظام او تک لاره مومنانو ته ښـــودلي ده او په اجرا کولو ســـره يې کورنۍ او ټولنه ټول ښـادیږي او ټولنيز عدالت او انصـاف پکې تر سـره کیږي او د ظلم او تيري مخه کلکه نيول کیږي او د ښـځو حقوق په الهي ســاتنې ســره کلک ســاتل کیږي، او يقينا چې دا قانون د ښـــځو حقوقو په ســـاتنه کې ډير غوره او بشري ټولنې ته د هوسا ژوند لوی پيغام دئ.

{څوک چې د الله او پيغمبر حکمونو نه سرکښي کړي سز ابې ګالي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې هغه کسـان چې د الله په حکمونو عمل نکړي او ورڅخه سـرکښي کړي؛ الله تعالى په ډيرو کلکو سـزا ګانو ګواښـلی دي او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبْنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾ رَّسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزْقًا ﴿١١﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ ۖ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿١٢﴾﴾

[٨-٩] [اى خلکو!] او د هيڅ کم کلي[او ښـار] اوسـيدونکو د خپل رب او د هغه پيغمبر حکمونو نه ســرغړونه ونکړه، مګر دا چې مونږ ورســره کلک حسـاب وکه او ډيره بده سـزا مو ورکړه، نو بيا د دې کلي خلکو خپله سزا وڅکله او د ټولو راتلونکي بايلنه او تاوان ؤ، يعنى دوى ز يانمن سول.

[۱۰-۱۱] [او د قیامت په ورځ] الله دوی ته کلک عذاب تیار کړئ دئ، نو ای هوښیارانو! تاسې چې ایمان راوړئ دئ د الله نه وو یر یږئ او خپل ځانونه د الله عذاب نه وساتئ او پدې پوه سئ چې تاسې ته در یادونکئ کتاب (قرآن) الله په یقین سره رانازل کړئ دئ او داسې استازئ او پیغمبرې درته رالیږلئ دئ چې هغه د الله کتاب آیتونه تاسې ته لولي، ترڅو هغه کسان چې مومنان سول او ښه یې وکړل؛ د کفر تورو تیارو نه د ایمان ژړا ته را و باسي، او هغه څوک چې پر الله ایمان راوړي او ښه وکړي؛ دوی الله داسې جنتون ته ورننه باسي چې و یالې ترلاندې بهیږي او دوی پکې تل اوسیږي او دوی ته الله ښه روزي په برخه کړي ده.

[۱۲] هو! الله هغه څوک دئ چې او وه اسمانونه یې پیدا کړل او ځمکه یې هم د اسمانونو غوندې پیدا کړه [یعنی ځمکه یې یوه په بله باندې او وه پوړه پیدا کړه] او په ځمکه او اسمانو کې د الله حکم را نازلیږي، ترڅو تاسې ای خلکو! پوه سئ چې الله د هر کار په کړو باندې قادر دئ، او په هرڅه باندې الله علم او پوهه لري، یعنی د الله تعالی علم او پوهې نه هیڅ څوک او هیڅ کم څه وتلي ندي او د الله علم د الله پرخوروور مخلوقاتو په هرڅه باندې را ګرد دئ.

ګرانو مومنانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپل مومنان بنده ګان جنتونو ته د ورتګ په ز یرو ورکولو او د عذاب نه په ګواښلو سره؛ د خپل خدای الله اطاعت او فرمان وړو ته رابللي دي، ځکه الله د ډیرو لو یو قدرتونو څښتن دئ او ځمکه او اسمانونه او پکې خواره واره؛ ټول مخلوقات الله پیدا کړي دي او الله په هرڅه پوهیږي او د هرکار کړو وسعه لري، نو ښایي چې مونږ د الله تعالی سخت عذاب او د کلکې سزا نه خپل ځانونه د الله نه په اطاعت کړو او په صادقانه بنده ګې سره وساتو او هم یې د هر ډول سرکښئ نه ځانونه کلک وساتو، ترڅو د سرکښو ولسونو غوندي د تور برخلیک سره مخامخ نسو او د دنیا او آخرت نیکمرغۍ بایلونکي ونه ګرځو او د الله تعالی جنتونو نه محروم نسو.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى

آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...



د التحريم سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د التحريم سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

ګرانو دوستانو! د التحريم سورې مبارکه سوره مدني سوره ده او پکې الله تعالى د محمد ﷺ پيغمبرې او د هغه بشر يت دواړه اړخونه مونږ ته په پاخه باور سره؛ بيان کړي دي، او همدارنګه الله تعالى د رسول الله ﷺ لوړ مقام او لوى عزت د هغه رب الله تعالى پر ورلاندې راته ښه روښانه ياد کړئ او بيان کړئ دئ او مومنان يې د زړه له کومې او په اخلاص سره توبې و يستلو ته هڅولي دي او رسول الله ﷺ يې د کافرانو او منافقانو سره چې دوى د کافرانو پلو يان دي؛ کلک جهاد او مبارزې ته رابللئ دئ، او دا حقيقت يې را ته روښانه کړئ دئ چې خپلوي د ايمان او د الله پيژندنې نه پرته هيڅ ګټه نه لري، او همداسې الله تعالى مومنان ډاډمن کړي دي چې مفسدانو ته لنډ والئ د اخلاص په شتون کې هيڅ څه شئ تاسې ته ز يان رسولاى نسي، او د التحريم يم مبارکې سورې په پيل کې الله فرمايلي دي:

{حلال خواړه د بل چا خوښۍ لپاره نه حرامېږي}

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ۖ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَٰجِكَ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝١ قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَٰنِكُمْ ۚ وَٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ۝٢ وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍ ۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَا ۖ قَالَ نَبَّأَنِىَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ۝٣ إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ

مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ﴿٤﴾ عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبْدِلَهُۥٓ أَزْوَٰجًا خَيْرًا مِّنكُنَّ مُسْلِمَٰتٍ مُّؤْمِنَٰتٍ قَٰنِتَٰتٍ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٍ سَٰٓئِحَٰتٍ ثَيِّبَٰتٍ وَأَبْكَارًا ﴿٥﴾

[١] ای پیغمبره! ولې ته هغه څه چې الله تا ته حلال کړي دي؛ هغه پر خپل ځان باندې حراموې؟ آیا ته د خپلو میرمنو خوښي او رضایت غواړي؟ او الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان رحیم ذات دئ [یعنی استفهام دلته انکاري دئ، نو ځکه بیا الله تعالی ور پسې جخت رسول الله ﷺ ته په خطاب کې فرمایلي دي:] ای پیغمبره! الله تا بښي او خپل رحمت در باندې خوروي او د ستا هغې لورې او قسم نه چې خپلې حلالې میرمنې ده پرځان باندې حرامې کړې؛ تیریږي، یعنی نو ته د خپلې لورې نه تیر سه.

[٢] ای مومنانو! الله تاسې ته د لورو او قسمونو نه د خلاصون کفارت مقرر کړئ دئ او الله د ستاسې مرستندوی او د چارو سمبالونکئ لوی ذات دئ او ښه پوه او ډیر حکیم خدای دئ، یعنی په پوره علم او په لوی حکمت سره یې د لورې کفارت ورکول درته روا کړي دي او دا کفارت لسو بې وزره مسکینانو ته یو وخت ډوډۍ ورکول او یا جامې او یا د یوه مریې ازادول دي، او که چا څه شئ نه درلودل، نو بیا الله درې ورځې روژه نیول ورته روا کړي دي، نو تاسې ای مومنانو! په دغسې کفارت سره د قسم نه خلاصیږئ او څه ګناه در باندې نسته.

[٣] هو! کله چې پیغمبر خپلې یوې میرمنې ته پټه خبر وکره او بیا هغې د پیغمبر دا پټه خبره خپلې یوې بڼې ته ورسوله او بیا پیغمبر الله د دغو دواړو بنو د پټو مرکونه خبر که، نو بیا رسول الله خپله هغه میرمن چې هغې ته یې پټه خبر کړې وه د ځینې هغو پټو خبرو نه خبره کړه چې هغې د خپلې بڼې سره یادې کړې وې او د ځینې نورو پټو خبرو نه یې تیر سه، نو بیا چې کله رسول الله هغه د هغې پټو خبرو نه د خپلې بڼې سره خبره کړه؛ هغې [په حیرانتیا سره] وو یل: ته چا خبر کړې؟ [پیغمبر ورته په ځواب کې] وو یل: زه د ستاسې پټو خبرو نه الله چې ښه پوه او ښه خبریدونکئ لوی

ذات دئ؛ خبر کړم، یعنی رسـول الله ﷺ د دوی د پټو خبرو نه الله تعالی په وحی یې سره خبر که.

نو بیا الله تعالی په ور پسـې مبارك آیت کې د رسـول الله ﷺ په دغو دوه میرمنو چې ګناه یې کړې وه او د خپل میړه لوی امانت یې رسوا کړئ ؤ؛ غږ کړي دئ او فرمایلي دي:

[٤] ای د پیغمبر میرمنو! که تاسـی دواړه الله ته تو به و باسـی [نو تاسې ته پدې کې خیر دئ او د ستاسې تو به قبلیږي] ځکه د ستاسې دواړو زړونه د حق نه واوښـتل [یعنی د رسـول الله ﷺ په هغه خبره خوښـې سـوی چې کله هغه خپله یوه میرمن پرځان حرامه کړه، نو د سـتاسـې دا خوښـي لو یه ګناه وه، نو اوس تاسـې دواړه تو به و باسـی] او که تاسـې دواړه ای د پیغمبر میرمنو! د رسـول الله پر ضـد یوه د بلې مرسـته وکړی، نو یقینا چې الله د رسـول الله مرسـتندوی دئ او جبرئیل او د مومنانو نه ښـه خلک یې [لکه ابوبکرصـدیق، عمر بن الخطاب او نور صحابه] او ور پسـې یې ملائکې؛ مرسـتندوی دي، یعنی نو دوی ټول د پیغمبر ﷺ مرسـته کړې ده.

[٥] ای د پیغمبر میرمنو! او که چیرې تاسـې پیغمبر طلاق کړي، نو د هغه رب الله به ورته د ستاسې نه نورې ډیرې ښې میرمنې ور په برخه کړي، او هغوی به مسـلمانانې، مومنانې او الله ته غاړه ایښـیدونکې تو به و یستونکې او عبادت کونکې کونډې او پیغلې میرمنې وي.

قدرمنو وروڼو خو یندو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د رسـول اللهﷺ لوړ شخصیت اړوند بشري اړخ مونږ ته ډیر روښانه یاد کړئ دئ، او هغه د رسـول الله ﷺ په کورنی ژوند کې سته سـتونزه وه او هغه دا چې میرمنویې په خپل منځ کې کلکه سـیالي سـره وکړه، نو کله چې رسـول الله یوه ورځ د خپلې یوې میرمنې په کورکې شـودې او شـات څښـکلي ول، نو بیا چې کله د هغې یوه بن خبره سوه، نو د خپلې یوې بلې ملګرې ښې سره یې؛ د رسـول الله ﷺ را پارولو په مقصـد؛ چل جوړ که او رسـول اللهﷺ یې د

هغې میرمنې پرضد راو پارا ؤ چې د هغې په کور کې رسول اللهﷺ شودې او شات څښکلي ول، نو بیا رسول اللهﷺ لوړه وکړه چې نور به د هغې کور ته نه ورځي او هغه یې پرځان حرامه کړه، نو بیا الله تعالی دا مبارك آیتونه پر پیغمبر باندې را نازل کړل چې پکې د رسول الله ﷺ نه کلکه ګیله سوې ده، ځکه هغه خپله حلاله میرمن په لوړې کړو ســره پرخپل ځان حرامه کړه، او بیا الله تعالی ورته د لوړې نه وتلو لپاره د قسم کفارت لارښودنه وکړه او رســول الله یې هم د خپلو هغو دوه میرمنو پټ چل نه خبر که، خو خپل رحمت یې پرهغو دواړو ښځو هم پیرزو که او دوی دواړه یې توبې و یستلو ته راو بللې او دوی دواړو ته الله تعالی وو یل چې که پیغمبر تاسې طلاق کړي، نو الله به نورې ښې مومنې میرمنې د هغه په برخه کړي.

عزتمنو دوستانو! او همدارنګه الله تعالی د رسول اللهﷺ بشري بې وسعې په څنګ کې د رسول الله پیغمبرۍ اړخ هم ښه روښانه بیان کړئ دئ او فرمایلي دي: چې د رســول اللهﷺ مرستندو یان: الله، جبرئیل او نورې ملائکې دي او هم یې د مومنانو نه ښه خلک مرستندوی دي، او دا ځکه چې دئ د الله پیغمبر دئ او الله ورسره تل د کلکې مرستې وعده کړې ده، نو دا مبارك آیتونه چې پکې د رسول الله ﷺ کورني ژوند ستونزه یاده سوې ده او پر رسول الله ﷺ کلکه نیوکه سوې ده؛ د عظیم الشان قرآن پر حقانیت او ر یښتینوالي باندې چې هغه د الله تعالی نه رانازل سوئ حق کتاب دئ؛ لوی دلیل دئ، لکه هغو ته ورته ځینې نورې ســورې چې پر پیغمبرﷺ باندې را نازلې سوي دي، لکه د عبس سوره او نور هغه آیتونه چې پکې رسول الله ﷺ باندې ښکاره نیوکه سوې ده، نو که قرآن د الله تعالی نه په حق او ر یښتیا سره رانازل سوئ کتاب نه وای او هغه محمد ﷺ د خپل ځان نه الله پسې [العیاذ بالله] تپلئ وای، نو هیڅ کله به هغه پرخپل ځان نیوکه نه وه کړې او ځان بې نه ؤ ملامت کړئ، لکه څنګه چې دا د بشر یو منل سوئ او پیژندل سوئ خوی دئ.

{مومنان ده د دوزخ اورنه خپل ځانونه او کورنۍ وساتي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د مومنانو نه غوښتي دي چې

خپل ځانونه او خپل کوول د دوزخ هغه اور نه چې د سوز لرکې يې کافران دي؛ کلک وساتي او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ٦ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَعۡتَذِرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٧﴾

[٦] ای مومنانو! خپل ځانونه او خپل کوول د دوزخ هغه اور نه وساتی چې د سوز موادې انسانان او تيږې يا کاڼي دي، او د دوزخ ساتونکي ډير د کلکو زړونو څښتن ملائکې دي او د الله فرمان وړو نه سرغړونه نکړي او ټول حکمونه يې پرځای کوي، يعنی دغه ملائکې يا فرښتې د الله تعالی حکمونو چلونکې ملائکې دي.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارک آيت کې د کافرانو پلمې ردې کړې دي او فرمايلي دي:

[٧] ای کافرانو! [نن چې تاسې د دوزخ اور ته ورننوځئ] نور نو پلمې مکړئ او عذرونه مه غواړئ، اوس تاسې ته د ستاسې د بدو کړنو او د کفر سزا په يقين سره درکول کيږي!

{د الله جنتو ته د ورننوتلو کيلي په اخلاص تو به و يستل دي}

او بيا په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالی مومنان د نصوح توبې ويستلو ته چې هغه د زړونو نه په اخلاص سره تو به ده؛ رابللي دي او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥۖ نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ

﴿قَدِيرٌ ۝٨﴾

[٨] ای مومنانو! په اخلاص سره او د زړه له کومې الله ته وروګرځئ او د خپلو ګناه وو نه تو به و باسئ، ترڅو د ستاسې رب الله تاسې و ښې او د ستاسې ګناه وې توپې کړي او بیا تاسې داسې جنتونو ته ورننه باسي چې د او بو و یالې پکې بهیږي، او په هغه ورځ بیا الله پیغمبر او ورسره مومنان نه خواروي او د دوی وړاندې او ښي خواوې یې ورته په خپل نور سره رڼا کړې وي او مومنان الله ته دعاء کړي او وایي: ای د زمونږ لو یه ر به! زمونږ رڼا ته را ته پوره کړه او مونږ و ښه او یقینا چې ته ای لو یه خدایه! هرڅه ښه کړای سې او قدرت یې لري او وسعه ده کیږي.

{ کافرانو او منافقانو سره جهاد پر پیغمبر فرض ؤ }

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته حکم کړئ دئ او کافرانو او منافقانو سره یې جهاد ته رابللئ دئ او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ۝٩﴾

[٩] ای پیغمبره! د کافرانو او منافقانو سره [په خوله او په توره] جهاد وکړه او ښه کلک یې را ونیسه او د دوی استنوګئ او مینه په آخرت کې د دوزخ اور دئ او هغه بد برخلیک او تر یخ سر نوشت دئ.

{د نوح او لوط کافرو میرمنو ته د میړو پیغمبري ګټه نه لري}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې کافرانو او مومنانو ته په پخوانیو امتونوکې الله تعالی د ښو او د بدو میرمنو بیلګې یادې کړې دي، ترڅو ورته عبرت وکړئیږي او فرمایلي دي:

﴿ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱمْرَأَتَ نُوحٍ وَٱمْرَأَتَ لُوطٍ ۖ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَٰلِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا وَقِيلَ ٱدْخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ۝١٠ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ

ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ١١ وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ١٢

[١٠] کافرانو ته الله د نوح او لوط میرمنو بیلګه یا مثال یاد کړئ او بیان کړئ دئ او هغه دا چې دوی د زمونږ د دوه ښـــو بنده ګانو (د نوح او لوط علیهما الســلام) ښــځې وي، خو خیانت یې ورســره وکه [یعنی د دوی پیغمبري یې ونه منله او د خپل کافر قوم ملګرې سوې] نو د میړو پیغمبرۍ یې دوی ته د الله عذاب نه د خلاصــون لپاره؛ هیڅ ګټه ونکړه او د قیامت په ورځ ورته و یل کیږي چې د دوزخیانو سره دوزخ ته ورننوځئ!

[١١] د فرعون ښــځه مومنانو ته الله بیلګه وکړځوله، کله چې هغې و و یل: ای د زما لو یه خدایه! ما ته په جنت کې کور جوړ کړه او د فرعون او د هغه بدو کړنو نه ما خلاصه کړه او د فرعون کافر او ظالم قوم نه ما ته نجات را کړه!

[١٢] او مر یم د عمران لور مومنانو ته الله بیلګه وکړځوله او هغې خپل پَت خوندي وساته، نو بیا د هغې په نس کې مونږ خپل روح پوکه، نو بیا هغه ور باندې بلار به یا حامله ســوه او د خپل رب الله خبرې یې تصــدیق کړې او کتابونه یې ومنل، اومر یم د الله حکمونو فرمان وړنکې وه.

عزتمنو ورونو او خو یندو! نو آسیه د فرعون ښځه او مر یم د عمران علیهما الســلام لور؛ هغــه دوه غټې اودرنــدې مومنې میرمنې وې چې پــه پخوانیو امتونوکې تیرې ســوې دي او هرې یوې ته الله تعالی خپله ځانګړې پیرزو ینه ور ښــلې وه او دوی دواړه په خپل کلک ایمان ســره مومنانو ته غوره مثالونه او بیلګې دي، نو هیله ده چې مومنې ښــځې ور پســې لاړې ســي او د خپل رب الله تعالی او د هغه پیغمبر فرمان یوســي او په حکمونوپې

عمل وکړي او هغه په خپل ژوند کې پلي کړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الملك سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الملك سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الملك مباركه سوره چې د تبارك سپارې لمړۍ سوره ده د تفسیر پوهانو په اتفاق سره مکي سوره ده او نوم یې د هغې مبارکې سورې د لمړي آیت نه اخستل سوئ دئ، او الله تعالی پدې مبارکه سوره کې لکه نورې مکي سورې؛ د خپل عظمت او لو یتیا بیان باندې کلک ټینګار کړئ دئ او د مرګ او ژوند او د ټولو مخلوقاتو د پیدایښت لوی حکمتونه او اسرارې مونږ ته پکې یاد کړي او بیان کړي دي، ترڅو د هوښیارانو مغزونه ښه خلاص سي او خپل لوی رب الله چې دوی یې پیدا کړي دي؛ په توحید سره په ر بو بیت او الوهیت کې و پیژني، او بیا د خپل پیدایښت او په دنیا کې د خپل ژوند لوی مقصدونه او هدفونه چې هغه الله ورته په ښه کړي دي؛ په پوره اخلاص او کلک تعهد سره عملي کړي، او د الله تعالی بنده کې هغسې وکړي چې هغه د الله تعالی لوړ مقام سره په خدایي کې ښایي او ورته لائق ده.

{د الملك سورې لوستلو ثواب او لوی فضیلت}

قدرمنو مومنانو! د الملك مبارکې سورې په فضیلت او ثواب کې ډیر روایتونه راغلي دي چې دلته یوازې هغه روایت یادوم چې پکې د الملك سوره الله تعالی د عذاب نه د نجات سبب ګڼلې ده، هو! مشهور محدث حاکم نیشاپوري په خپل المستدرك لوی کتاب کې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت کړئ دئ چې کله مړئ په ګورکې کیښودل سي، نو بیا د عذاب ملائکې هغه ته د پښو لخوا راسه، خو ورته وو یل سي: چې تاسې ته اجازه نسته، ځکه دې مړي د الملك سوره لوستله او بیا ورته د سر لخوا

راسي او هلته هم ورته وو يل سي چې اجازه نسته، ځکه هغه د الملك سوره لوستله، نو بيا عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وو يل:"د الملك سوره د الله عذاب مخه نيسي...الحديث" او دا مبارك حديث شيخ عبد الرزاق الصنعاني په خپل مصنف کې او امام البيهقي په شعب الإيمان کې هم روايت کړئ دئ.

عزتمنو وروڼو او خو يندو! د الملك سورې په پيل کې الله فرمايلي دي:

{مرګ اوژوند الله د خلکو ازمايښت لپاره پيدا کړي دي}

﴿تَبَٰرَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝١ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ ۝٢ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ۖ مَّا تَرَىٰ فِى خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍ ۖ فَٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ۝٣ ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنقَلِبْ إِلَيْكَ ٱلْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ۝٤ وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلْنَٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَٰطِينِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ ٱلسَّعِيرِ ۝٥﴾

[١] [هو! د الله لو يتيا او عظمت، خير او برکت پر ټولو خلکو ښه خور سه، ځکه] الله هغه څوک دئ چې ټول واک يې په لاس کې دئ او په هرڅه باندې قادر لوی ذات دئ.

کرانو عز يزانو! پدې مبارك آيت کې الله تعالى خپله لو يه واکمني په (بيده الملك) باندې ياده کړې او نومولې ده، يعنى دا چې پاچايي د الله تعالى په لاس کې ده، او د الله تعالى لاس نه مقصد هغسې لاس دئ چې د الله لوړ مقام سره لائق دئ، ځکه الله خالق دئ او مخلوقاتو ته ورته ندئ، لکه څنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: (ليس كمثله شئ وهو السميع البصير...الأية الشورای ١١) نو يقينا چې د الله تعالى لاس نه مقصد د هغه شان سره لائق پاچايي او واکمني پر ټول کائناتو باندې، لکه پر اسمانونو او پر ځمکه او پکې پر نورو ميشتو مخلوقاتو باندې ده.

[٢] ای خلکو! او الله هغه څوک دئ چې مرګ او ژوند يې پيدا کړل، ترڅو تاسې وازمايې چې څوک د ستاسې نه ډير ښه کړي؟ او الله لوی ځواکمن او ښه بښونکئ مهر بان ذات دئ.

هو! الله تعالی مرګ او ژوند پيدا کړي دي، ترڅو خلک پوه سي چې الله تعالی دوی د يؤ لوی مقصد لپاره پيدا کړي دي او بيايې دوی ته خپل لارښود کتابونو [لکه د ابراهيم صحيفې، ز بور، تورات، انجيل او قرآن] د پيغمبرانو سره را ليږلي دي او په هغو کې يې خپل حکمونه بيان کړي دي او خلک يې منلوته رابللي دي، ترڅو کافر د مومن نه بيل سي او بيا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکړل سي.

[٣] او الله هغه څوک دئ چې او ۏ پوره اسمانو نه يې پيدا کړل، او ته ای انسانه! د الرحمن رب الله په مخلوقاتوکې هيڅ تو پير، نقصان او کمښت نه و يې [يعنی د الله تعالی ټول مخلوقات د يو بل سره همغږي دي، نو ته ای انسانه!] بيا بيا پورته اسمان ته وګوره چې آيا په هغه کې کم نقصان او کم درز او سوريئ و يې؟ [ځواب دا چې: نا! هيڅ کم نقصان او کمښت په اسمانونوکې نسته، يعنی د الله تعالی کوني نظام د يو بل سره داسې منظم ټرل سوئ دئ چې هر ستوريئ په خپل مدار کې ګرځي راګرځي، او يو د بل سره په ټکرکې ندي، او يقينا چې هغه د الله په لو يتيا باندې ځلانده نښه ده، نو ښايي چې مونږ پکې ژور فکر وکړو او د الله تعالی عظمت ته په سجده پر يوځو]

[٤] ای انسانه! او ته بيا خپلې سترګې په وار وار سره اسمان ته ور واړوه، نو سترګې به ده ړتل سوي او ستړې بيرته تا ته را ګرځي، يعنی هيڅ نقصان او کمښت به په اسمان کې نه و يې.

[٥] او د دنيا دا لنډ اسمان مونږ يقينا په ستورو ښايسته او ښکلئ که او ستوري مونږ شيطانانو ته و يشتونکې وګرځول او د قيامت په ورځ شيطانانو ته مونږ بل سوي اور عذاب تيار کړئ دئ.

ګرانو مومنانو! کله چې شيطانان اسمان ته د جګيدلو يا ختلو هڅه

وکړي، نو د اسمان ستوري يې ولي او اسمان ته پورته ختلو ته يې نه پر يږدي، ځکه شيطانانو غوښتل چې د الله نه را نازلې سوې خبرې، پيغامونه او حکمونه د ملائکو نه واوري، نو بيا الله تعالى د دوى مخه د ستورو غشو په و يشتلو سره نيسي او شيطانان نه پر يږدي چې خپلو شومو مقصدونو ته ورسيږي.

{د قيامت په ورځ کافران په خپله ګناه اقرارکړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى کافران د دوزخ اور په کلک عذاب باندې ګواښلي دي او بيا يې د قيامت په ورځ د دوى اقرار نه په پښيمانۍ باندې مونږ خبر کړي يو او فرمايلي دي:

﴿وَلِلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٦ إِذَآ أُلۡقُواْ فِيهَا سَمِعُواْ لَهَا شَهِيقٗا وَهِيَ تَفُورُ ٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۖ كُلَّمَآ أُلۡقِيَ فِيهَا فَوۡجٞ سَأَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَذِيرٞ ٨ قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ كَبِيرٖ ٩ وَقَالُواْ لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ أَوۡ نَعۡقِلُ مَا كُنَّا فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ١٠ فَٱعۡتَرَفُواْ بِذَنۢبِهِمۡ فَسُحۡقٗا لِّأَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ١١﴾

[٦] او هغو کسانو ته چې دوى پرخپل رب الله باندې کافران سول د دوزخ اور سزا ده او جهنم د دوزخيانو ورتګ ته ډير بد ځاى دئ، يعنى دوزخيان د جهنم په اور کې کړ يږي.

[٧-٨] او کله چې د کافرانو يو ټولګئ د دوخ اور ته وروغورځول سي، نو بيا چې کله د دوزخ اور په خوټيدوکې وي؛ کافران يې د چاوديدلو نه ډير کلک غږونه اوري او لنډه وي چې دوزخ پرکافرانو باندي د ډيرې غوصې نه وچوي، او بيا چې کله دوزخ ته د کافرانو يوه ډله وروغورځول سي، نو د دوزخ ساتونکي د غوصې نه ورځخه پوښتي چې آيا تاسې ته د عذاب نه ګواښونکئ استازئ او پيغمبر نه ؤ راغلئ؟

[٩] [نو بيا کافران ورته په ځواب کې] وايي: هوا! يقينا چې مونږ ته و يرونکئ ګواښونکئ راغئ، خو هغه مونږ دروغژن و باله او مونږ وو يل: نا!

الله مونږ ته هیڅ څه شئ ندي را لیږلي او تاسې ای پیغمبرانو! په یوه لو یه ورکتیا کې یاستئ، یعنی داچې تاسې دروغ وایئ او د الله استازي نه یاستئ! العیاذ بالله.

[١٠] [او بیا دغو کافران د ډیرې پښیمانۍ نه] وو یل: که مونږ د پیغمبرانو خبرې اور یدلې وای او خپل عقل مو په کار اچولئ وای [یعنی په خپل خیر او ګټه کې مونږ ښه فکر کړئ وای او د پیغمبرانو خبرې مونږ منلې وای، نو] اوس به مونږ د اور سرو لمبو ملګري نه وو، یعنی د دغسې اور په لمبوکې به نه کړ یدو!

[١١] نو بیا دوی په خپله ګناه اقرار وکه، نو دوزخیان د الله رحمت نه لرې سوي محروم دي، یعنی د قیامت په ورځ پښیماني ورته هیڅ ګټه نه لري او دوی به همداسې تل پاتې په جهنم کې سوز ږیږي.

درندو وروڼو او خو یندو! په دغو مبارکو آیتونوکې او د هغو نه وړاندې د الملك مبارکې سورې د پیل په لمړي آیت کې الله تعالی د خپلې لو یتیا او عظمت برکتونه پر ټولو مخلوقاتو باندي سره د خپلو لو یو قدرتونو نښو په اسمانونو او په ځمکه کې؛ یاد کړي او بیان کړي دي، او بیا یې کافرانو ته د دوی د تورې راتلونکې انځور د قیامت په ورځ وړاندې کړئ دئ او هغه دا چې نور په هغه ورځ پښیماني او په ګناه باندې اقرار کړل ګټه نه لري، نو ښایې چې ټول خلک په دنیا کې چې دوی پکې ژوند کړي؛ ښه فکر وکړي او خپل عقل او اوښ په کار واچوي او ایمان را وړي او د الله تعالی پرحکمونو باندې عمل وکړي، ترڅو د قیامت ورځې رسوایي او د الله تعالی کلکې سزا نه نجات بیامومي او د آخرت په ورځ مختورن نسي!

{ځمکه الله پیدا کړه ترڅو چې پکې خلک روزي وګټي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې مومنانو ته ز یرئ ورکړئ دئ او د خپل رب پیژندلو لپاره یې ورته ډیرې ګټورې سپارښتنې کړې دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ١٢ وَأَسِرُّواْ

قَوْلَكُمْ أَوِ ٱجْهَرُوا۟ بِهِۦٓ ۖ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٣﴾ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٤﴾ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُوا۟ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا۟ مِن رِّزْقِهِۦ ۖ وَإِلَيْهِ ٱلنُّشُورُ ﴿١٥﴾

[١٢] هو! يقينا هغه كســان چې د خپل رب الله نه پټ په غيب ســره و ير يرې؛ دوی ته د الله لخوا بښنه او ډير ثوابونه دي.

[١٣-١٤] ای خلکو! او که تاسې خپلې و يناوې او کړنې پټې کړئ او که هغه ښــکاره کړئ! دا دواړه ســره برابر دي، ځکه الله په زړونو باندې ښــه پوه ذات دئ، هو! څنګه به هغه څوک نه پوهيږي چې ټول خلک يې پيدا کړي دي؟ او الله د ډيرو ورو او نر يو شيانو نه هم خبر دئ!

[١٥] او الله هغه څوک دئ چې ځمکه يې تاســې ته ای خلکو! لاس لاندې اواره کړه [ترڅو پکې ژوند وکړئ او د ځمکې نه ګټه واخلئ، نو ای خلکو!] د ځمکې په کوډ کوډ کې وګرځئ او د هغې روزي وخورئ، او بيا د قيامت په ورځ د ستاسې بيرته ورتګ الله ته دئ، يعنی د قيامت په ورځ الله تعالی د هرچا سره حساب کړي.

هو! عزتمنو دوســتانو! الله تعالی پدې مبارك آيت کې مونږ د ځمکې خورو ورو کښــتونو او نعمتونو نه ګټې اخستلو ته رابللي يو، نو ښايي چې مومنان د بل هرچا نه وړاندې په ځمکه کې پرتو نعمتونو نه ګټه واخلي، او په اسلامي نړۍ کې د وروستيو پيړيو مومنانو غوندې لاس په زنه ناست پاتې نسي او هرڅه هير نکړي او خپل مسئوليت ته په ژوند کې شا نکړي.

{د الله قدرتونه په ځمکه او اسمانونو کې خلکوته ګوابنې دئ}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې ټول خلک الله تعالی د خپلو لو يو قدرتونو نه په ځمکه او اسمانونو کې؛ کلک ګوابنلي دي او فرمايلي دي:

﴿ءَأَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾

وَلَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٖ وَيَقۡبِضۡنَۚ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحۡمَٰنُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءِۭ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾

[١٦] ای خلکو! آیا تاسې د هغه ذات الله نه چې پاس په اسمان کې دئ ډاډمن سوی؟ کیدای ســي چې ځمکه په لړز یدو ســره در باندې بل مخ واړوي! یعنی بیا تاســې پکې ډوب کړي؟ ځواب دا چې: نا ! بنده ته نه ښــایي چې هیڅ کله د خپل رب الله عذاب نه په امن کې سي، بلکې ورته ښــایي چې د خوف او رجا (و یرې او طمعې) په منځ کې شپې او ورځې صبا کړي.

[١٧] ای خلکو! او آیا تاسی د هغه خدای نه چی پاس په اسمان کې دئ ډاډمن ســوی چې کیدای ســي تیږې یا کانې در باندې را ووروي او تاســې لاندې کړي؟ نو بیا به پوه سی چی دا کلک ګواښونه او و یرونه څنګه ول؟ یعنی دا چې رســول الله ﷺ په دغو مبارکو آیتونو باندې کافران د الله تعالی کلک عذاب نه وو یرول، ترڅو پوه ســي او د کینو نه لاس واخلي او ایمان راوړي او خپلو ځانو ته د دوزخ اور نه نجات ورکړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی پخوانیو ولسونو سرکښیو ته په کتو سره فرمایلي دي:

[١٨] او یقینا چې د پخوانیو ولســونو کافرانو خپل پیغمبران دروغژن و بلل، نو بیا دوی ته د الله ګواښ او ســزا ورکول څنګه ول؟ یعنی الله تعالی دوی تــه کلکې ســزاګانې ورکړې او ټول یې هلاک کړل، او الله ټولو کافرانو ته همداســې ســزا ورکوي، نو ښــایي چې کافران پخوا تیر ســوو سرکښو ولسونو تور برخلیک نه پند وا خلي او ورڅخه د زدکړې سبقونه ولولي، ترڅو نجات بیامومي او د هلاکت نه خلاص سي!

[١٩] او آیا دغو کافرانو د دوی په ســر مرغان ونه لیدل چې د وزرو په خورولو او په راټولولو سره په هوا کې الوزي او د الرحمن ذات نه پرته بل هیڅ څوک یې را ټینګولای نسي، او یقینا چې الله د هر څه ښه لیدونکئ او پالونکئ څښتن دئ، یعنی نو ټولو خلکو ته ښــایي چې د خپل لوی څښتن الله عبادت نه؛ هیڅ کله غافل نسي او یوازې د الله تعالی بنده ګي وکړي.

{هغه كافران چې د بتانو عبادت غولولي ول الله ګواښلي دي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې هغه کافران الله تعالى په کلکه سزا ګواښلي دي چې دوى د خپلو بتانو عبادت غولولي ول او فرمايلي دي:

﴿أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ ٱلْكَٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ ﴿٢٠﴾ أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥ ۚ بَل لَّجُّوا۟ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾ أَفَمَن يَمْشِى مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِى سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلْ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾﴾

[٢٠] اى خلكو! آيا هغه څوک چې تاسې دئ خپل پلوئ بولئ، نو آيا هغه به د الرحمن رب نه پرته د ستاسې مرسته وکړي؟ خو کافران غولیدلي دي، يعنى دا چې د الله نه پرته بل هيڅ څوک د دوى مرسته نکړي او نه يې کړاى سي.

[٢١] اى خلكو! او دغه رب الله چې تاسى ته روزي درکوي؛ که چيرې دئ خپل رزق او روزي پر تاسې باندې ودروي، نو بيا به څوک تاسې ته روزي درکړي؟ [يعنى د الله نه پرته بل هيڅ څوک خلکو ته د روزي ورکولو قدرت نلري] خو کافران د حق نه په خپله سرکښى او کرکه کې همداسې ننوتي پاتې دي!

[٢٢] [اى خلكو!] آيا هغه څوک چې پرمخې په ښو يدو سره ځي هغه سمې لارې ته ښه سم سوئ دئ؟ او که هغه څوک چې چک ولاړ په پښو سم ځي؟ [جواب دا چې يقينا هغه څوک سم روان دئ چې په لار باندې سم چک په پښو ولاړ ځى، او دا بيلګه د کافر او مومن بليګه ده، ځکه

کافر چې د حق لیدلو نه ړوند دئ، لکه ړوند پرمخې ځي او مومن جګ ولاړ په سمه لار ځي]

[۲۳] ای پیغمبره! خلکو ته ووایه: الله هغه څوک دئ چې تاسې یې پیدا کړی او غوږونه، سترګې او زړونه یې درکړل، خو تاسې ډیر لږ د خپل رب شکر باسی! یعنی ښایي چې ټول خلک د خپل پالونکي لوی خدای د دغو لو یو نعمتونو او پیرزو ینو مننه وکړی او شکریې د الله په توحید سره په عبادت او بنده ګی کې و باسی.

[۲٤] ای پیغمبره! [همدارنګه خلکو ته] ووایه چې الله هغه څوک دئ چې تاسې یې په ځمکه کې وشیندلی او بیا د قیامت په ورځ ټول بیرته الله ته ورغونډول کیږی.

[۲۵] [او بیا کافران د رسول الله ﷺ نه د قیامت ورځې راتګ پوښتنه کړي] او وایې: که تاسې ر یښتیاو یونکي یاستی، نو د دغې ورځې وعدې پوره کیدل کله دي؟

[۲٦] نو ته ای پیغمبره! [دوی ته په ځواب کې] ووایه: د قیامت ورځې د راتګ علم یوازې الله سره دئ او یقینا چې زه تاسې ته ښکاره ګوابښونکئ یم، یعنی د الله عذاب نه تاسې و یروم، او د قیامت ورځ ټاکل سوې ورځ ده، خو دا حقیقت روښانه دئ چې د هرچا مرګ د هغه قیامت بلل کیږي، نو ښایي چې تل ورته تیار وی.

[۲۷] نو بیا چې کله کافرانو ولیدل چې د الله عذاب راتګ را لنډ دئ، نو مخونه یې تک تور شنه وا وښتل او دوی ته بیا وو یل سول دا دئ د الله هغه عذاب چې تاسې یې راتګ ته تلوار درلود!

{ څوک به هغو کسانو ته نجات ورکړي چې مومنانو ته ښیرې کړي؟ }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې د الملك مبارکې سورې وروستي آیتونه دي الله تعالی د مکې کافران د دوزخ کړونکي عذاب نه کلک ګوابښلي دي او فرمایلي دي:

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ ٱلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍ ﴿٣٠﴾﴾

[٢٨] ای پیغمبره! کافرانو ته ووایه: ای خلکو! ما ته ووایې او ما خبر کړی که چیرې الله ما او زما سره ملګري؛ هلاك کړي او یا الله را باندې ورحمیږي [یعنی د زمونږ اجل وزنډوي] نو بیا به کافرانو ته څوک د قیامت ورځې کړونکي عذاب نه نجات ورکړي؟ یعنی ځواب دا چې: د الله نه پرته بل هیڅ څوک دوی ته نجات ورکولای نسی، ځکه په هغه ورځ یوازې الله د ثواب او عذاب او د نجات او هلاکت واکمن رب دئ.

[٢٩] ای پیغمبره! او هم کافرانو ته ووایه: الله هغه الرحمن رب دئ چې مونږ ور باندې ایمان راوړئ دئ او پر هغه باندي مونږ توکل او پر وسعه کړې ده، نو بیا به تاسې ای کافرانو! پوه سی چې څوک په ښکاره ورکتیا کې ؤ؟ یعنی د توحید سمه لار ورڅخه ورکه وه؟

[٣٠] او ای پیغمبره! [او پر کافرانو غږ وکړه او ورته] ووایه: ای خلکو! ما ته ووایي او ما خبر کړی؛ که چیرې د ستاسې دغه او به [چې هغه تاسې څښکی] په ځمکه کې ننوځي، نو بیا به څوک تاسې ته د ځمکې سر ته په سترګو لیدلې او به راوړي؟ یعنی نو ځواب دا چې د الله تعالی نه پرته بل هیڅ څوک د ځمکې زړه نه تاسې ته او به را و یستلای نسي! نو ښایې چې تاسې ای کافرانو سر په ګر یوان ښکته کړی او خپل لوی څښتن الله په یقین او ر ښتیا سره و پیژنی او ایمان راوړی!

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د مکې کافران او همدارنګه نور ټول کافران د الله کلک عذاب نه په دنیا کې ګوابسلي دي، ځکه الله تعالی هغه لوی ځواکمن رب دئ چې هر څه وغواړي هغسې کړای سي، نو ټولو خلکو ته ښایي چې یوازې الله ته مخ واړوي او په توحید

او يو والي سره د الله تعالى بنده کي په اخلاص سره وکړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك..



د القلم سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د القلم سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدونه}

درندو دوستانو! د القلم مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالى په قلم باندې لوړه کړی ده او د رسول الله ﷺ پيغمبرۍ ر ښيني والئ يې په يقين سره پکې بيان کړئ دئ او د کافرانو سپکې سپورې خبرې يې رسول الله ﷺ پسې کلکې غندلې او ردې کړې دي، او هغه دا چې کافرانو به کله رسول الله ﷺ ته ليونئ او کله کوډګر و يل، خو رسول الله ﷺ نه ليونئ ؤ او نه کوډګر، او همدارنګه الله تعالى د القلم په مبارکه سوره کې مونږ ته د اخلاقو بنسټونه او اساسات بيان کړي دي او رسول الله ﷺ يې د ښو اخلاقو څښتن را پيژندلئ دئ، نو ښايي چې مومنان يې په پله لاړ سي او ور پسې اقتدا وکړي او د هغه سنتو او د سيرت پيروان سي او خپل عملي ژوند ور باندې سنګار کړي.

او د القلم مبارکې سورې پيل د (ن) په توري باندې سوئ دئ چې هغه د عربي ژ بې يو پر يکړ سوئ تورئ يا حرف دئ او د ځينې مفسر ينو په و ينا په معنا او مقصد يې الله تعالى ښه پوهيږي، خو د الله تعالى کتاب قرآن مجيد چې په حق او ر ښيا سره پر پيغمبر ﷺ باندې رانازل سوئ دئ؛ د (ن) غوندې عر بي تورونه جوړ سوئ کتاب دئ او د قر يشو او نورو عر بانو؛ ټول شاعران او اديبان د هغه غوندې خبرو راوړو نه عاجز او بې وسې سول، نو يقينا چې دا کتاب حق دئ او هيڅ شك او شبه پکې نسته، نو د (ن) تورئ لکه د عر بي ژ بې د هجاء نور مقطعات يا پر يکړل سوي توري چې ځينې سورتونه ور باندې پيل سوي دي او [د قرآن رنا] پدې مبارك تفسيرکې يې په وار وار سره بيان سوئ دئ؛ د قرآن په بياني

اعجاز باندې ښه روښانه او څلانده دلالت کړي.

هو! دا مبارکه سورې په (ن) او په قلم باندې چې د لیک او لوست غوره وسیله ده؛ الله تعالی په لومړي کړو سره پیل کړې ده او فرمایلي دي:

{ محمد رسول الله ﷺ د لو یو اخلاقو څښتن ؤ }

﴿نٓ وَٱلۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُونَ ١ مَآ أَنتَ بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ بِمَجۡنُونٖ ٢ وَإِنَّ لَكَ لَأَجۡرًا غَيۡرَ مَمۡنُونٖ ٣ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٖ ٤ فَسَتُبۡصِرُ وَيُبۡصِرُونَ ٥ بِأَيِّيكُمُ ٱلۡمَفۡتُونُ ٦﴾

[١-٤] [هو! لکه څنګه چې مخکې وویل سول (ن) نون د عربي ژبې هجاء تورو نه یو توری دئ او الله تعالی په هغه باندې د القلم دا مبارکه سوره پیل کړې ده او په معنا او مقصد یې الله ښه پوهیږي، خو ځینې ډیر مفسرین هغه د قرآن بیاني او ادبي اعجاز نښه بولي، ځکه د عرب بانو ټول شاعران او ادیبان د قرآن غوندې کتاب راوړو نه عاجز او بې وسې سول، او بیا الله تعالی په قلم باندې چې د لیکلو ډیره غوره وسیله ده؛ لومړه کړي ده او قسم یې پرې خوړلئ دئ او رسول الله ﷺ ته یې ډاډ ورکړئ دئ فرمایلي دي:] په قلم او پرهغو خبرو چې هغه ملائکې لیکي؛ لومړه او قسم دئ چې ته ای پیغمبره! د خپل رب الله په لوی نعمت باندې [چې هغه د ستا پیغمبرۍ اعلان دئ] لیونئ نه یې او یقینا چې تا ته ای پیغمبره! د الله دین په رسولوکې خپل قوم ته؛ د احسان کړو نه پرته تل پاتې ثواب درکول کیږي، او یقینا چې ته ای پیغمبره! د لومړو اخلاقو څښتن یې، یعنی خپل امت ته ده ښه مخکښ لارښود یې.

[٥-٦] نو ای پیغمبره! ډیر ژر به ته وو ینې او کافران به هم وو ینې [یعنی پوه به سي] چې د ستاسې نه کم یو په لیونتوب ازمایل سوئ دئ، یعنی دا چې آیا کافران لیونی دي او که ته؟ ځواب دا چې: هو! کافران لیونی دي، ځکه دوی پرحق اقرار نکړي او هغه نه مني او د الله حکم ته نه تسلیمیږي، بلکې ورځخه سرکښي او بغاوت کړي!

درندو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونوکې الله تعالی په کلکه سره د مکې کافرانو هغه سپک او ناحقه تورونه غندلي او رد کړي دي چې دوی به و یل: محمد [العیاذ بالله] لیونئ دئ، حال دا چې رسول الله ﷺ د پیغمبري نه مخکې په امین او د لوی عقل څښتن باندې په مکه کې مشهور ؤ، خو کله چې پیغمبر سه، نو قوم یې قر یشو د ډیرې کینې او حسد نه ورته لیونئ، کوډګر او شاعر وو یل، خو د هغه مرستندوی الله ؤ، او د هغه لوړ مقام او شه خو یونه یې کلک وستایل، او د الله تعالی دغه دفاع رسول الله ﷺ ته پوره ډاډ او لوی تسلیت ؤ، ترڅو رسول الله ﷺ په پوره صبر او زغم سره د کافرانو د لاسه ټولې زورونې وګاللې او خپل رسالت یې په پاخه تصمیم، کلکه اراده او قوي عزم سره په مخ ایوړ او د الله تعالی دین یې خلکو ته ورسا ؤ او خپل قوم او نور ټول بشر یت یې؛ یوازې او یوازې د الله تعالی عبادت او بنده ګۍ ته راو بلل او د بتانو عبادت نه یې خلک په کلکه سره وګواښل، ترڅو چې الله تعالی د خپل دین رانازلیدل پر رسول الله ﷺ باندې پوره کړل او رسول الله ﷺ نور د خپل رب الله ملاقات خوښ او غوره که او د دنیا ستړی ژوند نه کړه او وفات سه ﷺ .

{پیغمبر او مومنان الله د کافر انو غوږه ماری نه ګواښلي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې د ستا رب الله کافران او مومنان شه پیژني، نو د کافرانو او د قسم خورو کسانو خبرې مه منه او فرمایلي ي:

﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ٧ فَلَا تُطِعِ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٨ وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ ٩ وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٖ مَّهِينٍ ١٠ هَمَّازٖ مَّشَّآءِۭ بِنَمِيمٖ ١١ مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ عُتُلِّۭ بَعۡدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ١٣ أَن كَانَ ذَا مَالٖ وَبَنِينَ ١٤ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٥﴾

[٧] ای پیغمبره! یقینا چې د ستا رب الله هغه څوک شه پیژني چې هغه

د الله لارې نه ورک ســوئ دئ، او هم الله ســې لارې ته هدایت ســوو کسانو باندې ښه پوه دئ او دوی پیژني.

[٨-٩] نو ته ای پیغمبره! د هغو کســانو خبره مه منه چې دوی د ســتا پیغمبري دروغ بولي، او کافرانو خوښــیږي [یعنی طمعه لږي] چې که ته د کافرانو سره د دوی لږ څه خبرې ومني، نو بیا به دوی هم غوړه ماري وکړي او د ســتا خبرې به لږ څه ومني، یعنی یو بل به لږ څه د خپلو غوښــتنو څخه تیر سی، او دا ده مداهنه یا غوړه ماري چې هغه الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې کلکه غندلې ده او فرمایلي دي:

[١٠-١٥] ای پیغمبره! ته [د هغه سپک دروغژن سړي] چې ډیرې لوړې کړې اطاعت مکړه او خبرې یې مه منه، ځکه د دغــې خلکو خوی غیبت کړل او یو بل ته د خبرو وړل راوړل دي، او هغه ډیر بخیل وي او د خیر مخه نســي او تیرئ کونکئ ګناه ګار وي، او د دغــې خو یونو نه پرته نور هم هغه ډیر پر یوتئ سړئ وي [یعنی د خپل پلار نه پرته بل چا ته منسوب وي] او دا چې ډیر مال، دولت او زامن لري [نو حق نه منی] او هر کله چې دغــې ســپک ســړي ته د زمونږ کتاب آیتونه تلاوت او ولوســتل ســي [دئ هغه دروغ بولي] او وایې: قرآن د پخوانیو خلکو نه راپاتې لیکل ســوې دروغ دي، یعنی دغسې خلک قرآن نه مني او کلک ورځخه منکر دي!

قــدرمنو عز یزانو! په دغو مبارکو آیتونوکې الله تعالی ټول مومنان د دغــې ســپکو کافرانو ســره د ملګرتیا نه په کلکه ســره ګواښلي دي، خو د بده مرغه په اوسني وخت کې ډیرې ټولنې په هرځای کې د دغسې کسانو نه ډکې دي، نو ښایي چې د علماوو او د دعاتو تل پام وي چې د دغــې ډلو په شیطاني لوموکې ونښلي.

{د مکې کافران الله د یوه باغ سوزیدلو په قصه وګواښل}

او بیا په ورپســې مبارکو آیتونوکې الله تعالی دغســی ســپکو خلکو ته د سزا ورکولو په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلْخُرْطُومِ ﴿١٦﴾ إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا۟

لَيَصۡرِمُنَّهَا مُصۡبِحِينَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسۡتَثۡنُونَ ﴿١٨﴾ فَطَافَ عَلَيۡهَا طَآئِفٞ مِّن رَّبِّكَ وَهُمۡ نَآئِمُونَ ﴿١٩﴾ فَأَصۡبَحَتۡ كَٱلصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوۡاْ مُصۡبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ ٱغۡدُواْ عَلَىٰ حَرۡثِكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰرِمِينَ ﴿٢٢﴾ فَٱنطَلَقُواْ وَهُمۡ يَتَخَٰفَتُونَ ﴿٢٣﴾ أَن لَّا يَدۡخُلَنَّهَا ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكُم مِّسۡكِينٞ ﴿٢٤﴾ وَغَدَوۡاْ عَلَىٰ حَرۡدٖ قَٰدِرِينَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَأَوۡهَا قَالُوٓاْ إِنَّا لَضَآلُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ﴿٢٧﴾ قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَلَٰوَمُونَ ﴿٣٠﴾ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ﴿٣١﴾ عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبۡدِلَنَا خَيۡرٗا مِّنۡهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ﴿٣٢﴾ كَذَٰلِكَ ٱلۡعَذَابُۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٣٣﴾

[١٦] [او دغسې کافرانو ته د سزا ورکولو] داغونه به د دوی په پوزو باندې همداسې نښتي کلک پر یږدو، یعنی ترڅو دوی خلکو ته نښه رسوا سي او و پیژندل سي، ترڅو په دوی باندې څوک ونه غولیږي.

[١٧] او یقینا چې د مکې کافران مونږ نښه وازمایل، لکه څنګه چې مونږ د هغه باغ څښتن وازمایل چې کله دوی لوړه وکړه چې سحر وخته به د خپل باغ میوې راڅنډي، یعنی د خپل باغ او پټې کښت او میوې به راغونډوي او هیڅ چا ته به نور خیرات نه ورکوي، او د ان شاءالله کلمه هم د دوی په خوله رانغله.

ګرانو دوستانو! الله تعالی د مکې خلک په ولړه او قحطۍ سره وازمایل، خو دوی هیڅ پند او عبرت وانخست او په خپل کفرکې همداسې ټینګ پاتې سول، لکه د هغه باغ څښتن چې دوی الله وازمایل، ځکه دوی لوړه وکړه چې د خپل باغ میوې به سحر وخته راڅنډي او بیا بې راټولوي او مسکینانو او بې وزره کسانو ته به خیرات نه ورکوي، او د استثناء دعاء (ان شاء الله) یې هم ونه و یله، روایت سوئ دئ چې دا باغ د عر بانو لویې جز یرې په سو یل یمن کې پروت ؤ او د باغ څښتن به د میوو څنډلو او راټولولو په موسم کې بې وزره کسانو ته خیراتونه ورکول، خو کله چې د

باغ خاوند مړ ســه، نو زامنوپې لوړه وکړه چې نور به د خپل باغ میوو نه؛ هیڅ چا ته خیرات ورنکړي او خپلو ځانو سره یې و یو یل: خو په دا ورځ به ټول بې وزره مسکینان خبریږي او باغ ته به خیرات پسې راځي، نو بیایې د (ان شاء الله) کلیمې نه پرته وو یل: چې دوی به سحر وخته مخکې لدې چې ســوالګر راســي باغ ته لاړ ســي، نو بیا هغه وه چې الله تعالی د باغ میوې د دوی د ورتګ نه مخکې د اور په لمبو له منځه یوړې.

او په ور پســې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ ته د دغې قصــې بیان پدې لاندې آیتونوکې کړئ دئ چې د عر بانو لوی ټاپو په جنوب کې د دغو بخیلانو باغ د اور په لمبوکې وسوز یده او فرمایلي دي:

[۱۹-۲۰] نو ای پیغمبره! بیا چې کله په شــپه کې دوی و یده ول؛ په باغ باندې د ســتا رب الله لخوا [د یو کړزندوی طوفاني] اور را تاو ســه او ټول باغ یې وسوزا ؤ او هغه لکه د تورې شپې تیاره تک تور وګرځیده.

[۲۱-۲۲] نو بیا چې کله سحر دوی راجګ سول په یو بل یې غږ وکه او و یو یل: که غواړئ چې د باغ میوې وخنډئ او راټولې یې کړئ؟ نو ســحر وخته خپل باغ ته لاړ سئ.

[۲۳-۲٤] نو بیا دوی پټ پټ خپل باغ ته وخوځیدل، ترڅو چې باغ ته نن کم یو مسکین وردننه نسي.

[۲۵] او سحر وخته په خپل ټول توان او ځواک ســره چې ګو یا هرڅه کړلای سي؛ خپل باغ او کاروندې ته لاړل.

[۲٦-۲۷] نو بیا چې کله دوی خپل باغ ولیده؛ ګوري چې ســوز یدلئ دئ نو و یو یل: دا زمونږ باغ ندئ او مونږ په یقین ســره ورک ســوي یو [یعنی لار راڅخه غلطه سوی ده] خو بیا چې کله باوري سول چې هغه د دوی باغ دئ، نو و یو یل: مونږ د محرومانو نه یو، یعنی دا چې دوی په خپله ګناه پوه ســول او اقرارې وکه چې دوی د خپل هغه باغ میوو نه چې مســکینان یې ورڅخه منعې کول محروم سوي دي.

[۲۸] نو بیا د دوی مینځوي هوښــیار ورور وو یل: ما درته ونه و یل چې

ولې تسبیح نه وایي، یعنی ولې: (سبحان الله او إن شاء الله) نه وایي؟ ترڅو الله د ظلم نه په پاکۍ سره یاد سي، ځکه الله د هر ډول ظلم نه پاک دئ!

[٢٩] نو بیا دوی ټولو وو یل چې د زمونږ لوی رب د ظلم نه پاک دئ او مونږ یقینا چې ظالمان یو، یعنی مونږ پرخپلو ځانو باندې ظلم کړئ دئ، او الله تعالی ظلم ندئ کړئ، ځکه الله تعالی د ظلم نه پاک دئ.

[٣٠-٣١] نو بیا دوی یو بل سره ملامت کړل او و یو یل: مونږ ده هلاك سو، ځکه مونږ یقینا سرکښ وو.

[٣٢] او هیله ده چې د زمونږ رب الله د دې باغ نه بل ښه باغ راکړي، او مونږ غواړو چې خپل رب الله ته کلکه تو به و باسو او بښنه وغواړو.

[٣٣] هو! اي خلکو! دا دئ د دنیا عذاب او سزا، نو تاسې پوه سئ چې د آخرت ورځې عذاب ډیر غټ دئ، یعنی دا چې ښایې د سرکښۍ نه لاس واخلئ او د خپل رب نعمتونو او د لو یو پیرزو ینو شکر و باسئ.

قدرمنو عز یزانو! دا قصه ډیره د پند اخستلو نه ډکه قصه ده او ښایي چې مونږ ورڅخه ښه ګټه واخلو او هیڅ کله د الله تعالی لو یو نعمتونو نه منکر نسو او د خیرات کړو نه په بخیلۍ سره لاس وانخلو او مسکینان محروم نکړو.

{ متقیانو ته جنتونه ډالۍ کیږي او کافران و رسره بر ابر ندي }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی متقیانو ته ثوابونه ورکوي، او کافران ورسره نه برابروي او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٣٤﴾ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَكُمْ أَيْمَٰنٌ عَلَيْنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾ أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَأْتُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٤١﴾﴾

[٣٤] هو! یقینا چې متقیانو ته د خپل رب الله سره د نعمتونو نه ډک

جنتونه او لوی بڼې نه دي.

[٣٥-٣٦] او ای خلکو! آیا مسلمانان [چې دوی د الله حکمونه منلي دي] د مجرمانو سره [چې د الله حکمونو نه یې سرکښي کړې ده] برابر کړو؟ نو ای خلکو! پر تاسې څه وسول، څنګه حکم او پر یکړه کړئ؟ یعنی مسلمان او کافر سره برابروی، حال دا چې الله عادل ذات دئ او هیڅ کله متقیان او مجرمان نه سره برابروي، بلکې مومنانو ته الله تعالی لوی جنتونه او کافرانو ته کلکه سزا ورکوي.

ګرانو لوستونکو! استفهام دلته انکاري دي، یعنی دا چې مومن او کافر هیڅ کله سره برابر ندي.

[٣٧-٣٨] او یا دا چې د ستاسې سره [ای د مکې خلکو!] اسماني کتاب دئ او پکې دغسي حکم لولئ؟ او تاسې ته پکې یقینا د ستاسې خوښې حکمونه دي؟

[٣٩] او یا دا چې تاسې ته ای خلکو! د زمونږ لخوا داسې هوډونه او هوکړې درکړل سوي دي چې تاسې تر قیامت ورځې پورې څه غواړئ، هغسې وکړئ؟ یعنی نو ځواب دا چې: نا! حقیقت داسې ندئ او د مکې کافرانو ته الله هیڅ واک ندئ ورکړئ.

[٤٠-٤١] نو ته ای پیغمبره! د کافرانو نه و پوښته چې څوک د دوی نه د دغو حکمونو ضامن او ذمه وار دئ؟ او یا دا چې دوی ملګري لري، نو که دوی د ر یښتیا و یونکو نه وي، نو خپل دا ملګري او شر یکان ده راولي چې د دوی د خبرو ضمانت وکړي، یعنی خو حقیقت دا دئ چې د کافرانو ټولې خبرې بې بنسټه دي، ځکه هیڅ سالم عقل او سم دین هغه نه مني.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د کافرانو ټولې هغه خبرې او خامې انګیرنې چې د دوی سره وې؛ غندلې او ردې کړې دي، ځکه هغه د دوی د هوا او هوس غوښتنې دي.

{کافران ده ځانو نه د قیامت ورځې مختورنی نه وساتي}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې کافران الله تعالی د قیامت ورځې

سزاګانو نه په کلکه سره کوښلي دي او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۖ وَقَدْ كَانُوا۟ يُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمْ سَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ فَذَرْنِى وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ ۖ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾ وَأُمْلِى لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ ﴿٤٥﴾ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾﴾

[٤٢] ای پیغمبره! کافرانو ته د قیامت ورځ ور په یاد کړه او په هغه ورځ د خلکو په منځ کې حکم کړو ته الله در یږي [یعنی بیا الله د خپل مقام سره لائق] پایځې رابډ وهي او کافران د الله په حضور کې سجدې کړو ته رابلل کیږي، نو بیا دوی په هغه ورځ سجده کړلای نسي، یعنی دا ځکه چې دوی د ډیر کبر نه په دنیا کې الله ته سجده ونکړه، نو اوس په آخرت کې هم سجده کړلای نسي، خو مومنان په هغه ورځ په ډیرې اسانۍ سره د الله په حضور کې سجده کړي.

[٤٣] او د کافرانو سترګې په هغه ورځ مړې وي او د ډیر شرم او سپکاوي نه ستومانه کَته ګوري، ځکه دوی په دنیا کې چې روغ رمت ول؛ سجدې کړو ته رابلل کیدل، خو د کفر او کبر له وجهې دوی سجده نکړه، یعنی لمنځونه یې نکړل، نو دا دئ اوس دوی الله په آخرت کې شرمولي دي او سجده کړلای نسي، یعنی نو دعا کړو چې الله تعالی ده مونږ د محشر په ورځ د دغسې تورمخۍ نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

[٤٤-٤٥] [نو اوس ای پیغمبره!] هغه څوک چې دغه قرآن یې دروغ باله ما ته پر یږده، زه به دوی د داسې یوې خوا نه چې دوی ور باندې نه پوهیږي [یعنی هیڅ پام یې ندئ؛ همداسې په ګناه کړو او سرکښۍ کې ورننه باسم] او زه دا کافران ښه زنډوم او مهلت ورکوم، خو بیا د زما نیول ډیر کلک دي، یعنی الله کافرانو ته د دنیا په ژوند کې د زنډولو نه وروسته چې بیا کله دوی تو به ونه باسي؛ ښه کلکه سزا په آخرت کې ورکوي.

[٤٦-٤٧] ای پیغمبره! او آیا ته د دغو کافرانو نه کمه مزدوري او اجرت غواړي؟ [ځواب: نا! ته هیڅ کله هم د خپل دعوت په عوض کې د دوی نه څه شئ نه غواړي] ځکه دوی دغسې تاوان ورکول پر خپلو ځانو باندې دروند بار بولي! او یا دا چې آیا دا د دوی پټ علم دئ او د ځان سره یې لیکلئ دئ؟ یعنی کافران به بیا پدې علم خپلو ځانو ته لو یتیا وغواړي؟ ځواب داچې دا ټول د کافرانو خام خیالونه او خو بونه دي هیڅ ارزښت او اعتبار نه لري.

{ پیغمبر ته الله د خپل قوم پر وړاندې د صبر وصیت کړئ دئ }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ کلک صبر او زغم ته رابللئ دئ او د یونس علیه السلام غوندې بې صبرۍ نه یې کلک کوابللئ دئ او فرمایلي دي:

﴿فَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلۡحُوتِ إِذۡ نَادَىٰ وَهُوَ مَكۡظُومٞ ٤٨ لَّوۡلَآ أَن تَدَٰرَكَهُۥ نِعۡمَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ لَنُبِذَ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ مَذۡمُومٞ ٤٩ فَٱجۡتَبَىٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٥٠ وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَيُزۡلِقُونَكَ بِأَبۡصَٰرِهِمۡ لَمَّا سَمِعُواْ ٱلذِّكۡرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجۡنُونٞ ٥١ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٥٢﴾

[٤٨] نو ته ای پیغمبره! [د کافرانو په دغو خبرو چې تا لیونئ بولي] د خپل رب الله حکم او پر یکړې ته انتظار و باسه او صبر وکړه، او لکه د کب یا مایي ملګري (یونس علیه السلام) غوندې مه بې صبره کیږه، هو! کله چې یونس په ډیره غوصه کې غږ وکه، یعنی خپل قوم ته یې د الله عذاب را نازلیدل ډیر ژر وغوښتل!

[٤٩-٥٠] او یونس که د خپل رب نعمت او رحمت نه وای رانیولئ، نو یقینا چې دئ به په صحرا کې همداسې رټل سوئ پروت ؤ، خو بیا یونس د

هغه رب الله غوره كه او د صالحانو نه يې وګرځا ؤ.

قدرمنو دوستانو! يونس عليه السلام د الله تعالى يو صالح بنده او پيغمبر ؤ، خو قوم يې د هغه پيغمبري ونه منله او د ايمان راوړو نه يې سركښي وكړه، نو بيا يونس د دوى پر وړاندې بې صبره سه او خپل قوم يې پر ښود او په بېړۍ كې سپور وتښتيده، او بيا دئ په سمندركې د دو بيدو سره كب په خپل كام كې واچا ؤ، خو الله تعالى يونس عليه السلام په خپل رحمت سره وساته او د سمندر نه يې وچې ته را وايست او د صالحانو نه يې وګرځا ؤ.

هو! د يونس عليه السلام قصه په وار وار سره په قرآن كر يم كې يادە سوې ده، او كله چې د يونس پام سه چې د خپل قوم زورونو پر وړاندې يې بې صبري وكړه، نو بيا ژر الله ته وروګرځيده او خپله تيروتنه يې ومنله او د الله تعالى نه يې خلاصون وغوښت، نو بيا الله تعالى په خپل فضل سره يونس عليه السلام باندې ورحميده او د كب په كام كې يې ورته نجات وركه، او الله تعالى په خپل لوى قدرت سره يونس عليه السلام كب وچې ته را وغورځا ؤ، او بيا دئ هلته الله تعالى د كدو وني لاندې روغ كه، نو بيا يونس عليه السلام د الله حكم په مخ يوړ، نو دا چې د يونس عليه السلام بې صبرى ډيرې ترخې پايلې درلودې، نو الله تعالى د هغه قصه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته او د هغه امت دعاتو ته د زدكړې په مقصد په قرآن كر يم كې تل پاتې ساتلې ده، او پدې مباركه سوره كې يې رسول الله صلى الله عليه وسلم مخامخ د يونس په بې صبرى نښكولئ دئ، او دا ننګونه د هغه امت علماوو او دعاتو ته تل پاتې درس دئ، نو ښايي چې دعات دغه د صبر كړو سبق هيڅ كله هير نكړي.

[٥١] اى پيغمبره! او كله چې كافرانو قرآن واور يده، نو لنډه وه چې دوى تا د خپلو سترګو ليمو غشو په و يشتلو سره را وغورځوي، او دوى وايي محمد خو په يقين سره ليونئ دئ.

[٥٢] [اى خلكو!] قرآن د نړئ ټولو خلكو ته د لارښودنې او سپارښت پيغام دئ!

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مباركو آيتونوكې د كافرانو پرله

پسې تورونه او دروغژنې خبرې د رسول الله ﷺ پر ورلاندې يادې کړې دي او مونږ ته يې هغه ښې بيان کړې دي،او رسول الله ﷺ يې صبر او زغم ته رابللئ دئ، او د کافرانو ټول دروغژن تورو نه يې رد کړي دي او د رسول الله پيغمبري او رسالت يې نړۍ والو ته اعلان کړئ دئ، او د اسلام په عالميت سره يې د القلم مبارکه سوره پای ته رسولې ده، نو اسلام ته رابلونکو دعاتو ته ښايې چې دا لارښودنې په ډير ژور فکر سره تل ولولي، او بيا په پوره صبر سره خپل دعوتي رسالت او دنده په مخ يوسي او هيڅ کله بې صبره نسي او د پيغمبرانو غوندې په سړه سينه د الله دين ته دعوت وکړي او دوی د الله عبادت او بنده ګۍ ته په اخلاص سره راو بولي .

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الحاقه سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الحاقه سورې لنډه پيژندنه او لوى مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الحاقه مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالى د قيامت ورځې په يقيني راتګ باندې ټينګار کړئ دئ، ځکه هغه ورځ حق ده او خامخا را تلونکې ده، که څه هم ډير خلک ورځخه منکر سول او د دنيا ژوند نه وروسته بل ژوند نه مني، خو الله تعالى به دغو منکرو کسانو ته کلکه سزا ورکړي، او بيا الله تعالى پدې مبارکه سوره کې د قيامت ورځې څرنګوالئ مونږ ته بيان کړئ دئ او مومنانو ته يې په هغه ورځ ز يرئ ورکړئ دئ او کافران يې د قيامت ورځې پښيمانۍ نه کلک ګواښلي دي، او دا چې د دې مبارکې سورې اصلي موضوع د قيامت ورځې د حتمى راتګ بيان دئ او هغه ورځ خاماخا راتلونکې ده او ايمان پر هغه ورځ د عقيدې ارکانو نه دئ، نو ځکه دا سوره په (الحاقة) نومول سوې ده او الحاقه د قيامت ورځې د ډيرو نومونو نه يو نوم دئ، لکه: الواقعة، الساعة، الطامة، القارعة او نور... او په پيل کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

{د قيامت ورځې راتګ حق دئ او هيڅ شك پکې نسته}

﴿ٱلۡحَآقَّةُ ١ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ٢ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ٣ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ وَعَادُۢ بِٱلۡقَارِعَةِ ٤ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ ٥ وَأَمَّا عَادٞ فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٖ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٖ ٦ سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ سَبۡعَ لَيَالٖ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومٗاۖ فَتَرَى ٱلۡقَوۡمَ فِيهَا صَرۡعَىٰ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٖ ٧ فَهَلۡ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٖ ٨﴾

[١-٣] د قيامت ورځې راتګ حق او ر يښتيا دئ، نو د دغې ورځې

حقیقت، ر ښـــتینوالئ او څرنګوالئ څنګه او څه شـئ دئ؟ او تـه ای پیغمبره! څه پوه سوې چې د قیامت ورځ څنګه یوه ورځ ده؟

[٤] د ثمود او د عاد خلکو د قیامت ورځې راتګ چې هغه په ر ښـــتیا ســـره راتلونکې ده؛ دروغ وګڼه، یعنی د الله پیغام یې د دغې ورځې راتګ په باره کې د پیغمبرانو په خولو ونه مانه.

[٥-٦] نو بیا ثمودیان په ډیر کړونکي غږ سره هلاك سـول، او عادیان ږ ښـوونکې طوفاني شمال یا باد تباه کړل.

[٧] [او دا ر ښې و یسـتونکي عذابونه پردغو خلکو باندې] پرله پسې او ؤ شې او اته ورځې الله مسلط کړل، نو بیا د دغو کلیو ولسـونه نور بې اوښـــه ســـول او لکه د کجورو یا خرما ونو کوندې خواره واره پرځمکه رانسکور سـول.

[٨] نو ای پیغمبره! آیا تـه د دوی نـه څوک و یې چې ژونـدي پاتې وي؟ یعنی دا چې الله تعالی د دغو سـرکښـو ولسـونو ر ښـې د بیخ نه داسـې را وایسـتلې چې هیڅ څوک یې ژوندي پاتې نسـول او ټول هلاك سـول.

درندو عزیزانو! ثمود او د عاد ولسـونه د مکې په شـمال کې د شـام په خیرمه میشـت ول او کلي هلته ول او د دوی قصـې په قر یشـو کې خورې وې، نو ځکه په عظیم الشـان قرآن کې دا قصـې د مکې کافرانو ګواښـونې په مقصد مکررې یادې سوې دي، ترڅو قر یش ورڅخه څه زده کړي.

{د نوح نجات بیړۍ او د فرعون هلاکت د زدکړې سبقونه}

او بیا په ور پســې مبارکو آیتونوکې د نوح عليه السلام د نجات او د فرعون د هلاکت یادونې قصـې مونږ ته الله تعالی د عبرت اخسـتلو په مقصـد کړې دي او فرمایلي دي:

﴿وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَن قَبۡلَهُۥ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ بِٱلۡخَاطِئَةِ ٩ فَعَصَوۡاْ رَسُولَ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً ١٠ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلۡمَآءُ حَمَلۡنَٰكُمۡ فِي ٱلۡجَارِيَةِ ١١ لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةٗ وَتَعِيَهَآ أُذُنٞ وَٰعِيَةٞ ١٢﴾

[٩-١٠] هو! فرعون او د هغه نه مخکې خلک او په بل مخ اوښتل سوو سيمو خلک [لکه د لوط عليه السلام قوم] د خپلو بدو کړنو سره را غلل او د خپل رب پيغمبر نه يې سرکښي وکړه، نو بيا دوی الله ډير کلک راونيول، يعنی ټول يې هلاک او تباه کړل.

[١١-١٢] او کله چې او به طوفاني سوې، نو بيا مونږ ای خلکو! د ستاسې غور نيکونه يقينا د نوح سره په بيړۍ کې سپاره کړل، ترڅو دا بيړۍ (کښتۍ) تاسې ته د پند او عبرت اخستلو يادونې سبق وکړئي، او د پوهاوي اور يدونکو غوږونو څښتن ښه پوه سي او ورڅخه کته واخلي.

{د قيامت ورځې لړزونکئ انځور او د الله عظمت څرګندې نښې}

او همدارنګه په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د قيامت لويې ورځې لړزونکئ انځور سره د الله تعالی لو يتيا او عظمت څرګندې نښې مونږ ته وړاندې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ١٣ وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ١٤ فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١٥ وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ ١٦ وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ١٧ يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ ١٨ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ١٩ إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَٰقٍ حِسَابِيَهۡ ٢٠ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ٢١ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ٢٢ قُطُوفُهَا دَانِيَةٞ ٢٣ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَآ أَسۡلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡأَيَّامِ ٱلۡخَالِيَةِ ٢٤ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُوتَ كِتَٰبِيَهۡ ٢٥ وَلَمۡ أَدۡرِ مَا حِسَابِيَهۡ ٢٦ يَٰلَيۡتَهَا كَانَتِ ٱلۡقَاضِيَةَ ٢٧ مَآ أَغۡنَىٰ عَنِّي مَالِيَهۡ ٢٨ هَلَكَ عَنِّي سُلۡطَٰنِيَهۡ ٢٩ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ٣٠ ثُمَّ ٱلۡجَحِيمَ صَلُّوهُ ٣١ ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسۡلُكُوهُ ٣٢ إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ٱلۡعَظِيمِ ٣٣ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣٤ فَلَيۡسَ لَهُ ٱلۡيَوۡمَ

هَٰهُنَا حَمِيمٞ ٣٥ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنۡ غِسۡلِينٖ ٣٦ لَّا يَأۡكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡخَٰطِـُٔونَ ٣٧

[١٣-١٧] نو بيا چې کله د قيامت ورځې د راتګ سورنۍ يوځل پوه سي او ځمکه او غرونه د خپل ځای نه ور باندې را پورته سي، نو بيا په بل ځل سره ټوله ځمکه ټوټه ټوټه سي، نو بيا په هغه ورځ قيامت در يږي او اسمان په هغه ورځ چوي او درې وړې کيږي، او ملائکې د اسمان په هر کوډ کې وي، او اته غټې ملائکې د خپل رب الله عرش(څوکۍ) په سرو باندې نيولې وړي.

[١٨] او په هغه ورځ تاسې ټول ای خلکو! د الله پر وړاندې درول کيږۍ او د ستاسې کړنو نه هيڅ څه شئ د الله نه پټ ندي، يعنی الله ته هرڅه ښه څرګند او ښکاره دي.

[١٩-٢٤] نو بيا چې هرچا ته په دغه ورځ د هغه برئ ليک په ښي لاس ورکړل سه، نو بيا دئ د ډيرې خوښۍ نه وايي: دا دئ د زما برئ ليک، نو هغه ولولۍ؛ هو! ما يقين درلود چې زه به د خپلو ښو کړنو ثواب لاس ته راوړم، نو بيا به دا مومن بنده د خوښۍ نه ډک ژوند لري او په لوړو جنتونوکې به اوسيږي، او د جنت ميو راشکول به ورته لنډ وي او بيا جنتيانو ته و يل کيږي: په دنيا کې د خپلو ښو کړنو د ثوابونو ميوې او [د هغو] شر بتونه په خوښۍ سره وخورۍ او هغه وڅښکی! يعنی د دغو ډيرو نعمتونو نه خوند واخلۍ.

[٢٥-٢٩] او هغه چا ته چې د هغه د کړنو عمل نامه په کين لاس ورکړه سي، نو بيا هغه د ډير خفتيان نه وايي: کاشکې ما ته د زما عمل نامه نه وای راکړل سوي او د خپلو بدو کړنو د سزا نه نه وای خبر سوئ، او ای کاشکې د زما مرګ په لمړی ځل کې فيصله سوئ وای [يعنی بيرته نه وای را ژوندئ سوئ] هو! ما ته خو د زما د دنيا مال او دولت هيڅ ګټه ونکړه او د زما ټول زور او ځواک راڅخه پاتې او تباه سه او له منځه لاړه.

[٣٠-٣٥] [نو بيا د دوزخ ساتونکو ملائکو ته حکم کيږی] چې دغه کافر بنده را ونيسۍ او لاس او پښې يې سره وترۍ او بيايې د دوزخ په سره اور

كې وكړوى، او بيا او يا متره اوږد وسپنيز زنز ير د دې كافر په نس كې ورننه باسي، څكه هغه يقينا په خپل لوى رب الله باندې ايمان نه ؤ راوړئ، او بې وزره مسكينانو ته يې خواړه او ډوډى نه وركول [يعنى خيرات يې نه كا ؤ] نو څكه نن دئ دلته هيڅ څوك ګران ملګرئ نه لري.

[٣٦-٣٧] او د زوو نه ډكو خوړو نه پرته نور خواړه نه وركول كيږي، او دغسې خواړه؛ يوازې د ګناه ګارانو او د كافرانو خواړه وي!

نو دعا كړو چې الله تعالى ده مومنان د دغسې تور برخليک نه په خپل لوى فضل او رحمت سره وساتي.

{ قرآن د ښه عزتمن پيغمبر ﷺ وينا ده نه د شاعر }

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د قرآن په ر يښتينوالي كلک ټينګار كړئ دئ او هغه الله تعالى په خپل پيغمبر ﷺ باندې را كوز كړئ دئ، ترڅو هغه خپل قوم ته ورسوي او فرمايلي دي:

﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَا تُبۡصِرُونَ ٣٨ وَمَا لَا تُبۡصِرُونَ ٣٩ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ٤٠ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَاعِرٖۚ قَلِيلٗا مَّا تُؤۡمِنُونَ ٤١ وَلَا بِقَوۡلِ كَاهِنٖۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٤٢ تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٣ وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ ٱلۡأَقَاوِيلِ ٤٤ لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ ٤٥ ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ ٱلۡوَتِينَ ٤٦ فَمَا مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ عَنۡهُ حَٰجِزِينَ ٤٧ وَإِنَّهُۥ لَتَذۡكِرَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ٤٨ وَإِنَّا لَنَعۡلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ٤٩ وَإِنَّهُۥ لَحَسۡرَةٌ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٥٠ وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلۡيَقِينِ ٥١ فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ٥٢﴾

[٣٨-٤١] اى خلكو! نو زه په هغه څه باندې چې تاسې هغه په سترګو و يني [او په هغه څه چې هغه د ستاسى نه پټ دي] او تاسې هغه په سترګو نه و يني؛ لوړه او قسم كړم چې دا قرآن [يعنى دا كتاب حق دئ او هغه االله تعالى پرخپل پيغمبر باندې را نازل كړئ دئ] او هغه د ښه قدرمن پيغمبر و ينا ده چې خلكو ته يې لولي او د شاعر و ينا نده، خو

تاسې ای خلکو! ډیر لږ ایمان راوړی، یعنی تاسې د حق نه سرغړونه کړی!

[٤٢-٤٣] او نه قرآن د کاهن او د کوډګر خبرې دي، او تاسې ای خلکو! ډیر لږ پند اخلی او خبره منی، او دا قرآن د رب العالمین نه چې لوی څښتن دئ؛ را نازل سوئ کتاب دئ.

[٤٤-٤٨] او که محمد مونږ پسې ځینې و یناوې وتپي [یعنی مونږ پسې څه شيء افترا کړي] نو دئ به مونږ د ښي لاس نه کلک را ونیسو او بیا به د هغه زړه سره ترلئ رګ پر یکړو، نو بیا د ستاسې نه ای خلکو! هیڅ څوک د زمونږ مخه محمد نه نیولای نسي ، او یقینا چې دا کتاب قرآن متقیانو ته ښه ور پیادونکئ کتاب دئ، یعنی پکې د عبرت اخستلو ښه ډیر وعظونه نغښتي دئ، نو که څوک غواړي چې حق ته سم سي او نجات بیاموسي، نو ورته ښایي چې ایمان راوړي او قرآن ومني او په لارښودنوپې عمل وکړي.

[٤٩-٥١] او ای خلکو! مونږ په یقین سره پوهیږو چې د ستاسې نه ځینې کسان دا قرآن دروغ بولي او هغه نه مني، او د قرآن نه منکر یدل او هغه دروغ بلل کافرانو ته د قیامت په ورځ پښیماني ده، ځکه قرآن یقینا حق دئ، یعنی هیڅ شك پکې نسته.

[٥٢] ای پیغمبره! نو ته د خپل لوی رب په نامه تسبیح ووایه او خپل رب الله په پاکۍ سره یاد کړه او ښه یې وستایه!

عزتمنو لوستونکو! او بیا الله تعالی د الحاقې مبارکې سورې د پیل پوښتنو په ځواب کې فرمایلي دي چې د قیامت ورځې راتګ حق دئ او هغه ورځ د ټولو خلکو نه د حساب اخستلو ورځ ده، او بیا هرچا ته په هغه ورځ د هغه لائق ثواب او سزا ورکول کیږي، او هغه ورځ هرومرو راتلونکې ورځ ده او هرڅوک چې هغه نه مني؛ هغه ته په دنیا کې د آخرت ورځې راتګ نه مخکې کلکه سزا ورکول کیږي، لکه پخوا تیر سوي ولسونه: ثمودیان، عادیان، او د نوح او لوط علیهما السلام قومونه، او فرعون او د هغه سرکښ قوم او نور ډیر سرکښ ولسونه، او بیا مونږ ته الله تعالی د قیامت ورځې د راتګ عملي انځور او ډیر هولناک تصویر چې ځمکه او

اســمانانو پکې ټوته کيږي او چوي؛ وړاندي کړئ دئ، نو بيا چې په هغه ورځ چا ته د هغه عملونو او د کړنو برئ ليک په ښي لاس ورکړل سي؛ دئ ډير ور باندې خوشحاله کيږي او چا ته چې د هغه برئ ليک په چپ يا کين لاس ورکړل سي، نو هغه وايي: کاشکې د حساب نه مخکې همداسې خاورې او ايرې سوئ واى او بيرته نه واى راجک سوئ، ځکه په هغه ورځ کافرانو ته کلکه ســزا ورکول کيږي او د دوزخ اور ته لاس او پښــې ترلې ورغورځول کيږي.

قدرمنو عز يزانو! او بيا د دې مبارکې ســورې په پاى کې الله تعالى په قســم خوړلو ســره د اســلام پيغمبر محمدﷺ د پيغمبرى حقانيت ډير ځلاند بيان کړئ دئ، او د کافرانو ټول دروغژن تورونه يې په ډير کلک استدلال سره رد کړي دي، او په آخرکې يې رسول الله ﷺ د الله ستاينې ته په پاکې سره راباللئ دئ، يعنى دا چې الله تعالى د خپلو بنده ګانو په حق کې د هر ډول ظلم او تيري نه پاک دئ، ځکه الله تعالى لوى عادل ذات دئ او پر هيڅ چا باندې ظلم نکړي او ټولو خلکو ته د دوى لائق ثواب او ســزا ورکوي، او د الله تعالى دا د مکافاتو او مجازاتو زر پوښ قانون او نظام د الله هغه تل پاتې ســنت او نظام دئ چې ځمکه او اســمانو نه يې ور باندې په دنيا کې کلک درولې دي او ټول خلک يې همدې بې ســارې لوى حقوقي نظام په رڼا کې اســماني عدالــت تــه راباللي دي، نو ښــايې چې خلک د پيغمبرانو لارښودنو سره سم د الله کوني او شــرعي قانون باندې ځانو نه ښــه پوه کړي او هغه ومني او عمل پرې وکړي، ترڅو نجات بيامومي او ښاد سوي، سر لورئ او هوسا ژوند وکړي!

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصــحبه أجمعين، ســبحانك اللهم وبحمدك أشــهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د المعارج سورې معنا اولنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د المعارج سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو ورڼو او خو یندو! د المعارج مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالی کافرانو ته په عذاب ورکولو او مومنانو ته د ثواب ورکولو په بیان باندې ټینګار کړئ دئ، او د قیامت ورځې حتمي راتګ یې په کلکه سره یاد کړئ دئ، ځکه ایمان راوړل ور باندې فرض دي او هغه د ایمان پنځم رکن دئ، نو د هیڅ چا ایمان د آخرت ورځې منلو نه پرته نه صحي کیږي، او بیا الله تعالی مونږ د کافرانو تور برخلیک نه د قیامت په ورځ خبر کړي او کلک یې ګواښلي یو، او مومنانو ته یې په هغه ورځ د ډاډ ز یرئ ورکړئ دئ، او په پیل کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

{د قیامت ورځې لړزوونکئ انځوریا تصو یر}

﴿سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ ۝١ لِّلۡكَٰفِرِينَ لَيۡسَ لَهُۥ دَافِعٞ ۝٢ مِّنَ ٱللَّهِ ذِي ٱلۡمَعَارِجِ ۝٣ تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ ۝٤ فَٱصۡبِرۡ صَبۡرٗا جَمِيلًا ۝٥ إِنَّهُمۡ يَرَوۡنَهُۥ بَعِيدٗا ۝٦ وَنَرَىٰهُ قَرِيبٗا ۝٧ يَوۡمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلۡمُهۡلِ ۝٨ وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ۝٩ وَلَا يَسۡـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمٗا ۝١٠ يُبَصَّرُونَهُمۡۚ يَوَدُّ ٱلۡمُجۡرِمُ لَوۡ يَفۡتَدِي مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ ۝١١ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ۝١٢ وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِي تُـٔۡوِيهِ ۝١٣ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ يُنجِيهِ ۝١٤ كَلَّآۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ۝١٥ نَزَّاعَةٗ لِّلشَّوَىٰ ۝١٦ تَدۡعُواْ مَنۡ أَدۡبَرَ وَتَوَلَّىٰ ۝١٧ وَجَمَعَ فَأَوۡعَىٰٓ ۝١٨﴾

[١-٤] [د مکې کافرانو نه یو کس پرخپل ځان او پرخپل قوم باندې] د الله عذاب را کوز یدل وغوښتل او دا عذاب د قیامت په ورځ پر کافرانو باندې خامخا را لو یدونکئ او را تلونکئ دئ، او هیڅ څوک د الله پر وړاندې چې د لوړو پوړو (جګو اسمانونو) څښتن دئ؛ د هغه مخه نیولای نسي، او روح الأمین جبرئیل او نورې ملائکې الله ته په هغې یوه ورځ ور پورته کیږي چې د اوږدوالي او لوی والي اندازه یې د دنیا کلونو په پر تله پنځوس زره کاله ده، یعنی داچې هغه د قیامت ورځ ده چې او ږد والئ او لوی والئ ډیر دئ.

قدرمنو دوستانو! خو روایت سوئ دئ چې د قیامت ورځې پنځوس زره کلن اوږوالئ به پر مومنانو باندې د یوه فرض لمانځه د ادا کولو په اندازه وي، یعنی د قیامت ورځې اوږدوالئ پر مومنانو باندې دروند نه تمامیږي.

[٥] نو ته ای پیغمبره! د کافرانو پر زَورونو او په سپکو سپورو خبرو باندې کلک صبر وکړه، یعنی هغه وګاله او خپله حوصله او زغم مه بایله، یعنی ګیله او شکایت مکړه!

ګرانو عز یزانو! روایت سوئ دئ چې د قیامت ورځې عذاب د ژر راتګ غوښتونکې نضر بن حارث د مکې کافرانو یؤ مشر ؤ، نو هغه د رسول الله ﷺ سره د ډیرې کینې نه د قیامت ورځې عذاب د راتلو ژر غوښتونکئ سه، او د هغه دغسې بیړنۍ غوښتنې نه مونږ الله تعالی د الانفال سورې په (٣٢) آیت کې خبر کړي یو او فرمایلي دي:(اللهم إن كان هذا هو الحق من عندك فأمطر علينا حجارة من السماء) ای ر به! که دا کتاب قرآن حق وي او د ستا نه په ر یښتیا سره راغلئ وي، نو پر مونږ باندې د اسمان نه تیږې یا کانې راوور وه!

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د قیامت ورځې راتګ ډیر لنډ ګڼلئ دئ، که څه هم کافران د قیامت ورځې عذاب نه منکر دي او هغه ډیر لرې بولي او نې مني او فرمایلي دي:

[٦-٧] هو! یقینا چې کافران د قیامت ورځې راتګ ډیر لرې و یني، خو

مونږ هغه ډير را لنډ و ينو، يعنى دا چې د هرچا قيامت د هغه مرګ او مړ ينه په دنيا کې ده، او مرګ ډير را لنډ دئ او هيڅ څوک د خپل اجل نه خبر ندي او نه پوهيږي چې کله او څنګه او چيرته مړ کيږي؟ او پدې ترخه حقيقت باندې د الله نه پرته بل هيڅ څوک نه پوهيږي، ځکه د مرګ او ژوند واک؛ يوازې د الله په اختيارکې دئ، او هرکله چې د يو چا اجل د الله تقديري پر يکړې سره سم پوره سي، نو بيا هغه هيڅ کله وړاندې او وروسته نکيږي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې د قيامت ورځې د څرنګوالي په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

[٨-٩] او د قيامت په ورځ اسمان، لکه سوز يدلې تيل وي او غرونه، لکه شيندلې وړې وي.

[١٠] او په هغه ورځ هيڅ ګران خپلوان او دوست د يو بل پوښتنه نکړي، يعنى او دا ځکه چې هرڅوک د خپل ځان په دراندې و يرکې ډوب وي او يو د بل حال نه خبر نه وي.

[١١-١٤] او دوى يو بل و يني، خو څه کړلای نسي او هر مجرم او کافر په هغه ورځ خوښيږي که چيرې د دغې ورځې عذاب نه د خپلو زامنو، ميرمنې، ورور او د نورو خپلوانو تر برو او په ځمکه کې ميشتو ټولو خلکو په فدا کولو او قربانۍ سره نجات بيامومي او د عذاب نه خلاص سي! يعنى خو دا هيله او تمنا نور خوب او خيال دئ!

[١٥-١٨] او کافران هيڅ کله [د قيامت ورځې سزا نه خلاصيدای نسي] او دوى به د دوزخ سره اور په لمبوکې کړ يږي او پوستکې بې را باسي او ولې کوي بې او د اور دا لمبې؛ هغه څوک سوز يدو ته را کاږي چې هغه په دنيا کې حق ته شا ور واړوله [يعنى د الله حکمونو نه يې سرکښي وکړه] او د دنيا مال او دولت په راغونډولوکې لګيا سه، يعنى شکرې ونه و يست او د الله حق يې ور نکه او د عشر او زکات مانعينو نه ؤ!

{د انسان خوی په ویره کې چیغې او په هوسایي کې بخیلي ده}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ ته الله تعالی د عبرت اخستلو په مقصد د انسان خو یونه په نښه کړي او بیان کړي او فرمایلي دي:

﴿* إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ١٩ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ٢٠ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ٢١ إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ ٢٢ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ٢٣ وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ٢٤ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ٢٥ وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ٢٦ وَٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ ٢٧ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمۡ غَيۡرُ مَأۡمُونٖ ٢٨ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ٢٩ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ٣٠ فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ٣١ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ٣٢ وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمۡ قَآئِمُونَ ٣٣ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ٣٤ أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ ٣٥﴾

[١٩-٣٠] هو! یقینا چې انسان ډیر حریص او شکایت کوونکئ پیدا سوئ دئ، او هرکله چې ورته مصیبت او زیان ورسیږي؛ چیغې وهي او شکایت کړي، او بیا چې کله ورته خیر او ګټه ورسیږي؛ ډیر بخیله سي او چا ته څه شئ نه ورکوي [یعنی شکر نه باسي او د خپل مال او دولت خیرات نه ورکوي] خو لمونځ کړونکي مومنان بیا داسې ندي، ځکه دوی هغه کسان دي چې په خپلو لمنځونو باندې تل ولاړ وي، او د دوی په مال او دولت کې د سوالګرو او د بې وزرو کسانو حق ښکاره وي [یعنی هرچا ته خپل حق ورکوي] او دوی هغه کسان دي چې د قیامت په ورځ باور لري او د خپل رب عذاب او سزا نه کلک و یر یږي، ځکه یقینا چې د دوی د رب عذاب نه امنیت نسته، او مومنان هغه کسان دي چې دوی د خپلو عورتونو ساتونکي دي او د خپلو میرمنو او مینځو نه پرته بل هیڅ چا سره جنسي اړ یکې نه پالي او خپلو میرمنو سره په ملاسته دوی نه ملامتیږي، یعنی داځکه چې د دوی مینه د خپلو ښځوسره ماتیږي او د کوول خښتن

يا خاوندان کيږي.

[٣١-٣٥] نو هرڅوک چې لدې نه پرته د بل چا سره ناروا جنسي اړ يکې وغواړي، نو دوی تيرئ کونکې دي! [هو! لمونځ کونکې مومنان همدارنګه] د خپلو امانتونو، هوکړو او تعهدونو ساتونکې دي او دوی په خپلو شاهديو باندې ولاړ دي او ټول لمنځونه په خپلو ټاکل سوو وختونو کې کړي، نو هغوی به په جنتونوکې ښه عزتمن وي، يعنی په جنتونو کې به ښه نازول کيږي او قدر او عزت يې کيږي او د خوندورو نعمتونو نه برخمن کيږي.

{د کافر انو رسوا کونکئ انځورپه دنيا او آخرت کې}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مونږ ته د کافرانو بد حال انځور په دنيا او آخرت کې راښکاره کړئ او رسوا کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ ٣٦ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ٣٧ أَيَطۡمَعُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ ٣٨ كَلَّآۖ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّمَّا يَعۡلَمُونَ ٣٩ فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ٤٠ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ٤١ فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ٤٢ يَوۡمَ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ سِرَاعٗا كَأَنَّهُمۡ إِلَىٰ نُصُبٖ يُوفِضُونَ ٤٣ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۚ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ٤٤﴾

[٣٦-٣٩] ای پيغمبره! نو هغه کسان چې کافران سول د څه لپاره د ستا شاو خوا د ښي خوا او د چپ يا کين خوا نه درته ډله ډله را مندې وهي [يعنی در باندې راغوندېږي] نو آيا هر سړئ د دوی نه طمعه لري چې د جنت نعمتونو ته به ورننوځي؛ نا! هيڅ کله [داسې کيدای نسي او کافران جنتونو ته ورننوتلای نسی] ځکه دوی مونږ په يقين سره د هغه څه نه پيدا کړي دي چې دوی ور باندې پوهيږي، يعنی کافران مونږ، لکه نور خلک د خوارو او بو(منی) نه پيدا کړي دي او هيڅ ډول ځانګړتيا نه لري، نو کله چې دوی ايمان را نوړ جنت ته تلای نسي، او دا ده د عدالت او انصاف تله

چې ټول خلک ور باندې برابر تلل کيږي او هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکول کيږي.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د خپل لوى قدرت په بيان سره د قيامت ورځې په راتګ باندې کلک ټينګار کړئ دئ او په لوړې کړو سره يې فرمايلي دي:

[٤٠-٤١] نو د لمر راختلو او پر يوتلو (د ختيځ او لو يديځ) په رب او لوى څښتن الله باندې قسم دئ چې مونږ په پوره يقين سره هر څه کړلای سو! او هم کولای سوو چې دا کافران د دوى نه پرته په نورو ښو خلکو باندې بدل کړو، او هيڅ څوک پر مونږ باندې وړلاندې کيدای نسي، يعنى د زمونږ واک نه څوک وتلای نسي، نو ځکه الله تعالى د خپل ځان په لو يو قدرتونو لوړه کړي ده چې هرڅه وغواړي هغسې کړلای سي او هيڅ څوک د الله زور نه تښتيدای او خلاصيدای نسي.

[٤٢-٤٤] نو ته اى پيغمبره! دا کافران پر يږده چې همداسې خپلې ناروا لوبې وکړي او پکې پاتې سي، ترڅو دوى د خپلې هغې ورځې راتګ سره يوځاى سي چې د هغې ورځې وعده ورسره کيږي [يعنى هغه د قيامت ورځ ده] او د قيامت ورځ هغه ورځ ده چې کافران په منډو سره د خپلو ګورونو نه را وځي، لکه څنګه چې په دنيا کې د خپلو نومول سوو خدايانو (بتانو) ته په منډو سره ورټوليدل او سترګې يې د ډيرې سټړيا نه خوارې سوې مړې وي، او د قيامت ورځې د راتګ وعده د دوى سره په دنيا کې سوې وه، او د سزا نه يې و يرول سوي ول!

عزتمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د قيامت ورځې يقيني راتګ په بيلو بيلو دليلونو سره بيان کړئ دئ او د قيامت په ورځ به د عدالت په تله د ټولو خلکو سره حساب کيږي او هرچا ته به د هغه لائق ثواب او سزا ورکول کيږي، او د الله تعالى کلکو نيولو نه هيڅ څوک خلاصيدای نسي، ځکه الله لوى ځواکمن ذات دئ او د هرڅه کړو وسعه لري، خو سرکښو کافرانو ته سزا ورکول زنډوي، ترڅو دوى ښه په

ګناه کې پټ سي او بيا به سر کوزي په مړو سترګو؛ د الله حکمونو ته غاړه ږدي او د خپلو بدو کړنو سزا به خاماخا ګالي، او همدارنګه الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د انسان ځينې فطري بد خو يونه ياد کړي دي، خو مومنان چې د الله حکمونه عملي کوي؛ دوی د دغسې بدو خو يونو نه پاک دي او د مومنانو ښه خو يونه مونږ ته الله تعالى يو يو په نښه کړي دي، ترڅو هر مومن بنده؛ هغوی پسې لاړ سي او د کافرانو پيښې او تقليد ونکړي، ځکه د کافرانو راتلونکې توره ده او ځای جهنم دئ، او هيڅ کله د مومنانو لوړ مقام ته رسيدلای نسي، نو دعاء کړو چې الله تعالى ده ټول مومنان د دغسې ښو خو يونو څښتن کړي او خپل ځانونه ده د کافرانو غوندې په بدو خو يونو نه عادت کوي، او الله تعالى ده مومنانو ته توفيق ورکړي چې د الله لو يو نعمتونو شکر و باسي او په مصيبت کې صبر وکړي او هغه وزغمي او د کافرانو غوندې شکايت کړو نه ده ځانو نه وساتي.

والحمدلله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د نوح سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د نوح سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو عز یزانو! د نوح عليه السلام مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالى د نوح عليه السلام د پیغمبرۍ او رسالت څرنګوالي نه خپل قوم ته؛ مونږ خبر کړي یو او هغه یې را ته بیان کړئ دئ، ځکه نوح عليه السلام په خپل توحیدي دعوت او د الله بنده ګۍ ته په را بلنه کې؛ ډول ډول دلیلونه خپل قوم ته وړاندې او بیان کړل او د دعوت ټولې لارې او طریقې یې وکارولې، خو کله چې د نوح قوم د هغه دعوت او زړه سوانده نصیحتونو نه انکار وکه او هغه یې ونه منل او په خپل کفریې د نوح عليه السلام پیغمبرۍ په اوږده دوره کې چې نه سوه او پنځوس (٩٥٠) کاله وه؛ اصرار وکه، نو بیا نوح عليه السلام د الله نه د دوی هلاکت او تباهي وغوښتله او الله تعالى هم د هغه دعاء قبوله کړه او د نوح عليه السلام سرکښ کافر قوم یې د او بو په لوی طوفان کې ډوب او هلاك که، نو دا مبارکه سوره اسلام ته را بلونکو دعاتو ته د صبر او زغم نه د کار اخستلو لوی سر لیک دئ، او ښایي اسلام ته را بلونکي ټول دعات د نوح عليه السلام غوندې لوی صبر وکړي او د د عوت ټولو تګ لارو او ګټور تګ لارو او طر یقو نه کار واخلي، ځکه دعات د پیغمبرانو پر لار تګ باندې مکلف دي، او پیغمبرانو لکه نوح عليه السلام د الله تعالى حکم پرځای که، او نوح او ټولو پیغمبرانو څه ځاني ګټې نه درلودلې او نه یې ورته بلنه ورکوله.

هو! د نوح عليه السلام د دعوت دا اوږده قصه یا دوره مونږ ته الله تعالى پدې مبارکه سوره کې ښه اوږده یاده کړې او بیان کړې ده او فرمایلي دي:

{نوح خپل قوم د الله عبادت ته راوباله له عذاب یې وګواښه}

عزتمونو دوستانو! د نوح عليه السلام دعوت بیان په پیل کې الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرۡ قَوۡمَكَ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٢ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ٣ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرۡكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُۚ لَوۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤﴾

[١] هو! يقيناچې نوح مونږ د هغه قوم ته استازئ را ولیږه [یعنی هغه ته مونږ وو یل] چې خپل قوم او ولس ده مخکې لدې چې کړونکئ عذاب ورته راسي؛ د الله عذاب نه وګواښه.

[٢-٤] نو بیا نوح [پرخپل کافر قوم باندې غږ وکه او ورته یې] وو یل: ای د زما عز یزانو! زه تاسې ته د الله عذاب نه ښکاره و یرونکئ استازئ یم، نو تاسې یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړئ [یعنی د الله تعالی حکمونه ومنئ] او د الله عذاب او سزاء نه خپل ځانو نه وساتئ، نو بیا الله د ستاسې ګناه وې درته بښي او تاسې د ټاکل سوي وخته پورې زنډوي، او یقینا چې کله د الله ټاکل سوې نیټه راسي، نو که تاسې پوهیږئ هغه نوره نه وروسته کیږي، یعنی که عقل لرئ، نو د الله حکمونه ومنئ او یوازې د الله تعالی بنده کې او عبادت وکړئ او د بتانو بنده کئ نه ځانونه وساتئ!

{نوح علیه السلام الله ته د خپل قوم سرکښئ نه شکایت وکه}

د نوح علیه السلام مبارکې سورې په پیل کې مونږ الله تعالی د هغه شکایت نه چې د خپل قوم سرکښئ نه یې الله ته وکه؛ خبر کړي یو او فرمایلي دي:

﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوۡتُ قَوۡمِي لَيۡلٗا وَنَهَارٗا ٥ فَلَمۡ يَزِدۡهُمۡ دُعَآءِيٓ إِلَّا فِرَارٗا ٦ وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوۡتُهُمۡ لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ وَأَصَرُّواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ ٱسۡتِكۡبَارٗا ٧ ثُمَّ إِنِّي دَعَوۡتُهُمۡ جِهَارٗا ٨ ثُمَّ إِنِّيٓ أَعۡلَنتُ لَهُمۡ وَأَسۡرَرۡتُ لَهُمۡ إِسۡرَارٗا ٩ فَقُلۡتُ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارٗا ١٠﴾

[٥-١٠] [هو! کله چې نوح د خپل قوم په دعوت کې ښه ستړئ او

ناهيلې سه، نو بيا يې د خپل قوم سرکښۍ شکايت الله ته د دعاء په بڼه کې وکه] او و يو يل: ای د زما لو يه څښتنه! ما خپل قوم شپه او ورځ د ستا عبادت او بنده ګی ته را و باله، خو دوی زما را بلنې پر تا باندې د ايمان راوړو او عبادت نه؛ لا ډير د ستا بنده ګی نه وتښتول او لرې سول [هو؛ ای لو يه ر به!] يقينا هرکله چې دوی ما د ستا فرمانوړو ته را و بلل، ترڅو ته دوی و بښې، نو دوی به خپلې ګوتې په غوږونوکې کيښودلې او خپل ځانونه يې په جاموکې ونغښتل او پکې پټ يې کړل، ترڅو دا بلنه وانوري او ايمان را نوړي، او په خپل کفر باندې يې په ډير کبر سره تينګار وکه، خو بيا هم دوی ما په ښکاره سره ايمان راوړو ته را و بلل او خپل دعوت ما دوی ته ښکاره اعلان که، او په پټه سره هم ما دوی ايمان ته را و بلل، نو بيا دوی ته ما وو يل: د خپل رب او لوی څښتن الله نه وبښنه وغواړی، ځکه الله په يقين سره لوی بښونکئ ذات ئ.

{نوح د الله لوی نعمتونه خپل قوم ته ور په يا د کړل}

درندو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونوکې نوح عليه السلام همداسې د الله تعالی نعمتونه پرخپل قوم باندې سره د الله لوی قدرتونه په ځمکه او اسمانوکې ياد کړي دي او په بيان کې يې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا ١١ وَيُمۡدِدۡكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ جَنَّٰتٖ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ أَنۡهَٰرٗا ١٢ مَّا لَكُمۡ لَا تَرۡجُونَ لِلَّهِ وَقَارٗا ١٣ وَقَدۡ خَلَقَكُمۡ أَطۡوَارًا ١٤ أَلَمۡ تَرَوۡاْ كَيۡفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗا ١٥ وَجَعَلَ ٱلۡقَمَرَ فِيهِنَّ نُورٗا وَجَعَلَ ٱلشَّمۡسَ سِرَاجٗا ١٦ وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ نَبَاتٗا ١٧ ثُمَّ يُعِيدُكُمۡ فِيهَا وَيُخۡرِجُكُمۡ إِخۡرَاجٗا ١٨ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ١٩ لِّتَسۡلُكُواْ مِنۡهَا سُبُلٗا فِجَاجٗا ٢٠﴾

[١١-١٤] [نو بيا نوح عليه السلام خپل قوم ته وو يل: که تاسې ای خلکو! د کفر نه تو به و باسی او د الله نه وبښنه وغواړی] نو پر تاسې باندې به الله د اسمان نه د خپل رحمت ډير باران راووروي او نه ډير مال او زامن

به درکړي او داسې باغونه به درکړي چې د او بو و یالې پکې بهیږي، نو ای قومه! ولې تاسې د الله نه د وقار، درنښت او لو یتیا هیله نکړئ؟ [یعنی د سزا نه یې نه و یر یږي؟] حال دا چې تاسی الله پراو په پراو پیدا کړی، یعنی د پلار او مور د کډو سوو سرښناکه او بو نه د مور په نس کې نطفه سوی او بیا ټینګه و ینه او بیا اډوکې سوی او غوښه در باندې راشنه سوه، او بیا الله خپل روح په تاسې کې پوکه او را ژوندي یې کړی، ترڅو وز یږ یدلی او را لوی سوی!

[۱۵-۱۶] ای خلکو! آیا تاسې نه و ینی چې دا اووه پوړه اسمان الله څنګه پیدا که؟ او سپوږمی الله په اسمان کې رڼا وګرځوله او لمریې پکې څراغ وګرځا ؤ.

[۱۷-۱۸] او تاسې ای خلکو! الله د ځمکې نه، لکه بوټي راشنه کړئ، او بیا بیرته تاسې ځمکې ته ورګرځوي، او بیا تاسې د قیامت په ورځ الله بیرته را باسي او را ژوندي کوي مو.

[۱۹-۲۰] او ای خلکو! ځمکه تاسی ته الله اواره کړه، ترڅویې په لو یو لارو باندې هرې خوا ته لاړ سی، یعنی د ځمکې په سرچې چیرته غواړی هلته ورسیږی او بیا هلته ژوند وکړی، خو د نوح علیه السلام قوم همداسي په خپل کفر باندې ټینګ پاتې سه او ایمان یې رانوړ!

{نوح د خپل قوم مکرونو نه په تنګ سه او الله ته شاکي سه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د نوح علیه السلام د شکایت په لا ډیرې یادونې سره فرمایلي دي:

﴿قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَٱتَّبَعُوا۟ مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُۥ وَوَلَدُهُۥٓ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُوا۟ مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُوا۟ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ أَضَلُّوا۟ كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا ضَلَٰلًا ﴿٢٤﴾ مِّمَّا خَطِيٓـَٰٔتِهِمْ أُغْرِقُوا۟ فَأُدْخِلُوا۟ نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا۟ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ

أَنصَارًا ﴿٢٥﴾

[٢١-٢٣] او بيا نوح خپل رب ته و يو يل: اى د زما لو يه ر به! دغو خلكو په يقين سره د زما نه سركښي وكړه او د زما خبري يې ونه منلې، او هغه چا پسې لاړل چې هغه د دوى مال او كوول ډير نكه، بلكې لا ډيرې تاواني او ز يانمن كړل، او دوى ډير غټ غټ چلونه جوړ كړل او ډير ناپوه كسان يې وغولول او هغو ته يې وو يل چې خپل خدايان پرې نږدى او د ود، سواع، يغوث، يعوق او نسر بنده كې پرې نږدى.

هو! دا شپږ نومونه د نوح مشرك قوم د بتانو نومونه ول او دوى د دغو بتانو كاذب او دروغژن عبادت كا ؤ.

[٢٤] او يقينا چې د نوح قوم مشرانو ډير خلك د سمې لارې نه [چې توحيد دئ] ورك كړل او ته اى لو يه ر به! ظالمان د سمې لارې نه نه ښه ډير وركوي، يعنى دا ځكه چې دوى پرحق باندې تيرئ كړئ دئ.

[٢٥] [نو بيا د نوح كافر او سركښ قوم] د خپلو ګناه وو د لاسه د او بو په لوى طوفان كې غرق سول او پكې پر يتول او بيا د دزوخ اور سزا ته ور ننه و يستل سول، نو بيا د الله نه پرته بل هيڅ څوك دوى خپلو ځانو ته مرستندوى بيانمود.

{نوح خپل مشرك قوم ته د الله نه هلاكت وغوښت}

ګرانو دوستانو! نو بيا نوح عليه السلام د دغسې اوږدې او سترې مبارزې او دعوت نه وروسته؛ خپل قوم ته ښيرې وكړې او په دعاء كې الله ته وو يل:

﴿وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِوَٰلِدَىَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِىَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۗ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾﴾

[٢٦-٢٧] او نوح وو يل: اى د زما لو يه خدايه! د كافرانو نه هيڅ څوك په ځمكه كې ژوندئ پرې نږدې، ځكه كه ته څوك پر يږدې، نو هغه يقينا د ستا بنده ګان د سمې لارې نه وركوي او دوى د فاجرانو او كافرانو نه

پرته بل څوک نه پر يږدي.

[٢٨] او ای لو يه څښتنه! ما او د زما مور او پلار و ښه، او نور هغه څوک و ښه چې د زما کور ته مومن راننوت، او ټول نار ينه او ښځې مومنان و ښه او د دوی ګناه وو نه تير سه، او د ظالمانو او کافرانو تباهي په دنيا او آخرت کې لا ډيره کړه، يعنی دا ځکه چې دوی د ستا حکمونو نه سرکښي وکړه او ايمان يې را نوړ او حق ته تسليم نسول.

قدرمنو دوستانو او اسلام ته رابلونکو دعاتو! دا وه د نوح عليه السلام د (٩٥٠) کلنۍ اوږدې پيغمبرۍ او د نه ستړې کيدونکو دعوتي هلوځلو لنډه قصه چې هغه مونږ ته الله تعالی پدې مبارکه سوره کې چې د نوح په نامه نومول سوې ده؛ ياده کړې او بيان کړې ده، ترڅو مونږ دا قصه، لکه د نورو پيغمبرانو قصې په ډير دقت سره ولولو او بيا ورڅخه اسلام ته د رابلنې او د دعوت په لارکې ګټه واخلو، او هغه دا چې يقينا نوح عليه السلام د الله تعالی يو لوی پيغمبر ؤ او د الله تعالی په توفيق يې کلک عزم او قوي اراده او تصميم درلود، او نوح عليه السلام پوره (٩٥٠) کاله خپل قوم په ډول ډول دعوتي لارو سره په الله باندې ايمان راوړو ته او د هغه توحيدي عبادت ته را و باله، خو دوی په خپله سرکښي او پر کفر کلک ودر يدل او ټينګار يې ور باندې وکه او مشرانويې عام خلک پر ينښودل چې د بتانو عبادت نه لاس واخلي، ترڅو چې بيا نور نوح عليه السلام د اوږده (٩٥٠) کلونو دعوتي زحمتونو او ز يار و يستلو نه؛ ستړئ سه او بيايې خپل قوم ته کلکې ښيرې وکړې او د دوی هلاکت او تباهي يې د الله نه وغوښتله، نو بيا الله تعالی په خپل ډير لوی اعجازي قدرت سره خپل لوی قدرت او ځواک راښکاره که او د ابو لوی څپانده طوفان يې د نوح پر قوم را وست او د نوح عليه السلام قوم ټول سرکښ لښکر چې د نوح زوی هم پکې ؤ؛ هلاك سول او په طوفان کې غرق او ډوب سول.

نو ښاپي ګرانو مومنانو! چې مونږ د نوح عليه السلام قصې نه پوره ګټه واخلو او هغه په وار وار سره ولولو او خپل ځانو نه ښه په پوه کړو او بيا خپل ځانو نه په ايمان راوړو او ور باندې په ټينګيدو سره د الله تعالی قهر او

لويې غوصې نه کلک وساتو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله وعلى آله وأصحابه وعلى من دعا بدعوته واهتدى بهديه إلى يوم الدين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الجن سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالي په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الجن يا د پيريانو سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الجن مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالی مونږ ته د پيريانو ايمان راوړو قصه ياده کړې ده، ځکه د اسلام پيغمبر محمدﷺ استازولي انسانانو او پيريانو دواړو ته وه، لکه څنګه چې الله تعالی د الاحقاف په سوره کې فرمايلي دي:﴿ وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩﴾ معنا: [ای پيغمبره! او هغه وخت را په ياد کړه کله چې تا ته مونږ د پيريانو نه څو کسان درولېږل، ترڅو قرآن واوري، نو بيا چې کله دوی حاضر سول يو بل ته يې وو يل: کلک غوږ و باسئ! نو بيا چې کله د قرآن تلاوت خلاص سه؛ پيريان بيرته خپل قوم ته ګواښونکي ورستانه سول، يعنی دوی يې د الله عذاب نه وګواښل او ايمان ته يې راو بلل] او دا پيښه د الجن سورې نزول په شپه د النخلې په تنګي يا ناو کې وه، او دا تنګۍ د مکې معظمې په شمال شرق کې د سيل لويې لارې په خيرمه پروت دئ، او پيريان د الله تعالی بنده ګان دي او دوی الله، لکه انسانان خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي او دوی ته يې دا بلنه د رسول اللهﷺ په خوله رسولې ده، هو! پيريان که څه هم مونږ په سترګو نه و ينو، خو په موجوديت يې باور لرو، ځکه بيان يې مونږ ته الله تعالی په قرآن کې په يقين سره کړئ دئ، او بيا رسول اللهﷺ په خپلو خبرو او احاديثو کې د پيريانو يادونه په وار وار سره کړې ده، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالی د رسول اللهﷺ په خوله خلکو ته اعلان کړئ دئ چې پيغمبر ځان ته د کټې او تاوان رسولو هيڅ واک او اختيار نه لري، نو که دئ د

الله حکمونو نه سرغړونه وکړي، نو هيڅ څوک يې د الله سزا نه خلاصولای نسي، يعنی د رسول الله ﷺ پيغمبری هيڅ ډول شخصي غرضونه نه درلودل، بلکې هغه يوازې يو الهي مکلفيت ؤ چې رسول الله ﷺ په وحی يې سره په مخ ايوړ او خپل امت يې د الله بنده کی ته په توحيد سره را و باله.

درندو دوستانو! او د الجن مبارکې سورې په پيل کې الله تعالی مونږ د پيريانو هغې ډلکی نه خبر کړي يو چی دوی قرآن د رسول الله ﷺ نه د النخلې په ناو يا تنکي کې واور يده او دا تنکۍ، لکه څنګه چې لږ وړاندې يادونه وسوه د طائف او مکې په شمال شرق منځ کې د وادي السيل په لار کې د شرائع المجاهدين ښارګوټي نه وروسته مخ په شمال شرق پروت دئ، او په (وادي النخله) مشهور دئ، او د دغې لويې پيښې په بيان کې الله تعالی د الجن سورې په پيل کې فرمايلي دي:

{قرآن چې سمې لارې ته لارښود دئ پيريانو پرې ايمان راوړ}

﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ۝١ يَهْدِيٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ۝٢ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا وَلَدًا ۝٣ وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ۝٤ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ۝٥ وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ۝٦ وَأَنَّهُمْ ظَنُّواْ كَمَا ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَبْعَثَ ٱللَّهُ أَحَدًا ۝٧ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ۝٨ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٰٔنَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ۝٩﴾

[١-٣] ای پيغمبره![خلکو ته اعلان وکړه او ورته] ووايه: ما ته وحيه وسوه چې د پيريانو يوې ډلکی يقينا قرآن ته د رسول الله په تلاوت سره غوږ وايست، نو بيا دوی نورو پيريانو ته وو يل: مونږ د داسې يو قرآن تلاوت واور يده چې ډير حيرانونکۍ ؤ [يعنی د قرآن تلاوت او معنا مونږ

حيران کړو او هغه څومره زړه راښکونکې خبرې وي] او هغه هوښیارۍ او سمې لارې ته لارښود پیغام ؤ، نو بیا مونږ ور باندې ایمان راوړ او بل هیڅ څوک مونږ د خپل رب الله سره په خدایي کې او د هغه سره په عبادت کې نه ګډوو، ځکه د زمونږ لوی څښتن مقام ډیر لوړ دئ، او الله نه څوک ځان ته ښځه نیولې ده او نه ځوی! یعنی هغه څوک چې مر یم او زوی یې عیسی علیه السلام الله تعالی ته د زوی توب او د ښځې توب په نامه منسو بوی؛ هغوی کلک تیروتي دي او لو یه غلطي یې کړې ده، نو ښایي تو به و باسي.

[٤] او یقینا چې د زمونږ نه یو ناپوه کس الله پسې پرته وو یل، یعنی رټل سوي ملعون ابلیس چې د پیریانو نه دئ الله تعالی پسې سپکې سپورې وو یلې او و یو یل چې الله (العیاذ بالله) ښځه او ځوی لري!

[٥] او یقینا چې د زمونږ باور دا ؤ چې هیڅ انسان او پیرئ به الله پسې دروغ نه وایي، یعنی خو دا دئ اوس ځینې ناپوهان دغسې خبرې کړي.

[٦] او یقینا چې د انسانانو نه داسې کسان ول چې دوی به پیریانو ته پناه وړه [یعنی د هغوی نه بې مرسته غوښته] نو بیا پیریانو دغسې انسانان ډیر سترې او ستومانه کړل، یعنی ډیرې د کفر او د سرکښۍ په ډیران کې وغورځول او د حق سمې لارې نه ورک سول.

[٧] ای پیریانو! د انسانانو کافرانو داسې وانګیرله، لکه چې تاسې وانګیرله او خیال مو وکه او هغه دا چې الله هیڅ څوک د مرګ نه وروسته بیرته نه را ژوندي کوي، یعنی پیریان او انسانان ټول د قیامت ورځې نه منکر ول او ور باندی باور نه درلود.

ګرانو عزیزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د رسول الله ﷺ پیغمبري پیریانو ته، لکه انسانانو ته تاکید کړې ده، نو ځکه پیریان د الله په تقدیري حکم او امر باندې د رسول الله ﷺ مجلس ته راغلل او د رسول الله ﷺ نه یې قرآن واور یده او ایمان یې راوړ، نو بیا د پیریانو دغو مومنانو د الله تعالی لوړ مقام وستایه او هغه یې الله ته د ښځې، ملګري او د زوی نیولو نه؛ ډیر لوړ و باله، او دا شرکې فاسده عقیده او فکر د

نصاراوو فکر او عقیده وه، څکه دوی عیسی علیه السلام (العیاذ بالله) د الله زوی او د عیسی مور مر یم یې (العیاذ بالله) د الله ملګري بلله، او دا فاسده عقیده پیریانو په منځ کې یو دود ؤ، نو مومنو پیریانو هغه په کلکه سره غندلې ده، او همدارنګه دوی د خپل قوم سپکې سپورې و یناوې الله تعالی پسې کلکې غندلې او ردې کړې دي.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداسې د دغو مومنو پیریانو خبرو په یادولو سره فرمایلي دي:

[٨] او یقینا چې مونږ اسمان ته وختلو [یعنی دا چې ترڅو په اسمان کې د اوسیدونکو خبرې واورو] نو بیا اسمان مونږ د ډیرو کلکو ساتونکو(ملائکو) او سوزونکو غشو نه ډک بیاموند، یعنی په دغو سوزونکو غشویې هغه څوک و یشتل چې غوښتل یې دوی ته ور ورسیږي.

[٩] هو! یقینا چې مونږ پیریان به د اسمان خلکو خبرو اور یدو ته د دوی په څنګ کې کیناستیدو، خو اوس چې څوک وغواړي د ملائکو خبرې واوري، نو سوزونکې غشي یې څاري، یعنی د اسمان خبرو اور یدو ته یې نه پریږدي او په غشویې ولي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د کوډګرو ټولې هغه بې بنسټه خبرې ردې کړې دي چې وایي: دوی د پټو خبرو نه خبر دي او دا خبرې دوی ته پیریان راوړي، خو بیا چې کله پیریان اسمان ته د ختلو نه منعې سول، نو هڅه یې وکړه چې د دې بندیځ سبب او عامل نه ځان خبر کړي، نو ځکه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم په وادي النخله کې په داسې حال کې بیاموند چې د سحر یا د فجر په لمانځه کې قرآن لولي، نو بیا پیریان په هغه باندې راټول سول او د قرآن اور یدو ته یې کلک وغوږ وایست.

{پیریان د الله پریکړو نه خبر ندي او نه یې په الله زور رسیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د پیریانو خبرو په یادونه کې چې دوی د الله پر یکړو نه په ځمکه کې خبر ندي فرمایلي دي:

﴿وَأَنَّا لَا نَدۡرِيٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ أَرَادَ بِهِمۡ رَبُّهُمۡ رَشَدٗا ١٠﴾

وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعۡجِزَ ٱللَّهَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ هَرَبًا ﴿١٢﴾

[۱۰] او یقینا چې مونږ پیریان لا نه پوهیږو چې د ځمکې اوسیدونکو ته د شر او د ز یان رسولو قصد سوئ دئ او که دوی ته د دوی لوی څښتن خیر، هوښیاري او په سمه لار تک غواړي؟

[۱۱] [مونږ ډلې ډلې یو] او د زمونږ نه څوک صالحان او ښه خلک دي او ځینې نور بیا د هغوی نه ټیټ دي، او مونږ په بیلو بیلو لارو لاړو، یعنی پیریان ځینې مومنان ســول او ځینې کافران او د ملعون ابلیس ملکرتیایې وکړه او د هغه وسوسو ښکار سول، یعنی کلک وغولیدل او شیطان پسې لاړل او د هغه په لښکرکې ورګډ سول.

[۱۲] او مونږ په یقین سره دا باور لرو چې مونږ په ځمکه کې هیڅ کله پر الله باندې زورور کیدای نسو او نه ورڅخه په تیښته خلاصیدای سو!

{هغو پیریانو چې قرآن واورېده ایمان راوړو او نجات بیاموند}

او بیا الله تعالی د دغو پیریانو ایمان راوړو په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَأَنَّا لَمَّا سَمِعۡنَا ٱلۡهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦۖ فَمَن يُؤۡمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخۡسٗا وَلَا رَهَقٗا ﴿١٣﴾ وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ وَمِنَّا ٱلۡقَٰسِطُونَۖ فَمَنۡ أَسۡلَمَ فَأُوْلَٰٓئِكَ تَحَرَّوۡاْ رَشَدٗا ﴿١٤﴾ وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾ وَأَلَّوِ ٱسۡتَقَٰمُواْ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسۡقَيۡنَٰهُم مَّآءً غَدَقٗا ﴿١٦﴾ لِّنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَمَن يُعۡرِضۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ عَذَابٗا صَعَدٗا ﴿١٧﴾﴾

[۱۳] او یقینا کله چې مونږ د الله لارښــود پیغام (قرآن) واور یده؛ ایمان مو راوړ او هرڅوک چې پر خپل رب ایمان راوړي، نو هغه ده نور د ز یان او ستړیا نه نه و یر یږي، یعنی ایمان را وړل مومن ته د ډاډ ز یږئ دئ.

[۱۴-۱۵] هو! یقینا چې د زمونږ پیریانو نه ځینې کسان مسلمانان دي [یعنی د الله حکمونو ته پې غاړه ایښې ده] او ځینې نور ظالمان او سرکښ

دي، نو څوک چې مسلمان سه او الله ته تسليم سه؛ هغه د هوښياری سمه لار غوره کړه [يعنی هغه د حق په لار روان سه] او ظالمان [چې د حق سمې لارې نه واوښتل] نو دوی د دوزخ اور د بليدو او سوز لرکي دي.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانو ته ز يرئ ورکړئ دئ او فرمايلي دي:

[١٦] [هو! که د انسانانو او پيريانو کافرانو نه] څوک د اسلام په سمه لار سم سوي وای، نو دوی ته به مونږ ډيري خوږې او به ورځښکلې وې، يعنی د دوی روزي به الله ډيره کړې وه او ډول ډول نعمتونه به الله ورکړي ول او دوی بې ښاد کړي ؤ.

[١٧] ترڅو مونږ دوی په دغو نعمتونو سره وازمايو [چې څنګه شکر باسي؟] او هغه څوک چې د خپل رب اطاعت او فرمان ورو نه مخ اړوي [يعنی د الله ذکر قرآن ته غوږ نه باسي] الله به هغه ډير سخت عذاب ته ورننه باسي، يعنی د دوزخ په اورکې بې وکړوي.

{مسجدو نه د الله عبادت او بنده ګی لپاره ودان سوي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی خلکو ته سپارښت کړئ دئ چې په مسجدونوکې د الله سره بل څوک په عبادت کې ګډ نکړي، ځکه مسجدو نه يوازې د الله بنده ګی لپاره ودان سوي دي او فرمايلي دي:

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا ١٨ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدٗا ١٩ قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا ٢٠ قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا ٢١ قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا ٢٢ إِلَّا بَلَٰغٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦۚ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ٢٣ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوۡاْ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعۡلَمُونَ مَنۡ أَضۡعَفُ نَاصِرٗا وَأَقَلُّ عَدَدٗا ٢٤ قُلۡ إِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٞ مَّا تُوعَدُونَ

أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّيٓ أَمَدًا ﴿٢٥﴾ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴿٢٧﴾ لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا۟ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًا ﴿٢٨﴾

[١٨] او يقينا چې مسجدو نه د الله عبادت لپاره دي، نو ای خلکو! د الله سره بل څوک مه غواړئ، يعنی د بل هيڅ چا بنده کې مکړئ او مسجدو نه د شرك نه پاک کړئ او د الله نه پرته بل چا ته سجده مکړئ.

[١٩] او يقينا چې کله د الله بنده (پيغمبرﷺ) په لمانځه ودر يده او د خپل رب رضايې غوښتله، نو لنډه وه چې پيريان ډله ډله يو پر بل سپاره پر رسول الله باندې را ټول سي، ترڅو قرآن واوري، يعنی دغو مومنو پيريانو په ډيره مينه قرآن ته غوږ وايست او هغه يې واور يده.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی رسول اللهﷺ ته لارښودنه او سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٢٠] [او ته ای پيغمبره! کافرانو ته اعلان وکړه او ورته] ووايه: زه يوازې د خپل رب عبادت کړم او هيڅ څوک د الله سره په خدايي کې نه ګډوم، يعنی د الله سره بل څوک په عيادت او بنده کې نه شر يکوم.

[٢١] ای پيغمبره! خلکو ته ووايه: يقينا چې زه تاسې ته د ز يان رسولو او د ګټې رسولو او په سمه لار د خوځولو څښتن او واکمن نه يم.

[٢٢] ای پيغمبره! او کافرانو ته ووايه: چې د الله عذاب نه ما هيڅ څوک خلاصولای نسي او زه د الله نه پرته بل چا ته ورتلای نسم، يعنی هيڅ چيرته د تيښتې ځای نه لرم.

[٢٣] ای خلکو! زه تاسی ته د الله پيغامونو رسونکئ يم او هر هغه څوک چې د الله او د هغه پيغمبر حکمونو نه سرغړونه وکړي، نو د هغه ځای يقينا دوزخ دئ او هلته به پکې تل پاتې کړ يږي.

[٢٤] ترهغو چې کله کافران د دوی سره وعده سوي عذابونه په

سترګو وو يې، نو بيا به ښه پوه سي چې د چا ساتونکې ملګري ډير ضعيفه او بې وسې دي او د دوی شمير ډير لږ دئ، يعنی د هغوی مرستندوی ډير لږ دي او د هيڅ څه وسعه نه لري او هيڅ څه کړای نسي.

[٢٥] او ای پيغمبره! کافرانو ته ووايه: زه نه پوهيږم چې آيا هغه وعدې چې د ستاسې سره کيږي آيا هغه را لنډې دي؟ او که د زما رب الله د دې وعدو نيټه اوږدوي؟ يعنی الله تعالی رسول اللهﷺ ته حکم کړئ دئ چې دئ ده هغه کافران چې د الله هغه عذاب نه چې ورسره وعده سوې ده او دوی يې غوښتونکي دي؛ خبر کړي چې پيغمبر نه پوهيږي آيا دا وعدې را لنډې دي او که هغه الله زنډوي؟ پدې معنی چې د پټو پيښو علم يوازې د الله سره دئ، لکه څنګه چې الله تعالی په ور پسې مبارك آيت کې فرمايلي دي:

[٢٦-٢٧] هو! په پټو پر يکړو باندې يوازې الله پوه دئ او الله خپل پټ علم هيڅ چا ته نه ښکاره کوي، مګر هغه پيغمبر ته چې ورته د الله خوښه وسي، نو بيا دا پيغمبر الله د ځينې پټو اسرارو نه خبروي، ځکه دا پيغمبر د ورلاندې او وروسته نه څارل کيږي، يعنی څارونکې ملائکې دئ د پيريانو نه ساتي، ترڅو پيريان د الله پټې خبرې وانوري.

[٢٨] او ترڅو چې دا پيغمبر(محمدﷺ) پوه سي چې پخوانيو پيغمبرانو د خپل رب الله پيغامونه خپلو ولسونو ته ورسول [يعنی پخواني پيغمبران، لکه د اسلام پيغمبرﷺ د پيريانو شر نه ساتل سوي ول] ځکه د الله علم په هغه څه چې هغه د پيغمبرانو سره ؤ پرهغو ټولو باندې راګرد ؤ [يعنی ښه په پوه ؤ] او د دوی هره هڅه الله وشميرل، يعنی هيڅ څه شئ د الله نه پټ ندي، ځکه د الله تعالی پوهه او علم په پټو او په ښکاره ټولو فيصلو او پر يکړو باندې را ګرد دئ.

ګرانو ورونو او خو يندو! الله تعالی پدې مبارکو آيتونوکې خپل علم او پوهه پر ټولو پيغمبرانو او پر خپلو ټولو نورو بنده ګانو باندې؛ په کلکه او يقين سره مونږ ته ياده کړې او بيان کړې ده، او هم الله تعالی د ملعون

ابليس د لښکرو مندې د الله پټو خبرو نه د خبريدو په مقصد کلکې غندلې او ردې کړې دي، نو هرڅوک چې پر پيريانو تکيه او اعتماد کړي او وايي: چې پيريان هغه ته د پټو پيښــو علم ورښــيي؛ هغه دروغژن دئ او رونده، چې په خبرې باور او اعتبار وسي.

الحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د المزمل سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د المزمل سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدونه}

درندو دوستانو! د المزمل مبارکه سوره مکي سوره ده او د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ په لمړيو شپو او ورځوکې پر دې دراند پيغمبر او د الله تعالې په ګران استازي رسول الله ﷺ باندې رانازله سوې ده، او پکې پيغمبر ﷺ ته الله تعالى حکم کړي دئ چې نيمه شپه او يا څه لږ باندې نيمه شپه راجګ سه لمونځ وکړه، او دا لمونځ د پنځه وخته لمانځه فرضيدو نه مخکې پر رسول الله ﷺ فرض ؤ، خو په امت باندې يې فرض نه ؤ، بلکې يوازې نفل ؤ، او بيا د هغه فرضيت پر پيغمبر ﷺ باندې هم د پنځه وخته لمانځه د فرضيدو نه ورسته؛ منسوخ سه، خو رسول الله ﷺ د تهجد لمونځ د فرضى لمانځه په څنګ کې تل کا ؤ او مومنان يې هم ورته کلک هڅولي دي او ثواب يې ورته ياد کړئ او بيان کړئ دئ، ځکه د شپې لمونځ ايمان کلکوي او د ښې روزنې لپاره ډيره غوره وسيله ده، او په ځانګړې ډول هغو کسانو ته چې دوی خپل ځانو نه اسلام ته را بلنې لپاره نذرا نه کړي دي او شپه او ورځ اسلام ته خلک را بولي او دعوت کړي، نو ښايي چې دوی د ځان په روزنه او تزکيه کې؛ ښه ډير ز يار و باسي او د هر ډول ګواښونو پر وړاندې د در يدو او مقاومت کلک طاقت او هوډ ولري، او د تهجدو په لمانځه چې د خوارۍ خوب نه پکې را و يښدل دي؛ خپل ځان رسول الله ﷺ پسې په اقتدا رودئ کړي، ترڅو لوړ مقام ته د خپل لوی خدای پر وړاندې ورسيږي.

{د تهجدو لمونځ د پیغمبر شخصیت پیاوړتیا غوره لار وه}

قدرمنو وروڼو او خو ینډو! د المزمل مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی رسول الله ﷺ باندې غږ کړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ١ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ٢ نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا ٣ أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ٤ إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ قَوۡلٗا ثَقِيلًا ٥ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡئٗا وَأَقۡوَمُ قِيلٗا ٦ إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحٗا طَوِيلٗا ٧ وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلًا ٨ رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذۡهُ وَكِيلٗا ٩﴾

[١-٤] ای په جاموکې نغښتیه او پکې پټ سو یه پیغمبره! څه لږ ټوله شپه لمانځه کړو ته راجک سه او یا نیمه شپه او یا د نیمې نه هم لږ کمه او یا د نیمې شپې نه لږ وړیره کړه، او قرآن پکې ښه تلاوت کړه، یعنی په ښه خوږه اواز او غږ سره قرآن ورو ور ولوله او د تلاوت نه یې خوند واخله.

[٥-٦] ځکه یقینا چې پر تا باندې ای پیغمبره! مونږ ډیره درنده و ینا را اچوو [یعنی دا چې په دغه و ینا کې حکمونه، سپارښتنې او لارښودنې نغښتې دي] او یقینا هرڅوک چې د شپې په لمانځه را لوی سي [یعنی په شپې لمانځه باندې وروزل سي] هغه کلک وي او د هغه و ینا ډیره سمه وي، یعنی په زړونو باندې ښه کلک تاثیر کړي.

[٧] ای پیغمبره! ورځ د ستا ژوند چارو د سمبال لپاره ډیره اوږده ده، یعنی هرڅه پکې کړلای سي، نو په شپه کې خپل رب الله ته د خشوع او د زاری لمونځ وکړه.

[٨-٩] او ای پیغمبره! د خپل هغه لوی رب الله نوم یاد کړه چې دئ د شرق او د غرب [یعنی د ختیځ او لو یدیځ] واکمن څښتن دئ، او د الله نه پرته بل پر حق سره معبود نسته، نو ته ای پیغمبره! الله خپل وکیل ونیسه، یعنی ځان ده پر الله باندې وسپاره او د خپل رب الله بنده ګی ته ځان ښه اوزګار کړه او نفلي لمنځونه وکړه او خپل رب ده تل یاد کړه.

درندو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ د شپې لمانځه ته رابللئ دئ، ترڅو د هغه معنوي شخصيت پياوړئ سي، ځکه د شپې لمونځ د ژبې او د زړه غوره روزنې او پاخه فصاحت او د ژور تاثير لپاره؛ ډيره غوره او ګټوره وسيله ده، او بيا الله تعالى رسول اللهﷺ په لمانځه کې د قرآن تلاوت او لوستلو ته په ډير ژور فکر کړو سره رابللئ دئ او ورته يې حکم کړئ دئ چې د الله تعالى عبادت لپاره خپل ځان ښه اوزګار او فارغ کړه، او يوازې پر خپل رب الله باندې توکل او پر وسعه وکړه، ځکه د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته، او بيا الله تعالى خپل لوی استازئﷺ د کافرانو تکذيبولو او د سپکو سپورو خبرو نه ډاډمن کړئ دئ او سپارښت يې ورته کړئ دئ چې کافران ما ته پر يږده؛ زه به دوی ته کلکه سزا ورکړم او مختورن بې کړم.

ګرانو دوستانو! روايت سوئ دئ چې کله رسول اللهﷺ خپله پيغمبري د مکې خلکو ته اعلان کړه او دوی يې د بتانو عبادت نه پرته؛ يوازې د الله عبادت او بنده ګۍ ته را و بلل او د الله عذاب نه يې کلک وګواښل، نو بيا کافران په خپل منځ کې سره جرګه سول او ځينو رسول اللهﷺ ليونئ و باله او ځينو کوډګر او ځينو نورو ورته شاعر وو يل، نو بيا چې کله رسول الله ﷺ د کافرانو دغسې سپکې سپورې خبرې واور يدلې چې دوی ټول د هغه پيغمبرئ نه منکر سول او هغه يې دروغ و بلله، نو رسول اللهﷺ کور ته لاړه او د ډير خفتيان نه يې غونئ ز يږ سوئ او کلک ساړه يې سوي ول، نو خپل ځان يې په جاموکې پټ که او کلک يې پکې را ونغښته، نو بيا الله تعالى پر خپل استازي پيغمبرﷺ باندې دا مبارکه سوره را نازل کړه او ورته يې پکې پوره ډاډ او تسليت ورکه او ډيرې ضروري او ښې ګټورې او اړ يې لارښودنې يې ورته وکړې، ترڅو رسول اللهﷺ ور باندې خپل ځان ښه ډاډمن او تکړه کړي او خپل رسالت او پيغام خپل قوم ته په کلک تصميم سره ورسوي، نو يقينا چې دا مبارك آيتونه د پيغمبر ﷺ د علم او د دعوت لوی ميراث وړونکو علماوو او اسلام پالو دعاتو ته د قيامت ورځې پورې؛ ډيرې غوره سپارښتنې او لارښودنې دي،

نو ښايي چې دوی دا مبارکه سوره په ډير ژور فکر سره تل ولولي او ځان ور باندې ښه پوه کړي او عمل پرې وکړي، ترڅو الهي مرسته د دوی په برخه سي او بر يا ته ورسيږي او د توحيد کلمه چې (لا اله إله إلا الله محمد رسول الله) کلمه ده؛ د خلکو په زړونوکې ځای سي او پکې کلکې ر ينې وغزوي او د ميوو نه يې دوی او د دوی ورونه مومنان کټه واخلي او الله تعالی ته د ورتګ په ورځ ځان سره توښه ولري او په سپينو مخونو د الله تعالی په حضورکې ودر يږي.

{الله پيغمبر صبر ته هڅولئ او کافران يې د سزا نه ګواښلي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې رسول الله ﷺ الله تعالی صبر او زغم ته هڅولئ دئ او فرمايلي دي:

﴿وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرٗا جَمِيلٗا ١٠ وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ١١ إِنَّ لَدَيۡنَآ أَنكَالٗا وَجَحِيمٗا ١٢ وَطَعَامٗا ذَا غُصَّةٖ وَعَذَابًا أَلِيمٗا ١٣ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ١٤﴾

[١٠] ای پيغمبره! د کافرانو په و يناوو [يعنی په سپکو خبرو] باندې ؛ صبر وکړه او هغه زغمه او په ښه چلند سره يې پر يږده.

[١١-١٤] هو؛ ای پيغمبره! د دغو کافرانو په خبرو باندې چې تا پسې يې کړي؛ په ښه بڼه صبر وکړه، او کافران چې په نعمتونو کې پټ دي او ښه ور باندې ماړه دي او تا دروغژن بولي او پيغمبري ده نه مني؛ هغوی ماته پر يږده او لږې وزندۀ، او يقينا چې دوی ته د زمونږ سره د ټرلو او کلکو را نيولو ډير زنز يرو نه سته او بيا به د دوزخ په اور کې کړول کيږي، او کافرانو ته زمونږ سره داسې خواړه هم سته چې په ستونکې بنديږي، او کافرانو ته دردونکئ عذاب دئ [يعنی دا سزاګانې به کافرانو ته د قيامت په ورځ ورکول کيږي] او د قيامت ورځ هغه ورځ ده چې ځمکه او غرونه پکې کلک لړز يږي او غرونه ښور يدونکئ ر يک کړئي، يعنی غرونه د ر يک

غوندې حرکت کړي اوښو يې بري.

{محمد ﷺ الله خلکو ته لکه موسی عليه السلام استازئ را ولیږه}

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د محمد ﷺ پيغمبري موسی عليه السلام پيغمبرۍ ته ورته بللې ده او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ رَسُولٗا شَٰهِدًا عَلَيۡكُمۡ كَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ رَسُولٗا ١٥ فَعَصَىٰ فِرۡعَوۡنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذۡنَٰهُ أَخۡذٗا وَبِيلٗا ١٦ فَكَيۡفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرۡتُمۡ يَوۡمٗا يَجۡعَلُ ٱلۡوِلۡدَٰنَ شِيبًا ١٧ ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرُۢ بِهِۦۚ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَفۡعُولًا ١٨ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ١٩﴾

[١٥-١٦] ای خلکو! يقينا چې پيغمبر مونږ تاسې ته لارښود را ولیږه او دئ به پر تاسی باندې شاهد وي، لکه څنګه چې فرعون ته موسی مونږ پيغمبر را ولیږه، نو بيا فرعون د زمونږ استازي پيغمبرۍ نه سرکښي وکړه [يعنی د هغه پيغمبري يې ونه منله] نو بيا فرعون مونږ ډير کلک را ونيوه او هلاك مو کړه، يعنی فرعون چې د الله تعالی حکم نه لوی باغي ؤ؛ هغه الله تعالی په سمندرکې غرق او پکې ډوب سوئ هلاك او تباه کړه.

[١٧-١٨] نو ای خلکو! که چيرې تاسې کافران سئ او خپل پيغمبر ونه منئ، نو څنګه به د هغې ورځې عذاب نه ځانو نه وساتئ چې په هغه ورځ [يعنی د قيامت په ورځ د ډيرې و يرۍ نه] د وړو ماشومانو سرونه سپينيږي، او د قيامت په ورځ به اسمان چاوديدلئ وي او د هغې ورځې وعده حتما راتلونکې ده، يعنی د قيامت ورځ خاماخا در يږي، او هرڅوک به حساب ورکولو لپاره د خپل خدای پر وړاندې او په حضور کې در يږي.

[١٩] او يقينا چې دا آيتونه خلکو ته ور يادونکې دي [يعنی کلک پام را اړونکي دي] او څوک چې غواړي ورڅخه ګټه وا خلي، نو هغه ده خپل رب ته د رسيدلو لار وکړئوي، يعنی په هغه لار ده لاړ سي چې هغه الله ورښودلې ده او استازي يې د کتابونو سره ورته را ليږلي دي.

{د قرآن لوستل الله پيغمبر او مومنانو ته اسانه کړل}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رسول اللهﷺ ته او ورسره مومنانو ته د شپې لمانځه اوږد قراءت را لنډ کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿* إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرۡضَىٰ وَءَاخَرُونَ يَضۡرِبُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَبۡتَغُونَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُۚ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗاۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٗا وَأَعۡظَمَ أَجۡرٗاۚ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٠﴾

[٢٠] ای پيغمبره! د ستا رب الله په يقين سره پوهيږي چې ته د شپې درې برخو نه څه لږ دؤ برخې در يږې [يعنى لمونځ کړې] او يا نيمه شپه او يوه درې يمه برخه د شپې لمونځ کړي او يوه ډله مومنان هم ستا سره دغه لمونځ کړي، او د شپې او ورځې د لنډ والي او اوږد والي اندازه؛ يوازې الله ته معلومه ده، نو الله پوه سه چې تاسې هغه وخت شميرلای نسی، نو بيا الله هغه پر تاسې باندې سپک که او د ستاسې تو به يې قبوله کړه او اسانتيايې ستاسې په برخه کړه، نو اوس چې څومره قرآن لوستل درته اسانه وي؛ هغه ولولی، ځکه الله پوهيږي چې د ستاسې نه [ای مومنانو!] ځينې کسان ناروغ وي او ځينې د الله په لار کې د دښمن سره په جګړه کې وي، نو څومره قرآن لوستل چې درته اسانه وي؛ هغه ولولی او تلاوت يې کړی او خپل پنځه وخته لمونځ وکړی او زکات ورکړی او د الله سره قرض حسنه وکړی او د الله په لار کې خيرات ورکړی، ځکه څومره خيرات چې تاسې د خپلو ځانو ګټې لپاره مخکې ورکوی، نو د هغه ثواب الله سره مومی او هغه تاسې ته ډير ښه دئ او ثواب يې ښه ډير دئ، او ای مومنانو! د الله نه بښنه وغواړی او استغفار وکړی، ځکه الله په يقين

سره لوی ښونکئ او ډیر مهربان لوی ذات دئ.

درندو عز یزانو! دا مبارك آیت رسول اللهﷺاو مومنانو ته د اسانتیا او د شپې لمانځه د سپکولو؛ لوی ز یرئ دئ، او روایت سوئ دئ چې د شپې لمونځ، لکه څنګه چې د دې مبارکې سورې په پیل کې بیان سه په مکه کې پر رسول الله ﷺ باندې فرض سه، خو بیا چې کله د معراج په شپه پنځه وخته لمونځ په شپه او ورځ کې فرض سه او د شپې لمانځه وخت معلومول هم مومنانو ته ستونزمن کار ؤ او ځینې کسان به د دوی نه ناروغ ول او ځینې به د هجرت نه وروسته په مدینه کې د خپلې روزې په پیدا کولو کې سترې ول، او ځینې به د الله په لار کې د دښمن سره په جګړه او جهاد کې لګیا ول، نو بیا د شپې لمونځ د دوی نه سپک سه او هغه یوازې نفلي لمونځ وګرځیده او فرضیت یې ساقط سه، او هم روایت سوئ دئ چې د المزمل مبارکه سوره که څه هم مکې سوره ده، خو دا وروستئ مبارك آیت یې مدنئ دئ.

قدرمنو وروڼو او خو یندو! یقینا چې دغه تخفیف او اسانتیا د شپې لمانځه د حکم په باره کې د مومنانو په ژوند کې د نوي بدلون په خاطر چې دوی د مکې نه مدینې ته کډه سول او ورځني کارونه یې ډیر سول؛ د شرعي حکمونو د بدلون ښکاره دلیل دئ، نو ځکه علماء وایي چې شرعي حکمونه تل د مکاني او زماني حالاتو او واقعیتونو سره سم بدلیږي را بدلیږي او تل په یو حال پاتې نه وي، نو ښایي چې اسلام ته را بلونکې علماء او دعات دغسې مسئلې په دقت سره ولولي او بیا فتوا ورکړي، ترڅو د الله دین چې رحمت دئ؛ د خلکو په زړونوکې ضعیفه نکړي او اسلام دښمنه ډلو ته د کرکجنو تبلیغاتو فرصت برابر نکړي او ناولې خولې یې د اسلام پر ضد را خلاصې نکړي، لکه څنګه چې د بده مرغه ځینې اوسني دعات ورسره مخامخ دي او د اسلام دښمنو کړ یو لخوایې پر ضد ناروا تبلیغات کیږي او بیا رسنۍ هغه په ټوله نړۍ کې ډیر ژر خوروي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت

استغفرك وأتوب إليك.



د المدثر سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د المدثر سورې لنډه پيژندنه او لوى مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د المدثر مبارکه سوره مکي سوره ده او هغه د اقرأ سورې د لمړ يو آيتونو نه وروسته را نازله سوې ده، ځکه روايت سوئ دئ چې کله رسول الله ﷺ د حراء غار يا سورې نه بيرته کور ته راروان ؤ؛ يؤ ګړزونکئ غږيې واور يده او پورته اسمان ته يې وکتل، نو ګوري هغه ملايکه چې ده ته مخکې د حراء په غارکې راغلئ وه؛ اوس پاس په اسمان کې د لو يو وزرونو سره راښکاره سه او رسول الله ﷺ د دى ګړزهار ټکان نه کلک وو ير يده، نو بيا چې کله دئ کور ته ورسيده و يو يل: (زملوني زملوني...پټ مه کړې، پټ مه کړې...) نو بيا يې ځان په خادر يا برستن کې کلک ونغښته، نو بيا وروسته د (يأيها المدثر) په نامه غږ ور باندې وسه، او د المدثر په مبارکه سوره کې الله تعالى خپل پيغمبر ﷺ په تبليغ او د الله پيغام پر رسولو باندې وګماره، او يقينا چې هغه د رسول الله ﷺ د پيغمبرئ؛ لوى مقصد ؤ، ځکه الله تعالى دئ د همدې لوى مقصد لپاره استازئ را ولېږه، ترڅو خپل قوم او بيا ټول بشر يت د شرك تورو تيارو نه؛ يوازې د الله تعالى عبادت او بنده ګي رښا ته را و باسي او دوى ته د الله لوى توحيدي، اخلاقي او تشر يعي نظام ورسوي، او کله چې الله تعالى د خپل دين پيغام رسول الله ﷺ ته پوره که، نو بيا رسول الله ﷺ خپل رب ته ورغئ او د دنيا نه ژوند نه کډه او وفات سه، او د پيغمبرئ دا لوى ميراث يې د امت علماوو او مشرانو ته امانت پر ښود، ترڅو هغه دوى د قيامت ورځې راتګ پورې؛ تل ټولو خلکو ته ورسوي او دوى د کفر او شرك تيارو نه د قرآن رښا ته را و بولي او ټوله نړۍ د توحيد، حق، عدالت او د

هوسا ژوند نه برخمنه کړي، او مومنان په دنیا او آخرت کې ښاد او نیک مرغه کړي.

{الله پیغمبر مدثر په نامه توحیدي پیغام رسولو ته راوباله}

ګرانو عز یزانو! د المدثر مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته حکم کړئ دئ چې راجګ سي او خلک د الله لوی عذاب نه د قیامت په ورځ کلک وګواښي او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ۝١ قُمۡ فَأَنذِرۡ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ۝٤ وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ۝٥ وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ۝٧﴾

[١-٢] ای په جاموکې نغښتیه پیغمبره! راجګ سه، نو بیا خلک د الله عذاب نه وو یر وه، یعنی دوی پر الله باندې ایمان راوړو ته راو بوله، ترڅو د قیامت ورځې عذاب نه نجات بیامومي او په سپینو مخونو د الله په حضور کې ودر یږي.

[٣-٥] ای پیغمبره! او خپل رب ده په لو یتیا سره یاد کړه [ځکه یوازې الله د عبادت او بنده ګی حق لري او هغه لوی ذات دئ] او ای پیغمبره! جامې ده پاکې کړه او بتان پر یږده، یعنی ځان د بتانو څخه لرې کړه او خپل ظاهر او باطن پاک کړه او یوازې د خپل پالونکي رب بنده ګي وکړه!

[٦-٧] او چا ته داسې خیرات مه ورکوه چې بیا احسان پرې وکړي [یعنی په عوض کې ډیر څه ورڅخه وغواړي، نو ښایي چې د ستا ورکړې یوازې د الله رضا لپاره وي] او د خپل رب او لوی څښتن حکمونو پرځای کولو باندي صبر وکړه او کړاونه پې وزغمه او هغه کلک وګاله!

درندو دوستانو! الله تعالی د دغو مبارکو آیتونو په پیل کې رسول الله ﷺ د خپل دین په تبلیغ باندې مامور کړئ دئ او ورته پې لارښودنه اوسپارښت کړئ دئ چې خپل رب الله ده په عظمت او لو یتیا سره یاد کړي او ځان ده د هر ډول ښکاره او پټې چټلې نه پاک کړي او د بتانو عبادت نه ده خپل ځان په کلکه سره وساتي، ځکه کافران بتان د الله

سره په خدايي کې کډوي او د هغو عبادت کړي، حال دا چې عبادت او بنده کې يوازې د الله حق دئ، ځکه الله تعالى د ټولو خلکو لوى رب او خښتن دئ.

عزتمنو وروڼو! د المدثر په مبارکه سوره کې همداسې الله تعالى رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړې ده چې د هيڅ چا نه ده د خپلو ورکړو او ښو کړنو عوض نه غواړي او خلکو سره ښه کړل دي؛ يوازې د الله رضا لپاره وي، او پدې لار کې ده کلک صبر او لوى زغم خپل خوى وکړئوي.

هو! دغسې لارښودنې په حقيقت کې د پيغمبر ﷺ دين ته ټولو رابلونکو مخلصو دعاتو، علماوو او ملايانو ته دي، او ډيرې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې دي او عملي کول يې نه يوازې داچې اړ ين دي، بلکې پر دعاتو باندې تل فرض دي.

{د قيامت ورځې ستوماني پر کافر انو درنده ده}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د قيامت ورځې د سختيو تصو ير مونږ ته وړاندې کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ۝٨ فَذَٰلِكَ يَوۡمَئِذٖ يَوۡمٌ عَسِيرٌ ۝٩ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ غَيۡرُ يَسِيرٖ ۝١٠﴾

[٨-١٠] نو کله چې د قيامت ورځې در يدلو لپاره سورنئ پوه سي، نو بيا هغه ورځ ډيره سخته ورځ ده او پر کافرانو باندې اسانه نده، يعنى نو ښايي چې هوښاران د هغې ورځې سزا نه په ايمان راوړو او په ښو کړنو سره ځانونه کلک وساتي او يوازې د الله تعالى عبادت او بنده کې په توحيد او يو والي سره وکړي او بل څوک الله سره په خدايي کې کډ نکړي.

{د مکې يو لوى کافر الله تعالى په کلکه سزا ګوابنلئ دئ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رسول الله ﷺ ته د هغه لوى کافر د سپکو سپورو او د دروغژنو خبرو نه چې رسول الله ﷺ پسې يې کړې؛ خبر کړئ دئ او ډاډيې ورکړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدٗا ۝١١ وَجَعَلۡتُ لَهُۥ مَالٗا مَّمۡدُودٗا ۝١٢ وَبَنِينَ شُهُودٗا

﴿١٣﴾ وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا عَنِيدٗا ﴿١٦﴾ سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾ إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدۡبَرَ وَٱسۡتَكۡبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ يُؤۡثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا قَوۡلُ ٱلۡبَشَرِ ﴿٢٥﴾ سَأُصۡلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبۡقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٞ لِّلۡبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيۡهَا تِسۡعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

[١١-١٥] ای پیغمبره! ما او هغه څوک پر یرده چې هغه ما د خپلې مور نس نه یوازې پیدا که او بیا هغه ته ما ډیر مال، دولت او کوول ورکه، او دا دئ اوس دوی ټول تل د خپل پلار په مخکې حاضــر دي، یعنی د هغه څنګ نه بل چیر ته لرې نه ځي، او هغه ته ما د ژوند ټولې چارې ښې اسانه کړې دي، او دا کافر نور هم طمعه لري چې مال او کوول یې ور ډیر کړم!

[١٦-١٨] خو نا! [دا کار هیڅ کله کیدای نسي] ځکه چې یقینا هغه د زمونږ کتاب (قرآن) آیتونو سره کلک ضد او سر زوري وکړه [یعنی د قرآن آیتونه یې ونه منل] نو دئ به زه ښه سترئ کړم [یعنی کلکه سزا به ورکړم، او کله چې د کافرانو دې مشر د قرآن آیتونه واور یدل] نو یقینا چې د خپل ځان ســره یې ښــه ژور فکر وکه او د ځان نه یې رســول الله پســې خبرې جوړې کړې او هغه یې پیغمبر پسې وتپلې!

[١٩-٢٣] نو مړ ده ســي دا ســرئ چې څنګه هغه دا ناحقه تورونه رســول الله پســې جوړ کړل، او بیا ده هغه مړ ســي چې څومره ســپکې سپورې خبرې یې رسول الله پسې د ځان نه جوړې کړې او بیا دې سړي د ځان سره ښه ژور فکر وکه او تندئ یې بیا د غوصې او کینې نه ډیر تر یب سه او مخ یې سور او شین واوښت، او بیا بیرته په شا وګرځیده او کبرې وکه، یعنی د حق منلو ته یې غاړه کینښودله او دئ کلکې کینې او لوی کبر پسې واخست او پیغمبر پسې سپکې سپورې وو یلې!

[٢٤-٢٥] نو بیایې وو یل: دغه څه چې محمد وایي او لولي یې هغه خوسې کوډې دي [یعنی د پخوانیو خلکو نه ورته روایت سوې دې] او هغه

د انســان خبرې او و ينـاوې دي! يعنى هغه ته دا خبرې د الله لخوا وحيه سوې ندي، ترڅو د ده پيغمبري تاييد او تصدبق کړي.

[٢٦-٣٠] نو زه به دا [لوى مفتري او د حق نه منکر کافر] په سـقر کې وکړوم او ته اى پيغمبره! څه پوهيږې چې سقر څنګه يؤ ځاى دئ؟ [ځواب دا چې سقر په دوزخ کې د کړولو داسې يؤ ځاى دئ] چې هيڅ شئ د انسان په ځان کې نه پر يږدي، او د دوزخي ټول ځان سوزوي او څيره يې بدلوي او پوستکئ يې تور اړوي، او جهنم نولس ملائکې ساتونکې او څارونکې لري.

{د جهنم ژوندئ انځور کافر انوته ګوابښ او مومنانوته ډاډ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې د جهنم ژوندئ انځور الله تعالى خلکوته وړاندې کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةً ۙ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِيمَٰنًا وَلَا يَرْتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾﴾

[٣١] او د دوزخ ساتونکي مونږ ملائکې وګمارل او د دغو ساتونکو شمير کافرانو ته مونږ يو ازمايښت يا امتحان وګرځا ؤ [يعنى کافران به د دې شميرې ښه ډير سپکاوئ وکړي او ښه به ور پورې وخاندي، نو بيا به دوى ته الله لا ډيره سزا ورکړي] خو هغه به د کتاب خاوندانو (يهودو او نصاراوو) ته لا د ډير يقين او د پاخه باور سبب وګرځي، او د مومنانو ايمان به هم ور باندې ډير سي، او اهل کتاب او مومنان هيڅ کله د خپل رب په و ينا کې نه شکمن کيږي، او کافران او منافقان چې به زړونو کې يې ناروغي ده وايي د دغو بيلګو نه د الله مقصد څه شئ دئ؟ خو الله چې څوک وغواړي همدغسې يې د سې لارې نه ورکوي او څوک چې الله وغواړي په سمه لارې خوځوي، او اى پيغمبره! د ستا رب فرمان وړونکو

سـر تيرو لښـکرو نه د الله نه پرته بل هيڅ څوک خبر ندي او نه پرې پوهيږي، او دغه و يناوې خلکو ته د الله عذابونه ور په يادوي، ترڅو دوی ورڅخه ګته واخلي او ايمان راوړي او ځانو نه د عذاب نه کلک وساتي.

ګرانو دوسـتانو! د دغو مبارکو آيتونو د رانازليدو په باره کې روايت سـوئ دئ چې د مکې کافرانو وليد بن مغيره چې د قر يشـو مشـرانو نه ؤ؛ پدې تورن که چې دئ د محمد ﷺ دين ته ور اوښـتئ دئ، ځکه کله چې هغه د رسـول الله ﷺ نه قرآن واور يده، نو کلک تاثيريې ور باندې وکه او قرآن يې وسـتايه، نو بيا چې کله وليد د کافرانو تورونو نه خبر سـه ډير ژر منکر سه او په خپل کفريې ټينګار وکه، نو بيا دوی ورڅخه وغوښتل چې د قرآن په باره کې څه ووايي، نو بيا وليد بن مغيره ښـه ژور فکر وکه او قرآن يې کوډې و بللې، نو بيا الله تعالى د هغه دا دروغژن تورونه په کلکه سـره وغندل او هغه يې کلک رد کړل.

{د دوزخ اور خلکو ته د الله لخوا لوی ګواښ دئ}

او په ور پسـې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د خپل لوی قدرت په نښـو بانـدې د افلاکو په ګنښـت کې لوړه کړې ده او د دوزخ اوريې خلکو تـه د ګواښ او و يرولو لو يه نښه ګڼلې ده او فرمايلي:

﴿كَلَّا وَٱلْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَٱلصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾﴾

[٣٢-٣٧] نا! [خبره هيڅ کله هغسې نده، لکه څنګه چې کافران وايي او پيغمبر دروغژن بولي] او په سـپورمۍ قسـم دئ او د شـپې په تيريدو او د سـحر په راختلو قسـم او لوړه ده چې دغه د دوزخ اور ځارونکي يقينا چې ټولو خلکو ته لوی ازمايښـت دئ او ټول بشـر يت ته ګواښ دئ [او په ځانګړې ډول] هغه چا ته چې د سـتاسـې نه ای د مکې خلکو! غواړي د الله اطاعت نه وړلاندې سی او يا ورڅخه بيرته په شا واوړي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى په دغسـې کلکو ګواښـونو سـره غواړي چې کافران ښـه فکر وکړي او بيا د دوزخ عذاب نه د ځان سـاتنې لپاره د کفر

نه ايمان ته راواوړي، او د الله تعالى فرمان او حكم ومني او د دوزخ سزا نه نجات بيامومي او جنتونوپې په برخه سي.

{لمونځ نكړل مسكينانو ته خواړه نه وركول د دوزخيانو كار دئ}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د آخرت ورځې ژوندئ انځور مونږ ته وړاندې كړئ دئ او دوزخ ته د ننوتلو سببونه يې ياد كړي او بيان كړي دي چې يقينا هغه مونږ ته لوى ګواښ دئ او فرمايلي دي:

﴿كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ رَهِينَةٌ ٣٨ إِلَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡيَمِينِ ٣٩ فِي جَنَّٰتٖ يَتَسَآءَلُونَ ٤٠ عَنِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٤١ مَا سَلَكَكُمۡ فِي سَقَرَ ٤٢ قَالُواْ لَمۡ نَكُ مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ ٤٣ وَلَمۡ نَكُ نُطۡعِمُ ٱلۡمِسۡكِينَ ٤٤ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلۡخَآئِضِينَ ٤٥ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤٦ حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلۡيَقِينُ ٤٧ فَمَا تَنفَعُهُمۡ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ٤٨ فَمَا لَهُمۡ عَنِ ٱلتَّذۡكِرَةِ مُعۡرِضِينَ ٤٩ كَأَنَّهُمۡ حُمُرٞ مُّسۡتَنفِرَةٞ ٥٠ فَرَّتۡ مِن قَسۡوَرَةِۭ ٥١ بَلۡ يُرِيدُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُؤۡتَىٰ صُحُفٗا مُّنَشَّرَةٗ ٥٢ كَلَّاۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلۡأٓخِرَةَ ٥٣ كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذۡكِرَةٞ ٥٤ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ٥٥ وَمَا يَذۡكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ هُوَ أَهۡلُ ٱلتَّقۡوَىٰ وَأَهۡلُ ٱلۡمَغۡفِرَةِ ٥٦﴾

[٣٨-٤٧] هر نفس [يعنى هرځوک] په خپلو بدو كړنوكې ګرو دئ [يعنى هرځوک به د خپلو بدو كړنو سزا په خپله ګالي] پرته د ښي خوا خلكو ملګرو نه [يعنى پرته د مومنان نه] او هغوى به په جنتونوكې وي او يو بل به په دوزخ كې پرتو مجرمانو نه پوښتي وايي به: تاسي ولې دوزخ ته لاړى، نو مجرمان او كافران به په ځواب كې وايي: مونږ د لمونځ كوونكو نه؛ نۀو او مسكينانو ته مونږ ډوډى نه وركوله، او د باطل پلو يانو سره مونږ همداسې لګياوو او د قيامت ورځې را تګ نه [چې پكې حساب وركول او ثواب او سزا وركول دي] منكر وو [يعنى د قيامت ورځ مونږ دروغ بلله] ترڅو چې بيا مونږ ته مرګ راغئ، يعنى نو دا دئ اوس يې سزا ګالو.

[٤٨] نو بيا دوی ته د شفاعت کونکو سپارښتنه څه کته نه لري، يعنی دا ځکه چې د شفاعت منونکئ يوازې الله دئ او الله هغه چا ته شفاعت مني چې الله د هغه نه خوښ او راضي وي او الله د کافرانو نه راضي ندئ.

[٤٩-٥١] نو کافران ولې د قرآن نه مخ اړونکې دي؟ لکه دا چې دوی د ترايدونکي ځنګلي وحشي خره وي او د زمري غره هار نه تښتيدلي وي!

[٥٢] بلکې د دغو کافرانو نه هر يو غواړي چې هغه ته الله خورې سوې پاڼې را وړي، يعنی په هر يوه باندې ځانګړئ کتاب را نازل کړي!

[٥٣-٥٤] نا! [خبره هيڅکله داسې نده، لکه څنګه چې کافران انګيري او د حق او ر يښتيا خبره دا ده] چې کافران د آخرت عذاب نه نه و ير يږي [يعنی دا ځکه چې کافران په آخرت باور نه لري] او يقينا چې قرآن خلکو ته د الله عذاب ور يادونکئ پيغام دئ.

[٥٥] نو چا چې وغوښتل قرآن يې ياد سه، يعنی هغه يې زده که او وې لوست او کتې يې ورځخه واخستله او عمل يې ور باندې وکه، ځکه قرآن خلکو ته ور پيادونکئ ځلانده پيغام دئ!

[٥٦] او د قرآن نه هغه څوک کتې اخلي چې الله يې وغواړي، ځکه الله د تقوا او د مغفرت لائق څښتن دئ، يعنی ښايي ټول خلک يوازې د الله تعالی نه وو ير يږي او د هغه نه ښښنه وغواړي، ترڅو الله دوی و ښښي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د القيامه سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د القيامه سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

ګرانو دوستانو! د القيامه مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم يې د هغې لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ او پدې مبارکه سوره کې د قيامت ورځې يقيني راتګ باندې چې ايمان ور باندې فرض دئ؛ الله تعالى کلک ټينګار کړئ دئ، ځکه چې د مکې کافران د قيامت نه په کلکه سره منکر ول او و يل يې: مونږ چې کله مړه سو او بيا خاورې سوو بيرته نه را ژوندي کيږو، خو الله تعالى د دوی دا انګيرنه کلکه رده کړې ده او د مړو بيرته را ژوندي کول يې ډير اسانه کار ګڼلئ دئ، نو ښايي چې هيڅ څوک د قيامت ورځې حساب نه او بيا مومنانو ته د ثواب ورکولو او کافرانو ته د سزا ورکولو نه غافل او بې پروا او منکر نسي، بلکه ښايي تل ورته تيار سئ وي، او د دين لارښودنو سره سم ژوند وکړي او حکمونه يې عملي کړي، ترڅو د قيامت په ورځ سپين مخئ د الله په حضور کې ودر يږي، او د دغسې سپارښتنو په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

{الله تعالى مړي د قيامت په ورځ بيرته را ژوندي کوي}

﴿لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ۝١ وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ۝٢ أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ۝٣ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ۝٤ بَلۡ يُرِيدُ ٱلۡإِنسَٰنُ لِيَفۡجُرَ أَمَامَهُۥ ۝٥ يَسۡـَٔلُ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلۡقِيَٰمَةِ ۝٦ فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ۝٧ وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ ۝٨ وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ۝٩ يَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذٍ أَيۡنَ ٱلۡمَفَرُّ ۝١٠ كَلَّا لَا وَزَرَ ۝١١ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمُسۡتَقَرُّ ۝١٢ يُنَبَّؤُاْ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذِۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ۝١٣ بَلِ ٱلۡإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ

بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾

[١-٢] هوا! د قيامت په ورځ [چې د حساب اخستلو ورځ ده] قسم خورم او د مومن سړي په ملامتونکي نفس چې تل خپل ځان ملامتوي قسم خورم او لوړه کړم چې، يعنې ټول خلک د قيامت په ورځ بيرته راژوندي کيږي، او د (لا) کلمه چې معنايې نفي يا نا ده؛ دلته د جمهورو مفسر ينو په و ينا د (لا النافية) په معنا نده، ځکه الله تعالى د قيامت په ورځ چې ډيره لو يه ورځ ده؛ لوړه کړې ده او د کافرانو بې بنسټه عقيده او ګمان يې د قيامت ورځې نه د انکار په باره کې کلک رد کړئ دئ او فرمايلي دي:

[٣-٤] آيا انسان خيال او ګمان کړي چې مونږ به د هغه اډوکې راټول نسو کړای؟ [يعنې مونږ به د هغه ګوتو بندونه د يو بل سره بيرته په خپل ځای کې برابر نسو کړای؟] ځواب: هوا! مونږ کولای سو چې د هرچا د ګوتو سرونه را ټول کړو او په خپل ځای کې يې سره برابر کړو او بيايې سره ونښلو، يعنې دا چې مونږ دا کار کړای سو، ځکه د هرچا د ګوتو سرونه خپلې ځانګړې نښې لري او د دوه کسانو ګوتې سره برابرې نه دي، نو الله تعالى چې خپل بنده ګان په دنيا کې په دغسې ځانګړتيا سره پيدا کړي دي؛ د قيامت په ورځ هم هر چا ته بيرته د هغه خصوصيت ورکړځوي او د هر چا غړې بيرته سره نښلي او يو د بل سره يوځای کيږي، او دغسې ځانګړتيا ته په اوسنۍ تکنالوژۍ کې د ځانګړتيا نښه وايي او په عربي کې ورته (البصمة الوراثية) وايي او معنايې د هرچا د ګوتو ځانګړې کرښې دي چې په انګليسي کې(بايمتريک) باندې يادیږي.

[٥-٦] [خو دا د الله تعالى فرمان وړنو نه وتلئ سرکښ انسان] غواړي چې خپل راتلونکئ ژوند همداسې په بدو کړنو سره په مخ يوسي [نو بيا دغه د قيامت ورځې راتګ نه منکر کافر سړئ] پوښتي چې د قيامت ورځ کله ده؟ نو الله د هغه پوښتنې په ځواب کې فرمايلي دي:

[٧-١٠] نو بيا چې کله سترګې ړندې سي او سپوږمۍ توره سي او لمر او سپوږمۍ سره يوځای سي [يعنې د دواړو رنا لاړه سي، نو بيا قيامت راځي او

په هغه ورځ بیا] دا کافر انسان وایي: اوس د تیښتې ځای چیر ته دئ؟

[١١-١٢] [نا! ای سرکښه انسانه! نور ستا د تښتې] لارې ټرل سوې دي [او ای پیغمبره!] په هغه ورځ چې د قیامت ورځ ده د ټولو خلکو ځای پر ځای کیدل د ستا رب الله خوا ته دي، یعنی د قیامت په ورځ ټول خلک الله ته ورغوندول کیږي.

[١٣] او په هغه ورځ بیا دغه سرکښ انسان د خپلو ټولو وړاندې او وروسته کړنو نه خبریږي، یعنی ورته د خپلو کړنو لیک پانه سپارل کیږي.

[١٤-١٥] بلکې د قیامت په ورځ هر انسان خپل ځان ښه و یې، نو که هرڅومره عذرونه یا پلمې وکړي هغه نور ورته ګټه نه لري! یعنی دئ به خپله سزا خاماخا ګالي.

درندو عز یزانو! الله تعالی د قیامت په مبارکه سوره کې مونږ ته د قیامت ورځې ډیر ځلانده تصویر یا انځو وړاندې کړئ دئ او بیایې په ور پسې مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړې ده چې د وحی یې په اور یدلوکې تلوار مکړه چې ترڅو هغه ژر ژر ولولې، ځکه [تا ته د وحی سوي قرآن] راجمع کول او لوستل پر مونږ باندې لازم دي او فرمایلي دي.

{ قرآن الله راغونډوي او مومنانو ته الله خپل رخسار وروینې }

﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾ كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾﴾

[١٦-١٩] ای پیغمبره! د قرآن په لوستلو کې ده ژ به مه ښوروه، ترڅو پکې عجله او تلوار وکړې، ځکه د قر آن راټولول او لوستل پر مونږ باندې یقینا چې فرض دي، نو ای پیغمبره! کله چې مونږ قرآن ولوست، نو ته یې را پسې ولوله، ځکه د قرآن بیانول پر مونږ باندې په یقین سره فرض دي، یعنی د قرآن را ټولو، بیانولو او د شرحې او تفسیر ضمانت الله کړئ دئ.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې همداسې الله تعالی د قیامت ورځې ژوندۍ انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ او فرمایلي دي:

[۲۰-۲۱] نا! [ای کافرانو! خبره هیڅ کله د ستاسي په خوښه نده] ځکه تاسې یوازې د دنیا خوندونه خوښوی او آخرت پر یږدی، یعنی د آخرت ژوند ته توښه نه تیاروی.

[۲۲-۲۳] هو! د قیامت په ورځ ځینې مخونه ډیر ښکلي او ښایسته وي او خپل رب ته ګوري، یعنی داچې هغه د مومنانو مخونه دي، او مومنان الله تعالی په آخرت کې د خپل مخ په لیدلو او ننداره باندې نازوي، او دا هغه لوړ مقام دئ چې هیڅ چا ته په دنیا کې میسر ندئ او نه ورکول کیږي.

[۲۴-۲۵] خو بیا د قیامت په ورځ څه نور مخونه تروه سوي شنه اوښتي وي او دوی داسې انګیري لکه چې پر دوی باندې کلکه سزا یا دوروند عذاب رالو یږي، یعنی دا چې دا عذاب به د دوی ملاوې ماتې کړي.

هو! عزتمنو دوستانو! د قیامت ورځ مومنانو ته د خوښۍ ورځ ده او په هغه ورځ الله تعالی خپل ټول نعمتونه پرمومنانو باندې لوروي، تر هغو چې بیا الله تعالی خپل مخ ته د کتلو او د لیدلو ننداره پرمومنانو کړي، خو د کافرانو مخو نه په هغه ورځ تروه سوي شنه اوښتي وي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د مومنانو سره حشر کړي، او خپل مبارک دیدار ده را باندې وکړي او هغه ده زمونږ په برخه کړي.

{د ساه ختلو په وخت کې پښیماني هیڅ ګټه نه لري}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې کافران الله تعالی ګواښلي دي چې د ساه ختلو په وخت کې نوره پیښیماني څه ګټه نه لري او فرمایلي دي:

﴿كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنْۜ رَاقٖ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَٱلْتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰٓ ﴿٣٥﴾﴾

[٢٦-٢٨] نا! [خبره هيڅ كله د كافرانو په خوښـــه نه ده] او كله چې د دوى ساه ستوني ته را وخيژي، نو بيا وو يل سي چې آيا څوك نسته چې د ساه ختلو په وخت كې دا پروت سړئ دم كړي؟ [يعنى علاج يې وكړي، ترڅو روغ سي] خو دا پروت كس د ساه ختلو په وخت كې باور لري چې دئ نور د دنيا نه تلونكئ دئ، يعنى لكه دا چې د ساه و يستلو ملك يا فرښته هغه ليدلئ وي، نو يقين لري چې هغه نور مري.

[٢٩-٣٠] هو! هر كله چې د انسان لينگري يو پر بل باندې راتاو سي [يعنى د دنيا او د آخرت سختي سره ولږ يږي] نو په هغه ورځ اى پيغمبره! د ټولو خلكو ورتگ د ستا رب الله ته دئ.

[٣١-٣٥] نو هغه كافر چې نه خيرات وكه او نه يې لمونځ وكه، بلكې پيغمبر او د الله كتاب (قرآن) يې دروغ و بالل او شايې وروارولە، او بيا په ډير كبر سره خپل كور ته لاړه، نو تا ته اى كافره! همدا حالت ښايي [يعنى ترڅو ته په وار وار ســره هلاك ســې، ځكه ته د حق پيغام نه اورې او نه هغه منې او شا وراړوي!] نو بيا تا ته اى كافره! همدا حالت لائق دئ.

ګرانو مومنانو! نو دعا كړو چې الله ده مونږ د دغسې تور برخليك او د سختې راتلونكې نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{انسان په ژوند كې بېهوده نه پر ېښودل كيږي}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى مونږ ته دا حقيقت بيان كړئ دئ چې الله تعالى انسان هيڅ كله بېهوده يا بې مقصده ندئ پيدا كړئ او د قيامت په ورځ د ټولو خلكو نه پوښتنه كيږي، او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَن يُتۡرَكَ سُدًى ٣٦ أَلَمۡ يَكُ نُطۡفَةٗ مِّن مَّنِيّٖ يُمۡنَىٰ ٣٧ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةٗ فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ٣٨ فَجَعَلَ مِنۡهُ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣٩ أَلَيۡسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡۦِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰ ٤٠﴾

[٣٦-٤٠] آيا دا انســان چې د قيامت ورځې راتگ نه منكر دئ؛ داســې انكيري چې همداسې به بې مسئوليته پر ېښودل سي؟ او آيا دغه انسان د

ميړه او د ميرمني هغه کډه مني نه ؤ چې کله يې ټوپ وواهه؟ [يعنى انسان د همدې نطفې نه جوړ سه] او دا مني چې نطفه وه بيا ټينګه اينه سوه، نو بيا الله انسان پيدا که، نو بيا يې جوړ سوئ برابر که او بيايې د هغه نه جوړه (نر او ښځه) پيدا کړل، نو آيا دا پيدا کونکئ لوى څښتن الله د مړو بيرته را ژوندي کولو وسعه او قدرت نه لري؟ ځواب دا چې: هو! د قيامت په ورځ الله د مړو په بيرته را ژوندي کولو باندې قادر ذات دئ او مړي په اسانۍ سره بيرته را ژوندي کوي!

قدرمنو وروڼو او خو يندو! د قيامت ورځې ډير روڼ انځوره الله تعالى پدې مبارکه سوره کې مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او بيايې په ډير قاطع او روښانه استدلال سره په خپل قدرت باندې د مړو په بيرته را ژوندي کولو باندې ټينګار کړئ دئ، نو ښايي چې هر هوښيار بنده پکې ښه ژور فکر وکړي او د آخرت په ورځ باندې ايمان راوړي، يعنى د قيامت ورځې يقيني راتګ ومني او خپل ځان ښه ورته تيار کړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسول الله وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الانسان سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الانسان سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

قدرمنو دوستانو! د الانسان مبارکه سوره چې بل نوم یې د (الدهر) سوره دئ؛ د جمهورو مفسر ینو په و ینا مدني سوره ده او په الانسان، ځکه نومول سوې ده چې هغه د دې مبارکې سورې په پیل کې د الله تعالی د پاملرنې او د وعظ او نصیحت محور دئ، او د دې سورې بل نوم چې (الدهر) دئ معنا یې زمانه ده او په الدهر باندې یې د نومولو سبب دا دئ چې په پیل کې الله تعالی د انسان پیدایښت په الدهر(زمانه) کې یاد کړئ دئ، او الله تعالی پدې مبارکه سوره کې د انسان په ازمایښت باندې په دنیا کې کلک ټینګار کړئ دئ، او یقینا چې دا پاملرنه انسان ته د هغه کرامت او عزت لو یه نښه ده، او بیا الله تعالی کافران د سخت عذاب نه ګواښلي دي او مومنانو ته یې د ثواب ورکول ژ یرئ ورکړئ دئ، نو انسان ته ښایي چې تل خپل اصل را په یاد کړي، ترڅو هیڅ کله مغرور او غافل نسي او یقینا چې داسې ګټوره یادونه انسان ته پرته د الله تعالی اسماني پیغام نه په بل هیڅ کتاب کې نه مومو، نو ښایي چې د الانسان سوره او د الله تعالی عظیم کتاب قرآن نورې سورې مونږ ته د نصیحت او لارښودنو په مقصد؛ په ډیر دقت سره ولولو او ګټه ورڅخه واخلو، ترڅو په دنیا او په آخرت کې ښاد او سر لوړي او سپین مخي سو.

{ انسان الله د ښځې او نار ینه نطفې نه ازمایښت ته پیدا که }

قدرمنو ورونو او خو یندو! د الانسان مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د زمونږ پام یو لوی حقیقت ته راړولۍ دئ او هغه د انسان پیدایښت دئ، ځکه انسان هیڅ نه ؤ، نو بیا لمړئ انسان آدم عليه السلام الله تعالی د

خاورې نه پيدا که او بيايې د هغه نسل د نار ينه او ښځې د کډې نطفې نه پيدا که، ترڅويې وازمايي چې د خپل خالق شـــکر باســـي او که ناشـــکري کړي، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ۝١ إِنَّا خَلَقۡنَا الإنسان مِن نُّطۡفَةٍ أمشاج نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا ۝٢ إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ۝٣﴾

[١] آيا پر انسان باندې ډير داسې وخت راغئ چې دئ پکې هيڅ څه شئ نه ياديده؟ يعنى انســان هيڅ موجود نه ؤ، نو ځواب دا چې: هو! د انســان پيدايښـت نه مخکې ډير وخت تير ســوئ دئ چې پکې انســان هيڅ وجود نه درلود او نه ؤ او بيا انســان الله تعالى پيدا که، او د پيدايښـت په بيان کې يې فرمايلي دي:

[٢-٣] هو! يقينا چې انســـان مونږ د کډې ســـوې نطفې نه پيدا که، ترڅو دئ وازمايو، نو بيا انسان مونږ د اور يدو او د ليدو څښـتن وګرځا ؤ [يعنى هغه ته الله تعالى ستر کې او غوږونه ورکړل او د خير او شر او د ښه او بد پيژندلو] لار هغه ته مونږ وښـــودله، نو بيا به انســـان د خپل خالق پيرزو ينو شکر و يستونکئ وي او يا بې کفران کړي؟، يعنى د الله حکمونو نه به سرکښي کړي او هغه به نه مني!

{ کافر انو ته د عذاب ګواښ او مومنانو ته د ثواب زيري }

او په ور پســـې مبارکو آيتونوکې الله تعالى کافرانو ته په آخرت کې د عذابونو ګواښ او مومنانو ته د ثوابونو ز يرئ ورکړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۠ وَأَغۡلَٰلٗا وَسَعِيرًا ۝٤ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ يَشۡرَبُونَ مِن كَأۡسٖ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ۝٥ عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفۡجِيرًا ۝٦ يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ۝٧ وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ۝٨ إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ۝٩ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا

يَوۡمًا عَبُوسٗا قَمۡطَرِيرٗا ١٠ فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمِ وَلَقَّىٰهُمۡ نَضۡرَةٗ وَسُرُورٗا ١١
وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةٗ وَحَرِيرٗا ١٢ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۖ لَا يَرَوۡنَ فِيهَا شَمۡسٗا
وَلَا زَمۡهَرِيرٗا ١٣ وَدَانِيَةً عَلَيۡهِمۡ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتۡ قُطُوفُهَا تَذۡلِيلٗا ١٤ وَيُطَافُ عَلَيۡهِم
بِـَٔانِيَةٖ مِّن فِضَّةٖ وَأَكۡوَابٖ كَانَتۡ قَوَارِيرَاْ ١٥ قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٖ قَدَّرُوهَا تَقۡدِيرٗا ١٦ وَيُسۡقَوۡنَ
فِيهَا كَأۡسٗا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ١٧ عَيۡنٗا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلٗا ١٨ * وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ
مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيۡتَهُمۡ حَسِبۡتَهُمۡ لُؤۡلُؤٗا مَّنثُورٗا ١٩ وَإِذَا رَأَيۡتَ ثَمَّ رَأَيۡتَ نَعِيمٗا وَمُلۡكٗا
كَبِيرًا ٢٠ عَٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضۡرٞ وَإِسۡتَبۡرَقٞۖ وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ وَسَقَىٰهُمۡ
رَبُّهُمۡ شَرَابٗا طَهُورًا ٢١ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءٗ وَكَانَ سَعۡيُكُم مَّشۡكُورًا ٢٢ ﴾

[٤] هو! يقينا چې مونږ کافرانو ته د تړلو زنځ يرونه او پړي او د کړولو اور تيار کړه، يعنې دا چې د انسان پښې او لاسونه به تړل سوي؛ د دوزخ اور لمبو ته به اچول کيږي او پکې به کړ يږي.

[٥] او يقينا چې د ښو کړنو خاوندان (مومنان) به د قيامت په ورځ د داسې يوه جام نه شر بت څښکې چې د خوند بوی بې د کافور بوی وي.

[٦-١٠] [او دا د کافورو شر بت او به د داسې يوې] چينې او به دي چې هغه الله خپلو مومنو بنده ګانو ته ورځښکې او دا چينې [هيڅ نه وچيږي] او هغه د الله فرمان ورونکي بنده ګان د ښې ژورې نه را باسي او راخوتيږي، او د الله دا مومن بنده ګان په دنيا کې په خپلو ټولو نذرونو وفاء کړي، او دوی د قيامت ورځې هغه اور نه چې لمبې يې هرې خوا خورې وي؛ و يږي او هغه خواړه چې ورسره دي او خوښيږي يې؛ هغه مسکين، يتيم او برمته سوي زنداني يا بندي ته ورکوي او وايي: يقينا چې دا خواړه مونږ د الله رضا لپاره تاسي ته درکوو او په عوض کې يې د ستاسې نه کمه مزدوري او شکر و يستل نه غواړو، ځکه مونږ په يقين سره د خپل رب الله هغې ورځې سزا نه و يږو چې په هغه ورځ تندي تروه وي او مخونه شنه اوښتي وي!

او بيا په ورپسې مبارکو آيتونوکې االله تعالى د مومنانو ساتنې په باره

کې د قیامت ورځې سختیو او کړاوونو نه فرمایلي دي:

[١١-١٤] نو مومنان الله د قیامت ورځې عذاب نه وساتل او رونټیا او خوښي یې ور په برخه کړه او د دنیا صبر کړو ثواب کې یې ورته داسې جنت ورکه چې پکې ور یښمینې قالینې خورې وي او دوی پکې په کټو ناست وي، او هلته پکې نه د لمر تودوخه و یني او نه کلکه یخني او د باغونو سورئ په دوی باندې را لنډ خور وي او د میوو را شکول ورته اسانه وي.

[١٥-١٨] او پر دغو جنتیانو باندې د سپینو زرو په قابو کې او د ښیښو په جامونوکې میوې او شر بتونه ګرځول کیږي او دا ښیښه یي جامونه د سپینو زرو په او بو ښه ښکلي سوي وي او دوی ته په یوه جام کې د زنجبیل (سُنډ) په خوند شر بت ورځښکل کیږي، او همدارنګه په جنتونوکې داسې یوه څاه وي چې سلسبیل نومیږي، یعنی او به یې پاکې او ډیرې خوږې وي.

[١٩] او په دغو جنتیانو باندې د خدمت لپاره داسې تنکي هلکان ګرځې را ګرځي چې تل په یوه حال وي، او ته چې ای پیغمبره! دوی و یني، نو د شیندل سوو مرغلرو غوندې یې ګڼې، یعنی د ډیرې ښکلا نه رانه ځلیږي.

[٢٠] ای پیغمبره! او ته چې په جنت کې هرې خوا ته ګورې جنتیان به په داسې نعمتونو کې و یني لکه چې یوه لو یه پاچایي وي، یعنی مومنان په جنت کې لکه یو ځواک ځلیږي.

[٢١] او دغو جنتیانو د شنو سندونو نرې جامې اغوستې وي او پسیره ور باندې کلک ور یښمین څادرونه غوړ یلیدلي وي او د سپینو زرو بڑنګې یې په مړوندوکې وي او رب یې الله ورته ښه پاک شر بتو نه ورځښکي.

[٢٢] او جنتیانو ته و یل کیږي چې دا نعمتو نه د ستاسي د ښو کړنو انعام او په دنیا کې د ستاسي د ښو کړنو شکرا نه ده.

ګرانو دوستانو! الله تعالی د خپل لوی فضل او رحمت په ښودلو سره جنیتانو ته په دنیا کې دغسې ز یري ورکړي دي، ترڅو دوی په پوره ډاډ سره د خپل رب الله په بنده ګۍ کې همداسې کلک پاتې سي او لا ډیر ښه

وکړي او د خپل لوی رب الله د ځانونو نه راضـي کړي، او بیایې په عوض کې دغو لوړو جنتو ته ورسـیږي، نو دعاء کړو چې الله تعالی دا نعمتونه په جنت کې د زمونږ په برخه کړي، آمین یا رب العالمین.

{د الله پر حکمونو صبر کړل پر پیغمبر فرض دي}

قدرمنو عز یزانو! او په ور پسـې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسـول الله ﷺ ته ډیرې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې کړي دي فرمایلي دي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ تَنزِيلًا ﴿٢٣﴾ فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾ وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَٱسْجُدْ لَهُۥ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا ﴿٢٧﴾ نَّحْنُ خَلَقْنَٰهُمْ وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ ۖ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ أَمْثَٰلَهُمْ تَبْدِيلًا ﴿٢٨﴾﴾

[٢٣-٢٦] ای پیغمبره! یقینا چې قرآن پر تا باندې مونږ په وار وار سره را نازل که، نو ته د خپل رب پر حکم باندي صـبر وکړه او د کافرانو نه د هیڅ ګناه ګار او ناشکره سړي خبره مه منه او خپل رب ده سحر او بیګاه یاد کړه او سـتاینه یې وکړه، او د شـپې لخوا الله ته په سـجده ولو یې او اوږده شپه لمونځ وکړه.

او بیـا پـه ور پسـې مبـارکو آیتونوکې اللـه تعـالی کـافران چې د دنیـا خوندونو په سر اخستي دي؛ کلک غندلي دي او فرمایلي دي:

[٢٧] هو! یقینا چې دغه کافران ډیره ژر تیریدونکې دنیا خوښـوي او شـا ته یې یوه ډیره درنده ورځ پرې ایښـي ده، یعنی کافرانو د آخرت لپاره هیڅ څه شئ نه دي تیار کړي او د ځان سره توښه نه لري.

[٢٨] هو! مونږ کافران پیدا کړل او بیا دوی مونږ ښـه پیاوړي کړل او کله چې مونږ وغواړو دوی به د نورو خلکو غوندې بدل کړو، یعنی الله به د کافرانو په ځای کلک فرمان وړونکې خلک راولي.

{د قرآن آيتونه خلکو ته په سمه لار د تګ ځلانده پيغام دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى قرآن خلکو ته لوى پيغام بللئ دئ او د هغه په لارښودنويې عمل کړو ته رابللي دي او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ٢٩وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٣٠ يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمَۢا ٣١﴾

[٢٩-٣١] هو! يقينا چې د قرآن دا آيتونه خلکو ته ور يادونکئ وعظ او نصـيحت دئ [يعنى که څوک نيکمرغي غواړي] نو هغه ده خپل رب ته د رسـيدلو تګ لاره وکړئوي [يعنى د خپل څښـتن په لارښـودونو ده عمل وکړي او تاسې اى خلکو!] هيڅ څه شئ غوښـتلاى نسـى؛ مګر دا چې الله هغه وغواړي، او يقينا چې الله ښه پوه او لوى حکيم ذات دئ او هر څوک چې د خپلو بنده ګانو نه وغواړي؛ هغه د خپل رحمت لاندې راننه باسي او ظالمانو او کافرانو ته الله دردونکې عذاب تيار کړئ دئ!

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د المرسلات سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالي په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د المرسلات سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

ګرانو دوستانو! د المرسلات مبارکې سورې نوم د همدې سورې لمړي آیت نه اخستل سوئ دئ او معنایې ګټور شمالو نه یا بادو نه ده، او دا مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالی د قیامت ورځې په راتګ باندې کلک ټینګار کړئ دئ، ځکه ایمان راوړل د قیامت ورځې په راتګ باندې فرض دي، ځکه هغه د ایمان رکن دئ، او د المرسلات مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی پرخپلو ځینې ګټورو مخلوقاتو باندې د قیامت ورځې ثبوت لپاره کلکې لوړې کړې دي او د خپلو لو یو قدرتونو ځینې نښې یې مونږ ته په وار وار سره یادې کړې دي، او همدارنګه د مکې کافران الله تعالی په وار وار سره په کلک عذاب باندې ګواښلي دي، ترڅو د کفر نه لاس واخلي او ایمان راوړي او یوازې خپل پالونکي څښتن الله ته تسلیم سي او بنده ګي یې وکړي.

هو؛ درندو عز یزانو! د المرسلات سورې په پیل کې الله تعالی په ډول ډول شمالونو یا بادونو باندې لوړه کړې ده، ځکه په ځمکه کې د ټولو ژوندیو مخلوقاتو ژوند باد پورې تړلئ دئ او هرڅه په باد یا شمال چلیږي، تر هغو چې په اوسني ماشیني ژوند کې د مصنوعي باد شتون نه هم ښه ګټه اخستل کیږي او د بر یښنا تولید ارزانه وسیله ده.

{د الله په لو یو قدرتونو لوړه ده چې قیامت راتلونکئ دئ}

ګرانو عز یزانو! الله تعالی د المرسلات مبارکه سوره په ګټورو شمالونو یا بادونو باندې په لوړې سره پیل کړې ده او فرمایلي دي:

﴿وَٱلۡمُرۡسَلَٰتِ عُرۡفٗا ۝١ فَٱلۡعَٰصِفَٰتِ عَصۡفٗا ۝٢ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشۡرٗا ۝٣ فَٱلۡفَٰرِقَٰتِ

﴿فَرۡقًا ۝٤ فَٱلۡمُلۡقِيَٰتِ ذِكۡرًا ۝٥ عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا ۝٦ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٞ ۝٧﴾

[۱-۷] ای خلکو! او پرهغو شمالونو یا بادونو باندې قسم دئ چې د دُود سره سم پرله پسې سره پاسته لږ یږي [یعنی ګټه یې هرچا ته رسیږي] او بیا قسم دئ پرهغو برې بښناکونکو طوفاني بادونو باندې چې هر څه چپه کوي [یعنی له منځه یې وړي] او قسم دئ پرهغو بادونو چې په اسمان کې ور ښځې هرې خوا ته شندي، او هم قسم دئ پرهغو ملائکو باندې چې دوی د الله حکمونو په راوړو سره؛ حق د باطل نه بیلوي، نو قسم دئ په دغو ملائکو باندې چې دوی د الله نه وحیه پر پیغمبرانو باندې را اچوي [یعنی ترڅو دا وحیه د الله له خوا خلکو باندې دلیل وي او دوی ته نوره پلمه پاتې نه وي چې ووایي: مونږ ته خو د الله حکمونه نه ؤ راغلي] او همدارنګه دا وحیه خلکو ته د الله عذاب نه و یرول دي، نو ای خلکو! باور وکړئ او ښه پوه سئ هغه وعدې چې ستاسې سره د قیامت ورځې راتګ په باره کې کیږي؛ هغه خامخا پیښیدونکي او راتلونکي دي، یعنی د قیامت ورځې راتګ یقیني دئ هیڅ شک پکې نسته، ځکه هغه ورځ د الهي عدالت د چلولو ښه لو یه ورځ ده، مومنان او کافران سره بیلیږي، مومنان جنتونو ته او کافران دوزخ ته ځي.

{د قیامت ورځې راتګ نبۍ کافرانو ته د عذاب ګواښونه دي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د قیامت ورځې راتګ ځینې لویې نبۍ یادې کړې دي او فرمایلي دي:

﴿فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتۡ ۝٨ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتۡ ۝٩ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ۝١٠ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتۡ ۝١١ لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ ۝١٢ لِيَوۡمِ ٱلۡفَصۡلِ ۝١٣ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ۝١٤ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ۝١٥﴾

[۸-۱۵] نو کله چې [د قیامت ورځ راسي، نو بیا په هغه ورځ] د اسمان ستورو رنا له منځه لاړه سي او ستوري تور سی او اسمان وچوي او غرونه هرې خوا ته والوزول سي او خاوري سي، او پیغمبرانو ته پر خپلو ولسونو

باندې د شاهدۍ ورکولو پر یکړو ته نیټه وټاکل سي او بیا پوښتل کیږي چې دا نیټه کمې ورځې ته زنډول سوي ده؟ هو! دا نیټه د خلکو په منځ کې د بیلتون ورځې ته زنډول سوې ده، او ای پیغمبره! ته څه پوه سوې چې دا د بیلتون ورځ څنګه یوه ورځ ده؟ هو! د قیامت ورځ ټولو هغو خلکو ته چې د الله نه ورته راغلي پیغمبران او کتابونه یې دروغ و بلل؛ د هلاکت او د تباهۍ ورځ ده، یعنی کافرانو ته په هغه ورځ کلکه سزا ورکول کیږي او د دوزخ په اور کې کړول کیږي.

{ کافران الله تعالی د قیامت ورځې تباهۍ نه ګوښلي دي }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې کافران الله تعالی د کلک عذاب نه د قیامت په ورځ ګوښلي دي او فرمایلي دي:

﴿أَلَمْ نُهْلِكِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ ٱلْآخِرِينَ ﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلْنَٰهُ فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿٢١﴾ إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ ٱلْقَٰدِرُونَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٤﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ أَحْيَآءً وَأَمْوَٰتًا ﴿٢٦﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ شَٰمِخَٰتٍ وَأَسْقَيْنَٰكُم مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾﴾

[١٦-١٩] [ای خلکو!] آیا لمړني امتونه [یعنی سرکښ کافران] مونږ هلاك نکړل؟ [ځواب داچې: هو! دوی ټول الله هلاك کړل] او بیا نور وروستي کافران مونږ پخوانیو پسې را لیږو او د ټولو مجرمانو سره همداسې کړو، نو د قیامت په ورځ ټولو هغو کافرانو ته هلاکت او تباهي ده چې دوی د الله پیغمبران او کتابونه دروغ و بلل، یعنی دا د الله تعالی نظام دئ چې ټول کافران هلاکوي، ځکه دوی د الله حکم نه سرغړونه وکړه او په توحید سره یې د الله عبادت او بنده کي ونکړه، بلکې مشرکان سول او بتان یې الله سره په خدایی کې کډ کړل!

[٢٠-٢٤] ای خلکو! او آیا تاسې مونږ د سپکو خوارو او بو نه پیدا نکړی؟ او بیا هغه او به [یعنی د میړه او ارتیني منیو نه جوړه سوې کډه

نطفه] مونږ په يوه کلک تم ځای کې(د ميرمنې په رحم کې) د ټاکل سوي ښکاره وخته پورې ځای پرځای کړه، نو بيا هغه مونږ د مور په نس کې ښه اندازه کړه [يعنی د هغې کډې نطفې نه د مور په نس کې بيا مونږ ښکلئ ماشوم جوړ که] ځکه مونږ ښه وسعه لرونکي يو [يعنی الله چې څه وغواړي هغسې کړای سي] نو د قيامت په ورځ ده دغو تکذيب کونکو خلکو ته هلاکت وي، ځکه دوی د الله پيغمبران دروغژن و بلل.

[٢٥-٢٨] [ای خلکو!] آيا دغه ځمکه [چې تاسې پکې ميشت ياستئ او پکې اوسيږئ] هغه مونږ ټولو خلکو ژوندیو او مړو ته بس نکړه؟ [يعنی دا چې دوی ټول پکې ځای سوي دي] او غرونه مونږ پرځمکه لوړ ودرول او پکې ميخ مو کړل، او تاسي ته مونږ ای خلکو! خوږي او به دروښکلې، نو د قيامت په ورځ ده هغو کافرانو ته هلاکت وي چې دوی د خپل رب الله استازي دروغژن و بلل، يعنی د ايمان رانوړو نه سرکښي سول او د ايمان نه يې ځانو نه ورټل.

محترمو دوستانو! دا وضاحت دلته په کار دئ چې ځمکه الله تعالی دومره لو يه کړځولې ده چې ټول خلک پکې ځايږي او هيڅ کله هغه د نفوس په ډيروالي نه تنګيږي، لکه ځنګه چې الله تعالی پدې سوره کې مخکې وفرمايل: "آيا دغه ځمکه مونږ ټولو خلکو ته بس نکړه؟" استفهام انکاري دئ، نو ځواب داچې: هو! ځمکه الله تعالی ټولو خلکو ته بس کړه، يعنی ټولو خلکو ته الله روزي ورکوي، خو دا چې اوس نړۍ وال د فقر، اوزګارۍ او ولږې نه کړ يږي؛ لوی عامل يې په ځمکه کې د مواردو په توز يع او و يش کې بی عدالتي ده، او همدارنګه پکې د زدکړې او عصري تعليم نه د ډيرو ولسونو محروميت دئ، نو په ځمکه کې پرتو ز يرمو ته لاس رسئ نه لري، ترڅو خپلې اړتيا وې پوره کړي.

{کافر انو ته په قيامت کې ډول ډول سزا ګانې ورکول کيږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د قيامت ورځې عذاب په بيان کې فرمايلي دي:

﴿ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلّ ذِى ثَلَٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِى مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرْمِى بِشَرَرٍ كَٱلْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾ هَٰذَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ جَمَعْنَٰكُمْ وَٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ فَإِن كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾﴾

[٢٩-٣٤] [نو بيا د قيامت په ورځ کافرانو ته و يل کيږي چې ای کافرانو!] اوس هغه څه ته ورسی چې هغه تاسې دروغ باله او د دې ناوو سوري ته ورسی، خو هلته نه سوريځ سته او نه د اور لمبې د چا نه سپمول کيږی او د دوزخ اور لوړې مانی غوندې خپلې سپرغی هرې خوا ته شندي، لکه دا چې هغه ز يړ رنګي اوښان وي، يعنی د دوزخ اور هرڅه په خپلو لمبو کې سوزي، نو کافرانو ته ده په هغه ورځ [چې د قيامت ورځ ده] لوی هلاکت وي، ځکه دوی د الله نه راغلي پيغمبران او کتابونه دروغ و بلل.

[٣٥-٣٧] او د قيامت په ورځ کافران نور خبرې نکړي او نه ورته اجازه ورکول کيږي چې خپلې پلمې ورلاندې کړي او بښنه وغواړي، نو هغه کسان ده کلک هلاک سي چې دوی د الله پيغمبران او کتابونه دروغ و بلل، يعنی هغه يې ونه منل او ايمان يې را نوړ.

[٣٨-٤٠] [او ای خلکو!] د قيامت ورځ د مومن او کافر په منځ کې د بيلتون ورځ ده [يعنی هر چا ته پکې خپل حق ورکول کيږي] او دا دځ د قيامت په ورځ تاسي او پخواني ټول امتونه مونږ سره راغوند کړي دي، نو که تاسي د خپل خلاصون لپاره کمه لار او پلمه لری؛ هغه وچلوی! او په هغه ورځ ټولو هغو کافرانو ته هلاکت او تباهي ده چې دوی خپل پيغمبران تکذيب کړل او د خپل رب الله پيغامونه يې ونه منل.

{د قيامت په ورځ مومنانو ته ز يري او کافر انوته ګوابښونه}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مومنانو لوړ مقام چې دوى د الله سزا نه خپل ځانونه په اطاعت سره ساتلي دي؛ بيان کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٖ وَعُيُونٖ ٤١ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشۡتَهُونَ ٤٢ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٤٣ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٤٤ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٤٥ كُلُواْ وَتَمَتَّعُواْ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجۡرِمُونَ ٤٦ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٤٧ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرۡكَعُواْ لَا يَرۡكَعُونَ ٤٨ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٤٩ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ٥٠﴾

[٤١-٤٥] هو! يقينا چې متقيان به د قيامت په ورځ د ونو سوري لاندي په داسې باغونوکې ميشت سوي اوسيږي چې د خوږو او بو چينې به پکې بهيږي او هغسې ميوې به پکې وي چې د دوى زړه يې غواړي او د جنتونو ساتونکي ملائکې به ورته وايي: اوس تاسې اى مومنانو! په دنيا کې د خپلو ښو کړنو ثوابونو خواړه ښه په خوند اخستلو سره وخورئ او او به يې په مبارکۍ سره وڅښئ، او يقينا چې مونږ د ښو کړنو کسانو ته همداسې ثوابونه ورکوو او د قيامت په ورځ تکذيبکونکو کسانو ته تباهي او هلاکت دئ، يعنى دا ځکه چې دوى د خپل رب نه ورته راغلي پيغمبران دروغژن و بلل او ايمان رانوړ او د پيغمبرانو دعوت يې ونه مانه.

[٤٦-٤٧] اى کافرانو! او تاسې په دنيا کې د لږ وخت لپاره خوند واخلئ [يعنى داځکه چې په آخرت کې بيا تاسې ته نعمتونه نسته] او تاسې يقينا مجرمان ياستئ [يعنى د خپل رب الله تعالى حکمونو نه تاسې سرکښي کړې ده] او د قيامت په ورځ هغو کسانو ته چې د الله نه ورته راغلي پيغمبران يې دروغژن و بلل؛ هلاکت او کلک عذاب دئ، يعنى دوى پکې کړ يږي.

[٤٨-٥٠] او کله چې دغو کافرانو ته وو يل سي چې الله ته رکوع [لمونځ] وکړئ، نو دوی الله ته د تعظيم رکوع نکړي، نو کافرانو ته په هغه ورځ چې د قيامت ورځ ده؛ هلاکت او تباهي ده او کافرانو چې په قرآن ايمان رانوړ، نو بيا به د هغه نه وروسته په بل کم کتاب ايمان راوړي؟ يعنی دا ځکه چې د قرآن کر يم نه چې د الله نه راغلئ حق کتاب دئ؛ بل هيڅ لوی او د حکمتونو نه ډک کتاب نسته چې کافران ورڅخه ګته واخلي.

درندو دوستانو! د المرسلات په مبارکه سوره کې؛ ټول خلک الله تعالی د قيامت ورځې عذاب او د لوی هلاکت نه په کلکه سره ګواښلي دي، او په پيل کې يې په ډير ټينګار سره د قيامت ورځې يقيني را تګ بيان کړئ دئ او بيا يې د قيامت ورځ بيلونکې ورځ بللې ده، ځکه په هغه ورځ نور مومنان د کافرانو او مجرمانو نه الله تعالی بيلوي، او مومنان به جنت ته ځي او کافران به د جهنم سره اور ته ورغورځول کيږي، او بيا الله تعالی کافران په وار وار سره د قيامت ورځې لوی هلاکت نه کواښلي دي، ځکه الله تعالی پر دوی باندې ښې ډيرې پيرزويني او نعمتونه لورولي دي، خو دوی يې شکر نه دئ و يستلئ او د الله تعالی پيغمبران او کتابونه يې تکذيب کړي دي، او همداسې الله تعالی په دغو مباکو آيتونوکې مومنانو ته د ښه ژوند ز يرئ په آخرت کې ورکړئ دئ، ځکه دوی په دنيا کې د الله حکمونه منلي او عملی کړي دي، نو په انعام او جايزه کې يې الله تعالی دوی ته؛ هغه لوی لوی نعمتونه په جنتونوکې ورکوي چې بيلګه او مثال يې په دنيا کې نسته، او بيا الله تعالی د المرسلات مبارکې سورې په پای کې په تکرار سره کافران د قيامت ورځې هلاکت نه کلک ګواښلي دي.

قدرمنو دوستانو! نو ښايي چې اسلام ته رابلونکې دعات او ملايان د قرآن کر يم آيتونه تل خلکو ته ښه ورزده کړي او هغه ده دوی ته وروروسوي، او خلک ده د الله تعالی د دين حکمونو باندې عمل کړو ته په کلکه سره راو بولي، او د کافرانو او مجرمانو تورې راتلون کې نه دې د قيامت په ورځ وګواښي، ځکه چې د قيامت په ورځ نوره پښيماني څه ګټه نه لري او په هغه ورځ د ګناه ګارانو عذرونه او پلمې الله نه مني او تو به نه

قبلیږي.

نو کرانو عز یزانو! دعاء کړو چې مونږ ده الله تعالی په خپل فضـل او لوی رحمت ســره؛ د قیامت ورځې هلاکت او د لویې تباهۍ نه وســاتي او د ښه عمل توفیق ده راکړي.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات، واللهم صل وسلم على رسولك الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...



د النبأ سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې لوی پالونکئ څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{ د النبأ سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

درندو عز یزانو! د النبأ مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم یې چې(النبأ) دئ د هغې دو یم آیت نه اخستل سوئ دئ او معنایې پیښه ده او د دې لویې پیښې نه مقصد او مراد د قیامت لو یه ورځ ده، او پدې مبارکه سوره کې الله تعالی خپل لوی قدرتونه خلکوته ور په یاد کړي او په نښه کړي دي، ترڅو دوی د قیامت ورځې په راتګ باندې باور وکړي او د هغې لویې ورځې یقیني راتګ ومني او ځانونه ورته په ایمان راوړو او په ښو کړنو سره تیار کړي، او د الله تعالې په لو یو قدرتونوکې ښه ژور فکر وکړي او ښه پوه سي چې الله تعالی دا لو یه دنیا بې هدفه او بې حکمته نه ده پیدا کړې، او د هغې نه وروسته د قیامت ورځئ راتګ او په هغه ورځ د ټولو مړو بیرته راژوندي کول او د الله تعالی په حضورکې یې حساب ورکولو ته درول؛ حتمي او یقیني دي، ترڅو مومن او کافر، عادل او ظالم سره بیل سي، او بیا مومنان جنتونو ته او کافران دوزخ ته لاړ سي، او د الهي عدالت په تله د ټولو خلکو کړنې برابرې وتلل سي، او بیا به په هغه ورځ کافران وایي:"یا لیتني کنت ترابا" ای کاشکې زه خاورې وای! خو په هغه ورځ بیا پښیماني هیڅ ګټه نه لري!

{د قیامت ورځې یقیني راتګ الله په دلائلو سره بیان کړئ دئ}

درندو مومنانو! د النبأ مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د کافرانو پوښتنې ځواب کړې دي او فرمایلي دي:

﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ۝١ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ۝٢ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ۝٣ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ۝٤ ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ۝٥﴾

[١-٣] [ای پیغمبره! د مکې کافران] یو بل نه د څه شي پوښتنه کړي؟ هو! دوی د یوې دامې لویې پیښې پوښتنه کړي چې پکې یو بل سره اختلاف لري، یعنی او هغه د قیامت ورځې یقیني راتګ دئ او مونږ الله تعالی په قرآن کې ورځخه یقینا خبر کړي یو او د آخرت پر ورځ باندې یې ایمان راوړو ته په کلکو دلیلونو سره رابللي یو.

[٤-٥] نا! [خبره هیڅ کله هغسې نه ده، لکه څنګه چې کافران فکر کړي] او دوی به ډیر ژر پوه سي چې د قیامت یا د آخرت ورځې راتګ نه به د هغوی انکار بده پایله څنګه وي؟ او بیا به دوی ښه ژر پوه سي چې د قیامت په ورځ د مړو بیرته را ژوندي کیدل ر یښتیا دي!

{د الله لو یو قدرتونو نښې په دنیا کې د قیامت راتګ ثبوت دئ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې خپل لوی نعمتونه پر خلکو باندې چې هغه د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښې دي؛ یوه یوه یادی کړي دي او کافران یې ور باندې د خپل کفر بدو پایلو نه کلک ګواښلي دي او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ۝٦ وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ۝٧ وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ۝٨ وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتٗا ۝٩ وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا ۝١٠ وَجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشٗا ۝١١ وَبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعٗا شِدَادٗا ۝١٢ وَجَعَلۡنَا سِرَاجٗا وَهَّاجٗا ۝١٣ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡمُعۡصِرَٰتِ مَآءٗ ثَجَّاجٗا ۝١٤ لِّنُخۡرِجَ بِهِۦ حَبّٗا وَنَبَاتٗا ۝١٥ وَجَنَّٰتٍ أَلۡفَافًا ۝١٦﴾

[٦-٧] ای خلکو! آیا مونږ ځمکه تاسې ته اواره نکړه؟ او بیا غرونه مونږ ور باندې میخ نکړل؟ یعنی داچې ترڅو ځمکه ستاسې لاندې ونه ښوریږي او نه ولړز یږي؟

[٨-٩] او تاسې ای خلکو! مونږ جوړه جوړه پیدا کړی (نر او ښځه) او د ستاسې و یده کیدل یا خوب مونږ ستاسې د دمې کړو لپاره وګرځول!

[١٠-١١] او شپه مونږ ستا سې لپاره جامه وګرځوله [ځکه د شپې تیاره تاسې، لکه جامه پټوي] او ورځ مونږ ستاسې د ژوند روزي پیدا کولو لپاره وکړځوله.

[١٢-١٣] او ای خلکو! د ستاسې په سر باندې مونږ او ؤ کلک اسمانونه ودان کړل [یعنی هغه مونږ پاس پر تاسې باندي ودرول] او په اسمان کې مونږ تاسې ته د ښې ځلاندې رڼا چراغونه پیدا کړل، یعنی اسمان مونږ درته په لمر، سپوږمۍ او په ځلانده ستورو باندی ښه روښانه رڼا که، ترڅو یی په رڼا کې تاسې مزلونه وکړی او د خپل تګ لار وپیژنی.

[١٤-١٦] او د ز بیښونکو وورو نه مونږ ښې ډیرې او به را وورولې، ترڅو د ځمکې نه دوی ته غلې او بوټي راشنه کړو او د ګنو ونو باغونه مونږ راشنه کړل، یعنی دا ځکه چې هغه د خلکو ژوند اړتیاوې پوره کوي.

هو؛ قدرمنو دوستانو! الله تعالی چې د زمونږ لوی پالونکئ څښتن دئ او هرڅه کړلای سي؛ هغه دا ټول نعمتونه د خلکو هوسایي لپاره پیدا کړل او د دنیا ژوند لوی نظام یې ور باندې جوړ که، نو آیا دا لوی ذات د آخرت په ورځ چې کله قیامت ودر یږي؛ مړي بیرته نسې را ژوندي کولای؟ ځواب دا چې: هو! الله تعالی ته د ټولو خلکو بیرته را ژوندي کول د قیامت په ورځ؛ ډیر اسانه دي، ترڅو هرڅوک خپل حساب ورکړي او بیا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکړه سي.

{د کافرانو او مومنانو د بیلتون ورځ قیامت ټاکل سوئ دئ}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې د قیامت ورځ الله تعالی د یوم الفصل، یعنی د بیلتون ورځ یاده کړی ده او هغه یې مونږ ته ښه روښانه را پیژندلې ده او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا ۝١٧ يَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ۝١٨﴾

وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ أَبۡوَٰبٗا ١٩ وَسُيِّرَتِ ٱلۡجِبَالُ فَكَانَتۡ سَرَابًا ٢٠ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتۡ مِرۡصَادٗا ٢١ لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابٗا ٢٢ لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحۡقَابٗا ٢٣ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرۡدٗا وَلَا شَرَابًا ٢٤ إِلَّا حَمِيمٗا وَغَسَّاقٗا ٢٥ جَزَآءٗ وِفَاقًا ٢٦ إِنَّهُمۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ حِسَابٗا ٢٧ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابٗا ٢٨ وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ كِتَٰبًا ٢٩ فَذُوقُواْ فَلَن نَّزِيدَكُمۡ إِلَّا عَذَابًا ٣٠

[١٧-١٨] هو! يقينا چې د خلکو په منځ کې د بيلتون ورځ ټاکل سوئ وخت دئ [يعنی دا د بيلتون ورځ به خامخا په خپله ټاکل سوې نيټه راځي] او په هغه ورځ سورنئ د دو يم ځل لپاره پوه کيږي او بيا به تاسې ای خلکو! ډله ډله راځئ او ټول به راغونډيږئ.

[١٩-٢٠] او په هغه ورځ به د اسمانونو ورونه بيرته سوي پرانستل کيږي او پرځمکه باندې ولاړ کلک سوي غرونه به الوزول کيږي او پسته خاوره به ګرځي.

[٢١-٢٦] او يقينا چې دوزخ په هغه ورځ په څارکې دئ، او کافران او مجرمان به په دوزخ کې پرله پسې کلنو پراته وي او هلته به پکې نه يخ او نه او به څښکې، يوازې د دوزخيانو سرې زوې به څښکې، او دا سزا دوی ته ډيره عادله او د دوی د بدو کړنو او ګناهو سره برابره سزا ده.

[٢٧-٢٨-٢٩] او يقينا چې کافرانو په حساب ورکولو باندې باور نه درلود او نه ورته هيلمن ول، او د زمونږ کتاب آيتونه او دليلونه يې ټول دروغ و بلل، يعنی دوی د پيغمبر ﷺ خبرې ونه منلې او د بغاوت او سرکښۍ لارې خپله کړه، نو اوس به د خپلې سرکښۍ سزا خاماخا ګالي، ځکه هرڅه مونږ شميرل سوي ليکلي دي.

[٣٠] ای کافرانو! اوس نو د خپلو بدو کړنو عذاب وڅکئ او سزايې وګالئ او عذاب مونږ پر تاسې باندې پرله پسې ډيروو، يعنی نو کافرانو ته ښايي چې ايمان راوړي او د کفر نه لاس وا خلي.

ګرانو عز یزانو! دا دئ د قیامت ورځې هغه ژوندئ انځور چې هغه خلکوته الله تعالی په دنیا کې وړاندې کړئ دئ، ترڅو پکې هر هوښیار سړئ ژور فکر وکړي او ایمان راوړئ او خپل ځان ته د قیامت ورځې عذاب نه نجات ورکړي، نو ښایي چې هر مومن بنده پر خپل ایمان شکر و باسي او د الله تعالی په اطاعت او فرمان وړوکې لا ډیر ز یار و باسي، ترڅو د قیامت په ورځ د الله تعالی په حضورکې مختورن ونه در یږي.

{د متقیانو ځای په جنت کې د میوو نه ډک لوی باغونه دي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې د النبأ مبارکې سورې وروستي آیتونه دي؛ متقیانو ته چې خپل ځانونه یې د الله سزا نه په ایمان راوړو سره ساتلي دي؛ ښه کلک ز یرئ ورکړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَٰنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴿٤٠﴾﴾

[٣١-٣٥] هو! یقینا چې جنتونو ته ورننوتل متقیانو ته یوه بر یا ده او دوی ته په جنت کې د میوو او د انګورو بڼونه دي، او د جنت حورې ښځې یې داسې پیغلې وي چې تې یې جګ ولاړ وي او په ډکو جامونو(کیلاسونو) کې به ورته شر بت ورځښکل کیږي او دوی به په جنت کې نه دروغ اوري او نه به نورې سپکې سپورې خبرې اوري.

[٣٦] هو؛ ای پیغمبره! دا ستا د رب الله لخوا شمیرل سوې ورکړه ده، یعنی دا چې هغه مومنانو او متقیانو ته ورکول کیږي.

[٣٧] [ای پیغمبره! د ستا دا رب الله تعالی] د اسمانونو او ځمکې او

پکې اوسيدونکو ټولو مخلوقاتو الرحمن خدای او لوی څښتن دئ، او جنتيان الله سره د خبرو کړو واک نه لري.

[٣٨] هو! د قيامت په ورځ چې جبرئيل او نورې ملائکې به په صفونو کې ليکه ولاړ وي، نو د هغه چا نه پرته چې الرحمن رب هغه ته اجازه وکړي؛ بل هيڅ څوک خبرې نکړي او [هغه څوک چې خبرې کړي] هغه هم ر يښتيا وايي، يعنی په هغه لو يه ورځ هيڅ څوک بل چا ته د الله اجازې نه پرته شفاعت او سپارښت کړلای نسي، ځکه هر څه يوازې د الله تعالی واک لاندې وي!

[٣٩] او دا د قيامت ورځ ر يښتيا او حق ورځ ده [يعنی راتک يې يقيني دئ او که څوک خلاصون او نجات غواړي] نو خپل لوی څښتن الله ته ده د ورتګ توښه برابره کړي.

[٤٠] ای خلکو! يقينا چې تاسې مونږ د آخرت ورځې د ډير را لنډ عذاب نه وو يرولی او په هغه ورځ هرڅوک د خپلو لاسونو کړنې په سترګو و يني، او کافر د ډير خفتيان نه په وا و يلا سره وايي: ای کاشکې زه خاورې وای، يعنی دغسې سختو عذابونو ته بيرته نه وای را ژوندئ سوئ، خو د هغه دغسې هيله نوره ګټه نه لري او د ټولو خلکونه الله تعالی حساب اخلي.

عزتمنو مومنانو! دا دي هغه خوندور ز يري چې هغه الله تعالی مومنانو او متقيانوته ورکړي دي، او بيا الله تعالی کافران د کلکو عذابونو نه و يرولي او ګواښلي دي، نو ښايي چې ټول خلک د الله په دغو ز يرو او ګواښونو باندې؛ پوخ باور وکړي او د قيامت ورځې سزاګانو نه خپل ځانونه د الله تعالی حکمونو نه په اطاعت او د الله نه په توفيق غوښتلو سره؛ خلاص کړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسول الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د النازعات سورې معنا اولنډه تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

{دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي}

{د النازعات سورې لنډه پیژندنه اولوی پیغام}

قدرمنو دوستان! د النازعات مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم یې (النازعات) دئ او هغه د دې سورې لمړي آیت نه اخستل سوئ دئ او معنایې [ساه و یستونکي فرښتې] ده، او پدې مبارکه سوره کې الله تعالی د نورو مکي سورو غوندې د عقیدې په یوه لو یه مسئله باندې چې هغه د قیامت ورځې لړزونکئ را تک دئ؛ کلک ټینګارکړئ دئ او د قیامت ټکانونکي حالت تصو یر یا انځوریې مونږ ته وړاندې کړئ دئ، ترڅو هرڅوک هغې ورځې ته خپل ځان په ایمان او په ښه عمل سره تیار کړي او په پیل کې یې الله تعالی د قیامت یقیني راتک ثبوت لپاره په فرښتو باندې لوړه او قسم کړئ دئ، ځکه ملائکې په اسمانونوکې د الله تعالی فرمان وړونکي مخلوقات دي او د زړه له کومې په اخلاص سره؛ د الله بنده کې کړي او الله تعالی په لو یتیا سره ستایي او فرمان وړو ته یې تیار سئ دي، نو الله تعالی په دغو ملائکو لوړه کړې ده چې د قیامت ورځ حق ده او هغه خامخا راتلونکي ده، نو تیارئ ورته په کلک ایمان سره پکار دئ، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

{الله تعالی پر فرښتو لوړه کړې چې قیامت حق دئ}

﴿وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرۡقٗا ١ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشۡطٗا ٢ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبۡحٗا ٣ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبۡقٗا ٤ فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرٗا ٥ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ٦ تَتۡبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ٧ قُلُوبٞ

يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾

[١-٧] او پرهغو ملائکو یا فرښتو باندې لوړه او قسم دئ چې د کافرانو ساه وې په ډیرې سختۍ سره راباسي، او هم پرهغو ملائکو قسم دئ چې د مومنانو ساه ګاڼې په ډیر شوق او اسانۍ سره راباسي، او پرهغو ملائکو قسم دئ چې په اسمانونوکې لامبو وهي او هلته لمنځو نه کړي، او پرهغو ملائکو قسم دئ چې د الله حکمونو په چلولوکې د یو بل سره سیالي کړي، او پرهغو ملائکو قسم دئ چې د الله حکمو نه په ښه تدبیر او په هوښیارۍ سره په ټوله نړۍ کې چلوي [او د دغو قسمونو ځواب چې دلته پټ دئ؛ دا دئ چې هو! په دغو ټولو ملائکو باندې قسم او لوړه ده چې د قیامت ورځ راتلونکې ده او په هغه ورځ ټولو خلکو سره حساب کیږي او بیا هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکول کیږي] او د قیامت په ورځ د سورني په پوکولو سره ځمکه کلکه لړز یږي او ژوندي مخلوقات ټول پکې مړه کیږي، او بیا ور پسې په دو یم ځل د سورني په پوکولو سره؛ ټول مړي بیرته را ژوندي کیږي، یعنی د خپلو ګورونو نه راجګیږي یا راپاڅیږي.

[٨-٩] او د ټولو خلکو زړو نه د قیامت په ورځ د ډیرې و یرې نه؛ کلک ټکان خوري او لړز یږي، او د ټولو سترګې مړې او په و یره کې وي!

[١٠-١٢] [او کافران چې د قیامت ورځې راتګ نه منکر ول] وایي: آیا مونږ وروسته لدې چې خاورې سوي اډوکې یو؛ بیرته را ګرځول کیږو؟ [یعنی بیا د خپلو ځانو سره] وایي: نو د هغې ورځې بیرته را ګرځیدل مونږ ته لوی ز یان دئ، یعنی ز یانمن راګرځیدل دي، ځکه چې کافران په هغه ورځ مختورن د دوزخ ژورو ته ورغورځول کیږي، نو ګرانو دوستانو! دعا کړو چې الله ده مونږ په خپل لوی فضل او رحمت سره ورځخه وساتي.

[١٣-١٤] نو یقینا چې [د قیامت په ورځ د سورني پوکیدل] یوازې یو

ټکان دئ [چې په يوه غږ سره يې ټول خلک بيرته راژوندي کيږي] او ناڅاپه خپل ځانو نه راو ينې سوي مومي.

درندو عز يزانو! په دغو مبارکو آيتونوکې الله تعالى په اسمانونوکې د الله فرمان لاندې فرښتو يا ملائکو باندې لوړه کړې ده او په دغسې لوړويې د قيامت ورځې راتګ يقيني ياد کړئ او باوري کړئ دئ، او بيايې مونږ ته د قيامت ورځې د راتګ څرنګوالئ بيان کړئ دئ، او هغه دا چې د قيامت ورځ د دؤ ځله سورني پوکولو نه وروسته در يږي او قيامت جوړ يږي، ځکه د سورني لمړي ځل په پوکولو سره ټوله نړي، اسمانو نه او ځمکه ړنګيږي او ژوندي مخلوقات ټول مړه کيږي او بيا په بل ځل سورني پوکولو سره ټول مړي بيرته د خپلو ګورونو نه راجګيږي او را [اخول کيږي او د الله حضورته حساب ورکولو لپاره درول کيږي، نو ګرانو ورونو! ښايي چې ټول خلک د الله تعالى په دغسې پر يکنده و ينا او حکم سره؛ ايمان راوړي او خپل ځانو نه د قيامت ورځې ورتګ ته ښه سم تيار کړي، ترڅو په سپينو مخونو د الله تعالى په حضورکې ودر يږي او حساب يې اسانه سي.

{د موسى پيغمبرى نه د فرعون بغاوت او هلاکت لوى عبرت}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د موسى عليه السلام پيغمبرى پر وړاندې د فرعون بغاوت او بيايې هلاکت لنډ ياد کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ١٥ إِذۡ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوًى ١٦ ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ١٧ فَقُلۡ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ١٨ وَأَهۡدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخۡشَىٰ ١٩ فَأَرَىٰهُ ٱلۡأٓيَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ٢٠ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ٢١ ثُمَّ أَدۡبَرَ يَسۡعَىٰ ٢٢ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ٢٣ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ٢٤ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلۡأٓخِرَةِ وَٱلۡأُولَىٰٓ ٢٥ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰٓ ٢٦﴾

[١٥-١٩] اى پيغمبره! آيا د موسى خبر تا ته راغئ [کله چې پرموسى د طور مقدسې غونډې په ناو کې الله غږ وکه] او ورته يې نعرې کړې او

حکم يې ورته وکه و يو يل: ای موسی! فرعون ته ورسه، ځکه هغه په يقين سره بغاوت او سرکښي کړې ده، نو بيا هغه ته ووايه:آيا غواړې چې خپل ځان ده پاک کړي؟ او تا زه د ستا خپل رب الله ته سم کړم؟ نو بيا به د الله عذاب نه و و ير يږې، يعنی په ايمان راوړو سره به د الله عذاب نه ځان وساتې او نجات به بيامومي.

[٢٠-٢٢] نو بيا موسی فرعون ته لو يه معجزه وښودله، خو فرعون موسی دروغژن و باله او سرکښي يې وکړه او بيا فرعون په مندې بيرته په شا وګرځيده، يعنی موسی ته يې شا ور واړوله.

[٢٣-٢٤] او بيا فرعون د خپل قوم مشران راټول کړل او ور باندې يې غږ وکه او و يو يل: زه د ستاسې لوی څښتن يم، يعنی زه د ستاسې خدای يم! [العياذ بالله!]

[٢٥-٢٦] نو بيا فرعون الله را ونيوه او د دنيا او د آخرت سزاء يې ورکړه او يقينا چې د فرعون هلاکت هغه چا ته چې د الله عذاب نه په ر ښتيا سره و ير يږي؛ کلک عبرت دئ.

{د الله قدرتونو نښې د اسمانو په پيدايښت کې روښانه ځليږي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د قيامت په ورځ بيرته راژوندي کيدلو نه منکرو کسانوته خپل لوی قدرتونه د اسمان په پيدايښت کې ښودلې دي او فرمايلي دي:

﴿ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا ٢٧ رَفَعَ سَمۡكَهَا فَسَوَّىٰهَا ٢٨ وَأَغۡطَشَ لَيۡلَهَا وَأَخۡرَجَ ضُحَىٰهَا ٢٩ وَٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ٣٠ أَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا وَمَرۡعَىٰهَا ٣١ وَٱلۡجِبَالَ أَرۡسَىٰهَا ٣٢ مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ٣٣﴾

[٢٧-٢٩] ای خلکو! آيا د ستاسې پيدا کول [او بيا د قيامت په ورځ بيرته راژوندي کول] ډير سخت دي او که د اسمان پيدا کول؟ [ځواب دا چې: د بشر په عقل خو د اسمان پيدا کول د انسانانو پيدا کولو نه؛ ډير

سخت دي] او دا دئ اى خلكو! د ستاسې په سر باندې اسمان الله ودان كه او د هغه چت پېروالئ پې پورته جګ كه او هغه پې بيا اوار كه او شپه پې د لمر په پر يوتو سره تياره كړه او بيايې ورځ رڼا كړه او غرمه يې راوايستله.

[٣٠-٣٢] او د اسمان نه وروسته بيا الله ځمكه اواره كړه او او به پې ورڅخه راوايستلې او د څر بوټي پې پكې راشنه كړل او غرونه پې په ځمكه كې كلك خښ او ميخ كړل.

[٣٣] اى خلكو! او هغه ټول د ستاسې او ستاسې د څارو يو كټې اخستلو لپاره دي.

{د قيامت ورځې را تګ سره كافر انوته دوزخ ورليدل كيږي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوكې د دوزخ انځور ښودل كافرانو ته د قيامت په ورځ ياد كړئ دي او په بيان كې فرمايلي دي:

﴿فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلۡكُبۡرَىٰ ٣٤ يَوۡمَ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ٣٥ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ٣٦ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ٣٧ وَءَاثَرَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ٣٨ فَإِنَّ ٱلۡجَحِيمَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ٣٩ وَأَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ ٤٠ فَإِنَّ ٱلۡجَنَّةَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ٤١﴾

[٣٤-٣٦] نو كله چې د قيامت ورځې لو يه سختي راغله؛ بيا په هغه ورځ انسان خپل ټول كړل په دنيا كې راپه يادوي او بيا په هغه ورځ دوزخ هغه چا ته راښكاره كيږي چې هغه و يني، يعنى دوزخيانو ته وربښودل كيږي.

[٣٧-٣٩] نو چا چې سركښي كړي وي او د دنيا ژوندې غوره كړئ وي، نو د هغه ځاى دوزخ دئ، يعنى كله چې هغه د الله حكمونوته غاړه نه وه ايښې او سركښي پې ورڅخه كړې وه، نو ځاى پې دوزخ دئ!

[٤٠-٤١] او هرهغه څوك چې د خپل رب عذاب نه وو يرِ يده او خپل نفس پې د خپلو غوښتنو او هوسونو نه منع كه، نو جنت پې ځاى او تل پاتې استوګنځئ دئ.

{د قيامت راتګ علم يوازې الله سره دئ نورځوک نه پوهيږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې همداسې الله تعالى د قيامت ورځې په باره کې رسول الله ﷺ ته په و ينا کې فرمايلي دي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓاْ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾﴾

[٤٢-٤٥] ای پيغمبره! کافران [د ډير سپکا وي نه] د قيامت ورځې راتګ نيټې او وخت پوښتنې ستا نه کړي او وايي چې د قيامت در يدل کله دي؟ حال دا چې ته ای پيغمبره! د هغې راتګ نه خبر نه يې او د قيامت ورځې راتګ علم؛ يوازې د ستا رب الله سره دئ [يعنى يوازې الله تعالى ور باندې پوه دئ چې قيامت کله دئ؟] او ته ای پيغمبره! هغه څوک د الله عذاب نه ګوابــي چې د قيامت ورځې نه و ير يږي، يعنې ته ای پيغمبره! خلک ايمان راوړو ته رابولې، ترڅو ښاد او نيکمرغه سي.

[٤٦] او کله چې کافران د قيامت ورځ وو يني [نو بيا هغه دومره را لنډ بولي] لکه چې دوی د دنيا په ژوند کې يو ماښام او يا يوه غرمه تيره کړه.

ګرانو وروڼو او خو يندو! نو په دغو مبارکو آيتونوکې چې هغه د النازعات سورې وروستي مبارك آيتونه دي؛ د قيامت ورځې يقيني راتګ باندې الله تعالى ښه کلک او قاطع دليلونه راوړي او بيان کړي دي او کافران يې د فرعون او د هغه لښکرو د ترخې راتلونکې کلکې سزا نه ګوابلي او و يرولي دي، او بيايې ټول خلک خبر کړي دي چې کله د قيامت ورځې لو يه سختي راسي، نو د کافرانو ځای د دوزخ سور اور دئ او د مومنانو ځای جنت دئ، نو ښايي چې ټول خلک د قيامت ورځې راتګ پرحقانيت او ر ښتينوالي باندې باور وکړي او ايمان راوړي او د دوزخ کړوونکي عذاب نه خپل ځانو نه کلک وساتي او ورڅخه يې وژغوري.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...



د عبس سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي.

{د عبس سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

هو؛ درندو دوستانو! د عبس مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم یې (عبس) د لمړي آیت نه اخستل سوئ دئ او معنایې: (تندئ یې تر یب سه) ده، یعنی څه چې یې واور یدل او وې لیدل کرکه یې ورځخه راغله او خوښ یې نسول، او د دې مبارکې سورې په پیل کې مونږ الله تعالی پر رسول الله ﷺ باندې د خپلې نرۍ ګیلې نه خبر کړي یو او هغه دا چې پیغمبر ﷺ یوه ورځ د قر یشو مشرانو سره په جرګه کې ناست ؤ، ناڅاپه عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه چې په سترګو ړوند ؤ؛ مجلس ته راننوت او د رسول الله ﷺ نه یې پوښتنې پیل کړې، نو د رسول الله ﷺ تندئ د هغه د ډیرو پوښتنو له کبله تر یب سه، نو بیا دغه د عبس مبارکه سوره را نازله سوه او پکې الله تعالی د رسول الله ﷺ پام د هغه بشرې تیروتنې ته راواړا ؤ، او د دې مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی اسلام ته د رابلنې فکري او انساني ارزښت کلک په ښه کړئ او بیان کړئ دئ، او هغه دا چې اسلام پوهنه د هرچا حق دئ او لمړ یتوب هغه چا ته ورکول کیږي چې هغه د اسلام زدکړې ته تنده لري؛ پرته لدې چې د هغه اجتماعي او اقتصادي ځای او مقام په ټولنه کې په پام کې ونیول سي، نو پدې مبارکه سوره کې مونږ ته الله تعالی د انسان په معنوي لوی ارزښت باندې؛ کلک ټینګارکړئ دئ، او هغه یې د شخصیتونو پیژندلو لپاره تله او معیار ګرځولئ دئ، که څه هم بشري پوهه د هغه خلاف حکم وکړي، نو یقینا چې وحیه د بشر پر عقل حاکمه ده، نه د بشر عقل پر وحیه باندې، ځکه د رسول الله ﷺ چلند د هغه عقلي پوهې غوښتنه وه، خو الله تعالی د خپل استازي پیغمبر پام هغه

لوی حقیقت ته ډیر ژر راواړا ؤ چې دئ د هغه خورولو او حاکمولو په مقصد په پیغمبرۍ مبعوث سوئ دئ، او هغه په ټولنه کې معنوي او مادي عدالت ځای پرځای کول او ټینګول دي، او همدارنګه د دغې پیښې یادونه په عظیم الشأن قرآن کې چې هغه د قیامت ورځې پورې لوستل کیږي؛ د دې لوی حقیقت څرګندوی دئ چې قرآن د الله نه په ر یښتیا سره رانازل سوئ حق کتاب دئ او رسول اللهﷺ هغه د خپل ځان نه ندئ جوړ کړئ او نه یې د ځان نه راوړئ دئ، ځکه که هغه د محمدﷺ خپلې خبرې وای، نو بیا به هیڅ کله هغه خپل ځان نه ؤ ملامت کړئ، او دا مبارك آیتونه او هغو ته ورته نور دغسې ډیر آیتونه به چې پکې رسول اللهﷺ ته د عتاب ګوته نیول سوې ده او ورڅخه نرۍ ګیله سوې ده؛ په قرآن کې نه ول، او بیا الله تعالی د عبس مبارکې سورې په پای کې د قیامت ورځې ژوندئ انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ او هغه دا چې کله د قیامت ورځې لوېې نعرې کړ یکه یا نعره پورته سي، نو بیا په هغه ورځ هرڅوک په خپل ځان سي، او د خپل ورور، مور، پلار، ښځې او ټول کوول نه په تیښته وي؛ لکه څنګه چې په تار یخ کې د ټول نیونکو ناروغیو او و بایې مرضونو داستانونه اورو، او وروستۍ بیلګه یې د کرونا و یروس دئ او هغه تراوسه [یعني د ۲۰۲۰م کال نه تر ۲۰۲۲م کاله] پورې په ټوله نړۍ کې خور دئ او خپلوان او دوستان یې د یو بل نه کلک بیل کړي دي!

{د خلکو د درندښت لوړ مقام الله د اسلام په تله تللئ دئ}

کرانو دوستانو! د عبس مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی فرمایلي:

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝١ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ۝٢ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ۝٣ أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ۝٤ أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ۝٥ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ۝٦ وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسۡعَىٰ ۝٨ وَهُوَ يَخۡشَىٰ ۝٩ فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ ۝١٠﴾

[۱-۲] هو! کله چې په سترګو ړوند (صحابي) رسول الله ته راغئ [او د خپل دین لارښودنو پوښتنې یې ورڅخه پیل کړي] نو د پیغمبر تندئ تر یب

سه او څيره يې بدله سوه او د هغه نه يې مخ واړا ؤ.

درندو عز يزانو! رسول الله ﷺ هغه وخت په غوصه سه او د عبد الله بن ام مكتوم رضي الله عنه نه يې مخ واړا ؤ، كله چې هغه د رسول الله ﷺ په نيمه خبر پوه نسه او خپلې پوښتنې يې اوږدې كړې، ځكه هغه په مجلس كې ناست كسان په ستركو نه ليدل، ترڅو متوجه سي چې رسول الله ﷺ د قر يشو پلاوي مشرانو سره په جركه كې ناست دئ او دوی د الله دين ته رابولي، خو د دې سره سره بيا هم الله خپل پيغمبر ملامت كه او په نرۍ ګيلې سره يې ورته وو يل:

[٣-٤] ای پيغمبره! ته څه پوهيږې كيدای سي چې هغه [ږوند مومن په خپلو پوښتنو سره غواړي چې لا ډيره پوهه زده كړي] او خپل ځان ښه پاک كړي او څه زده كړي، نو بيا دا زدكړه هغه ته ګټه ورسوي.

[٥-٧] او هغه چا چې ځان مستغني وګاڼه [او ايمان رانوور، لكه همدا د قر يشو مشران] نو بيا ته ای پيغمبره! د هغه پر وړاندې كلک در يږې او هغه پالې، خو كه چيرې هغه خپل ځان پاک نكړې او ايمان را نوړي، نو پر تا باندې ای پيغمبره! څه ملامتيا نسته، يعنی دا چې د پيغمبر دنده او رسالت خلكو ته د الله تعالى دين رسول ول، نه د هغوی هدايت او ايمان روړل، او دا رسالت اوس د هغه امت علماوو ته په ميراث پاتې دئ، نو ښايي چې دوی د رسول الله ﷺ په تک لاره ټينګ ودر يږي او هيڅ كله د هغې نه وانوړي او په خپل قوم كې غر يب خلک د پام نه لرې نسي.

[٨-١٠] او هغه څوک چې تاته ای پيغمبره! په منډه راغئ او هغه د الله نه و ير يږي؛ ته د هغه نه بې پروا سوې، يعنی د بل چا سره ده ځان منكيره كه او ورسره په خبرو سوې او هغوی د قر يشو ځينې مشران ول!

{قرآن د الله نه راغلئ د وعظ او نصيحت عزتمن كتاب دئ}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى د قرآن كر يم عظمت، لو يتيا او د هغه مقصدونو په بيان كې فرمايلي دي:

﴿كَلَّآ إِنَّهَا تَذۡكِرَةٞ ١١ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ١٢ فِي صُحُفٖ مُّكَرَّمَةٖ ١٣ مَّرۡفُوعَةٖ

﴿مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾﴾

[١١-١٦] نا! [ای پیغمبره! تا ته نه ښـاییدل چې د دې مومن بنده نه تا مخ اړولې وای، ځکه د قرآن] دا آیتونه خلکوته د الله ور په یادونې او د وعظ او نصـیحت پیغام دئ، نو چاچې وغوښـتل الله یاد کړي [یعنی د لارښـودنو نه یې ګټه واخسـتله] او د قرآن آیتونه په درندو معززو پاڼو کې لیکل سـوي دي او په لوړو پاکو پاڼوکې د الله عزتمنو درندو ملائکو په لاسـونوکې دي، یعنی پاس په اووم اسـمان کې په لوح محفوظ کې د هرنقصـان نه پاک سـاتل سـوي دي، او بیا هغه ځمکې ته د جبرئیل الأمین علیه السلام په لاس پر پیغمبر ﷺ باندې را نازلې سوئ پاک کتاب دئ.

ګرانو مومنانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپل عزتمن اسـتازئ او پیغمبر ﷺ په خپل دغسـې چلند کې چې هغه د بشـري پوهې غوښـتنه او حکم ؤ؛ کلک ملامت کړئ دئ او ګیله یې ورڅخه کړې ده، ځکه د قرآن آیتونه چې پاس په لوح محفوظ کې په معززو پاڼوکې لیکل سوي محفوظ او خوندي دي؛ هغه د الله تعالی استازو ملائکو په لاسونو کې د هرعیب او کمښـت نه پاک سـاتل سـوي دي، او بیا هغه پر رسـول الله ﷺ باندې رانازل سـوئ پیغام دئ، ترڅو خلک ورڅخه ګټه واخلي او خپل رب الله تعالی را په یاد کړي او عبادت او بنده ګي یې وکړي، نور نو د هرچا خپله خوښه چې ورڅخه ګټه اخلي او کنه؟ خو هغه څوک چې مومن دئ او د قرآن لارښـودنوته تنده او تلوار لري، لکه عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه، نو د هغه مقام الله سـره ډیر لوړ دئ، او نه ښـاییدل چې د کافرانو مشرانوته پاملرنه عبد الله بن ام مکتوم ته د شا وراړولو په بیعه تمامه سـوې وای، نو ځکه الله تعالی ډیر ژر دا مبارك آیتونه رانازل کړل، ترڅو دغسـې پیښـه د تل لپاره په مومنانوکې بیا تکرار نسـي او د پاملرنې لمړ یتوب حق تل مخلصـو مومنانوته ورکړل سـي او په هیڅ پلمه دا ځانګړتیا د پامه لرې ونلو یږي او دعات ورڅخه غافل نسي.

عزتمنو دعاتو او د دین مبلغینو! روایت سوئ دئ چې رسول الله ﷺ

به د دغې پېښې نه وروسته د عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه ډېر عزت او قدر کا ؤ او کله چې به رسول الله ﷺ د مدينې منورې نه بهر په کمه غزا کې په سفر ووت، نو عبد الله بن ام مکتوم به يې خپل ځای ناستی ګماره، نو ښايي چې اسلام ته رابلونکي دعات هيڅ کله د عبس سوره او هغې ته ورته د قرآن کر يم نورو آيتونو لارښودنې، لکه د الانعام سورې (٥٢) آيت او د الکهف سورې (٢٨) آيت؛ لارښودنې د پامه ونه غورځوي! ځکه الله تعالى په پورته ياد سوو سورو مبارکو آيتونوکې فرمايلي دي: ﴿وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ٢٨﴾ معنا داچې: [اى پيغمبره! هغه کسان خپل ځان سره وزغمه چې دوی خپل رب الله د ورځې په ځانښت او د شپې په ماخستن کې يادوي او دعاء کړي او د الله خوښي او رضا غواړي، نو ته اى پيغمبره! خپلې سترګې او پام د دوی نه بلې خوا مه اړه وه ،او آيا ته د دنيا ژوند نښکلا غواړې؟ او د هغه چا زړه چې مونږ غافل کړئ دئ او هغه خپلې هوا او هوس پسې تللئ دئ؛ ته اى پيغمبره! هغه پسې مګرځه او اطاعت يې مکړه[ځکه هغه خپل ځان ملامت کړئ دئ] يعنى په ځان يې تيرئ کړئ دئ.

نو اسلام ته رابلونکي دعات ده دغسې مخلص مومنان؛ هيڅ کله د پامه نه غورځوي، او ښايي هغوی يې په ذهن او مغزوکې تل حاضر وي او پالنه او عزت يې وکړي او وې نازوي.

{د الله نعمتونو شکرو يستل پر مومنانو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې لله تعالى خپلې لويې ورکړې او پيرزو يې پرخلکو باندې يادې کړې دي او هغه يې يوه يوه شميرلې ده او خلک يې په ايمان راوړو سره د الله نعمتونو شکر و يستلو ته رابللي دي فرمايلي دي:

﴿قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَآ أَكۡفَرَهُۥ ١٧ مِنۡ أَيِّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ ١٨ مِن نُّطۡفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ١٩ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ٢٠ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقۡبَرَهُۥ ٢١ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ٢٢ كَلَّا

﴿لَمَّا يَقۡضِ مَآ أَمَرَهُۥ ٢٣﴾

[١٧-٢٣] هو! دا سرکښ انسان ده مړ او هلاک سي چې دئ څومره ناشکره دئ [حال دا چې دئ خپل رب الله] د څه شي نه پيدا که؟ هو! انسان الله د نطفې نه پيدا که او بيايې ورته هرڅه ډير ښه اندازه کړل او بيايې ورته د ژوند ټولې لارې اسانه کړې او بيايې مړ که او خښ يې که، او بيا چې کله الله وغواړي هغه به بيرته [د قيامت په ورځ] راژوندئ کړي، خو دې انسان هيڅ کله د الله حکمونه پرځای نکړل، يعنی په قدرې پوه نسه! خو خبره هغسې نده، لکه څنګه چې کافران فکر کړي او هغه يوازې د دنيا ژوند نه خوند اخستل بولي، نو ښايي چې انسان ښه فکر وکړي او د خپل رب نعمتونو شکر و باسي.

{انسان ته الله په ځمکه کې د ژوند اړتياوې تيارې کړې دي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی خپلې لويې پيرز ينې پر مونږ باندې ای مومنانو يادې کړې دي او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ٢٤ أَنَّا صَبَبۡنَا ٱلۡمَآءَ صَبّٗا ٢٥ ثُمَّ شَقَقۡنَا ٱلۡأَرۡضَ شَقّٗا ٢٦ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا حَبّٗا ٢٧ وَعِنَبٗا وَقَضۡبٗا ٢٨ وَزَيۡتُونٗا وَنَخۡلٗا ٢٩ وَحَدَآئِقَ غُلۡبٗا ٣٠ وَفَٰكِهَةٗ وَأَبّٗا ٣١ مَّتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ٣٢﴾

[٢٤-٣٢] نو انسان ده خپلو خوړو ته وګوري چې مونږ هغه ته يقينا څومره ډيرې او به راوورولې او ځمکه مونږ وچوله، نو بيا پکې مونږ غلې، انګور، واښه، ز يتون، کجورې يا خرما، او د ميوو نور ډير ګڼ باغونه راشنه کړل او هغه ټول ای خلکو! د ستاسې او ستاسې د څارو يو خواړه دي او تاسې د هغو نه خوند اخلی.

[د قيامت ورځې ګواښونو ژوندئ تصوير او ښکاره انځور}

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونوکې خلک د قيامت ورځې

هولناکه حالت نه خبر کړي دي او د هغه نه يې په لوی انځور ښـــودلو سره؛ کلک ګواښلي دي او فرمايلي دي:

﴿فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوۡمَ يَفِرُّ ٱلۡمَرۡءُ مِنۡ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٖ شَأۡنٞ يُغۡنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ مُّسۡفِرَةٞ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٞ مُّسۡتَبۡشِرَةٞ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ عَلَيۡهَا غَبَرَةٞ ﴿٤٠﴾ تَرۡهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَفَرَةُ ٱلۡفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾﴾

[٣٣-٣٧] نو بيا چې کله د قيامت ورځې ګړزهار راسي، نو په هغه ورځ د ډير هول او و يرې نه هرڅوک د خپل ورور، مور، پلار او د خپلې ښځې او کوول نه تښتي، ځکه هغه ورځ هرڅوک د ځان په و يرکې وي او بل هيڅ چاته يې پام نه وي!

[٣٨-٤٢] او په هغه ورځ [چې د قيامت ورځ ده] د مومنانو مخونه سپين او په خندا وي او د کافرانو او مجرمانو مخونه په هغه ورځ سپيره وي او ګردونه ور باندې پراته وي، ځکه دوی کافران او فاجران ول.

درندو لوستونکو! د يادونې وړ بولم چې دا اوس اوس (د ١٤٤١هق کال رجب او د شـــعبان مياشـــت چې د ميلادی ٢٠٢٠کال د مارچ او د اپريل مياشتې سره او د هجري شمسي ١٣٩٩کال حمل مياشتې او مخکې يې د حوت ورستيو اونيو سره سمون خوري) ټوله نړۍ د کرونا کو يدو١٩ په نامه يوه ناپېژندل ســـوي ســـاري هولناکه و يروس نه؛ کړ يکې او د ټولو هيوادونو په ښـــارونوکې بنديزو نه لګيدلي دي، مکتبونه، مدرســـې، پوهنتونو نه او ترجوماتونو پورې نور ټول د راغونډيدلو او د ګڼې ګونې مذهبې او دنيوي ټولينيز ځايو نه ټرل ســـوي دي، او مســـلمانان خپل لمنځو نه په کوروکې کړي، ځکه د کرونا و يروس باندې د ککړ يدو مخنيوي په هيله هر څه په ټپه ولاړ دی او په ســـړکونو او بازارونوکې ګڼه ګونه نســـته او کوڅې او بازارو نه ټرل ســـوي دي او ښـــارونه د خلکو تک

راتک نه خالي دي! او پدې پېښــه کې د پام وړ خبره خو دا ده چې ټولینزې رسـنۍ وايي: د دغې بيالوجسـتي و باء (کرونا کو يد١٩) ناروغانو نه د دوی خپلوان په ارو پا او د غرب په ټولو هيوادونو کې؛ په تېښته دي او ناروغان هم يو د بل نه بيل بيل ســاتل کېږي، او د معالجو کســانونو نه پرته بل هيڅ څوک يې پوښـتنې ته نه ورځي، نو يقينا چې په دغه و باء کې چې سـبب يې هر څه وي؛ مونږ ته د قيامت لويې ورځې هغه نښې راښـکاره سـوې دي چې د هغو نه مونږ الله تعالى د عبس مبارکې ســورې په دغو وروســتيو آيتونو کې خبر کړي يو، نو دعاء کړو چې الله تعالى ده مونږ ســره د ټولو مسـلمانانو د دغسـې بد حال نه د لوی محشـر په ورځ په خپل فضـل او رحمت سـره وسـاتي، او په کلک ايمان او ښـه عمل سـره ده؛ د ټينګښـت توفيق راکړي او په دنيا کې ده هم الله تعالى د زمونږ نه دا فتنې لرې کړي، او يقينا چې الله تعالى ښه مهر بان او لوی څښتن دئ.

او همداسـې د يادونې وړ ده چې همدا اوس چې د سـږ کال ١٤٤٣هـ ق کال د رجب مياشـتې وروسـتۍ ورځې دي د کرونا و يروس په ټيټه درجه کې په ټوله نړۍ کې همداسې خور دئ او کلکې اندېښنې را پارولې دي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصـحبه أجمعين، وسـبحانك اللهم و بحمدك أشـهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د التکو یر سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د التکو یر سورې لنډه پیژندنه او پیغام}

قدرمنو دوستانو! د التکو یر مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم یې (التکو یر) د هغې لمړي آیت نه اخستل سوئ دئ او د تکو یر معنا د لمر سترکې راغونډیدل دي او هغه د قیامت ورځ ده او هرڅه پکې د خپل طبیعي مسیر نه اوړي او بدلیږي، او پدې مبارکه سوره کې الله تعالی مونږ ته د قیامت ورځې ر یښتینئ تصو یر وړاندې کړئ دئ او د قرآن عظیم الشان حقانیت یې را ته بیان کړئ دئ، ځکه قرآن الله تعالی په حق او ر یښتیا سره پر رسول الله ﷺ رانازل کړئ؛ لارښود کتاب دئ او دا حقیقت الله تعالی پدې مبارکه سوره کې په ډیرو پر یکندو دلیلونو سره یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او همدارنګه د رسول الله ﷺ نه په دفاع کړو کې الله تعالی د مشرکانو دروغژن تورونه پدې مبارکه سوره کې؛ کلک غندلي او رد کړي دي، نو ښایي چې ټول خلک ښه ژور فکر وکړي او د خلاصون لار چې ایمان دئ؛ غوره کړي او د کفر نه چې پکې هلاکت دئ خپل ځانونه کلک وساتي، او د التکو یر مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

{د قیامت نښو راڅرګندیدل مومنان توښې تیارولوته هڅوي}

﴿إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ۝١ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ۝٢ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ

﴿٣﴾ وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ﴿٤﴾ وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ﴿٥﴾ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ﴿٦﴾ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ ﴿٧﴾ وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ ﴿٩﴾ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ ﴿١١﴾ وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ ﴿١٣﴾ عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّآ أَحۡضَرَتۡ ﴿١٤﴾

[١-١٤] هو! كله چې د لمر سترګه راګرده سي [يعنى رنا يې لاړه سي!] او كله چې ستوري را ولو يږي [يعنى تک تور واوړي!] او كله چې غرونه د خپلو ځايونو نه وخوځيږي [يعنى خاورې سي!] او كله چې بلاربې اوښې په خپلو تم ځايونو كې پر يښودل سي! او كله چې ځناور ځاروي سره راغونډ سي! او كله چې د سمندرونو او به لمبه سي [يعنى اور وا خلي!] او بيا چې كله ټول خلک سره يوځای سي! او كله چې د ژوندۍ خښې سوې ماشومې جلې نه و پوښتل سي چې په څه ګناه باتدې ووژل سوه؟ او كله چې د ټولو خلکو كړنو ليکل سوې پاڼې خورې سي! او كله چې اسمان د خپل ځای نه راوشکيږي! او كله چې د دوزخ اور بل سي! او كله چې جنت را لنډ سي! نو بيا به پدې وخت كې هرڅوک پوه سي چې هغه ځان سره څه توښه روړې ده؟ يعنى چې ترڅو ور باندې د قيامت ورځې سزا نه خلاص سي.

درندو دوستانو! دغه دولس لويې نښې د قيامت ورځې د يقيني راتګ په باره كې الله تعالى يادې كړې دي، ترڅو خلک پكې ښه ژور فكر وكړي او د قيامت ورځې په حتمي راتګ باندې ايمان راوړي او ځان ورته په ښو كړنو سره تيار كړي، او د دغو دولسو لو يو نښو نه لمړۍ شپږ نښې په دنيا كې راپښيږي او شپږ نورې يې د قيامت په ورځ راځي، نو ښايي چې هر څوک پر هغو باور وكړي او په سپين مخ د الله تعالى حضور ته د ورتګ لپاره ځان د ښې توښې سره تيار كړي!

{قران د الله تعالى نه پيغمبر ته جبر ائيل رسولې دئ}

او بيا الله تعالى په ور پسې مباركو آيتونوكې پرخپلو لو يو مخلوقاتو باندې لوړه كړې ده او د خپل كتاب قرآن او د پيغمبرﷺ استاز يتوب

حقانیت او ر یښتینوالئ یې په کلکه سره یاد کړئ او بیان کړئ دئ او هغه یې لوی نړ یوال رسالت اعلان کړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ١٥ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ١٦ وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ١٧ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ١٨ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ١٩ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ٢٠ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ٢١ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجۡنُونٖ ٢٢ وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ ٢٣ وَمَا هُوَ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ بِضَنِينٖ ٢٤ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٖ ٢٥ فَأَيۡنَ تَذۡهَبُونَ ٢٦ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٢٧ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ ٢٨ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩﴾

[١٥-٢١] نو پرهغو ستورو باندې قسم دئ چې په خپلو ځایونوکې پټ سي او رڼایې لاړه سي، او په شپه قسم دئ چې کله تیاره سي، او په سحر قسم دئ چې کله د هغه سپیدې راوخیژي [او قسم دئ] چې قرآن په پاخه یقین ســره د هغه عزتمن اســتازي د خولې و ینا ده چې دئ د لوی ځواک خاوند دئ او د عرش (څوکۍ) لوی څښتن رب الله فرمان ورو ته کلک ولاړ دئ او حکمونه یې چلیږي او د وحي یې [په رســولوکې دئ د الله نه پیغمبر ته] امین دئ، یعنی دا چې جبرئیل امین علیه السلام د الله تعالی کتاب قرآن په پوره امانت سره د اسمان نه رسول الله ﷺ ته په ځمکه کې رسولئ دئ.

[٢٢-٢٥] ای د مکې خلکو! د ستاسې ملګرئ (محمد ﷺ) لیونئ ندئ، او جبرئیل رسول الله د اسمان په څپوکې ښکاره ولیده، او دئ د پټو خبرو په رســولوکې خلکوته ســپمونکئ خائن ندئ [یعنی رســول الله ﷺ په پوره امانت ســره د الله نه ورته راغلې خبرې خلکو ته رســوي] او قرآن د رټل سـوي شـیطان و ینا نه ده، یعنی قرآن په یقین سـره د الله نه راغلئ پیغام دئ.

[٢٦-٢٩] نو ای خلکو! تاسې چیر ته ځئ؟ [یعنی د ستاسې عقلونه څه درته وایي؟] او قرآن د نړۍ ټولو خلکوتـه لارښــود پیغـام دئ، او قرآن د ســتاســې نه ای خلکو! هغه چا ته لارښــود دئ چې هغه په ســمه لار ټک

غواړي، او تاسې ای خلکو! هیڅ څه نه غواړی، مګر دا چې الله یې وغواړي، یعنی هرڅه د الله په علم، اراده او په پر یکړه ترسره کیږی، ځکه الله تعالی د ټول عالم او د ټولې نړۍ رب او لوی څښتن دئ.

قدرمنو مومنانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې په خپلو لو یو مخلوقاتو باندې کلکې لوړې کړې دي چې قرآن د الله تعالی پیغام پاس د عرش نه هغه ځواکمن او امین استازي جبرئیل علیه السلام پر رسول الله صلی الله علیه وسلم را کوز کړئ دئ چې دئ د الله پر وړاندې پوخ اعتبار لري، او دا قریشي پیغمبر لیونئ ندئ او د خپل لوی رب الله پیغام (قرآن) چې ټولو نړۍ والوته ګواښونکئ دئ؛ په پوره امانت سره رسوي، نو تاسې ته ای خلکو! ښایي چې د الله تعالی حکم ته غاړه کیږدئ او دا لوې پیغام ومنی او پر رب العالمین ذات باندې په توحید سره او پر کتاب (قرآن) او پر پیغمبرې ایمان راوی، ترڅو په دنیا او په آخرت کې ښاد او نیک مرغه سی!

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی آله وأصحابه أجمعین، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لاإله إلا أنت استغفرك وأتوب إلیك.

❁❁❁

د الانفطار سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الانفطار سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

قدرمنو عز یرانو! د الانفطار مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله

تعالى، لكه نورې مكي ســورې د قيامت ورځې په راتګ باندې كلک ټينګار كړئ دئ، ځكه كافران د قيامت ورځې د در يدلو او د آخرت ورځې د راتګ نه؛ كلک منكر ول او د قيامت په ورځ يې د خلكو بيرته را ژوندي كيدل خوسې د پخوانيو قصې بللې، نو الله تعالى د كافرانو دغسې سپكې خبرې او انكيرنې ټولې دروغ بللې دي او د قيامت ورځې يقيني ثبوت لپاره يې د هغې ورځې راتګ د پيل نښو نه مونږ خبر كړي يو او هغه د نړۍ په طبيعي نظام كې د لو يو پيښو يادونه ده چې هغه هرومرو راتلونكي دي، او د دې مبارکې سورې نوم چې الانفطار دئ؛ د دې سورې د لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ، او د الانفطار معنا: شكيدل او ټوټه كيدل دي او يقينا چې د قيامت په راتګ ســره د نړۍ ټول نظام ټوټه كيږي او ړنګيږي، او بيا د الانفطار سورې په پاى كې مونږ ته الله تعالى د قيامت ورځې لنډ انځور وړاندې كړئ دئ او هغه دا چې په هغه ورځ به ټوله واكمني؛ يوازې د الله وي او بل هيڅ څوک د هيڅ چا لپاره څه كړاى نسي، او په بيان كې الله تعالى فرمايلي دي:

{د قيامت په راتګ د نړۍ ټول نظام ړنګيږي او هرڅه لوڅيږي}

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ۝١ وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ۝٢ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ۝٣ وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ ۝٤ عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ ۝٥﴾

[١-٥] هو! كله چې اســمان څيرې ســي [يعنى په راشــكيدلو ســره ټوټه ټوټه سي] او كله چې ستوري د هرې خوا نه راولو يږي [يعنى وشيندل سي] او كله چې ســمندرونه وچوي، او كله چې كورونه په بل مخ را واوړي [يعنى مړي ورڅخه راجګ سي او بيرته را ژوندي سي] نو بيا به هر څوک پوه سي چې هغه ته سپارل سوې دندې يې څومره مخكې ترسره كړې دي او څومره يې بيرته زنډولې دي؟ يعنى دا چې هر چا ته به د هغه خپل عمل ليک په لاس كې وركړل سي، نو بيا هر څوک خپل ښه او بد عملونه په خپل مخكې په سترګو و يني او هغه به لولي!

{الله انسان په ښكلې څيره كې پيدا كه خو هغه بغاوت وكه}

او په ور پســې مباركو آيتونو كې الله تعالى انســان ته په خطاب كې د

هغه بغاوت په باره کې چې د خپل لوی خښتن نه يې کړئ دئ فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨ كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ٩ وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ١٠ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ١١ يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ١٢ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ ١٣ وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ ١٤ يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ ١٥ وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ ١٦ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٧ ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٨ يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ١٩﴾

[٦-٨] ای انسانه! ته کم څه [یا ته چا] د خپل لوروونکي رب الله نه وغولولي؟ [یعنی د هغه بنده ګي نه يې لرې کړې او د شکر و يستلو نه يې منعې کړې او بيا ته سرکښ سوې؟] او د ستا رب هغه څوک دئ چې ته يې پيدا کړې، نو بيايي سم سړئ درڅخه جوړ که، او بيا چې په کمه څيره کې وغوښتل؛ هغسې يې ته تيار او جوړ کړې!

[٩-١٢] نا نا! ای خلکو! [تاسې چې څنګه فکر کړئ] او د قيامت ورځې حساب نه منکر ياستئ [حقيقت هغسې ندئ] بلکې تاسې د حساب ورکولو ورځ دروغ بولئ او د قيامت نه منکر ياستئ، او يقينا چې تاسې د ستاسې ساتونکي عزتمنې ملائکې؛ څاري او د ستاسې ټولې کړنې ليکي او د ستاسې پر ټولو کړنو باندې پوهيږي، يعنی نو بيا په حق او عدالت سره سزا درکوي او د دوزخ اور په لمبوکې به کړ يږئ.

[١٣-١٦] او يقينا چې د ښو کړنو خښتن به په جنتونوکې وي او د بدو کړنو خاوندان به په دوزخ کې وي او د قيامت په ورځ به پکې کړ يږي او دوی د جهنم نه پټيدای نسي.

[١٧-١٩] ای انسانه! څه پوهيږې چې د جزا ورکولو ورځ څنګه يوه ورځ ده؟ او بيا ای انسانه! ته څه پوهيږي چې د جزا ورځ [چې هغه د قيامت ورځ ده] څنګه يوه ورځ ده؟ [ځواب] په هغه ورځ هيڅ څوک يو بل ته څه ګټه

رسـولای نسـي [یعنی د یو بل سـره د مرسـتې کړو واک نه لري] او په هغه ورځ هرڅـه د الله په واک کې وي! یعنی د قیـامت په ورځ د ټولو خلکو په منځ کې یوازې الله حکم کړي، نو بیا مومنانو ته جنتونه ورکوي او کافران دوزخ ته وراچوي او هلته به یکې د تل لپاره کړ یږي.

درندو مومنانو! ښایي د الله تعالی دا ګواښـونه چې د دې مبارکې سـورې لند پیغام دئ؛ ټول خلک د قیامت ورځې راتګ پورې؛ کلک واوري، ترڅو خپل ځانونه په هغه لو یه ورځ د الله عذاب نه وسـاتي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته په خپل ایمان باندې اسـتقامت، ثبات او ټینګښـت راپه برخه کړي او د قیامت ورځې خجالت نه ده الله تعالی مونږ په خپل فضل او لوی رحمت سره وساتی! آمین یا رب العالمین.

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی آله وصـحبه أجمعین، وسـبحانك اللهم و بحمدك أشـهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إلیك.

د المطففين سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالي په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان ذات دئ پيل کيږي]

{د المطففين سورې پيژندنه او لوی پيغام}

ګرانو لوستونکو! د المطففين مبارکې سورې د را نازليدو ځای په باره کې مختلف روايات راغلي دي؛ په ځينو رواياتوکې هغه مدني سوره بلل سوې ده او په ځينې نورو کې بيا ورته مکي سوره و يل سوې ده؛ د عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت سوئ دئ چې د المطففين سوره پرته د دوه وروستيو آيتونو نه؛ نوره ټوله مدني سوره ده، او نوم يې (المطففين) د هغې لمړي مبارک آيت نه اخستل سوئ دئ، او معنايې د تلې او پيمانې کمول دي چې سوداګر ورځخه کلک ګواښل سوي دي، نو يقينا چې عدالت په تله او پيمانه کې د المطففين سورې لوی پيغام دئ، ځکه دغسې حقوقي عدالت ټولنه د اقتصادي ظلم او تيري نه چې په ټولنه کې کينې را پاروي او د خلکو په منځ کې محبت او مينه او د يو بل سره وروري لمنځه وړي؛ کلکه ساتي او د وروري اړ يکي پکې رغوي.

قدرمنو دوستانو! د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه همدارنګه روايت سوئ دئ چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم د مکې نه مدينې منورې ته هجرت وکه او پکې ميشت سه، نو وې ليدل چې د يثرب سوداګرو د اخستلو او خرڅولو (پلورلو او پر يولو) په تله کې انصاف نه چلا ؤ او ټکي يې پکې کړه، نو بيا دا د (و يل للمطففين) مبارکه سوره رانازله سوه، او دوی الله تعالی د دغسې ظلم نه کلک وګواښل او ورته يې په تله او پيمانه کې د انصاف کلک سپارښت وکه، ترڅو د الله تعالی سزا نه ځانونه وساتي.

او دلته د دې ټکي يادونه هم د پام وړ ده، لکه څنګه چې د المطففين سوره په عثماني مصحف کې د الانفطار سورې پسې وروسته جخت

راغلې ده، نو داسې ښکاري، لکه چې د هغې برخه وي، ځکه په المطففين کې د انسان بدې کړنې په دنيا کې هغه ته د سزا ورکول سره د قيامت په ورځ؛ کلکې ټرل سوي دي، ترڅو هر څوک په دنيا کې د ښو کړنو هڅه وکړي او د آخرت ورځې عذاب نه ځان وساتي، او پدې ډول د خلکو د ژوند په چارو کې عدالت او انصاف قايم سي او د قيامت ورځې سزا نه، لکه څنګه چې يې د الانفطار سورې په وروستي آيت کې بيان راغلئ دئ؛ کلک وژغورل سي، ځکه د قيامت په ورځ نور هيڅ څوک ځان خلاصولای نسي، ځکه د نجات فرصت يوازې په دنيا کې دئ، نو دعا کړو چې الله تعالى ده مونږ ته توفيق راکړي ترڅو خپل ځانونه د الله سزا نه کلک وساتو.

{هغه سوداګر چې په تله کې انصاف نکړي الله ګوابلي دي}

قدرمنو دوستانو! د المطففين سورې په پيل کې الله تعالى هغه سوداګر د قيامت ورځې کلکې سزا نه ګوابلي دي چې په سوداګرۍ کې: عدالت نه چلوي او پکې انصاف نکړي، او فرمايلي دي:

﴿وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ٣ أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ ٤ لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦﴾

[١-٦] هغو سوداګرو ته کلک عذاب او درنده سزا ورکول کيږي [چې دوی په تله او پيمانه کې څه شئ لږوي او هغه نه پوره کوي] او دغه سوداګر هغه کسان دي چې کله دوی د خلکو نه څه شئ اخلي تله او پيمانه پې پوره کوي، خو بيا چې کله دوی پر خلکو څه شئ پلوري او خرڅوي پې؛ تله او پيمانه پې لږوي او هغه کموي! نو آيا دغه سوداګر باور نه لري چې دوی به د قيامت په ورځ خلکو ته د دوی حقوقو ورکولو لپاره راجګول کيږي؟ او بيا په هغه ورځ ټول خلک د الله پر وړاندې حساب ورکولو ته در يږي!

{په آخرت کې د کافرانو د تورې راتلونکې انځور}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې کافران الله تعالی د آخرت ورځې تور برخلیک نه کلک کوابلي دي او فرمایلي دي:

﴿كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ ۝٧ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سِجِّينٌ ۝٨ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ۝٩ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ۝١٠ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ۝١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ۝١٢ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ۝١٣ كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ۝١٤ كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ۝١٥ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا۟ ٱلْجَحِيمِ ۝١٦ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ۝١٧﴾

[۷-۱۱] نا! [ای خلکو! خبره هیڅ کله هغسې نده، لکه څنګه چې د قیامت ورځې نه منکر کافران یا فاجران پې انکیري او ګمان کړي، ځکه د قیامت ورځې راتګ حق دئ] او د فاجرانو یا کافرانو ځای په سجین کې لیکل سوئ دئ، او ته ای پیغمبره! څه پوهیږي چې سجین څه شئ دئ؟ سجین په نښه سوئ یو کتاب دئ [یعنی په هغه کې د بدو خلکو سوانح لیکل سوي دي] او کافرانو ته چې د سزا ورکولو ورځې نه په قیامت کې منکر دي؛ کلک او تل پاتې عذاب دئ.

[۱۲-۱۳] او د ظالم او تیرئ کونکي ګناه ګار سړي نه پرته؛ بل هیڅ څوک د قیامت ورځ دروغ نه بولي، او کله چې هغه ته د زمونږ کتاب (قرآن) آیتونه ولوستل سي وایي: دا د پخوانیو لیکل سوې خبرې دي!

[۱۴-۱۷] نا! [خبره هغسې نده، لکه چې کافران انکیږي او وایي] بلکې د دوی په زړونو باندې د دوی د بدو کړنو ګرد پورت دئ [یعنی زړونه پې زنګ وهلي دي، او قرآن د الله نه راغلئ لارښود کتاب دئ] او کافران د قیامت په ورځ په کلکه سره د خپل رب لیدلو نه منع سوي دي [یعنی دوی الله تعالی لیدلای نسي] او بیا دوی د دوزخ په اور کې کړول کیږي او ورته و یل کیږی: دا هغه عذاب دئ چې تاسې هغه دروغ باله.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې کافران او فاسقان چې د قيامت ورځې راتګ نه منکر دي او د الله کتاب قرآن چې په ر ښتيا سره پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سوئ دئ؛ نه مني، بلکې هغه د پخوانيو امتونو نه راپاتې ليکل سوې خوسې قصې او خبرې بولي، نو دوی الله تعالى د آخرت ورځې په کلک عذاب باندې ګوابنلي دي او د دوی ځای د دوزخ په ژوره کې دئ او هغه له مخکې نه د سجين په نښه سوي کتاب کې ټاکل سوئ دئ او نه بدليږي.

{د مومنانو ځای په آخرت کې په لوړو جنتو کې دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د ښو کړنو خاوندانو مومنانو ته الله تعالى د جنتنو ز يرئ ورکړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾﴾

[١٨-٢١] نا! [خبره هيڅ کله هغې نده، لکه څنګه چې کافران انګيري!] د ښو خلکو او د مومنانو ځای په لوړو جنتونو کې ليکل سوئ دئ، او ته ای پيغمبره! څه پوهيږي چې دا لوړ مقام څه شئ دئ؟ هو! هغه په نښه سوئ يو ليک او کتاب دئ او پکې هيڅ بدلون نه راځي او يوازې هغه ملائکې چې په اسمان کې الله ته لنډې دي؛ دا لوړ مقام و يې او پيژني.

[٢٢-٢٦] او ښه خلک يقينا د نعمتونو نه په ډکو جنتونو کې په کټونو باندې ناست وي او د يو بل نندارې کړي، او په مخونو او څيرو کې يې د هوسايي او د نعمتونو نښې رښې ځليږي، او د مشکو په بوی باندې ټاپه سوو شرابو شر بتونه ورځښکل کيږي، نو ښايي چې ټول خلک دغو لوړو جنتونو ته د رسيدو لپاره يو بل سره سيالي وکړي، يعنی دا چې ترڅو

دغسې لوړ مقام وکړي!

[٢٧-٢٨] او د دغو شرابو خوند د تسنيم چينې او بو ته ورته دئ، او هغه داسې چينه ده چې د هغې او به الله ته لنډې دي او مقرب جنتيان يې څښکې او خوند ورڅخه اخلي.

هو! قدرمنو دوستانو! دا دئ مومنانو ته او د ښو کړنو خاوندانو ته په لوړو جنتونو کې د استوګنې لوی ز يرئ، او بيا مومنان الله تعالى د هغه ګټلو ته په سيالۍ سره؛ کلک رابللي او هڅولي دي.

{کافران په دنيا کې مومنانو پورې خاندي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د کافرانو يا مجرانو بد خو يونه او بد چلند د مومنانو سره په دنيا کې مونږ ته الله تعالى ياد کړئ او بيان کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ٢٩ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ٣٠ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ٣١ وَإِذَا رَأَوۡهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ٣٢ وَمَآ أُرۡسِلُواْ عَلَيۡهِمۡ حَٰفِظِينَ ٣٣ فَٱلۡيَوۡمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلۡكُفَّارِ يَضۡحَكُونَ ٣٤ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ٣٥ هَلۡ ثُوِّبَ ٱلۡكُفَّارُ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ٣٦﴾

[٢٩-٣٣] هو! يقينا هغه کسان چې په کفر سره مجرمان سول؛ دوی به په دنيا کې مومنانو پسې خندل او ملنډې بې ور باندې وهلې، او کله چې به دوی د مومنانو ترڅنګ تيريدل، نو يو بل ته يې مومنانو پسې د سپکاوي سترګې واهه او بيا چې کله دغه فاجران بيرته خپلو کورونو ته وروګرځيدل، نو د مومنانو غيبتونو نه بې يو بل سره؛ خوند اخست، او کله چې به مومنان دوی وليدل، نو و يل بې دغو کسانو لار ورکه کړې ده، حال دا چې کافران هيڅ کله مومنانو پسې څارونکي او ساتونکي ندي راليږل سوي، يعنى کافرانو د ډيرې کينې نه مومنانو پسې سپکې سپورې خبرې کړي، حال داچې دا د دوی دنده يا مامور يت نه ؤ؟.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې چې د قیامت ورځې تصویر پکې انځور سوئ دئ؛ الله تعالی فرمایلي دي:

[٣٤-٣٥] او دا دئ نن ورځ په آخرت کې مومنان پاس په جګو کټونو باندې ناست دي او ننداړې کړي او کافرانو پورې چې د دوزخ په اور کې کلک کړ یړي خاندي.

[٣٦] نو آیا دغو کافرانو ته د دوی د بدو کړنو سزا ورکړل سوه؟ [ځواب دا چې: هو! دوی ته په پوره عدالت سره سزا ورکړل سوه او دا دئ اوس هغه ګالي]

درندو وروڼو او خو یندو! دا ؤ د آخرت ورځې ژوندئ انځور او د کافرانو بد حال چې هغه الله تعالی پدې مبارکه سوره کې مونږ ته وړلاندي کړئ دئ، ترڅو ټول خلک د خپلې ښې او بدي راتلونکې نه په آخرت کې خبر سي، نو بیا هر څوک د الله حکمونوته غاړه کیږدي او ایمان راوړي او ښه وکړي، او بیا د آخرت په ورځ د الله نعمتونو نه برخمن سي او ورڅخه خوند واخلي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته په خپل ایمان باندې استقامت او ثبات را په برخه کړي او د آخرت په ورځ ده الله تعالی مونږ ته هغه لوړ جنتونه را کړي چې ز یرئ یې مومنانو ته په دنیا کې پدې مبارك آیت کې او د قرآن په نورو آیتونو کې ورکړل سوئ دئ، او مونږ ده الله تعالی د مجرمانو غوندې بدې راتلونکې نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الانشقاق سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الانشقاق سورې پیغام او لنډه پیژندنه}

قدرمنو لوستونکو! د الانشقاق مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالی مونږ ته د قیامت ورځې تصویر او د هغې ورځې لویې نښې یادې کړې او بیان کړې دي، ترڅو هغه ومنو او د زړه له کومې ور باندې باور وکړو او خپل ځانو نه ورته په ښو کړنو سره تیار کړو او بیا په هغه ورځ د دوزخ عذاب نه د ښو خلکو په لیکه کې نجات بیاومو، او د دې مبارکې سورې نوم (الانشقاق) دئ او هغه د لمړي آیت"إذ السمآءانشقت" نه اخستل سوئ دئ او معنایې د اسمان چاودیدل او پله پله کیدل دي، او دا پیښه د قیامت په درېدلو سره رامنځ ته کیږي او ځمکه او اسمانو نه چوي او توته کیږي او هغه د قیامت ورځې لویې نښې دي، نو ښایي چې ټول خلک ایمان راوړي او په توحید سره د خپل رب الله عبادت وکړي او د کفر او شرك نه ځان کلک وساتي، ترڅو د قیامت په ورځ د الله عذاب نه نجات بیاومي او جنتونه یې په برخه سي.

{د اسمانونو او ځمکې په چاودیدلو سره خلک الله ته ورځي}

ګراونو دوستانو! د الانشقاق مبارکه سوره چې مکي سوره ده پکې الله تعالی مونږ ته د قیامت ورځې د درېدلو او راتګ انځور وړاندې کړئ او بیان کړئ دئ او په پیل کې فرمایلي دي:

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ۝١ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ۝٢ وَإِذَا ٱلۡأَرۡضُ مُدَّتۡ ۝٣ وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ۝٤ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ۝٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ۝٦ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝٧ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ

حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوۡفَ يَدۡعُواْ ثُبُورٗا ﴿١١﴾ وَيَصۡلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ﴿١٣﴾ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰٓۚ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴿١٥﴾

[١-٥] [ای خلکو! هغه ورځ را په یاد کړئ] کله چې اسمان پله پله سي او وچوي [یعنی توته توته سي] او د خپل رب الله فرمان ورو ته په حق او ر یښتیا سره تسلیم سي، او کله چې ځمکه خوره اواره سي [یعنی غرونه د خپلو ځایونو نه وښور یږي او ر یږونه او خاوره سي، او په ځمکه کې خښ سوي مړي ځمکه بهر ته را واچوي او ځان ورځخه خلاص او سپک کړي او د خپل رب فرمان ته په حق او ر یښتیا سره غاړه کیږدي او تسلیم سي.

نو بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې پر ټولو خلکو باندې د انسان په نامه غږ کړئ دئ او د دوی پام یې خپلو دندو او مسئولیتونو ته را اړولي دئ او فرمایلي دي:

[٦] ای انسانه! ته یقینا خپل رب ته د ورتلو په لار او بهیر کې ستړي او ستومانه یي [یعني نو که ښه ده کړي دي او که بد] ته به د خپل رب الله سره یوځای کیږي.

[٧-٩] نو بیا چې هر چا ته د هغه برئ لیک په ښي لاس کې ورکړل سه، نو د هغه سره به ډیر اسانه حساب وسي او دئ به بیا خپلې کورنئ ته خوښ سوئ خوشاله ور وګرځي، یعنی نو دا دئ د مومنانو ښه برخلیک او د خوښۍ نه ډکه راتلونکې.

[١٠-١٤] او هغه چا ته چې د هغه برئ لیک د شا لخوا ورکړل سي، نو هغه به واو یلا کړي او د هلاکت چیغي به وهي او د دوزخ اور په لمبو کې به کړ یږي، ځکه هغه په دنیا کې د خپلې کورنۍ او کوول سره خوښ ؤ، او د هغه باور او یقینا دا ؤ چې دئ به الله ته د حساب ورکولو لپاره نه ورځي.

[١٥] هو! دا انسان خاماخا خپل رب الله ته ورتلونکئ دئ او د هغه رب ور باندې بینا دئ، یعنی دا چې دغه انسان د خپل رب الله د پوره څار

لاندې دئ او د ده ټول کړل الله و يې او حساب ورسره کړي!

{الله تعالى ټول خلک ايمان راوړو ته رابللي دي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې د خپلو لو يو قدرتونو په نښانو باندې د خلکو په ژوند کې لوړه او قسم کړئ دئ او د اسلام پيغمبر ټول امت يې ايمان راوړو ته رابللئ دئ او فرمايلي دي:

﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ ١٦ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ١٧ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ١٨ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ١٩ فَمَا لَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٠ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقُرۡءَانُ لَا يَسۡجُدُونَ ٢١﴾

[١٦-١٩] نو ای خلکو! زه د لمر پر يوتو په وخت کې پر هغو سرو څپو باندې چې د اسمان په لو يد يځ کې رابښکاره کيږي؛ قسم خورم او لوړه کړم، او په توره شپه [چې پکې ټول ژوندي مخلوقات خپلو کورو، باندو، او سوړو ته ورغوندېږي] قسم خورم، او په سپوږمۍ باندې چې کله بدر سي [يعنى ټوله رڼا سي] قسم خورم، هو! زه په دغو ټولو لو يو پيښو باندې لوړه کړم او قسم خورم؛ چې تاسې به ای خلکو! يو بل پسې راځئ، يعنى کلونه به تيريږي، زاړه به ځئ او نوى نسلونه به راځي، ترڅو چې قيامت راسي او نړۍ ړنګه سي او د دنيا ژوند نور پای ته ورسيږي!

درندو عز يزانو! دلته دا وضاحت د پام وړ دئ چې د (لا) کلمه په قسم کې د نفي په معنا نده؟ بلکې د هغې معنا په لوړې کړو باندې ټينګار او تاکيد دئ، لکه څنګه چې يې بيلګې او مثالونه مخکې هم د تکو ير او د الحاقة په سورو کې تير سول.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې فرمايلي دي:

[٢٠-٢١] نو دا خلک ولې ايمان نه راوړي؟ [يعنى د بشر يت د دې اوږده ستړي تار يخ نه ولې پند او عبرت نه ا خلي؟] او کله چې قرآن په کافرانو ولوستل سي؛ دوى الله ته سجده نکړي!

قدرمنو دوستانو! د دې مبارك آيت په لوستلو سره د تلاوت سجده

په لوستونکي او په اور يدونکي واجب ده.

هو! ګرانو عزيزانو! الله تعالى مونږ په دغسې روښانه بيان سره د تار يخ نه پند اخستلو ته رابللي يو، نو هوښياران هغه کسان دي چې ايمان راوړي او حق پسې لاړ سي او د خپل رب الله په مخ کې حساب ورکولو ته تيار سي او بيا په سپين مخ جنت وګټي، او يقينا چې دغه بلنه ټولو خلکو ته او په ځانګړي ډول مومنانو ته د حق او د ر ښتيا پيغام دئ، ځکه د انسان ژوند په دنيا کې ټول ستړئ او ډير لنډ ژوند دئ، نو نيکمرغه هغه څوک دئ چې د الله نه راغلي پيغمبرﷺ په لار روان سي او د قرآن او د الله پيغمبر محمدﷺ لارښودنې او سپارښتنې ومني او عمل پرې وکړي، ځکه هغه خاتم النبيين والمرسلين او ټول بشر يت ته زړه سواندئ لارښود دئ.

{څوک چې کافر سه او پيغمبر يې ونه مانه کلک عذاب به وګالي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې کافران الله تعالى په کلک عذاب باندې ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُكَذِّبُونَ ٢٢ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُوعُونَ ٢٣ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٢٤ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٍ ٢٥﴾

[٢٢-٢٤] بلکې هغه کسان چې کافران سول؛ دوی د الله نه راغلئ کتاب (قرآن) او د هغه استازئ پيغمبر دروغژن بولي [يعنى دا کار په تار يخ کې د ټولو کافرانو ګډ خوی او صفت ؤ] او الله تعالى د دوی په زړونو ښه پوهيږي، نو ته ای پيغمبر! دوی د آخرت ورځې د دردونکي عذاب نه خبر کړه، يعنى د هغه نه يې کلک وګواښه.

[٢٥] خو هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل؛ دوی ته داسې ثواب ورکول کيږي چې هيڅ کمښت او احسان اچول پکې نسته، يعنى الله تعالى په ثواب ورکولو سره پر خپلو مومنو بنده ګانو باندې څه احسان نه اچوي او د دوی ثواب چې لوی جنتو نه دي پوره ورکوي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك... ۞۞۞

د البروج سورې معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د البروج سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

قدرمنو دوستانو! د البروج مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالى خپل لوی قدرت او د شيطان پلو يانو کلک رانيول؛ ياد کړي او بيان کړی دي، او په خپلو لو يو مخلوقاتوپې په لوړې کړو سره؛ هغه زورواکان او سرکښ کسان غندلي دي چې دوی د بشر په تار يخ کې تل د حق پلو يان ځپلي او زورولي دي، نو بيا دوی الله تعالى په کلک غچ اخستلوسره په دنيا او آخرت کې ګوابسلي دي، ځکه دغسې ظالمان د حق په لار کې تل خنډ وي، او بيا وروسته الله تعالى حق پالان ښه ستايلي دي او د بر يا او نصرت ز يري يې په دنيا کې او د جنت نعمتونو ز يري يې په آخرت کې ورکړي دي، او د البروج مبارکې سورې په پای کې الله تعالى خپل لارښود کتاب قرآن ستايلئ دئ او د هغه کلکې ساتنې ډاډيې مومنانو ته ورکړئ دئ، او د دې مبارکې سورې نوم يې چې (البروج) دئ؛ د هغې لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ او معنايې د اسمان پورونه ده.

{د هغو کندو خښتن ده هلاك سي چې مومنان يې وزورول}

ګرانو دوستانو! الله تعالى د البروج مبارکې سورې په پيل کې لوړه کړې ده چې د مظلومو مومنانو سوزونکو زورواکانو ظالمانو ته به سخته سزا ورکړي، او د دغو مظلومو مومنانو غچ يا انتقام به د دوی د قاتلانو نه

واخلي او فرمايلي دي:

﴿وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ ۝١ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ ۝٢ وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ ۝٣ قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ ۝٤ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ ۝٥ إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ ۝٦ وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ ۝٧ وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ۝٨ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ۝٩﴾

[١-٣] او په هغه اسمان لوړه او قسم دئ چې هغه څو پوړه دئ، او د قيامت په ورځ چې د راتګ وعده يې خلکو سره سوې ده؛ لوړه ده، او په هغه شاهد لوړه او قسم دئ [چې هغه د قيامت په ورځ پرخلکو شاهدي وايي] او هم پر هغه چا چې شاهدي و يل کيږي؛ قسم دئ، يعنی په پيغمبرانو او د دوی په امتونو باندې چې شاهد او مشهود دي لوړه او قسم دئ!

[٤-٩] [هو! په دغو ټولو لو يو مخلوقاتو باندې قسم او لوړه ده] چې د هغې زَورې کندې و يستونکي کافران تباه او هلاك سول چې دوی ځمکه ژوره کړه او اوريې پکې بل که او مومنان يې پکې وسزول او دوی ورته ناست ول او د خپلو بدو کړنو ننداره يې کړه، او دغو کافرانو مومنانو نه انتقام وانخست او دغسې سزايې ورنکړه [يعنی مومنان يې په ژوره کنده کې بل سوي اور په سرو لمبوکې ونه سوزول] مګر داچې دغو مومنانو په لوی ځواکمن او ښه ستايل سوي ذات الله باندې ايمان راوړئ ؤ، او الله هغه لوی رب دئ چې د اسمانونو او ځمکې واکمن ځښتن دئ [يعنی الله تعالی پرځمکه او اسمانو کې ټول واک ذات دئ] او الله په هرڅه باندې شاهد دئ، يعنی هرڅه چې په ځمکه او اسمان کې پيښيږي؛ هغه الله و يې او بيا تيرئ کونکو ظالمانو ته کلکه سزا ورکوي.

{ظالمان الله ګوابلي دي او مومنانو ته يې ز يرئ ورکړئ دئ}

او بيا الله تعالی هغه کافران په لوی عذاب ګوابلي دي چې دوی مومنانو ته د ايمان په ګناه سزا ورکړه، او مومنانو ته الله تعالی د لو يو

جنتونو ز يرئ ورکړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ ١٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡكَبِيرُ ١١ إِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ١٢ إِنَّهُۥ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيدُ ١٣ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلۡوَدُودُ ١٤ ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ ١٥ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ١٦﴾

[١٠] هو! يقينا هغو کسانو چې نار ينه او ښځې مومنان د دوی ايمان په سر وازمايل [يعنی کلکه سزايې ورکړه او په اور کې يې وسوزل] او بيايې د خپلو دغو بدو کړنو [يعنی د لويې ګناه] نه تو به ونه و يستله [يعنی پر خپل ظلم باندی همداسې کلک ودر يدل] نو د دوی سزا د جهنم اور دئ، او دوی به په سوزونکي اور کې کړ يږي، يعنی الله به دوی ته سزا ورکړي.

[١١] او يقينا هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل؛ دوی ته داسې جنتونه ورکول کيږي چې تر لاندې يې و يالې بهيږي او هغه لو يه بر يا ده، يعنی لوی هدف ته رسيدل دي!

[١٢-١٦] ای پيغمبره! او د ستا رب الله نيول يقينا چې ډير کلک دي، ځکه يوازې الله دئ چې ټول خلک يې په لمړي ځل کې يقينا پيدا کړل او بيا يې د قيامت په ورځ بيرته را ژوندي کوي، او الله لوی بښونکئ مهر بان ذات دئ [او مومنان په الله ګران دي] او الله د لوړ ستايل سوي عرش (څوکۍ) څښتن دئ، او هر څه چې وغواړي هغسې کړي، يعنی الله تعالی د هر څه کړو وسعه لري او څه چې وغواړي هغسې کړای سي.

{قرآن الله تعالی په لوح محفوظ کې کلک ساتلئ دئ}

او بيا د البروج مبارکې سورې په پای کې الله تعالی په لوح محفوظ کې د عظيم الشان قرآن کلکې ساتنې نه په ډاډګيرنې سره فرمايلي دي:

﴿هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡجُنُودِ ١٧ فِرۡعَوۡنَ وَثَمُودَ ١٨ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي تَكۡذِيبٖ ١٩ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطُۢ ٢٠ بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ ٢١ فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ ٢٢﴾

[١٧-١٨] ای پیغمبره! آیا تا ته د هغو لښکرو خبر راغلئ دئ؟ [چې کله دوی خپل پیغمبران دروغژن و بلل او د هغوی بلنې پې ونه منلې] او دا لښکر د فرعون او د ثمود لښکر ؤ، یعنی دا چې دوی خپل پیغمبران تکذیب کړل، نو بیا دوی الله تعالی کلک راونیول او سزایې ورکړه.

[١٩-٢٠] خو هغه کسان چې کافران سول؛ دوی تل حق دروغ بولي او پیغمبران تکذیبوي او الله پر دوی ښه راګرځ دئ، یعنی دوی ښه پیژني او بیایې کلک رانیسي او سزا ورکوي.

[٢١-٢٢] بلکې هغه لوستل سوئ کتاب چې ښه ستایل سوئ دئ؛ هغه قرآن دئ او پاس په اسمان کې په لوح محفوظ کې کلک ساتل سوئ محفوظ دئ، یعنی قرآن چې مونږ ته د الله تعالی نه راغلئ پیغام دئ؛ هیڅ ډول تغیر، تحر یف او بدلون نه مني، ځکه هغه الله کلک ساتلئ دئ او د حفاظت ضمانت پې خپل پیغمبرﷺ ته او د هغه امت ته ورکړئ دئ.

درندو عز یزانو! رسول اللهﷺ په مکه مکرمه کې د کافرانو لخوا تل د ازمایښت او د کلکو زَورولو لاندې ؤ، نو الله تعالی د تیرو امتونو د مومنانو او د پیغمبرانو قصو په را یادولو سره رسول اللهﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ، ترڅو رسول اللهﷺ په کلکه اراده او په پاخه تصمیم سره؛ خپل رسالت په مخ یوسي او هیڅ کله بې صبره نسي، نو د البروج په مبارکه سوره کې الله تعالی په تیرو امتونو کې د هغو مومنانو یادونه کړې ده چې په اصحاب اخدود باندې مشهور دي او دوی د خپل قوم کافرانو په لاس په اور کې وسوزول سول، نو ښایي چې مومنان تل همداسې د کلکې ارادې څښتن وي او خپل ایمان پرالله تعالی باندې د دنیا په هوسایي بدل نکړي او کافرانو پسې لاړ نسي، او د هغوی ظلمونو او زورواکۍ ته تسلیم نسي، او دغسې بیلکې او مثالونه په تار یخ کې ښه ډیر تیر سوي دي او پکې مخلصو مومنانو کلک مقاومت کړئ دئ او د کافرانو سزاګانې پې د الله دین په تبلیغ کې ګالې دي، لکه ابراهیمعليه السلام چې په اور کې واچول سه، او لکه هغه مومنه میرمن چې د خپلې غیرې ماشوم په و ینایې په اور کې غورځیدل ومنل، او همدارنګه د رسول اللهﷺ په امت

کې د هغه ملګري صحابه چې د دښمن سره په جګړه کې لو یو سربښندنو ته تیار ســول، لکه د بدر، احد، احزابو او په نورو غزاګانوکې، ترڅو چې ورته الله تعالی بر یا ورکړه او مکه یې چې دوی په تیښــته ورڅخه مهاجر ســوي ول؛ فتحه کړه او بیا ســر لوړي بیرته مکې معظمې ته حاکمان راستانه سول.

او دا دئ د زمونږ په اوســني تار یخ کې افغان مجاهدین ول چې د نړۍ دوه لو یو ښــکیلاکګرو لښــکرو ســره یې لســهاوو کلونه جهاد او مقاومت وکه او کلک کړاوونه یې وګالل او یه لکهاوو زره شــهیدان یې ورکړ، ترڅو د الله تعالی په مرســته او توفیق بر یا ته ورســیدل او خپل هیوادیې ازاد که او پکې سر لوړي حاکمان سول.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أستغفرك وأتوب إليك.

د الطارق سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الطارق سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

درندو مومنانو! د الطارق مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم یې د لمړي آیت نه اخستل سوئ دئ، او طارق هغه ستورئ دئ چې په راختلو سره یې شپه رڼا کیږي، او د الطارق په مبارکه سوره کې، لکه نورې مکي سورې د عقیدې مسئلو په بیان باندې کلک ټینګار سوئ دئ او په پیل کې الله تعالی د عقیدې او د توحید مسئلو ثبوت لپاره په خپلو لو یو مخلوقاتو باندې لوړه او قسم کړئ دئ، لکه څنګه چې یې په نورو مکي سورو کې په خپلو ډیرو مخلوقاتو باندې همداسې قسم کړئ دئ، او د الله تعالی دا قسمونه په خپلو هغو لو یو مخلوقاتو باندې چې انسان یې د پیدا کولو نه عاجز او بې وسې دئ؛ د الله تعالی پر لو یو قدرتونو باندې ځلانده ښه ده، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې د قیامت په ورځ د خلکو په بیرته راژوندي کولو باندې الله تعالی ټینګار کړئ دئ، ځکه ایمان راوړل د آخرت ورځې په یقیني راتګ باندې؛ د ایمان لوی رکن دئ او د هغه نه پرته ایمان نه منل کیږي، او همدارنګه د عظیم الشان قرآن ر یښتینوالئ او حقانیت پدې مبارکه سوره کې کلک یاد سوئ او بیان سوئ دئ، ځکه ایمان پر قرآن او د هغه منل د ایمان بل لوی رکن دئ، او د الطارق په مبارکه سوره کې چې په لوړه پیل سوې ده؛ الله تعالی فرمایلي دي:

{په اسمان او ستوري قسم دئ چې هر څوک ساتونکئ لري}

﴿وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ۝٢ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ۝٣ إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ۝٤ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ۝٥ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ۝٦ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ۝٧ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ۝٨ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ۝٩ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ۝١٠﴾

[١-٤] په اسمان او په هغه ستوري قسم دئ چې شپه په خپلو راختلو سره رښا کوي، او ته ای پیغمبره! څه شي پوه کړې چې دغه د اسمان ورووتو ټکونکئ څه شئ دئ؟ [ځوب:] هغه پاس په اسمان کې راځليدونکئ يؤ ستورئ دئ، او قسم دئ چې هيڅ داسې ساه ښکونکي څوک نسته مګر دا چې پر هغه باندې يو ساتونکئ (څارونکئ) مقرر دئ، يعنی په هر انسان باندې يو څارونکئ د فرښتو نه الله تعالی مقرر کړئ دئ او هغه د انسان ټولې کړنې او و ينا وې په ژوند کې څاري او ليکي!

[٥-٧] او هر څوک ده ښه فکر وکړي چې دئ د کم څه نه پيدا سوئ دئ؟ هو! هر انسان د الوتونکو او بو نه پيدا سوی دئ، او هغه او به د ښځې او نار ينه د شا او سينې د منځ نه راوځي، يعنی دا او به [چې په عربي کې ورته (مني) وايي] د نار ينه شا نه او د ښځې سينې نه راوځي.

[٨-١٠] او يقينا هغه لوی ذات الله [چې دغه انسان يې پيدا کړئ دئ] هغه د قيامت په ورځ چې پکې ټول پټ شيان را لوڅيږي؛ دا مړسوئ انسان بيرته ژوند ته راګرځولای سي، نو بيا انسان په هغه ورځ نه څه زور او ځواک لري او نه څوک د هغه مرستندوی وي.

قدرمنو دوستان! نو ښايي چې هر هوښيار بنده د الله تعالی پدې کلک ګواښ کې ژور فکر وکړي او ايمان راوړي او د الله تعالی په حضور کې حساب ورکولو ته د قيامت په ورځ ځان تيار کړي، ترڅو بيا په هغه ورځ سپين مخئ جنت ته لاړ سي او په دوزخ کې د کړ يدلو نه نجات بياموي.

{قسم دئ چې قرآن د حق او باطل په منځ کې بیلونکئ کتاب دئ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د قرآن کریم پرحقانیت او ر ښـــتینوالي باندې د ټینګار په ترڅ کې په اســـمان لوړه کړې ده او فرمایلي دي:

﴿وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ١١ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ١٢ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ١٣ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ١٤ إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ١٥ وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ١٦ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ١٧﴾

[١١-١٤] او په هغه اسمان قسم دئ چې باران ورځخه راوور یږي، او په هغه ځمکه قسم دئ چې چوي [یعنی بیا هر څه پکې راشنه کیږي، هو! قسم دئ] چې دا کتاب (قرآن) په یقین سره حق او باطل د یو بل نه سره بیلوي او هغه خوسې ټوکې ندي، یعنی قرآن په ر ښـتیا ســره خلکو ته د الله تعالی نه راغلئ لارښود پیغام دئ.

[١٥-١٦] او یقینا چې کافران توطئې جوړوي [یعنی چلونه وهي، ترڅو د حق مخه ونیســي] خو زه د دوی توطئې او چلونه رســوا کوم او هغه شنډوم، یعنی ترڅو خلک ور باندې ونه غولیږي.

[١٧] نو تــه ای پیغمبره! کافرانو تــه لږ وخــت ورکړه، یعنی کافران پر یږده چې همداسې په خپله سرکښي کې پر یوځي او بیا به په کلکه سزا هلاك او تباه سي.

ګرانو دوســتانو! په دغو مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسـول اللهﷺ ته د قرآن په ر ښـــتینوالي او حقانیت باندې ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ، او بیا یې ورته د کافرانو سـره د صـبر کړو او ورته د تم کیدو سـپارښـت کړئ دئ، او یقینا چې دغسې سپارښتنې او لارښـودنې اسلام ته رابلونکو دعاتو لپاره تل پاتې لارښـودنې دي، نو دوی ده د خپل دین او د قرآن پر حقانیت باندې کلک باور ولري او د کافرانو مجرمانو پر وړاندې ده؛ صبر وکړي او د هغوی په لاس ازمایښتونه او ستونزې ده وزغمي او هغه ده وګالي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الأعلى سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الأعلى سورې لنډه پيژندنه او پيغام}

قدرمنو عز يزانو! د الأعلى مبارکه سوره د جمهورو مفسر ينو په و ينا مکي سوره ده او پکې الله تعالى ستايل سوئ دئ، او هغه ته پاس په اسمان کې د لوړ تيا صفت هغې ثابت سوئ دئ لکه څنګه چې د الله تعالى لوړ مقام سره ښايي، او د دې مبارکې سورې نوم (الأعلى) د هغې لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ او معنايې د الله تعالى لوړ تيا ثبوت پورته په اسمان کې دئ، او بيا الله تعالى رسول اللهﷺ ته د قرآن لوستنې او د هغه اسانه کولو؛ ډاډ ورکړئ دئ او د قرآن تبليغ سپارښت يې ورته کړئ دئ، او په پاى کې يې مومنانو ته د فلاح او بر يا ز يرئ ورکړئ دئ، او د الأعلى مبارکى سورى په پيل کې الله تعالى رسول اللهﷺ ته سپارښت او لارښودنه کړې ده فرمايلي دي:

{الله چې ستايل سوئ ذات دئ ټول خلک يې پيدا کړي دي}

﴿سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣ وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ٥﴾

[١-٥] اى پيغمبره! د خپل لوى رب (الله) نوم په پاکۍ سره ياد کړه [يعنى دا څکه چې د الله سره هيڅ څوک په خدايي کې شر يك ندي، او

الله د هر ډول عیب او نقصان نه پاک او لوړ دئ] او الله هغه څوک دئ چې ټول خلک یې پیدا کړل او بیایې ښه سره سم او سمبال کړل [یعنی د الله په مخلوقاتو کې هیڅ کمښت او نقصان نسته] او الله هغه څوک دئ چې د څر وابنه یې په ځمکه کې راشنه کړل او بیایې هغه په وچیدو سره توټه سوي تک تور وکړځول.

{قرآن د وعظ او د لارښودنې اسانه پیغام دئ}

او بیا په ور پسې آیتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته د قرآن ساتنې او د لوستنې اسانۍ ډاډ ورکړئ دئ، او سپارښت یې ورته کړئ دئ چې هغه خلکو ته ورسوي او دوی ته ور باندې وعظ وکړي، او فرمایلي دي:

﴿سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ ۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝٨ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ۝٩ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ۝١٠ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلْأَشْقَى ۝١١ ٱلَّذِى يَصْلَى ٱلنَّارَ ٱلْكُبْرَىٰ ۝١٢ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ۝١٣﴾

[٦-٨] ای پیغمبره! او قرآن به مونږ تا ته ولولو او هغه به نور د ستا نه هیریږي، مګر دا چې الله وغواړي، ځکه یقینا چې الله په ښکاره او په پټو ټولو شیانو باندې پوهیږي [یعنی د قرآن ځینې آیتونه به د ستا هیر سي، ځکه د هغو حکمو نه د الله پوهي سره سم منسوخیږي]او ای پیغمبره! تا ته به په سمه لار تګ اسانه کړو.

هو! درندو ورونو! ځینې ډیر لږ آیتونه د رسول اللهﷺ په ژوند کې منسوخ سول، خو لوستل یې په قرآن کې پاتې نسول.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ ته په قرآن باندې خلکو ته د وعظ کړو او د لارښودنو حکم کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٩-١٣] نو ته ای پیغمبره! د قرآن لارښودنې خلکو ته ورسوه [یعنی دوی ته وعظ وکړه، ترڅو خلک د قرآن یادونو او مسئلو نه ګټه وا خلي] او هر هغه څوک چې د الله عذاب نه وېرېږي هغه به د قرآن آیتونو نه

کتې وا خلي [یعنی د الله تعالی په حکمونو باندې به عمل وکړي] او کافران د قرآن لاړښـــودنو نه ډډه کړي [یعنی هغه نه منی] او دا کمبخت او بد مرغه انســـان به بیا د دوزخ لوی اور په لمبو کې کړ یړي، اوبیا به نه په دوزخ کې مري او نه به په پکې را ژوندئ کیږي، یعنی د دوزخ اور کې به تل پاتي همداسې کړ یړي او د خپل کفر او شرك کلکه سزا به ګالي.

{ هغه څوک بر یا ته ورسیده چې ځان پې پاک که }

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې مومنانو ته ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ١٤ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ١٥ بَلۡ تُؤۡثِرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ١٦ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ١٧ إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ١٨ صُحُفِ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ١٩﴾

[١٤-١٥] هو! یقینا هغه څوک بر یالئ او سر لوړئ سه چې ځان پې د ګناه او کفر نه پاک که او د خپل رب الله نوم پې په توحید ســره یاد که، نو بیا پې لمونځ وکه.

[١٦-١٧] خو تاسې ای خلکو! د دنیا ژوند خوښــوی [یعنی هغه غوره کوی او د آخرت ورځې لوی نعمتونه هیروی] حال دا چې د آخرت ژوند ډیر ښه او تل پاتې ژوند دئ.

نو ښــایي عزتمنو ورونو! چې هوښــیار بنده هیڅ کله هم د آخرت نه غـافـل او بې پروا نســي، ځکه د آخرت ژونـد نعمتونـه او ورځخـه خونـد اخستل تل پاتې دي او د دنیا ژوند تلونکئ او ژر تیریدونکئ ژوند دئ.

[١٨-١٩] هو! یقینا دا لاړښــودنې او پیغام چې دلته بیان ســول؛ هغه ټول په پخوانیو کتابونو کې ثبت دي، او هغه په ابراهیم او په موســی باندې رانازل ســوې پاڼې او کتابو نه دي، یعنی حق ته رابلنه د ټولو پیغمبرانو کړ پیغام دئ، او هغه پر دوی ټولو باندې د الله تعالی لخوا رانازل سوئ دئ، او بیا دا پیغام د اسلام په پیغمبرﷺ باندې په قرآن کې

ختم سوئ دئ.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

﴿د الغاشيه سورې معنا او لنډ تفسير﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الغاشيه سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

ګرانو دوستانو! د الغاشيه مبارکه سوره مکي سوره ده او په (الغاشيه) نومول سوې ده، او د الغاشيه معنا: پټونکې ده او مقصد يې د قيامت ورځ ده، نو ځکه يې په پيل کې الله تعالى د کافرانو يو ښه کلک ګواښونکئ انځور د قيامت په ورځ مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او بيايې د مومنانو ښه رڼه او ځلانده څيره را ته وړاندې کړې ده، ترڅو پکې هوښياران ښه فکر وکړي، ايمان راوړي او د قيامت ورځې خجالت نه خپلو ځانو ته نجات ورکړي او د قيامت په ورځ د الله تعالى پر وړاندې سپين مخي ودر يږي.

{د قيامت په ورځ کافران په و يره کې وي او مومنان ډاډمن وي}

ګرانو عز يزانو! د الغاشيې مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى د قيامت ورځې تصو ير يا انځور لمړئ پيغمبرﷺ ته او بيا د هغه امت ته د سوال او پوښتنې په ښه کې وړاندې کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡغَٰشِيَةِ ۝١ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ۝٢ عَامِلَةٞ نَّاصِبَةٞ ۝٣ تَصۡلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ۝٤ تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٖ ۝٥ لَّيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٖ

﴿٦ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ٧ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ٨ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ٩ فِي
جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ١٠ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ١١ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ١٢ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ١٣
وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ١٤ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ١٥ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ١٦ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى
ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ١٧ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ١٨ وَإِلَى ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ١٩
وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ٢٠﴾

[١] ای پیغمبره! آیا د قیامت ورځې خبر تا ته راغئ؟ یعنی د هغې ورځې خبر چې ورختایې او لیوالتیایې ټول خلک پټ کړي او لاندې کړي وي!

[٢-٧] او د قیامت په هغه ورځ ځینې مخونه او ځیرې په کلکه و یره کې وي [یعنی کافران د قیامت په ورځ کلکې و یرې یا ډار په سر اخستي وي] او ستړي او ستومانه وي او په سره اور کې کړ یږي، او دوی ته د هغسې یوې چینې او به ورځښکل کیږي چې هغه ډیرې سړي وي، او د دوزخیانو خواړه په ځمکه کې د یو بل سره نښتو اغز یو نه پرته بل څه نه وي او هغه یې نه چاغوي او نه یې ولږه لرې کوي.

[٨-١٦] او د مومنانو مخونه د قیامت په ورځ تازه وي او د خپلو ښو کړنو منډو نه خوښ او راضي وي، او په لوړو جنتونو کې اوسیږي او هلته یکې هیڅ خوسې او بې ګټې خبرې نه اوري، او په جنت کې د او بو چینې بهیږي او پکې جګ کټونه ایښي وي او پکې د شر بتونو نه ډک جامونه او ګیلاسونه تیار وي، او لیکه څوکې پکې ایښې وي او پاسته توشکونه پکې خواره وي!

[١٧-٢٠] نو آیا دا خلک [یعنی دغه د عر بانو کافران] اوښانو ته نه ګوري چې څنګه پیدا سول؟ او اسمان ته نه ګوري چې څنګه پورته جګ سه؟ او غرونو ته نه ګوري چې څنګه جګ درول سوي دي؟ او ځمکه نه و یني چې څنګه اواره سوې ده؟ یعنی نو ځواب دا چې دا ټول همداسې یوازې الله پیدا کړي دي، نو ښایي چې ټول خلک ښه فکر وکړي او خپل لوی څښتن او خالق الله په توحید او یو والي سره و پیژني او بتان ورسره

په خدايي کې کډ نکړي او يوازې د الله بنده کې وکړي.

{پيغمبرﷺ خلکو ته د الله ګواښونکئ زنه زوروا کئ واکمن}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ ته د هغه رسالت او دندې څرنګوالئ په ښه کړئ او بيان کړئ دئ او فرمايلي دي:

﴿فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾﴾

[٢١-٢٢] نو ته اى پيغمبره! خلکو ته د الله عذاب ور په ياد کړه [يعنى وعظ ورته وکړه، او دوى د الله عذاب نه وو يره ؤ او يوازې د الله عبادت ته يې په توحيد سره راو بوله] ځکه ته اى پيغمبره! خلکو ته يقينا ښه ور په يادونکې لارښودې، او په خلکو باندې مسلط واکمن نه يې چې ايمان راوړل ور باندې په زور ومنې.

[٢٣-٢٤] خو که بيا څوک په شا سه او کافرسه [يعنى د پيغمبر خبرې او دعوت يې ونه ما نه] نو بيا الله هغه ته لوى عذاب او کلکه سزا ورکوي، يعنى د جهنم اور په لمبو کې يې تل پاتې کړوي.

[٢٥-٢٦] او يقينا چې د ټولو خلکو بيرته را ګرځيدل مونږ ته دي، نو بيا يقينا د دوى حساب پرمونږ باندې لازم دئ، يعنى بيا الله تعالى د کافرانو سره کلک حساب کړي او سخت عذاب او کلکه سزا ورکوي!

عزتمنو خو يندو او وروڼو! يقينا چې د الله تعالى دا وروستئ سپارښت رسول اللهﷺ ته ډير لوى ارزښتناکه پيغام دئ او د انسان په فکري او عقيدتي آزادئ باندې کلک او پوخ دليل دئ، نو ښايي چې اسلام ته رابلونکي ښه پوه او مخلص دعات ز يار و باسي چې خلک اسلام ته په پوره مينې ورکولو سره را و بولي او هيڅ کله د دعوت په لار کې د زور او د جبر نه کار وانخلي، ځکه پيغمبرﷺ دغه تک لاره د خپل نبوت په ټولو پراوونو کې په کلکه سره عملي کړي ده، او پر هيڅ چا باندې يې جبر او

زور ندئ چلولئ، او پاتې سوه د رسول اللهﷺ غزاګانو خبره، نو په هغو ټولو کې جګړه او بر يد د کافرانو لخوا پيل سوې دي، ځکه د هغوی په مغزنو کې د زور ځواکې خو بو نه ګرځيدل، نو په وار وار سره يې پر رسول الله ﷺ باندې يرغل او بر يد کړئ دئ، ترڅو چې رسول اللهﷺ مکه پرته د جنګ او جګړې نه د الله په مرسته فتحه کړه او د توحيد کلمه: (لا إله إلا الله محمد رسول الله) يې په مسجد الحرام کې د بيت الله شر يف په لمن کې ور پوله او دئ الله تعالى په لو فتحه او بر يا ونازا ؤ.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين. سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

د الفجر سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الفجر سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

درندو دوستانو! د الفجر مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم يې د هغې لمړي مبارک آيت نه اخستل سوئ دئ، او پدې مبارکه سوره کې الله تعالى په خپلو ځينو لو يو مخلوقاتو او په خپل يو والي او توحيد باندې لوړه او قسم کړئ دئ، او کافران يې په کلکه سزا باندې په آخرت کې ګواښلي دي، او بيايې پکې د تير تار يخ ظالمانو ته د کلکو سزاګانو ورکولو يادونه کړې ده، او بيايې په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى په انسان کې د ناشکرۍ خوی ياد کړئ دئ او هغه يې کلک غندلئ دئ، او د دې مبارکې

سورې په پيل کې الله تعالي فرمايلي دي:

{د قيامت ورځې راتګ يقيني دئ او کافر انو ته الله سزا ورکوي}

﴿وَٱلۡفَجۡرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ۝٢ وَٱلشَّفۡعِ وَٱلۡوَتۡرِ ۝٣ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَسۡرِ ۝٤ هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ ۝٥ أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝٦ إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ ۝٧ ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ۝٨ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُواْ ٱلصَّخۡرَ بِٱلۡوَادِ ۝٩ وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ ۝١٠ ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ۝١١ فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا ٱلۡفَسَادَ ۝١٢ فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ۝١٣ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ۝١٤﴾

[١-٥] په سحر قسم دئ او په لسو شپو قسم دئ [يعنی د ذو الحجې مياشتې په لمړ يو لسو شپو قسم دئ چې پکې حاجيان ډله ډله؛ د بيت الله شر يف حج ځانګړي عبادت ته راځي] او په هر جفت او طاق قسم دئ [يعنی پر ټولو هغو مخلوقاتو باندې قسم دئ چې هغه الله تعالی جوړه جوړه پيدا کړي دي] او په يوه رب الله قسم دئ [يعني چې يوازې يو او بې نيازه لوی ذات دئ او هيڅ څوک مل او شر يك نه لري او نه الله بل چا ته اړ او محتاج دئ] او په شپه قسم دئ، کله چې لاړه سی او بيا بيرته راسي، او آيا هوښيارنو ته په دغو څلورو شيانو باندې لوړه او قسم پکار ندئ؟ [ترڅو هوښيارانو پکې ژور فکر وکړي او خپل رب ښه و پيژني او ايمان راوړي او د خپل رب الله عبادت په يو والي او په توحيد سره وکړي او بتان د الله سره په خدايي کې ګډ او شر يك نکړي او د الله کتاب او پيغمبر يي ومني او د قيامت ورځې راتګ باندې په ر يښتيا سره باور وکړي، نو ځواب دا چې: هو! په دغو لو يو شيانو باندې لوړه او قسم کړل؛ هوښيارانو ته پکار دي ترڅو دا تعهد دوی ښاد او نيکمرغه کړي!]

ګرانو دوستانو! دلته د قسم په ځواب کې مفسر ينو اختلاف کړئ دئ، ځينې هغه حذف سوئ بولي او وايي: په دغو څلورو لو يو ياد سوو مخلوقاتو باندې قسم دئ چې د قيامت ورځې راتګ حق دئ او په هغه ورځ

ټولو خلکو سره حساب کيږي، او يا دا چې اسلام حق دين دئ او خامخا بر يا ته رسيږي او دښمنان يې ماتيږي، لکه څنګه چې پخواني سرکښ ولسونه [عاد، ثمود او فرعون] ټول مات او هلاك سول او د الله تعالى عبادت ته په يو والي او توحيد سره بلنه او دعوت بر يا ته ورسيد، خو ځيني نور مفسر ين بيا د قسم ځواب هغه وروستئ آيت بولي چې پکې الله تعالى فرمايلي دي:"إن ر بك لبالمرصاد" قسم دئ اى پيغمبره! چې د ستا رب الله خلکو ته په خار کې دئ او د دوى ټولې کړنې خاري او بيا د هر چا سره د هغه لائق چلند کړي، ثواب او سزا ورکوي، خو لمړئ تفسير چې وايي: [د قيامت ورځې راتګ حق دئ...] راجح ښکاري، ځکه د الفجر مباركه سوره مکي سوره ده او د مکي سورو ځانګړتيا د ايمان په ارکانو باندې ټينګار دئ، او يقينا چې د قيامت ورځې په راتګ باندې ايمان راوړل د ايمان هغه لوى رکن دئ چې د مکي کافران ورڅخه کلک منکر ول، او د مرګ نه وروسته بل ژوندې په آخرت کې نه مانه او و يل يې: کله چې خاورې سو، نو بيا بيرته نه راژوندي کيږو.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول اللهﷺ ته د تيرو سرکښو ولسونو تور برخليک ور په ياد کړئ دئ او فرمايلي دي:

[١٤-٦] اى پيغمبره! آيا تا ونه ليدل چې د ستا رب الله د عاد قوم سره څه وکړل؟ حال دا چې دوى په کلکو ستنو باندې ولاړو برجونو څښتن ول، او هم د هغوى غوندې د غټو ونو والا خلک نور هلته نه ؤ پيدا سوي! [او همدارنګه اى پيغمبره! د ستا رب الله] د ثمود قوم سره چې په ناوونو او تنګيو کې يې غرونه سوري کړل او کور نه يې پکې جوړ کړل؛ څه وکړل؟ او د فرعون سره چې د لو يو لښکرو څښتن ؤ [او د هغه پاچايي ستنې يې ورته کلکې کړې وي] الله څه وکړل؟ او هغو ټولو سرکښو کسانو په خپل هيواد کې ورانئ وکه او فسادې پکې خور که، نو بيا اى پيغمبره! د ستا رب الله په يقين سره د عذاب او سزا ورکولو قمچينه پر هغوى باندې راکته کړه او کلکه سزايې ورکړه، ځکه د ستا رب اى پيغمبره! سرکښانو او زورور کسانو ته په خارکې دئ او د دوى ټولې کړنې خاري او بيا ورته

همداسې کلکه سزا ورکوي!

{د یتیم او مسکین پالنه د الله ازمایښت نه د نجات لار ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د انسان غفلت او هغه خو یو نه یاد کړي دي چې د هغه په مغزونو کې ځای سوي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ ١٥ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ١٦ كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ١٧ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ١٨ وَتَأۡكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكۡلٗا لَّمّٗا ١٩ وَتُحِبُّونَ ٱلۡمَالَ حُبّٗا جَمّٗا ٢٠﴾

[١٥-١٦] نو کله چې دا انسان د هغه رب الله ازمایښت که او بیایې عزت ورکه او خپل نعمتونه یې ور باندې پیرزو کړل، نو بیا دئ وایي: ما ته د زما رب الله عزت را که، او بیا چې کله دئ الله په ازمایښت کې واچا ؤ او روزي یې ور باندې تنګه کړه، نو وایي: د زما رب خو د زما سپکا وئ وکه!

[١٧-٢٠] نا! ای خلکو! خبره داسې نده، لکه تاسې چې فکر کړئ! بلکې تاسي یتیم نه پالئ او یو بل مسکین ته په خوږو ورکولو نه هڅوئ، او د پلرونو نه درته پاتې میراث؛ ټول په کلکه سره خورئ [یعنی د ضعیفانو او بې وسې کسانو حق نه ورکوي] او مال او دولت پر تاسې ډیر ګران دي، یعنی نو ځکه تاسې الله تعالی په ولږه وازمایلی، ترڅو الله ته وروګرځئ او تو به و باسئ او د خپل رب نعمتونو شکر و باسئ!

قدرمنو دوستانو! پدې مبارکو آیتونوکې الله تعالی ضعیفو کسانو او مسکینانو غوندې محتاجو کسانو سره په مرسته باندې کلک ټینګا کړئ دئ، او غنیان او دولتمن کسان یې هڅولي دي چې هغوی ته د خپل مال او دولت نه خیرات ورکړي،ځکه مسکینان او نور محتاج کسان، لکه کونډې او یتیمان د غنیانو په مال او دولت کې حق لري، نو پر غنیانو دولتمنو کسانو باندې لازمه ده چې د هغوی حقونه په خپل دولت کې

دوی ته ورکړي او خپلې غاړې خلاصې کړي او ثوابونه وکټي.

{د قیامت په ورځ پښیماني چا ته ګټه نه لري}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې ټول خلک د آخرت ورځې سختې سزا نه الله تعالی کلک ګواښلي او و یرولي دي او فرمایلي دي:

﴿كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِاْيٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۚ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَٰلَيْتَنِى قَدَّمْتُ لِحَيَاتِى ﴿٢٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾﴾

[٢١-٢٣] نا! ای خلکو! تاسې ته [دغسې کبرجن او د غفلت نه ډک حال نه ښایي] ځکه بیا چې کله ځمکه ټکان وخوري او کلکه ولړز یږي، او د ستا رب الله ای پیغمبره! راسي او ملائکې ورسره په لیکو کې تیار سئ ولاړې وي! او په دغسې لو یه ورځ دوزخ راوړل سي، نو بیا به په هغه سخته ورځ انسان ته تو به و یستل ور په یاد سي [یعنی د خپل رب حکمونو او د فرمان وړلو په ارمان به سي] خو نور د توبې و یستلو وخت چیر ته دئ؟ یعنی نور هغه وخت تیر سوي دئ!

[٢٤-٢٦] [او بیا په دغه سخته ورځ انسان] وایي: ای کاشکې ما د خپل دغه ژوند لپاره څه شئ وړلاندې کړي وای! نو بیا په هغه ورځ د الله عذاب غوندې عذاب او سزا؛ بل هیڅ څوک [د الله حکمونو نه سرکښو کافرانو ته ورکولای نسي] او نه د الله غوندې بل څوک کافران او ګناه کړونکي ټرلای سي، یعنی نه بیا ورته هغسې سزا ورکولای سي، یعنی بیا الله تعالی دغو کسانو ته؛ کلکه سزا ورکوي.

{مومنانو ته الله د ډاډ او اطمئنان لوی ز یرئ ورکړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو ته د قیامت په ورځ د ډاډ او اطمئنان ز یرئ ورکړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى ﴿٢٩﴾ وَٱدْخُلِى جَنَّتِى ﴿٣٠﴾﴾

[٢٧-٣٠] هو! ای د ډاډمنې ساه څښتنه بنده! اوس خپل رب الله ته راضي سوئ او خوښ وروګرځه او رب ده هم د ستا نه راضي او خوښ دئ، او د زما ښو او نیکو بنده ګانو په ډله کې ورګډ سه او د زما جنت ته ورننوځه!

درندو وروڼو او خو یندو! الله تعالی د الفجر مبارکه سوره مومنانو ته په دغسې لوی ز یري سره پای ته رسولې ده، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ته په خپل ایمان او ښه عمل باندې؛ استقامت او کلک در یدل راکړي او د خپل دغسې ز یري نه ده الله تعالی مونږ په خپل لوی فضل او رحمت سره برخمن کړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا إنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

﴿د البلد سورې معنا او لنډ تفسیر﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د البلد سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

قدرمنو مومنانو! د البلد مبارکه سوره مکي سوره ده او په پیل کې یې الله تعالی د مکې معظمې په حرمت او قدسیت باندې لوړه کړې ده او د رسول اللهﷺ لوړ مقام یې پکې کلک ستایلئ دئ، او بیا الله تعالی د دنیا

په ژوند کې د انسان ستړيا يادونه باندې ټينګار کړئ دئ، ځکه د ټولو خلکو رسالت او دنده په ژوند کې ستړيا ده، او هر څوک د خپل فطرت په حکم غواړي چې خپلو مقصدونو ته ورسيږي او کافر او مومن دواړه ستړي دي، ځکه هر يو خپلې غوښتنې او ارمانو نه لري او د هغو لاس ته راوړو لپاره شپه او ورځ کلکه ستړيا ګالي، او لدې پرته هم د دنيا ژوند ټول د ستړيا نه ډک ژوند دئ، او بيا الله تعالى د دې مبارکې سورې په پاى کې مومنانو ته د خلاصون لپاره ډيرې غوره لارښودنې او سپارښتنې کړې دي چې د هغو عملي کول؛ دوى خپلو لوړو هيلو او مقصدونو ته په دنيا او په آخرت کې رسوى، او د (البلد) مبارکې سورې نوم د هغې لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ او معنايې استوګنځئ، کلئ او ښار دئ، او دلته د البلد نه مراد او مقصد مکه مکرمه ده چې پکې الله تعالى خپل کور کعبه معظمه يا بيت الله شريف ودان کړئ دئ، او هغه الله تعالى د امن او د ډاډ کور ګرځولئ دئ او خپل وروستئ پيغمبر محمد ﷺ يې د مکې نه غوره کړئ دئ، ترڅو ابراهيمي توحيدي عبادت په مکه مکرمه کې بيرته را ژوندئ کړي او خپل قوم قريش د بتانو عبادت نه يوازې د الله تعالى عبادت ته او بنده ګى ته را و باسي، او د قيامت په ورځ يې د جهنم کړونکي اور نه خلاص کړي، او بيا همداسې د الله تعالى ټول بنده ګان په نړۍ کې د بنده ګانو بنده ګى نه د الله تعالى بنده ګى ته چې هغه د دوى لوى پالونکي مهر بان خښتن دئ را و باسي او نيکمرغه ژوندۍ په نصيب کړي.

{ انسان الله د ستړيا په لوى ازمايښت کې پيدا کړئ دئ }

ګرانو دوستانو! د البلد مبارکه سوره الله تعالى د مکې معظمې په ښار باندې چې هغه د پيغمبر ﷺ د پيدايښت او د ژوند لمړى مينه او استوګنځئ ؤ؛ په لوړه او قسم باندې پيل کړې ده او فرمايلي دي:

﴿لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ۝١ وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ۝٢ وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ ۝٣ لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ۝٤ أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ أَحَدٞ ۝٥ يَقُولُ أَهۡلَكۡتُ

مَالًا لُّبَدًا ۝٦ أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ۝٧

[١-٣] ای پیغمبره! زه پدې هیواد یا ښار باندې چې ته پکې اوسیږې؛ لوړه کړم او قسم خورم [یعنی د مکې په ښار باندی چې رسول اللهﷺ پکې ژیږ یدلئ او را لوی سوئ دئ؛ الله لوړه کړی ده او بیاې فرمایلي دي:] او په پلار او زوی قسم خورم، یعنی په آدمعليه السلام او د هغه په کوول قسم دئ!

عزتمنو دوستانو! دلته د یادونې وړ ده چې ځینو مفسرینو بیا د پلار نه مراد او مقصد ابراهیمعليه السلام او د زوی نه مقصد محمدﷺ بللي دي، ځکه د محمدﷺ پیغمبري د ابراهیمعليه السلام هغه قبوله سوې دعاء ده چې د کعبې ودانۍ نه وروسته ابراهیمعليه السلام وکړه او و یو یل:"ر بنا وابعث فیهم رسولا منهم یتلوعلیهم آیاتك ویعلمهم الکتاب والحکمة و یزکیهم إنك أنت العز یز الحکیم"البقرة (١٢٩) معنا:ای د زمونږ لو یه ر به! د مکې خلکو ته د دوی د منځ نه پیغمبر راجګ کړه، ترڅو د ستا کتاب آیتونه دوی ته ولولي او قرآن او حکمت، یعنی د ستا سنت او تګ لاره ورزده کړي او هوښیاران یې کړئ، او دوی په قرآن او پر سنتو باندې ښه پاک وروزي، او یقینا چې ته ای لویه خدایه! لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات یې هر څه په حکمت او ځواکمنۍ ترسره کوې.

او بیا الله تعالی د قسم په ځواب کې فرمایلي دي:

[٤] هو! یقینا چې انسان مونږ په سترپا او سختۍ کې پیدا که، یعنی د انسان ژوند تل ستړئ او ستومانه ژوند دئ او د ژوند په کړاوونو کې؛ ډیرې شپې او ورځې تیروي.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې هغه کسان چې د دنیا زور او ځواک غولولي دي او د آخرت ورځې په راتګ باور نه لري؛ کلک ګواښلي دي او دوی ته یې د آخرت عذاب نه د نجات او خلاصون لار ښه روښانه ښودلي او بیان کړې ده او فرمایلي دي:

[٥-٧] او آیا [دا سرکښ انسان او کبرجن بنده] داسې انګیري او ګمان کړي چې د هیڅ چا زور په هغه باندې نه رسیږی! [یعنی دا چې په ډیر کبر

سره] وايي: ما خو ښه ډير مال او دولت ولږا ؤ [يعنى لوى مصرف او خرڅ مه وكه! نو آيا دا كبرجن انســان] خيال كړي چې دئ هيڅ چا ونه ليده؟ [ځواب داچې: نا! هيڅ كله دئ د الله څار نه پټ ندئ، نو الله به د هغه سره هرومرو كلك حساب كړي او سزا به وركوي!]

{د ژوند په چارو كې خوښه او د آخرت په كټلو كې سپارښتنې}

او بيا الله تعالى په ور پسې مباركو آيتونو كې پر انســان باندې خپلې پيرزو يې يادې كړې دي او د نجات لارې ورته ښودلې ده او فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ۝٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۝٩ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ۝١٠ فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ ۝١١ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ ۝١٢ فَكُّ رَقَبَةٍ ۝١٣ أَوْ إِطْعَٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ ۝١٤ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ۝١٥ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ۝١٦﴾

[٨-١٦] آيا [همدې ستړي او سركښ انسان ته] مونږ دوه سترګې ندي وركړې؟ او نه هغه ته مونږ ژ به او شوندې وركړې دي؟ او د ښو او بدو او د خير او شر لار هغه ته مونږ نده ښودلى ده؟ [دا سوالونه يا پوښتنې ټولې تقرير دئ، معنا دا چې: هو! دا ټول نعمتو نه الله انسان ته وركړي دي] نو بيا ولې دئ د آخرت ورځې په ستونزمنه او سخته لار ورخيژي؟ [يعنى ولې د قيامت ورځې سختۍ نه د تيريدو هڅه نكړي؟] او اى بنده! ته څه پوهيږې چې د قيامت په ورځ به د دغسې ستونزمنې سختې لارې نه څنګه تير سې؟ هو! د آخرت ورځې د ســختيو او د ر بړونو نــه د تيريدلو لار دا ده چې يؤ مريئ د غلامۍ نه ازاد كړې او يوه وږي ته په ســخته ورځ خواړه وركړې، او خپلوان يتيم ته ده چې پلارې مړ دئ خواړه وركړي او مســكين ده و پالي او خواړه ده وركړي، يعنى نو بيا ته اى ستړيه انسانه! نجات مومې.

نو بيا دا بنده چې د الله په حكمونوې عمل وكه دئ الله تعالى په مومنانوكې شميرلئ دئ او فرمايلي دي:

{ مومنان د جنتيانو ملګري دي او كافران د د وزخيانو }

﴿ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ ۝١٧ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ

ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

[۱۷-۲۰] نو بیا به د دغسې ښو کړنو خاوند د هغو کسانو نه وي چې دوی ایمان راوړ او یو بل ته په صبر او زغم او پر یو بل باندې د ترحم سپارښت کړي، او دوی د قیامت په ورځ د ښي اړخ کسانو ملګري دي، او هغه کسان چې د زمونږ کتاب آیتونو نه منکر او کافران سول؛ هغوی د کین خوا خلکو ملګري دي او پر دوی باندې به د دوزخ اور راتاو وي، یعنی کافران به د دوزخ په اور کې کړ یړي!

قدرمنو وروڼو او خو یندو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې مونږ ته په کلکه سره سپارښت کړئ دئ چې په یو بل باندې ورحمیږو او یو بل وزغمو او وروري ورسره وکړو، او یتیمان او بې وزره محتاج کسان په ټولنه کې چې مسکینان دي او څه شئ نه لري و پالو، خواړه، جامې او نورې مرستې ورسره وکړو، ترڅو د زمونږ په منځ کې د یو بل سره مینه او محبت پیدا سي او د الله تعالی کلکو سزاګانو نه د قیامت په ورځ نجات بیامومو او ورڅخه خلاص سو، نو ګرانو دوستانو! دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ د قیامت ورځې مختورې نه په خپل فضل او کرم سره وساتي او پر خپل ایمان باندې ده الله تعالی استقامت او ټینګښت را په برخه کړي او ثبات او استقامت ده راکړي.

والحمدلله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الشمس سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الشمس سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

قدرمنو دوستانو! د الشمس یا د لمر مبارکه سوره مکي سوره ده او نوم یې د دې سورې د لمړي آیت نه اخستل سوئ دئ، او د الشمس معنا لمر دئ او آیتونه یې لږ او لنډ لنډ دي او په لمنځونو کې یې لوستل کېږي دي، ځکه ښې ډیرې سپارښتنې پکې نغښتي دي، او د الشمس په مبارکه سوره کې الله تعالی د خپلو قدرتونو په لو یو نښانو باندې لوړه کړې ده، ترڅو انسان د خپل لوی خښتن د قدرتونو هغه نښې و پیژني چې هغه الله تعالی د زمونږ خدمت لپاره را ته تسخیر کړې دي، او بیا مومن بنده یا انسان خپل نفس تزکیه کړې او د الله تعالی اطاعت او فرمان وړو ته ځان ښه تیار کړي، ترڅو بر یا ته ورسیږي او د ګناه کړو نه ځان وساتي، او د دې مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

{د انسان ښادي د نفس په پاکۍ او بد مرغي یې په ګناه کې ده}

﴿وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ۝١ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ۝٢ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ۝٣ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰهَا ۝٤ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ۝٥ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ۝٦ وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا ۝٧ فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ۝٨ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩ وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝١٠﴾

[١-١٠] هو! په لمر او د ورځې په رڼا قسم دئ او په سپوږمۍ چې کله هغه لمر پسې را وخیځي قسم دئ، او په ورځ قسم دئ چې کله رڼا سي او په شپه قسم دئ چې کله تیاره سي، او په اسمان قسم دئ او د هغه په ودانونکي رب الله باندې قسم دئ، او په ځمکه قسم دئ چې ښه اواره

ده، او په هر نفس (ساه و يستونکي بنده) او د هغه په جوړونکي رب الله باندې قسم دئ چې بيايې هغه ته د بدو کړو او د ښو کړو لار وښودله، هو! قسم دئ چې هغه څوک يقيني بر يا ته ورسيده چې خپل نفس يې پاک که [يعنی د ښو کړنو په لاريې چې الله تعالی مونږ ته لارښودنه کړې ده روان کړ] او هرچا چې خپل ځان په ګناه کې پټ او ککړ کړ؛ دئ کلک ز يانمن سه او تاوان يې وکه!

قدمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې چې ډير لنډ لنډ آيتونه دي؛ په خپلو لو يو لو يو مخلوقاتو باندې په قسم کړو سره؛ خلک بر يا او نيک مرغۍ ته رابللي دي او د ز يان او تاوان يې کلک ګواښلي دي، نو يقينا چې هغه کسان سر لوړي او نيکمرغه دي چې مومنان دي او ښه کړي او د بدو کړنو نه ځان ساتي، او هر هغه څوک چې کافر دئ او بد کړي او په کړه لار ځي، هغه په يقين سره ز يانمن او بايلونکئ دئ.

{ ثموديانو د الله نه ورته راغلې معجزه اوښه مړه کړه }

او بيا الله تعالی د الشمس مبارکې سورې په پای کې همدرانګه په لنډو لنډو جملو کې د ثمود قوم شقاوت او بد مرغي يادې کړي ده، ځکه دوی د خپل پيغمبر خبره ونه منله او ورځخه بې بغاوت وکه او هغه اوښه يې مړه کړه چې دوی ته د الله تعالی د لوی قدرت نښه او معجزه وه، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَىٰهَآ ﴿١١﴾ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقْيَٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴿١٥﴾ ﴾

[١١-١٥] او د ثمود قوم په ډير بغاوت سره[خپل پيغمبر صالح عليه السلام] دروغژن و باله، کله چې د دوی نه يو بد سړئ راجګ سه او اوښه يې مړه کړه[حال دا چې د الله پيغمبر دوی ته] وو يل: دغه د الله اوښه پر يږدی چې په خپل وار کې او به وڅښي، نو بيا دوی پيغمبر دروغژن و باله او

اوښـه يې زخمي او مړه کړه، نو بيا دوی ته د دوی رب الله د دغې کناه سـزا ورکړه، او د دوی کلئ يې په بل مخ واړا ؤ او او وران يې که، او الله هيڅ چا ته د سزا ورکولو بدې راتلونکې څخه نه و يرې، يعنی پروايې نکړي، ځکه الله لوی ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ او ټول کړل يې په پوره ځواکمنۍ او په کلک حکمت او غوره تدبير ترسره کيږي.

ګرانو دوستانو! د ثمود قوم قصې د دغسې لنډې يادونې نه دلته لوی مقصـــد د مکې کافرانو ته او بيا د قيامت ورځې پورې ټولو خلکو ته او په ځانګړي ډول کافرانو ته؛ تل پاتې ګواښ دئ، نو ښايي چې ورڅخه عبرت او پند واخلي، او د ثموديانو تقليد او پيښې ونکړي اود هغوی په پله لاړ نسي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصـحبه أجمعين، ســبحانك اللهم وبحمدك أشــهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الليل سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الليل سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

عزتمنو وروڼو او خويندو! د الليل مبارکه سوره مکي سوره ده، او په ځينو رواياتو کې مدني بلل سوې ده او نوم يې (الليل) يعنی شپه ده او د دې سورې لمړي مبارک آيت نه اخستل سوئ دئ، او پدې مبارکه سوره کې؛ الله تعالى مومنان چې ښه کړي د کافرانو او منافقانو نه بيل کړي دي، او په خيرات ورکولو او ښو کړنوې په اخلاص سره د ر يا او ځان ښودنې نه پرته؛ کلک ټينګار کړئ دئ، او په پيل کې يې الله تعالى په شپه او په ورځ او د نر او ښځې په لوی خښتن الله باندې لوړه کړې ده فرمايلي دي:

{مومنانو ته الله جنتونه ورکوي او د کافر انو ځای دوزخ دئ}

﴿وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ١ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ٢ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣ إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ٤ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٦ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ٧ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ٨ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٩ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ١٠ وَمَا يُغۡنِي عَنۡهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ١١﴾

[١-٤] هو! په شپه چې کله تياره سي قسم دئ، او په ورځ چې کله رڼا سي قسم دئ، او په هغه [لوی پيدا کونکي ذات الله] باندې قسم دئ چې نر او ښځه يې پيدا کړل [هو! ای خلکو! قسم دئ] چې د ستاسې ټولې کړنې يقينا ډول ډول او تيټې تيټې دي، يعنی څوک ښه کړي او څوک بد کړي، څوک مومنان دي او څوک کافران!

[٥-٧] نو بيا چې هر چا خپل مال خيرات كه او په ښـو كړنو سـره يې ځان د الله عذاب نه وساته او د آخرت ورځې ثوابو نه يې تصديق كړل او باوريې ور باندې وكه، نو د هغه كړنې به مونږ ورته اسـانه كړو او په ښـه لار يې روان كړو، يعنى د خير په لار به چې ايمان راوړل دي؛ الله تعالى د تګ توفيق وركړي، ترڅو نيكمرغه او ښاد سي.

[٨-١١] او هغه چا چې بخيلي وكړه او ځان يې مسـتغني وګانه او د آخرت ورځې ثواب يې دروغ و باله، نو هغه به مونږ په سـتونزمنه او په سخته لار روان كړو [او بيا چې كله د دوزخ په اور كې ولو يده] نو بيا د دنيا مال او دولت ورته هيڅ ګټه رسولاى نسي.

درندو دوستانو! شپه او ورځ، د نر او ښځې جوړه پيدايښت او د ټولو مخلوقاتو مثبت او منفي خاصـيت؛ د الله تعالى د لو يو قدرتونو نښـې دي، نو ځكه الله تعالى ور باندې لوړه او قسم كړئ دئ او خپلو بنده ګانو ته يې ډيرې ګټورې لارښـودنې او سـپارښـتنې كړې دي، او دوى يې د الله تعالى په لار كې خيرات وركولو ته هڅولي دي، ترڅو په ټولنه كې د مړو او بډايانو رابطه او اړ يكې د مسـكينانو بې وزره كسـانو سـره؛ د وروري او دوسـتۍ نه ډكې اړ يكې يې، او يو د بل سـره مينه او محبت ولري او زوړ نه يې يو بل ته د كينو او كركې نه پاك او سپين وي.

{ الله حق ته د خلكو سميدولپاره پيغمبران را ليږلي دي }

او بيا په ور پسې مباركو آيتونو كې ټولو خلكو ته الله تعالى ډاډ وركړئ دئ چې دوى ته به الله په سـمه لار د تګ لارښـودنه وكړي او د خپل كتاب سپارښتنو عملي كولو توفيق به وركړي او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾﴾

[١٢-١٣] هو! يقينا چې د خلکو هدايت او په سمه لار ورته لارښودنه پر مونږ باندې حق ده او د دنيا او آخرت واک يقينا چې د زمونږ سره دئ، يعنى الله تعالى د دنيا او آخرت واکمن څښتن دئ، نو هر چا ته د هغه لياقت، وړتيا او ز يار و يستلو سره سم د دنيا او آخرت نيکمرغي او خوښي ورکوي، نوښايي هر مومن بنده په ژوند کې خپل مسؤليت او دنده چې په ځمکه کې خلافت دئ و پيژني او په پوره صداقت او اخلاص سره هغه ترسره کړي، ترڅو دئ الله نيکمرغه او ښاد کړي.

[١٤] ای خلکو! نو تاسي ما د دوزخ اور د سرو لمبو نه وو يرولى او ښه کلک مه ورځخه وګواښلى!

[١٥-١٦] او د دوزخ اور په سرو لمبو کې يوازې ډير بد مرغه د بدو کړنو خاوند کړ يږي، ځکه هغه [د زمونږ پيغمبر او قرآن] دروغ وګاڼه او د منلو نه يې مخ واړا ؤ.

[١٧-٢١] او هر څوک چې ډير متقي دئ او خپل مال د ځان پاکولو لپاره خيرات ورکوي؛ هغه به د دوزخ اور نه وساتل سي او پر هغه باندې د هيڅ چا څه احسان نسته، ترڅو هغه دئ ورکړي، او دا مومن بنده د خپل مال په خيراتولو سره؛ يوازې د خپل لوى رب الله رضا او خوښي غواړي، او بيا به دئ هم په خپلو ثوابونو باندې راضي او خوښ سي.

قدرمنو وروڼو او خو يندو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د خيرات په ورکولو باندې په پوره اخلاص سره چې د هر ډول ر يا او ځان ښودنې نه ښايي خالي وي؛ ټينګار کړئ دئ، نو الله تعالى ده مونږ ته په ټولو ښو کړنو کې اخلاص راکړي او د ر يا او ځان ښودنې نه ده الله مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الضحی سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الضحی سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

درندو دوستانو! د الضحی مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې دئ الله تعالی هیڅ کله هم ندئ پرې ایښي او الله د هغه مل دئ، او وحیه به همداسې پر هغه باندې را نازلیږي او لږ زنډیدل یې د ځانګړي حکمت لپاره ول، او دا ډاډ رسول اللهﷺ ته الله تعالی، ځکه ورکړئ دئ چې روایت سوئ دئ د رسول اللهﷺ پیغمبرۍ په لمړ یو ورځو کې یوځل د جبرئیل الامین راتګ رسول الله ﷺ ته څو ورځې وزنډیده او وحیه رانغله، نو بیا ځینو کافرانو د ډیر حسد او کینې نه وو یل چې محمد سره د هغه ملګري نوره وداع او خدای پاماني وکړه او دئ یې پر ږنبود، نو بیا الله تعالی د الضحی مبارکه سوره رانازله کړه چې پکې رسول اللهﷺ ته د ډاډ ګیرنې نه پرته؛ ښې ډیرې ګټورې لارښودنې سوې دي، او په پیل کې یې الله تعالی د ورځې په غرمه (الضحی) او په شپه (اللیل) چې د الله د لو یو قدرتونو نښې دي؛ لوړه او قسم کړئ دئ او فرمایلي دي:

{ رسول اللهﷺ سره د الله مناجات او د ډاډ لوی پیغام }

﴿وَٱلضُّحَىٰ ۝١ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ۝٣ وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ۝٤ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ۝٥ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ۝٦ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ۝٧ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ۝٨﴾

[۱-۳] ای پیغمبره! د ورځې غرمې په رنا او د شپې په تیاره باندې لوړه او قسم دئ چې ته خپل رب الله نه یې پرې ایښئ او د ستا نه یې بد ندي

راغلي، يعنى ستا سره د ستا رب الله وداع او خداى پاماني نه ده كړي.

[٤-٥] اى پيغمبره! او آخرت تا ته د دنيا ژوند نه ښه او غوره دئ او د ستا رب او لوى څښتن الله به تا ته په آخرت كې لوى نعمتونه وركړي، نو بيا به ته ور باندې خوښ او راضي سي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو كې الله تعالى خپلې پيرزو يې رسول اللهﷺ ته ور په ياد كړې دي او فرمايلي دي:

[٦-٨] اى پيغمبره! آيا ته خپل رب الله يتيم بيانموندلې؟ [ځواب: هو! ته يتيم وې] نو بيايې د ستا پالنه وكړه او را لوى يې كړې [يعنى الله تعالى محمدﷺ د خپل نيكه عبد المطلب او د خپل تره ابو طالب د پاملرنې لاندې عزتمن را لوى كه او بيايې پيغمبر كه!] او ته اى پيغمبره! خپل رب الله د سمې لارې نه ورک سوئ بيامونديلې، نو بيايې سمې لارې ته [چې په توحيد سره د الله عبادت دئ] هدايت كړې او ته اى پيغمبره! د ستا رب الله پې وسې بيامونديلې [يعنى تا هيڅ څه شئ نه درلودل] نو بيا ته الله غني كړې، يعنى هر څه پې د دنيا مال، دولت او مقام وركړل!

هو! ګرانو دوستانو! دا ټولې هغسې پيرزو يې دي چې الله تعالى خپل ګران بنده محمدﷺ ور باندې نازولئ دئ، او بيايې ورته په يتيم باندې د پام لرنې او په سوالګر د نه غوصه كيدو او د خپل لوى رب الله تعالى د نعمتونو يادونې؛ حكم او سپارښت كړئ دئ او فرمايلي دي:

{د يتيم پالنه او د سوالګر لاس نيوئ پر مومنانو حق دئ}

﴿ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ۝٩ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ۝١٠ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ۝١١ ﴾

[٩-١١] نو ته اى پيغمبره! پر يتيم ماشوم باندې په غوصه نسي او پر سوالګر پټكه ونكړي، او د خپل رب نعمتونه راپياد كړه، يعنى هغه خلكو ته ور پياد كړه او د خپلې پيغمبرې پيغام دوى ته ورسوۀ او د قرآن آيتونه دوى ته ولوله او دوى پرې ښه وروزه.

نو ښايي درندو وروښو او خو يندو! چې دغه سپارښتنې علماء او دعات په کلکه سره عملي کړي او ټولنه کې هغه خپل دود وکړځوي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

د الشرح سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الشرح سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

ګرانو دوستانو! د الشرح مبارکه سوره مکي سوره ده او د الضحى سورې نه وروسته را نازله سوې ده، او پکې الله تعالى خپلې پيرزو يې پر رسول الله ﷺ باندې يادې کړې دي او دئ يې د الله عبادت ته په توحيد سره او پدې لار کې صبر او زغم ته کلک رابللئ دئ او ډاډ يې ورکړئ دئ چې د هرې ستونزې او سټرې سره اساني ملګرې ده، او په پای کې يې بيا ورته د الله په عبادت کې د ځان سټرې کولو سپارښت کړئ دئ، او په پيل کې فرمايلي دي:

{الله خپلې پيرزو يې پر رسول الله ﷺ باندې يادې کړې دي}

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۝١ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ۝٢ ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهْرَكَ ۝٣ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝٤﴾

[١-٣] ای پيغمبره! آيا تا ته مونږ د ستا سينه رڼا نکړه؟ [ترڅو د نبوت علم چې وحيه ده پکې ځای سي؟ ځواب دا چې: هو! د ستا په سينه او په زړه کې مونږ قرآن واچا ؤ] او د ستا دروند پيټئ چې هغه د ستا ملا درنده

کړي وه؛ هغه مونږ د ستا نه لرې او سپک که.

[٤] او د ستا نوم مونږ ای پیغمبره! لوړ که، یعنی الله تعالی رسول اللهﷺ ته لوړ مقام او لوی عزت ورکه، او دا چې د رسول اللهﷺ نوم په اذان کې د الله تعالی نامه سره یوځای سوئ دئ او یوځای ورسره یادیږي؛ هغه د همدې لوړتیا او د عزت یوې برخې څرګندوی دئ.

{هرې سختۍ سره اسانتیا ملګرې ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې د هرې ستونزې او سختې پسې اساني راځي، نو ته ای پیغمبره! د دښمنانو په زورونو اور بړونو باندې د دعوت او د الله دین تبلیغ په لار کې صبر وکړه او هغه وزغمه او فرمایلي دي:

﴿فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝٥ إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرٗا ۝٦ فَإِذَا فَرَغۡتَ فَٱنصَبۡ ۝٧ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ۝٨﴾

[٥-٦] نو یقینا چې د هرې ستونزې او سختۍ سره اساني ملګرې ده. هو! د هرې سختۍ سره اساني ده، او دا حقیقت الله تعالی تکرار کړئ دئ.

[٧-٨] ای پیغمبره! نو کله چې [د خلکونه او د خپل ژوند چارونه] فارغ او اوزګار سوې، نو بیا د الله په عبادت او دعاء کې ځان ستړئ کړه او د خپل رب الله سره مناجات وکړه.

قدرمنو دوستانو! د الله تعالی دغه لارښودنې او سپارښتنې رسول اللهﷺ ته همدارنګه د پیغمبرﷺ لارو یانو دعاتو او ملایانو ته رسول اللهﷺ پسې د اقتدا کړو لارښودنې دي، نو ښایي چې د الشرح مبارکه سوره تل ولولو او هغه په خپل ژوند کې عملي کړو او په چارو کې یې د ګټو منګیرتیاوو او مصروفتیاوو نه ځانونه کلک وساتو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا الله

استغفرك وأتوب إليك....۞۞۞

د التين سورې معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د التين سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

قدرمنو لوسونکو! د التين مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالى د انځر او د زيتون په ميوو او د طور په مبارکې غونډۍ او د مکې مکرمې په ډاډمن ښار باندې چې د امنيت او سلامتيا کور دئ؛ لوړه کړې ده او فرمايلي دي چې انسان الله تعالى په ډيره ښکلې او ښايسته څيره کې پيدا کړ، خو بيا يې د مومنانو نه پرته نور خلک د ډيرو تيتو کسانو نه وګرځول، او په بيان کې فرمايلي دي:

{انسان الله په ډيره ښکلې څيره کې پيدا کړئ دئ}

﴿وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ۝١ وَطُورِ سِينِينَ ۝٢ وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ ۝٣ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ۝٤ ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ۝٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِٱلدِّينِ ۝٧ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ۝٨﴾

[١-٦] هو! په انځير او په زيتون لوړه او قسم دئ او د سيناء په ډاګ کې د طور په غونډۍ قسم دئ، او پدې هيواد (مکې) چې د ډاډ او امنيت کور دئ؛ قسم دئ، هو! قسم دئ چې يقينا انسان مونږ په ډيره برابره او ښکلې څيره کې پيدا که [يعنى د انسان ښکاره او پټ دواړه ښکلي او سم ول] او بيا دئ مونږ ډيرې پر يوتې ژورې ته وروغورځا ؤ، خو هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل؛ دوی د دوزخ په لو يو ژورو کې د لو يدو نه خلاص سول او نجات بياموند، نو دوی ته د احسان کړو نه خالي او تل پاتې ثواب جنت دئ، يعنى لوی جنتونه په آخرت کې دي.

[٧] نو بيا تا اى انسانه! لدې نه وروسته څه شئ د قيامت ورځې نه منكر يدو ته اړ باسي؟ يعني د دې روښانه او پر يكنده دليلونو سره سره بيا نور نه ښايي چې انسان د قيامت ورځې محاكمې نه منكر شي او د قيامت په ورځ بيرته را ژوندي كيدلو باندې ايمان را نوړي!

[٨] او آيا الله [چې د قيامت ورځ يې د خلكو په منځ كې د عدالت درولو ورځ ګرځولې ده] احكم الحاكمين رب نه دئ؟ يعنى آيا الله تعالى د ټولو حكم كونكو قاضيانو نه ښه او عادل قاضي ندئ؟ ځواب: هو! الله د ټولو حكم كونكو نه ښه ډير په عدالت او انصاف سره حكم كونكئ قاضي دئ، او د الله تعالى پر يكړې ټولې پر عدالت ولاړې دي او هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا وركوي چې هغه مومنانو ته په آخرت كې جنتو نه او كافرانو ته چې په خپلو ځانوپې ظلم وكه او د الله حكمونه يې پښو لاندې كړل؛ د دوزخ سور اور دئ، العياذ بالله.

عزتمنو دوستانو! د التين مباركې سورې په لنډو آيتونو كې الله تعالى د خپلو ډيرو مخلوقاتو نه په څلورو شيانو باندې چې هغه ډيرې ارزښتاكه د ميوو ونې (التين والزيتون) دي او د وحى يې رانازليدو مبارك ځايونه دي (طور غونډې او مكه مكرمه) لوړه كړې ده چې انسان الله تعالى په څيره او په زړه كې ډير پاك او ښكلئ مخلوق پيدا كه او د هغه فطرت، لكه د هغه ښكلې څيره ډير سم او برابر ول، او خپل رب الله يې پيژاند او هغه سره يې د بنده كې هوډ هم وكه، خو بيا په دنيا كې ځينې خلك د سمې لارې نه كاږه او ورك سول او د خپل فطرت تعهدې مات كه، نو بيا الله تعالى د دوى ځاى دوزخ وګرځا ؤ، خو مومنان د دوى نه مستثنى دي او مومنانو ته الله تل پاتې جنتونه وركوي او په خپلو ډيرو نعمتونوپې نازوي!

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله و أصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د العلق سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د العلق یا اقرأ سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

عزتمنو دوستانو! د العلق یا اقرأ مبارکه سوره؛ مکي سوره ده او هغه لمړنۍ سوره ده چې پر رسول الله ﷺ باندې رانازله سوې ده، او په غانګري ډول د هغې پنځه لمړي آیتونه د حراء په غار یا سوړه کې چې د مکې په شمال شرق کې د نور لوړ او هځک غره په څوکه کې پروت دئ؛ را نازل سول او بیا رسول الله ﷺ پوه سه چې دئ الله تعالی خپل قوم ته لارښود پیغمبر غوره کړئ دئ، هو! رسول الله ﷺ چې الله تعالی په تقدیر کې د پیغمبرۍ لپاره غوره کړئ ؤ؛ نو دئ د وړکتوب نه د خپلې ټولنې ناسمه دودونو نه خوښ او راضي نه ؤ او نه ورګډیده، او بیا چې کله د هوښیارۍ عمر ته ورسیده؛ هیڅ کله د خپل قوم په پله لاړ نسه او بتانو ته یې سجده ونکړه، او د قر یشو ټولو جاهلي دودونو نه یې کلکه کرکه درلوده، او تل په ښو کړنو لګیا ؤ، میلمه پال ؤ او د هغوی عزت یې کا ؤ او مسکینانو او مصیبت ځپلو سره یې مرسته کړه او د مظلوم په څنګ کې در یده او د هغه حق یې د ظالم نه ورته اخست، او د خلکو امانتونه یې ساتل، نو ځکه په امین یاد دیده او ور باندې ښه نوماند ؤ، او دغو صفتونو ته ورته نور ټول ښه خو یو نه په رسول الله ﷺ کې مخکې د نبوت نه موجود ول، نو بیا چې کله دئ څلو یښت کلنۍ ته ورلنډ سه، نو د بدو کړنو، منکراتو، جاهلي دودونو او د شرک نه یې د خپل قوم خلاصون فکر او اندیښنه په زړه کې راپیدا سوه، نو بیایې ځان کله کله د ژوند کړاوونو نه ګوښه کا ؤ او د الله تعالی په مخلوقاتو کې یې فکر کا ؤ او ژور چرت یې پکې واهه، ترڅو چې بیا په کایناتو کې د لا ډیر فکر کړو او تامل

لپاره د حراء غار ته لاړه او هغه يې چې د مکې ښـار نه وتلې د يوه لوړ جک يا هڅک غره (جبل النور) په څوکه کې دئ؛ خوښ ســه، ځکه دا غار يا سوړه چې د جګ غره په سر باندې پرته ده؛ د څار يو غوره مورچل ته ورته ده، او تر لاندې يې ټوله سيمه، او په ځانګړي ډول بيت الله د خداى کور (کعبه معظمه) د څار لاندې ښکاري، نو بيا به رسول اللهﷺ د څو شپو او ورځو لپاره توښــه (خواړه او او به) د ځان ســره اخســتل او د حراء په غار کې به يې په فکر کړو ســره د خپل رب الله د پيژندنې عبادت او بنده ګي کړه، او بيـا پـه پوره څلو ويښــت کلنۍ کې د حراء پـه غـار کې جبرئيـل الامينعليه السلام د وحى يې سره ورته راغئ، او پر محمد ﷺ باندې يې غږ وکه او ورتـه يې وو يـل: "اقرأ" ولولـه! رســول اللـهﷺ پـه ځواب کې وو يـل: زه لوســتونکئ نه يم، يعنى په ليک او لوســت نه پوهيږم! نو بيا دئ جبرئيل کلک په غيږ کې ونيوه او ورته يې بيا وو يل:"اقرأ" ولوله! خو هغه بيا وو يل: زه لوسـتونکئ نه يم، او بيا جبرئيل دئ په در يم ځل کلک په غيږ کې ونيوه او ورته يې و يو يل:"اقرأ باسـم ر بك الذي خلق...الآيات" نو بيا پر محمد هاشــمي قر يشـي ﷺ باندې د إقرأ يا د العلق مبارکې ســورې دغه پنځه لمړي آيتونه رانازل ســول، نو بيا رســول اللهﷺ د حراء غار نه بيرته کور ته را کوز ســه، خو دا چې دئ کلکې و يرې پسـې اخسـتئ ؤ او لړز يده؛ نو خپلې درندې ميرمنې بي بي (خديجې رضــي الله عنها) ته يې وو يل: ما پټ کړئ، ما پټ کړئ، نو بيا هغه خديجې ته خپله دا قصــه وکړه او کلکه و يره يې څرګنده کړه، خو خـديجې ام المومنين رضــى الله عنهـا رســول اللهﷺ ته ډاډ ورکه او ورته يې په کلک اطمئنان او ډاډ ورکولو ســره وو يل: ته ميلمه پال يې او بې وزرو کسانو لاس نيوئ کړې، او د مظلوم حق د ظالم نه اخلې، او ته تل د حق پلوئ يې، نو تا الله هيڅ کله نه خواروي، او بيـا بي بي خـديجې رســول اللـه خپـل تره زوى ورقـه بن نوفـل تـه چې د نصـرانيت نه خبر ؤ؛ ورووسـت او هغه خپله قصـه ورقه ته وکړه، نو ورقه ورتـه ډاډ او ز يرئ ورکه چې تا ته هغه څوک راغلئ دئ چې موســى ﷺ ته راغلئ ؤ، نو کاشــکې زه ژوندئ واى چې کله تا خپل قوم قر يش د مکې نه

شـــړي؛ ما د ســـتا مرســـته کړې وای! نو بیا رســـول الله ﷺ د ورقه نه و پوښتل: آیا ما به د زما قوم وشړي؟ ورقه په ځواب کې ورته وو یل: هو! هیڅ چا دغســـې پیغام نه دئ راوړئ، مګر دا چې قوم یې ورســـره مخالفت او دښمني کړې ده!

هو؛ قـدرمنو وروڼو او خو یندو! حق تـه رابلونکو او پـالونکو ســـره دغسې دښمني د شیطان پلو یانو لخوا چې د حق دښمنان دي؛ تر قیامت ورځې پورې همداسـې اوږده دوام لري او بیلګې یې په اوسـني عصـر کې هم ښې ډیرې په هر ځای کې خورې دي.

او بیا وروسـته پر رسـول الله ﷺ باندې د العلق یا اقرأ مبارکې سـورې نور آیتونه الله تعالی رانازل کړل.

{د قرآن وحیه په (اقرأ) پیل او په القلم زدکړه وستایل سوه}

ګرانو وروڼو او خو یندو! د العلق مبارکې ســورې په پیل کې الله تعالی پر رسول الله ﷺ باندې د لوستلو غږ کړئ دئ او فرمایلي دي:

﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥﴾

[١-٥] ای پیغمبره! د خپل هغه رب په نامه ولوله چې هغه هر څه پیدا کړل او انســان یې د یوې ټینکې ټوټې غوښې نه پیدا که، هو؛ ای پیغمبره! ولوله! او د ســتا رب چې هر څه یې په قلم خلکو ته ورزده کړل؛ ډیر ســخي او پیرزو کونکئ ذات دئ، او الله هغه څوک دئ چې هر څه یې په قلم خلکو ته ورزده کړل، او انســان ته الله هغه څه ورزده کړل چې پخوا ور باندې نه پوهیده، یعنی لکه آدم علیه السلام چې هغه ته الله د ټولو شیانو نومونه ورزده کړل او د ملائکو سره یې په سیالۍ کې ورونکئ او بر یالئ اعلان که!

درندو دوستانو! لکه څنګه چې مخکې وو یل سول په صحیح حدیث کې د رســـول الله ﷺ نه روایت ســـوئ دئ چې جبرئیل الأمین د دغو پنځو مبارکو آیتونو را نازلیدلو په پیل کې رســـول الله ﷺ باندې د حراء په غار

کې په وار وار سره غږ وکه او ورته يې وو يل: ولوله، نو رسول الله ﷺ په ځواب کې وو يل: زه لوستونکئ نه يم! او په هر ځل دئ ﷺ جبرييل عليه السلام په غيږ کې کلک نيؤ او ورته يې و يل: ولوله! او په در يم ځل چې کله رسول الله جبرئيل خوسې که، نو دا مبارك آيتونه يې چې هغه جبرئيل ورته وحيه کړل ولوستل، او په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالى په ليک او لوست باندې په قلم کلک ټينګار کړئ دئ، ځکه قلم د زدکړې ډيره غوره وسيله ده او ټول بشري تمدن ور باندې په مخ تللئ دئ، نو د الله تعالى دا پيغام مونږ پوهې، علم او زدکړې ته هڅوي، يعنى د اسلام دين هيڅ کله د علم سره په ټکر کې ندئ، بلکې هغه علم ته کلکه بلنه ورکړې ده او علماء او پوهان يې تل ستايلي دي، او د علماوو نه مقصد يوازې د دين علما او ملايان ندي، بلکې مقصد د طبيعي علومو او د ساينس پوهان هم پکې شامل دي، ځکه يقينا چې مونږ په ژوند کې خپلې اړتياوې لرو او په لاس ته راوړل کې يې زدکړې او علم ته کلک ضرورت لرو، نو ځکه د طبيعي علومو لومړي پوهان او زدکيالان؛ ټول مسلمانان ول، لکه ابن سينا الرئيس، محمد بن موسى الخوارزمي، جابر ابن حبان، الفارابي او نور...

{انسان چې کله مورسي سرکښي کړي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د انسان سرکښي ياده کړې ده او فرمايلي دي:

﴿كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ٦ أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ٧ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجۡعَىٰٓ ٨﴾

[٦-٨] نا! [اى خلکو! خبره هغسې نه ده، لکه تاسې چې يې انکيرئ] هو! يقينا انسان چې [کله مور سي او خپل ځان ځواکمن وو يني] نو بې پروا سي او کلکه سرکښي وکړي [يعنى د الله حکمونه نه مني، ځکه دئ نور کبر پسې اخستئ وي!] او اى پيغمبره! [دا سرکښ او کبرجن انسان ده ښه پوه سي چې] د هغه ورتګ بيرته د ستا رب الله ته يقيني دئ، يعنى د قيامت په ورځ انسان خاماخا الله ته ورتلونکئ دئ او کلک حساب ورسره کيږي!

{الله هغه چا ته کلکه سزا ورکوي چې مومنان زوروي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې چې د اقرأ مبارکې سورې وروسته آيتونه دي؛ الله تعالى د مکې کافرانو سرکښ مشر ابو جهل چې رسول اللهﷺ پې د کعبې په څنګ کې د لمانځه نه منعې کا ؤ؛ کلک ګواښلئ دئ او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ۝٩ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ۝١٠ أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ۝١١ أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ۝١٢ أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝١٣ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ۝١٤ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ۝١٥ نَاصِيَةٍ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ۝١٦ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُۥ ۝١٧ سَنَدْعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ۝١٨ كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَٱسْجُدْ وَٱقْتَرِب ۩ ۝١٩﴾

[٩-١٢] اى پيغمبره! آيا هغه سرکښ کافر ده وليده چې کله به د الله مومن بنده لمونځ کا ؤ؛ دئ بې د لمانځه کړو نه منعې کا ؤ؛ حال دا چې دغه لمونځ کونکئ سړئ يا بنده په سمه لار روان ؤ او خلک يې د الله سزا نه کلک و يرول او تقوا ته او يا د الله سزا نه و يرى ته يې رابلل، يعنى د الله تعالى سزا نه يې ځان ساتنې ته د الله حکمونوته په فرمان وړو سره رابلل.

[١٣-١٩] او اى پيغمبره! آيا تا دا سرکښ سړئ (ابوجهل) وليده چې هغه دا سړئ [رسول اللهﷺ] دروغژن و باله اوشايې وروړوله [يعنى د رسول اللهﷺ بلنه يې د الله تعالى عبادت او بنده ګى ته په توحيد سره ونه منله] نو آيا دا کافر پوه نسه چې دئ الله و يني؟ [يعنى د هغه دا ټول بد کړل د الله تعالى د څار لاندې دي] نا! [اى خلکو! خبره هيڅکله هغسې نده، لکه څنګه چې دا کافر (ابوجهل عليه اللعنه) فکر کړي] نو که دئ د خپلو بدو کړنو نه لاس وانخلي، نو بيا بې مونږ د دروغژن او تيروتونکي تندي نه په کلکه سره را ونيسو [او بيا چې په ابو جهل باندې د هغه ملګرو او پلو يانو څوک غوليدلى دئ؛ هغوى ده] را وغواړي اومونږ به هم دوى ته د سزا ورکولو ملائکې راغوړو [يعنى اى پيغمبره! ته پوره مطمئن او ډاډه

اوســه چې ابو جهل تا ته هیڅ ډول ز یان او تاوان رســولای نســي] نا! ای پیغمبره! ته هیڅ کله د دې ســرکښ ســړي خبره مه منه او خپل لمونځ ده هیڅ کله مه پر یږده او په ســجده ولو یږه او لمونځ وکړه او خپل رب الله ته ځان ورلنډ کړه.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی رسول اللهﷺ د ابوجهل پټکو نه په کلکه ســره ډاډمن کړئ دئ او بیاپې ورته په لمانځه کړو باندې ټینګا رکړئ دئ، ځکه لمونځ بنده خپل رب ته ورلنډوي، او کله چې رسول اللهﷺ دا مبارك آیت ولوست؛ د تلاوت سجده یې وکړه، نو د اقرأ سورې دا د تلاوت سجده په ټول قرآن کی د تلاوت وروســتۍ ســجده ده او هغه په لوســتونکي او په اور یدونکي دواړو باندې واجب ده.

ګرانو دوســتانو! دا د اســتقامت او په خپل دین باندې کلک در یدل؛ هغه تل پاتې پیغام دئ چې رسول اللهﷺ د خپل نبوت په لمړ یو شــپو او ورځو کې الله تعالی ور باندې وګماره او کلک ســپارښــت یې ورته وکه، نو اســلام ته رابلونکو ټولو هوډمنو او متعهدو دعاتو باندې فرض ده چې تل په خپل دین ټینګار وکړي او رسول اللهﷺ پسې په اقتدا کړو سره کلک ودر یږي او د باطل غوښتنو ته هېڅکله تسلیم نسي.

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی آله وصــحبه أجمعین، ســبحانك اللهم و بحمدك أشــهد أن لا إله إلا الله استغفرك وأتوب إلیك.



د القدر سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د القدر سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

ګرانو لوستونکو! د القدر مبارکه سوره مکي سوره ده، خو په ځینې روایاتو کې بیا مدني سوره بلل سوې ده، او پدې مبارکه سوره کې الله تعالی د عظیم الشان قرآن رانازلیدل پر رسول اللهﷺ باندې په یقین سره یاد کړي او بیان کړي دي، او همدارنګه الله تعالی پدې مبارکه سوره کې د قضا او قدر پر عقیده باندې کلک ټینګار کړئ دئ، او د قدر مبارکې شپې لوړ مقام پکې بیان سوئ دئ، ځکه ټول قرآن د لوح محفوظ نه د دنیا اسمان ته چې پکې بیت المعمور دئ؛ یوځای رانازل سوئ دئ او بیا د هغه ځای نه په وار وار سره په (٢٣) درو پشتو کلونو کې پر رسول اللهﷺ باندې لږ لږ تدر یجي را نازل سوئ دئ.

{قرآن الله د قدر په شپه چې د یوزرشپو نه غوره ده را نازل که}

عزتمنو دوستانو! د القدر مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ۝٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ۝٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ۝٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ۝٥﴾

[١] هو! یقینا چې قرآن مونږ د قدر په شپه را نازل کړ، یعنی د قدر شپه د رمضان مبارکې میاشتې یوه مبارکه شپه ده، لکه څنګه چې د البقرې سورې په (١٨٥) آیت کې او د الدخان سورې په (٣) آیت کې یې

یادونه سوې ده، او دغې شپې ته الله تعالی مبارکه شپه و یلې ده.

[۲-۳] ای پیغمبره! او ته څه پوه سوې چې د قدر شپه څنګه یوه شپه ده؟ هو! د القدر شپه د یو زر میاشتو نه ډیره ښه شپه ده، یعنی د دغې شپې عبادت چې هغه د روژې میاشتې په وروستیو لسو مبارکو شپو کې ده؛ د یو زر میاشتو عبادت نه ډیر غوره دئ، ځکه زر میاشتی(۸۳) کاله او څلور میاشتې کیږي.

[٤] او د القدر په شپه ملائکې [د جبرئیل الأمین په مشری] د الله حکمونو او پر یکړو سره په ټول کال کې یوځای راکوز یږي، یعنی د خلکو اړوند ټولې پر یکړې د الله تعالی تقدیري پر یکړې سره سم؛ د القدر په مبارکه شپه ملائکو ته سپارل کیږي، ترڅو د کال په اوږدو کې هر چا ته د هغه برخه په روزی کې لږ یا ډیره، ښه یا بده وټاکي او بیایې عملي کړي.

[٥] او د القدر په شپه تر سحر سپیدو راختلو پورې د هر ډول شر نه سلامتیا وي، یعنی په دغه شپه کې د الله تعالی ثوابو نه پر مومنانو باندې اور یږي، ځکه دوی د الله عبادت او لمنځو نه کړي او خپل لوی رب الله په پاکې سره یادوي.

قدرمنو مومنانو! نو یقینا چې د القدر شپې دغه ډیر ثوابو نه مومنانو ته د الله تعالی په لو یو پیرزو ینو دلالت کړي، او هغه د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښه ده، ځکه الله تعالي چې څنګه وغواړي هغسې کړي، نو ښایي چې مونږ د قدر مبارکې شپې په ارزښت ښه پوه سو او د هغې ثوابونو په ګټلو کې ز یار و باسو او هغه د روژې مبارکې میاشتې په وروستیو لسو طاق شپو کې چې (۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷او ۲۹) شپې دي ولټوو، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ راته لارښودنه او سپارښت کړئ دئ، او بیا د یو زر میاشتو ثواب وګټو چې هغه د ریاضیاتو په حساب کې ۸۳ کاله او څلور میاشتې کیږي، او د ډیرو لږو کسانو عمر د دنیا په ژوند کې اتیا کاله وي او هغه هم لس کاله په ماشومتوب کې تیریږي، نو دعاء کړو چې الله تعالی دا لوی ثواب د روژې په مبارکه میاشت کې زمونږ په برخه کړي او دې لوړ

مقام ته الله تعالى مونږ په خپل لوى فضـــل او خواره واره رحمت ســـره ورسوي.. ..آمين يارب العالمين!

والحمد لله وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، ســـبحانك اللهم وبحمدك أشـــهد أن لا إله إلا الله اســـتغفرك وأتوب إليك.



د البينه سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د البينه سورې لنډه پيژندنه او لوى پيغام}

عزتمنو دوستانو! د البينه مبارکه سوره مدني سوره ده، او نوم يې د دې مبارکې سورې لمړي آيت نه اخستل سوئ دئ او معنايې: حجت، برهان او دليل دئ، او د البينه په مبارکې سورې کې الله تعالى د اسلام پيغمبر ﷺ د رسالت او پيغمبرۍ ثبوت او ر ښتينوالئ په کلکه سره ياد کړئ او بيان کړئ دئ، ځکه د اسلام معنا په اخلاص سره الله ته تسليمدل او يوازې د الله بنده ګى ته بلنه ورکول دي، نو هغه حق او سم دين دئ، او بيا الله تعالى د مشرکانو تور برخيلک او د مومنانو ځلانده راتلونکې په پر يکنده او په ډيرو قاطعو الفاظو سره اعلان کړې ده، او د دې مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى فرمايلي دي:

{اهل کتاب او مشرکان خپل دين د دليل نه پرته نه پريږدي}

﴿لَمۡ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ١ رَسُولٞ مِّنَ ٱللَّهِ يَتۡلُواْ صُحُفٗا مُّطَهَّرَةٗ ٢ فِيهَا كُتُبٞ قَيِّمَةٞ ٣ وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ٤ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ٥﴾

[١] هو! هغه کسان چې د اهل کتابو (يهودو او نصاراوو) او د مشرکانو نه [يعنى د بتانو عبادت کونکو نه] کافران سول؛ دوى خپل دين نه پر يږدي [يعنى خپل پخوانئ دين نه خوسې کوي] مګر دا چې دوى ته ښه روښانه دليل او شاهد راسي، يعنى هغسې شاهد او لارښود ور ته راسي

چې د هغه وعده د دوی سره په خپلو مذهبي لارښودنو کې سوې ده.

[٢-٣] او دا بینه (حجت) او شاهد خلکو ته د الله استازئ او رسول دئ چې هغه د پاکو پاڼو کتاب لولي او په دغو پاڼو کې ډیر قیمتي او ارزښتناکه کتابو نه دي، یعنی په دغو پاڼو کې ډیرې ګټورې لارښودنې نغښتې دي او هغه د اسلام پر پیغمبرﷺ باندې رانازل سوئ کتاب قرآن دئ چې د راتګ ز یرئ یې په پخوانیو کتابونو کې راغلئ دئ.

[٤] او هغو کسانو ته چې کتاب راغلئ ؤ؛ دوی پکې اختلاف ونکه، مګر وروسته له هغې چې دوی ته بیانونکئ دلیل او شاهد راغئ، یعنی د قرآن سره پیغمبر ور ته راغئ، نو بیا دوی پکې اختلاف وکه، ځینو ایمان راوړ او ځینې نور ورڅخه منکر او کافران سول.

[٥] او اهل کتابو ته [د الله په روښانونکي کتاب قرآن کې] حکم وسه چې د الله بنده کې وکړي او په پوره اخلاص سره الله ته سم سوي غاړه کیږدي [یعنی د منسوخ سوي دین نه مخ واړوي او د الله تعالی حکمو نه په قرآن کې ومني] او لمونځ ودروي [یعنی لمونځ په ټاکل سوو وختونو کې وکړي] او زکات ورکړي، او دا دئ د اسلام سمونکئ دین، یعنی دا چې هغه ټولو خلکو ته د نیکمرغۍ سمه لار ورښیي چې هغه په توحید سره د خدای پیژندنې سمه لار ده، نو ښایي چې یوازې د الله بنده کې وسي او حکم یې وچلیږي، ترڅو بشر یت په دنیا او آخرت کې نیکمرغه او سر لوړئ سي.

{د کافر انو ځای دوزخ او د مومنان ځای جنت دئ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د کافران توره راتلونکې او د مومنانو زرغونه راتلونکې په آخرت کې یاده کړي ده او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ۝٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ ٱلْبَرِيَّةِ ۝٧ جَزَآؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن

تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ٨

[٦] هو! يقينا هغه کسان چې د اهل کتاب او د مشرکانو نه کافران سول؛ دوی به د دوزخ په اور کې تل پاتې کړ يږي، ځکه هغوی ډير بد خلک ول، يعنی نو اوس به د خپلو بدو کړنو سزا څکي!

[٧-٨] او هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل؛ دوی يقينا ډير ښه خلک ول، او د دوی ثواب او انعام د دوی رب الله سره تل پاتې جنتونه دي چې پکې د او بو و يالې بهيږي او دوی به پکې تل اوسيږي، ځکه الله د دوی نه راضي او خوښ سه او دوی د الله نه راضي سول، او دغه لوړ مقام د هغه چا په برخه کيږي چې دئ د خپل رب نه وو يرېده، يعنی په ايمان راوړو او په ښو کړنو سره يې خپل ځان د الله تعالی سزا نه وساته!

قدرمنو دوستانو! د البينه مبارکه سوره د تار يخ ځلانده پاڼه ده او پکې مونږ الله تعالی د اسلام په راتګ سره د پخوانيو اديانو پلو يانو، يهودو او نصاروو او د بت پرستانو مشرکانو تور برخليک نه خبر کړي يو، او اهل کتابو چې د اسلام پيغمبرﷺ د بعثت او پيغمبرۍ قصې په خپلو کتابونو کې لوستې وې؛ ورته سترګې په لار ول، ترڅو دغه پيغمبر راسي او بيا دوی د قرآن په روښانه دليلونو ايمان راوړي، او خپل بدل سوي اديان يا دينو نه نور خوسې کړي او هغه پرې يږدي او لاس ورڅخه واخلي، خو کله چې د شرک نه خلاصونکئ پيغمبرﷺ راغئ او کافران يې په ډير اخلاص سره؛ يوازې د الله تعالی عبادت ته راو بلل، نو بيا دوی پکې د يو بل سره اختلاف وکه، ځينو ايمان راوړ او په اخلاص سره کلک مومنان سول، او ځينې نور بيا د ډيرې کينې نه کافران سول، نو اوس مونږ ته ښايي اسلام چې د الله نه راغلئ سم دين دئ؛ د نړئ ټولو ولسونو او خلکو ته په ډيرو کلکو او روښانه دليلونو سره چې هغه مونږ ته الله تعالی په قرآن کې بيان کړي دي؛ وړاندې کړو او ورته يې ورسوو، لکه د قرآن تل پاتې معجزې او داسې نور کلک دليلونه، او ټول کافران ايمان راوړو ته په

قراني دليلونو ســره راو بولو، ترڅو ټول خلک د الله تعالى رحمتونو نه د قرآن په رڼا کې برخمن سي او د دنيا او آخرت ښادي يې په برخه سي او په سپينو مخونو خپل لوى رب الله ته د محشر په ورځ ورسي او جنتونو ته ورننوځي او پکې تل پاتې نيکمرغي وکړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

د الزلزلې سورې معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الزلزلې سورې لنډه معرفي او لوى پيغام}

ګرانو دوستانو! الزلزله مباركه سوره مكي سوره ده، او پکې الله تعالى د قيامت ورځې يقيني راتګ او د خلکو نه کلک او دقيق حساب اخستل ياد کړي او بيان کړي دي، او د الزلزلې معنا: کلک ټکان او د ځمکې ښور يدل دي، نو ځکه ور باندې دا سوره نومول سوې ده او په پيل کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

{د قيامت کلک ټکان سره ځمکه خپل پيټي بهر ته را باسي}

﴿إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ۝١ وَأَخۡرَجَتِ ٱلۡأَرۡضُ أَثۡقَالَهَا ۝٢ وَقَالَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا لَهَا ۝٣ يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ۝٤ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا ۝٥ يَوۡمَئِذٖ يَصۡدُرُ ٱلنَّاسُ أَشۡتَاتٗا لِّيُرَوۡاْ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝٦﴾

[١-٣] [اى پيغمبره! هغه ورځ را په ياد کړه] کله چې ځمکه ولړز يږي

او کلک ټکان وخوري، او بيا ځمکه د خپلې ګيډې نه پکې خښ سوي درانده پټي راو باسي [يعنی په ځمکه کې د پټو اورونو لمبې راپور ته سي] او بيا انسان پوښتي او وايي: په ځمکه څه وسول؟

[٤-٥] نو بيا په هغه ورځ [چې د قيامت ورځ ده] ځمکه د هغو پيښو نه غږ پرې چې پکې تيرې سوې دي او وايي: ای پيغمبره! د ستا رب الله ځمکې ته پټ وو يل:[چې په ځمکه کې پيښو سوو ټولو واقعاتو نه خلک خبر کړه! نو بيا ځمکه د ټولو پيښو يو يو تار يخ يادوي او ظالمان رسوا کوي او د دوی ټول پټ تار يخ را لوڅوي او هغه تول رسوا کوي]

نو درندو عز يزانو! د دغسې لويې رسوايي نه الله تعالی ته پناه وړو او خپل ځانو نه ور باندې سپارو!

[٦] نو بيا په هغه ورځ ټول خلک ډله ډله راځي، ترڅو دوی ته د دوی ټولې کړنې په دنيا کې وروښودل سي، يعنی د خپلو بدو او ښو کړنو انځورو نه يا تصو يرو نه په سترګو وو يني او هر چا ته د هغه ثواب او سزا ورکړه سي.

{په آخرت کې هر څوک د خپلو کړنو ثواب او سزا و يني}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی اعلان کړئ دئ چې د قيامت په ورځ ټولو خلکو ته د دوی د ښو او بدو کړنو او و يناوو سجل اعلانيږي، او بيا هر چا ته د خپل ښه او بد عمل ثواب او سزا ورښودل کيږي، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ ٧ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ ٨﴾

[٧-٨] نو چا چې د يوه مثقال وړې دانې په اندازه ښه کړي ول؛ هغه به و يني او چا چې د يوه مثقال وړې دانې قدر بد کړي ول؛ هغه به و يني، يعنی هر چا ته مخکې د هغه ښه او بد کړل ذره ذره ايښودل کيږي او بيايې ثواب او سزا مومي.

درندو مومنانو! نو يقينا چې د الله تعالی حساب اخستلو ته ډيره

دقيقه ده او د خلکو ټول ښه او بد عملو نه پکې په پوره انصاف سره تلل کيږي، او بيا هر چا ته د هغه ثواب او عذاب پوره ورکول کيږي، نو ښايي چې ټول مومنان خپل ځانو نه د آخرت ورځې يقيني راتګ ته تيار کړي، ځکه چې په هغه ورځ په کلک عدالت سره عملو نه تلل کيږي او هر چا ته د هغه ثواب او عذاب پوره ورکول کيږي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك... ۞۞۞

د العاديات سورې معنا اولنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د العاديات سورې لنډه پيژندنه اولوی پيغام}

ګرانو دوستانو! د العاديات مبارکه سوره مکي سوره ده، او د العاديات نه مقصد او مراد هغه د ځغلا ټوپ وهونکي ايرغه اسان دي چې په ځغلا او ټوپ وهلو سره يې د سومانو نه د اور بڅرکي الوزي، نو پدې مبارکه سوره کې په دغو ايرغه آسانو باندې چې په ټو پونو او په خيځ وهلو سره يې د سومانو نه د اور بڅرکي الوزي؛ الله تعالى لوړه کړي ده چې ډير هغه کسان چې زړونه يې د ايمان نه خالي دي؛ د خپل لوی رب الله د خورو ورو نعمتونو او ورکړو شکر نه باسي او فرمايلي دي:

{ډير خلک د خپل رب نعمتونو نه منکر دي او شکر نه باسي}

﴿وَٱلۡعَٰدِيَٰتِ ضَبۡحٗا ١ فَٱلۡمُورِيَٰتِ قَدۡحٗا ٢ فَٱلۡمُغِيرَٰتِ صُبۡحٗا ٣ فَأَثَرۡنَ بِهِۦ نَقۡعٗا ٤ فَوَسَطۡنَ بِهِۦ جَمۡعًا ٥ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٞ ٦ وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٞ ٧ وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلۡخَيۡرِ لَشَدِيدٌ ٨ أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ مَا فِي ٱلۡقُبُورِ ٩ وَحُصِّلَ مَا فِي ٱلصُّدُورِ ١٠ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ ١١﴾

[١-٥] او پرهغو اسانو ده قسم او لوړه وي چې د ځغلا په خيځ اچولو او ټوپ وهلو کې يې کلک سونه هار خيځي او د سومانو د لږ يدلو نه يې په ځمکه کې د اور بڅرکي الوزي، او د دښمن په مورچلو باندې يې سحر وخته د بر يد نه دوړې راپورته کيږي او د دښمن لښکرو په منځ کې ورننوځي.

[٦-٨] هو! د دغسې سپرو لښکرو په ايرغه آسانو قسم دئ چې

ناشکره [یعنی کبرجن] انسان د خپل رب پیرزو ینو نه په یقین سره منکر دئ او پرخپلو منکر یدو باندې دئ یقینا شاهد دئ، او همدغه انسان د دنیا مال او دولت په ګرانښت کې ډیر کلک دئ، یعنی ټول چرت او فکرې د مال او دولت په راټولو کې دئ او هغه په ښو کړنو کې نه لږوي، یعنی بې وزرو مسکینانو سره مرسته نکړي او خیرات نه ورکوي!

[٩-١٠] نو آیا دغه انسان نه پوهیږي چې کله مړي د خپلو ګورونو نه په راجګیدو او راپاڅیدو سره هرې خوا ته خواره سي او په زړونو کې یې پټې خبرې را لوڅې سي، نو بیا به دئ څه کړي؟

[١١] او یقینا چې د دوی رب الله په هغه ورځ د دوی نه ښه خبر دئ! یعنی الله تعالی د هر چا سره حساب کړي.

قدرمنو وروڼو او خو یندو! الله تعالی په دغو مباکو آیتونو کې پرخپلو هغو ژوندیو مخلوقاتو باندې چې د دښمن سره په جګړه کې غښتلی ځغلیدونکي اسان دي؛ کلکه لوړه او قسم کړئ دئ، او هغه دا چې انسان د خپل پالونکي رب الله د پیرزو ینو نه کلک منکر او ناشکره مخلوق دئ، او د دنیا مال او دولت په هغه باندې ډیر ګران دئ، خو دئ به بیا د قیامت په هغه ورځ چې د ر یښتیا ورځ ده؛ ښه پوه سي چې الله تعالی د هغه نه کلک حساب اخلي، او بیا مختورن کافران او مجرمان د دوزخ اور ته ورغورځوي او هلته به پکې تل پاتې کړ یږي،نو هوښیارانو ته ښایي چې د قیامت ورځې دا ژوندئ انځور په خپلو مغزونو کې تل حاضر سوئ وو یني او په ایمان راوړو او په ښو کړنو سره د قیامت ورځې حساب ته ځان تیار کړي، ترڅو د کافرانو غوندې بد او تور برخلیک نه نجات بیاموي!

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی أصحبه أجمعین، سبحانك اللهم و بحمدك لا أشهد أن إله إلا الله استغفرك وأتوب إلیك...



د القارعه سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د القارعه سورې لنده پیژندنه او لوی پیغام}

قدرمنو عز یزانو! د القارعه مبارکه سوره مکي سوره ده، او القارعه د قیامت ورځې د نومونو نه یو نوم دئ، او پدې مبارکه سوره کې الله تعالی د قیامت ورځې راتګ چې حق او یقیني دئ؛ په کلک باور سره یاد کړئ او ښه لنډیې بیان کړئ دئ، ځکه د مکې کافران د قیامت ورځې راتګ نه کلک منکر ول او د آخرت ورځې حساب ورکول یې نه منل، نو الله تعالی پدې مبارکه سوره کې، لکه نورې مکي سورې؛ دوی او نور ټول خلک په هغه ورځ د و یرونکې لړزې او د قیامت ورځې ټکانونو نه ګواښلي او فرمایلي دي:

{د قیامت ورځې ټکانونکئ ژوندئ انځور}

﴿ٱلۡقَارِعَةُ ۝١ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ۝٢ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ۝٣ يَوۡمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلۡفَرَاشِ ٱلۡمَبۡثُوثِ ۝٤ وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ٱلۡمَنفُوشِ ۝٥ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ۝٦ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ۝٧ وَأَمَّا مَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ۝٨ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٞ ۝٩ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا هِيَهۡ ۝١٠ نَارٌ حَامِيَةُۢ ۝١١﴾

[١-٢] هو! القارعه! [یعنی د قیامت ورځې و یره، زور او ځواک زړونه لړزوي] نو القارعه څنګه یوه ورځ ده؟

[٣-٥] ای پیغمبره! او ته څه شي پوه کړې چې القارعه څنګه یوه ورځ ده؟ هو! په هغه ورځ ټول خلک، لکه تالوګان یا ملخ خواره واره پراته وي، او غرو نه، لکه وړی شندل سوي وي.

[٦-٧] نو بیا چې د هر چا تله [په ښو کړنو] درنده سوه، نو هغه په

خوښ سوي ژوند کې دئ، يعنى په جنت کې دئ.

[٨-٩] او د هغه چا تله چې سپکه سوه [يعنى د بدو کړنو پله يې درنده سوه] نو د هغه مور بوره سوه، يعنى ځاى يې د دوزخ په لو يه ژوره کې دئ.

[١٠-١١] او ته اى پيغمبره! څه شي پوه کړې؟ چې دغه ژوره څنګه يؤ ځاى دئ؟ هغه د دوزخ سور اور دئ!

ګرانو وروڼو او خو ينډو! نو دعاء کړو چې الله تعالى ده زمونږ د حسناتو تله د قيامت په ورځ درنده کړي او د دوزخ سره اور نه ده الله مونږ په خپل فضل او لوى رحمت سره وساتي او مونږ ته ده په دنيا کې په خپل دين باندې استقامت، ټينګښت او ښه عمل راپه برخه کړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د التكاثر سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د التكاثر سورې لنډه معرفي او لوى پيغام}

قدرمنو دوستانو! د التكاثر مباركه سوره مكي سوره ده او پكې الله تعالى ټول خلک د دنيا مال او دولت په راغونډولو كې يو بل سره د سيالۍ نه چې د الله د هيريدو سبب ګرځي؛ كلک ګواښولي دي او خبرې ورکړئ دئ چې ډير ژر به د قيامت په ورځ د الله تعالى د نعمتونو پوښتنه د دوى نه يقينا وسي، او كافرانو ته به كلكه سزا ورکړه سي، او په پيل كې يې الله تعالى فرمايلي دي:

{ ټول خلک د دنيا مال را ټولو هلاک کړل }

﴿أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ١ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ٢ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣ ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٤ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ٥ لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ ٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ٧ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ٨﴾

[١-٢] اى خلكو! تاسې د ډير مال او دولت راغونډولو او پكې د يو بل سره سيالۍ؛ د الله اطاعت او عبادت نه بې پروا او غافل كړى، ترهغو چې حضيرو ته لاړى، يعنى مړه سوى او د دنيا ټول مال، دولت او جايداد درځخه پاتې سه، او د لاړې مل مو يوازې د ستاسې ښه او بد عمل دئ!

[٣-٤] نا! [اى خلكو! تاسې ته نه ښاييدل چې دومره ډير ژر خپل لوى رب الله هير كړى] نو ډير ژر به تاسې پوه سى [چې ډير كلک تير وتي ياستى] هو! تاسې به بيا ډير ژر او په ر يښتيا سره پوه سى! يعنى د خپل غفلت بده راتلونكې به وو يې!

[٥] نا! [دا ښه كار نه ؤ چې تاسې خپل لوى رب هير كړى] او كه تاسې

په پوره یقین ســره پوهیدلای، یعنی نو بیا به تاســې دومره ډیر حرص په دنیا کې نه ؤ کړئ!

[٦-٨] ای خلکو! نو تاســې به خامخا دوزخ وو یئ، او بیا به دوزخ د قیامت په ورځ په یقین ســره وو یئ، او بیا به په هغه ورځ ســتاســې نه د ټولو نعمتونو پوښتنه په کلکه سره کیږي!

هو! درندو ورونو او خو یندو! د التکاثر مبارکه ســوره ټولو خلکو ته، او په ځانګړي ډول مومنانو ته ډیر کلک ګواښ دئ، نو ښــایي چې دوی د الله تعالی د ډیرو نعمتونو شــکر و باســي او الله یې تل په یاد وي او هیڅ کله هم د الله اطاعت او بنده ګۍ نه د دنیا په ســیالۍ کې غافل نســي او خپل لوی پالونکئ څښـتن الله هیر نکړي، ځکه د آخرت په ورځ یوازې ښـه عمل او هغه مال ســړي ته ګټه رســوي چې هغه یې د روا او حلالې لارې نه ګټلئ وي او بیایې د دې مال نه مسکینانو ته د دوی حق ورکړئ وي او خپل مال یې په ښــو کړنو کې لږولئ وي، نه دا چې د مال او دولت په ګټلو کې یې د حلال او حرام تو پیر نوي کړئ، او بیــایې پــه لږولو کې هم د حلالو او حرامو پروا نه وي کړې، نو ښــایي چې ټول مومنان او په ځانګړي ډول د ډیر مال او دولت څښـتن؛ هیڅ کله د الله تعالی حقونو نه په خپل مال کې غافل نسي، او ښایي د الله تعالی حق یې تل په یادوي او هغه د الله په لار کې ولږوي او زکات ورکړي او خیرات وکړي، ترڅو الله تعالی د هغه په ســر او مال کې برکت واچوي.

عزتمنو دوسـتانو! دا حقیقت پرته له بیان نه روښـانه دئ چې کار کړل او ز یار و یستل د دنیا مال او دولت په راغونډولو کې د زمونږ ژوند خلافت یوه ضــروري او اړ ینه برخه ده، او هغه الله تعالی د ټولو انســانانو په فطرت کې ایښې ده، نو ځکه هر څوک د خپل ژوند اړتیاوو پوره کولو لپاره هڅه کړي، نو لکه ځنګه چې وړاندې وو یل ســول ښــایي د مال په ګټلو او لږولو کې د الله تعالی لارښــودنې په حلالو او حرامو کې او په مال کې د بې وزره کســانو حقوق په زکات ورکولو او په بســپنو ســره؛ کلک په پام کې ونیول سي، ترڅو د هرچا غاړه خلاصه سي او الله ته سپین مخئ ورسي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...

❁❁❁

د العصر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د العصر سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

ګرانو دوستانو! د العصر مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالی په عصر او زمانه باندې چې زمونږ ژوند پکې تیریږي؛ لوړه کړې ده او بیا یې مونږ ته د ګټې او تاوان ر یښتینې نښې او اسباب یاد کړي او بیان کړي دي، ترڅو هر څوک خپل ځان ښه و پیژني او د ز یان او هلاکت نه یې وساتي او په ښو انساني درندو خو یونو چې هغه د ایمان او ښو کړنو نه وروسته؛ پرحق پالنه باندې سپارښت او ورته دعوت او بیا ور باندې صبر او زغم دئ؛ خپل ځان ښه وروزي،او په پیل کې الله فرمایلي دي:

{ د مومنانو نه پرته نورټول خلک کلک ز یانمن دي }

﴿وَٱلۡعَصۡرِ ۝١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ۝٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ۝٣﴾

[١-٣] [ای خلکو!] په وخت او زمانه باندې لوړه او قسم دئ چې هر انسان په ز یان، بایلنه او په تاوان کې دئ، مګر هغه کسان چې دوی ایمان راوړ او بیایې ښه وکړل [یعنی د الله تعالی ټول حکمو نه یې ومنل او عمل یې ور باندې وکه] او یو بل ته یې پرحق او په ښو کړنو نصیحت او

سپارښت وکه او په صبر او زغم سره يې يو بل ته سپارښت او وعظ وکه.

قدرمنو وروڼو خو يندو! د العصر مبارکه سوره که څه هم ډيره لنډه سوره ده او ټول آيتونه يې درې آيته دي، خو هغه د الله تعالى لخوا خپلو بنده ګانو ته د ګواښ او د لوی تاوان کفر او ګناه نه ډير غټ او اړ ين او ضـروري پيغام دئ، او بيا دوی ته الله تعالى د نجات او خلاصـون لنډې لارې ښـې روښـانه په نښـه کړې او ښـودلې دي، او هغه ټولې همدا څلور مسؤليتو نه دي چې مونږ ته الله تعالى ښه څرګند په نښه کړي او ښودلي دي، يعنى دا چې کله انسـان د الله بنده دئ او دا مسـئوليتو نه ور پشـا دي، نو بيا هغه وخت دئ د تاوان او ز يان نه خلاصـيدای سـي او نجات مومي چې دئ دغه مسؤليتو نه تر سره او پرځای کړي، او دا څلور اساسي واجبات دا دي:١- لمړئ په توحيد سره د خپل رب الله تعالى پيژندل او بيا ور باندې ايمان راوړل.٢- د الله تعالى د دين او شـر يعت پيژندل او په حکمونوې عمل کړل (د فرائضـو پرځای کول او د حرامونه ځان ساتل) ٣- يو بل ته د حق پيغام رسول او خلکو ته د دين ښودل او ورزده کول او بيا ور باندې عملي روزل او تطبيقول.٤- او په ستونزو باندې صبر کړل او د ستونزو او سختيو ګالل او زغمل، نو يقينا چې د العصر مبارکه سوره هر مومن بنده ته او په ځانګړې ډول اسلام ته رابلونکو دعاتو او علماوو ته لوی لارښود پيغام دئ، ترڅو دوی خپل ځانو نه او خپل ولس د قيامت ورځې تاوان او د لو يو ز يانونو نه کلک وساتي، او د دنيا په ژوند کې ښه عزتمن او سر لوړئ ژوند ولري.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الهمزه سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الهمزه سورې لنډه پيژند نه او لوی پيغام}

درندو دوستانو! د الهمزه مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالى هغه غيبت کونکي او د خلکو سپکونکي کسان رټلي دي چې دوی د خپل ډير مال او دولت په شميرلو باندې فخر کړي او د نورو خلکو غيبت کړي او ملنډې ور باندې وهي او سپکاوئ يې کړي، ترڅو په ټولنه کې فساد او فتنې راولاړې کړي او دروغژن خبرو نه خواره کړي، نو بيا دغسې کسان الله تعالي د قيامت ورځې په کلک عذاب باندې ګواښلي دي، ځکه په ټولنه کې ناروا پرو پاکند او دروغژن خبرو نه خورول؛ ټولنه د ګواښونو سره مخامخ کوي او د وګړو په منځ کې يې بيلتون راولي، نو هغه لو يه ګناه ده، او پرځای په ټولنه کې د وروری او يو والي ساتنه او ورته بلنه ورکول فرض دي، نو ښايي چې ټول خلک د خپلې ټولنې ښه پالونکي وي او خيريې وغواړي نه داچې تفرقه واچوي او ټولنه ټوټه ټوټه کړي او فتنې پکې خورې کړي، او د الهمزه مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى فرمايلي دي:

{هغه کسان ده هلاك سي چې نورو خلکو ته پيغور ورکوي}

﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ ١ ٱلَّذِي جَمَعَ مَالٗا وَعَدَّدَهُۥ ٢ يَحۡسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخۡلَدَهُۥ ٣ كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ ٤ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ٦ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ٧ إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ٨ فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ٩﴾

[١-٣] هو! هر هغه چا ته هلاکت دئ [يعنى کلکه سزا ورکول کيږي] چې دئ نورو خلکو ته پيغور ورکوي او د هغوی عيبونه لټوي [يعنى

سـپکوي يې او سـپکې سـپورې ور پسـې وايي او ملنډې ور باندې وهي] او دغه کس خپله د دنيا ډير مال او دولت راغونډ که او هغه يې وشـميره او داسـې يې وانګيرله چې دا ډير مال به دئ يقينا په دنيا کې همداسـې تل وساتي، يعنی د ستونزو نه به محفوظ پاتې سي.

[٤-٩] نا! [خبره هيڅکله دغسې نده، لکه څنګه چې دغه انسـان فکر او خيال کړي] هغه به خاماخا په کندوالـه سوې ژوره کې واچول سي [يعنی هلته به پکې وور وور اوتوته توته سـي] او ای پيغمبره! ته چا پوه کړې چې دغه ووړه کونکئ او توته کونکئ ځای څه شئ دئ او چير ته دئ؟ هوا! هغه د الله بل سـوئ اور په دوزخ کې دئ او د هغه لمبې زړونو ته رسـيږي، او يقينا چې د دوزخ اور په دوزخيانو باندې را تاوو دئ او دوی بې په اوږدو ستنو پورې کلک تړي وي!

ګرانو دوسـتانو! د الهمزه مبارکه سـوره که څه هم د کافرانو لپاره کلک ګواښ دئ او د دوی دا سـپک خو يونه او سـپکې و يناوې يې کلکې غندلې دي او د قيامت ورځې کلک عذاب نه يې و يرولې او ګواښلي دي، خو دا چې هغه د الله تعالی تل پاتې ګواښ دئ او مونږ يې په قرآن کې لولو، نو ښـايي چې خپل ځانونه د کافرانو غوندې د دغسـې بدو کړنو او د سـپکو خبرو نه په کلکه سره وساتو، ترڅو د الله تعالی ګواښ لاندې رانسـو، او په ځانګړي ډول د هغو کسـانو پام را اړول دغسـې قرآني ګواښ ته اړ ين دي چې دوی په اوسنيو ټولينزو رسنيو کې فعاليت او کار کړي او د دغسې خلاصې او ازادې فضاء نه په ګټه اخستلو سره خپلو فکري، سياسي او نورو مخالفينو او سيالانو پسې دروغژن او ډير پر يوتي تبليغات کړي، او ځينې سـپک کسـان خو خپله خوله او قلم د کنځلو او د ناروا تورونو نه هم نه سـپموي، سـره د دې چې الله تعالی دوی پدې مبارکه سـوره کې او د قرآن کر يم په نورو ډيرو آيتونو کې او د رسـول الله ﷺ په احاديثو کې د دغسې دروغو او ناحقه تورونو او سپکو سپورو خبرو نه کلک منع کړي دي او د سختو سزاګانو ګواښـونه يې ور ته کړي دي، نو ښـايي چې مومن بنده خپل ځان د الله تعالی د نيولو نه کلک وساتي، او ښايي تل يې پام وي

چې د الله تعالى انتقام او غچ اخستل داسې ناڅاپه راځي چې د هيڅ چا پام نه وي، لکه دا اوسنۍ د کرونا ګنګه ساري و باء چې دا دئ پدې دوه کلونو کې (رجب١٤٤١هـ ق چې د هـ ش ١٣٩٩کال حوت سره او د ز يګيئ ٢٠٢٠ کال فبروری نه پيل او تر اوسه چې د هجري شمسي ١٤٠٠هـ ش حوت، او د ميلادي کال٢٠٢٢ مارچ ده؛ يو کال پوره کيږي، او د تير ميلادي ٢٠٢١کال پيل کې يې د مخنيوئ لمړئ واکسين پيل سه) او دغې و باء ټوله نړۍ کلکه ولړزوله، او همدارنګه، لکه د سړ کال (١٤٠١ هـ ش، چې د هـ ق ١٤٤٤ او د ميلادي ٢٠٢٢ کال سره سمون لري) د اوړي لوی موسمي بارانو نه چې د سلهاوو کلونو نه را پدې خوا بې مخينه دي او په افغانستان او ځينو ګاونډيو هيوادونو کې يې کلک ځاني او مالي تاوانو نه خلکو ته واړول، نو ښايي ګرانو دوستانو چې مونږ په خپلو ټولو کړنو او و يناوو کې ډير محتاط اوسو او په تيروتنو کلک پښيمانه سو او الله تعالى ته په صداقت سره وروګرځو او زړه له اخلاصه تو به و باسو او د الله تعالى نه بښنه وغواړو او خپل لوی څښتن الله پرخپل ځان باندې تل حاضر او کلک ناظر وو ينو، او د هر ډول غفلت نه د الله او د هغه بنده ګانو په حق کې ډډه وکړو او الله تعالى تل او هره ورځ صبا او بيګاه ښه ډير ياد کړو او تل يې په لوړو صفتونو سره وستايو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الفيل سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الفيل سورې لنډه پيژنده او لوى پيغام}

درندولو وروڼو! د الفيل مبارکه سوره مکي سوره ده، او د ابرهه فيل لښکرو هلاکت د ګڼو مرغانو په وړو تيږو يا کاڼو په و يشتلو سره پکې ياد سوئ دئ، او مقصديې د الله تعالى لوى قدرت ښودل د بيت الله شر يف په ساتنه کې دئ، او همدارنګه د هر سرکښ کافر ځپل او تباه کول يې بل لوى غرض او مقصـــد دئ، ترڅو ټول خلک ورڅخه عبرت واخلي او هيڅ کله د الله په بنده ګانو باندې ظلم او تيري ته ملا ونه ټړي، او همداسې د الله تعالى د دې لوى قدرت بيان رســول الله ﷺ ته او د هغه لارې ټولو مخلصـو دعاتو او ملايانو ته د ډاډ او اطمئنان لوى ز يرئ دئ، او په پيل کې يې الله تعالى رسول الله ﷺ ته په و ينا کې فرمايلي دي:

{د ابرهه فيل لښکر د ابابيل مرغانو تيږو باندې هلاك سه}

﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ۝١ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ ۝٢ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ۝٣ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ۝٤ فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ۝٥﴾

[١-٥] اى پيغمبره! آيا تا ونه ليدل [يعنى خبر نســوې] چې د ســتا رب الله د فيل ملګرو سره څه وکړل؟ آيا د هغوى توطئيه او کرکجن بر يد يې [د کعبې شر يفې ړنګولو په مقصد] ورکه سوئ شـنډ نکه؟ [يعنى د ابرهه لو يه توطئيه يې لمنځه اينوړه؟ هو! الله تعالى] د ابابيل ډله ډله مرغان فيلانو پسې را والوزول او دوى يې د پخو خټو په کلکو تيږو يا خښتو کلک وو يشـتل او ټول يې، لکه جو يل ســوي واښــه ټوټه ټوټه کړل، يعنى لکه

ر يبل سوئ کښت يې سترې سترې هرې خوا وغورځول.

ګرانو دوستانو! د حبشې نه د هغه وخت پاچا ابرهه نومي لښکر په فيلانو سپاره؛ د الله تعالى کور کعبې مبارکې ړنګولو په مقصد مکې ته راغئ، او بيا الله تعالى خپل زور دوى ته وښود او د فيلانو لوى لښکريې د ابابيل مرغانو په تيرو و يشتلو سره، لکه جو يل سوي واښه هرې خوا ټوټه سوئ وشينده، او دا لښکر ښه کلک مات سوئ هلاك سه، او د ابرهه فيل دا پيښه د رسول الله ﷺ د زيږ يدلو په کال چې (٥٧٠م) کال ؤ واقع سوه، يعنى دا پيښه د محمد ﷺ پيغمبرې نه څه باندې څلو يښت کاله مخکې وه، او په هغه وخت کې د رسول الله ﷺ نيکه عبدالمطلب بن هاشم القرشي؛ د مکې معظمې مشر ؤ، نو دا لو يه معجزه رسول الله ﷺ د خلکو خولو نه په تواتر سره اور يدلې وه، نو ځکه الله تعالى ورځخه په سترګو ليدلو تعبير کړئ دئ نه د غوږو په اور يدو سره، او همدارنګه درندو دوستانو! د الفيل په مبارکه سوره کې الله تعالى مونږ ته د بيت الله شر يف لو يتيا او عظمت ياد کړئ دئ، ځکه کعبه معظمه د الله تعالى لمړنئ کور دئ چې خلکو ته يې د ځمکې په سر د خپل توحيدي عبادت او بنده ګۍ په مقصد ودان کړئ دئ، او د آل عمران سوره کې الله تعالى فرمايلي دي:﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ ﴿٩٦﴾﴾

معنايې دا چې: يقينا لمړى کوټه چې خلکو ته د ځمکې په سر ايښودل سوې او ودانه سوې ده؛ دا هغه کوټه ده چې په بکه يا مکه کې ده او دا کوټه برکت ناکه کوټه ده، او هغه ټولو خلکو ته لارښود ځرلئ دئ او دوى د خپل رب الله تعالى بنده ګۍ او عبادت ته په توحيد او يو والي سره رابولي.

نو الله تعالى د خپل کور ساتونکئ دئ او هيڅ څوک د هغه ړنګولو او ورانولو وسعه نه لري، او همداسې الله تعالى پدې لو يه پيښه کې خپل هغه لوى قدرت ښودلئ دئ چې هيڅ بشري ځواک يې مخنيوئ کړاى نسي، او د الله تعالى دا لوى پټ قوت پر ټولو مادي ځواکونو باندې زورور ځواک دئ، نو ښايي چې د الله تعالى لوى زور نه هيڅ څوک غافل نسي او

هغه تل په پام او یاد کې ولري، نه لکه د نړۍ نني اتمي لوی مادي ځواکونه چې (العیاذ بالله) د خدایي دعوا کړي او کله چې په غوصه سي، نو د الله تعالی بې ګناه بنده ګانو د هلاکولو هیڅ پروا نه لري.

والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین وعلی آله وأصحابه أجمعین، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إلیك.

❁❁❁

د قریش سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{ د قریش سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام }

درندو دوستانو! د قریش مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالی خپله لو یه پیرزو ینه د رسول الله ﷺ پر قوم قریش باندې چې هغه دوی ته ځاني او مالي امنیت ؤ؛ یاده کړې ده او دوی یې یوازې د الله کور کعبې شریف رب عبادت او بنده ګی ته رابللي دي، او په پیل کې یې الله تعالی پر قریش د غائب صیغې په ښه کې غږ کړئ او فرمایلي دي:

{ پر قریش باندې د الله پیرزوینو شکر و یستل فرض ول }

﴿لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ إِۦلَٰفِهِمْ رِحْلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيْفِ ۝٢ فَلْيَعْبُدُوا۟ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ۝٣ ٱلَّذِىٓ أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍۭ ۝٤﴾

[١-٤] هو! د قریش هغه محبت او مینې لپاره [چې دوی یې د یو بل

سره لري او د دوی دغه خپل منځي مينه او محبت] د دوی د ژمي او د اوړي سوداګرۍ په جو پو کې [يمن او شام ته ښه روښانه څرګند ؤ] نو قر يش ده؛ يوازې د دغې کوټې (کعبې) د رب او لوی څښتن الله عبادت او بنده ګي وکړي، ځکه الله هغه ذات دئ چې قر يش يې د ولړې نه خلاص کړل او د و يرې نه يې په امن او ډاډ کې کړل، يعنی نو دوی ته ښايي چې د الله تعالی د دغې لويې پيرزو يې شکر و باسي او د بتانو عبادت او بنده ګي ده نوره پر يږدي.

قدرمنو دوستانو! ښه روښانه ده چې کعبه مبارکه د الله تعالی کور په مکه مکرمه کې د ډيرو وچو غرو ناوونو په منځ کې پروت دئ، او مکه معظمه د الله تعالی په تقديري حکم سره د کعبې بيا ودانۍ نه وروسته د ابراهيم عليه السلام او زوی يې اسماعيل عليه السلام په لاس؛ د قر يشو استوګنځئ او مينه سوه، نو بيا الله تعالی د مکې اوسيدونکو ته امنيت ور و باښه، نو دوی به د خپلې نفقې (خوړو او جامو) لاس ته راوړلو لپاره په ژمي کې يمن ته او په اوړي کې شام ته د سوداګرۍ چوپې وهلې، او دا چې دوی د مکې سوداګر ول، نو نورو عر بانو به په درنده ستر ګه ورته کتل، نو د قر يشو سوداګرو به په پوره ډاډ سره د خپلې سوادګرۍ دغه کلنۍ جوپې وهلې، او يقينا چې دا د الله تعالی لو يه ورکړه او پيرزو ينه وه چې قر يش يې پرې نازولي ول، نو بيا چې کله الله تعالی د دوی له منځ نه محمد بن عبدالله بن عبد المطلب بن هاشم قر يشي صلی الله عليه وسلم په پيغمبرۍ مبعوث که، نو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله په حکم په قر يشو باندې غږ وکه چې ای خلکو! يوازی د الله عبادت وکړی، ځکه الله د بيت الله شر يف رب او لوی څښتن دئ، او ورته يې وو يل: بتان د الله سره په خدايي کې مه ګډوی، ځکه الله پر تاسې ډيرې لويې پيرز ينې کړې دي، لکه د ستاسې د سر او مال هغه امنيت او ډاډ چې تاسي ورڅخه په خپله مينه او کلي کې برخمن ياستۍ او ښه ژوند لری، خو د مکې ډيرو خلکو چې مشرکان ول او د ابراهيم عليه السلام توحيدي لارې نه اوښتي ول؛ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم بلنه ونه منله او د الله پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره يې کلکه دښمني وکړه، ترڅو چې الله تعالی رسول الله صلی الله عليه وسلم

ښه سر لوړئ، بر يالئ او فاتح د مکې خلکو واکمن که.

عزتمنو دوســتانو! او دا چې محمدﷺ ټولو خلکو تــه پيغمبر را ليږل ســوئ دئ، نو د هغه دعوت د الله تعالى توحيدي عبادت ته پر ټول خلکو او پر ټول بشــر يت باندې فرض دئ، ځکه د دوی خالق او رازق هم، لکه قر يش؛ يوازې الله تعالى دئ، نو ښــايي چې دوی هم، لکه قر يش يوازې د خپل لوی رب او خالق او رازق؛ بنده کې وکړي، او بتان د الله تعالى ســره په عبادت کې کډ او شــر يك نکړي، نو اســلام ته رابلونکو دعاتو باندې فرض ده چې خپل ولســونه د الله تعالى بنده کې ته په توحيد ســره دعوت کړي او د رسـول الله صلى الله عليه وسلم په پله په يقين او ډاډ ســره لاړ سي او هيڅ ډول شك او انديښنې ته په خپلو زړونو کې ځای ورنکړي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الماعون سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الماعون سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام}

قدرمنو دوستانو! روایت سوئ دئ چې د الماعون مبارکه سوره مکي او مدني سوره ده، ځکه د هغې درې لمړي آ یتونه مکي دي او وروستي څلور آیتونه یې بیا مدني دي، او د دې مبارکې سورې نوم (الماعون) دئ او هغه د دې سورې وروستي آیت نه اخستل سوئ دئ، او معنایې هغه لوښي او سامان دئ چې خلک ورڅخه په کورونو او په کروندو کې کټه اخلي، او د الماعون مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د قیامت په ورځ حساب ورکولو باندې کلک ټینګار کړئ دئ او د یتیم مال خوړونکي یې؛ کلک غندلي دي او بیا الله تعالی پکې هغه کسان د خپل عذاب نه ګواښلي دي چې دوی پنځه وخته لمونځ په خپل وخت کې سم نکړي، یعنی آداب او احکام یې سم نه پرځای کوي، او په پیل کې یې فرمایلي دي:

{د قیامت ورځې منکرکس کلکه غندنه سوې ده}

﴿أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ١ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ٢ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣﴾

[١-٣] ای پیغمبره! آیا تا هغه څوک ولیده چې دئ د قیامت په ورځ حساب ورکول دروغ بولي؟ [یعنی د قیامت ورځې راتګ نه مني او ورڅخه کلک منکر دئ] نو همدا سړئ یتیم پر یږدي [یعنی د هغه حق په زور خوري] او دا کافر هیڅ څوک نه هڅوي چې مسکینانو ته خواړه ورکړي، یعنی دا منکر کافر نه خپله مسکینانو ته خواړه ورکوي او نه بل څوک ورته رابولي، ځکه دئ د آخرت ورځې په ثواب او عذاب باندې باور او ایمان

نه لري، نو يقينا چې هغه ډير بد سړی دئ او ښايي چې و پيژندل سي، ترڅو نور څوک په هغه باندې ونه غولیږی.

ګرانو دوستانو! روايت سوئ دئ چې دا مبارك آيتونه په مكه معظمه كې د ځينو سركښو كافرانو د پيژندنې لپاره پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سول، خو معنا او مقصديې عام دئ، او د دغسې كفري عقيدي او د بدو خو يونو څښتن؛ ټول پكې داخليږي او دا ګواښ دوی ټولو ته متوجه دئ، نو ښايي چې هغه مونږ كلك په پام كې ونيسو او د يتيمانو او مسكينانو حقونو نه هيڅ كله غافل او بې پروا نسو.

{هغو لمونځ كونكو ته ګواښ دئ چې د لمانځه نه غافل وي}

او په ور پسې مباركو آيتونو كې چې مدني آيتونه دي الله تعالى هغه ناپوه مومنان او ورسره منافقان كلك ګواښلي او غندلي دي چې دوی په خپلو لمنځونو كې بې پروايي كړي او لمونځ په سمه مسنونه طر يقه نه كړي، يعنى د لمانځه اداب او احكام نه پرځای كوي او په قومه اوجلسه كې طمأنينې ته هيڅ پام نه كړي او لكه مرغان ټونكړې وهي، او په بيان كې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ٤ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ٥ ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ٦ وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ٧﴾

[٤-٧] نو هغو لمونځ كونكو ته ده كلك هلاكت او لو يه سزا وي چې دوی د خپلو لمونځونو ادا كولو نه [په خپل وخت كې او په سمه مسنو نه طر يقه باندې] غافل دي او پروايي نه كړي، او دوي هغه كسان دي چې خپل ښه كړل خلكو ته ښكاره كوي [يعنى ر يا كاران دي او د لمانځه كړونو نه يې هم مقصد خلكو ته ځان ښودل دي نه د الله تعالى رضا ګټل] او همدارنګه دا كسان خپلو ګاونډيانو ته د كورو او د كروندو لوښي او سامان نه وركوي، يعنى نو د دوی دغه بد خو يونه د منافقانو خو يونه دي، لكه دا چې دوی په زړونو كې [العياذ بالله] مومنان نه دي.

ګرانو عزيزانو! مومنان الله تعالى د دغو ټولو بدو خو يونو نه کلک منعې کړي او ګواښلي دي، ځکه هر څوک چې دوی ته ورته دغسې کرکجن خو يونه لري؛ هغوی ته الله کلکه سزا ورکوي، نو دعا کړو چې الله تعالى ده مونږ او ټول مومنان د دغسې غفلت او بې پروايي نه په خپل رحمت سره وساتي، او توفيق ده راکړي چې لمنځو نه په سمه مسنونه طر يقه ادا کړو او يتيمان و پالو او د خپلوانو اړتياوي د دود سره سمې پوره کړو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الكوثر سورې معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{ د الكوثر سورې لنډه معرفي او لوی پيغام }

ګرانو دوستانو! د الكوثر مبارکه سوره ډيره لنډه مکي سوره ده، او پکې الله تعالى پر رسول الله ﷺ باندې خپل يو لوی نعمت او پيرزو ينه يادە کړې ده او رسول الله ﷺ يې شکر و يستلو ته رابللئ دئ، او بيا يې ورته د هغه دښمنانو خواری او ذلت ز يرئ ورکړئ دئ، او د الكوثر نه مقصد د او بو هغه حوض او ډنډ مراد دئ چې هغه رسول الله ﷺ ته الله تعالى د قيامت په ورځ د محشر په ډګر يا ميدان کې ور ښلئ دئ او د هغه او به د پيغمبر ﷺ مومن امتيان څښکي، نو د الكوثر ورکړه او بيان يې پدې مبارکه سوره کې رسول الله ﷺ ته پر مشرکانو باندې د بر يا هغه لوی ز يرئ دئ چې د مکې فتحې سره عملي سه او د پيغمبر ﷺ لوی مقصد حاصل سه او دئ خپل لوی هدف ته ورسيده، او د الكوثر سورې په پيل کې الله تعالى فرمايلي دي:

{رسول الله ته د قيامت په ورځ الله د کوثر حوض ورکړئ دئ}

﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ٣﴾

[١-٣] ای پيغمبره! يقينا چې تا ته مونږ د الكوثر ډنډ در و باښه، نو ته خپل رب الله ته لمونځ وکړه او بيا د قر بانۍ اوښان په نښتر ووهه او حلال يې کړه، او يقينا چې د ستا دښمن په خپله ابتر دئ، پدې معنى چې هر هغه چا چې پيغمبر ﷺ سپک يادا ؤ او و يل يې چې محمد زامن نه لري، ترڅو دئ پرې ياد سي، نو دا سړئ خپله ابتر دئ او هيڅ څوک به دئ ښه ياد

نکړي، ځکه هغه نه داسې خوک نه پاتې کیږي چې دئ ور باندې یاد سي!

درندو ورونو او خو یندو! د الکوثر کلمه د کثرت او ډیروالي نه اخستل ســوې ده، نو معنایې په پیغمبرﷺ باندې د الله تعالی د ډیرو نعمتونو پیرزو ینې دي، او روایت سوئ دئ چې د الکوثر نه دلته مقصد په جنت کې د رســول اللهﷺ هغه لوی حوض دئ چې هر خوک د رســول الله امت مومنانو نه د هغه او به وڅښکې نور بیا نه تږئ کیږي، او د رسول اللهﷺ دښمن نه مقصد هغه کافران ول چې پیغمبرﷺ پسې یې سپکې سپورې خبرې کړې او و یل یې چې د محمد زامن ټول مړه سول، نو دئ ابتر دئ او د مرګ نه وروسته به نور نه یادیږي، نو بیا رســول اللهﷺ ته الله تعالی ډاډ ورکه چې دغه ســپک کافر په خپله لوی ابتر دئ او د هغه نوم به بیا هیڅ خوک نښه وانخلي او یاد یې نکړي، نو دا دئ الحمد لله رسول اللهﷺ تر قیامت ورځې پورې د مومنانو په زړونو کې ځای لري او نښــه ډیر ور باندې ګران دئ، او دوی ټول په ژ به پر رســول اللهﷺ باندې تل درود وایي او ســتایي یې او وایي: اللهم صـل وسـلم و بارك على رسـولك الأمين المبعوث رحمة للعالمين الذي بلغ الرســالة وأدى الأمانة ونصـح الأمة، وســبحانك اللهم و بحمدك أشــهد أن لا إله إلا أنت اســتغفرك وأتوب إليك.



د الكافرون سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{ د الكافرون سورې لنډه پيژندنه او لوى پيغام }

قدرمنو دوستانو! د الكافرون مباركه سوره مكي سوره ده او پكې الله تعالى د رسول الله ﷺ براءت او بې زاري د شرك او د بتانو عبادت نه اعلان كړې ده، او هم پدې مباركه سوره كې الله تعالى خلكو ته ديني ازادي او د عقيدې خوښولو ازادى وركړې او اعلان كړې ده، يعنى د هر چا خپل دين دئ، او هيڅ څوك خپل دين پر بل چا باندې په زور منلاى نسي، او د الكافرون سورې د رانازليدو په باره كې روايت سوئ دئ چې د مكې كافرانو مشرانو د رسول الله ﷺ نه وغوښتل چې ته اى محمده! يو كال د زمونږ خدايانو عبادت وكړه او بيا به يو كال مونږ د ستا خداى عبادت او بنده كې وكړو، نو بيا رسول الله ﷺ د الله په حكم مشركانو ته په كلكه سره اعلان وكه او ورته يې وو يل: ځې پر خپله مخه، د ستاسې خپل دين او د زما خپل دين، او دا اعلان الله تعالى په الكافرون سوره كې مونږ ته همداسې تل پاتې اعلان ياد كړئ دئ او فرمايلي دي:

{د هر چا خپل دين ځكه په دين كې زور نسته}

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ۝١ لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ۝٢ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ۝٣ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ ۝٤ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ۝٥ لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ ۝٦﴾

[١-٣] اى پيغمبره! كافرانو ته اعلان وكه او ورته ووايه: اى كافرانو! زه د هغه څه (بتانو) عبادت نه كړم چې تاسې يې عبادت كړئ، او نه تاسې د هغه لوى رب الله عبادت كړئ چې زه يې عبادت او بنده كې كړم، يعنى په

خدايي پيژنم او خپل ځان ور باندې سپارم او ورته پوره تسليم يم!

[٤-٥] او نه زه د ستاسې خدايانو عبادت کونکئ يم، او نه تاسې د هغه خدای عبادت کړئ چې زه د هغه عبادت کړم!

[٦] نو د ستاسې خپل دين او د زما خپل دين!

هو؛ درندو وروښو او خو يندو! پيغمبرﷺ د الله تعالى دغه پيغام د خپل قوم کافرانو ته په زغرده سره ورسا ؤ او د دوی غوښتنه يې په کلکه سره رده کړه، نو يقينا چې دا پيغام هر مومن بنده ته تل پاتې پيغام دئ او هيڅ کله ورته روا نده چې د کافرانو په لومو کې ونښلي او دوی پسې لاړ سي او د دوی د دروغو خدايانو عبادت وکړي، خو دا خبره هيڅ کله هم دا معنا نه لري چې اسلام پر نورو خلکو باندې په زور منل کيږي، ځکه دين عقيده ده او هغه د زړه خبره ده، او هيڅ ممکنه نده چې عقيده پر چا باندې په زور ومنل سي، او ښه پر يکنده دليل يې همدا د الکافرون مبارکه سوره ده چې د ناحقه معبودانو (بتانو) عبادت نه پکې براءت په ډير قاطعيت سره اعلان سوئ دئ، او هر چا ته د خپل دين خوښولو واک ورکړل سوئ دئ، نو ښايي چې د اديانو تعدد ومنل سي او د جرګو او علمي بحثونو ورونه يا دروازې تل پرانستل سوي پاتې وي، او کافرانو سره په حکمت او په پاخه علم سره مناقشه او استدلال وسي او دوی اسلام ته را و بلل سي، ترڅو ايمان راوړی، لکه په اوسني عصر کې چې د هند لوی پوهاند دعوتګر ذاکر نايک؛ آزاد بحثونه او جرګې د کليسا پاپانو او د هندوانو او بوديانو مذهبي مشرانو سره په ښکاره غوندو او خلاصه فضا کې کړي، او زرهاوو خلک يې په غوندو کې برخه اخلي، او د دکټر نايک دغسې مخامخ منطقي بحثو نه دومره موثر تمام سول چې ډيرو هندوانو، بوديانو او نور کافرانو د اسلام مکي دورې غوندې حق ومانه او مسلمانان سول، ترهغو چې دا دئ اوس اوس په ذاکر نايک باندې کلک بنديځ لږ يدلئ دئ او دعوتي جرګې يې (متاسفانه) منعې سوې او دئ په کور کينول سوئ دئ او لکه زنداني دئ!

والحمدلله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك الله و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك... ۞۞۞

﴿د النصر سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د النصر سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

ګرانو دوستانو! د النصر مباركه سوره مدني سوره ده، او پکې الله تعالى خپل ګران پيغمبر محمد رسول الله ﷺ ته د اوږدې سترې نه وروسته د نصرت او لويې فتحې مبارکې و يادې ده او ښه رون او قاطع ز يرئ يې ورکړئ دئ، او په لمانځه کړو او استغفار يې چې د شکر و ستلو معنا لري ورته سپارښت کړئ دئ، او يقينا چې دا سپارښت د رسول الله ﷺ دين اسلام ته رابلونکو دعاتو لپاره تل پاتې سپارښت دئ، او هغه دا چې حق خاماخا بر يالئ دئ، خو د دعوت په لار کې جهاد کلکې مبارزې، سرښندنې، لوی صبر او زغم ته اړتيا لري، نوښايي چې اسلام ته رابلونکي دعات او ملايان په کلک تصميم او په قوي عزم او اراده؛ خپل دين ته د دعوت دنده او دا لوی رسالت په مخ يوسي او هيڅ کله سست او سترې نسي، او هرکله چې يې نصرت او بر يا په برخه سوه، نو هغه ده د الله تعالى نصرت وکړي او شکر دې په لمانځه کړو او د الله تعالى په ستاينې او په حمد او ثنا سره و باسي، او د النصر دا مباركه سوره چې د فتحې او د بر يا لوی ز يري اعلان دئ؛ په پيل کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

{کله چې فتحه او بر یا راغله نو د شکر لمونځ وکړی}

﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣﴾

[١-٣] هو؛ ای پیغمبره! هر کله چې د الله نصرت او فتحه او بر یا راغله او تا ای پیغمبره! خلک ولیدل چې ډله ډله او جو په جو په د الله په دین کې ورننوځي، نو بیا ته خپل رب الله په پاکۍ سره وستایه او ورځخه بښنه وغواړه، ځکه یقینا چې الله کلک تو به قبلونکئ لوی ذات دئ، یعنی نو د ستاینکو او ورځخه د بښنې غوښتونکو توبې قبلوي او خپل لوی رحمت پر دوی باندې خوروي.

قدرمنو وروڼو او خو یندو! روایت سوئ دئ چې دا مبارکه سوره رسول الله ﷺ ته د وداع او د دنیا نه د تګ او کډه کیدو پیغام ؤ، ځکه رسول الله ﷺ خپل رسالت د پیغمبرۍ په (٢٣) درو پشتو کلونو کې تر مکې مکرمې فتحې پورې؛ د الله تعالی په توفیق او مرسته لویې بر یا ته ورسا ؤ، او بیا ټول خلک فوج فوج او ډله ډله رسول الله ﷺ ته راغلل او د خپل ایمان راوړل یې اعلان کړل او مومنان سول، نو بیا رسول الله ﷺ د الله تعالی دا پیغام په ښه را نه تندي وما نه او خپل ملکري یې خبر کړل چې دئ نور خپل رفیق اعلی الله ته ورتلونکئ دئ، او د خپلو ملکرو، دوستانو او یا رانو سره یې ورو ورو خدای پامانې او وداع وکړه، او بیا رسول الله ﷺ د دغې ستړې دنیا نه الله تعالی ته خپل روح وسپاره او د دنیا ژوند نه مخ په آخرت کډه سه او د خپلې کورنۍ سره او د دعوت اوږده مزله ملکرو او اندیوالانو سره یې وداع وکړه، نو قدرمنو وروڼو! مونږ هم پر رسول الله ﷺ درود وایو:"اللهم صل على حبيبك ورسولك المجتبى الأمين الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة، ثم التحق بالرفيق الأعلى، وسلم

عليه وعلى آله الطيبين الطاهر ين وعلى أصحابه الغرالميامين وعلى إخوانه أجمعين."

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

﴿د المسد سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د المسد سورې لنډه پيژندنه او لوی پيغام}

درندو دوستانو! د المسد مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالى خپل حکم او پر يکړه د ابو لهب په باره کې چې د رسول الله ﷺ سکه تره ؤ؛ اعلان کړي ده او دئ به د دوزخ اور په سرو لمبو کې کړ يږي، ځکه هغه د خپل وراره پيغمبري ونه منله او د صفا غونډې په سرې د رسول الله ﷺ پيغمبرۍ د لمړي اعلان نه وروسته تر خپل مرګه پورې؛ د رسول الله ﷺ سره کلکه دښمني وکړه، ترڅو چې مختورن د دنيا نه لاړه، او همدارنګه د ابو لهب ميرمن هند بنت حرب چې د مکې مشر ابو سفيان خور وه؛ هغه هم د رسول الله ﷺ په دښمنۍ کې کلکه لګيا وه او خپل زامن يې چې د رسول الله ﷺ زومان ول دې ته اړ کړل چې د رسول الله ﷺ لونې طلاق کړي، نو دا چې د ابو لهب او ميرمنې دښمني يې د رسول الله ﷺ سره ډير لوی جرم او ظلم ؤ، نو ځکه الله تعالى د هغه په باره کې خپله پر يکنده يې يکړه په قرآن کې اعلان کړي ده، ترڅو هغه د حق او باطل په منځ کې د بيلتون غوره مثال او نه هيريدونکې بيلګه وي او ټول خلک يې د قيامت ورځې پورې ولولي او هرڅوک ورڅخه پند واخلي! او د المسد مبارکې سورې په پيل کې الله فرمايلي دي:

{ابو لهب او ميرمن يې د دوزخ اورپه لمبو کې کړ يږي}

﴿تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ٢ سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ٤ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ٥﴾

[١] د ابو لهب دواړه لاسونه وچ او مات سول او دئ خپله هم هلاك سوئ تاواني سه، يعنى دا ځكه چې هغه خپل وراره محمدﷺ ډير وزورا ؤ او د هغه پيغمبريي د صفا غونډئ په سر د ټولو خلكو په مخكې تكذيب كړه او رسول اللهﷺ يي د هغه پيغمبرى په لمړى اعلان سره دروغژن و باله او خپل تر برونه يې رسول اللهﷺ پر ضد دښمنى ته وهڅول، نو هلاكت او تباهي ده وي د رسول الله ﷺ دغسې سپک تره ته.

[٢] او ابو لهب ته د هغه مال او څه شي چې يې په دنيا كې كټلي ول؛ هيڅ ګټه ونكړه، يعنى هغه مال او دولت ابولهب د قيامت ورځې سخت عذاب نه خلاصولاى نسي!

[٣-٤] او ابو لهب به د دوزخ اور په سرو لمبو كې وكړ يږي او ښځه يې هم د دوزخ اور په سرو لمبو كې كلكه وكړ يږي، ځكه هغې به د اغز يو نه ډک مركنډيو لرګي پشا ؤ او د رسول اللهﷺ په لار كې يې شيندل!

[٥] او د هند په غاړه كې به ډير ځير پرئ چې د خرما ونې لښتونه او بدل سوې و ي؛ زوند وي، يعنى هغه به د دوزخ اور ته په راكش كولو سره ورغورځول كيږي!

هو! قدرمنو عز يزانو! دا دئ د رسول الله ﷺ د دښمانو تور برخليک، كه څه هم دا دښمن، لكه ابو لهب د پيغمبر تره وي، او دا ده د عقيدتې بيلتون دښمني چې هيڅ كله پكې خپلوي ځاى او ګته نه لري، لكه څنګه چې تار يخ ور باندې شاهد دئ.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله صحبه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت

استغفرك وأتوب إليك.



د الاخلاص سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{ د الاخلاص سورې لنډه پيژندنه او لوى پيغام }

ګرانو دوستانو! د الاخلاص مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې الله تعالى مونږ ته خپل توحيد او يو والئ په الوهيت کې بيان کړئ دئ، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالى په خپله استغناء باندې چې الله تعالى هيڅ چا ته اړ او محتاج ندئ؛ ټينګار کړئ دئ او د خپل ځان پيدايښت او ز يږ يدلو او د بل چا ز يږولو تورو نه يې کلک رد کړي دي، يعنى الله تعالى نه د چا زوى دئ او نه دئ سبحانه وتعالى څوک زوى لري، او همدارنګه الله تعالى پدې مبارکه سوره کې اعلان کړئ دئ چې هيڅ څوک د الله سيال ندئ، او په پيل کې يې فرمايلي دي:

{ الله چې واحد ولا شريك ذات دئ هيڅ چا ته محتاج ندئ }

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ۝٤﴾

[١] هو؛ اى پيغمبره! [اعلان وکه او] ووايه چې الله يو دئ [نه په ر بو بيت کې څوک سيال او مل لري او نه په الوهيت او عبادت کې، يعنى د الله نه پرته بل هيڅ څوک د عبادت او بنده ګى وړ او مستحق ذات ندئ، او همدارنګه الله په خپلو ښو نومونو او په لوړو صفتونو کې يو دئ او د هغه نومونه او صفتونه د مخلوق او بنده نومونو او صفتونو غوندې ندي، لکه څنګه چې الله تعالى فرمايلي دي:" ليس كمثله شيء وهو السميع البصير... الاية ١١، الشورى " معنا دا چې هيڅ شئ د الله

غوندې ندي او الله ښــه اور يدونکئ او ښــه ليدونکئ لوی ذات دئ، او دا ځکه چې الله خالق دئ، نو خالق هيڅ کله د مخلوق غوندې نه وي.

[٢] او االله [چې د لوړ مقام څښــتن دئ] د ټولو خلکو نه غني ذات دئ، او هيڅ چا ته محتاج او اړ ندئ.

[٣] هو! الله نه د چا نه ز يږ يدلئ دئ او نه څوک د الله نه ز يږ يدلې دي، يعنى الله تعالى واحد او لاشر يك ذات دئ!

[٤] او هيڅ څوک د الله سيال ندي او نه الله ته څوک ورته دي، يعنى الله تعالى خالق دئ او خالق مخلوق ته ورته نه وي، او نه مخلوق د سيالې لائق وي، لکه څنګه چې يې وړاندې د الشورى په سوره کې بيان تير سه.

قدرمنو دوســتانو! او دا يادونه د پام وړ ده چې کيدای سي يو څوک د زمونږ نه د الله تعالى په ځينې نومونو باندې ونومول ســي، او هم کيدای ســي د الله تعالى ځينې صــفتونه په بنده کې موجود وي، خو دا يوازې ظاهري ورته والې دئ، ځکه د الله تعالى ټول نومونه او صــفتونه د هغه لوی مقام ســره لائق نومونه او صــفتونه دي، خو هيڅ څوک د خلکو نه الله غوندې نه دئ، ځکه خالق خپل مخلوق ته ورته نه دئ، او الله تل ژوندئ لوی ذات دئ او پر ټولو کمالې صفتونو باندې موصوف دئ، او دا چې د اخلاص مباركه سوره د الله تعالى د توحيد ډير څرګند او لنډ څلاند دليل دئ، نو ځکه ورته رســول اللهﷺ ثلث د قرآن، يعنى د قرآن در يمه برخه و يلې ده، نو مونږ د رســولﷺ په لارښــودنه تل وايو:" لا إله إلا الله وحده لا شر يك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شي قدير" والحمد لله رب العالمين وصــلى الله وســلم على رســوله الأمين وعلى آله وصــحبه أجمعين، وســبحانك اللهم و بحمدك لا إله إلا أنت اســتغفرك وأتوب إليك.



د الفلق سورې معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې دلوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{ د الفلق سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغام }

درندو عز یزانو! د الفلق مبارکه سوره مدني سوره ده او همدارنګه هغې پسې وروسته د الناس سوره مدني سوره ده، او الله تعالی دا دواړه مبارکې سورې د زمونږ ساتنې او حفاظت لپاره را نازلې کړې دي، او د الفلق په سوره کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته لارښود نه او سپارښت کړئ دئ چې دئ ده خپل ځان د ټولو مخلوقاتو د شر او ز یان رسولو نه په خپل رب الله باندې وسپاري، ترڅو الله تعالی خپل پیغمبرﷺ د دښمنانو د شر نه کلک وساتي، نو ځکه د دغو مبارکو سورو لوستل او ځان او یا بل څوک پر هغو باندې دمول؛ سنت دي، او روایت سوئ دئ چې کله رسول اللهﷺ باندې کودې وسوې، نو بیا الله تعالی ورته په الفلق او الناس مبارکو سورو باندې د ځان دمولو سپارښت وکه، او همدارنګه د الفلق او د الناس مبارکو سورو په فضلیت کې نور ښه ډیر روایتونه هم راغلي دي او یکې دغه دوه مبارکې سورې د ساتونکو په نامه نومول سوې دي، او د الفلق سورې په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

{ د الفلق سوره د شر غوښتونکو شر نه د ساتنې علاج ده }

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ۝١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ۝٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝٥﴾

[۱-۳] ای پیغمبره! ووایه چې زه د سحر سپیدو چاودیدونکي په لوی رب او څښتن باندې ځان سپارم [چې هغه د شپې تورې تیارې پسې رڼا

راواستله] او د ټولو شر غوښتونکو مخلوقاتو د شر او ز يان رسولو نه الله ته پناه وړم، او د تورې شپې شر نه چې کله ښه تياره سي پر الله باندې ځان سپارم، يعنی د الله مرسته غواړم چې ما ورځخه وساتي.

[٤] او په غوټو کې د کوډګرو پوه کولو نه الله ته پناه وړم او خپل ځان ور باندې سپارم.

[٥] او د کينه کښ سړي د ز يان رسولو نه چې کله کينه را سره وا خلي الله ته پناه وړم، يعنی کله چې دا کينه کښ سړئ چا ته حسد او کينه په سر وا خلي، نو بيا ورته چلو نه جوړوي، ترڅو هغه ته ز يان او تاوان ورسوي او په کم نعمت کې چې دئ؛ هغه نعمت ورڅخه وا خلي او صحت او روغتيايې په ناروغۍ او مرض او غناءيې په فقر او عزت يې په خواری او ذلت واړوي.

ګرانو ورښو او خو يندو! نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ په خپل فضل او رحمت سره د هر ډول شر نه وساتي او الله ده د زمونږ او د ټولو مومنانو حافظ او ناصر وي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله وعلى آله وصحبه أجمعين،سبحانك و بحمدك استغفرك وأتوب إليك.

د الناس سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالي په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الناس سورې پیژندنه او لنډ پیغام}

ګرانو دوستانو! د الناس مبارکه سوره، لکه د الفلق سوره مدني سوره ده او پکې د جني او انسي شیطانانو وسوسو نه په ځان ساتنه باندې مونږ ته الله تعالی کلک سپارښت کړئ دئ، او د الناس په مبارکه سوره باندي، لکه د الفلق سوره؛ ځان دمول سنت دي، ځکه رسول الله ﷺ به په دغو دواړو مبارکو سورو باندې تل خپل ځان دما ؤ، او لکه څنګه چې مخکې د الفلق په مبارکه سوره کې وو یل سول روایت سوئ دئ چې کله پر رسول الله ﷺ باندې کوډې وسوې، نو بیا الله تعالی ورته د الفلق او الناس په مبارکو سورو باندې د ځان دمولو لارښودنه او سپارښت وکه، او همدارنګه د الفلق او د الناس سورو په فضلیت او ثوابونو کې نور ښه ډیر روایتو نه راغلي دي، او دغه دوه مبارکې سورې د ساتونکو په نامه نومول سوې دي، نو یقینا چې دا د الله تعالی په پیرزو ینو چې پرخپلو مومنو بنده ګانو باندې یې لري؛ لوی دلیل او ډیر کلک او ځلاند شاهد دئ، او الله تعالی د الناس سورې په پیل کې فرمایلي دي:

{مومنان ده د چاپیریال شر نه د ځانو ساتنه پر الله وسپاري}

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣ مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ۝٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ۝٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ۝٦﴾

[١-٣] ای پیغمبره! [دعاء وکړه] ووایه چې زه د خلکو په لوی خښتن او د خلکو په واکمن رب الله باندې او په ر یښتیا سره معبود باندې ځان

سپارم او هغه ته پناه وړم، ترڅو الله ما د شر اچونکي او ز يان رسونکي جني او انسي شيطان د هغې شر نه وساتي چې هغه د خلکو په سينو کې انديښنې را اچوي، يعنى په زړونو کې يې وسوسي ز يږوي.

قدرمنو وروڼو او خو يندو! نو دعاء کړو چې الله تعالى ده مونږ د ټولو انسي او جني شيطانانو د شر نه په خپل لوى رحمت سره وساتي، او لپاره د دې چې مونږ د دغسې شيطانانو د فتنو او تاوان رسولو نه ځانو نه وساتو؛ را ته ښايي چې سحر او بيګاه خپل ځانو نه په دغو دواړو مبارکو سورو باندي دم کړو، ترڅو مونږ تل د الله په حفظ او ساتنه کې شپې او ورځې په اطمئنان سره صبا کړو، او د پيريانو او انسانانو د هر ډول شر او ز يان رسولو نه په ډاډ او امن کې سو!

والحمد لله رب العالمين الذي بنعمته تتم الصالحات، وصلى الله وسلم وبارك على رسوله الأمين الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة، وعلى آله الطاهرين، وعلى أصحابه الغر الميامين، وسبحانك اللهم و بحمدك لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك. ...

{د قرآن رښا مبارك دعوتي تفسير پای}

قدرمنو وروڼو او خو يندو! الحمد لله دا ؤ د قرآن کر يم د ديرسېپ سپارې د وروستيو مبارکو سوو پښتو معنا سره ده لنډ تفسير چې هغه تاسي ته ليکل سوئ وړاندې سه، او پدې لوی کار سره چې ما ته پکې الله تعالی توفيق را که؛ دا دئ د ټول قرآن کر يم پښتو معنا او لنډ تفسير(د قرآن رښا) دا لنډ دعوتي تفسير په خير پای ته ورسيده، او هغه ما د الله تعالی عاجز بنده (عفی الله عني) محمد ظاهر بن اسدالله مکي په قلم وليکه او بيا مه په ژ به په راديو کې ولوست، او بيا وروسته د دې مبارك تفسير کمپيوټري ليکنه د زما مشرې لور(ام جود حفظها االله وعافها من کل شر) په لوړ همت سره وکړه، او بيا دا کمپيوتري ليکنه يولس ځله ما خپله په کمپيوټر کې ولوستله او تصحيح مه کړه، او د خپلې وسعې سره سم هغه ما ښه کره وکتله، نو دعاء کړم چې الله تعالی ده د زما دا مبارك عمل په خپل حضور کې قبول کړي او هغه ده يوازې د خپلې رضا او خوښۍ لپاره وګرځوي او د ثواب نه دې الله تعالی ما نه محروموي، نو په خپله دعاء کې په وار وار سره وايم:[الحمد لله الذي منّ عليّ بفضله الواسع بترجمة معاني کتابه الکر يم مع تفسيره المختصر بلغة البشتو، وصل الله وسلم على نبيه المبعوث رحمة للعالمين وعلى آله وصحبه أجمعين] او الله تعالی ده خپل دا لوی مبارك کتاب قرآن زمونږ لپاره په دنيا او آخرت کې رښا وګرځوي او په لارښودنو او سپارښتنو دي الله تعالی را ته په عمل کړو سره توفيق را کړي او د هر ډول فتنو او د ګناهونو نه ده الله تعالی مونږ په خپل رحمت سره وساتي... آمين يارب العالمين!

{د بنده بې وسعي او هيله}

هو! يقينا چې هر انسان يو بې وسعې او عاجز بنده دئ، نو ما د دې مبارك تفسير په ليکلو کې او بيا په وار وار سره د هغه په کره کتنه او تصحيح کې هڅه وکړه چې خپلې ټولې علمي، ادبي او املايي تيروتنې او غلطۍ سمې کړم، خو بيا هم د بنده کار د نقصان او کمښت نه خالي

نوي، نو د ټولو قدرمنو دوستانو نه په درناوي سره؛ هيله کوم چې تيروتنې را ته په ګوته کړي، او که ممکنه وه؛ هغه ما ته په واتساپ شمېره کې راولېږي، ترڅوپې تصحيح کړم، او دوی ته د خير دعاء وکړم چې دوی الله تعالى په ثواب کې شر يك کړي، لکه څنګه، چې روايت سوئ دئ رسول الله ﷺفرمايلي دي:"من دلّ على خير فله مثل أجر فاعله"رواه مسلم، او د زما واتساپ شمېره دا ده: (٠٠٩٦٦٥٠١٣٧٧٩٠٠)

او د يادونې وړ بولم چې د دې مبارك تفسير قلمي کتنه دوه ځله ولوستل سوه او بيايې کره کتنه او تصحيح په کمپيوتر کې هم دوه ځله ولوستله سوه، او بيا په چاپ سوو پانوکې يې؛ يو ځل بيا کره کتنه او تصحيح وسوه، او بيا هغه په کمپيوټر کې د در يم ځل لپاره تصحيح سوه، او په ځلورم ځل کې بيا د ټول قرآن د مبارکو آيتونو او د تفسير ټولو موضوعاتو سر ليکونو همغږي او تنظم ترسره سول، نو پدې ډول د ټول تفسير تاليف او قلمي او کمپيوټري ليکنه او بيايې کره کتنې په لاندې ډول ترسره سوې دي:

لمړئ: (د قرآن رنا) د مبارك تفسير ليکلو پيل د ١٤٣٦هـ ق کال د ذوالقعدې مياشتې لمړ يو ورځونه چې د ٢٠١٥م کال آګست او د اسد برج ١٣٩٤هـ ش سره سمون خوري ؤ، او بيايې د ليکلو پای د سه شنبې په مانښام ؤ چې هغه د ذې القعدې مياشتې ١٤٣٩هق کال سره او د ميلادي (٢٤-٧-٢٠١٨) کال او د زمري برج دو يم ١٣٩٧هـ ش کال سره موافق ؤ.

دويم: او بيا يې کمپيوتري ليکنې کره کتنه او تصحيح لمړئ پړاو ما د سه شنبې ورځې په غرمه د شعبان مياشتې ١٤٤١هق کال چې د ٢٠١٩م کال اپريل ١٤ او د هش ١٣٩٨کال د حمل برج آخر سره برابر ؤ پای ته ورسا ؤ.

دريم: او بيا يې د دو يم پړاو کره کتنه او تصحيح په کمپيوتر کې د جمعې مبارکې ورځې په سحر د ١٤٤٢هق کال محرم مياشتې په ٢٣ورځ پای ته ورسيده، او هغه د ٢٠٢٠م کال سپتمر يولسم (١١) سره او د ١٣٩٩هـ

ش کال د سنبلې برج ۱۰ سره برابر ؤ.

څلورم: او بیا د قرآن رڼا تفسیر د کمپیوتر نه په پاڼو کې چاپ سه، او په پنځمه مرحلو یا پړاونو کې هغه ما ولوست او تصحیح مه که، او بیا هغه په کمپیوټر کې هم تصحیح سه، او دا دئ نن چې د خالي یا د شنبې ورځ د رمضان مبارکې میاشتې شپږ و یشتم دئ؛ د پنځم ځل لپاره کره کتنه او تصحیح الحمد لله پای ته ورسیده.

پنځم: او په شپږم ځل کې بیا د ټول قرآن د مبارکو آیتونو معنا او لنډ تفسیر وکتل سه او دا دئ هغه نن د دوشنبې ورځې په غرمه کې چې د ۱٤٤۳هـ ق د رجب مبارکې میاشتې (۲۷) او د هجري شمسی ۱۴۰۰کال د حوت ۹ سره او د ۲۰۲۲م کال فبروري (۲۷) سره برابردئ پای ته ورسده.

اووم: او بیا د او وم ځل لپاره ټول تفسیر ښه په د قت سره ولوستل سه او پدې کتنه کې ښه ډیر څه پکې وړاندې او وروسته او همدارنګه ډیر څه پکې تعدیل سول، او په پنځو جلدونو کې په (pdf) کې نن شپه چې د جمعې مبارکه شپه ده، او د هـ ق (۱٤۰٤) کال د رجب میاشتی (۲۵) او د میلادي ۲۰۲۱ کال فبروري ۱٦ او د هـ ش ۱٤۰۱ کال دلو برج ۲۷ سره سمون خوري، لمړي چاپ په خورولو ته الحمد لله تیار سه او Pdf کې ښه ډیر خور سه او په واتساپ کې دوستانو ته ولیږل سه.

او دا دئ نن چې د جمعې مبارکې ورځې صباح (سهار) دئ او د ر بیع الاول میاشتې ۲۰ د هـ ق ۱٤٤۵کال سره سمون لري، او د هجري شمسي **۱۴-۲ کال** میزان برج ۱۵ سره برابر دئ، او د میلادي ۲۰۲۳ کال اکتوبر ۶ سره موافق دئ؛ دو یم pdfچاپ هم الحمد لله په څلورو جلدونو کې چاپ ته تیاره سه، نو دعا کړم چې الله تعالی ده په خپل لوی رحمت سره د دې مبارك دعوتي تفسیر کاغزي چاپ کار هم اسانه کړي او بیا دې الله تعالی قبول په برخه کړي، ترڅو زمونږ د پښتو لوستونکي دوستان ورڅخه ګټه واخلي، او د خپل لوی څښتن کلام قرآن کر یم په معنا پوه سي، او په حکمونو او ګټورو لارښودنې یې په خپل ژوند کې عمل وکړي، او د دنیا او

آخرت ښادي او نيکمرغي وکړي، اللهم آمين يارب العالمين.

[د ګڼ شمير محترمو مولويانو او پوهاندانو نظريات په پام کې نيول]

او همدارنګه (د قرآن رڼا) لنډ دعوتي تفسير لمړۍ جلد ګڼ شمير محترمو پوهاندانو مولو يانو ته وليږل سـه او بيا د دوی وړانديځونه په نظر کې ونيول سـول، او د دوی تقر يظونه او نظرونه همدلته د تفسـير په پای کې ليکل سوي ثبت دي.

د اتم - نهم اولسم ځل تصحيحات او کره کتنه:

هو؛ درندو ورونو او ګرانو دوسـتان! د اتم –نهم او بيا د لسـم ځل لپاره دا مبارك تفسـير الحمد لله بيا بيا د ژورې کتنې سـره ښـه ډير تصحيح سـه، او پدې وروسـتي کتنه او مراجعه کې د پښـتو املا دود ليک تر ډيره حده په پام کې ونيول سـه، لکه څنګه چې وړاندې يادونه وسـوه؛ او په څلورو ټوکونو يا جلدونو کې چاپ ته تيار سـوئ دئ، نو الله دې کاغزې چاپ هم اسانه کړي او قبول دې په نصيب کړي. اللهم آمين يارب العالمين.

صـباح الجمعة ٢٠من شـهر ر بيع الاول٢٠عام ١٤٤٥ هـ ق الموافق ٦ اکتوبر٢١٢٣م چې د ١٤٠٢ هـ ش کال د ميزان برج ١٥ سره برابره ده.

مکه المکرمه- جنوبي عز يز يه- د ستر اللحياني غرنۍ مينه.

يولسم ځل کره کتنه: او دا دئ نن د پنجشبې يا ګل ورځې مازديګر چې د هـ ق ١٤٤٥ کال ذي القعدی مياشـتی ١٥ده، او د هـ ش ١٤٠٣ کال جوازا برج ٤ سـره سـمون خوري، او د ٢٠٢٤م کال مې برج ٢٤ سـره برابره ده، د يولسـم ځل لپاره دقيقه او کره کتنه هم الحمد لله پای ته ورسـيدله، والحمد لله الذي بنعمته تتم الصـالحات، وصـلى الله وسـلم على رسـول الله وعلى أصحابه أجمعين.

د سـتاسـې دعاګوی دکتور مولوي/ محمد ظاهر مکي د مرحوم ملك اسد الله خان لا لا (رحمت الله عليه) کشر زوی په قلم.

{د قرآن رښا پښتو لنډ دعوتي تفسير مدارک}

قدرمنو دوستانو! [د قرآن رښا] پدې لنډ دعوتي تفسير کې دغو لاندې عر بي او پښتو لنډو تفسيرونو ته ډيره يا لږ مراجعه سوې ده او ورځخه ګټه اخستل سوي ده:

{عربي لنډ تفسيرونه}

١- فتح القدير د علّامة محمد بن على الشوكانى تأليف، او هغه تل د زما په ميز پروت وه.
٢- جلالين د جلال محلي او د جلال السيوطى تأليف.
٣- تيسير الكر يم الرحمن في تفسير كلام المنان د شيخ عبد الرحمن السعدي تاليف.
٤- مختصر التفسير د جناب شيخ دكتور/ صالح بن عبد الله بن حميد د مسجد الحرام امام او خطيب د پاملرني لاندې د جيدو علماوو يوې ډلګې جمع او تاليف.
٥- المصباح المنير في تهذيب تفسير ابن كثير د شيخ صفى الرحمن مباركفوري د پام لاندې د يوې ډلګې علماوو تأليف.
٦- أيسر التفاسير دشيخ ابو بكر الجزايري رحمة الله عليه تأليف، او په وروستي ثلث کې ورته ښه ډيره مراجعه سوې ده.
٧- التفسير الميسر چې د سعودي عربستان د اسلامي چارو او د اوقاف وزارت په پاملرنه د اوسنيو علماوو او مفسر ينو يوې غوره سوې ډلګې لخوا ليکل سوئ لنډ تفسير دئ، او په مدينه منوره کې د ملك فهد بن عبد العزيز رحمه الله د قرآن کر يم چاپولو ټولنې چاپ کړئ دئ، او د دې لنډ تفسير نه ښه ډيره استفاده سوې ده، او هغه به تل د زما پر ميز پروت وه، او دا ځکه چې دا تفسير پرحقيقت کې د قرآن کر يم لنډه عربي معنا ده، نو ځکه [د قرآن رښا] په خپل لنډ تفسير کې ما د هغه نه ښه مناسبه استفاده کړې ده.

٨- قبس من النور د شـــيخ محمد على الصـــابوني رحمة الله عليه تاليف، خو دې تفســـير ته يوازې په ځينو وروســـتيو ټوکونو کې مراجعه سوې ده، ځکه د هغه ټول ټوکونه زما سره نه ول.
٩- نحو تفسير موضوعي د شيخ محمد الغزالي تأليف، اود دې لنډ تفسير نه هم ډيره لږ استفاده سوې ده.

{ پښتو لنډ تفسيرونه }

الحمدلله دا وروســتي پنځوس کلونه د هجري قمري پنځلســمې پيړۍ چې د هجري شمسي څوارلسمې پيړۍ وروستي نيمايي سره سمون لري؛ د پښتو تفسيرونو تاليف او ترجمې کلو نه ول، او پدې کلونو کې الحمد لله ښــه ډير تفســرو نه په پښــتو ليکل ســوي دي او د زما معلوماتو ســره دا لاندې تفسيرو نه د يادونې وړ دي:

١- کابلي تفسير چې شيخ محمود الحسن هندي او شيخ شبير احمد عثماني رحمت الله عليهما په اردو تاليف کړئ دئ او بيا په کابل کې د علماوو يوې ډلګۍ مولوي صاحبانو رحمت الله عليهم جميعا پښــتو ته ژ باړلئ دئ، او دا تفسير ما يوازې د ځينې کلمو د پښــتو معنا د لا ښه وضاحت په مقصد ډير لږ کتلئ دئ.
٢- عز يزي تفســير چې د شــوروي ښــکيلاک خلاف مجاهد مولوي ســلطان عز يز مومند رحمت الله عليه په دولســو توکو کې تاليف کړئ دئ، خو دې مبارك تفسير ته ما هيڅ ډول لاس رسئ نه درلود.
٣- معارف اسلام تفسير چې د اردو نه پښتو ته ژ باړل سوئ دئ، خو ما ور ته لاس رسئ پيدا نسه کړای.
٤- د تفهيم القرآن پښتو ترجمه د مرحوم مولوي/ قيام الدين کشاف په قلم، او د دې تفســير لنډه برخه، چې د مولف په قلم؛ پوهنې وزارت چاپ کړې ده، د پښتو ترجمې لپاره ډير لږ کتل سوې ده.
٥- د قرآن ټکي په ټکي روانه ترجمه د مولوی ســر فراز جانباز رحمة الله عليه په قلم، او هغه هم د ځينې کلمو پښتو معنا د وضاحت په مقصد ډير لږ کتل سوې ده.

٦- د قرآن پلوشې د تورې، ژبې او د قلم مشر مجاهد او د افغانستان په اوسني علمي تار يخ کې د هيواد وتلي ليکوال او په اسلامياتو کې د بې ســيالـه مؤلف محترم انجينر/ ګلبدين حکمتيار حفظه الله تاليف، او دا تفسـير چې هغه د زما معلوماتو په اسـاس په پښـتو کې لمړنۍ تفســير دئ چې په لوړه ادبي ژ به ليکل ســوئ دئ، او په اتو ټوکونو کې چاپ ســوئ دئ؛ خو هغه ته هم ما ډيره لږ د ګوتو په شــمير برخو کې مراجعه کړې ده، ځکه هغه په نيت کې وه، او چاپ ســوي کتاب ته يې ما لاس رسـئ بيانمود، او په نيت کې ورته لاس رسئ شـه ډير ستونزمن وه.

٧- د قرآن کر يم ترجمه ســره د لنډ تفســير د پوهاند: عبد الســلام عظيمي په قلم او هغه هم ډير وروســته ما د کابل نه راوغوښــت، نو هغه هم ما ډير لږ کتلئ دئ، او دا لنډ تفســير پرحقيقت کې د کابلي تفسير لنډيز دئ او هغه پوهاند عظيمي د مصحف حاشـيه کې چاپ کړئ دئ، ترڅوپې لوستل د تلاوت سره اسانه وي.

٨- د وقار تفسير چې پوهاند دکتور دل آقا وقار(أثابه الله) په دولسـو کلونو کې خپلو شـاګردانو ته تاليف کړئ دئ، خو هغه هم ما ډير وروسته د پوهاند صاحب نه راوغوښت، نو ډير لږ ما وکوت.

٩- (نور فروزان) فارســي تفســير د پوهاند دکتور عبدالرحيم فيروز هيروي تاليف او هغه هم پدې وروسـتيو مياشـتو کې د زما لاس ته راغئ، نو ډيره لږ کتل سوئ دئ.

او دغو ټولو قدرمنو مفسر ينو ته د الله تعالى نه ثواب او اجر عظيم غواړم چې د الله تعالى کتاب خدمت يې کړئ دئ او هغه يې خپل قوم ته په پښتو تفسير کړئ او ژ باړلئ دئ، اللهم آمين يارب العالمين.

او همدارنګه الحمد لله نور شـه ډير پښـتو تفسـيرونه هم په پيښـور کې چاپ سـوي دي، خو زه يې په لوسـتلو موفق نسـوم، او ټولو مولفونو ته د الله تعالى نه اجر عظيم غواړم چې دوی هر يوه خپل ولس ته د الله تعالى کتاب د دوی په خپله ژ به وړاندې کړئ دئ، وجزاهم الله جميعا کل خير.

{د مؤلف [٥٢] کلونو زدکړې، علمي او دعوتي مبارك مزله پانې ته لنډه کتنه}

الحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله وسلم على رسوله المبعوث رحمة للعالمين وعلى آله وأصحابه و إخوا نه أجمعين، أما بعد:

هو! الحمد لله زه د الله تعالى د لوېې پېرزو يې او پاملرنې نه ډېر مننډوی او شاکر او ستايونکئ يم چې ما ته يې د اسلامي ثقافت او د شرعي علومو زدکړې لار خوښه او غوره کړه، او بيايې را ته الحمد لله د ژوند په وروستيو کلونو کې توفيق را کړ چې (د قرآن رښا) پښتو دا لنډ دعوتي تفسير وليکم، او هغه په ژ به لوستل سوئ او بيا په کتاب کې ليکلئ [اپ سوئ؛ خپل قوم ته په پښتو خوږه ژ به وړاندې کړم [فالحمد لله على ذلك حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه ملء السموا ت والأرض وملء ما بينهما والشكر له سبحانه أولا وآخرا]

درنډو عز يزانو! د خپلې طالب العلمۍ او بيا د دعوت او تدر يس د اوږده مزله داستان دلته من باب التحدث بنعمة الله يادوم، او هم کيدای سي چې دا داستان د ځوانو طالب العلمانو لپاره ښه تشو يق وي او دوی پدې پوه سي چې د علم او زدکړې پرديسيتوب اوږد مزل؛ د الله تعالى توفيق نه ورورسته؛ کلک صبر، غښتلي عزم او قوي تصميم غواړي.

ګرانو دوستانو! زما د طالب العلمۍ او بيا د دعوت او د تدر يس (٥٢) کلنۍ لنډې قصې بيان پيل او پای پدې لاندې څو ټکو کې را لنډوم:

{نوم شهرت او د ز يږ يدلو نيټه او پلرني کلئ }

درنډو دوستانو! د ستاسې دعاګوی مولوي دکتور/ محمد ظاهر بن اسد الله مکي؛ د پروان ولايت د غوربند لوېې درې د شنوارو ولسوالۍ د ملايي په کلي کې په (١٣٣١هـ ش) کال چې د ميلادي ١٩٥١کال سره سمون خوري ز يږدلئ دئ، او بيا تخمينا په ١٢کلنۍ کې د ١٣٤٢هـ ش کال په مني کې د علم زدکړې او طالب العلمۍ پسې پرديسئ سوم، او د الله تعالى په

توفيق سره دا لاندې مزلونه ما وهلي دي:

{د زدکړې او د علمي تحصيل دوره}

١- د زما لمړۍ زدکړه د چار يکار- کابل د لوی سړک لاندې او باندې د ځينو کليو په وړو مدرسو کې پيل سوه، او په دغسې مدرسو کې ځلور کاله پرله پسې ما لمړۍ زدکړه وکړه او سبقونه مه پکې ولوستل، نو دعا کړم چې الله تعالى ده زما د دغې لمړۍ دورې ټول معلمان او استاذان و بښي او فردوس اعلى دې ځای کړي، او په ځانګړې ډول د زما لمړي دوه ډير ګران او مهر بان روزونکي ملايان معلمان:١- مرحوم حاجي ملا عبدالبصير آخند د ملاعبد الجليل اتمانخيل آخند زوی؛ د چار يکارو د عبدي بای کلي اوسيدونکئ (رحمت الله عليه) چې زه يې د زما ګران پلار مرحوم ملك اسد الله خان لا لا (رحمت الله عليه) په اجازه ځان سره سبق پسې د شمالي قره باغ ته بوتلم، ځکه په هغه وخت کې زمونږ په کليو کې؛ هيڅ مکتب او مدرسه نه ول، او د مرحوم حاجي ملا عبد البصيرآخند (رحمت عليه) سره ما يوازې د ١٢٤٢هش کال ژمئ تير کړ.

٢- مرحوم حاجي ملا صاحب/ لعل محمد بن شرف الدين آخوند د غور بند کوشان درې اوسيدونکئ (رحمت الله عليه رحمة واسعة) او دغه دواړه حاجيان ملا صاحبان د زما درانده مرحوم پلار کلک عز يزان ول، نو زه دوی ته خپل مهر بان پلار لاس په لاس وسپارلم، ترڅو دوی پر ما باندې، لکه پلار او د هغه نه هم ښه پاملرنه وکړي، او ما ښه صالح وروزي او د لمړۍ زدکړې نه ما برخمن کړي، ځکه په هغه وخت کې (١٣٤٢هـ ش کال په مني کې) لکه څنګه چې وړاندې يادونه وسوه؛ زمونږ په سيمه او کليو کې؛ هيڅ مکتب او مدرسه نه وه.

٣- او د مرحوم حاجي ملا صاحب لعل محمد شرفزي (رحمت الله عليه) سره ما څه باندې دوه کاله سبق ولوست او وروستئ کتاب مستخلص د کنز الدقائق شرحه وه.

٤- د ١٣٤٧هـ ش کال په پسرلي کې د کابل په دار العلوم عربي کې شامل سوم او بيا د ١٣٥١هـ ش کال حوت په مياشت کې د دولسم ټولګي نه په ارتقايي امتحان کې د فارغيدو سره الحمد لله د مولوي لقب څښتن سوم.

٥- د ١٣٥٢هـ ش کال د پسرلي په ثور کې د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي محصل يا زدکيال سوم، او بيا د ١٣٥٣هـ ش ژمي د دلوې په مياشت کې چې د ١٩٧٥م کال او د ١٣٩٥هـ ق کال سره سمون خوري؛ په يو تعليمي بورس کې د خپلو(٩) کسانو همصنفيانو سره سعودي عربستان ته لاړم، او هلته الحمد لله د مکې مکرمې شرعياتو پوهنځي يا کلية الشريعة کې په در يم صنف کې طالب العلم او محصل سوم.

٦- په ١٤٠٨هـ ق کال چې د ١٩٨٨م کال سره سمون خوري د ام القرى جامعې يا پوهنتون څخه د ماسترۍ علمي درجې لاس ته راوړنې نه وروسته د دکتورا علمي رتبې برئ ليک په مقايسوي فقه کې په ممتازه يا اعلى درجه را کړل سه، او د الله تعالى په توفيق د دکتورا علمي رتبه د زما چې لمړنئ افغان وم په برخه سوه، والحمد لله رب العالمين على أفضاله و هباته الكثيرة التي أنعمها علي.

{د دعوت او تدر يس مبارکه دوره او اوږده کلونه}

(١) د ١٣٩٥هـ ق کال نه تر ١٤٠١هـ ق کاله پورې په حج کې افغاني او ايراني حاجيانو ته په فارسي او په پښتو ژ به د حج، عمرې او د ز يارت حکمونو او آدابو بيانونکئ او واعظ.

(٢) د ١٤٠٢هـ ق کال نه تر ١٤٣٢هـ ق کاله پورې د جدې راديو فارسي قسم کې و ياند او د سلهاوو د يڼې، ثقافتي او اعلامي مقالو ليکوال او و ياند، او په دغو مبارکو کلونو کې الحمدلله د قرآن

کريم دوه ثلثه فارسي لنډ تفسير (درسايه قرآن) ترنامه لاندې ما د دغې راديو څپونه خور که.

(۳) د ١٤٢٣هـ ق نه تر ١٤٢٩هـ ق کال پورې د جدې راديو پښتو برخه کې د قسم موسس مشر و ياند او د سلهاوو ديني او ثقافتي مقالو ليکوال او و ياند، او بيا وروسته د پښتو قسم په دو يمه دوره کې هم سلهاوو مقالي او د ټول قرآن کر يم پښتو معنا سره د لنډ دعوتي تفسير الحمد لله ما وليکل او خپل قوم ته مه هغه د راديو څپونه په خپل غږ واورول، چې [د قرآن رڼا] دا لنډ تفسير هم ما په خپل غږ درندو اور يدونکو ته په درې کلو کې واوراوه، او دا دئ هغه غځيز تفسير اوس الحمد لله په کتاب کې (د قرآن رڼا) پښتو لنډ دعوتي تفسير په نامه ګران لوستونکي لولي، او غځيز لنډ تفسيريې هم د ټولينزو رسنيو څپو نه، لکه (فيسوک، تلګرام او واتساپ نه) هره اونۍ يوه برخه او کله دوه برخې؛ خور يې، او هغه ټول په ۳۱۶ برخو کې؛ تلاوت سره د پښتو معنا ثبت سوئ دئ او ګوګل درايب ته هم پورته سوئ.

(۴) د ١٤٠٢هـ ق کال نه تر ١٤١٣هـ ق کاله پورې چې هغه د ١٣٥٩هـ ش کال نه تر ١٣٧١هـ ش کال سره سمون خوري، او هغه وخت په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد اشغال پر ضد د افغانستان مجاهد ملت د جهاد او مقاومت کلونه ول؛ د مکې مکرمې، جدې او د طائف په ښارونو کې ميشتو مهاجرو افغانانو ته د ثقافتي او دعوتي پوهاوي په درشل کې هم ما د خپلې وسعې سره سمه برخه واخسته او په مناسبتونو کې به ما د مجاهدينو استازو په ملتيا افغانانو ته و ينا‌وې او وعظ کا وه.

(۵) د ١٤١٠هـ ق کال نه تر ١٤٤١هق کاله رمضان پورې چې د ميلادي ١٩٩٠م کال نه تر ٢٠١٩م کال مارچ سره سمون خوري په مکه مکرمه کې د (رابطة العالم الإسلامي) عالي انستيوت، او بيا وروسته نړ يوالې اکادمۍ کې د مقارنې فقه او د دعوتي فقه پوهاوي

او د اسلامي ثقافت او د سيرت النبي مضمونونو تدر يس ما پوره (١٣) كاله همكار استاذ تدر يس وكه، او په لمړيو كلونو كې د ماستۍ رسالو په اشراف او مناقشو كې هم ما برخه واخستله.

(٦) د ١٤١٧هـ ق نه تر ١٤٢١هـ ق كاله پورې د مكې مكرمې په ام القرى پوهنتون كې د اسلامي ثقافت همكار استاذ وم.

(٧) په ١٤٢٢هـ ق كال پوره يو كال د رابطې عالم اسلامي په (مجمع الفقه الاسلامي) كې علمي باحث او مفتي وم.

(٨) او د ١٤٢٣هـ ق نه تر ١٤٣٧هـ ق بيا د رابطة العالم الإسلامي عالي معهد ته د استاذ مساعد يا پوهندوى په صفت ورستون سوم، او بيا وروسته له تقاعد نه د ١٤٣٧هـ ق نه تر ١٤٤١هـ ق كال پورې همكار استاذ پاتې سوم.

(٨) د ١٤٤١هـ ق د رمضان مباركې مياشتې نه تر ذى الحجې مياشتې (١٤٤٣ق هـ) پورې د اسلامي نړۍ رابطې په (هيئة علماء المسلمين) اداره كې علمي باحث وم يا علمي محقق وم.

قدرمنو دوستانو! دا وه زما د زدكړې او بيا د تدر يس او دعوت پانې د اوږده مزله لنډ داستان، نو هيله ده، چې هغه د الله تعالى سره منظور وي، او خپل رحمت د زما پدې وروستي پاتې مبارك عمر كې په دنيا كې را په برخه كړي، او په آخرت كې د محشر په لو يه ورځ الله تعالى ما په خپل فضل او رحمت سره د طالب العلمانو په ليكه او قطار كې خپل پاك حضور ته ومني او سپين مخۍ مه ودروي، او د هر ډول خوارۍ او مختورنۍ نه الله تعالى ما او د زما ټول دوستان او ورونه؛ وساتي.

اللهم آمين يارب العالمين، والحمد لله أولا وآخرا والعاقبة للمتقين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله الطيبين الطاهرين وعلى أصحابه الغرالميامين وعلى إخونه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

{د مؤلف تاليفات او ځينې ليکلې مقالې}

[عربي تاليفات]

١-(فضـائل صـلاة الجمعة وأحكامها) د ماسـټرۍ رسـاله او هغه څوځو ځله په پيښور او په مکه مکرمه چاپ سوې او خوره سوې ده.

٢-(كتاب الشهادات الكبرى) او هغه په مقارنه فقه کې د الحاوي الكبير يوه برخه ده، چې قاضي القضاة ابو الحسن علي الماوردي البغدادي المتوفى سنة (٤٥٠هـ ق) رحمت الله عليه تاليف کړئ دئ، او پکې يې د شافعي فقهې د علامه مزني مختصر شرح کړئ دئ، او بيا هغه ما تحقيق کړئ او علمي څېړلئ دئ، او د پام وړ ده چې (كتاب الشهادات الكبرى) چې د الحاوي الكبير برخه ده؛ په قضايي فقه کې لوی قاموس شمېرل کېږي، او دا کتاب زما د دکتورا رساله وه او په ټيپ چاپ سوئ دئ.

او د زما دا علمي رساله د ١٤٠٨هـ ق کال د ذوالحجې په مياشت کې چې د ١٩٨٨م کال سره موافق وه؛ د مصر او سورى ازهري علماوو يوې معتبرې علمي لجنې يا کمسيون د غړو لخوا د مکې مکرمې ام القرى په دولتي پوهنتون کې مناقشه سوه، او الحمدلله ما ته يې د دکتورا الدولة علمي اعلى (ممتازه) درجه را کړه.

٣-(فقه القضايا المعاصرة) او دا رساله چې ما د خپلو شاګردانو ماسټرۍ دورې ته تاليف کړې وه؛ د علمي تحکيم نه وروسته په مکه مکرمه او په پيښور کې چاپ او خوره سوه.

٤-(مقدمة في مصطلحات الفقهاء وأصول المذاهب الأربعة) او هغه هم وروسته له تحکيم نه؛ دوه ځله په مکه مکرمه او په پيښور کې چاپ سوې ده.

٧- (الملخص في القواعد الفقهية) او د بحث د رابطې عالم اسلامي په عربي مجله کې نشر سوئ دئ.

٦-(التأمين بين الفقه والقانون) بحث محكّم منشور في مجلة الرابطة وفي مجلة معهد إعداد الأئمة والدعاة السنوية.

او د دغو څلور وروستيو بحثونو په علمي تحكيم سره چې هغه ما خپلو شاګردانو ته ليکلې ول؛ د پوهنوالۍ علمي رتبه را ته راکړه سوه، والحمد لله على توفيقاته حمدا كثيرا مباركا فيه.

[فارسي تاليفات]

٨- (شـرح الصـدور) د علا مه الشـيخ علي الشـوكاني رحمة الله عليه يوه وړه رساله، او هغه ما په فارسي ترجمه كړې او چاپ سوى ده.

٨-(صفة الحج والعمره) په فارسي چاپ سوئ دئ.

٩-(درسايه قرآن) د قرآن كر يم پيل نه تقر يبا دوه برخې د درې برخونه د ټول قرآن فارسي لنډ دعوتي تفسير، او هغه قلمي دئ.

١٠. او نورې سلهاوو دعوتي او ثقافتي مقالې چې هغه ما په فارسي ژ به راديو ته ليکلې او نشر سوې دي او د زمونږ اور يدونكو ورځخه په راديويي اور يدلوسره په خپل وخت كې استفاده كړې ده او په راليږلو ليكونو كې تل مننه كړې ده.

{ پښتو تاليفات او ليكنې }

١٠-(د قرآن رڼا) پښتو دعوتي لنډ تفسير او هغه همدا لنډ مبارك تفسير دئ.

١١-(د ايمان اساسات او بنسټونه) او پكې د ايمان اركان او د عقيدې مسئلې شرحه سوې او روښانه سوې دي او هغه قلمي دئ.

١٢-(د ايمان وړانګې د ژوند رڼا ده)

١٣-(شكونه د حقيقتونو په رڼا كې) او هغه د سلونه پورته د قلمي مقالو مجموعه ده.

١٤-(تل پاتې عقيده) او دا هم د قلمي مقالو يوه مجموعه چې د عقيدې په مسئلو كې ليكل سوې ده.

١٥- د حج احكامو، آدابو او لارښودنو سلهاو قلمي مقالې.

او همدارنګه د سلهاوو نورو فكري مقالو مجموعې چې په فارسي او پښتو ليكل سوې دي او بيا قدرمنو اور يدونكو ته د جدې راديو نه خورې سوې دي، او هغه ټولې قلمي دي.

والحمد لله على توفيقاته ونعمائه الوافرة حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله الطيبين الطاهر ين وعلى أصحابه أجمعين.

په مکه مکرمه کې د دعاتو ښوونې او روزنې عالي انستيتوت پخوانۍ استاذ د کتور مولوي / محمد ظاهر بن اسد الله مکي په قلم.



[د لمړي ټوک په کتلو سره د پوهاندانو او مولویانو نظرونه]

١) قاري مومن د افغانستان جمعیت علماء پخوانۍ رئیس شفوي دعا او ستاینه.
٢) استاذ دکتور مولوي/ فضل الرحمن عبد الغفور مدني د اسلام آباد اسلامي پوهنتون د فقه او قانون پوهنځي استاذ.
٣) مولوي/ محمد هاشم غور بندئ په نصرت مینه کې د قیس بن سعد ﷺلیسې پخوانۍ استاذ.
٤) مولوي/ عبد الاحد احمدي د نصرت مینی فعال واعظ، داعي او د قیس بن سعدﷺ په لیسه کې د تفسیر او عقائدو استاذ.
٥) أستاذ دکتور پوهاند/ دل آقا وقار د وقار تفسیر مؤلف او د جلال آباد پوهنتون پخوانۍ رئیس.
٦) أستاذ دکتور پوهاند/ عز یزالرحمن مکي د جلال آباد پوهنتون د کتاب او سنت څانګې عالي تحصیلاتو رئیس.
٧) أستاذ دکتور پوهاند/ مصطفی نیازئ د جلال آباد حقوقو پوهنځي عالي تحصلاتو رئیس.
٨) پوهاند دکتور/ عبدالرحیم فیروز هروي په ر یاض کې د اسلامي تعلیماتو مشر استاذ او د نور فیروزان فارسي تفسیر مؤلف.

او دغو ټولو علماوو او ځیني نورو ته؛ د قرآن رښا تفسیر لمړئ ټوک، او پوهاند هروي صاحب ته ټول تفسیر په واتساپ کې ولیږل سه او بیا دوی خپل نظرونه راولیږل او هغه ټول د اووم ځل په کره کتنه کې په پام کې ونیول سول، او پدې لاندې ډول د دوی د نظرونو او تقر یظونو ځیني برخې لیکل سوې دي:

-أستاذ دکتورمولوي/ فضل الرحمن عبد الغفورمدني

بسم الله، والحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وبعد:

دقدر وړ ورور دکتور مولوي محمد ظاهر مکي حفظه الله چې (د قرآن

رڼا) په نوم د الله -ج -د دي سپيڅلي کتاب معنا اولنډ تفسير ليکلئ دئ او نژدي ده چي أفغاني ټولني ته په خورا ښکلي بڼه وړاندي شي.

ما د دي تفسـير د لومړي ټوک په ســر يزه دقيق او په يو څه نورو موضوعاتو لنډ نظر واچاوه .

نودا راته جوته شـوه چي: محترم ورور بي له شـکه يوسـتر خدمت کړي دئ، او په خورا اســانه اوروانو الفاظو يي د پاک الله دمقدس کتاب (قرآن کريم) معنا او لنډ تفسير مينه والو ته عموما اود پښتو ژبي ويونکو ته خصوصا وړاندي کړي دئ، نو ټول يي بايد مننډوي وي .

د زما په آند د دي ستر خدمت ترسره کول دوه مهم لاملونه لري:

١ – د الله جل جلاله د فضــل وروســته په مکي مبارك حرم کي د نومورې هستوګنه چي د څه کم پنځوسو (٥٠) کلونو نه راپديخوا ور پکي ژوند کوي، که همدا ورور له دي مودي ز يات وخت هم بل کوم ملك کي تير کړي واي، دغه علمي لاسته راوړنه يي نه شوه ترلاسه کولاي .

٢ – د خلق الله خدمت عموما او د اهل علمو خدمت خصـوصـاچې ماته په څرګنده توګه ثابته ده چي عزتمن دکتور صــيب داکار په خورا ور ينه تنډه او پوره اخلاص سره د خپل وس سره سم ترسره کړئ دئ، او کر يم رب دي ورته اجر ورکړي .

پته دي نه وي چي: دنومورې يواځي دا علمي لاســته راوړنه نه ده، بلکي د دي ترڅنګ نوري علمي لاســته راوړني هم لري او څه باندې ديرس کاله يې تدر يس کړئ دئ، نو الله ده د هغه دا تفســير ورته صــدقه جار يه وګرځوي، آمين يا رب العالمين.

د / فضل الرحمن عبد الغفور په اسلام اباد کي دنړيوال اسلامي پوهنتون دشرعياتو او قانون پوهنځي أستاذ .

تاريخ : ١٤٠١/٤/٣٠ هـ ش لموافق لميلادي : ٢٠٢٢/٦/٢٠

- مولوي/ محمد هاشم غوربندي اتمانخيل داسي ليکلي دي:

عزتمن مولوي صاحب! (د قرآن رڼا عظيم الشان قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير) مو يواندازه د نظره تير کړ ماشاءالله څومره په خوږه او کليواله پښتو ژبه او لهجه مو ز يار ايستلئ چې د ليکوالانو او مفسيرينو د يادولو او ستايني وړ ټکي به ستاسو لپاره همدغه خوږه ترجمه او کليوالي عام فهمه پښتو ژ به او لهجه وي، محترم مولوي صيب! الله جل جلاله چې چا ته د کوم نعمت لور يني اراده وکړي لومړی هغه ته د هغه کار په ښه توګه سرته رسولو وړتيا، استعداد او حوصله ورکوي، او الله جل جلاله دې لا نور ز يات توفيق درکړي چې اسلامي امت ته همداسې نور ګټور آثار په ميراث پريږدی. والسلام. ستاسې ورور مولوي محمد هاشم.

- پوهاند دکتور/ مصطفى نيازي ليکلي دي:

محترم او قدرمن دوکتور صيب! ما د ستاسو تفسير مطالعه کړ، ډير خو بيانې يا مثبت فينټونه لري د بيلګې په توګه:

الف: ژ به يې ساده او روانه ده، هرڅوک تر ينه اخذ په اسانۍ کولای شي.
ب: داسې تفسير دی چې هم عام خلک او هم علماء تر ينه استفاده کولای شي، ج: د تدر يس او بالخصوص د حلقاتو لپاره زما له انده بيخي وړ او مناسب دئ. د: هرې موضوع ته عنوان ورکړی سوی چې دا قابل د ستايني دئ. هـ: موضوع د صحيحو احاديثو په رڼا کې تفسير شوې چې دا کار قابل د ستايلو دئ. و: د سورت بيان د تسمې وجه، او په اړوند يې مختصر معلومات ذکر شوي چې دا کار د لوستونکي سره په فهم کې مرسته کوي. ز: د ليکنې طرز يې خورا قوي دئ، کامې، سوالې.. ټولې پکې رعايت کړ شوې، او دا کار هم په فهم کې ز ياته مرسته کوي.

-مولوي/ عبد الاحد احمدي دا لاندې توصيف ليک رالیږلئ دئ:



بیا کتنه

نحمده ونصلی علی
رسوله الکریم اما بعد:
هوالذی ارسل رسوله
بالهدی ودین الحق
لیظهره علی الدین کله
ولوکره المشرکون.
محترمولوستونکودغه
تفسیر چه دقران رنا په
نوم یادیږی رښتیا هم چه
دجهالت دتیارولپاره رناده
ددی تفسیر تحت لفظی
ترجمه دیره جالبه اوادبی
ترکیب لری چه
لوستونکی تری ښه فایده
اخستلی شی دهرایت
تفسیریی دقران
دنورواياتوتوسره ربط
لری دهرمسلمان خطیب ٔ
داعی اومدرس لپاره دیر
فایده مند تفسیردی په
لوستلویی سری هیڅ نه
ستومانه کیږی ځکه چه
په اسانه کلیواله لهجه
لیکل شویدی ما خپله
مطالعه کړیدی اودنورو
مسلمانانوځخه داهیله
لرم چه دښینو اودبناتو
په مدرسو کی دغه
تفسیر په نصاب کی
داخل کړی . والسلام :
ستاسو ورور مولوی
عبدلاحد (احمدی)

- پوهاند دکتور/ عبدالرحيم فيروز هروي په رياض کې د ملك سعود په پوهنتون کې د إسلامي تعليماتو مشر أستاذ او په فارسي ژبه د (نور فروزان) لوی تفسیر مؤلف داسې لیکلي دي:

استاد گرامی و ارجمند و فاضل دانشمند دکتور محمد ظاهر مکي !
السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

دارای صحت و عافیت کامل بوده باشید.


این اثر علمی شما قابل تحسین و تمجید است، خداوند متعال برای جناب شما توفیق بیشتری عنایت فرماید، تا باز هم با قلم توانا و علم و معرفت جیاش خود، مصدر خدمت بیشتر و بهتری برای مسلمانان گردید.

منهج شما را در این تفسیر گرانبهای شما دیدم، طریقه بسیار نیکو، و منهج بسیار مفید و عالمانه ای است، و برای استفاده عموم، همین اسلوب مفیدتر و بهتر است، إن شاء الله تعالی که مقبول درگاه الهی قرار گرفته و در پله حسنات شما حساب شود.

ما را از دعای خیر خود فراموش نفرمایید سرفراز و موفق دارین بوده باشید.

برادر تان (فیروز هروی) حرر في شهر ربيع الثاني ١٤٤٤هـ ق.

نو زه هم تاسې ته ټولو علماوو او استاذانو ته: جزاكم الله خير وايم چې لطف مو کړئ دئ په خپلو نظرونومو زه نازولئ يم، وجعل الله ذلك في مواز ين حسناتكم و بارك الله فيكم.



د قرآن رڼا په اړوند تقریظ

الحمدلله وحده و الصلاة و السلام على من لانبي بعده أما بعد:

قال الله تعالى (ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء و الله ذوالفضل العظيم)

محترم: (د قرآن رڼا) په نوم د ښاغلي پوهنوال ډوکټور مولانا محمد ظاهر اسد الله سګ له خوا ليکل شوی تفسیر مې وڅېړه په رښتيا هم چې د الله جل شانه د ستر کتاب زياره او تفسیر وه الهي ډېرزيږه او ټولې وړاندې چې الله (ج) مې خپلو شاګردو بنده ګانو او خلګو ته ور په برخه کړي دا چې محترم ډاکټر صاحب د هرات د محمد ستوري کالنۍ او د شورولي اتحاد په خلاف يې د موږ د ملت په مقدس جهاد کې ښه رول لوبول، د مجاهدينو سره يې مادي او معنوي مرستې کړې. الله (ج) دې د همه ټولې ستړياوې او هلې ځلې په خپل در بار کې قبول او منظور کړي زه د ياد تفسیر (د قرآن رڼا) په هکله خپل نظر په لاندې ډول څرګندوم.

اول: دا چې د الله د کتاب خدمت (زياره او تفسیر) جاريه صدقه ده نو الله (ج) دې د دې صدقې په بدل کې اخروي او ټوليزه ورکړي.

دويم: دا چې په نوموړي تفسیر کې د معتبرو مأخذونو او تفسیرونو څخه استفاده کړې رښتيا هم چې دا د تفسیر وړن او ارزښت وړ زياتوي.

دريم: د نوموړي تفسیر لفظي زياره روانه او سليسه ده نو لوستونکی وړ څخه په اسانۍ سره کولای شي

خلورم: نوموړی تفسیر په نوي ميتود سره ليکل شوی او همه دا چې د آياتونو د يوې ټولګې د راوړلو څخه وروسته د هر آيت د شېرۍ په نظر کې نيولو سره زياړل شوي دي.

پنځم: په آخر کې د محترم ډاکټر صاحب مولانا محمد ظاهر اسدالله سګ نه د شرعي علومو د خدمت په ټر کې د لاريالو برياوو توفيق غواړم.

په درنښت

پوهاند ډوکټور ډل آغا وقار

او همدارنګه زه د الله تعالی فضل او رحمت ته محتاج فقير بنده دعا کړم او هيلمن يم چې د زما دا مبارك تفسیر [د قرآن رڼا] چې د علمي لاس

ته راوړنو لوی ارمان مه الحمد لله ور باندې پوره سـه؛ الله تعالی دې په خپل حضـور کې قبول کړي او هغه ده صـدقه يې جار يه وګرځوي، او د زمونږ لوسـتونکو او اور يدونکو وروڼو ته او طالب العلمانو، دعاتو او عامو مومنانو ته ده الله توفيق ورکړي چې ورڅخه اسـتفاده وکړي، او د الله تعالی د دې عظيم کتاب لارښـودنې د خپل ژوند پرتولو چارو کې دسـتور العمل وګرځوي، ترڅو يې د دنيا او آخرت ښـادي په برخه سـي، اللهم آمين يارب العالمين.

او د يادونې وړ ده چې کله (د قرآن رڼا) دا مبارک تفسـير د لمړي ځل لپاره په **pdf**کې په واتسـاپ کې د سـږ قمري کال ر بيع الاول مياشـت کې خور سـه او ډيرو علماوو او اسـتاذانو ته وليږل سـه، نو ډيرو يې شـفوي پيغامونه را وليږل او په ستاينې سره يې را ته ډيرې دعاګانې کړې وې، نو زه هم دوی ټولو ته دعا کړم، وجزاهم الله جميعا کل خير.

د ستاسې دعاګوي/ محمد ظاهر اسد الله مکي.

مکه معظمه، العز يز يه الجنوبيه، مخطط ستر اللحياني.

مسـاء يوم الأر بعاء ١٧/ ١٢/ ١٤٤٤ هـ ق الموافق ٥ جولاي ٢٠٢٣م، الموافق ١٤ برج سرطان ١٤٠٢ هـ ش.

